فتاوی دارالعلوم دیوبند

پښتو

مکمل او مدلل

[illegible]

حضرت مفتي عزیز الرحمن عثماني صاحب

[illegible]

[illegible]

ترتیب

مولانا محمد ... الدین صاحب

تخریج او لوی رسالونه

مولانا محمد یاسین صاحب

مکتبه رشیدیه

سرکي روډ کوټه

0812-662263

[illegible] داتا دربار لاهور

042-37384516

په دار الافتاوو کې د رائج
الوقت نسخوله تخریج سره

فتاوی دار العلوم دیوبند

له نوي اضافې سره

له افاداتو: حضرت مفتي عزیز الرحمن عثماني صاحب
تر هدایت لاندې: حکیم الاسلام حضرت مولانا محمد طیب صاحب
ترتیب مولانا محمد ظفیر الدین صاحب
تخریج او نوي اضافه: مولانا محمد یامین صاحب
خپرونکی: محمد ساجد

شپاړسم ټوک

مکتبه رشیدیه کوئټه
شیش محل روډ لاهور

د کتاب پیژندنه:

د کتاب نوم: فتاوی دار العلوم دیوبند (شپارلسم توک)

له افاداتو: مولوي مفتي حضرت مولانا عزیز الرحمن عثماني صاحب

ترتیب کوونکی: محمد امین پالن پوري صاحب

ژباړه: مولانا مفتي محمد ابراهیم صاحب

کمپوز: حبیب الرحمن "منیب" ۷۹۲۶۸۳۸-۰۳۰۷

خپرونکی: مکتبهٔ رشیدیه کاسي روډ کوټه ۰۸۱۲۶۶۲۲۶۳

چاپونکی: محمد ساجد

د چاپ ځای: لاهور

د چاپ کال: ۲۰۱۴ء

له لوستونکو څخه غوښتنه:

حتی الوسع کوښښ کيږي چې پروف ريډنګ معياري وي، الحمد لله د دغې نګرانۍ لپاره ځانګړې نظر پرې شوی دی، بيا هم که مو کومه غلطي تر نظر شي نو که مو خبر کړئ، ډېره مرباني به مو وي، ترڅو چې په راتلونکو خپرونو کې يې تصحيح وشي.

جزاک الله

فهرست

د پردې او ستر حکمونه

د وېښتانو او سنتي احکام

د بازیو، تماشو، عکسونو او نورو احکام

د دوا او علاج احکام

د تعویذونو او عملیاتو احکام

د ټیټ او کمزورو قومونو سره د اړیکو ساتلو بیان

د نوي مسلمانانو سره د رویه کولو بیان

د ښځي او خاوند حقوق او احکام

د مور پلار او اولاد حقوق او احکام

د یتیمانو د حقوقو احکام

د نومونو او لقبونو احکام

تنبیه

په دې جلد کې چې د کومو کتابو حوالې بیا بیا راغلې دي، د لاندې کتب خانو مطبوعات دي:

صحاح سته	مکتبه بلال دیوبند
موطین	مکتبه بلال دیوبند
شرح معانی الآثار	مکتبه بلال دیوبند
مشکوٰة شریف	کتب خانه نعیمیه دیوبند
هدایه	الامین کتابستان دیوبند
فتاوی شامي	دار الکتاب دیوبند
فتاوی هندیه	دار الکتاب دیوبند
بدائع الصنائع	دار الکتاب دیوبند
شرح وقایه	دار الکتاب دیوبند
حلبی کبیري	دار الکتاب دیوبند
طحطاوي علی مراقی الفلاح	دار الکتاب دیوبند
البحر الرائق	زکریا بک ډپو دیوبند
قواعد الفقه	اشرفي بک ډپو دیوبند
مرقاة المفاتیح مشکاة المصابیح	مکتبه امدادیه، پاکستان

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

کتاب الحظر و الاباحة

د مکروه او مباح کارونو بیان

د خوراک څښاک او مېلمستیا احکام

د ډوډۍ خوړلو په سر کي بسم الله ویل هېر شو نو په مینځ کي به کومه دعا وایي

سوال: (۱) د ډوډۍ په شروع کي که بسم الله ویل هېر شو نو بیا په مینځ کي ویلای شي او کنه؟(۸۰۵/۱۳۳۹هـ)

ځواب: په حدیث شریف کي راغلي دي چي د ډوډۍ په پیل کي که د چا بسم الله ویل هېر شي نو کوم وخت چي ورپه یاد شي دا سي دي ووایي: بسم الله اوله و آخره(۱) په دې ویلو هم هغه ثواب او برکت حاصلېږي کوم چي په اول ویلو کي دی.

---

(۱) عن عائشة رضی الله عنها قالت: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: إذا أكل أحدكم فنسي أن يذكر الله على طعامه، فليقل: بسم الله أوله و آخره، رواه الترمذی و أبو داؤد (مشكاة المصابيح، ص۳٦٥، كتاب الأطعمة، الفصل الثانی)

"ډوډۍ درواخله" په جواب کي "بسم الله کړه" ويل

سوال: (۲) که ډ وډۍ د خوراک پر مهال څوک راشي، هغه ته وويل شي چي ډوډۍ درواخله، هغه په جواب کي ووايي چي بسم الله کړه نو داسي ويل جائز دي او کنه؟ اوربدلي مي دي چي "بسم الله کړه" ويل کفر دی. (۱۳۴۱/۳۷۱هـ)

ځواب: دا څه پروا نلري، ځکه چي د دې مطلب دا دی چي په بسم الله ويلو خوراک شروع کړي او ورته کفر او ګناه ويل غلط دي. فقط

بېله عذره په کيڼ لاس خوراک څښاک کول خلاف سنت دي

سوال: (۳) په چپ لاس خوراک کول او خيرات کول جائز دي او کنه؟

(۱۳۴۲/۱۵۹۷هـ)

ځواب: په کيڼ لاس خوراک کول او اوبه څښل بېله عذره د سنت خلاف دي(۱) او صدقه په ښي لاس کول غوره دي(۲) او په چپ لاس هم صحيح ده. فقط

ډوډۍ ته څنګه ناسته پکار ده؟

سوال: (۴) بکر چارزانو ډوډۍ خوړله، زيد ورته وويل چي په چارزانو ناسته ډوډۍ خوړل منع دي. (۱۳۳۸/۱۰۷۲هـ)

---

(۱) عن ابن عمر رضي الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إذا أكل أحدكم فليأكل بيمينه و إذا شرب فليشرب بيمينه، رواه مسلم.

و عنه رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا يأكلن أحدكم بشماله و لا يشربن بها، فان الشيطان يأكل بشماله، و يشرب بها، رواه مسلم(مشكاة المصابيح، ص: ۳۶۳، كتاب الأطعمة، الفصل الأول)

(۲) عن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: سبعة يظلهم الله في ظله يوم لا ظل إلا ظله... و رجل تصدق إخفاءً حتى لا تعلم شماله ما تنفق يمينه الحديث(صحيح البخاري: ۹۱/۱، كتاب الأذان، باب من جلس في المسجد ينتظر الصلاة و فضل المساجد)

ځواب: په شرح شرعة السلام کي راغلي دي چي د ډوډۍ خوړلو پر مهال څنګ مه وهئ، ځکه چي د څنګ وهلو پر مهال خوراک کولو څخه رسول الله صلی الله علیه وسلم منع کړې ده(۱) او بېله ضرورته چارزانو کښېنستل هم ښه نه دي او که ضرورت وي نو صحیح دي، بلکه مستحب او د سنت طریقې سره سم دا دي چي د ډوډۍ خوړلو پر مهال دي پر دوو زنګنو کښېني(۲) یا پر دوو تلو کښېني(۳) یا ښي پښه ودروي او پر کیڼه پښه کښېني(۴) دا صورتونه صحیح دي او له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ثابت دي(۵)

---

(۱) عن ابي جحيفة رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: أما أنا فلا آكل متكئًا (جامع الترمذى: ۲/۵، أبواب الأطعمة، باب ما جاء فى كراهية الأكل متكئًا)

(۲) پر زنګنو یعني پر ګوډو ناسته لکه په لمانځه کي چي په التحیاته کي ناسته وي. پر دوو تلو ناسته یعني چي ګوډې جګې ودروي ۱۲ سعید احمد پالن پوري

(۳) پر دوو تلو ناسته له خوراک لپاره سنت نه ده، حضرت مولانا محمد تقي عثماني صاحب زید مجدهم فرمایي چي ما داسي کوم حدیث نه دی موندلی چي پکي د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر دوو تلو په ناسته خوراک کول ثابت وي.. لهذا دغه چي کوم مشهور دي چي "پر دوو تلو په ناسته ډوډۍ خوړل سنت دي" دا صحیح نه دي (اصلاحي خطبات: ۱۸۵/۵)

او د غلط فهمۍ وجه دا ده چي غیر اهل لسان د دوو تلو ناستي مطلب دا اخلي چي ښي پښه ودروي او پر کیڼه پښه کښېني، حالانکه دا د دوو تلو ناسته نه ده. ۱۲ سعید احمد پالن پوري

(۴) علامه ابن قیم د دغه طریقه ته افضل، انفع او مسنون ویلي دي:

قال ابن القيم: و يذكر عنه صلى الله عليه وسلم أنه كان يجلس للأكل متوكأ على ركبته و يضع بطن قدمه اليسرى تواضعًا لله عز و جل و أدبا بين يديه، قال: و هذه الهيئة أنفع هيآت الأكل و أفضلها، لأن الأعضاء كلها تكون على وضعها الطبعى الذى خلقها الله عليه(مرقاة المفاتيح: ۱٦٤/۸، كتاب الأطعمة، الفصل الأول)

(۵) و يجلس على الطعام جلسة المتواضعين بحيث (لا يتكى) على شئ و إن كان على إحدى يديه (و لا يضطجع) على جنبه(و لا يعتمد على شئ) أى بحيث لا يسند ظهره إلى شئ و لا يقعد على وجه التمكن من الأرض و الاستواء جالسًا على هيئة التربع بل السنة فيه أن يقعد عند الأكل مائلا إلى الطعام منحنيا نحوه كذا نقله شارح المصابيح عن الخطابى (و يجلس على رجله اليسرى و ينصب اليمنى نصبا) كما كان فعل رسول الله صلى الله عليه وسلم (شرح شرعة الإسلام، ص: ۲٤٤، فصل فى سنن الأكل و الشرب)

پر چارپايي ډوډۍ خوړل جائز دي

سوال: (۵) نبي عليه الصلاة و السلام کله پر چارپايي(کټ) ډوډۍ خوړلې ده او کنه؟(۱۳۴۳/۴۸۲هـ)

ځواب: د کټونو په هغه زمانه کي رواج نه ؤ، اوس هم په عربو کي دا رواج نشته، پر ځمکه يا تخت ناليانې او بالښتونه ايښي وي، پر همدې کښيني او ودېږي، ځکه ثابت نه دي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم دي پر چارپايي ډوډۍ خوړلې وي، ليکن د دې منع هم نشته، ځکه د دې په جواز کي هيڅ تردد او شبه نشته، لکه چي پر تخت باندي د ډوډۍ د خوړلو په جواز کي چي هيڅ شبه نشته، همداغسي پر چارپايي باندي هم هيڅ شبه نشته فقط

له ډوډۍ مخکي پرېمنځلي لاسونه وچول

سوال: (۶) له ډوډۍ خوړلو مخکي پرېمنځلي لاسونه په دستمال وچول جائز دي او کنه؟(۱۳۳۸/۱۰۶۲هـ)

ځواب: له ډوډۍ مخکي چي د لاسونو مينځل مستحب ليکلي دي د هغه په اړه په شرح شرعة الاسلام کي دا راغلي دي چي لاسونه په دستمال مه وچوئ، عبارت يې دا دی: "و من سنن الأكل أن يغسل يديه قبل الطعام لنفى الفقر الخ لكن الأدب... أن لا يمسح يده بالمنديل ليكون أثر الغسل باقيا وقت الأكل إلخ"(۱) فقط

له ډوډۍ وروسته په خوله اوبه رغړول او غاښونه ټومبل

سول: (۷) يو سړی وايي چي په حديث کي راغلي دي چي چا له ډوډۍ وروسته غاښونه ونه ټومبل هغه پر خپل ځان ظلم وکړی او که غاښونه وټومبل په خوله يې اوبه و نه رغړولې نو پر رسول الله صلى الله عليه وسلم يې ظلم وکړی، آيا دا سړی ګنهکار دی کنه؟(۱۳۴۵/۱۷۳۴هـ)

ځواب: له ډوډۍ وروسته په خوله اوبه رغړول او که په غاښونو کي څه شی پاته وي نو غاښونه ټومبل مستحب دي، ليکن

---

(۱) شرح شرعة الاسلام، ص: ۲۴۷، فصل فى سنن الأكل و الشرب.

که په خوله اوبه نه ورغړولې یا غاښونه و نه ټومبي نو هیڅ ګناه نشته او دغه حدیث چي په سوال کي ذکر شوی دی حدیث نه دی او د دې هیڅ اصل نشته

له څپلۍ سره ډوډۍ خوړل څنګه دي؟

سوال: (۸) چي څپلۍ بې په پښو وي ډوډۍ خوړل صحیح دي او کنه؟ (۱۳۴۳/۲۷۴هـ)

ځواب: صحیح دي(۱) فقط

د ډوډۍ په سر او پای کي مالګه څکل

سوال: (۹) ډوډۍ په مالګه څکلو سره پېل کول او په پای کي بیا مالګه څکل په زیاتره متداوله معتبرو کتابونو کي د ډوډۍ له آدابو او سنتونو څخه لیکلي دي، په احیاء العلوم کیمیایي سعادت، درر المنتقی، عین العلم، رد المحتار، فتاوی هندیه او نورو کي د دې څرګندونه موجوده ده، مګر یو سړی دا نه مني، هغه وایي چي تر څو د دې ثبوت په قول یا فعل د رسول الله صلی الله علیه وسلم یا د کوم صحابي په قول یا فعل ملاؤ نشي، صرف د حنفي فقهاء او ځینو صوفیانو په لیکلو د دې ادب او مستحب کېدل د تسلیم او وثوق وړ نه دی. (۱۳۳۳/۱۲۲۴هـ)

ځواب: په دې اړه پرته له دې حدیث "سید إدامکم الملح"(۲) څخه کوم بل حدیث چي پکي ابتداء یا انتها په مالګه وي تر نظر مي نه دي تېر شوي، ممکنه ده چي دوی داسي روایت موندلی وي نو نه پر دې باندي د ټینګار کومه وجه شته، نه د انکار، کومو بزرګانو چي دا مستحسن بللي دي، هغه به په همدې وجه وي چي دا فائده کونکي دي او د هاضمې لپاره ګټور دي یا له مرضه ساتونکي دي، لکه چي په شرح شرعة الاسلام کي راغلي دي: (و یبدأ بالملح فإن فیه شفاء من الأمراض) کما روی عن رسول الله

---

(۱) لیکن د ډوډۍ خوړلو پر مهال څپلۍ کښل غوره دي، په حدیث شریف کي راغلي دي: عن انس بن مالک رضی الله عنه، قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: إذا وضع الطعام فاخلعوا نعلکم، فإنه أروح لأقدامکم (مشکوة المصابیح، ص: ۳۶۸، کتاب الأطعمة، الفصل الثالث)

(۲) عن انس بن مالک رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: سید إدامکم الملح (سنن ابن ماجه. ص: ۲۳۸، أبواب الأطعمة، باب الملح)

صلى الله عليه وسلم يا على! ابدأ طعامک بالملح، فإن الملح شفاء من سبعين داء، منها الجنون و الجزام و البرص وو وجع البطن و وجع الأضراس، ذكره الشيخ فى العوارف (۱) پاتـه شوه دا خبره چي دا روايت څنګه دی صحيح دی او کنه؟ د دې هيڅ حال معلوم نه دی، ځکه چي سند هيڅ نه دی بيان شوی، مګر معلوميږي، داسي چي حضرت شيخ دا قابل سند بللی دی، ځکه په عوارف کي رانقل کړي دي، ځکه چي عمل په ضعيف حديث هم صحيح دی، خو بيا هم که دا ثابت شي نو هم له دې څخه دا څرګند دي چي دا ارشاد شفقةً دی، تشريعًا نه دی، يا بـه د "سيد إدامكم الملـح"(۲) د حديث پـه وجه ابتداء او انتها پر دې اختيار کړي وي مګر په حقيقت کي په شريعت کي دا ډول تنګي نه ده کړل شوې، لـه ابن عباس رضی الله عنهما څخه روايت دی، کوم چي امام بخاري رحمة الله په ترجمة الباب کي رانقل کړي دي: "كل ما شئت و البس ما شئت، ما أخطاتك اثنتان سرف او مخيلة"(۳)

که خواږه او تروه دواړه ډوله خوراکونه موجود وي نو په کوم خوراک کي پيل کول غوره دي

سوال: (۱۰) خوږه او تروه دواړه قسمه خوراک موجود وي په کوم خوراک شروع کول سنت دی او پر کوم يو ختم کول؟ (۱۳۴۳/۱۵۵۲هـ)

ځواب: پـه صحيح حديثونو کي د دې هيڅ قيد نشته، بلکه اختيار دی چي کوم خوراک تـه شوق کيږي، هغـه دي خوري، کـه خوږه خوري او پـر هغـه بسنـه کـوي، کـه نمکينـه تـر پايـه خـوري، لـيکن پـه شـرعة الاسـلام کـي راغلـي دي چـي پـه نمکينـه شـروع کـول بهتـر او ګټـور دي "و يـبـدأ

(۱) شرح شرعة الاسلام، ص: ۲۴۹، فصل فى سنن الأكل و الشرب.

(۲) سنن ابن ماجه، ص: ۲۳۸، أبواب الأطعمة، باب الملح.

(۳) صحيح البخارى: ۸۶۰/۲، أوائل كتاب اللباس.

ترجمه: چي خوښ دي وي هغه شی خوره يعني له مباح شيانو څخه او چي خوښ دي وي هغه واغونده تر څو چي و نه رسي تاته دوه شيان اسراف او تکبر يعني په طعام او لباس کي توسع د اسراف او تکبر په وجه مکروه دی او چي تکبر او اسراف نه وي نو مباح دی (مظاهر حق قديم: ۲۹۴/۳، قبيل باب الخاتم)

بالملح فإن فيه شفاء من الامراض الخ"(۱) په همدې وجه به په پای کې نمکین خوراک کول هم غالبًا مفید وي ځکه بهتر به همدا وي.

سوال: (۱۱) که خوږه او نمکینه دواړه ډوله خوراک وي نو په کومه یوه به شروع کوي؟ او کومه به په پای کې خوري؟ سنت په دې کې څه دی؟ (۱۳۳۷/۲۷۱۱هـ)

ځواب: په دې کې هیڅ قید نشته چې څنګه شوق وي هغسې صحیح دي، شرعًا په داسې شیانو کې وسعت دی، هیڅ تنګي نشته، اما په شرح شرعة الاسلام کې لیکلي دي چې پېل په نمکین خوراک کول غوره دي چې په دې کې شفاء ده(۲) فقط و الله تعالی اعلم

په کوجي شیربرینج او نور خوړل صحیح دي

سوال: (۱۲) په کوجي شیربرینج او نور خوړل یا استعمالول جائز دي او کنه؟ (۳۴۹-۳۳/۱۳۳۴هـ)

ځواب: په کوجي شیربرینج او نور خوړل صحیح دي. فقط

د مسو او ژړو په لوښي کې خوراک څښاک کول

سوال: (۱۳) د مسو او ژړو په لوښي کې خوراک څښاک کول څنګه دي؟ (۹۳۴/۱۳۴۳هـ)

ځواب: بېله پالشه خوراک څښاک په دوی کې ښه نه دی. (۳)

د مسو، ژړو او کانسي په لوښو کې خوراک جائز دی او کنه؟

سوال: (۱۴) د کانسې(۴) د لوښي استعمال جائز دی او کنه؟ (۱۵۳۴/۱۳۴۵هـ)

---

(۱) شرح شرعة الاسلام، ص: ۲٤۹، فصل فی سنن الأکل و الشرب.

(۲) په شرح شرعة الاسلام کې په مالګه پېل او ختمول لیکلي دي، نمکین خوراک مفتي صاحب رحمه الله د مالګې په حکم اخیستی دی. ۱۲ سعید احمد پالن پوري

(۳) (و یکره الأکل فی الصفر... و فی النحاس) أی الغیر المطلی بالرصاص (شرح شرعة الاسلام، ص: ۲٤٤، فصل فی سنن الأکل و الشرب)

(۴) کانسا: یو ډول فلز دی.

ځواب: په در مختار کې راغلي دي: و یکره الأکل فی نحاس او صفر و الأفضل الخزف(۱) یعني خوراک کول د مسو او ژړو په لوښي کې او غوره د خاورې لوښی دی او په شامي کې رانقل کړي دي چې د مسو او ژړو په لوښي کې خوراک هغه وخت مکروه دی چې وربانديې قلعي نه وي شوې، کنې له قلعي وروسته مکروه نه دی(۲) نو له دې څخه معلومیږي چې د کانسي په لوښي کې هم خوراک مکروه دی، لیکن پر کومو لوښو چې مراد ابادي قلعي وي هغه جائز دي.

سوال: (۱۵) پهول یو فلز دی چې لوښي ځني جوړیږي او چې قلعي یو مخ وربانديې کیدلای نشي زیاتره هندوان استعمالوي، په دغه لوښو کې خوراک جائز دی او کنه؟(۱۳۴۵/۱۹۰۷هـ)

ځواب: معلوم نه دی چې پهول کوم فلز دی که د ژړو یو ډول وي چې زیاتره هندوان یې استعمالوي نو په داسي لوښو کې بېله قلعي خوراک څښاک مکروه دی او که ورڅخه مراد الومینیم (Aluminium) وي چې نن صبا ډیر استعمالیږي او وربانديې قلعي نه وي او ضرورت هم ورته نشته او هندوان او مسلمانان دواړه یې استعمالوي نو په دې کې خوراک صحیح دی.

د مشرکانو په کارونکیو لوښو کې اینښي غوړي، شیدې او مستې رانیول او خوړل

سوال: (۱۶) کوم مشرکان چې مردار حیوانان او خنزیران خوري، د دوی په استعمال کړیو لوښو کې که شیدې واچول شي او مستې او غوړي، د دوی په مستعمل لوښو کې واچول شي د دې رانیول او خوړل جائز دي او کنه؟ ۱۳۳۴-۳۳/۸۱۷هـ)

ځواب: د کومو لوښو چې په یقیني توګه ناپاک والی معلوم شي یا غالب ګمان د دوی د ناپاکۍ وي په دوی کې اینښي شیدې یا مستې رانیول او خوړل صحیح نه دي او که دا معلوم نه وي چې هغه لوښی ناپاک دی نو بیا فتوی دا ده چې هغه شیدې او نور پاک دي، د هغه رانیول او خوړل صحیح دي، احتیاط بله خبره ده. فقط

---

(۱) الدر المختار مع رد المحتار ۵/۲۴۱ أوائل کتاب الحظر و الإباحة. ط رشیدیه

(۲) قال فی الشامي: ثم قید النحاس بالغیر المطلی بالرصاص... و إما بعده فلا اهـ (الشامی ۵/۲۴۱ أوائل کتاب الحظر و الإباحة. ط رشیدیه)

د موخي منګی استعمالول صحیح دی

سوال: (۱۷) یو آس پالونکی چي له موخي قوم څخه تعلق لري، د ده منګی که کوم مسلمان له پرېمنځلو وروسته استعمال کړي څه حکم لري؟ (۳۲/۷۹-۱۳۳۳هـ)

ځواب: هیڅ پروا نلري دا منګی او اوبه پاکي دي. فقط

د ماښام او مازدیګر تر منځ خوراک څښاک صحیح دی

سوال: (۱۸) د ماښام او مازدیګر تر منځ خوراک څښاک څنګه دی؟ (۱۳۳۵/۱۲۴هـ)

ځواب: خوراک صحیح دی. فقط

سوال: (۱۹) د مازدیګر او ماښام تر منځ ځیني خلګ خوراک او څښاک نه کوي ځکه چي د زنکندن پر وخت تل داسي محسوسیږي لکه دا وخ چي وي، دا صحیح دی او کنه؟ (۱۳۳۹/۸۰۵هـ)

ځواب: د مازدیګر له لمانځه وروسته تر ماښام پوري خوراک څښاک شرعًا ممنوع او مکروه نه دی او د مرګ او زنکندن پر وخت د دا خت احساس کیدل د خوراک او څښاک پرېښودلو تقاضا نه کوي او شارع او فقهاء رحمهم الله دا وخت خوراک څښاک نه دی منع کړی. فقط

د بولو کولو پر مهال پان خوړل

سوال: (۲۰) په بیت الخلاء کي پر بولو ناست پان خوړل څنګه دي؟

(۳۲/۲۱۲۸-۱۳۳۳هـ)

ځواب: مکروه دی(۱) فقط و الله تعالی اعلم

په غاښونو کي بند شوی خوراک خوړل څنګه دی؟

سوال: (۲۱) د ډوډۍ د خوراک پر مهال چي کوم خوراک په غاښونو کي بند شي، د هغه خوړل څنګه دي؟ دلته

---

(۱) یعني پر بولو ناست خوراک څښاک کول مکروه دي نو که له مخکي څخه پان په خوله کي ایښي وي نو هیڅ پروا نلري ۱۲

مشهوره ده چي حرام دی. (۱۳۳۸/۲۵۱هـ)

ځواب: هغه پاک دی او خوړل يې حلال دي، اما غوره دا دي چي په حديث شريف کي چي څنګه راغلي دي چي کوم په ژبه له غاښونو راجلا شي، هغه دي وخوري او کوم چي په خلال کولو د غاښونو له منځه راووزي، هغه دي وغورځوي(۱) او دا هم په وجه د طبعي کراهت او د ضرر د انديښني دی، کنې پاک او حلال ټول دي فقط

رسول الله صلى الله عليه وسلم غنمينه ډوډی خوړلې ده

سوال: (۲۲) رسول الله صلى الله عليه وسلم غنمينه ډوډی خوړلې ده او کنه؟ او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کي غنمۇ او کنه؟ (۱۳۳۵/۹۴۹هـ)

ځواب: رسول الله صلى الله عليه وسلم غنمينه ډوډی کله نا کله خوړلې ده لکه چي په ترمذي کي راغلي دي: ما شبع رسول الله صلى الله عليه وسلم و أهله ثلاثا تباعًا من خبز البر حتى فارق الدنيا و فيه ايضا: و كان أكثر خبزهم خبز الشعير(۲) او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کي د غنمو کېدل د صدقة الفطر له احاديثو څخه څرګند دي لکه چي په ابو داؤد، ترمذي، نسائي او نورو کي راغلي دي: عن الحسن قال: خطب ابن عباس رضى الله عنهما فى آخر رمضان على منبر البصرة فقال: أخرجوا صدقة صومكم... فرض رسول الله صلى الله عليه وسلم هذه الصدقة صاعًا من تمر أو شعير أو نصف صاع من قمح على كل حرأو مملوک ذكر أو أنثى صغير أو كبير(۳)

---

(۱) عن ابي هريرة رضى الله عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم قال:... و من أكل فما تخلل فليلفظ، و ما لاک بلسانه فليبتلع، من فعل فقد أحسن، و من لا فلا حرج (سنن ابى داؤد ص:۶ كتاب الطهارة، باب الاستتار فى الخلاء)

(۲) عن ابى هريرة رضى الله عنه قال: ما شبع رسول الله صلى الله عليه وسلم الحديث و عن ابن عباس رضى الله عنهما قال:... و كان اكثر خبزهم الحديث(جامع الترمذى: ۶۱/۲ ابواب الزهد، باب ما جاء فى معيشة النبى صلى الله عليه وسلم و أهله)

(۳) سنن ابى داؤد، ص۲۲۹، كتاب الزكاة، باب من روى نصف صاع من قمح و جامع الترمذى: ۱۴۳/۱، أبواب الزكاة باب ما جاء فى فضل الصدقة، و سنن النسائى: ۲۶۹/۱، كتاب الزكاة، مكيلة زكاة الفطر.

د ښځو لپاره د نامحرمو نارینؤ او بزرگانو پس خورده دوړی خوړل او اوبه څښل څنگه دي؟

سوال: (۲۳) د ښځي لپاره د نامحرم پس خورده خوړل څنګه دي؟ او د بزرګانو پس خورده خوړل څنګه دي؟ (۱۳۳۷/۱۴۹۸هـ)

ځواب: د نامحرم نارینه پس خورده دوډۍ خوړل او اوبه څښل د ښځو لپاره ښه نه دي لیکن د بزرګانو او نېکانو خلکو پس خورده تبرکًا صحیح ده(۱) فقط

د ښځي او خاوند په یوه پیاله کي شیدې او وریجي خوړل صحیح دي

سوال: (۲۴) یو سړي د خپلي ښځي سره په یوه پیاله کي شیدې وریجي وخوړلې صحیح دي او کنه؟ (۱۳۳۹/۱۲۷۷هـ)

ځواب: صحیح دي په دې سره د ښځي او خاوند تر منځ هیڅ حرمت نه راځي.

د حلال حیوان و بچي ته ښځي شیدې ورکړې نو د هغه خوراک حلال دی

سوال: (۲۵) هندې د یو حلال حیوان و بچي ته شیدې ورکړې نو د دغه حیوان خوړل جائز دي او

---

(۱) یکره سؤرها للرجل کعکسه للاستلذاذ و استعمال ریق الغیر و هو لا یجوز مجتبی (الدر) و فی الشامي: قوله: (و استعمال ریق الغیر) اعترضه ابو السعود بأنه یشمل سؤر الرجل للرجل و المرأة للمرفالظاهر الاقتصاد علی التعلیل الأول کما فعل فی النهرا: ای لأنه صلی الله علیه و سلم کان یشرب و یعطی الإناء لمن عن یمینه و یقول: الأیمن فالأیمن،نعم عبر فی المنح بالأجنبیة، و فیه نظر أیضا و الذی یظهر أن العلة الاستلذاذ فقط، و یفهم منه أنه حیث لا استلذاذ لا کراهة، و لا سیما إذا کان یعافه(الدر المختار ورد المحتار ۱/ ۱۶۳ کتاب الطهارة. باب المیاه، مطلب فی السؤر. ط رشیدیه)

و یفهم منه الخ څخه معلومیږي چي له مېلمنو څخه پاته شوې دوډۍ که کور ته راشي او ښځو ته معلوم نه وي چي له چا پاته شوي ده نود هغه خوراک جائز دی، ځکه چي علت د استلذاذ منتفی دی ۱۲ سعید احمد پالن پوري

کنه؟ (۱۳۴۵/۵۲۲هـ)

ځواب: د دغه حیوان خوراک حلال دی ځکه چي د رضاعت حکم له انسان سره خاص دی لکه چي په در مختار کي راغلي دي: باب الرضاع: هو لغة:... مص الثدی و شرعا: مص من ثدی آدمية الخ قوله: (آدمية) خرج بها الرجل و البهيمة الخ(۱) (شامي) فقط

له جذامي سره ډوډی خوړل

سوال: (۲۶) له جذامي(۲) سره اړیکي ساتل او خوراک څښاک څنګه دی؟ (۱۳۴۲/۹۰۷هـ)

ځواب: په حديث شريف کي دواړي خبري راغلي دي: رسول الله صلی الله علیه وسلم له جذامي سره ډوډی هم خوړلې ده او دا يې وفرمايل: "كل ثقة بالله" يعني ته زموږ سره خوره زموږ باور پر الله دی(۳) او دا هم په حديث شريف کي راغلي دي: فر من المجذوم كما تفر من الاسد(۴) يعني له جذامي څخه ليري اوسه لکه چي له زمري څخه تښتي نو تطبيق د دې تر منځ داسي دی چي په الله توکل وکړئ د ده سره وخورئ نو دا هم جائز دي او که دي په زړه کي شک او اندېښنه وي نو ځني ليري ګرځه

سوال: (۲۷) له جذامي سره روغ سړی ډوډی خوړلای شي او کنه؟ (۱۳۴۰/۱۲۸۵هـ)

ځواب: نه دي خوړل پکار ورڅخه ليري او سيدل پکار دي لکه چي راغلي دي چي له جذامي څخه داسي

---

(۱) الدر المختار و الشامي: ۴۳۷/۲ كتاب النكاح باب الرضاع. ط رشيديه

(۲) جذام يوه ناجوړي ده چي دويني له فساد څخه پيدا كيږي، اطراف د بدن وپرسيږي او ګوتي او نور پرې شي رژيږي دې ته فس همواېي او فس و هغه ناجوړي ته هم واېي چي بدن پکي سپين سپين تکي شي مګر دلته دا مراد نه دی لومړی معنی مراد ده. ۱۲ سعيد احمد پالن پوري

(۳) عن جابر رضی الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم أخذ بيد مجذوم فوضعها معه فی القصعة و قال: كل ثقة بالله و توكلاً عليه رواه ابن ماجه(مشكاة المصابيح ص: ۳۹۲ باب الفال و الطيرة، الفصل الثاني)

(۴) عن ابي هريرة رضی الله عنه يقول: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا عدوى و لا طيرة و لا هامة و لا صفر، و فر من المجذوم كما تفر من الاسد (صحيح البخاری: ۸۵۰/۲، كتاب الطب، باب الجذام)

ټپښته لکه له زمري څخه چې تښتې او د کوم چا توکل چې قوي وي هغه يې هم خوړلای شي ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم له يو جذامي سره خوړلې ده او وې فرمايل: كل ثقة بالله

د بنګي او کمزوري قوم سړي په يو لوښي کي خوراک کول

سوال: (۲۸) له کفارو او مشرکانو څخه د بنګي او لوړدلي قوم سړي سره په يو لوښي کي خوراک د مسلمان لپاره جائز دی او کنه؟ (۱۳۴۰/۱۴۳۸ھ)

ځواب: دا خو د فقهي په کتابونو در مختار او نورو کي څرګندونه راغلې ده چې د انسان پس خورده که څه هم کافر وي پاکه ده(۱) ځکه د جواز ګنجائش شته، لیکن د مسلمان لپاره دا ښه نه دي چې له کفارو سره په يو لوښي کي ډوډۍ او نور وخوري فقط

د نفاسې ښځې د لاس ډوډۍ خوړل

سوال: (۲۹) د کومي ښځي چې بچی پیدا شوی وي د هغې د لاس ډوډۍ په څلوېښت ورځو کي خوړل جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۱/۲۳۱۸ھ)

ځواب: د نفاس په حالت کي د دغي ښځي د لاس پخه کړې ډوډۍ خوړل صحيح دي فقط

له کوروالي وروسته له غسل څخه مخکي ډوډۍ خوړل

سوال: (۳۰) ... (الف) له جماع وروسته له غسل څخه مخکي کوم شی خوړل صحيح دي او کنه؟

(ب) له جماع وروسته شیدې یا بل خوړ شی له غسل مخکي خوړل څنګه دي؟ (۱۳۴۵-۴۴/۹۴۹ھ)

ځواب: (الف) صحيح دي

(ب) صحيح دي فقط

سوال: (۳۱) د جنابت په حالت کي شرعًا خوراک څښاک جائز دی او کنه؟ (۱۳۳۵/۱۱۲۲ھ)

---

(۱) فسؤر آدمي مطلقا و لو جنبا او كافرًا او امرأة... طاهرا الفم... طاهر(الدر مع الشامي ۱/۱۶۳ كتاب الطهارة، مطلب في السؤر. ط رشيديه)

ځواب: د جنابت په حالت کي خوراک څښاک صحیح دی.(١) فقط

د جماع پر مهال ماشوم ته تی ورکول

سوال: (٣٢) د جماع پر مهال ښځه و ماشوم ته تی ورکولای شي او کنه؟ جائز دي او کنه؟ (١١٩٠/١٣٣٥ھ)

ځواب: په دې حال کي تی ورکول صحیح دي.

له مباح شیانو څخه پرهېز کول

سوال: (٣٣) ځینو صوفیاء کرامو په ټول عمر انځوانه ځکه نه دي خوړلي چي له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه خوراک نه دی ثابت او ځیني صوفیاء کرام پر کټ نه دي پرېوتلي او ځینو شل د ږېرش کلونه غوښې نه دي خوړلي حالانکه شرعًا دا جائز دي، د دې څه حکم دی؟ (٢٢٢٢/٣٢-١٣٣٣ھ)

ځواب: کوم شیان چي مباح دي د هغوی په جواز کي خبره نشته نور ده چانه خوړل مثلاً انځوانه نه خوړل دا یو حال دی چي صاحب د حال سره خاص دی، شرعًا منع نشي کیدلای. قال الله تعالی "قل من حرم زینة الله التی اخرج لعباده و الطیبات من الـــرزق" (سورة اعراف، آیت:٣٢) (٢)

---

(١) عن ابي هريرة رضى الله عنه قال لقيني رسول الله صلى الله عليه وسلم و انا جنب فأخذه بيده فمشـــيت معه حتى قعد فانسللت فاتيت الرحل فاغتسلت ثم جئت و هو قاعد فقال: أين كنت؟ يا ابا هريرة فقلت لــه فقال سبحان الله إن المؤمن لا ينجس (صحيح البخارى ٤٢/١ كتاب الغسل، باب الجنب يخرج و يمشـــى فى السوق و غيره)

(٢) په حدیث شریف کي د رسول الله صلی الله علیه وسلم هندوانه خوړل ثابت دي عن عائشة رضـــى الله عنها ان النبى صلى الله عليه وسلم كان يأكل البطيخ بالرطب (جامع الترمذى: ٦/٢، أبواب الأطعمة، بـــاب ماجاء فى أكل البطيخ بالرطب) او پر کټ پرېوتل هم ثابت دي. قالت عائشة كنت اذا حضت نزلت عن المثال (السرير) على الحصير (ابو داؤد ص:٣٦، كتاب الطهارة، باب فى الرجل يصيب منها ما دون الجماع)

هګۍ ولي حلاله ده؟

سوال: (۳۴) هګۍ څنګه حلاله شوه، کله چي پر دې بسم الله ويل شرط نه دي؟ (۱۳۳۴-۳۳/۴۲۹هـ)

ځواب: هګۍ کوم ساه کښ او حيوان نه دی چي ذبح شي او بسم الله، الله اکبر پر ويل ضروري وي، بسم الله، الله اکبر د ذبح پر مهال پر حيوان ويل شرط دي پر ناحيوان نه دي بلکه له حيوانانو څخه سيوا چي د کوم شيانو حرمت نه دی راغلی او د حلت قاعده ورباندي صادقيږي، هغه حلال دي او هګۍ له هغو شيانو څخه ده چي په شريعت کي حلت ثابت دی او په قرآن شريف کي راغلي دي: "و يحل لهم الطيبات و يحرم عليهم الخبائث" (سورة اعراف، آيت ۱۵۷) هګۍ له طيباتو څخه ده ځکه حلاله ده.

د چرګي له خيټي راوتلې هګۍ خوړل څنګه دي؟

سوال: (۳۵) د مړې چرګي له خيټي چي کومه نرمه يا سخته هګۍ راووزي د هغې خوړل څنګه دي؟ (۱۳۳۴-۳۳/۵۴۲هـ)

ځواب: په در مختار کي ليکلي دي: و کذا کل ما لا تحله الحياة حتی الإنفحة و اللبن(۱) چي د مړې شيدې او نور حلال دي، په دغه قاعده سره د چرګي هګۍ هم حلاله او پاکه ده ليکن ځيني فقهاء د مړې د شيدو په اړه د صاحبينو مذهب ته ترجيح ورکړې ده هغوی ورته ناپاک وايي(۲) نو احتياط په همدې کي دی او د هګۍ په اړه هم احتياط همدا دی.

سوال: (۳۶) که چرګه حلاله کړي او د هغې په خېټه کي هګۍ وي هغه حلالي دي او کنه؟ (۱۳۴۲/۱۲۹هـ)

---

(۱) الدر مع الشامي ۱/۱۵۱ کتاب الطهارة، باب المياه، مطلب في أحکام الدباغة. ط رشيديه

(۲) و کذا لبن الميتة و إنفحتها (طاهر) و نجساها و هو الأظهر إلا أن تکون جامدة فتطهر بالغسل اهــ و أفاد ترجيح قولهما (رد المحتار ۱/۱۵۲ کتاب الطهارة، باب المياه، مطلب في أحکام الدباغة. ط رشيديه)

ځواب: حلالي دي فقط

د ماهي هګۍ خوړل صحيح دي

سوال: (۳۷) د ماهي هګۍ خوړل صحيح دي او کنه؟ (۱۳۳۵/۱۷۷۱هـ)

ځواب: صحيح دي فقط

ماهيان بې د لړمن له پاکولو خوړل

سوال: (۳۸) ... (الف) ماهيان بې د لړمن له پاکولو خلک وچوي، د دې خوراک څنګه دی؟

(ب) کوم کوچني ماهيان چې د لړمن پاکي يې نشي کيدلای دوی سره د دې خوړل جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۳/۱۴۵۲هـ)

ځواب: (الف-ب) د کوچني ماهيانو په هکله د فقهاوو څرګندونه موجوده ده چې که بې د لړمن له پاکولو وي نو هم حلال دي، کما في الشامي نقلا عن معراج الدراية: و لو وجدت سمكة في حوصلة طائر تؤكل و عند الشافعي لا تؤكل لأنه كالرجيع و رجيع الطائر عنده نجس، و قلنا: إنما يعتبر رجيعا إذا تغير و في السمك الصغار التي تقلى من غير أن يشق جوفه فقال أصحابه: لا يحل أكله لأن رجيعه نجس و عند سائر الأئمة يحل اهـ(۱) (شامي: باب الذبائح پنځم ټوک) له دغه تعليل څخه معلوميږي چې د غټو ماهيانو هم په مسئوله صورت کې د خوراک د حلال والي پکار دی ليکن لړمن يې پاکول پکار دي كما في الشامي: قال ابو حنيفة: الدم حرام و أكره الستة و ذلك لقوله عز و جل: حرمت عليكم الميتة و الدم، الآية (سورة مائده: ايت: ۳) فلما تناوله النص قطع بتحريمه و كره ماسواه، لأنه مما تستخبثه الأنفس و تكرهه و هذا المعنى سبب الكراهية الخ(۲) (۴۷۷/۵) و فيه ايضا نقلا عن القنية: أن الذكر أو الغدة لو طبخ في المرقة لا تكره المرقة الخ(۳) فقط

---

(۱) رد المحتار ۲۱۷/۵ كتاب الذبائح. ط رشيديه

(۲) رد المحتار ۵۲۸/۵ كتاب الخنثى، مسائل شتى. ط رشيديه

(۳) رد المحتار ۵۲۸/۵ كتاب الخنثى، مسائل شتى. ط رشيديه

بوی ناکه غوښې او ورسته هګۍ خوړل څنګه دي؟

سوال: (۳۹) کومې غوښې چې بوی وکړي یا هګۍ ورسته شي هغه وخورو که یې وغورځوو؟ بینوا توجروا (۵۴۲/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: کومې غوښې او هګۍ چې خرابې او ورستې شي هغه مه خورئ وې غورځوئ(۱) فقط

سوال: (۴۰) خرابه هګۍ په کوم صورت کې جائز ده او په کوم صورت کې ناجائز؟ (۲۴۲۱/۱۳۳۷هـ)

ځواب: کله چې هګۍ ورسته شي یعني وینه پکې پیدا شي او بوی ناکه شي نو ناجائز ده.

د مولۍ، پیاز او وږې (توم) خوړلو حکم

سوال: (۴۱) اومه مولۍ، پیاز او وږه خوړل څنګه دي؟ ځینې علماء د مولۍ خوړلو او چلم څکولو ته مکروه وايي. (۲۷۳/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: د دغه شیانو خوراک صحیح دی مګر ښه نه دی لیکن د اوم پیاز یا وږې خوړلو یا د نورو بدبویه شیانو کارولو وروسته مسجد ته تلل تحریمي مکروه دي(۲) او که پاخه وخوري نو بیا هیڅ پروا نلري. فقط و الله اعلم

سوال: (۴۲) اوم پیاز او وږه خوړل تحریمي مکروه دي که تنزیهي؟ د اوم پیاز یا وږې خوړلو او تمباکو کارولو وروسته بې د خولې له پاکولو او بې د بوی لیرې کولو مسجد ته تلل مکروه دي او کنه؟ (۱۸۳/۱۳۳۵هـ)

ځواب: اوم پیاز یا وږه خوړل بیله کراهیته جائز دي لکه چې بخاري او مسلم په اتفاق سره روایت

---

(۱) و اللحم إذا أنتن يحرم أكله، و السمن و اللبن و الزيت و الدهن إذا أنتن لا يحرم و الطعام إذا تغير و اشتد تنجس و الأشربة بالتغير لا تحرم كذا في خزانة المفتين (الفتاوى الهندية: ۳۳۹/۵ كتاب الكراهية، الباب الحادى عشر في الكراهية في الأكل و ما يتصل به)

(۲) في الشامي قوله: (و أكل نحو ثوم) اى كبصل و نحوه مما له رائحة كريهة للحديث الصحيح في النهى عن قربان أكل الثوم و البصل المسجد قال الإمام العينى في شرحه على صحيح البخارى قلت: علة النهى أذى الملائكة و أذى المسلمين... و إنما خص الثوم هنا بالذكر، و في غيره ايضا بالبصل و الكراث لكثرة أكلهم لها(الدر و الرد ۴۸۹/۱ كتاب الصلاة باب ما يفسد الصلوة و ما يكره فيها مطلب: في الغرس في المسجد. ط رشيديه)

کوي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: كل فانى اناجى من لا تناجي(١) او په مسلم کي راغلي دي چي فرمايي: إنه ليس لى تحريم ما أحل الله لى و لكنها شجرة أكره ريحها(٢) هو د دې له خوړلو يا چلم څکولو وروسته بېله خولې پاكولو مسجد ته تلل تحريمي مكروه دي چي په صحيح حديثونو کي له وږي يا پياز خوړلو وروسته و مسجد ته له ورتلو څخه منع راغلې ده، په مسلم کي راغلي دي: من أكل البصل و الثوم و الكراث فلا يقربن مسجدنا، فإن الملائكة تتأذى مما يتأذى منه بنو آدم(٣) او په حنفي فقه کي هم د پياز او وږي يا کوم بل بدبوداره شي سره مسجد ته تلل تحريمي مكروه دي، په درمختار کي راغلي دي: و أكل نحو ثوم و يمنع منه و كذا كل موذ(۴) او په كبيري کي راغلي دي: يجب أن تصان عن إدخال الرائحة الكريهة(۵) پر همدې په قياس کولو علماء رحمهم الله د مسجد د ذکر په مجلسونو کي هم بدبويه شی وړلو ته تحريمي مكروه فرمايلي دي نووي د مسلم په شرح کي رانقلوي: قال القاضي: و قاس العلماء على هذا مجامع الصلوة غير المسجد كمصلى العيد و الجنائز و نحوها من مجامع العبادات و كذا مجامع العلم و الذكر و الولائم و نحوها و لا يلتحق بها الأسواق و نحوها(٦) لنډه دا چي اوم پياز او وږه خوړل بېله كراهيته جائز دي اما د دې د خوړلو يا چلم څکولو وروسته بې د خولې له پاكولو مسجد يا د ذكر مجلس ته تلل تحريمي مكروه دي

---

(١) عن جابر بن عبد الله رضى الله عنهما زعم أن النبى صلى الله عليه وسلم قال: من أكل ثوما او بصلاً... فقال: كل فإنى اناجى من لا تناجي (صحيح البخاري: ١١٨/١ كتاب الأذان باب ما جاء فى الثوم النى و لبصل و الكراث الخ)

(٢) عن أبي سعيد الخدرى رضى الله عنه... فقال: أيها الناس الحديث(الصحيح لمسلم ٢٠٩/١ كتاب المساجد و مواضع الصلاة، باب من أكل ثوما أو بصلا او كراثا الخ)

(٣) عن جابر بن عبد الله رضى الله عنهما عن النبى صلى الله عليه وسلم قال: من أكل من هذه البقلة الثوم و قال مرة: من أكل البصل الحديث(مخكني حواله)

(٤) الدر المختار مع الشامي ٤٨٩/١ كتاب الصلاة، باب ما يفسد الصلوة و ما يكره فيها، مطلب فى الغرس فى المسجد. ط رشيديه

(٥) الحلبي الكبيري: ص: ٥٢٦، فصل فى أحكام المسجد.

(٦) شرح الصحيح لمسلم للنووي: ٢٠٩/١ كتاب المساجد و مواضع الصلاة باب من اكل ثوما الخ.

په حرامه ګټه روزلي غويي او هغه د کښت حکم

سوال: (۴۳) مسلماني بد چلندي او فاحشي ښځي پخپله ناروا ګټه يو سوخوندر وپالی بيا يو کافر له دې څخه رانيوی، وروسته پر يو مسلمان خرخ کړی په دغه صورت کي د دغه غويي په وسيله چي د کښت او نورو ګټه دغه مسلمان لاس ته کړي هغه پاکه ده او کنه؟ او د ده غوښه خوړل جائز ده او کنه؟ (۱۵۴/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: دغه ګټه حلاله او پاکه ده او د دغه غويي غوښه خوړل له شرعي ذبح وروسته صحيح ده. فقط

ورږه خوړل صحيح دي

سوال: (۴۴) د غوا، ګاميښي او وزې ورږه خوړل جائز دي او کنه؟ د خوړلو طريقه يې داسي ده چي له بچي پيدا کيدو وروسته ورږه راواخلي د خوږو او ميټايي سره پاخه کړي بيا يې خوري. (۹۰۱/۱۳۳۵هـ)

ځواب: د ورږو خوراک بېله کراهيته صحيح دی. فقط

سوال: (۴۵) د غوا، ګاميښي او نورو چي کله بچي پيدا شي نو اول د شيدو پر ځای ورږه وي، د دې خوراک جائز دی او کنه؟ (۹۴/۱۳۳۸هـ)

ځواب: جائز دي. فقط

سوال: (۴۶) کله چي د غوا، ګاميښي بچي وشي نو تر دوو دريو ورځو پوري ورږه کوي، د هغه خوراک جائز دی که مکروه؟ (۲۲۴۰/۱۳۴۱هـ)

ځواب: د ورږو خوراک بېله کراهيته جائز دی.

جائفل، جاوتري، زعفران، مشک، یېل او عنبر خوړل حلال دي

سوال: (۴۷) جائفل، جاوتري، زعفران، مشک، یېل او عنبر خوړل حلال دي او کنه؟ (۱۳۳۵/۳۲هـ)

ځواب: جائفل، جاوتري، زعفران او نور ټول حلال دي، په رد المحتار کي ليکلي دي چي زعفران، جائفل او نور خوړل حلال دي، حرام يې نه دي ليکلي زعفران هر ډول حلال دي(۱) فقط و الله تعالی اعلم

افيون او خاشخاش څنګه دي؟

سوال: (۴۸) افيون او خاشخاش حلال دي که حرام؟ د حوالې سره جواب راکړئ (۱۳۴۳/۲۷۹۸هـ)

ځواب: افيون چي د سکر تر حده ورسيږي نو په اتفاق حرام دي لأن کل مسکر حرام(۲) په شامي کي راغلي دي: کالبنج و الأفيون فلا يحرم قليلها بل کثيرها المسکر (إلی أن قال) أمـا الجامدات فلا يحرم منها إلا الکثير المسکر(۳) علی هذا خاشخاش که د سکـر تـر حـد و نـه

---

(۱) و لم نرأ حدًا... بنجاسة نحو الزعفران مع أن کثيره مسکر، و لم يحرموا أکل قليلـه أيضـا (رد المحتار ۳۲۴/۵ کتاب الأشربة. ط رشيديه)

و المسک طاهر حلال فيؤکل بکل حال (الدر) و فی الشامي: (فيؤکل بکل حال) أی فی الأطعمة و الأدوية لضرورة أولا ... و الزباد طهر و کذا العنبر... و أما العنبر فالصحيح أنه عين فی "البحر" بمنزلة القير، و کلاهما طاهر من أطيب الطيب اهـ ملخصا، و "في تحفة ابن حجر" و ليس العنبر روثا خلافا لمن زعمه، بل هو نبات فی "البحر" (رد المحتار ۱۵۳/۱ کتاب الطهارة، باب المياه مطلب فی المسک و الزباد و العنبر. ط رشيديه)

جاوتري د جائفل پوستوکي، الزباد د پشو په رنګه يو حيوان دی چي پکي د خوشبو يوه کڅوړه وي له هغه څخه يوه خوشبودار ماده راوځي چي د خوشبو په توګه استعماليږي هغه ته زباد وايي ۱۲ سعيد احمد

(۲) عن ابن عمر رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: کل مسکر خمر و کل مسـکر حرام و من شرب الخمر فی الدنيا فمات و هو يد منها لم يتب، لم يشربها فی الآخـرة رواه مسـلم (مشـکاة المصابيح: ص: ۳۱۷ کتاب الحدود باب بيان الخمر و وعيد شاربها، الفصل الأول)

(۳) رد المحتار ۳۲۴/۵ کتاب الأشربة. ط رشيديه

رسي نو حلال دي. فقط و الله تعالی اعلم

د کوتري غوښي خوړل جائز دي

سوال: (۴۹) یو سړی وایي چې د کوترې غوښي حرامي دي ځکه چې دا د بل حق خوري دا صحیح دی او کنه؟ حیوانان خو ټول داسي وي. (۱۳۳۲-۳۵/۲۸۹ھ)

ځواب: دا وهم غلط دی حیوان مکلف نه وي. فقط

شکرقندي او بړهل(۱) خوړل څنګه دي؟

سوال: (۵۰) د شکرقندي او بړهل خوړل حلال دي او کنه؟ (۱۳۴۰/۹۱۴ھ)

ځواب: شکر قند او بړهل حلال دي.

خاوري خوړل څنګه دي؟

سوال: (۵۱) خاوري خوړل څنګه دي؟ (۱۳۳۸/۴۴۳ھ)

ځواب: د ضرر په وجه د خاورو خوړل منع دي ځکه که لږ په یو شي ګډي وي نو صحیح دي.(۲)

شکر او بوره خوړل صحیح دي

سوال: (۵۲) د انګریزي شکر او چیني په اړه ماته د هډوکو د کارخاني یو مزدور او په نورو آوازو معلوم شوي دي چې د شکر تیارولو پر مهال په هډوکو صفایي ورکوي ځکه مې له ډیري زماني

---

(۱) بړهل: د یوې درختي نوم دی چي میوه یې ګول او زیړه وي. (فیروز اللغات)

(۲) أكل الطين مكروه، هكذا ذكر فى فتاوى ابي الليث رحمه الله تعالى و ذكر شمس الأئمه الحلواني فى شرح صومه إذا كان يخاف على نفسه أنه لو أكله أورثه ذلك علة أو آفة لا يباح له التناول و كذلك هذا فى كل شئ سوى الطين و إن كان يتناول منه قليلا او كان يفعل ذلك أحيانا لا باس به... سئل بعض الفقهاء عن أكل الطين البخارى و نحوه قال: لا باس بذلك مالم يضر و كراهية أكله لا للحرمة إلى لتهيج الداء (الفتاوى الهندية: ۵/۳۴۰-۳۴۱ كتاب الكراهية الباب الحادى عشر فى الكراهية فى الأكل و ما يتصل به)

د چیني استعمال پرېښی دی که مي پر نورو شیرنیو او خوږو هم د ګډولو شک راشي له هغوی څخه هم پرهېز کوم، همدونه د حلالولو حرامو هرډول مذبوحو او مردارو حیوانانو کارخانې ته راځي اوس تاسو راته ووایاست چي د دې استعمال څنګه دی؟
(۱۳۳۰-۲۹/۲۳۷هـ)

ځواب: د شکر او بورې خوراک صحیح دی، که د حیوانانو هډونه پکي اچول کیږي نو لومړی خو له خنزیر څخه سیوا د بل کوم حیوان هډونه ناپاک نه دي او ناپاک هډونه چي وسځول شي هیره شي نو پاک شي که څه هم د خنزیر وي په دې کي شک کول فضول دی، کما قال فی الدر المختار.(۱) فقط

د څرخي او لوښي په شکمن کیدو پوري او ګوړي ته ناپاک نشي ویل کیدلای

سوال: (۵۳) په کوم څرخي چي د شکرګني اوبه راباسي او په کومو لوښو کي چي ګوړه میتایي جوړیږي د غه ټول لوښي سپیان څټي د غه ګوړه او نور پاک دي که ناپاک؟
(۱۳۳۳-۳۲/۱۱۷۱هـ)

ځواب: د شرعي قواعدو(۲) په رڼا کي دغه ګوړه او نور پاک دي خوړل يې صحیح دي فقط

سوال: (۵۴) د جوس(د شکرګني اوبه) ایستلو ماشین(څرخي) شپه او ورځ سپیان څټي او په کومو لوښو کي چي دغه اوبه اچوي او ګوړه او نور پکي جوړیږي هغه سپیان څټي او پلیت يې کړي داسي ګوړه او میتایاني په بازار کي خرڅیږي خوړل يې جائز دي او کنه؟(۱۳۳۳-۳۲/۲۴۳۷هـ)

ځواب: په داسي شکونو او شبهو د بازار ګوړه او بوره پلیت نه ګرځي. فقط

---

(۱) قوله: (و یطهر زیت الخ)... فیدخل فیه کل ما کان فیه تغیر و انقلاب حقیقة و کان فیه بلوی عامة... و عذرة صارت رمادًا او حمأة، فإن ذلک کله انقلاب حقیقة إلی حقیقة أخری لا مجرد انقلاب وصف الخ(رد المحتار ۲۳۱/۱ کتاب الطهارة باب الأنجاس. ط رشیدیه) قوله: و الحرق کالغسل) لأن النار تأکل فیه من النجاسة حتی لا یبقی فیه شیئ... و لهذا لو احرقت العذرة و صارت رمادًا طهرت للاستحالة کالخمر إذا تخللت الخ(الشامی ۵۱۹/۵ کتاب الخنثی، مسائل شتی. ط رشیدیه)

(۲) الیقین لا یزول بالشک (قواعد الفقه، ص: ۱۴۳، قاعدة: ۴۲۱ المطبوعة اشرفی بک ډپو دیوبند)

مشرک، بهنګي او نورو چي کوم شي ته لاس وروړی وي د هغه حکم

سوال: (۵۵) د مشرکانو مردار خورو بنګیانو او نورو ذلیلو خلګو د لاس لوند شی لکه جوس او نور او په دوی میتایاني جوړول صحیح دي او کنه؟ د دوی پس خورده خوړل جائز دي او کنه؟ او که په دوی اوبه د اوداسه او طهارت لپاره راوکښل شي نو طهارت صحیح کیږي او کنه؟ "انما المشرکون نجس" (الآیة) په دغه آیت کي ظاهري نجاست مراد دی که ایماني؟(۷۴۵/۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: قال فی الدر المختار: فسؤر آدمي مطلقًا و لو جنبا او کافرا الخ طاهر الفم الخ طاهر(۱) له دي څخه معلوم شو چي د کافر پس خورده پاکه ده کله چي ده خوله پاکه کړي وي مثلاً که نجاست خوړلي وي نو خوله يې پاکه کړې وي پر بمنځلې يې وي او کله چي د ده پس خورده پاکه ده نو د ده د لاس اوبه او جوس په داسي حالت کي څښل صحیح دي او په داسي اوبو اودس صحیح دی. لندا چي په فقهي قاعده "الیقین لا یزول بالشک"(۲) عمل کوي او وهم پرېږدي په "انما المشرکون نجس" (سورة توبه، آیت: ۲۸) کي له نجاست څخه باطني نجاست او د عقیدې خرابي او ناپاکي مراد ده. فقط

سوال: (۵۶) آیا کافر نجس دی که طاهر؟ که نجس دی نو د ده د لاس پوخ کړی شی یا لاس لګولی پاک دی او که ناپاک؟ که پاک دی نو ولي پاک دی؟ او د ده د لاس پوخ کړی شی خوړل صحیح دی او کنه؟(۲۹/۷۰۰-۱۳۳۰ھ)

ځواب: کافر د باطني عقیدې په اعتبار نجس دی لکه چي الله رب العزت فرمایلي دي: انما المشرکون نجس(سورة توبه، ایت: ۲۸) قال فی الشامی: فالمراد بقوله تعالی: "انما المشرکون نجس" النجاسة فی اعتقادهم الخ(۳) نو کله چي دا خبره ثابته شوه چي نجاست د کافر په اعتبار د عقیدې دی نه په اعتبار د ظاهر نو که د ده پر لاس کوم ظاهري نجاست نه وي نو د ده د لاس پوخ کړی یا لاس لګول شی خوړل پاک او صحیح دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم هم د کفارو د لاس پوخ شوی

---

(۱) الدر المختار مع الشامي ۱۶۳/۱ كتاب الطهارة، باب المياه، مطلب فی السؤر. ط رشيديه

(۲) رد المحتار ۱۰۹/۱ كتاب الطهارة، مطلب فی ندب مراعاة الخلاف اذا لم يرتكب مكروه مذهبه. ط رشيديه

(۳) رد المحتار ۱۶۳/۱ كتاب الطهارة باب المياه فصل فی البئر مطلب فی السؤر. ط رشيديه

شی خوړلی دی(۱) فقط و الله تعالی اعلم

له هندوانو څخه خوراکي شیان رانیول

سوال: (۵۷) هندوان چي زموږ د وطن د رواج سره سم عمومًا سود خواره دي او زموږ په کلیو کي د مسلمانانو کوم دکان نشته، که وي نو هغه هم کمزوری دکان وي، د خوراک شیان له هندوانو اخلي او خرڅوي یې، د ضرورت پر مهال له هندوانو څخه شیان رانیول کیږي، آیا داسي خوراکي شیان میتهایي او نور جائز دي او کنه؟ او نور شیان د دوی د لاس پخ کړي ډوډۍ او نور د ضرورت پر مهال یا بې ضرورته جائز دي او کنه؟ (۲۹/۳۲۸-۱۳۳۰هـ)

ځواب: د هندوانو جوړه کړې میتهایي، ډوډۍ او نور شیان د خوراک له دوی څخه رانیول او خوړل صحیح دي فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۵۸) د هندوانو د لاس پخ کړی شی استعمال جائز دی او کنه؟ (۱۳۴۳/۱۲۰۵هـ)

ځواب: په دې کي شرعًا هیڅ قباحت نشته، د مسلمانانو لپاره استعمالول جائز دي، کله چي د دوی میلمستیا قبلول جائز دي نو بیا د دوی د لاس پخ کړي شي کي څه قباحت کیدلای شي؟ مګر مناسب دا دي چي سړی پرهیز ځني وکړي قال فی الشامي: إن إجابة دعوة أهل الذمة مطلقة فی الشرع و مجازاة الإحسان من المروءة إلخ(۲) فقط

سوال: (۵۹) هندوان چي هر وخت نجس وي او د سپي پس خورده پاکه بولي او د مسلمانانو مسه کړی شی ناپاک بولي او د غوا ګوبر پاک بولي او د سپیانو ختلي لوښو کي میتهایاني جوړوي آیا د دوی په لاس جوړه کړې میتهایي خوړل شرعًا صحیح ده او کنه؟ (۳۲/۲۴۳۷-۱۳۳۳هـ)

---

(۱) عن ابن شهاب قال: كان جابر بن عبد الله يحدث أن يهودية من أهل خيبر سمت شاة مصلية ثم أهدتها لرسول الله صلى الله عليه وسلم، فأخذ رسول الله صلى الله عليه وسلم الذراع فأكل منها و اكل رهط من أصحابه معه الحديث(سنن ابي داؤد ص: ۶۲۰ كتاب الديات، باب فيمن سقى رجلا سما الخ)

(۲) الشامي ۵۳۲/۵ كتاب الخنثى، مسائل شتى. ط رشيديه

ځواب: کله چي کوم خاص خبر د دغه میټايي او نورو د نجاست نه وي نو خوراک يې صحيح دی. فقط

سوال: (۲۰) کوم خلګ چي د خنزير غوښه خوري، همدغه خلګ ډبل روټي، بسکوټ او نور جوړوي، آيا د دوی د لاس جوړ کړي دغه شيان خوړل جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۵/۲۹۰هـ)

ځواب: تر څو چي په دغه بسکوټونو او نورو کي د نجاست لوېدلو علم نه وي، فتوی د جواز ورکول کيږي. لأن الطهارة لا تزول بالشک(۱)

سوال: (۲۱) د هندو څخه میټايي رانيول او خوړل کله چي دی يو مخ د پاکي خيال نه ساتي روا دی که ناروا؟ خوراک يې جائز دی او کنه؟(۱۳۳۶-۳۵/۴۹۰هـ)

ځواب: د فتوی سره سم حکم دا دی چي ترڅو په کومه میټايي او نورو خوراکي شيانو او نورو کي نجاست و نه ليدل شي، د فتوی له مخه د هغه خوراک او رانيول صحيح دي د احتياط خبره بله ده که څوک احتياط کوي او ځان ځيني ګوري نو ښه دي ليکن د فتوی له لاري شرعي حکم د ناپاکۍ بېله ليدلو نه پر کيږي. فقط

سوال: (۲۲) دلته د هندو د لاس جوړ کړی مصری ځيني مسلمانان نه خوري، د دې په اړه شرعي حکم څه دی؟آيا نه خوړل تقوی ده؟ (۱۳۳۷/۲۵۴۹هـ)

ځواب: جائز دي څه پروا نلري او د دې خوړل د تقوی خلاف نه دي.

سوال: (۲۳) د بنګي د کور غوړي رانيول او استعمالول جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۳۵۰هـ)

ځواب: په نه رانيولو کي احتياط دی، که چا رانيول او استعمال يې کړو نو صحيح دي، پاک دي تر څو چي کوم نجاست پکي معلوم نه وي.

د پان خرڅونکي هندو پان خوړل صحيح دي

سوال: (۲۴) د هندو د دکان میټايي او پان خرڅونکي هندو د دکان پان خوړل

(۱) لأن الطهارة الثابتة بيقين لا يحكم بزوالها بالشک (بدائع الصنائع ۱/۱۲۲ کتاب الطهارة، آداب الوضوء، فصل ما ينقض الوضوء)

صحيح دي او كنه؟(۳۲/۲۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: د هندو د دكان ميتهايي او د هندو د لاس جوړ كړي پان خوړل صحيح دي. فقط و الله تعالى اعلم

د هندو پخپل اختر كي رالېږلي ميتهايي خوړل صحيح دي

سوال: (۲۵) زياتره هندوان د خپل اختر په ورځ ميتهايي راليږي د هغو خوراک څنګه دى؟(۳۲/۷۷۳-۱۳۳۳هـ)

ځواب: صحيح دي فقط

سوال: (۲۶) هندوان د خپل اختر په ورځ وريجي او پتاسې راليږي د مسلمانانو لپاره خوړل صحيح دي او كنه؟(۳۲/۲۵۸۰-۱۳۳۳هـ)

ځواب: د مسلمانانو لپاره يې خوراک صحيح دى فقط

سوال: (۲۷) كوم سړى چي د هندوانو د اختر او په نورو خوشحالي په ورځو كي د هندوانو پخ كړي شيان، چرګان او د پسو غوښي چي په قرآن شريف كي د هغه په اړه "ما اهل به لغير الله" راغلي دي خوړي نو داسي خوراک روا دى كه ناروا؟(۱۳۳۵/۷۰۲هـ)

ځواب: كافران كه د خپل اختر او بله ورځ كي و مسلمانانو ته كومه تحفه ميتهايي او نور د خپل رواج سره سم وركړي نو د مسلمانانو لپاره يې خوراک صحيح دى، دا د اعتراض وړ خبره نه ده او كوم حيوان چي د بت په نوم وټاكي يا يې د بتانو په نوم آزادي كړي، هغه "ما اهل به لغير الله" دى د هغه خوراک د مسلمانانو لپاره صحيح نه دى.

هندوان كه پخپل غم او ښادي كي ميتهايي يا ډوډى راولېږي يا مېلمستيا وكړي نو...

سوال: (۲۸) ... (الف) كه هندوان پخپل غم او ښادي كي كوم د خوراک شى ډوډى، ميتهايي او نور د مسلمانانو كره راولېږي، هغه ډوډى پاكه ده او كنه؟ او خوراک د هغه شرعًا صحيح دى او كنه؟

(ب) که هندوان د مسلمانانو مېلمستيا وکړي نو څنګه دي؟ کله چي د دوی په کور کي ډول او سرنا نه وي نو د دوی په کور کي ډوډۍ خوړل څنګه دي؟ او که ډول او نور وي خو د ډوډۍ په ځای کي نه وي نو څه حکم دی؟ (۱۳۳۸/۱۳۵۲هـ)

ځواب: (الف) داسي د خوراک شيان پاک دي د مسلمانانو لپاره خوړل صحيح دي.

(ب) که ډول، سروز او نور نه وي نو څه پروا نلري او کله چي سروز او نور د ډوډۍ په ځای کي نه وي نو ګنجايش شته چي مسلمان دي هلته خوراک وکړي. فقط

د کومي درختي د روزني لپاره چي د خنزير غوښه، وينه او شراب وراچول شوي وي د هغي مېوه خوړل او پر لرګي باندي لمونځ کول څنګه؟

سوال: (۶۹) که و کومي درختي ته د امبار پر ځای د خنزير غوښه، وينه يا شراب د روزني لپاره ورواچول شي نو د دې مېوه خوړل او پر لرګي باندي لمونځ کول څنګه دي؟ (۱۳۳۷/۲۳۹۲هـ)

ځواب: د دغي درختي مېوه خوړل او پر تخته باندي لمونځ کول صحيح دي. دغه مېوه او لرګي پاک دي.

د حلال حيوان پر جسم که د خنزير وازګه، وينه يا شراب منښوول شوي وي نو غوښه څنګه ده؟

سوال: (۷۰) د خنزير وينه يا وازګه او يا شراب که د حلال حيوان پر جسم منښوول شوي وي نو د هغه غوښه خوړل او پر څرمن لمونځ کول څنګه دي؟ (۱۳۳۷/۲۳۹۲هـ)

ځواب: غوښه خوړل د دغه حيوان صحيح ده او څرمن په پرېمنځلو پاکيږي له پرېمنځلو وروسته ورباندي لمونځ کول صحيح دي.

په مردارو او پلیتو اوبو کرل شویو سبزیانو حکم

سوال: (۷۱) په زیاتره غټو ښارونو کي پلیتي او مرداري اوبه له ښارونو راوزي خلک سبزیاني او نور ورته کري، د دیو روزنه په دغه نجسو اوبو وي د دغه شیانو استعمال جائز دی او کنه؟ (۱۳۴۵/۱۵۷۲هـ)

ځواب: جائز دی، کما هو ظاهر و منصوص ځکه چي د غلاظت او نجاست اثر په دغه سبزیانو او میوو کي نه جزبیږي، په حدیث شریف کي راغلي دي: زکاة الأرض یبسها(۱) همدغه حکم د درختو او کښت او نورو دی کوم چي متصل بالأرض دي. فقط

په وینه ککړه شوي غوښه په درې واره پرېمنځلو پاکیږي

سوال: (۷۲) پاکه غوښه که په دم مسفوح(بهېدلي وینه) ککړه شي یا د یهودي او عیسائي په وینو ککړ لاس پر غوښه ولګي، داسي غوښه به څرنګه پاکیږي؟ (۱۳۴۳/۱۴۴۷هـ)

ځواب: په درې واره پرېمنځلو پاکیږي په شامي کي له ظهیریه څخه رانقل کړي دي: و لو صبت الخمرة فی قدر فیها لحم: إن کان قبل الغلیان یطهر اللحم بالغسل ثلاثا إلخ(۲) (الشامي: ۲۲۳/۱)فقط

که د خوراک په شي کي خوله او اوښکه ولویږي؟

سوال: (۷۳) که د خوراک په شي کي خوله او اوښکه ولویږي نو خوراک یې څنګه دی؟ (۱۳۳۷/۲۵۴۳هـ)

---

(۱) عن محمد بن المهاجر عن أبي جعفر قال: زکاة الارض یبسها (المصنف لابن ابي شـيبة: ۴۳۰/۱-۴۳۱ کتاب الطهارة، قبل باب من قال: إذا کانت جافة فهو زکاتها، رقم الحدیث: ۶۲۹، المطبوعة: ادارة القرآن و العلوم الإسلامیة، کراتشي باکستان)

(۲) رد المحتار ۲۴۵/۱ کتاب الطهارة، باب الأنجاس، مطلب في تطهیر الدهن و العسل. ط رشیدیه

ځواب: او ښکي او خوله پاک دي که د خوراک په شي کي ولویږي نو خوراک یې صحیح دی، فقط

که د ښځي شیدې په اوړوکي ولویږي نو ډوډۍ یې د خاوند لپاره څنګه ده؟

سوال: (۷۴) یوې ښځي اوړه اخښل چي له تیو څخه دومره شیدې راووتې په اوړو کي ولوېدې، اوس دغه اوړه یا ډوډۍ د دغي ښځي خاوند خوړلای شي او کنه؟ (۱۳۴۰/۳۱۵هـ)

ځواب: مسئله دا ده چي د ښځي شیدې د تي رودونکي ماشوم څخه پرته د بل چا لپاره استعمالول صحیح نه دي، ځکه دا اوړه هیڅکله مه خورئ، نه دي د ښځي خاوند خوري او نه بل څوک، لیکن حرمت د رضاعت په دې نه ثابتیږي.

سوال: (۷۵) که د اوړو اخښلو پر مهال د ښځي شیدې په اوړو کي و اخښل شي په استعمال او خوراک کي راشي نو خاوند که یې وخوري نو نکاح فاسدیږي او کنه؟ د دغه شیدو مالک څوک دی؟ (۱۳۴۱/۲۴۲۷هـ)

ځواب: د دغه شیدو مالک هیڅوک نه دی د خاوند لپاره استعمال صحیح نه دی لأنه جزء آدمي(۱) او که خاوند دغه اوړه وخوړل یا یې د خپلي ښځي تی وردوی نو په دې سره پر نکاح اثر نه پرېوزي مګر خوړل یې حرام دي فقط

د خوراک په شي کي که د موږک پچي پخې شي نو...

سوال: (۷۶) که د خوراک په شي کي د موږک پچي پخې شي نو خوراک یې څنګه دی؟ (۱۳۴۰/۱۹۹۷هـ)

---

(۱) لأنه جزء آدمي و الانتفاع به لغير ضرورة حرام على الصحيح شرح الوهبانية (الدر مع الرد ۴۳۸/۲ كتاب النكاح، باب الرضاع. ط رشيديه)

ځواب: خوراک يې صحيح دی.(۱) فقط

د وطي شوي حيوان غوښه څنګه ده؟

سوال: (۷۷) زيد د يو حلال حيوان سره وطي وکړي نو د دغه حيوان غوښه خوړل څنګه دي؟ (۱۳۴۵/۵۲۲هـ)

ځواب: په شامي کي راغلي دي چي داسي حيوان وسوځوئ يعني مه يې خورئ دا حکم استحبابي دی، له دې څخه معلوم شو چي خوړل د دې مکروه دي حرام نه دي و يعزر و تذبح البهيمة و تحرق على وجه الاستحباب و لا يحرم أكل لحمها به اهـ(۲)

د خمار په روپيو رانيولي ميتايي خوراک څنګه دی؟

سوال: (۷۸) يو سړي جواري(خمار) وکړی په هم هغه روپيو يې ميتايي راوړه خوراک د داسي ميتايي څنګه دی؟ (۱۳۳۸/۵۰۲هـ)

ځواب: خوراک يې صحيح نه دی او روپۍ چي کومي د دې ورکړي د هغو اختيسل هم صحيح نه دي. فقط

د تاش (پتي) کونکي ډوډۍ خوړل څنګه دي؟

سوال: (۷۹) د تاش کونکي ډوډۍ خوړل جائز ده او کنه؟ (۱۳۴۳/۱۲۸هـ)

ځواب: د تاش بازي کول حرام دي، ليکن د کونکي د کور ډوډۍ خوړل صحيح دي فقط

---

(۱) خبز وجد فى خلاله خرء فارة، فإن كان الخرء صلبا رمى به و أكل الخبز و لا يفسد خرء الفارة الدهن و الماء و الحنطة للضرورة إلا إذا ظهر طعمه أو لونه فى الدهن و نحوه لفحشه و إمكان التحرز عنه حينئذ خانية(الدر المختار) و فى الشامي: و فى القهستانى عن المحيط خرء الفارة لا يفسد الدهن و الحنطة المطحونة ما لم يتغير طعمها قال ابو الليث و به نأخذ(الدر المختار و الشامي ۵۱۷/۵ كتاب الخنثى مسائل شتى. ط رشيديه)

(۲) الشامي ۱۲۲/۱ كتاب الطهارة، قبيل مطلب فى رطوبة الفرج. ط رشيديه

د پاکۍ او ناپاکۍ خیال نه ساتونکي د لاس شی خوړل

سوال: (۸۰) څوک چي په استنجاء وهلو نه پوهیږي له بولو وروسته لوټه خو پرېږده او به هم نه استعمالوي، په همدغه جامو کي په تالاب کي لمبیږي، و ټول بدن ته څاڅکي ورغورځي، د داسي چا د لاس شی خوړل او د ده د لاس بدنی او نور استعمالول جائز دي او کنه؟ که ټول خلک داسي وي نو د عموم بلوی په وجه جائز دي او کنه؟
(۱۳۳۸/۹۵۰هـ)

ځواب: ترڅو چي په یقین سره د ده د لاسونو پلیت والی معلوم نه وي صحیح دي فقط

د بې لمانځه مسه کړی شی خوړل جائز دي

سوال: (۸۱) إن أكل ما مسه تارك الصلاة هل يباح او يكره؟ (۷۷۷/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: يباح و لا يكره، كيف! و لا يكره ما مسه الكافر. فقط

سوال: (۸۱) ترجمه: بې لمانځه چي کوم شي ته لاس وروړی وي د هغه خوړل مباح دي که مکروه؟

ځواب: مباح، مکروه نه دي، مکروه به څنګه وي کله چي کافر کوم شي ته لاس وروړی وي هغه هم مکروه نه دی. فقط

د روژماتي پر وخت مسجد ته راوړې ډوډۍ څوک خوړلای شي؟

سوال: (۸۲) مسجد ته چي روژه مات راوړل شي چي روژه بې نه وي هغه کس یې هم خوړلای شي او کنه؟ یا روژه مات و طالب او مؤذن ته داسي کس ورکولای شي چي مالک نه وي؟ (۱۳۴۰/۲۴۱۸هـ)

ځواب: په دې کي چي څرنګه عرف وي، هغسي عمل کول پکار دی، شرعًا په دې کي وسعت شته، ځکه چي د روژه مات لېږونکیو نیت تنګ نه وي. فقط

د کافر رانیولې غوښه څنګه ده؟

سوال: (۸۳) نن صبا مسلمانان له کافرانو څخه د بازار سودا راغواړي، ان چي

غوښه هم څني راغواړي او له يو كلي څخه بل كلي ته د عقيقې او قربانۍ غوښه د دوى په لاس ليږي، دغه غوښه خوړل څنګه دي؟ (۱۳۴۱/۱۱۷۹هـ)

ځواب: أقول و بالله التوفيق: په سوال كي چي كومي خبري ليكل شوي دي دا صحيح دي، د كافرانو څخه له بازاره سودا راغوښتل او د دوى په لاس تحفه او نور لېږل په دغه شيانو كي د كافر قول معتبر دى مګر له كافر څخه په غوښه رانيولو او راغوښتلو كي احتياط كول پكار دي چي كله نا كله دوى د نامسلمان ذبح كړي يا ناذبحي كړي حيوان غوښه په مسلمانانو خوري او د دوى دا وينا چي د مسلمان ذبيحه ده اعتبار نلري، كما في الشامي عن جامع الجوامع لأبي يوسف رحمه الله: من اشترى لحما فعلم أنه مجوسي و أراد الرد، فقال: ذبحه مسلم يكره أكله اهـ و مفاده أن مجرد كون البائع مجوسيا يثبت الحرمة، فإنه بعد أخباره بالحل بقوله: ذبحه مسلم كره أكله فكيف بدونه ! تأمل(۱) فإنه موضع الاحتياط.

سوال: (۸۴) كه سړى له مشرك څخه غوښه راوغواړي هغه چي د دكان څخه راوړي له نظر څخه پټ شي، داسي څنګه دي؟ (۱۳۳۹/۱۵۰۹هـ)

ځواب: په غوښه كي احتياط كول پكار دي، له مشرك څخه يې مه راغواړئ، په دې كي فقهاوو د حرمت حكم كړى دى، كذا في الشامي(۱) فقط و الله تعالى اعلم

په قبرستان كي ډوډۍ خوړل څنګه دي؟

سوال: (۸۵) په هديره كي ډوډۍ خوړل جائز دي او كنه؟ او ځينو اكابرو ليكلي دي چي په هديره كي پر ډوډۍ فاتحه (دعا) ويلو وروسته وېشل جائز دي د دې څه مطلب دى؟ (۱۳۴۲/۲۷۱۴هـ)

ځواب: په جواز كي خو هيڅ شك نشته، اما په هديره كي ډوډۍ خوړل د اولى خلاف يعني تنزيهي مكروه بلل شوي دي، په يو حديث كي دا هم راغلي دي: اكثروا ذكر هازم اللذات يعني الموت(۲) له دغه حديث

---

(۱) الشامي ۲۴۳/۵ أوائل كتاب الحظر و الإباحة. ط رشيديه

(۲) عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم أكثروا ذكر، الحديث(جامع الترمذي: ۵۷/۲ أبواب الزهد، باب ما جاء في ذكر الموت)

ځکه دا هم معلومیږي چې د مرګ یادونه په لذتونو کې مشغولېدلو ته ځنډ وي، نو رانو دا خبره چې تاسو کړې ده چې ځینو اکابرو لیکلي دي چې په هدیره کې پر ډوډۍ فاتحه ویلو وروسته وېشل جائز دي دا صحیح نه دي دا د محققینو علماوو د مسلک پر خلاف دي په هدیره کې ډوډۍ وېشل جائز نه دي او پر ډوډۍ مروجه فاتحه ویل بدعت دی، محققین علماء ورته ناجائز وايي. فقط

په بې خبري کې ناپاک شی خوړل پروا نلري

سوال: (۸۶) دوو کسانو په بې خبري ناپاک شی وخوړی، له توبې وروسته کورنۍ ورسره اړیکي وساتلې په دې صورت کې څه حکم دی؟ (۱۳۳۵/۱۰۵۴هـ)

ځواب: په بې خبري که څوک ناپاک شی وخوري نو نه دی ګنهکار، په قرآن شریف کې راغلي دي: "ربنا لا تؤاخذنا إن نسينا او أخطأنا" (سورة بقرة، آیت: ۲۸۶) او په حدیث شریف کې راغلي دي: رفع عن أمتي الخطاء و النسيان[1] نو کله چې په آیت او حدیث دا ثابت شول چې په هېره او بې خبري که د سړي څخه کوم کار وشي نو نه دی ګنهکار نو دغه خلګ چې په بې خبري یې ناپاک شی خوړلی دی قصوروار نه دی بلل په کار، دوی له کورنۍ مه باسئ، باید خوراک څښاک د دوی سره کوي. فقط

پر حکومتي ځمکه کرلې سبزي خوړل

سوال: (۸۷) د ریل ګاډۍ په ځمکه کې کومه چې حکومتي ځمکه ده که څوک سبزي وکري او د حکومت له ټاکۍ څخه اوبه ورکوي د حکومتي مامورینو لپاره د دغه سبزي خوړل څنګه دي؟ (۱۳۳۵/۸۸۲هـ)

ځواب: کله چې عرفًا له دغه څخه منع نه کیږي نو صحیح دي.

---

(۱) رفع عن امتي الخطاء و النسيان و ما استكرهوا عليه (طب) عن ثوبان (صحـ)(الجامع الصغير في أحاديث البشير النذير للسيوطي رحمه الله، ص: ۲۷۳ رقم الحديث: ٤٤٦١، حرف الراء، المطبوعة: دار الكتب العلمية لبنان، بيروت)

د خاندان د نوم ډوډۍ په ما أهل به لغیر الله کي نه ده داخله

سوال: (۸۸) په یو قوم کي رواج دی چي دوی په واده کي خپل خاندان والو ته څه ډوډۍ یا شیریني ورکوي که څوک دا ووایي چي دا ډوډۍ د الله د نوم ده نو هغه نه خوري او داسي وینا کونکي ته پیغور ورکوي او کوم څوک چي د الله د نوم دا خوري هغه ذلیلوي چي تاسو فقیران او محتاجه یاست نو داسي ډوډۍ چي د خاندان په نوم شوې وي له ما اهل به لغیر الله څخه خو نه ده؟ خوراک یې څنګه دی؟ (۱۰۱۱/۱۳۳۵ھ)

ځواب: داسي ډوډۍ له ما أهل به لغیر الله څخه نه ده او خوراک یې ځکه حرام نه دی لیکن د نامه او ریاء او نورو راتلو په وجه خوړل ښه نه دي او د الله د نوم ډوډۍ دوه قسمه وي یوه واجب صدقه یوه هدیه صدقه د فقیرانو حق ده او هدیه د ټولو لپاره صحیح ده.فقط

د غیر الله د تعظیم لپاره پخ شوې ډوډۍ خوړل صحیح نه ده

سوال: (۸۹) هندوان چي د غیر الله د تعظیم لپاره کومه ډوډۍ پخوي د هغه خوراک څنګه دی؟ مثلاً د دوی د خوشحالیو په ورځو کي چي کوم پاخه کړي پر خلکو ویشي د هغه خوراک څنګه دی؟ (۱۳۴۰-۳۹/۱۳۴۲ھ)

ځواب: د غیر الله د تعظیم لپاره چي کومه ډوډۍ هندوان یا مسلمانان پخه کړي د هغه خوراک صحیح نه دی نورکه د خپلو خوشحالیو په ورځو کي هندوان و مسلمانانو ته کومه شیریني او تحفه په خوشحالي ورکړي د هغه اخیستل او خوراک صحیح دي لکه چي هندوان پخپل اختر کي میټایاني او نور د خوشحالي په وجه ورکوي د هغه اخیستل او خوړل صحیح دي

د اولیاء او بزرګانو پر قبرونو وېشل شوې ډوډۍ خوړل څنګه ده؟

سوال: (۹۰) زید وایي چي د اولیاوو پر قبرونو چي کومي خوړېي وېشل کیږي د هغه خوراک صحیح دی

آیا شرعًا د داسي شیانو خوراک صحیح دی او کنه؟ ځیني وایي چي ساه اخیستونکی شی په ما اهل به لغیر الله کي راځي ځکه منع دی او ساه نه اخیستونکی په ما اهل به لغیر الله کي نه راځي ځکه نشي منع کېدلای؟ (۱۳۳۲-۳۵/۲۷۸هـ)

ځواب: د دې خوراک صحیح نه دی په ساه اخیستونکي کي حیوان دا هلال لغیر الله په وجه قطعي حرام ګرځي(۱) او په ساه نه اخیستونکیو او ماکولاتو کي هم اهلال لغیر الله او تقرب الی غیر الله خباثت پیدا کوي. فقط

په ټپی او ګوبرو ډوډۍ پخول جائز دي

سوال: (۹۱) ... (الف) د حلالو حیوانانو په ګوبرو (خوشیو) ډوډۍ پخول او خوړل جائز دي او کنه؟

(ب) او د حرامو حیوانانو په ګوبرو هم جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۵-۴۴/۵۰۳هـ)

ځواب: (الف) جائز دي لعموم البلوی، کذا فی الدر المختار(۲)

(ب) دا هم جائز دي. فقط

سوال: (۹۲) په ټپیو ډوډۍ پخول جائز دي او کنه؟ که کوم کراهیت پکي شته؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۳۲۱هـ)

ځواب: جائز دی، لا یکون نجس رماد قذر و إلا لزم نجاسة الخبز في سائر الأمصار(۳) (در مختار) فقط

---

(۱) د تفصیل لپاره فتاوی دار العلوم دیوبند: ۴۳۴-۴۳۲/۱۵ وګورئ ۱۲

(۲) قوله: (و یطهر زیت الخ) ... فیدخل فیه کل ما کان فیه تغیر و انقلاب حقیقة و کان فیه بلوی عامة... و عذرة صارت رمادا او حمأة، فإن ذلک کله انقلاب حقیقة إلی حقیقة أخری لا مجرد انقلاب وصف الخ (رد المحتار ۲۳۱/۱ کتاب الطهارة، باب الأنجاس. ط رشیدیه)

قوله: (و الحرق کالغسل) لأن النار تأکل ما فیه من النجاسة حتی لا یبقی فیه شئ ... و لهذا لو أحرقت العذرة و صارت رمادا طهرت للاستحالة کالخمر إذا تخللت الخ (الشامی ۵۱۹/۵ کتاب الخنثی، مسائل شتی. ط رشیدیه)

(۳) الدر مع الرد ۲۳۹/۱ کتاب الطهارة، باب الأنجاس، مطلب العرقی الذی یستقطر من دردی الخمر نجس حرام إلخ. ط رشیدیه

سوال: (۹۳) د غوا کامیښي او نورو په تېپیو او کوبرو ډوډۍ او دیگ پخول جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۸/۱۲۴۲هـ)

ځواب: ډوډۍ او دیگ په پخول صحیح دي. فقط

که په غوړیو کې د حرامو حیواناتو د وازگې د گډون شبه وي نو خوراک یې څنگه دی؟

سوال: (۹۴) د کلکتې په بازار کې چې کوم غوړي خرڅیږي د هغه په اړه له مخکې څخه دا شبه وه چې په دې کې وازگې گډې دي مگر دا نه و معلوم چې د کوم شي وازگې په گډې دي اوس مارواړو او برهمنو د دې د تحقیق لپاره یوه کامیټه وټاکله چې پکې ځیني راجاگان او حکومتې افسران هم شریک وو د غه کامیټې د تجارو او ډاکترانو په وسیله تحقیق وکړ، دا خبره معلومه شوه چې بېله فرق کولو د هر ډول حلالو او حرامو حیواناتو وازگې په گډوي، حتی چې د کامیټې صدر اعلان وکړی چې د سپي، پشي او مار وازگې لا په گډوي او عمومًا د بازار غوړي بېله وازگو نه پیدا کیږي نو آیا د مسلمانانو لپاره د دغه کارخانو غوړي خوړل جائز دي او کنه؟ ځیني علماء وایي چې حلال دي او ځیني وايي حرام دي (۱۳۳۵/۱۷۱۰هـ)

ځواب: د فتوی له مخه حلال دي(۱) ځکه چې کلي قاعده ده: اليقين لا يزول بالشك(۲) فقط

حلال او پاک شی د ناپاکۍ په احتمال نه پلیتیږي

سوال: (۹۵) د مسلمان لپاره له هندوانو او په تېره بیا له بنگیانو څخه غوړي رانیول جائز دي او کنه؟ که جائز دي نو داسي غوړي د دوی د پلیتۍ په وجه پاک دي که ناپاک؟ که د داسي غوړیو خوړلو وروسته معلوم شي نو څه کول پکار دي؟ او د مسلمانانو دکاندارانو لپاره رانیول خرڅول جائز دي او کنه؟ په تېره بیا چې نامسلمان

---

(۱) لیکن د دغه کارخانو په غوړیو کې د حرامو حیواناتو د وازگو گډولو قوي اندېښنه ده، ځکه مسلمانان باید د دغه کارخانو غوړي نه رانیسي او نه یې وخوري لکه چې د راتلونکي سوال په جواب کې به راشي. ۱۲ محمد امین

(۲) الدر مع الرد ۱/۱۰۹ کتاب الطهارة، مطلب في ندب مراعاة الخلاف إذا لم يرتكب مكروه مذهبه. ط رشيديه

قومونه هر ډول د مسلمانانو خلاف وي او په داسي غوړيو کي د پليتئ ګډولو اند ښنه وي (۴۴/۳۲۵-۱۳۴۵هـ)

ځواب: نا مسلمان که د هر قوم وي شرعًا د ده سره رانيول خرخول کول جائز دي، د رانيولي شي په اړه ترڅو چي يقينًا د پليتئ حال معلوم نه وي د نجاست حکم ورباندي نشي لګول کيدلای د کوم شي طهارت ته صرف په طبعي تنفر يا د نجاست په احتمال تاوان نه رسي، کوم حلال او طاهر شی د پليتئ په احتمال ناپاک نه ګرځي، السيقين لا يزول بالشک(۱) مقرره شوې قاعده ده نو په مسئوله صورت کې له داسي قومونو څخه غوړي رانيول جائز دي اما که د دوی د لوښو ناپاکوالی په يقيني توګه معلوم وي نو بيا ناجائز والی ښکاره دی، لنډه دا چي صرف د قومي پليتئ په وجه د ناجائز والي حکم نشي لګېدلای اصل مدار د رانيول شوي شي پر طهارت او عدم طهارت دی خو بيا هم په غوړيو کي که د پليتئ اند ښنه وي نو رانيول يې مناسب نه دي د اسلامي مصالحو او ديني غيرت خو همدا تقاضا ده چي د نامسلمانو سره په تېره بيا د هندوانو سره هيڅ ډول هم تجارتي اړيکي و نه ساتل شي، کله چي نور قومونه په هره ممکنه وسيله سره د مسلمانانو په ذليلولو کي لګيا دي نو بيا هيڅ وجه نشته چي مسلمان خپل قوميت او مذهبي وقار تر پښنو لاندي کړي، د دوی سره کوم ډول اړيکي وساتي، ضرورت د دې خبري دی چي د تجارتي عمل ټول مدار پخپل منځ کې وي. فقط

د مړي کور ته راغلې دوډۍ نور قريبان خوړلای شي او کنه؟

سوال: (۹۶) د مړي و وارثانو ته چي کومه دوډۍ تر دريو ورځو پوري ورکول کيږي نو د مړي له وارثانو څخه پرته نور قريبان يې خوړلای شي او کنه؟ (۳۵/۲۴۵-۱۳۳۲هـ)

ځواب: کوم خاص قريبان چي په غم او خوشحالي ورشريک وي د هغوی لپاره خوراک صحيح دی. فقط

د مړي داهل لپاره پخپل کور کي دوډۍ پخول څنګه دي؟

سوال: (۹۷) که اهل د مړي پخپل کور کي دوډۍ پخه کړي نو څنګه دي؟ (۱۳۴۱/۱۵۲۰هـ)

---

(۱) قواعد الفقه، ص: ۱۴۳، قاعدة: ۴۲۱.

ځواب: د ځان لپاره يې که پخه کړي نو جائز دي او که د مېلمستيا په توګه پخه کړي نو مکروه ده، کما في الشامي عن الفتح: و يكره اتخاذ الضيافة من الطعام من أهل الميت إلخ(١) فقط

د غم په ورځو کي په خلګو دوډۍ خوړول

سوال: (٩٨) د مړي اهل د غم په ورځو کي و خپلوانو ته دوډۍ ورکوي داسي کول څنګه دي؟ (١٣٤٢/١٤٨٢هـ)

ځواب: د مړي د اهل لپاره و خپلوانو ته دغه دوډۍ ورکول صحيح نه دي كما صرح به الفقهاء: يكره اتخاذ الضيافة من الطعام من أهل الميت، لأنه شرع في السرور لا في الشرور(٢) فقط

د مړي د نوم دوډۍ خوړل

سوال: (٩٩) د مړي د نوم دوډۍ خوړل جائز ده او كنه؟ (٣٣/٥٩٣-١٣٣٤هـ)

ځواب: د فقراء لپاره صحيح ده او د غنيانو لپاره ښه نه ده. فقط

د سود خور کره دوډۍ خوړل او د غنيانو په خوراک مړي ته ثواب رسي او كنه؟

سوال: (١٠٠) څه فرمايي علماء د دين د دغه مسئلي په اړه چي د سود خور کره دوډۍ خوړل جائز دي او كنه؟ د ناجائز والي په صورت پکي شرکت کونکي پسي لمونځ کول مکروه دی او كنه؟ که مکروه دی نو تحريمي دی که تنزيهي؟ که کوم ملا امام د سود خور کره خوراک څښاک کول د هغه څه حکم دی؟ دا غه راز که څوک په مړي پسي د ثواب لپاره مېلمستيا وکړي چي پکي غنيان هم برخه واخلي نو د غنيانو په خوراک مړي ته ثواب رسي او كنه؟ او په داسي مېلمستيا کي د غنيانو لپاره

---

(١) رد المحتار ٤٧١/٥ كتاب الوصايا، قبيل باب الوصية بثلث المال. ط رشيديه

(٢) رد المحتار ٦٦٤/١ كتاب الصلاة، باب صلوة الجنازة، مطلب في كراهة الضيافة من أهل الميت. ط رشيديه

برخه اخیستل جائزدي او کنه؟ که منع دي نو حرام دي که تنزیهي مکروه؟ بینوا بالاستدلال توجروا من العزیز المتعال. (۱۲۸۵/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: که آمدني د ده ګډه وډه ده نو د ده د کور ډوډۍ د فتوی له مخې جائز ده او احتیاط کول ښه دي او لمونځ په ده پسې صحیح دی او په مړي پسې د ثواب لپاره ډوډۍ باید صرف مسکینان وخوري، د غنیانو لپاره داسې ډوډۍ ښه نه ده که څه هم ثواب په دې کي هم دی مګر د مسکینانو تر خوراک کم دی. فقط و الله تعالی اعلم

په مړي پسې د ثواب لپاره ورکړی شی صدقه ده

سوال: (۱۰۱) د فتاوی عزیزي په ترجمه کي دي چي که کوم شی و بزرګانو ته د ثواب رسولو لپاره د الله د رضا لپاره حلوه او نورو فاتحه وویل شي نو هغه متبرک ګرځي، د هغه خوراک د غني او فقیر ټولو لپاره جائز دی داغه رازیو بل حدیث مي د فتاوی برجندي په حواله په بل کتاب کي ولیدی چي حاصل یې دا دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل زوی حضرت ابراهیم رضی الله عنه فاتحه فرمایلې وه او الحمد لله او څلور قله یې ویلي و بیا یې هغه پر حاضرو وېشلې وه د بزرګانو په فاتحه ورکولو هغه متبرک ګرځي او کنه؟ داغه ډوډۍ غنیان او فقیران ټول خوړلای شي که صرف د مسکینانو حق دی؟ د برجندي حدیث صحیح دی او کنه؟ (۹۲۲/۱۳۴۲هـ)

ځواب: کوم شی چي په بزرګانو یا عامو مؤمنانو پسې د الله د رضا لپاره د ثواب په نیت ورکول شي هغه صدقه ده هغه خاص د فقیرانو او مسکینانو حق دی که څه هم نفلي صدقه و غنیانو ته ورکول هم صحیح دي لیکن زیات ثواب و فقیرانو ته په ورکولو کي دی او د غنیانو لپاره اخیستل او خوړل د صدقې ښه نه دي او له برجندي څخه رانقل شوي حدیث ثابت نه دی په صحیح حدیثونو کي و صدقه ته اوساخ الناس فرمایلي دي(۱) ځکه د سیدانو لپاره د خوراک اجازه نشته او رسول الله صلی الله علیه وسلم د

---

(۱) عن عبد المطلب بن ربیعه رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم... إن هذه الصدقات إنما هی أوساخ الناس و إنها لا تحل لمحمد و لا لآل محمد صلی الله علیه وسلم رواه مسلم(الصحیح لمسلم: ۳۴۵/۱، کتاب الزكاة، إباحة الهدیة للنبی صلی الله علیه وسلم إلخ)

حضرت حسن رضی الله عنه له لاسه وکښېوېشوه وي غورځوله او وې فرمايل چې د آل محمد لپاره دا حلاله نه ده(۱) فقط

په مدرسوکي دزکوة په روپيو پخ شوي ډوډی مدرسان رانیولای شي او کنه؟

سوال: (۱۰۲) په یوه مدرسه کې څو يتيمان سبقونه وايي د دوی د خوراک څښاک لپاره متولي د زکاة روپۍ ورکوي، د مدرسې ځيني استاذان چې سيدان دي يا دنصاب مالکان دي دوی په خوراک کې دا ډول ورسره برخه اخلي چې په مياشته کې چې پر هر يو څومره مصرف راځي له خپلې تنخواه څخه هغومره د زکوة په روپيو کې ورجمع کوي آيا د دوی لپاره په خوراک کې دا ډول ورشريکيدل جائز دي او کنه؟(۳۲۰/ ۱۳۳۹هـ)۔

ځواب: په خوراک کې دا ډول شرکت کول او د خپل خوراک روپۍ ورکول صحيح دي ځکه چې په شريعت کې حرج او تنګي نشته كما قال الله تعالى: و ما جعل عليكم في الدين من حرج(سورة حج، آيت: ۷۸) و قال الله تعالى في حق اليتمى: و إن تخالطوهم فإخوانكم و الله يعلم المفسد من المصلح(سورة بقره، آيت: ۲۲) فقط

مشترکه ډوډی که څوک کمه یا زیاته وخوري نو...؟

سوال: (۱۰۳) څو کسان په ګډه ډوډۍ پخوي د ټولو ونډې سره برابري دي خو کله چې خوري نو حتمًا په خوراک کې کمي زياتوب راځي ځکه چې د چا خوراک زيات دی د چا دا کم؟(۱۳۳۵/۱۳۳هـ)

---

(۱) عن أبي هريرة رضى الله عنه قال: أخذ الحسن بن على رضى الله عنهما تمرة من تمر الصدقة فجعلها في فيه، فقال النبي صلى الله عليه وسلم: كخ كخ ليطرحها ثم قال: أما شعرت أنا لا نأكل الصدقة متفق عليه(مشكاة المصابيح، ص: ۱۶۱ كتاب الزكاة، باب من لا تحل له الصدقة، الفصل الأول)

ځواب: دا ډول په ګډه پخ کړې ډوډۍ خوړل جائز ده. فقط و الله تعالی اعلم

د بالغو او نابالغو وروڼو په ګډه ډوډۍ کي مېلمستیا قبلول

سوال: (۱۰۴) د یو مورث څلور زامن دي په دوی کي یو نابالغ دی ترکه د مړي تقسیم شوې نه ده، په کور کي ډوډۍ په ګډه پخیږي که چاته مېلمستیا وکړي نو د هغه لپاره خوراک څنګه دی؟ تر څه وخته پرهېز کول پکار دی؟ (۱۳۳۴-۳۳/۴۰۸هـ)

ځواب: د بالغو لپاره پخپله برخه کي مېلمانه کول صحیح دي نو د مېلمه لپاره خوراک هم صحیح دی، لنډه دا چي دا ډول مصرفونه دي بالغان له خپلي برخي شمیري پر نابالغ دي داسي مصرفونه نه شمیري، د آمدنی او مصرف دي پوره خیال ساتي د نابالغ د ضروریاتو حساب دي بېل ساتي، ځېل زیاتوب مصرفونه دي د ده په برخه کي نه لګوي، د ده تر بالغ کېدو د ده ضرورت دي له بلوغ وروسته چي دی د کوم مصرف اجازه وکړي جائز دی او د بلوغ حکم د پنځلسو کلونو په عمر کي وي، کله چي کوم بل علامت د بلوغ ظاهر نه وي.

د سودخور رالیږلې ډوډۍ د کور به مزدور خوړلای شي او کنه؟

سوال: (۱۰۵) یو سړی چي ګټه د سود ده د بل سړي کره څه غوښه او ډوډۍ ورولېږله چي د هغه کره زه مزدور یم کوروالو ماته هم دا ډوډۍ راکړه زما لپاره دغه ډوډۍ روا ده که ناروا؟ (۱۳۳۲-۳۵/۲۸۹هـ)

ځواب: د فتوی له مخه ستا لپاره خوړل صحیح دي. فقط

د نصاب مالک باید د نذر او سود په روپیو تیاري شوي ډوډۍ څخه پرهېز وکړي

سوال: (۱۰۲) یو سړی د نصاب مالک دی چي په یو کلي کي د مسجد امام دی. کلیوالو د ده د ډوډۍ بندوبست دا ډول کړی دی چي یوه ورځ به له یو کور څخه دوه وخته ډوډۍ راځي بله ورځ له بل کور څخه پوښتنه دا ده چي کلیوال د رواجو پابند دي د عادت او رواج سره سم د پنځلسي (شب برأت) په ورځ حلوه، د محرم په لسمه دال او وریجي یا د رجب په خاص ورځ حلوه یا د روژي په اوویشتمه جلبۍ راوړي په مسجد کي يې ویشي، امام صاحب ته دوي برخي د امامت ورکوي نو په داسي ورځو کي چي د کوم کور نوبت وي هغه داسي خوراکونه رالیږي او داغه راز کله چي واده وي نو واده وال هغه ډوډۍ چي د سود په روپیو يې تیاره کړي وي لومړی و امام صاحب ته رالیږي په داسي صورت کي د امام لپاره داسي ډوډۍ څنګه ده؟ (۱۳۳۷/۱۲۴۲ھ)

ځواب: د نصاب د مالک لپاره دا ډول ډوډۍ د نذر او رواجونو نه دي خوړل پکار او د کوم کور چي نوبت وي د هغه له کور راغلي ډوډۍ خوړل صحیح دي لیکن احتیاط دا دی چي د سود په روپیو چا ډوډۍ تیاره کړې وي یا د زماني د رواجونو سره سمه ډوډۍ وي هغه دي نه خوري، که څه هم د دوی نوبت وي بلکه داسي ډوډۍ دي و فقیرانو ته ورکړي ځان ته دي حلاله ډوډۍ پیدا کړي فقط

د نصاب مالک ملا امام ته کلي وال ډوډۍ ورکولای شي

سوال: (۱۰۷) د ملا امام لپاره له کلیوالو څخه ډوډۍ اخیستل او صدقات او نور اخیستل جائز دي او کنه؟ امام د نصاب مالک دی. (۲۱/۲۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: د مسجد امام ته که د نصاب مالک هم وي خو د ده لپاره له کلیوالو څخه ډوډۍ اخیستل صحیح دي فقط

د نابالغو طالبانو پاته ډوډۍ د دوی د اړتیاوو لپاره خرڅول

سوال: (۱۰۸) د نابالغو طالبانو ډوډۍ که پاته شي د مدرسې مهتمم یا مدرس که یې د ډوډۍ ورکونکي له پوښتنې پرته و دوی ته د جامو او نورو اخیستلو لپاره خرخه کړي نو جائز ده او کنه؟ (۲۴۸/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: د ډوډۍ ورکونکي څخه خو د پوښتنې ضرورت نشته، نابالغان یې مالکان شول نو پاته ډوډۍ د طالبانو په مصرف کې لګول صحیح ده.

د مدرسې په روپیو د مدرسې و همکارانو ته مېلمستیا ورکول

سوال: (۱۰۹) کله نا کله د مدرسې همکارانو ته د مدرسو له طرفه مېلمستیا یا کومه مېوه یا تحفه ورکول وي دا صرف د مدرسې د فائدې او ترقۍ پر اساس وي. شرعًا داسې مصرف کول څنګه دي؟ (۱۲۲/۱۳۳۵هـ)

ځواب: دا ډول مصرف له مدرسې څخه کول صحیح دی چې د مدرسې مصلحت د همدې تقاضا کوي او په داسې مصلحتونو کې د مصرفونو د چنده ورکونکیو له طرفه دلالةً اجازه وي.

د واده پاته شوې ډوډۍ دالله په نوم ورکول

سوال: (۱۱۰) د واده پاته شوې ډوډۍ د الله لپاره ورکول څنګه دي؟ (۱۸۰۵/۱۳۳۷هـ)
ځواب: داسې صحیح دي، د فقیرانو لپاره اخیستل او خوړل صحیح دي.

د هندو د کور ډوډۍ خوړل

سوال: (۱۱۱) د هندو د کور ډوډۍ د مسلمان لپاره خوړل څنګه دي؟
(۳۲۲/۲۹-۱۳۳۰هـ)

ځواب: د هندو د کور ډوډۍ د مسلمان لپاره خوړل صحیح او جائز ده. فقط

سوال: (۱۱۲) مسلمانان د هندوانو د کور ډوډۍ خوري د بنګیانو د کور دا ولې نه

خوري؟(۱۳۳۰-۲۹/۲۹۲هـ)

ځواب: ټول کافران برابر دي، که د دوی د لوښو، او د خوراک د نجاست یقین نه وي نو صحیح دي، لأن ما عمت بلیته خفت قضیته(۱)

سوال: (۱۱۳) ځیني هندوان خنزیر او نور حرام شیان خوري او ځیني سود اخلي نو د هندو د کور ډوډۍ خوړل څنګه دي؟(۱۳۳۴-۳۳/۴۲۳هـ)

ځواب: د هندو د کور پخ کړې ډوډۍ خوړل صحیح دي لیکن که دا معلوم شي چې د خنزیر غوښه ده یا د خفه کړي حیوان غوښه ده نو خوړل یې صحیح نه دي. فقط

سوال: (۱۱۴) د هندوانو یا نور کافر قومونو مېلمستیا د مسلمانانو لپاره قبلول صحیح دي او کنه؟ د دوی کره ډول او رقص هم وي (۱۳۳۴-۳۳/۵۴۹هـ)

ځواب: د هندوانو کره ډوډۍ خوړل صحیح دي لیکن د ډول او رقص په مجلس کې برخه اخیستل صحیح نه دي. فقط

سوال: (۱۱۵) که د مسلمان چلم هندو قصداً وڅکوي، که کوم مسلمان هندو د ځان سره په ډوډۍ شریک کړي نو د دغه دواړو خبرو څه حکم دی؟(۱۳۳۵/۱۲۲۵هـ)

ځواب: دواړې خبرې شرعًا هیڅ پروا نلري، هیڅ وهم نه دی کول پکار.

د هندو د کور پخه شوې ډوډۍ پاکه ده

سوال: (۱۱۶) د هندو د کور پخه شوې ډوډۍ پاکه ده که ناپاکه؟(۱۳۳۹/۹۹۹هـ)

ځواب: داسې ډوډۍ پاکه ده خوراک یې صحیح دی. فقط

د نامسلمان مېلمستیا قبلول

سوال: (۱۱۷) د مسلمانانو لپاره د نامسلمانو مېلمستیا قبلول څنګه دي؟ چې د خوراک شیان یې له بازاره راوړي وي. (۱۳۴۵/۲۳۰هـ)

---

(۱) البحر الرائق: ۱/ ۳۹۷، کتاب الطهارة باب الانجاس.

ځواب: د مسلمانانو لپاره د نامسلمانو مېلمستیا قبلول جائز دي چې دوی د مسلمانانو لپاره خاص انتظام کوي نو په دې کې د ناروا والي کومه وجه نشته. د مسلمانانو لپاره د نامسلمانو همسایه ګانو سره دا ډول معاملات کول شرعًا جائز دي. په فتاوی عالمګیري کې راغلي دي: و لا بأس بطعام المجوس كله إلا الذبيحة فإن ذبيحتهم حرام إلخ، و فيه: و لا بأس بالذهاب إلى ضيافة أهل الذمة هكذا ذكر محمدر حمه الله تعالى(۱)

د هندو مېلمستیا او هدیه قبلول

سوال: (۱۱۸) د هندو مېلمستیا قبلول دا ډول چې سامان هندو راوړي او انتظام پخپله مسلمان وکړي داسې جائز دي او کنه؟ (۴۲/۴۰۰-۱۳۴۷هـ)

ځواب: د نامسلمان هدیه او مېلمستیا قبلول جائز دي په تېره بیا په داسې صورت کې چې د خوراک سامان ځيني واخلي مسلمان یې پخپله انتظام وکړي نو د پرهېز کومه وجه نشته، مسلم دعاه نصرانی إلى داره ضيفا الخ قال بعضهم: يحل له أن يذهب إلى ضيافة النصرانی لأن هذا نوع من البر و أنه ليس بحرام بل هو مندوب(۲) (فتاوی قاضي خان باب الحظر و الإباحة)

د عیسائي د کور یا د ده سره ډوډۍ خوړل

سوال: (۱۱۹) چه می فرمایند علماء دین در باب تناول طعام اہل اسلام بشمولیت عیسائی؟ (۳۲/۱۵۸۵-۱۳۳۳هـ)

ځواب: اگرچه در فتوی جائز است بصورت که طهارت ظروف و طعام وحلت طعام متیقن باشد مگر مصلحت و احتیاط مقتضی خلاف آن است.

(۱) الفتاوى الهندية: ۳٤۷/۵ كتاب الكراهية، الباب الرابع عشر فی أهل الذمة و الأحكام التی تعود إليهم.

(۲) الفتاوى الخانية مع الهندية: ۴۰۱/۳ كتاب الحظر و الإباحة و ما يكره أكله و ما لا يكره و ما يتعلق بالضيافة.

سوال: (۱۱۹) ترجمه: څه فرمايي علماء د دين په دغه مسئله کي چي د مسلمانانو د عيسائي سره ډوډۍ خوړل څرنګه دي؟

ځواب: که څه هم د فتوی له مخه جائز دي په داسي صورت کي چي د لوښو د پاکوالي او د خوراک د پاکوالي او حلت يقين وي، مګر د مصلحت او احتياط په خلاف دي

سوال: (۱۲۰) يو سړي د عيسايانو سره خوراک وکړی، موږ اوس له عيسايانو څخه شرميږو . کوم څوک چي له محمدي کلمې څخه منکر دی هغه کافر دی خوراک ورسره کول حرام دی زموږ اهل کتاب هغه دي کوم چي زموږ کتاب مني. هغه سړی وايي چي الله پاک په قرآن کي فرمايلي دي چي د هندوانو سره ولي خوري؟ د هندوانو سره خوړل منع دي، که د عيسايي سره څوک وخوري نو څۀ منع ده؟ هغه زموږ اهل کتاب دی په داسي صورت کي شرعًا څه حکم دی؟ (۱۲۴۳/۱۳۳۸ھ)

ځواب: يهود او نصاری ته اهل کتاب ويل کيږي، په دې وجه چي د يهوديانو او عيسايانو پر پيغمبرانو پر حضرت موسی او حضرت عيسی عليهما الصلاة و السلام باندي تورات او انجيل نازل شوی دی بيا دغه ډلي خطا شوې، پخپلو کتابونو کي تحريف او بدلون وکړی او ګمراه شول ليکن د دې ټولو سره اوس هم دوی اهل کتاب بلل کيږي او د دوی سره خوراک کول د هندوانو په رنګه صحيح دی، ليکن خو دوی احتياط کونکي نه دي خمر او خنزير د دوی خوراک وي، کوم چي په اسلام کي حرام دي، ځکه پر مسلمانانو لازمه ده چي د دوی سره له خوراک کولو څخه پرهيز وکړي فقط

سوال: (۱۲۱) د مسلمانانو لپاره د عيسايانو سره ډوډۍ خوړل صحيح ده که پرهيز کول پکار دي؟ او تر کوم حده؟ (۵۱۲/۱۳۳۹ھ)

ځواب: پرهيز کول د احتياط خبره ده او د اهل اسلام د اسلام او عمل همدا مقتضا ده چي پرهيز وکړل شي او وجه د دې ښکاره ده او د دين د بزرګانو عمل پر همدې دی. فقط

د شيعه ګانو د غم او ښادي په ډوډۍ کي برخه اخيستل

سوال: (۱۲۲) د شيعه ګانو د غم او ښادي او نورو مجلسونو کي د اهل سنت شرکت کول او ډوډۍ خوړل حرام دي او کنه؟ (۳۹۹/۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: حرام خو نه دي مګر ور څخه ځان ساتل مناسب دي او اختلاط د داسي خلګو سره منع

دی. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۲۳) اورېدلي مي دي چي شيعه ګان و اهل سنت ته ببله پليت شي ګډ ولو کوم شی نه ورکوي دا صحيح دي او کنه؟ او د داسي خوراک څه حکم دی؟ (۱۳۴۰/۷۰۳ھ)

ځواب: داسي زياتره اورېدل شوي ځکه د دوی له شي خوړلو څخه احتياط کول غوره دي. فقط

مزدور که د شيعه يا هندو کره ډوډۍ وخوري

سوال: (۱۲۴) ... (الف) موږ د شيعه ګانو کره کار کوو مزدوري څني اخلو او خوراک څښاک هم کوو داسي صحيح دي او کنه؟

(ب) او د هندوانو کره هم دا ډول کار کوو او خوراک څښاک کوو جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۸۳۰ھ)

ځواب: (الف) د روافضو کره محنت او مزدوري کول او خوراک څښاک کول صحيح دي. فقط

(ب) د هندوانو کره هم صحيح دي. فقط

د شيعه ګانو مېلمستيا قبلول او د دوی سره اړيکي ساتل

سوال: (۱۲۵) د شيعه ګانو مېلمستيا قبلول جائز ده او کنه؟ که دوی کومه هديه ډوډۍ او نور راولېږي نو راوې ګرځوو که يې بيرته ورکړو؟ ځکه چي زياتره خلګ داسي روايتونه بيانوي چي دوی د خوراک په شي کي څه پليتي ضرور ګډوي او دا ښه عمل بولي د شاه عبد العزيز صاحب قدس سره له عبارت څخه معلومېږي چي دوی له اسلام څخه خارج دي نو بيا په دې اړه څه حکم دی؟ دوی شيخين رضی الله عنهما ته بد وايي او په محرم کي خو بد او رد پسي ويل عبادت بولي. (۱۳۳۷/۱۳۷۴ھ)

ځواب: له شيعه ډلي څخه ليري او سېدل پکار دي اړيکي ورسره ساتل صحيح نه دي نو د دوی مېلمستيا قبلول او له دوی څخه هديه اخيستل صحيح نه دي او پر شيخينو تبرا کونکي

ډيرو مشائخو او فقهاوو کافر او مرتد ليکلي دي(۱) او په شامي کي ليکلي دي چي کوم روافض د حضرت صديقه رضى الله عنها د افک معتقدين دي د هغو په ارتداد کي هيڅ شک نشته (۲)

د قادياني مېلمستيا قبلول او د ده سره اړيکي ساتل

سوال: (۱۲۶) مرزائي جماعت چي مرزا نبي بولي او د مرزا د نبوت منکر کافر بولي د داسي مرزايانو مېلمستيا قبلول او د دوى سره اړيکي ساتل روا دي که ناروا؟ (۱۳۳۷/۲۰۹۵هـ)

ځواب: د داسي مرزائيانو سره اړيکي ساتل او د دوى مېلمستيا قبلول صحيح نه دي فقط

د مرزائي سره خوراک څښاک کول

سوال: (۱۲۷) د مرزائي کره خوراک څښاک روا دى که ناروا؟ (۱۳۳۸/۲۸۷هـ)

ځواب: مرزائي عقيده ساتونکى مرتد دى د ده سره خوراک څښاک صحيح نه دى.

سوال: (۱۲۸) د مرزائي د کور پخ شوې ډوډۍ خوړل او د دوى د جنازې لمونځ کول صحيح دى او کنه؟ (۱۳۴۰/۷هـ)

ځواب: مرزائي مرتد او کافر دى د انبياء عليهم الصلاة و السلام توهين له سخت نه سخت د مرزا په کتابونو کي موجود دى بيا چي کله دى کافر شو نو د ده اتباع کونکى او معتقدين هم کافران شول د دوى د کور ډوډۍ او د دوى سره خوراک کول ټول حرام دي او د دوى په غسل او جنازه کي د مسلمانانو لپاره شرکت کول حرام او

---

(۱) أقول: نعم نقل في البزازية عن الخلاصة: أن الرافضى إذا كان يسب الشيخين و يلعنهما فهو كافر(رد المحتار ۳۲۱/۳ كتاب الجهاد، باب المرتد، مطلب مهم في حكم ساب الشيخين. ط رشيديه)

(۲) نعم لا شک في تکفير من قذف السيدة عائشة رضى الله تعالى عنها (الشامى كتاب الجهاد، باب المرتد، مطلب مهم في حكم ساب الشيخين. ط رشيديه)

قلت: و كذا يكفر قاذف عائشة و منكر صحبة أبيها، لأن ذلک تکذيب صريح القرآن (الشامى ۳۳۹/۳ كتاب الجهاد، باب البغاة، مطلب لا عبرة بغير الفقهاء، يعني المجتهدين. ط رشيديه)

ناجائز دی. فقط

سوال: (۱۲۹) د قادیاني په مقابل د هندو په کور کي ډوډۍ خوړل جائز ده او کنه؟(۱۳۴۰/۲۷۰هـ)

ځواب: د کافر کېدو په حیث د دواړو د کورو د ډوډۍ یو حکم دی یعني د جواز حکم دی لیکن د قادیانیانو سره یو مخ اړیکي ختمول لازمي دي د دوی د کور ډوډۍ مه خورئ.

د سود خور مېلمستیا قبلول

سوال: (۱۳۰) زید سود خوري د زید حلال مال او د کنبت روپۍ هم په دغه سود کي ورګډې دي په داسي صورت کي د زید د کور ډوډۍ خوړل او اړیکي ورسره ساتل جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۱/۱۱۴۲هـ)

ځواب: که د زید د مال زیاتره برخه حلاله ده نو د ده هدیه قبلول او د ده د کور ډوډۍ خوړل جائز ده، په بل صورت کي پرهېز اولی دی، په لومړي صورت کي که په یقیني توګه معلوم و چي کومه ډوډۍ موږ ته راکول کېږي هغه له حرام مال څخه ده نو نه ده خوړل پکار داغه راز که د حرام مال د غالب والي په صورت هم دا ثابت شي چي کومه ډوډۍ زموږ لپاره تیاره شوې ده، هغه له حلال مال څخه ده یا موروثي یا له مستقرض مال څخه ده نو خوړل یې حلال دي اهدى الى رجل شيئا او أضافه إن كان غالب ماله من الحلال فلا بأس إلا أن يعلم بأنه حرام، فإن كان الغالب هو الحرام ينبغي أن لا يقبل الهدية و لا يأكل الطعام إلا أن يخبره بأنه حلال ورثته او استقرضه او استقرضته من رجل الخ(۱) (عالم غيرية، كتاب الكراهية)

سوال: (۱۳۱) که د سړي خپلوان سود خوره وي د هغو کره ډوډۍ خوړل څرنګه ده؟ ځیني وایي چي د مقتدا لپاره تحریمي مکروه ده مقتدا څه ته وایي؟ (۱۳۳۷/۱۲۲۱هـ)

ځواب: د سود خور د کور ډوډۍ د هیچا لپاره نه ده روا نه د مقتدا لپاره او نه د نامقتدا لپاره او مقتدا هغه چاته ویل کېږي چي د علم او فضل په وجه د خلکو معتقد علیه وي او د ده پیروي عام خلک کوي د شیخ کامل درویش هم داسي حکم دی. فقط

سوال: (۱۳۲) ... (الف) یو سړی کنبت کرونده کوي او تجارت هم کوي او سود هم

(۱) الفتاوى الهندية: ۳٤۲/۵ كتاب الكراهية، الباب الثاني عشر في الهدايا و الضيافات.

اخلي د ده مېلمستیا قبلول څرنګه ده؟

(ب) د سود خور سره ډوډۍ خوړل څرنګه ده؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۵۳۸ھ)

ځواب: (الف) د داسي سود خور د کور له ډوډۍ خوړلو څخه ځان بچ کول غوره دي، که څه هم په کوم حالت کي چي د ده آمدني د کسبت او تجارت هم وي نو د فتوی له مخي خوراک صحیح دی مګر احتیاط په دې کي دی چي پرهېز وشي.

(ب) نه دي خوړل پکار. فقط

سوال: (۱۳۳) یو سړی سود هم اخلي او کسبت کرونده هم کوي نو د ده د کور ډوډۍ او له ده څخه روپۍ اخیستل صحیح دي او کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۲۰۳۹ھ)

ځواب: د ده د کور له ډوډۍ او د ده له روپیو حتی الوسع پرهېز کول پکار دی.

د سودخور په کور کي اوسېدل

سوال: (۱۳۴) څوک چي سود خوري د ده سره ناسته ولاړه کول د کور سره نژدې اوسېدل د ده د کور ډوډۍ خوړل یا د ده په کور کي اوسېدل صحیح دي او کنه؟ (۱۳۳۷/۱۴۳۱ھ)

ځواب: له سودخور څخه پرهېز کول مناسب دی او د ده ډوډۍ نه ده خوړل پکار.

د رشوت خور کره ډوډۍ خوړل

سوال: (۱۳۵) په مېلمستیا کي که کوم مال د رشوت او نور وي نو ډوډۍ خوړل پکار ده او کنه؟ (۱۳۳۰-۲۹/۹۰۰ھ)

ځواب: غوره دا ده چي وې نه خوري که دا ورته معلوم وي چي له رشوت له مال څخه مي خوروي کنې صحیح دي. فقط و الله تعالی اعلم

د رشوت خور مېلمستیا قبلول څرنګه ده

سوال: (۱۳۶) زید په راج پوتانه کي ملازم دی که څه هم لاولد دی مګر خرڅ یې تر تنخواه ډېر زیات

دی ځکه بېله رشوت اخیستلو یې کار نه کیږي او نه رشوت دی ځه بد کار بولي. که څه هم د تنخواه او رشوت په روپیو کي کوم بېلوالی نه دی کړی مګر وایي چي زیاته برخه د تنخواه ده که د زکوة ورکولو ورته ووایي نو یې نه ورکوي. که دا ورته ووایي چي رشوت پرېږده په تنخواه ګزاره کوه، هغه هم نه مني او په جواب کي دا وایي چي د زیات تېنګار ضرورت نشته، رشوت خواره په دنیا کي ډېر دي کوم حشر چي به د دوی وي زه به هم د دوی سره یم او کله نا کله وایي چي جنت او دوزخ څرنګه کیدلای شي؟ د دنیا د تکلیف او آرام نومونه دي او د بکر خور ده ته ناسته ده بکر د الله احکام حق او صحیح بولي، رشوت حرام، زکوة فرض، رزق ورکونکی الله، د کافر او فاسق مېلمستیا بد بولي او د بکر زوی د زید بچندر دی په داسي صورت کي د بکر لپاره د زید مېلمستیا قبلول او خپل زوی د زید بچندر جوړول څرنګه دي؟ او د بکر ښځه د دنیاوي طمعي په وجه زوی د زید سره ساتل غواړي که د بکر ښځه او زوی په شرعي احکامو کي د بکر خبره ونه مني نو څه کول پکار دي؟ او د ښځي د اطاعت نه کولو په صورت پر بکر طلاق ورکول لازم دي او کنه؟ او که د زوی سره اړیکي ختمي کړي؟ (۲۲۴/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: زید فاسق دی د ده مېلمستیا باید بکر قبوله نکړي او که څه هم د فتوی په اعتبار د حلالي آمدني د غلبې په وجه د زید مېلمستیا قبلول صحیح دي مګر د تقوی پر خلاف دي او د زید خبري د فسق او معصیت باعث دي په دې وجه د ده له مېلمستیا څخه پرهېز کول ضروري دي او د بکر د زوی د عقیدې او خیالاتو د بدلون که اندېښنه ده نو پر بکر لازم دي چي خپل زوی له بد صحبت څخه خلاص کړي او نصیحت ورته وکړي که هغه نه مني نو پر بکر مؤاخذه نشته او د زید سره د میني اړیکي ساتل نه دي پکار چي د آیتہ لا تجد قوما (سورة مجادله، آیتہ ۲۲) همدا منشا ده که د بکر زوی او ښځه په شرعي احکامو کي د بکر اطاعت نه کوي نو دوی ته تنبیه ورکول پکار دي، دا ضروري نه ده چي ښځه طلاقه کړي او د زوی سره یو مخ اړیکي ختمي کړي بلکه وخت نا وخته دي دوی پوهوي او نصیحت دي ورته کوي، شاید چي یو وخت به فائده وشي، په قرآن شریف کي راغلي دي: "ادع الی سبیل ربک بالحکمة و الموعظة الحسنة" (سورة نحل، آیتہ ۱۲۵) فقط

د توبه ګار سودخور ډوډۍ خوړل څرنګه دي؟

سوال: (۱۳۷) یو سړی ډېر سودخور و، د ده ټول مال د سود آمدني ده، اوس ده توبه کښلې ده او وايي چي زه به هیڅکله سود نه اخلم، د ده کره ډوډۍ خوړل جائز ده او کنه؟ (۳۲/۷۷-۱۳۳۳ھ)

ځواب: صرف د خولې په توبه حرام مال نه حلالیږي بلکه د ده د توبې طریقه دا ده چي کوم مال یې له چا څخه په حرامه طریقه حاصل کړی دی و هغه ته یا د هغه و وارثانو ته بیرته ورکړي یا یې په وبخښي کنې صدقه دي کړي نو که ده داسي وکړل نو د ده مېلمستیا قبلول حلال دي کنې نه ده، قال في الشامي: و كذا لا يحل إذا علم عين الغصب مثلا و إن لم يعلم مالكه لما في البزازية: أخذ مورثه رشوة أو ظلما اذ علم ذلک بعینه لا يحل له أخذه إلخ(۱) فقط

د رشوت خور ډوډۍ او پان خوړل

سوال: (۱۳۸) ... (الف) د زید پلار چي زیاتره جائداد یې د رشوت په روپیو جوړ کړی دی او زیاتره ترقي د ده په رشوت شوې ده نو د زید کره ډوډۍ یا بل شی خوړل جائز دي او کنه؟

(ب) که رشوت اخیستونکي سړي ته پان ورکړي چي زیاتره آمدني یې د رشوت ده نو د داسي پان خوړل څرنګه دي؟ او که هغه وخت د شرم او د ده د زړه نه ماتولو په وجه سړی پان څني واخلي په خوله کي واچوي لیکن وې نه خوري او نه یې تېر کړي د باندي یې تو کړي نو څنګه دي؟ (۹۲۱/۱۳۳۷ھ)

ځواب: (الف) احوط ترک د مېلمستیا او ترک د ډوډۍ دی و إن كان جائزا في الفتوى.

(ب) د ده پان مه خوره، ځکه لکه څرنګه چي د ده ډوډۍ ده هغسي د ده پان دي په دوارو کي احتیاط کوي. فقط

سوال: (۱۳۹) یو سړی د رشوت آمدني هم لري او تنخواه هم اخلي د داسي

---

(۱) الشامي ٤/١٤٦ كتاب البيوع، باب البيع الفاسد، مطلب في من ورث مالا حراما. ط رشيديه

سړي کره ډوډۍ خوړل جائزده او کنه؟(۱۳۳۷/۲۳۳۲هـ)

ځواب: ترڅو چي دا خبره په ثبوت ونه رسي چي د ده دغه ډوډۍ د رشوت په روپيو ده تر هغو خوراک روا دی فقط

د سود قرض اخيستونکي تاجر کره خوراک څښاک روا دی

سوال: (۱۴۰) کوم خلک چي په سود قرض واخلي تجارت کوي د هغو کره خوراک څښاک او د هغه روپۍ په مسجد کي مصرفول صحيح دي او کنه؟(۱۳۳۵/۲۸هـ)

ځواب: کوم خلک چي په سود قرض واخلي تجارت کوي، هغه ګنهکار دی مګر د هغو کره خوراک څښاک صحيح دی او د هغو مال په مسجد کي مصرفول صحيح دي (ځکه چي دا خلک سود ورکوي اخلي نه ځکه د دوی په آمدني کي کوم خباثت نشته)فقط

د بدچلندي ښځي کره خوراک څښاک او د هغې په غم او ښادي کي شرکت کول

سوال: (۱۴۱) د بد چلندي ښځي کره خوراک او څښاک او د هغې په غم او ښادي کي شرکت او د دې د خپلوانو د جنازې لمونځ کول څرنګه دی؟(۱۳۳۳-۳۲/۱۳۷۳هـ)

ځواب: د بدچلندي ښځي له حرام آمدنۍ څخه خوراک څښاک کول حرام دي او د دې په ښادي او خوشحالۍ کي برخه نه دي اخيستل پکار ليکن د دې د جنازې لمونځ يا د دې د نورو خپلوانو د جنازې لمونځ کول پکار دی لقوله عليه الصلاة و السلام: صلوا على كل بر و فاجر الحديث(۱)

سوال: (۱۴۲) د زاني او زانيې څه حکم دی؟ د دوی کره ډوډۍ خوړل صحيح دي او کنه؟(۱۳۳۴-۳۳/۵۲۴هـ)

---

(۱) عن مكحول عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: صلوا خلف كل بر و فاجر و صلوا على كل بر و فاجر و جاهدوا مع كل بر و فاجر(سنن الدار قطني: ۱۸۵/۱ كتاب الصلاة، كتاب العيدين، باب صفة من تجوز الصلاة معه و الصلاة عليه) و (سنن أبي داؤد: ص: ۳۴۳/۱ كتاب الجهاد، باب في الغزو مع أئمة الجور)

ځواب: زنا کبیره ګناه ده، زاني او زانیه فاسقان او د کبیره ګناه کونکی دی، د دوی کره ډوډۍ خوړل ښه نه دي تر څو چي دوی توبه ونه باسي. فقط

د زاني کره ډوډۍ خوړل

سوال: (۱۴۳) د زاني د کور ډوډۍ حرامه ده او کنه؟ (۱۳۴۲/۴۹۷هـ)

ځواب: د ده د کور ډوډۍ حرامه نه ده مګر د تنبیه په توګه احتیاط کول مناسب دی. فقط

د شرابي سره ډوډۍ خوړل او د ده په غم او ښادي کي شرکت کول

سوال: (۱۴۴) د شرابي په هکله د شریعت څه حکم دی؟ مسلمان د ده سره خوراک څښاک کولای شي او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۷۲۷هـ)

ځواب: شرابی فاسق او بدکار دی او د کبیره ګناه کونکی دی، تر څو چي دی توبه ونه باسي د ده سره ناسته ولاړه او د ده په غم او ښادي کي شریکېدل صحیح نه دي، له دغه ګناه څخه توبه ایستل بس د ده پاکي او کفاره ده. فقط

د غله کره ډوډۍ خوړل

سوال: (۱۴۵) یو سړی غل دی ټول مال ددهٔ د غلا دی، دی وفات شو، زوی یې په دې نه دی خبر چي دا مال د چا چا دی؟ او دغه سارق مسروقه مال په تجارت زراعت هم زیات کړی دی، آیا د مېلمه لپاره ډوډۍ خوړل جائز دي او کنه؟ او دغه د سارق زوی په دې مال څه وکړي؟ (۱۳۳۸/۱۴۵هـ)

ځواب: دغه وارث دي اندازه ولګوي چي حرام مال به څومره وي هغومره اندازه دي د مالکانو یا د هغو د وارثانو د نامعلومو والي په صورت کي مسکینانو ته صدقه کړي، تر څو مابقی ده ته حلال شي(۱)

---

(۱) و إن علم الوارث دين مورثه، و الدين غصب او غيره، فعليه أن يقضيه من التركة، و إن لم يقض فهو مؤاخذ به في الآخرة و إن لم يجد المديون و لا وارثه صاحب الدين و لا وارثه فتصدق المديون أو وارثه عن صاحب الدين برئ في الآخرة (الشامي ۳۵۳/۳ كتاب اللقطة قبيل مطلب فيمن عليه ديون و مظالم جهل اربابها. ط رشيديه).

او هغه مېلمه چي دا ورته معلوم وي چي مال حرام مخلوط دی د ده لپاره خوړل صحيح نه دي او په لا علمي کي معاف دي.

د شراب خرڅونکي کره خوراک څښاک

سوال: (۱۴۶) څوک چي د شرابو ټېکه دار وي د هغه کره چي کوم مسلمان خوراک څښاک وکړي، د داسي مسلمان په هکله شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۳۸/۱۲۸۹هـ)

ځواب: د ده له حرامي آمدني څخه د مسلمانانو لپاره خوراک څښاک کول حرام دی او پرهېز د ده له مېلمستيا څخه لازم او واجب دی.(۱) فقط

د مخلوط آمدني وال کره ډوډۍ خوړل صحيح دي

سوال: (۱۴۷) که د يو سړي سره روا ناروا څو ډوله آمدني وي، د هغه د کور ډوډۍ خرنګه ده؟ (۱۳۳۹/۴۷۵هـ)

ځواب: د شرعي فتوی سره سم د ده کره ډوډۍ خوړل صحيح ده. (۲) فقط

په حلال او حرام کي فرق نه کونکي کره ډوډۍ خوړل

سوال: (۱۴۸) کوم چي نن صبا په نامه مسلمانان دي، لمنځونه خو کوي مګر نور حکمونه د شريعت نه مني، په حلال او حرام کي فرق نه کوي، د دوی کره ډوډۍ خوړل خرنګه ده؟ (۱۳۳۵/۹۲۰هـ)

ځواب: غوره اجتناب کول دي او که د کوم مصلحت په وجه يې وخوري نو صحيح دي. فقط

---

(۱) أهدى إلى رجل شيئا أو أضافه، إن كان غالب ماله من الحلال فلا بأس إلا أن يعلم بأنه حرام فإن كان الغالب هو الحرام ينبغي أن لا يقبل الهدية و لا يأكل الطعام... و لا يجوز قبول هدية أمراء الجور لأن الغالب في مالهم الحرمة إلا إذا علم أن أكثر ماله حلال، بأن كان صاحب تجارة او زرع فلا بأس به، لأن أموال الناس لا تخلو عن قليل حرام، فالمعتبر الغالب و كذا أكل طعامهم (الفتاوى الهندية: ۳٤۲/۵، كتاب الكراهية الباب الثاني عشر في الهدايا و الضيافات)

(۲) مخکنۍ حواله

د مخلوط آمدنی وال مېلمستیا، ملازمت او د چندې حکم

سوال: (۱۴۹) زید لومړی په حلاله طریقه تجارت کاوی، وروسته شیان په ګرو اینښودل شروع کړو سوکه سوکه یې ترقي وکړه اوس فعلاً د زید د مالکي او تمباکو تجارت او کښت و کرونده او نور هم شته له دې څخه پرته د سود کاروبار په ډاګه شروع دی. په دا سې حال کې د زید کره د مسلمانانو لپاره ډوډۍ خوړل او د ده سره مزدوري کول او د مسجد او مدرسې لپاره له ده څخه مرسته اخیستل جائز ده او کنه؟

(۱۳۳۵/۷۲۰هـ)

ځواب: د فتوی له مخه دا ټول امور صحیح دي ځکه چې د حرمت یقین په دغه خاص ډوډۍ او روپیو کې نشته او تقوی او احتیاط په همدې کې دی چې د ده ډوډۍ او نور و نه خوړل شي او د ده له روپیو څخه احتیاط وکړل شي، په تېره بیا په مسجد کې دا سې مشتبه مال باید و نه لګول شي، كما ورد فى الحديث ان الله طيــب لا يقبــل إلا الطيــب. الحديث(۱) فقط

خالصه حرامه ګټه کونکي کره ډوډۍ خوړل

سوال: (۱۵۰) د چا روپۍ چې حرامي وي د هغه کره ډوډۍ جائز ده او کنه؟

(۱۳۳۹/۱۲۲۸هـ)

ځواب: که امدني دده ګډوډه ده له حرامو او حلالو څخه نو د ده کره ډوډۍ خوړل صحیح ده او که خالصه حرامه ده نو صحیح نه ده. فقط

د سندري ویونکي کره ډوډۍ خوړل

سوال: (۱۵۱) یو سړی د سندرو ویلو پېشه کوي او کوم مال چې د ده سره دی په همدغه پېشه باندې ګټلي دي، د ده کره ډوډۍ خوړل جائز ده او کنه؟(۱۳۴۲/۳۲۲هـ)

---

(۱) عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إن الله طيب لا يقبل إلا طيب الحديث (مشكاة المصابيح، ص: ۲٤۱، كتاب البيوع، باب الكسب و طلب الحلال، الفصل الأول)

ځواب: د سندرو پېشه حرامه ده او کوم مال چي د دې په وسیله ګټلی دی هغه حرام دی. کما قال الله تعالی: و من الناس من یشتری لهو الحدیث (سورة لقمان، آیت: ٦) جاء فی التفسیر: أن المراد الغناء (شامي) و فی الدر المختار: و دلت المسئلة أن الملاهی کلها حرام الخ(۱) نو کله چي دغه پېشه حرامه ده او کسب د ده حرام دی نو د ده د کور ډوډۍ صحیح نه ده. فقط

سوال: (۱۵۲) یو سړی د باجې او سرنا وهلو پر کار مأمور دی، د ده کره ډوډۍ خوړل جائز ده او کنه؟ (۱۳۴۲/۲۸۳۴هـ)

ځواب: د سندرو أجرت اخیستل حرام دی او داسي روزي حرامه ده، د ده د کور ډوډۍ باید تقوی وال و نه خوري. فقط

په داسي واده کي شرکت کول چي پکي رقص او باجې وي

سوال: (۱۵۳) کوم خلګ چي په واده کي رقص، باجې او نور وهي د هغوی کره ډوډۍ خوړل جائز ده او کنه؟ او باجې، رقص کونکي فاسقان دي او کنه؟

(۱۳۴۱/۱۴۱۳هـ)

ځواب: داسي مېلمستیا نه ده قبلول پکار، په دې شرط چي په لهو او لعب باندي له مخکي څخه خبر وي او که ناخبره و بیا که د مېلمستیا په مجلس کي لهو او لعب واوري نو باید منع کړي او که پر منع کولو قدرت نه لري نو له هغه ځایه دي ولاړ شي، په دې شرط چي د دین له مقتدایانو څخه وي او که مقتدا او پېشوا نه وي نو په داسي صورت کي له راتلو وروسته باید کښېني، کما فی الدر المختار: دعی إلی ولیمة و ثمة لعب او غناء قعد و أکل لو المنکر فی المنزل، فلو علی المائدة لا ینبغی أن یقعد بل یخرج معرضا لقوله تعالی: "فلا تقعد بعد الذکری مع القوم الظالمین" (انعام: الأیة: ٦٨) فإن قدر علی المنع فعل و إلا یقدر صبر إن لم یکن ممن یقتدی به، فإن کان مقتدی و لم یقدر علی المنع خرج و لم یقعد... و إن علم أولا باللعب لا یحضر أصلا(۲) او باجه یا رقص کونکي فاسقان دي.

---

(۱) الدر مع الشامي ٥/٢٤٥ کتاب الحظر و الإباحة. ط رشیدیه

(۲) الدر مع الشامي ٥/٢٤٥ أوائل کتاب الحظر و الإباحة. ط رشیدیه

د دوی شهادت مقبول نه دی، كذا في الدر المختار في باب الشهادة، و في الدر أيضًا: استماع صوت الملاهي كضرب قصب و نحوه حرام إلخ(۱) فقط

سوال: (۱۵۴) د يو سړي کره واده و ده د ټول ښار د مسجدونو امامان د واده ډوډۍ ته راوغوښتل، کله چې دوی راغلل نو دلته ډولونه او سرناوي او نور اعمال کيدل ځکه ځينې امامان بيرته ولاړل او حينو ډوډۍ وخوړه شرعًا د دوی په هکله څه حکم دی؟ (۱۳۴۲/۲۰۰هـ)

ځواب: په داسي صورت کي فقهاوو دا تفصيل ليکلی دی چي مقتدا بايد بيرته ولاړ شي او نا مقتدا هلته ډوډۍ خوړلای شي که څه هم غوره دا دي چي بيرته ولاړ شي په در مختار کي راغلي دي: دعي إلى وليمة و ثمة لعب أو غناء قعد و أكل الخ فإن قدر على المنع فعل و إلا يقدر صبر إن لم يكن ممن يقتدى به، فإن كان مقتدى و لم يقدر على المنع خرج و لم يقعد الخ(۲) نو کوم خلګ چي بيرته ولاړو، هغو ښه وکړل او کومو خلګو چي ډوډۍ وخوړه نو که هغوی مقتدا او علماء نه دي نو د دوی دا فعل جائز دی او د دوی لائق د امامت دي په دې شرط چي په زړه کي به بد پر وايي، كما في الحديث المشهور: فإن لم يستطع فبقلبه و ذلك أضعف الإيمان الحديث(۳)

سوال: (۱۵۵) په کوم واده کي چي رقص، ډول او نور وي هلته ډوډۍ خوړل او په داسي واده کي برخه اخيستل څرنګه دي؟ (۱۳۳۰-۲۹/۸۷۵هـ)

ځواب: په داسي مجلسونو کي شريکېدل او سره د علم مېلمستيا قبلول منع دي فقط

سوال: (۱۵۶) ... (الف) يو ځای ډوډۍ شوې ده او هلته باجې وهل کيږي نو شرعًا داسي ډوډۍ ته ورتګ څرنګه دی؟ د دې ځای ملايان او د مسجدونو امامان زياتره د باجو سره ډوډۍ خوري، د دوی په هکله شرعًا څه حکم دی؟

---

(۱) الدر مع الرد ۲٤٦/٥ أوائل كتاب الحظر و الإباحة. ط رشيديه

(۲) الدر مع الرد ۲٤٥/٥ أوائل كتاب الحظر و الإباحة. ط رشيديه

(۳) عن أبي سعيد رضى الله عنه قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: من رأى منكم منكرًا الحديث (الصحيح لمسلم : ٥١/١ كتاب الإيمان، باب بيان كون النهي عن المنكر من الإيمان الخ)

(ب) یو ځای غرمه ډوډۍ شوې ده باجه او نور پکې نشته مګر د اعلم ضرور شته چې مانبام به هلته باجو والا هم راځي او رقص کونکي نو شرعًا دعوت قبلول او تلل څرنګه دي؟(۱۳۳۷/۱۰۲۳ھ)

ځواب: (الف) په دغه مجلس کي ډوډۍ ته ورتلل صحیح نه دي. په تېره بیا د عالم مولوي او امام لپاره چې داسي ډوډۍ کي برخه اخیستل په هیڅ ډول جائز نه دي. که داسي وشول نو ائنده لپاره به توبه وباسي او شرکت به نه کوي، همدا د دې کفاره ده.

(ب) په دې کي هم برخه نه دي اخستل پکار چې په دې کي ځو تاوانه دي د مبلمستیا کونکیو جرأت زیاتیږي پر ګناه کولو، د مولویانو او امامانو په شرکت کولو نور خلک د جواز دلیل نیسي. فقط

سوال: (۱۵۷) په کوم کور کي چې سندري ویل کیږي هلته ډوډۍ خوړل څرنګه دي؟ (۱۳۴۰/۱۳۷۲ھ)

ځواب: فقهاوو داسي لیکلي دي چې مقتدا سړی دي هلته ډوډۍ نه خوري او دعامو خلکو لپاره صحیح دي.

سوال: (۱۵۸) په واده کي چې پکي سندري او نور ناوړه رواجونه د کفارو وي ډوډۍ خوړل جائز ده او کنه؟(۱۳۴۰/۱۹۲۰ھ)

ځواب: داسي ځای ته تلل ښه نه دي او د مقتدا سړي لپاره داسي ډوډیو ته تلل نور زیات منع دي. فقط

د بنګو د بوټي تجارت کونکي کره ډوډۍ خوړل

سوال: (۱۵۹) کوم سړی چې د بنګو د بوټي تجارت کوي، د هغه ډوډۍ خوړل څرنګه دي؟(۱۳۳۳-۳۲/۱۵۳۸ھ)

ځواب: څوک چې د حرامو شیانو تجارت کوي، د هغه د کور له ډوډۍ څخه پرهېز کول مناسب دي.

د مسلمان دوبي کره ډوډۍ خوړل صحيح ده

سوال: (۱۲۰) کـه کـوم مسـلمان دوبـي و خـو مسـلمانانو تـه مېلمسـتيا وکـړي د مسلمانانو لپاره داسي ډوډۍ خوړل او چای کول صحيح دي او کنه؟
(۲۰۱۷-۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: د دوبي د کور ډوډۍ خوړل او چای کول صحيح دي په دې کي څه حرمت او کراهت نشته. فقط

سوال: (۱۲۱) کوم مسلمان چي د صوم او صلاة پابند وي او د قوم دوبي وي، د هغه سره خوراک څښاک کول جائز دی او کنه؟ او څوک چي د ده سره پر خوراک څښاک کولو اعتراض کوي او دده سره خوراک څښاک کونکي سره اړيکي ختمي کړي، د هغه په هکله څه حکم دی؟ (۱۰۰۱/۱۳۳۹هـ)

ځواب: کوم مسلمان چي د صوم او صلوة پابند وي، که څه هم هغه دذات دوبي وي، له هغه سره خوراک څښاک روا دی او څوک چي د دوی سره له خوراک څښاک څخه پرهېز کوي يا د ده سره خوراک کوونکي څخه اړيکي ختموي، هغه ګنهکار دی، توبه دي وکاږي. فقط

د مسلمان نايي او جاروکښ کره ډوډۍ خوړل صحيح دي

سوال: (۱۲۲) کوم سړی چي د نايي توب يا دوبي توب يا جارو وهلو او نورو کسب کوي او وي مسلمان، د دوی کره ډوډۍ خوړل جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۷/۱۳۳۹هـ)

ځواب: د دوی کره ډوډۍ خوړل او اوبه څښل صحيح دي ځکه چي ټول مسلمانان ورونه دي. په قرآن شريف کي راغلي دي: "إنما المؤمنون إخوة" (سورة حجرات، آيت: ۱۰) يعني ټول مسلمانان ورونه ورونه دي اما دا ضروري ده چي لوښي به پاک وي. فقط

د جاروکښ د کور ډوډۍ خوړونکي شرعي حکم

سوال: (۱۲۳) يو مسلمان سړی د جارو کښ د کور پخ شوې ډوډۍ وخوړه او س د ده سره ډوډۍ خوړل او اړيکي ورسره ساتل په شريعت کي جائز دي او کنه؟

(۱۵۷۱/۱۳۳۷هـ)

ځواب: څه چي وشو هغه وشو د آئنده لپاره دي منع کړي چي د جارو کښ د کور او د هغه په لوښو کي ډوډۍ مه خورئ او دی له خاندانه مه باسئ خوراک څښاک ورسره مه ختموئ فقط

د نربنځي کره ډوډۍ خوړل جائز دي

سوال: (۱۲۴) یو نربنځی دی د ده د کور ډوډۍ خوړل جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۲۵۸هـ)

ځواب: د ده د کور ډوډۍ خوړل صحیح ده. فقط

د مسلماني دايي د کور ډوډۍ خوړل صحیح ده

سوال: (۱۲۵) کومه مسلمانه ښځه چي دایتوب کوي د دې په کور کي ډوډۍ خوړل صحیح ده او کنه؟ (۱۳۳۷/۱۷۲هـ)

ځواب: د دې د کور ډوډۍ صحیح ده. فقط و الله تعالی اعلم

د فقر په روپیو مېلمستیا کول څنګه دي؟

سوال: (۱۲۶) که کوم فقیر په خپلو فقر کي ټولو کړیو روپیو باندي مېلمستیا وکړي نو خوړل یې روا دي که ناروا؟ (۱۳۳۷/۲۵۴۳هـ)

ځواب: د فقر په روپیو کړې ډوډۍ خوړل صحیح ده مګر د کومو فقیرانو لپاره چي سوال کول حرام دی، هغه که په داسي روپیو مېلمستیا وکړي نو د دوی ډوډۍ خوړل ښه نه ده. فقط

د بې لمانځه سره ډوډۍ خوړل او ورسره اړیکي ساتل

سوال: (۱۲۷) د تارک الصلاة سره خوراک څښاک او نوري اړیکي ساتل جائز دي که ناجائز؟ (۱۳۴۰/۲۷۳هـ)

ځواب: کوم سړی چي د یو وخت لمونځ هم یو مخ پرېږدي چي نه یې ادا وکړي او نه یې قضـــ

راوګرځوي او نه يې د قضا اراده وي، هغه تارک الصلاة او فاسق دی، د ده سره اړيکي ساتل او ورسره مينه کول او ورسره خوراک څښاک کول صحيح نه دی. (۱)

و بې لمانځه ته ډوډۍ ورکول او د قربانۍ غوښه ورکول

سوال: (۱۶۸) ... (الف) تارک الصلاة مېلمه کول

(ب) و ده ته د قربانۍ غوښه ورکول

(ج) دی نوکر کول مزدوري ورکول ډوډۍ په خوړل جائز دي او کنه؟ پخپلوانو کي څوک راشي لکه وريندار، ورور او نور او دوی لمونځ نه کوي يا يو مسافر راشي او هغه لمونځ نه کوي دوی ته ډوډۍ او اوبه ورکول جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۱۸۸۲هـ)

ځواب: (الف-ج) د تارک الصلاة سره دا معاملات صحيح دي ليکن غوره دا دي چي ډوډۍ نېکانو ته سرې ورکړي او بې لمانځه ته که ډوډۍ ورکړي نو د لمانځه نصيحت دي ورته وکړي تر څو دوه چنده ثواب شي. فقط

آيا بې لمانځه ته مېلمستيا کولو ثواب شته؟

سوال: (۱۶۹) په روژه کي چي کوم خلک روژه نيونکيو او روژه خورو، لمونځ کونکيو او بې لمانځو ته مېلمستيا کوي ثواب پکي شته او کنه؟ (۱۳۴۰/۲۰۶۲هـ)

ځواب: ثواب پکي شته فقط

د بې لمانځه مېلمستيا قبلول او د لمانځه يادونه ورته کول

سوال: (۱۷۰) په هندوستان کي و مسلمانانو ته د لمانځه يادونه تر کومه حده روا ده؟ او د مسلمان تارک الصلاة مېلمستيا قبلول د علماء او لمونځ ګزارو خلکو لپاره جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۷/۴۳۳هـ)

ځواب: په اوس زمانه کي بس هم دومره کيدلای شي چي د لمانځه، زکاة، روژې، حج او نورو فرضو پرېښودونکيو ته

---

(۱) عن عمران بن حصين رضي الله عنه قال: نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن إجابة طعام الفاسقين (مشكاة المصابيح: ص: ۲۷۹، كتاب النكاح، باب الوليمة، الفصل الثالث)

علماء نصیحت وکړي او مسئله ورته بیان کړي چي فلانی عمل په شریعت کي فرض دی، د دوی ترک کول ډېر بد او ګناه ده او پکي سخت عذاب دوی نور نو تعزیر او نور یو مسلمان بل مسلمان ته نشي ورکولای، ځکه چي دی پخپله رعایا دی او دا کار په اسلامي احکامو پوري اړه لري، د صلوة، زکاة او نورو تارک مېلمستیا قبلول صحیح دي لیکن که موقع وي او د اثر امید وي نو دوی ته نصیحت باید وشي او که د مېلمستیا په نه قبلولو کي دوی ته د تنبیه کولو امید وي نو داسي کول هم صحیح دی او د تنبیه په توګه له خاندانه ایستل هم صحیح دي او د تارک الصلاة د جنازې لمونځ کول پکار دی لقوله علیه الصلاة و السلام: صلوا علی کل بر و فاجر الحدیث(۱) او په نصیحت کولو کي همېشه د دې خیال ساتل پکار دي چي په نرمي او حکمت سره ورته نصیحت وشي، داسي نه چي هغه د خپل جهل له امله د منلو پر ځای ټوکي شروع کړي قال الله تعالی: ادع إلی سبیل ربک بالحکمة و الموعظة الحسنة(سورة نحل، آیت: ۱۲۵) فقط

د پولیسو مېلمستیا کول او د دوی کره ډوډۍ خوړل

سوال: (۱۷۱) د پولیسو مېلمستیا کول یا د دوی د کور ډوډۍ خوړل څرنګه دي؟ (۱۳۴۱/۲۵۷۹هـ)

ځواب: مېلمستیا ورته کول او د دوی د کور ډوډۍ خوړل صحیح دي پرهېز ځني کول احوط دی. فقط

د وکیلانو د کور ډوډۍ خوړل

سوال: (۱۷۲) د وکیلانو د کور ډوډۍ صحیح ده او کنه؟ (۱۳۴۵/۱۲۴۸هـ)

ځواب: د دوی د کور ډوډۍ صحیح ده. فقط

د انګریزي قانون سره سمي فیصلې کونکي قاضیانو او په داسي فیصلو کي وکالت کونکي وکیلانو کره ډوډۍ خوړل څرنګه دي؟

سوال: (۱۷۳) ... (الف) کوم اهل اسلام حکام چي د دیواني او فوج داري مقدمو فیصلې

---

(۱) د دغه حدیث تخریج د سوال (۱۴۱) په جواب کي تېر شو.

کوي اما د شریعت سره سمي فیصلې نه کوي بلکه د حکومت په امر يې د انګریزي قانون سره سمي فیصلې کوي او د دې په بدل تنخواه اخلي نو د داسي ګټي مېلمستیا قبلول صحیح دي او کنه؟

(ب) کوم وکیلان چي د انګریزي قانون له مخه د مقدمو وکالت کوي د دوی کره ډوډۍ خوړل څرنګه دي؟(۳۲/۲۴۳۷-۱۳۳۳هـ)

ځواب: (الف) د فتوی حکم دلته هم دا دی چي د دوی ډوډۍ او نور خوړل صحیح دي

(ب) همدغه جواب د ب دی.

بې ستة څوک د ځان سره ډوډۍ ته بېول

سوال: (۱۷۴) زید خپل اکا دوه همسایه ګان او دوه مسافر کور ته د ډوډۍ لپاره راوغوښتل آیا د ده و اکا ته دا حق شته چي د دوو مسافر پر ځای څلور مسافر بې د کوربه له خوښي د ځان سره بوځي. که اکا داسي وکړي او په منع کولو غصه کيږي نو څه حکم دی؟(۱۳۴۵/۲۲۷۸هـ)

ځواب: اکا ته دا حق نه دی حاصل او په دې وجه غصه کول جائز نه دي.

د شرابو په کارخانه کي مزدور کره خوراک څښاک کول

سوال: (۱۷۵) زید یو حنفي مسلمان چي د شرابو په کارخانه کي مزدور دی، د زید کار دا دی چي یو سړی له حکومت څخه د شرابو جوړولو ټیکه اخیستې ده، هغه پخپلو روپیو مېوه رانیسي، شراب جوړوي، ټول مزدوران د ده د دغه کار تر سره کولو لپاره بېل بېل مأموران دي. دوی دا ټول کارونه کوي او شراب تیاروي، د زید کار دا دی چي دی به د دې څارنه کوي چي داسي نه چي ټیکه دار د حکومت د

قانون پر خلاف شراب یوسي، ځکه چي حکومت له قیمت څخه پرته پر دې محصول اخلي، د دغه څارني لپاره افسران مقرر دي، د شرابو د همدغه خدمتونو سره افیون، بنګي او نور هم شامل دي نو داسي ملازمت شرعًا جائز دی او کنه؟ د افسرانو تنخواوي د همدغه مسکراتو له محصول څخه ورکول کیږي. د داسي افسر کره د یو باشرع سړي خوراک څښاک جائز دی او کنه؟ که کوم متشرع د ده مېلمه شي او د ده کره خوراک څښاک وکړي نو جائز دی او کنه؟ که له ځا څخه قرض واخلي په وې خوروي نو جائز دی او کنه؟ وروسته په خپله ګټه قرض ادا کړي او د دغه کسب جمع کړیو روپیو باندي زکوة واجب دی کنه؟

مکرر آمد: کله چي بېلا بېل قسم آمدني په خزانه کي جمع کیږي او ګډه وډه شي نو داسي ګډه بدل د دې د حلت کفایت کوي او کنه؟ (۱۹۱۲/۱۳۳۹هـ)

ځواب: داسي ملازمت شرعًا حرام دی او د داسي سړي په هکله شدید وعید په حدیثو کي راغلی دی(۱) او تنخواه د ده حرامه ده، د داسي ملازمانو د کورډوډی د اهل اسلام، اهل دین او تقوی لپاره ناجائز ده او احتراز او اجتناب د داسي شخص له ډوډی څخه واجب دی او داسي سړی له مېلمه کېدو څخه هم د اهل اسلام د اتقیاء لپاره اجتناب لازم دی او که داسي ملازم قرض د ځا څخه واخلي په هغه و مېلمه ته ډوډی ورکړي نو د خوړونکي لپاره د فتوی په اعتبار صحیح دی نور نو دا پوښتنه چي کړې چي داسي ملازم په شرعي حدودو کي دننه څه ډول کار کولای شي عجبه خبره ده؟! ځکه چي کوم ملازمت شرعًا قطعي حرام دی او هغه ملازم د الله او رسول صلی الله علیه وسلم په حکم د لعنت او غضب ښکار دی او سرتر پایه له شرعي حدودو څخه تجاوز کونکی دی، هغه سره د دغه ملازمت د حراموالي په شرعي حدودو کي دننه څه ډول کار کولای شي؟! هغه خو هر وخت د الله د حدودو سپکاوی او بې حرمتي کوي او د "من یتعد حدود الله فاؤلئک هم الظالمون" (سورة بقره، آیت: ۲۲۹)

---

(۱) عن أنس بن مالک رضی الله عنه قال: لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم فی الخمر عشرة: عاصرها و معتصرها و شاربها و حاملها و المحمولة إلیه و ساقیها و بائعها و آکل ثمنها و المشتری لها و المشتراة لها (جامع الترمذی: ۲٤۲/۱ أبواب البیوع، باب ما جاء فی بیع الخمر و النهی عن ذلک)

مصداق دی. افسوس دی چي زیاتره مسلمانان خو په اوس زمانه کي د شرعي حدودو د پابندي کولو طرف ته متوجه دي او مسکرات بندوي. تر دې چي د ټولو مذهبونو خلګ او کښېنته قومونه اتفاق کوي چي مسکرات دي یو مخ بند شي او کوم خلګ چي د دې ارتکاب کونکي او همکاران دي، هغوی ته دي تعزیر ورکول شي او ځیني په نامه مسلمانان داسي هم دي چي دوی د شرابو په کارخانه کي مزدوري کوي او هغه ته ترقي ورکوي، ځانونه د الله په غضب ککړوي، فویل لهم ثم ویل لهم

او د زکاة مسئله دا ده چي که حرامه آمدني په ګډه شي په نوره آمدني باندي نو خلط کول خو استهلاک دی، ځکه دا مال د دغه سړي مملوک ګرځي که څه هم خباثت او معصیت پکي باقي دی نو زکوة ورباندي واجب دی کما فی الدر المختار: و لو خلط السلطان المال المغصوب بماله ملکه فتجب الزکاة فیه الخ(۱) او سرسایه او نور هم لازم دي

د مکرري استفتاء جواب دا دی چي په حکومتي خزانه کي مخلوط کېدل د شرابو د روپیو د نورو روپیو سره دغه تنخواه نه جائز کوي ځکه چي د هر مد حساب بېل دی او په روپیو او نورو کي تعیین نه وي نو کومه تنخواه چي د شرابو جوړولو له مد څخه ورکول شي، هغه د همدې مد آمدني ده، له دې څخه سیوا د داسي ملازمت تنخواه که له هر مد څخه ورکول شي هغه حرامه ده ځکه چي د کوم کار دا اجرت ده هغه حرام دی نو په قرض کي او په دغه صورت کي فرق ظاهر دی او د حلالي ګڼني وال سره بدلول د دغه حرامي ګڼي د حلت باعث نه ګرځي، قرض مصرفول اما د منقول روایتونو پر اساس د دغه طعام او نورو د حلت سبب دی، ځکه چي دغه رانیول خو د قرض په روپیو شوي دي فقط

د فاسق مېلمستیا قبلول منع دي

سؤال: (۱۷۲) زید روژه خور او بې لمانځه دی او شرعي منهیات کوي په داسي صورت کي د زید د کور دوډۍ خوړل او د ده په کور کي روژه ماتول جائز دي او کنه؟ (۱۳۷/۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: دا ښکاره ده چي زید فاسق دی او په حدیث شریف کي راغلي دي چي رسول اللهﷺ

(۱) الدر مع الرد ۲/۲۷ کتاب الزکاة، باب زکاة الغنم، مطلب فیما لو صادر السلطان رجلا فنوی بذلک أداء الزکاة إلیه. ط رشیدیه

د فاسق له مېلمستيا قبلولو او د ده په کور کي له ډوډۍ خوړلو څخه منع فرمايلې ده،
عن عمران بن حصين رضى الله عنه قال: نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن إجابة طعام الفاسقين(۱) (مشکوة شريف) نو د دغه حديث سره سم د زيد په کور کي روژه ماتول او ډوډۍ پکي خوړل منع دي. فقط و الله تعالى اعلم

د غټ منصب خاوندان چي کبيره ګناوي کونکي دي د دوی ډوډۍ خوړل

سوال: (۱۷۷) دزاني يا شرابي يا د فرضو او واجبو تارک يا د نورو کبيره ګناهونو کونکيو مېلمستيا قبلول پکار ده او کنه؟ ځيني امراء يا د غټو منصبونو خاوندانو کره خلګ په دې وجه مېلمستيا قبلوي چي دوی راڅخه ناراض نه شي کنې د نقصان خطره ده، په داسي صورت کي شريکېدل صحيح دي او کنه؟ (۱۳۴۳/۹۷۱هـ)

ځواب: د ناراضه کېدو او ضرر د خوف په صورت جائز دي.

که کليوال د ډاکي ډوډۍ وکړي؟

سوال: (۱۷۸) ډاکي چي په کومه ډاک خانه کي دی که د هغه ځای او سيدونکي ورته مېلمستيا وکړي نو قبلول يې جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۵/۱۲۲۳هـ)

ځواب: مېلمستيا قبلول جائز دي ځکه چي د ده خو څه حکومت پر کلي نه چليږي د قاضي او حاکم لپاره دعوت قبلول ناروا وي چي د هغه په اړه د دعوى فيصله وي او په هغه کي هم تفصيل دی کوم چي د فقهي په کتابونو کي بيان شوی دی.(۲)

---

(۱) مشکوة المصابيح، ص: ۲۷۹، کتاب النکاح، باب الوليمة.

(۲) د تفصيل لپاره د فتاوى دار العلوم ديوبند: ۱۰۰/۱۵ کتاب القضاء و التحکيم سوال: (۲۷) وګورئ.

آیا ښاروال د خلګو مېلمستیا قبلولای شي؟

سوال: (۱۷۹) زید ښاروال دی د ښار په او سیدونکیو کي یو سړی چي د عوی هم د چا سره نه لري و زید ته مېلمستیا وکړه یا چي څه آمونه او مالتيې ورولېږلې د زید لپاره دغه مېلمستیا او تحفه قبلول جائز دي او کنه؟ (۱۷۱/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: که د زید تر ښاروال کېدو مخکي دغه سړي و ده ته کومه مېلمستیا او تحفه نه ورکوله نو د زید لپاره داسي مېلمستیا او تحفه قبلول جائز نه دي، و یرد هدیة إلا من قریبه او ممن جرت عادته بذلک إلخ(۱) فقط

د رنډۍ مېلمستیا قبلول

سوال: (۱۸۰) د بد چلندي ښځي مېلمستیا قبلول او تحفه ځني اخیستل چي په سندرو او رقص باندي یې ګټلې وي جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۳/۱۱۲۹هـ)

ځواب: د رنډۍ له مېلمستیا او تحفې څخه احتیاط کول پکار دي.

د عیسایانو د مېلمستیا لپاره د پلیټو او حرامو شیانو انتظام کول

سوال: (۱۸۱) که کوم مسلمان د عیسایانو مېلمستیا وکړي او پکي د دوی لپاره شراب او خنزیر راوړي نو څنګه دي؟ (۲۹/۲۱۹-۱۳۳۰هـ)

ځواب: د مسلمانانو لپاره لکه څرنګه چي د شرابو او خنزیر پخپله خوراک څښاک حرام دی داغه راز د نصرانیانو د مېلمستیا لپاره داسي پلیټ او حرام شیان راوړل او انتظام کول هم حرام دی(۲) فقط

---

(۱) التنویر مع الدر و الرد ۳٤٥/٤ کتاب القضاء مطلب فی هدیة القاضي. ط رشیدیه

(۲) و کره إلباس الصبي ذهبا او حریرا فإن ما حرم لبسه و شربه، حرم إلباسه و إشرابه (الدر مع الشامي ۲٥٦/٥ کتاب الحظر و الإباحة، فصل في اللبس. ط رشیدیه)

د مسکینانو مړولو لپاره چنده کول

سوال: (۱۸۲) ... (الف) د فقیرانو د لنگر لپاره کور په کور غله راجمع کول جائز دي او کنه؟

(ب) د الله لپاره چي زیاتره خلک کومه ډوډۍ ورکوي چي پکي لمونځ کونکي او بې لمانځه ټول وي، آیا بې لمانځه خورول جائز دي؟ او بې لمانځه محتاج نه دی.

(۱۸۲/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: (الف) د خورولو لپاره راجمع کولو ضرورت نشته د چا چي وس وي هغه دي ډوډۍ یا غله چي څومره کولای شي خیرات دي کړي.

(ب) مسکین او محتاج ته د الله لپاره خوراک ورکول د ثواب کار دی لیکن و لمونځ گزاره محتاج ته ورکولو ډېر ثواب دی.

د قرآن ختم او له حج څخه راتلونکي خلک مېلمانه کول

سوال: (۱۸۳) ... (الف) د یو خیر د کار په پای کي د خوشحالۍ په توگه مثلاً چي له حج څخه راشي یا روژه مبارکه ختمه شي و خلکو ته ډوډۍ ورکول څنگه دي؟ او د ډوډۍ ورکونکي دا نیت کول چي په دغه ډوډۍ خورولو کي به په ښار کي څوک نه پرېږدم څنگه دي؟

(ب) یو سړي دا وویل چي زما پلار کله له حج څخه راشي نو د ټول ښار انسانان ښځي او نر زما مېلمانه دي او کوم څوک چي نشي راتلای هغو ته به کور ته ډوډۍ ورلېږم، داسي کول څرنگه دي؟

(ج) د احنافو په کتابونو کي د نامه او شهرت لپاره خورولو څخه منع کړې ده، د دې یو څو مثالونه راته ولیکئ چي ورڅخه معلوم شي چي دا د نامه لپاره دي.

(۱۲۳۵/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: (الف) که د نیت په اخلاص سره د خوشحالۍ ډوډۍ چاته ورکوله شي نو دا څه پروا نلري، په حدیث شریف کي راغلي دي: إنما الأعمال بالنیات و لکل امرئ ما نوی (بخاري: ۲/۱) د عمل اړه د نیت سره ده او د هر چا لپاره هغه دي د کوم چي ده نیت کړی دی.

(ب) که د فخر، مباهات، ریاء او نامه لپاره نه وي صرف د حج د فریضي یا د یو بلي خوشحالۍ د شکریې په توګه خپلوانو او دوستانو ته مېلمستیا وشي نو جائز ده لکه چي مخکي ولیکل شول چي دار او مدار پر نیت دی.

(ج) دا کارونه د نیت سره تړون لري که ښه نیت وي نو روا دی او که بد نیت وي د فخر نامه او ریا نیت وي نو د ده په هکله بد دی(۱) و نورو خلګو ته خو د ده د نیت حال معلوم نه دی ځکه دوی دا سي نشي کولای او د چا لپاره اعراض نه دی کول پکار. فقط و الله تعالی اعلم

د قرآن پر ختم او د ماشوم پر سنتولو د خلګو ډوډۍ کول

سوال: (۱۸۴) یو سړی د خپل زوی د قرآن پر ختمولو او د سنتولو پر مهال خپلوانو او دوستانو ته ډوډۍ ورکړه دا سي کول څرنګه دي؟ ثواب پکي شته او کنه؟ (۱۳۴۳/۱۹۲۹هـ)

ځواب: دا فعل شرعًا جائز دی او که په ښه نیت خلګ وخوړول شي نو ثواب دی. فقط

د ماشوم په پیدا کېدو خلګو ته مېلمستیا کول

سوال: (۱۸۵) د ماشوم پیدا کېدو په خوشحالي کي د شکریې په توګه خلګو ته ډوډۍ ورکول څرنګه دي؟ (۱۳۳۷/۲۴۷هـ)

ځواب: داسي څه پروا نلري او شرعًا د دې منع نشته. فقط

د برکت لپاره د قرآن پر ختم ډوډۍ و ختم کونکیو ته ورکول

سوال: (۱۸۶) که سړی نوی کور جوړ کړي پکي د برکت لپاره د قرآن ختمولو لپاره کسان راوغواړي له ختم وروسته هغو ته ډوډۍ ورکړي نو جائز دي؟ (۱۳۳۳-۳۲/۲۲۰هـ)

ځواب: که د برکت د حصول لپاره داسي وکړل شي نو څه پروا نلري مګر د داسي کارونو التزام

---

(۱) عن أبي هريرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: المتبار يان لا يجابان و لا يؤكل طعامهما، قال الإمام احمد، يعنى المتعارضين بالضيافة فخرا و رياء (مشكاة المصابيح: ص: ۲۷۹ كتاب النكاح، باب الوليمة، الفصل الثاني)

باید ونشي او نه ضروري وګڼل شي، ځکه چي په شریعت کي د داسي کارونو حکم نه دی راغلی او نه دی لازم کړل شوی. فقط

د ماشوم د سنتي پر مهال مېلمستیا کول ضروري نه ده

سوال: (۱۸۷) د ماشوم سنتولو پر مهال ډوډۍ کول څرنګه دي؟ نن صبا زموږ په وطن کي خلګ دغه ډوډۍ ضروري بولي، په همدې وجه ځیني ماشومان ناسنته د بلوغ تر عمره ورسي، شرعًا په داسي حال کي څه حکم دی؟ (۱۳۳۸/۱۱۷۴هـ)

ځواب: د ماشوم د سنتي پر مهال مېلمستیا کول صحیح ده لیکن دا ضروري بلل او یا د دې په وجه سنتي نه کول منع او قبیح دي، داسي رواج نه باید ونشي. فقط

لس پنځلس کاله وروسته ولیمه کول

سوال: (۱۸۸) یو سړی بېله کوم فشاره د واده ډوډۍ لس پنځلس کاله وروسته کوي، په دې وجه چي ترڅو داسي ډوډۍ د کورنۍ ونکړم نو خاني نه راته ملاویږي، دغه خورونکي ته ثواب شته او کنه؟ او داسي خوراک څرنګه دی؟ (۱۳۳۹/۲۹۳۷هـ)

ځواب: دا د ولیمې ډوډۍ نه ده بلکه د وجاهت او عزت د حصول ډوډۍ ده او د نامه او فخر لپاره ده، په داسي ډوډۍ کي له شرکت کولو څخه رسول الله صلی الله علیه وسلم منع فرمایلې ده. (۱) فقط

د مبیع عیب پټونکیو تجارو مېلمستیا قبلول

سوال: (۱۸۹) دا وخت د ټولو مسلمانانو سوداګرو دا حال دی چي د خرڅلاو پر مهال د خپلو شیانو عیبونه پټوي په داسي حال کي د دوی کره ډوډۍ خوړل څرنګه دي؟ او د دوی نغدي روپۍ او نور څرنګه دي؟ (۱۳۳۳-۳۲/۲۴۳۷هـ)

---

(۱) عن ابن مسعود رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: طعام أول یوم حق، و طعام یوم الثاني سنة، و طعام یوم الثالث سمعة و من سمع سمع الله به (جامع الترمذی: ۲۰۸/۱ ابواب النکاح، باب ما جاء في الولیمة)

ځواب: په داسي مشتبهٔ حال کي تقوی خو دا ده چي د دوی له مېلمستيا څخه پرهيز وکړل شي او فتوی دا ده چي دغه خوراک، نغدي روپۍ او نور اخيستل روا دي.

پخپله ښه ډوډۍ خوړل او مسافرو او طالبانو ته کمزوري ډوډۍ ورکول

سوال: (۱۹۰) يو سړی هره ورځ وريجي او پراټې خوري او د طالبانو او مسافرو لپاره سپکه سبزي چي د هغو خوښه نه وي ځکه چي سمه نه پخوي نو که دوو څلورو ته ښه ډوډۍ ورکړي او نور وباسي که څه وکړي؟ (۵۱۹/۳۵-۱۳۳۲هـ)

ځواب: دا هم څه پروا نلري چي پخپله ښه ډوډۍ خوري او مسافرو او طالبانو ته کمزوري ډوډۍ ورکوي او ډيرو کسانو ته سپکه ډوډۍ ورکول دا له دې څخه غوره دي چي لږو ته ښه ډوډۍ ورکړي فقط.

کومي اوبه په ولاړي څښل روا دي؟

سوال: (۱۹۱) کومي اوبه په ولاړي څښل روا دي؟ د بخاري شريف له حديث څخه په ولاړي څښل منع معلوميږي. (۱۷۱۹/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: و أن يشرب بعده من فضل وضوئه كماء زمزم مستقبل القبلة قائما أو قاعدًا و فيما عداهما يكره قائما تنزيها إلخ(۱) د در مختار ماتن له اودس څخه پاته شوي اوبه په ولاړه څښل مستحب ليکلي دي، شارح ورباندي د زمزم د اوبو اضافه هم کړې ده چي دا هم په ولاړه څښل مستحب دي(۲) له دغه دوو څخه پرته نوري په ولاړه څښل تنزيهي مکروه ليکلي دي ليکن

---

(۱) الدر مع الرد ۹۵/۱ كتاب الطهارة، مطلب في مباحث الشرب قائما. ط رشيديه

(۲) عن علي بن أبي طالب رضي الله عنه أنه صلى الظهر ثم قعد في حوائج الناس في رحبة الكوفة حتى حضرت صلاة العصر ثم أتي بماء فشرب و غسل وجهه و يديه و ذكر رأسه و رجليه، ثم قام فشرب فضله و هو قائم ثم قال: إن ناسا يكرهون الشرب قائما و إن النبي صلى الله عليه وسلم صنع مثل ما صنعت.
و عن ابن عباس رضي الله عنهما قال: شرب النبي صلى الله عليه وسلم قائما من زمزم(صحيح البخاري: ۸٤٠/۲ كتاب الأشربة، باب الشرب قائما)

له قائما څخه وروسته د شارح د او قاعدًا لفظ زیاتول ودې طرف ته اشاره ده چې اختیار دی که په ولاړې څښي او که په ناستې پوره تفصیل په شامي کې دی هغه وګورئ(۱)

سوال: (۱۹۲) ځینې خلک وایي چې څلور ډوله اوبه په ولاړه څښلو حکم راغلی دی یو د اودس پاته شوې اوبه، بل د زمزم اوبه، بل پس خورده او بل د سبیل اوبه او ځینې خلک بیا وایي چې د اودس پاته شوې او د زمزم د اوبو په ولاړه څښلو حکم دی د نورو کومو اوبو نشته؟ (۱۸۱۷/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: په در مختار کې هم فضل وضو او ماء زمزم قائما مستحب لیکلې دي ثم قال: و فيما عداهما يكره. (۲) (در مختار)

سوال: (۱۹۳) د زمزم اوبه په ولاړه څښل مستحب دي که په ناسته؟ او کومې اوبه په ولاړه څښنو او کومې په ناسته؟ (۷۲۳/۱۳۴۳هـ)

ځواب: د زمزم له اوبو تر اودس زیاتو شویو اوبو څخه پرته نورې ټولې اوبه په ناستې څښل پکار دي او دغه دوه قسمه اوبه په ولاړې، كذا في المنية. (۳)

سوال: (۱۹۴) د اوداسه پاته شوې اوبه په ولاړې څښل جائز دي او کنه؟ (۷۲۸/۱۳۴۵هـ)

---

(۱) قوله: (او قاعدًا) أفاد أنه مخير في هذين الموضعين، و أنه لا كراهة فيهما في الشرب قائما بخلاف غيرهما، و أن المندوب هنا هو الشرب من فضل الوضوء لا بقيد كونه قائما خلاف ما اقتضاه كلام المصنف لكن قال في المعراج: قائما و خيره الحلواني بين القيام و القعود و في الفتح: قيل: و إن شاء قاعدًا، و أقره في البحر، و الحصر على ما ذكره المصنف في المواهب و الدرر و المنية و النهر و غيرهما و في السراج: و لا يستحب الشرب قائما إلا في هذين الموضعين فاستفيد ضعف ما مشى عليه الشارح كما نبه عليه "ح" و غيره، قوله (و فيما عداهما يكره الخ) أفاد أن المقصود من قوله قائما علم الكراهة، لا دخوله تحت المستحب و لذا زاد قوله: أو قاعدًا(الشامي ۱/۹۵ كتاب الطهارة، مطلب في مباحث الشرب قائما. ط رشيديه)

(۲) الدر مع الرد ۱/۹۵ كتاب الطهارة مطلب في مباحث الشرب قائما. ط رشيديه

(۳) و يكره الشرب قائما إلا هذا أي شرب فضل الوضوء و شرب ماء زمزم لما في الصحيحين عن ابن عباس رضي الله تعالى عنهما قال: سقيت النبي صلى الله عليه وسلم من ماء زمزم فشرب و هو قائم، و أما كراهته قائما فيما عدا هذين فلمـــا روى مسلم عن أنس رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه نهى عن الشرب قائما، قال قتادة: فقلنا لأنس: فالأكل؟ فقال: ذلك أشر و أخبث(غنية المستملي في شرح منية المصلي المعروف بالحلبي الكبيري ص: ۳۲ في بيان فضيلة المسواک)

ځواب: د اودس پاته شوي اوبه په ولاړه څښل جائز دي او ځینو ورته مستحب ویلي دي و أن یشرب بعده من فضل وضوئه کماء زمزم قائما او قاعدًا و فیما عداهما یکره قائما الخ و فی الشامی عن السراج: و لا یستحب الشرب قائما إلا فی هذین الموضعین الخ(۱) فقط

ډوډۍ او اوبه له ښي طرف څخه شروع کول پکار دي که له مشر څخه؟

سؤال: (۱۹۵) په یو مجلس کې د ښي طرف ته یو ځوان مولوي صاحب ناست و او کیڼ طرف ته یو حاجي صاحب چې په عمر مشر و تر مولوي صاحب چې کله چای راغلې نو لومړی د حاجي صاحب ته د وراچولو اراده وشوه خو مولوي صاحب په سختۍ سره منع وکړه چې لومړی یې ماته راکړه په داسې صورت کې شرعي حکم څه دی؟ (۲۸۷۲/۱۳۴۳ھ)

ځواب: شرعي حکم په داسې صورت کې همدا دی چې له ښي طرف څخه شروع شي(۲) لیکن دغه ځوانانه پکار و چې د حاجي صاحب ته لومړی ورکولو اجازه کړې وای ځکه چې حاجي صاحب مشر و د مروت او ادب تقاضا دا وه چې دغه ځوان مولوي صاحب دغه مشر حاجي صاحب ته لومړی ورکول اجازه کړې وای لکه چې په حدیث کې هم داسې واقعه راغلې ده او د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا خوښه وه چې کشر چې ښي طرف ته و هغه و مشر ته چې کیڼ طرف ته و اجازه ورکړي مګر کله چې هغه کشر اجازه ورنکړه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ښي طرف لومړی کشر ته ورکړه مګر خوښه یې نه شوه. (۳)

---

(۱) الدر و الرد ۹۵/۱ کتاب الطهارة،مطلب فی مباحث الشرب قائما. ط رشیدیه

(۲) که په مجلس کې د مجلس مشر وي نو لومړی اوبه هغه ته ورکړئ بیا د هغه ښي طرف ته چې څوک وي هغه ته و هکذا کنې چې په مجلس کې کوم مشر وي هغه ته ورکړئ بیا د هغه ښي طرف ته چې څوک وي هغه ته یا دې وپښونکی خپلې ښي طرف والا ته ورکړي بیا چې د هغه ښي طرف ته څوک وي دواړې خبرې صحیح دي ۱۲ سعید احمد پالن پوري

(۳) عن سهل بن سعد رضی الله عنه أن رسول الله صلی الله علیه وسلم أتی بشراب، فشرب منه و عن یمینه غلام و عن یساره الأشیاخ. فقال للغلام: أتأذن لی أن أعطی هؤلاء؟ فقال الغلام: و الله یا رسول الله لا أوثر بنصیبی منک أحد قال: فتله رسول الله صلی الله علیه وسلم فی یده (صحیح البخاری: ۸۴۰/۲ کتاب الاشربة. باب هل یستأذن الرجل عن یمینه فی الشرب لیعطی الأکبر)

د حکومتي لیلام د حیوانانو شیدې او غوړي کارول

سوال: (۱۹۶) د لیلام د حیوانانو شیدې او غوړي استعمالول څرنګه دي؟ (۲۲۳۹/۱۳۴۰هـ)

ځواب: د حکومتي لیلام د غوا او نورو حیوانانو غوړي او شیدې استعمالول صحیح دي. فقط

خورو خپل کوچني ورور ته تی ورکولای شي

سوال: (۱۹۷) خور و نابالغ ورور ته تی ورکولای شي او کنه؟ (۲۰۲۲/۱۳۴۰هـ)

ځواب: ورکولای یې شي. فقط و الله تعالی اعلم

وربنداره و نابالغ لېوره ته تی ورکولای شي

سوال: (۱۹۸) وربنداره و نابالغ لېور ته تی ورکولای شي؟ (۲۰۲۲/۱۳۴۰هـ)

ځواب: ورکولای یې شي. فقط و الله تعالی اعلم

د ښځي لپاره هم خپلي شیدې رودل حرام دي

سوال: (۱۹۹) د ښځي لپاره هم خپلي شیدې رودل حرامي دي او کنه؟ (۱۴۲۱/۱۳۳۷هـ)

ځواب: د ښځي لپاره هم حرامي دي. فقط

بیراني شوي شیدې خوړل څرنګه دي؟

سوال: (۲۰۰) د بیراني شوي شیدو استعمال څنګه دی؟ (۱۴۷۲/۱۳۳۷هـ)

ځواب: صحیح دي او که د ضرر رسولو درجې ته رسېدلي وي نو مناسبي نه دي په در مختار کي راغلي دي: یحرم أکل لحم أتن، لا نحو سمن و لبن(۱)

(۱) ترجمه: بوی ناکي غوښي خوړل حرامي دي، غوړي شیدې او نور خوړل حرام نه دي (الدر المختار مع رد المحتار ۲۵۶/۱ کتاب الطهارة، باب الأنجاس، مطلب في الفرق بین الاستبراء و الاستنقاء و الاستنجاء. ط رشیدیه)

کومه غوا یا وزه چې بېله بچي زیږولو شیدې ورکوي د هغه څښل څرنګه دي؟

سوال: (۲۰۱) دلته ځیني غواوي یا وزې بېله بچي زیږولو شیدې کوي د دوی شیدې څښل بېله کراهته جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۳/۱۴۸۵هـ)

ځواب: د دوی شیدې څښل حلالي او جائز دي(۱) قال الله تعالى: و ان لكم في الانعام لعبرة نسقيكم مما في بطونه من بين فرث و دم لبنا خالصا سائغا للشاربين (سورة نحل، آيت: ٦٦) فالآية تدل على حل اللبن مطلقا (دا آیت مطلقًا د شیدو پر حلت دلالت کوي) فقط

د بلاربې غوا او نورو شیدې حلالي دي

سوال: (۲۰۲) شیر حیوان حامله حلال است یا حرام؟ (۱۳۴۲/۱۳۲۱هـ)

ځواب: حلال است فقط

سوال: (۲۰۲) ترجمه: د حاملې غوا یا بل حیوان شیدې حلالي دي که حرامي؟ (۱۳۴۲/۱۳۲۱هـ)

ځواب: حلالي دي فقط

وګامېښې ته د پراړه جوړ کړي کټې اېښودل

سوال: (۲۰۳) د غوا بچي مړ شو اوس که د غه غوا ونه لوېشو نو نقصان دی ځکه د سوخند ر خرمن مي و ایستله د پراړه، وښو او نورو مې ډکه کړه د غوا مخته ته ورو کله چي دا د غه د خپل بچي صورت ویني نو په اطمینان سره شیدې کوي د غه شیدې څښل جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۹/۱۳۵۱هـ)

ځواب: جائز دي فقط

سوال: (۲۰۴) د غوا، ګامېښې بچي که مړ شي نو د هغه څرمن که د پراړه او نورو ډکه کړو غوا یا ګامېښه لوېشو

---

(۱) و في الخانية و غيرها: لبن المأكول حلال (رد المحتار ٣٢٤/٥ كتاب الأشربة. ط رشيديه)

نو جائز دي او کنه؟(۱۷۲۰/۴۲-۱۳۴۷ه)

ځواب: دا جائز دي فقط

د غوا او ګامیښې لوښلو لپاره جامې بدلول

سوال: (۲۰۵) مسلمان له هندو څخه غوا یا ګامیښه رانیوله او س هغه شیدې نه کوي نو آیا مسلمان د لویشلو لپاره لباس او صورت بدلولای شي او کنه؟ (۲۰۳۲/۱۳۴۳ه)

ځواب: که په دغه بدلون کي د یو حرام عمل کول نه راځي یعني د هندوانو صورت جوړول پکي نه راځي نو جائز دي کنې نه دي، غوره دا دي چي دی د لویشلو لپاره کوم هندو مزدور ونیسي د داسي معمولي خبري لپاره لباس او صورت بدلول مناسب نه دی. فقط و الله تعالی اعلم

حلال کړي حیوان لوشل

سوال: (۲۰۶) له حلالولو وروسته حیوان لوشل څنګه دي؟(۱۴۹۹/۳۳-۱۳۳۲ه)

ځواب: له حلالولو وروسته د حیوان شیدې چي ولوشل شي حلالي دي(۱)

د شپانه له کوره شیدې وړل او خوړل

سوال: (۲۰۷) د مسلمانانو لپاره د شپانه له کوره د وزې شیدې وړل او څښل صحیح دي او کنه؟(۲۵۴۲/۱۳۳۷ه)

ځواب: داسي شیدې وړل او خوړل صحیح دي.

که بنګي ګامیښه ولوشي نو شیدې څنګه دي؟

سوال: (۲۰۸) یو بنګي د یو مسلمان د ګامیښي تی په ګرمو اوبو پرېمنځلل،

---

(۱) و إنفحة الميتة و لو مائعة و لبنها طاهر كالمذكاة خلافا لهما لتنجسهما بنجاسة المحل، قلنا: نجاسته لا تؤثر في حال الحياة إذا اللبن الخارج من بين فرث و دم طاهر، فكذا بعد الموت أهـ (رد المحتار ۱۵۲/۱ كتاب الطهارة، باب المياه، مطلب في أحكام الدباغة. ط رشيديه)

وي لوشله دغه شیدې پاکې دي که ناپاکې؟ خوراک یې څرنګه دی؟ (۱۳۳۳-۳۲/۹۹۴هـ)

ځواب: دا شیدې څه پروا نلري، پاکې او حلالې دي او کله چې بنګې په ګرمو اوبو تي ورپرېمنځل نو د ده لاسونه هم پرېمنځل شول بیا په دې کې څه شک دی؟ آخر د ټولو کفارو یخ کړي میتایي او ډوډۍ خو هم خورو.

سهوًا د بنګي د چلم اوبه څښل ګناه نلري

سوال: (۲۰۹) که کوم مسلمان سهوًا د بنګي د چلم اوبهٔ وڅښي نو شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۴۰/۲۵۲۱هـ)

ځواب: څه چې وشو هغه وشو په دې کې څه ګناه نشته، آئنده داسې مه کوئ. فقط

د بل چا وانښه خوړونکي ګامیښې شیدې خوړل څنګه دي؟

سوال: (۲۱۰) یو سړی د شپې خپله ګامېښه خوشې کړي د بل په کښت کې څروي، د داسې ګامیښې شیدې خوړل څرنګه دي؟ (۱۳۴۱/۱۵۲۰هـ)

ځواب: دا فعل حرام دی او شیدې حلالې دي داسې سړی عاصي دی. فقط

له توبې وروسته د شرابي پس خورده حلاله ده که حرامه؟

سوال: (۲۱۱) کوم مسلمان چې شراب خوري د هغه په هکله څه حکم دی؟ که دی توبه وباسي نو د ده پس خورده د مسلمان لپاره حلاله ده او کنه؟ (۱۳۴۲/۱۴۰۹هـ)

ځواب: له توبې وروسته د ده ګناه معاف ده او پس خورده د ده پاکه ده او اودس صحیح دی او د مسلمانانو لپاره د ده پس خورده خوړل حلال ده. فقط

د غوا او ګامیښې شیدې د بولو په ځای کې د ګوتو په وهلو را ایستل

سوال: (۲۱۲) د کومې غوا یا ګامیښې چې بچی مړ شي د هغې شیدې د هغې د بولو په ځای کې د ګوتو په وهلو

را ایستل کیږي، په داسي طریقه شیدې را ایستل جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۵/۸۵۷هـ)

ځواب: کومي شیدې چي په داسي طریقه را و ایستل شي هغه پاکي او حلالي دي مګر دا فعل ضرور شنیع او مکروه دی. فقط

سوال: (۲۱۳) ډیري ګامیښي داسي وي چي شیدې نه کوي نو چاچان د هغو سره داسي کوي چي د دوی د بولو په ځای کي لاس واچوي نو ګامیښه وویریږي شیدې کوي په دې هکله څه حکم دی؟ (۱۳۳۸/۱۲هـ)

ځواب: دا فعل ښه نه دی او دا شیدې پاکي او حلالي دي. فقط

د ډوبیانو شیدې او تیل استعمالول

سوال: (۲۱۴) د شیدو بند ډوبیان چي ولایتي راځي او ماشومانو ته ورکول کیږي آیا د مسلمانانو لپاره و ماشومانو ته دا ورکول صحیح دي او کنه؟ د ولایتي تیلو بوتلان راځي هغه په ژمي کي د چاودلو پښو او لاسونو لپاره مفید وي آیا د هغوی استعمال جائز دی؟ (۱۳۳۴-۳۳/۸۲۷هـ)

ځواب: د دواړو شیانو استعمالول د مسلمانانو لپاره جائز دي ځکه چي ترڅو د یو شي د نجاست او حرمت یقین نه وي د حرمت حکم ورباندي نشي لګېدلای. فقط

سوال: (۲۱۵) ولایتي شیدې دوه ډوله دي یو وچي شیدې(پوډر) او بل په پاکټونو کي د غوړیو په رنګه دا دواړه ډوله شیدې حلالي دي که حرامي؟ (۱۳۴۵/۱۲۴۸هـ)

ځواب: ترڅو د کوم حرام او پلیت شي د ګډېدو علم نه و د حلت او جواز فتوی ورکوله کیږي. (۱) فقط

په هندوانو ډکي کړي اوبه استعمالول

سوال: (۲۱۶) زه د پیمائش په محکمه کي ملازم یم او د پیمائش د کار لپاره په هندوستان کي

---

(۱) الأصل فی الأشیاء الإباحة (قواعد الفقه، ص: ۵۹، قاعدة: ۳۳)

هر ځای غزنی او میداني سیمو او بنګال او نورو ته تلل غواړي، زیاتره داسي وي چي زه ناجوړه شم او کوم مسلمان اوبه راته کونکی نه وي دې خوا خلک هندوان دي مګر دوی هر څه خوري خنزیر او نور ټول شیان خوري نو د مجبوری پر مهال په داسي خلکو اوبه ډکول او د هغه استعمالول جائز دي او کنه؟(۱۳۳۵/۱۰۳۱ھ)

ځواب: که ضرورت وي نو په همدغه خلکو اوبه ډکوئ او د خوراک څښاک او ودس لپاره دغه اوبه استعمالوئ هیڅ وهم مه کوئ.

له فوځیانو څخه د څښلو لپاره د اوبو ډبې رانیول

سوال: (۲۱۷) د فوځیانو سره د اوبو څښلو لپاره د اوبو ډبې وي او هغه لیلامیږي هم که دا څوک رانیسي اوبه څني وڅښي نو څه حکم دی؟ کله چي دا معلوم نه وي چي دا د کوم قوم پس خورده ده؟(۱۳۳۵/۱۰۳۱ھ)

ځواب: د فقهي په کتابونو کي لیکلي دي چي پس خورده د کافر هم پلیته نه ده(۱) نو په دې کي څه شک مه کوئ دا پاکي دي فقط

د پاي خانې اوبه په ویاله ګډیږي نو د ویالې اوبه څنګه دي؟

سوال: (۲۱۸) په هلدواني کلي کي یوه ویاله ده، ټول خلک اوبه څني څښي لیکن په دغه ویاله کي د کلي د ځوځکورنو د پاي خانو پلیتي اوبه ګډیږي نو د داسي ویالې اوبه څنګه دي؟(۱۳۳۵/۱۰۳۲ھ)

ځواب: اوبه د دغه ویالې پاکي دي، څښل او اودس څني کول صحیح دي (ځکه چي ماء جاري د پلیتی په لوېدو نه پلیتیږي)

د سپي د پس خوردې شیدې و غوا او نورو ته ورکول

سوال: (۲۱۹) که سپی شیدې وڅښي پلیتي کړي نو دغه پس خورده شیدې و غوا، غوایه او نورو ته ورکول

---

(۱) فسؤر آدمي مطلقا و لو جنبا او کافرا او امرأة... طاهر الفم ... طاهر(الدر مع الشامي ۱/۱۶۳ کتاب الطهارة، مطلب في السؤر.ط رشیدیه)

څرنګه دي(۱۳۲۱/۱۳۴۵هـ)

ځواب: ورکولای يې شي لکه چي د لا يطعم بنی آدم(۱) له قيد څخه چي معلومېږي او په در مختار کي راغلي دي: فيطعم للكلاب(۲) په ظاهره د کلاب قيد اتفاقي دی لنډه دا چي انسان دي نه خوري. فقط

څلور قسمه شراب قطعي حرام دي

سوال: (۲۲۰) اورېدلي مي دي چي څلور قسمه شراب قطعي حرام دي، هغه څلور قسمه مېَ دا په يادېږي که زما په ياد کي غلطي وي نو اصلاح يې کړئ، د تازه انګورو اوبه، او وچو انګورو، وچو خرماوو او کشمشو. (۱۰۰۱/۱۳۳۵هـ)

ځواب: په دُر مختار کي هم همدا سي راغلي دي: و المحرم منها اربعة أنواع او بيا يې د دغه څلورو قسمونو تفصيل دا ډول بيان کړی دی چي:

لومړی: چي د خامو انګورو اوبه مسکري شي.

دوهم: د انګورو پخ شوي اوبه چي مسکري شي.

دريم: د خورما خامي اوبه چي کله مسکري شي.

څلورم: د کشمشو اوبه کله چي مسکري شي. (۳)

کشمش او خورما يو شواروز په اوبو کي اېښودلو وروسته هغه اوبه څښل

سوال: (۲۲۱) يو سړی کشمش او وچي خورماوي يو شواروز په اوبو کي کښېږدي بيا هغه اوبه څښي،

---

(۱) الشامي ۱/۱۶۰ كتاب الطهارة، باب المياه، فصل فى البئر. ط رشيديه.

(۲) قوله: (فيطعم للكلاب) ... و يفهم منه أن العجين ليس بقيد فغيره من الطعام و الشراب مثله، تأمل (الدر و الشامي ۱/۱۶۰ كتاب الطهارة، فصل فى البئر. ط رشيديه)

(۳) و المحرم منها اربعة أنواع: الأول: الخمر و هي النئ... من ماء العنب اذا غلي و اشتد و قذف أى رمى بالزبد أى الرغوة... و الثانى: الطلاء بالكسر و هو العصير يطبخ حتى يذهب أقل من ثلثه و يصير مسكرًا... و الثالث السكر بفتحتين و هو النئ من ماء الرطب اذا اشتد و قذف بالزبد، و الرابع نقيع الزبيب، و هو النئ من ماء الزبيب بشرط أن يقذف بالزبد بعد الغليان (الدر مع الشامي ۵/۳۱۸ كتاب الأشربة. ط رشيديه)

آیا داسي جائز دي او کنه؟(۲۹۱/۱۳۳۵ھ)

ځواب: که نشه پکي نه وي نو صحیح دي(۱) فقط

شراب په سرکه جوړېدو حلالیږي

سوال: (۲۲۲) زیاتره خلک په شرابو کي مالګه واچوي سرکه ځني جوړوي داسي صحیح دي او کنه؟(۳۲/۱۹-۱۳۳۳ھ)

ځواب: په سرکه جوړولو شراب پاکیږي او حلال دي (۲)

د ناجوړه لپاره شراب ښکل صحیح دي او کنه؟

سوال: (۲۲۳) په شرابو کي مالګه اچولو وروسته ښکل یا د ناجوړه شراب ښکل صحیح دي او کنه؟(۴۲/۱۴۴۹-۱۳۴۷ھ)

ځواب: د شرابو استعمال په هیڅ طریقه جائز نه دی، اما که کوم دین دار او حاذق طبیب د مریض په هکله دا فیصله وکړي چي دا مرض له شرابو څخه پرته په کومه بله دوا نه لیري کیږي نو دا وخت د ضرورت په اندازه استعمال جائز دی یا که د مالګي په اچولو یې نشه ختمه شوه او هغه سرکه وګرځېده بیا هم یې استعمال صحیح دی.

---

(۱) عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم ينقع له الزبيب فيشربه اليوم و الغد و بعد الغد إلى مسى الثالثة ثم يأمر به فيسقى او يهراق.

و عنه رضى الله عنه قال: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم ينبذله الزبيب فى السقاء فيشربه يومه و الغد و بعد الغد فإذا كان مسى الثالثة شربه و سقاه، فإن فضل شئ أهراقه (الصحيح لمسلم: ۱۶۸/۲ كتاب الأشربة باب إباحة النبيذ الذى لم يشتد و لم يصر مسكرا)

(۲) الخمر... إذا خلله بعلاج بالملح أو بغيره يحل عندنا(الفتاوى الهندية ۴۱۰/۵ كتاب الأشربة الباب الأول فى تفسير الأشربة الخ)

و أما طهارتها بانقلابها خلا فهى ثابتة بنص المجتهد أخذا من إطلاق حديث: نعم الإدام الخل(الشامى ۳۲۰/۵ كتاب الأشربة. ط رشيديه)

د اسپرټ استعمال او رانیول خرڅول څرنګه دي؟

سوال: (۲۲۴) د اسپرټ استعمال او رانیول خرڅول جائز دي او کنه؟ او دې ته حلال ویونکی قابل د امامت دی او کنه؟ (۱۹۹/۲۱-۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: د شرابو اسپرټ استعمال ناروا دی نو رانیول او خرڅول یې هم ناروا او حرام دي(۱) او دې ته حلال ویونکی او خرڅونکی فاسق دی امامت د هغه تحریمي مکروه دی

---

(۱) د اسپرټ په هکله اوس نوی تحقیق دا دی چې هغه له شرابو نه جوړېږي ځکه اصح دا دی چې د دې رانیول خرڅول ناجائز او حرام نه دي په کفایت المفتي کې راغلي دي:

ځواب: (۱۲۵) په انګریزي دواوو کې اسپرټ میتهیلېټډ (Spirit-Methyiated) ګډوي کوم چې په تیلو او رنګونو کې استعمالیږي هغه شراب نه دي ځکه د دوی په ګډولو د دواو بیع او شراء نه ناجائز کیږي، محمد کفایت الله کان الله له (کفایت المفتي: ۱۳۷/۹ کتاب الحظر و الإباحة. باب طب) او په بهشتي زیور کې راغلي دي: هر اسپرټ له اربعه اشربه څخه نه دي نو د داسې اسپرټ د شیخینو په نیزد استعمال جائز دی (اختري بهشتي زیور نهمه برخه، ص: ۱۰۲) په تکملة فتح الملهم کې راغلي دي:

إن الكحول المسكرة (alcohals) اليوم صارت تستعمل فى معظم الأدوية و لإغراض كيمياوية أخرى، و لا تستغنى عنها كثير من الصناعات الحديثة و قد عمت بها البلوى و اشتدت إليها الحاجة و الحكم فيها على قول أبي حنيفة سهل، لأنها إن لم تكن مصنوعة من النئ من ماء العنب فلا يحرم بيعها عنده، و الذى ظهر لى أن معظم هذه الكحول لا تصنع من العنب، بل تصنع من غيرها. و راجعت له دائرة المعارف البريطانية المطبوعة ۱۹۵۰م، ۵٤٤/۱ فوجدت فيها جدولا للمراد التى تصنع منها هذه الكحول فذكر فى جملتها العسل و الدبس و الحب و الشعير و الجودار و عصير أناناس (التفاح الصنوبرى) و السلفات و الكبريتات و لم يذكر فيها العنب و التمر:

فالحاصل أن هذه الكحول لو لم تكن مصنوعة من العنب و التمر، فبيعها للأغراض الكيمياوية جائز باتفاق بين أبى حنيفة و صاحبيه، و إن كان مصنوعة من التمر أو من المطبوخ من عصير العنب فكذلک عند ابى حنيفة خلافا لصاحبيه. و لو كانت مصنوعة من العنب النئ فبيعها حرام عندهم جميعا =

فی الدر المختار: و کره شرب دردی الخمر إلخ(۱) و لا شک أن العرق المستقطر من الخمر هو عين الخمر تتصاعد مع الدخان و تقطر من الطابق بحيث لا يبقى منها إلا أجزاؤها الترابية(إلى أن قال) و لا يطهر بذلک و إلا لزم طهارة البول و نحوه إذا استقطر فى إناء إلخ(۲) (شامي) و فى الدر المختار: و حرم الانتفاع بها ولو لسقى دواب او لطين او نظر للتلهى او فى دواء او دهن او طعام او غير ذلک إلخ قال الشامي تعليقا على قوله (او غير ذلک) لأن ذلک انتفاع بالخمر و أنه حرام إلخ و فى الدر المختار: و لا يجوز بيعها لحديث مسلم: إن الذى حرم شربها حرم بيعها إلخ(۳) و فى الشامي فى مقام آخر: و كذا لو وقعت فى قدر الطعام نجسته و إن صارت طعاما كما لو قوعت فيه قطرة بول إلخ(٤) و فيه ايضًا قلت: علم بهذا أن المعتمد المفتى به أن العرق لم يخرج بالطبخ و التصعيد عن كونه خمرا فيحد بشرب قطرة منه و إن لم يسكر إلخ(٥)

د خورما رس څښل جائز دي که ناجائز؟

سوال: (۲۲۵) د خورما رس(عرق) څښل جائز دي او کنه؟ څکه چي د دې ځای

=و الظاهر أن معظم الكحول لا تصنع من عنب و لا تمر. فينبغى أن يجوز بيعها لأغراض مشروعة فى قول علماء الحنفية جميعا(تكملة فتح الملهم: ۵۵۱/۱ كتاب المساقاة و المزارعة باب تحريم بيع الخمر حكم الكحول المسكره) خلاصه د کلام دا ده چي اسپرټ(الكحل) شراب نه دي څکه رانيول خرڅول يې جائز دي او دې ته حلال ويونکی او خرڅونکی نه فاسق دی نه د ده امامت مکروه دی ۱۲ محمد امین پالن پوري

(۱) الدر مع الشامی ۳۲۵/۵ كتاب الأشربة. ط رشيديه

(۲) شامي ۱۷۸/۳ كتاب الحدود، باب حد الشرب، مطلب فى نجاسة العرق و وجوب الحد بشربه. ط رشيديه

(۳) الدر ، الرد ۳۱۹/۵ كتاب الأشربة. ط رشيديه

(٤) الشامي ۳۲۰/۵ كتاب الأشربة. ط رشيديه

(۵) الشامي ۱۷۸/۳ كتاب الحدود، باب حد الشرب، مطلب فى نجاسة العرق و وجوب الحد بشربه. ط رشيديه

خلک بیان کوي چې په دې کې نشه یو مخ نشته اما که لمر ته کنبیږي نو نشه پکې راځي د پوښتني خبره دا ده چې د نشې پر مهال حرام دي که بالقوه چې په کوم شي کې نشه وي هغه هم حرام دي؟ او له کل مسکر حرام څخه څه مراد دي؟ بالقوه که بالفعل؟ (۱۳۳۹/۸۲۴هـ)

ځواب: ترڅو چې په دې کې نشه نشي را، تر هغو د دې څښل روا دي لکه چې د تمر د نبیذ په هکله په حدیثو کې د دې څرګندونه راغلې ده(۱) او دا چې کوم حکم په حدیث شریف کې راغلی دی: ما أسکر کثیره فقلیله حرام(۲) دا په هم هغه شیانو کې جاري دی کوم چې بالفعل مسکر دي کنې یو نبیذ به هم جائز نه وي ځکه چې بالقوه په ټولو کې د نشې قابلیت شته. فقط

سوال: (۲۲۲) زید د ناجوړۍ په وجه د علاج لپاره غواړي چې د خورما اوبه استعمال کړي دا ډول چې ماښام د خاوري په لوښي کې خورما واچوي او سهار یې استعمال کړي په بیان شوي صورت کې د دې استعمال جائز دی او کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۳۷۵هـ)

ځواب: که په دغه حالت کې په دې کې سکر یعني نشه راځي نو څښل یې حرام دي، ځکه چې هر مسکر حرام دی او که په دغه حالت کې پکې نشه نه وي راغلې بلکه نشه په څه ځنډ سره پکې راځي په تازه کې سمدستي نشې نه راتلی نو بیا د دې استعمال تر مسکر کېدو مخکې جائز دی.

د خورما د اوبو د ډوډۍ حکم

سوال: (۲۲۷) ... (الف) د نوي درختي د خورما اوبه کومي چې له درختي څخه

---

(۱) عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: کان رسول الله صلی الله علیه وسلم ینبذ له أول اللیل فیشربه إذ أصبح یومه ذلک و اللیلة التی تجئ و الغد و اللیلة الأخری و الغد إلی العصر، فإن بقی شئ سقاه الخادم اوأمر به فصب، رواه مسلم (مشکوة المصابیح: ص: ۳۷۲ کتاب الأطعمة، باب النقیع و الأنبذة الفصل الأول) و فی روایة قال: نهیتکم عن الأشربة إلا فی ظروف الأدم، فاشربوا فی کل و عاء غیر أن لا تشربوا مسکر. رواه مسلم(مخکنی حواله)

(۲) عن جابر رضی الله عنه أن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: ما أسکر کثیره فقلیله حرام رواه الترمذی و أبو داؤد و ابن ماجة (مشکوة المصابیح: ص: ۳۱۷، کتاب الحدود، باب بیان الخمر و وعید شاربها، الفصل الثانی)

را ايستلي وي پکي نشه نه وي دا دلته هغه خلک هم څښي چي پرهېزګاره دي. د دې څښل صحيح دي او کنه؟

(ب) د تناره په ډوډۍ کي کله چي اوړه اخښي نو د خميرې پر ځای د غه د خورما او به پکي اچوي چي پکي نشه وي دا سي ډوډۍ خوړل صحيح دي او کنه؟ (۱۹۱۲/۱۳۳۷هـ)

ځواب: (الف-ب) د خورما په اوبو کي چي ترڅو نشه نه وي تر هغو د دې استعمال صحيح دی لکه چي نبيذ د تمر او نورو تر نشه پيدا کولو مخکي حلال دي او په خميره ډوډۍ کي د دې لوېدل ډوډۍ ناجائز نه ګرځوي داسي ډوډۍ خوړل صحيح ده(۱) فقط

افيون او تمباکو خوړل او څښل څنګه دي؟

سوال: (۲۲۸) د افيونو خوړل څرنګه دي؟ او تمباکو خوړل څښل څرنګه دي؟ (۱۱۲۴/۱۳۳۷هـ)

ځواب: تمباکو خوړل او څښل مباح دي ليکن بېله ضرورته ښه نه دي يعني تنزيهي مکروه دي كذا فى الشامى(۲) او د افيونو خوړل حرام دي ليکن لږ افيون چي د سکر تر حده و نه رسي د تداوي په غرض مباح دي، كذا فى الشامى(۳) فقط

---

(۱) ځکه چي نشه لرونکي د خورما اوبو مقدار قليل دی او له خمرو څخه پرته چي کوم شرابونه دي هغه پاک دي که څه هم د نشه لرلو په وجه د هغو څښل حرام دي په کفايت المفتی کي راغلي دي: د انګورو له شرابو پرته(کوم چي خمر دي) نور شرابونه ناپاک نه دي د نشه لرلو په وجه حرام خو دي مګر ناپاک نه دي (کفايت المفتی: ۱۴۲/۴ کتاب الحظر و الإباحة جواب: (۱۷۵)ط. مکتبه امداديه پاکستان)

(۲) و فى الأشباه فى قاعدة: الأصل الإباحة او التوقف... فيفهم منه حكم النبات الذى شاع فى زماننا المسمى بالتتن فتنبه. و فى الشامي: قوله: (الأصل الإباحة او التوقف) المختار الأول عند الجمهور من الحنفية و الشافعية كما صرح به المحقق ابن الهمام فى تحرير الأصول (الدر و الرد ۳۲۷/۵ كتاب الأشربه. ط رشيديه)

(۳) يحرم تناول القدر المضر منها دون القليل النافع، لأن حرمتها ليست لعينها بل لضررها و فى أول طلاق البحر: من غاب عقله بالبنج و الأفيون يقع طلاقه إذا استعمله للهو و إدخال الآفات قصدًا لكونه معصية و إن كان للتداوى فلا لعدمها كذا فى فتح القدير. وهو صريح فى حرمة البنج و الأفيون لا للدواء و فى البزازية و التعليل ينادى بحرمته لا للدواء اهـ كلام البحر و جعل فى النهر هذا التفصيل هو الحق (الشامى ۳۲۵/۵ كتاب الأشربة. ط رشيديه)

افیون پاک دي

سوال: (۲۲۹) افیون خوړل جائز دي او کنه؟ (۲۲۲/۱۳۳۷هـ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: و نقل فى الأشربة عن الجوهرة حرمة أكل بنج و حشيشة و أفيون إلخ(۱) له دي څخه معلوم شو چي د افیونو خوراک حرام دی او په شامي کي راغلي دي چي بېله تداوي د افیونو خوراک حرام دی که د تداوي او علاج ضرورت وي نو صحیح دی و هو صريح فى حرمة البنج و الأفيون لا للدواء (إلى أن قال) و إن كان للتداوى فلا لعدمها(۲) فقط

سوال: (۲۳۰) افیون پاک دي که ناپاک؟ (۲۷۲۵/۱۳۳۷هـ)

ځواب: افیون پاک دي كما حققه فى الشامي: و الحاصل: أن استعمال الكثير المسكر منه حرام مطلقًا كما يدل عليه كلام "الغاية"(۳)

د افیونو په نه خوړلو که د هلاکت اندېښنه وي نو...

سوال: (۲۳۱) یو سړی د افیونو خوړلو عادي دی بېله دې چاره نه لري بلکه د هلاکت اندېښنه ده د مشکاة په شرح مخ: ۱۴۵ کي راغلي دي چي افیون خوړونکی د مرګ پر مهال کلمه د شهادت نشي ویلای، د داسي معذوري پر مهال څه حکم دی؟

(۱۴۵۹/۱۳۳۹هـ)

ځواب: د افیونو خوړلو عادت جوړول بېشکه حرام دي، د دې د پرېښودلو دا طریقه وکړي چي لږ لږ کموئ او د مجبورۍ په وجه چي تر څو یو مخ نه وي پاته شوي توبه او استغفار کوه، بیا يې سوکه سوکه پرېږده په یو دم پرېښودلو کي شاید زیاته اندېښنه وي فقط

---

(۱) الدر مع الرد ۱۸۱/۳ كتاب الحدود. باب حد الشرب مطلب فى البنج و الأفيون و الحشيشة. ط رشيديه

(۲) الشامي ۳۲۵/۵ كتاب الاشربه. ط رشيديه

(۳) رد المحتار ۳۲۵/۵ كتاب الأشربة. ط رشيديه

د ماشوم زېږېدلو تکلیف تېرولو لپاره شراب خوړل څرنګه دي؟

سوال: (۲۳۲) حامله ښځه که ماشوم زېږولو د تکلیف تیرولو لپاره شراب استعمال کړي نو څرنګه دي؟ ځيني ملایان جائز ورته ویونکي او استعمالونکي او ورکونکي په هکله څه حکم دی؟ (۹۸۲/۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: جائز نه دي او جائز ورته ویونکي او استعمالونکي او ورکونکي عاصیان او ګنهکاران دي. فقط

و ماشوم ته د ویدولو لپاره افیون ورکول

سوال: (۲۳۳) ماشوم تولـه شپه د شیدو د کم والي په وجه د مور په تیو پوري منبتی وي په دې وجه د ماشوم مور ته ډېر تکلیف وي که د دغه تکلیف په وجه مور څه تاریاق ورکړي تر څو د ماشوم مور هم د شپې ویده او په آرام شي داسي جائز دي او کنه؟ (۸۳/۱۳۳۸ھ)

ځواب: په دغه صورت کي و ماشوم ته افیون ورکول صحیح نه دي اما که د مور شیدې نشته چي د هغه په وجه ده ته لـه لوږي خوب نه ورځي نو د ده لپاره د خوراک انتظام وکړئ تر څو دی په مړه خېټه ویده شي. فقط

داسي دوا کارول چي افیون او بنګي په ګډي وي

سوال: (۲۳۴) په کومه دوا چي افیون او بنګ په دومره اندازه ګډ وي چي نشه په نه راځي د هغه خوراک جائز دی او کنه؟ (۱۵۴۰/۱۳۴۰ھ)

ځواب: په دې کي اختلاف دی که سخت ضرورت دی او د داسي دوا بدل په حلاله دوا کي نه وي او د مسلمان حاذق طبیب په رایه کي دا دوا ګټوره وي نو د دې خوراک او استعمالول صحیح دي بېله سخت ضرورته جائز نه دہ. (۱)

---

(۱) و جوزه في النهاية بمحرم إذا أخبره طبيب مسلم أن فيه شفاء و لم يجد مباحًا يقوم مقامه (الدر مع الشامي ۲۷۵/۵ كتاب الحظر و الإباحة، فصل في البيع. ط رشيديه)

د چرسو او سم الفأر حکم

سوال: (۲۳۵) افیون و چرس و سم الفار (۱) حلال است یا حرام؟ (۱۳۳۷/۱۳۴۵ھ)

ځواب: افیون و چرس و بنگ حرام است، صاحب در مختار آورده و يحرم أكل البنج و الحشيشة هي ورق القنب و الأفيون إلخ (۲) و سم الفار قاتل است پس در حرمتش تردد نیست. فقط

سوال: (۲۳۵) ترجمه: افیون، چرس او سم الفار حلال دي که حرام؟

ځواب: افیون، چرس او بنګي حرامي دي، په در مختار کي راغلي دي او حرام دی خوراک د بنګو او حشیشه او حشیشه د قنب هندي پانه ده او افیون خوړل هم حرام دي او سم الفار قاتل دی لهذا د دې په حرمت کي څه شک نشته

د چلم حکم

سوال: (۲۳۲) زید وايي چي ځیني علماء کرام چلم حرام بولي او ځیني تحریمي مکروه او ځیني تنزیهي مکروه د زید پر دغه وینا عمر چي د مسجد امام دی ډیري سختي خبري وکړې چي څوک و چلم ته حرام وايي هغه پخپله حرامي حرام زاده دی او دا ډول ډیري خبري چي د علماء د شان خلاف دي ده وکړې چي د رانقل کولو نه دي پوچ او رد يې وويل اوس د عمر څه حکم دی؟ (۲۲۴/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: د زید دا وینا چي ځیني علماء و چلم ته حرام واي او ځیني تحریمي مکروه او ځیني تنزیهي مکروه دا وینا د فقهي د کتابونو سره سمه ده د فقهي په کتابونو کي دا درې سره قوله موجود دي د چلم په هکله لیکن زیاته صحیح خبره دا ده چي چلم مباح دی مګر د اولی خلاف دی همدا د تنزیهي مکروه حاصل دی همدغه قول

---

(۱) سم الفار: یو زهرجن کاني دی (فیروز اللغات)

(۲) الدر مع الشامي: ۳۲۵/۵ كتاب الأشربة. ط رشيديه

شامي صحیح او راجح بللی دی(۱) لنډه دا چي چلم مباح او صحیح دی مګر بنه نه دی نو زید باید همدغه د اباحت قول رانقل کړی وای ځکه چي د حرمت او تحریمي کراهت قول ته اعتبار نشته خو د عمر لپاره پوچ او رد ویل د نفرت، ملامیتا او معصیت باعث دی. د داسي سختو ټکو په ویلو عمر سخت ګنهکار او فاسق شو. د امام جوړولو قابل نه دی. لمونځ ورپسي تحریمي مکروه دی، تر څو چي دی توبه و نه باسي دی امام مه جوړوئ فقط

سوال: (۲۳۷) زما د چلم څښلو عادت دی، یو وخت زما پر خیټه ډېر درد شو او په کومه دوا فایده ونه وشوه اما په چلم څښلو درد آرام شو له هغه وخته زه د چلم څښلو عادي شوم په داسي صورت کي چلم څښل جائز دي او کنه؟ او دا خبره چي مشهوره ده چي چلم څښونکي ته په د رسول الله صلی الله علیه وسلم زیارت نه کیږي دا صحیح ده او کنه؟(۳۲/۱۷۴۸-۱۳۳۳ھ)

ځواب: علامه شامي رحمه الله لومړی د چلم د منع او کراهت ځیني اقوال رانقل کړي او وروسته په پای کي دا لیکلي دي چي چلم څښل مباح دي لیکن د اولی خلاف دی او د کوم ضرورت یادونه چي په سوال کي شوي ده د هغه سره سم چلم څښل بې کراهته صحیح دی او دا خبره چي مشهوره ده چي چلم څښونکي ته په د رسول الله صلی الله علیه وسلم زیارت نه کیږي بې اصله ده کوم شی چي په شریعت کي مباح وبلل شو په هغه داسي وعید څه ډول کیدلای شي؟! علامه شامي رحمه الله دا هم رانقل کړي دي چي د چلم پر مباح والي د څلور سره مذهبو معتمد علیهم علماوو فتوی ورکړې ده او زموږ استاذ سید عارف عبد الغنی نابلسي رحمه الله یوه رساله د چلم پر مباح والي لیکلې ده د هغه نوم دی "الصلح بین الإخوان فی إباحة شرب الدخان" په دغه رساله کي و چلم ته حرام یا

---

(۱) أقول: قد اضطربت آراء العلماء فيه، بعضهم قال بكرا هيته و بعضهم قال بحرمته و بعضهم بإباحته و أفردوه بالتاليف و فی شرح الوهبانية للشرنبلالی:

و يمنع من بيع الدخان و شربه / و شاربه فی الصوم لا شک يفطر ... قلت: و ألف فی حله أيضا سيدنا العارف عبد الغنی النابلسی رسالة سماها "الصلح بن الإخوان فی إباحة شرب الدخان" ... فالذی ينبغی للإنسان إذا سئل عنه سواء كان ممن يتعاطاه أولا، كهذا العبد الضعيف و جميع من فی بيته أن يقول: هو مباح، لكن رائحته تستكرهها الطباع، فهو مكروه، طبعا لا شرعًا... قال ابو السعود فتكون الكراهة تنزيهية. و المكروه تنزيها يجامع الإباحة (رد المحتار ٥/٣٢٦ كتاب الأشربة. ط رشيديه)

مکروه ویونکیو باندې تشدد کړی دی او حرام او مکروه ویونکی بې دلیل لیکلی دی په پای کې دا لیکلي دي چې: فالذی ینبغی للإنسان إذا سئل عنه سواء کان ممن یتعاطاه أولا کهذا العبد الضعیف و جمیع من فی بیته أن یقول: هو مباح لکن رائحته تستکرهها الطباع فهو مکروه طبعا لاشرعا(۱) (۲۹۲/۵)

سوال: (۲۳۸) چلم څښل څرنګه دی؟ او د بدبویه شي په رنګه د دې له څښلو وروسته مسجد ته راتلل مکروه دي او کنه؟ لکه سګرېټ او نور(۱۳۴۱/۹۷۵هـ)

ځواب: شامي دا تحقیق کړی دی چې چلم څښل مباح دی مګر ښه نه دی یعنې زیات نه زیات دا تنزیهي مکروه دی او د بدبوی په وجه له چلم څښلو وروسته مسجد ته راتلل مکروه دي لکه اوم پیاز او وړه خوړل او په سګرېټ کې هم په دې وجه کراهت دی. (۲)

سوال: (۲۳۹) چلم څښل حرام دی که ګناه، که څه حکم دی؟ کوم څوک چې چلم څښي د هغه په هکله څه حکم دی؟ یعنې د داسي چا په هکله څه حکم دی چې که چلم و نه څښي نو په خېټه کې یې تکلیف وي؟ (۱۳۳۵/۱۰۱۷هـ)

ځواب: چلم څښل حرام نه دی محققینو فقهاوو لیکلي دي چې چلم څښل تنزیهي مکروه دي یعنې د اولی په خلاف دي نو د بیان شوي اړتیا په وجه که څوک صفا کړي چلم وڅښي نو څه پروا او ګناه نه لري. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) قوله: (و التتن إلخ) أقول: قد اضطربت آراء العلماء فیه فبعضهم قال بكراهيته و بعضهم قال بحرمته و بعضهم بإباحته و أفردوه بالتأليف ... و للعلامة الشيخ على الأجهورى المالكى رسالة فى حله نقل فيها أنه افتى بحله من يعتمد عليه من أئمة المذاهب الأربعة، قلت: و ألف فى حله أيضا سيدنا العارف عبد الغنى النابلسى رسالة سماها الصلح بين الإخوان فى إباحة شرب الدخان... فالذى ينبغى للإنسان إذا سئل عنه إلخ (رد المحتار ۳۲۶/۵ كتاب الأشربة. ط رشيديه)

(۲) و يؤخذ منه كراهة التحريم فى المسجد للنهى الوارد فى الثوم و البصل و هو ملحق بهما (الشامى ۳۲۷/۵ آخر كتاب الأشربة. ط رشيديه)

چلم څښونکي ته به آب کوثر ورکول کیږي او کنه؟

سوال: (۲۴۰) کوم خلک چي چلم څښي هغوی ته به آب کوثر ورکول کیږي او کنه؟
(۱۳۴۱/۴۴۴هـ)

ځواب: د چلم څښلو په هکله فقهاء دا لیکلي دي چي صحیح دا دی چي مباح دي حرام نه دي، اما پرهېز ځني کول پکار دی او کوم شی چي جائز دی پر هغه هذاب نشته او له جنت او اب کوثر څخه د محرمېدو کومه وجه نشته

و چلم څکونکي ته به له مرګ وروسته د رسول الله صلی الله علیه وسلم زیارت نصیب کیږي او کنه؟

سوال: (۲۴۱) بي فائدې د حقې عادت جوړول څرنګه دي؟ له چلم څکلو وروسته مسجد ته تلل، د قرآن تلاوت کول او ماشومانو ته د قرآن درس ورکول څرنګه دي؟ چلم څکونکی به له مرګ وروسته د رسول الله صلی الله علیه وسلم زیارت کوي او کنه؟
(۱۳۴۳/۳۹۳هـ)

ځواب: چلم مباح دی مګر د اولی خلاف دی یعني بېله ضرورته څښل ښه نه دي تنزیهي مکروه دي او د بد بوی سره مسجد ته تلل او قرآن شریف ویل هم مکروه دي او د قرآن شریف درس ورکول هم په داسي حالت کي ښه نه دي(۱) او کوم فعل چي جائز وي پرهغه دا وعید نشي کېدلای چي له مرګ وروسته د رسول الله صلی الله علیه وسلم زیارت ورنصیب نشي. فقط

د چلم اوبه باید کله بدلي شي؟

سوال: (۲۴۲) چلم څکول چي په څو ورځي کي اوبه ورنه بدلوي چي په وجه خوله بوی ناکه شي جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۱/۲۵۲۳هـ)

---

(۱) و یؤخذ منه کراهة التحریم فی المسجد للنهی الوارد فی الثوم و البصل و هو ملحق بهما و الظاهر کراهة تعاطیه حال القراءة لما فیه من الإخلال بتعظیم کتاب الله تعالی(الشامي ۳۲۷/۵ کتاب الأشربة) ط. رشیدیه

ځواب: په شامي کي تحقيقي قول دا ليکلی دی چي چلم څکول مباح دی مګر پرهېز ځني کول اولی دی ګواکي تنزيهي مکروه دی په تېره بيا په بيان شوي صورت کي چي څو څو ورځي اوبه وربدلي نکړي چي په وجه بدبوی زيات وي، کراهت د دې ظاهر دی.

قال فى رد المحتار: و للعلامة الشيخ على الأجهوري المالكي رسالة فى حله نقل فيها أنه أفتى بحله من يعتمد عليه من أئمة المذاهب الأربعة، قلت: و ألف فى حله أيضا سيدنا العارف عبد الغنى النابلسي رسالة سماها "الصلح بين الإخوان فى إباحة شرب الدخان" و تعرض له فى كثير من تأليفه الحسان و أقام الطامة الكبرى على القائل بالحرمة او بالكراهة (إلى أن قال) فهو مكروه طبعًا لا شرعًا(۱) فقط

سوال: (۲۴۳) چلم څکول جائز دي او کنه؟ او که چلم وڅکوي نو څه ډول؟ کله چي د څکولو اراده وي نوي اوبه پکي واچوي که له مخکي څخه چي څو مره اوبه پکي وي هم هغه پکي پرېږدي؟ او په چلمي پسي لمونځ جائز دی او کنه؟ (۳۲/۲۵۴۸-۱۳۳۳ھ)

ځواب: چلم څکول جائز دی صفا ساتل او هميشه اوبه وربدلول ښه خبره ده څه چي پاته شي ښه دی، ځکه چي په شامي کي صحيح دا ليکلي دي چي چلم څکول که څه هم صحيح دي مګر تنزيهي مکروه او د اولی خلاف دی او په ده پسي لمونځ صحيح دی.

د چلم کښ د خولې له بوی څخه ملائکو ته تکليف وي او کنه؟

سوال: (۲۴۴) د چلم کښ د خولې بدبوی نه وي ختم شوی دی لمونځ کوي درود شريف او وظيفې وايي، د قرآن تلاوت کوي، نو آيا د ده لمونځ کيږي او د ده د خولې بد بوی د ملائکو لپاره تکليف وي او کنه؟ (۱۳۴۲/۵۵۵ھ)

ځواب: لمونځ صحيح کيږي او په حديث شريف کي راغلي دي چي په کوم شي انسانانو ته تکليف وي ملائکو ته هم له هغه څخه تکليف وي مثلاً له بد بوی څخه انسانانو ته تکليف وي نوله دې څخه ملائکو ته هم تکليف وي. فإن الملائكة تتأذى مما يتأذى منه الإنس الحديث

(۱) حاشية ابن عابدين ۳۲٦/٥ كتاب الأشربة. ط رشيديه

رواه الشيخان(۱) نو د کومو چلم څکونکيو له خولو څخه چي بد بوی راځي ملائکو ته تکليف وي مناسب دي چي داسي عمل ونکړي چي ورڅخه ملائکو او انسانانو ته تکليف وي. فقط

د قرآن شريف د زده کړي پر مهال په حجره کي چلم څکول

سوال: (۲۴۵) د يو مسجد په څلور ديوالي کي دننه حجره جوړه شوي ده د حجرې و مخته دالان دی په دالان کي واله بهيږي چي خلک اودسونه پر کوي د غه دالان ته جنبي سړی هم راتللای شي دلته ماشومان د قرآن شريف زده کړه کوي معلم صاحب په همدغه دالان او حجره کي د تعليم ورکولو پر مهال چلم څکوي دا څرنګه دي؟ (۱۳۳۹/۱۲۳ه)

ځواب: دا صورت د چلم څکولو ډېر ناروړه او مکروه دی د معلم لپاره په داسي ځايونو او داسي وختونو کي احتراز کول لازم دي. فقط

تمباکو او چونه خوړل جائز دي او کنه؟

سوال: (۲۴۶) تمباکو چي د تمبول د پاڼي سره خوړل کيږي جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۸/۴۵۷ه)

ځواب: محقيقين فقهاء د تمباکو خوړل او څکول مباح بولي. كما في الشامي كتاب الأشربة جلد خامس: و ألف في حله أيضا سيدنا العارف عبد الغنى النابلسى رسالة سماها "الصلح بن الإخوان في إباحة شرب الدخان" و فيه قبيله: و للعلامة الشيخ على الأجهوري المالكي رسالة في حله نقل فيها أنه أفتى بحله من يعتمد عليه من أئمة المذاهب الأربعة إلخ(۲) أما ببيله ضرورته د تمباکو خوړل او څکول بې د اولی خلاف ليکلي دي. كذا في الشامي(۲)

---

(۱) عن جابر رضى الله عنه قال: نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن أكل البصل و الكـراث فغلبتنا الحاجة. فأكلنا منها. فقال: من أكل من هذه الشجرة المنتنة. فلا يقربن مسجدنا فإن الملائكة الحديث(الصحيح لمسلم: ۲۰۹/۱ كتاب المساجد باب نهى من أكل ثوما او بصلاً الخ)

(۲) رد المحتار ۳۲۶/۵ كتاب الأشربة. ط رشيديه

سوال: (۲۴۷) چلم څکول تمباکو او چونه خوړل څرنګه دي؟ (۱۱۸۸/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: چلم څکول او تمباکو خوړل بېله ضرورته د اولی په خلاف دي او چونه لږ په پان کي خوړل صحیح ده.

سوال: (۲۴۸) په پان کي چونه خوړل صحیح ده او کنه؟ (۱۳۱۷/۱۳۴۱ھ)

ځواب: صحیح ده. فقط

سوال: (۲۴۹) چلم څکول او په پان کي تمباکو خوړل څنګه دي؟ (۱۴۱۳/۱۳۳۵ھ)

ځواب: چلم څکول او په پان کي تمباکو خوړل مباح دي.

سوال: (۲۵۰) چلم څکول او تمباکو خوړل جائزدي او کنه؟ او د پان سره چونه خوړل جائز دي او کنه؟ (۱۴۳۰/۱۳۳۷ھ)

ځواب: علامه شامي رحمه الله دا تحقیق کړی دی چي حقه څکول مباح دي مګر ښه نه دي یعني تنزیهي مکروه دي او همدغه حکم د تمباکو خوړلو دی او په پان کي چونه خوړل هم علماوو مباح لیکلي دي نو په داسي کارونو کي سختي کول مناسب نه دي. کوم شی چي شرعًا صحیح دی په هغه کي جګړه نه دي کول پکار. فقط

تمباکو خرڅول څنګه دي؟

سوال: (۲۵۱) د تمباکو خرڅونکي ډوډۍ خوړل او تمباکو خرڅول جائزدي او کنه؟ (۲۴۵۸/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: صحیح دي، ځکه چي د تمباکو استعمال مباح دی و تحقیقه فی الشامی[1]

تمباکو خوړل، څکول او بویول څه فرق لري او کنه؟

سوال: (۲۵۲) تمباکو خوړل څکول او بویول څه فرق لري او کنه؟ (۱۵۱۲/۴۴-۱۳۴۵ھ)

---

(۱) و فی الأشباه فی قاعدة: الأصل الإباحة او التوقف... فیفهم منه حکم النبات الذی شاع فی ماننا المسمی بالتتن فتنبه. و فی الشامي: قوله: (الأصل الإباحة او التوقف) المختار الأول عند الجمهور من الحنفیة و الشافعیة کما صرح به المحقق ابن الهمام فی تحریر الأصول (الدر و الرد ۳۲۷/۵ کتاب الأشربة. ط رشیدیه)

ځواب: هیڅ فرق نلري. فقط و الله تعالی اعلم

بیړۍ او سګریټ څکول

سوال: (۲۵۳) سګریټ او بیړۍ څکول جائزدي او کنه؟ (۱۳۴۱/۲۹۳هـ)

ځواب: ښه نه دي، مکروه دي.

سوال: (۲۵۴) یو سړی چلم څکول پریښودو او په آئنده کي د څکولو په هکله داسي عهد وکړی چي پر ما باندي چلم داسي حرام دی لکه خنزیر او شراب، څو کاله وروسته ده ته ضرورت ورپېښ شو ده صرف د خپل عهد په خیال ساتلو د چلم پر ځای سګریټ شروع کړل او په سګریټو کي د شرابو ګډون ښیي صرف نوم د چلم نه دی حقیقت هم هغه دی او د مرض ضرورت دی یو څه پر چلم او سګریټ څکولو مجبور وي، په داسي حال کي د ده اوږي څرنګه سپکېدلای شي؟ (۱۳۳۷/۲۸۲۵هـ)

ځواب: چلم څکول اصلاً مباح او حلال دی او حلال حرامول قسم دی ځکه که دا سړی چلم وڅکوي نو د قسم کفاره پر ده لازمیږي او په سګریټ کي خو د شراب، د ګډون شبه ده نو باید ترک یې کړي او که ضرورت وي نو باید چلم وڅکوي او د قسم کفاره ادا کړي کفاره دا ده چي لسو مسکینانو ته دي ډوډۍ یا جامې ورکړي که د دې وس نه وي نو دري روژې دي پرلپسي ونیسي. (۱)

نسوار کول

سوال: (۲۵۵) نسوار او چلم حرام دی که حلال؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۴۰۸هـ)

ځواب: د نسوارو او چلم استعمال صحیح دی مګر ښه نه دی، بیله ضرورته نه دي کول پکار.


---

(۱) لا يؤاخذكم الله باللغو في أيمانكم و لكن يؤاخذكم بما عقدتم الأيمان فكفارته إطعام عشرة مساكين من اوسط ما تطعمون أهليكم أو كسوتهم او تحرير رقبة فمن لم يجد فصيام ثلاثة أيام ذلك كفارة أيمانكم أذا حلفتم و احفظوا أيمانكم(سورة مائده: آيت: ۸۹)

حلاله روزي ګټل

سوال: (۲۵۲) روزي ګټل فرض ده که سنت او که مستحب؟ (۱۲۷۹/۳۳-۱۳۳۴ه)

ځواب: حلاله روزي ګټل فرض ده(۱) قال الله تعالی: "یا ایها الرسول کلوا من الطیبات و اعملوا صالحا" (سورة مؤمنون، آیت: ۵۱) و قال تعالی: یا ایها الذین آمنوا کلوا من طیبات ما رزقناکم(سورة بقره، آیت: ۱۷۲)



(۱) فإذا قضیت الصلاة فانتشروا فی الأرض و ابتغوا من فضل الله(سورة جمعه، ایت: ۱۰)
عن عبد الله رضی الله تعالی عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: طلب کسب الحلال فریضة بعد الفریضة. رواه البیهقی فی شعب الإیمان (مشکاة المصابیح، ص: ۲۴۲ کتاب البیوع، باب الکسب و طلب الحلال. الفصل الثالث)

د جامو، ګېڼې او ښکلا حکمونه

اسلامي او نا اسلامي جامې

سوال: (۲۵۷) نن صبا خو خواص او عوام لاندې لیکل شوې جامې اغوندي مګر کله نا کله داسې بې احتیاطي وي چې سخت ګنهکار شي او داسې خبرې تر خوله وباسي چې کبیره ګناه وي، د شریعت یو مخ خیال نه ساتي آیا لاندې لیکل شوې جامې اغوستل روا دي که ناروا؟ لنګوټه(پټکی) خولۍ چې ډول ډول دي. قمیص، صدرۍ، انګیا، کوټ، چوغه، خرقه، پرتوګ، لنګ او نور. (۱۳۳۷/۲۳۸۴هـ)

ځواب: په دې اړه یو کلي حکم په حدیث شریف کې راغلی دی نو د هغه سره سم د جزئیاتو حکم معلومېدلای شي، یو حدیث شریف دا دی: عن ابن عباس رضي الله عنهما قال: كل ما شئت و البس ما شئت ما اخطأتك اثنتان: سرف أو مخيلة. رواه البخاري(۱) او په دې اړه یو مرفوع حدیث دی: كلوا و اشربوا و تصدقوا و البسوا ما لم يخالط إسراف و لا مخيلة، رواه احمد و غيره(۲) او بل حدیث دا دی: من تشبه بقوم فهو منهم(۳) نو جامې چې هر ډول اختیار کړې صحیح دي. په دې شرط چې پکې د کفارو سره تشبه نه وي، د دې قاعدې خیال ساتل ضروري دی چې د پردیو قومونو پکې مشابهت نه وي نور نو چې په وطن کې کوم رواج وي هغه څه پروا نلري فقط

---

(۱) صحيح البخاري: ۲/۸٦۰ أوائل كتاب اللباس.

(۲) عن عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: كلوا الحديث(مشكاة المصابيح: ص: ۳۷۷، كتاب اللباس، الفصل الثالث)

(۳) سنن أبي داؤد: ص۵۵۹، كتاب اللباس، باب في لبس الشهرة.

مسئله:

(۱) د سر جامې(لنګوټه) جائز او مستحسنه ده.

(۲) خولۍ هر ډول صحیح ده په دې شرط چې ریښمي او په زریو پټه نه وي او انګریزي نه وي او د نا مسلمانو شعار نه وي.

(۳) قمیص او کرته صحیح دي.

(۴) صدرۍ صحیح ده.

(۵) چوغه، خرقه او نور ټول صحیح دي، کوټ هم جائز دی، که څه هم ځیني قسمونه ښه نه دي.

(۶) پرتوګ، لنګ ټول جائز دي، پرتوګ هر ډول صحیح دی، مګر له بجلکو څخه به پورته وي لنګ د کفارو په رنګه وهل ښه نه دی لیکن که کشف د عورة نه وي نو لمونځ ورسره صحیح دی. فقط

سؤال: (۲۵۸) ... (الف) من تشبه بقوم فهو منهم(۱) څخه څه مراد دي؟

(ب) د نن صبا انګریزي جامې لکه ګوټونه، کوټ، پتلون، انګریزي خولۍ او نورو کې جلا جلا د کوم یو استعمال روا دی که ټول شیان ناروا دي؟ (۱۳۴۳/۱۸۸هـ)

ځواب: (الف-ب) په من تشبه بقوم فهو منهم کې تشبه باللباس و بالصورة و بالأخلاق و الأعمال ټول داخل دي(۲) د دې تفصیل له کوم عالم څخه وپوښتئ او له انګریزي کوټ، پتلون، خولۍ او نورو څخه پرهیز کوي، مسلمانان دي له داسې شیانو څخه سخته کرکه وکړي او صورت او بڼه دي د رسول الله صلی الله علیه وسلم په رنګه جوړ کړي هم هغه جامې او شکل دي خوښ کړي.

سؤال: (۲۵۹) ... (الف) هغه کومه جامه ده چې په اغوستلو یې الله رب العزت خوشحالیږي؟

---

(۱) سنن أبي داؤد: ص: ۵۵۹ كتاب اللباس، باب فى لبس الشهرة.

(۲) قوله: (قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من تشبه بقوم) أى من شبه نفسه بالكفار مثلاً فى اللباس و غيره او بالفساق او الفجار او بأهل التصوف و الصلحاء الأبرار (فهو منهم) أى فى الإثم و الخير(مرقاة المفاتيح، شرح مشكاة المصابيح: ۲۵۵/۸ كتاب اللباس، الفصل الثاني، المطبوعة: مكتبة امداديه. ملتان، باكستان)

(ب) اسلام د مسلمانانو لپاره کومې جامې جوړې کړې او ولې؟ په دلیل سره راته ولیکئ. (۱۱۸۵/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: (الف) هغه شرعي جامه ده چې پکې د کفارو تشبه نه وي، د ورېښمو او نورو نه وي کوم چې حرام دي او د شرعي حد سره سمې وي بېدې (بجلکي) پکې پټې نه وي او نور.

(ب) د دې تفصیل هم هغه دی کوم چې په (الف) کې دي، کومه جامه او کوم هیئت چې شریعت منع کړې دی هغه جامه او هیئت د اسلام د کمال ضد دی او کومه جامه چې د اسلام خلاف نه وي هغه اسلامي جامه ده.

سوال: (۲۲۰) مسلمانان باید څه ډول جامې په غاړه کړي؟ (۱۴۷۳/۴۲-۱۳۴۷ھ)

ځواب: قمیص، پرتوګ، لنګوټه، چوغه، صدرۍ او نور اغوستل شرعي جامه ده، چینه او کوټ هم جائز دی، پائڅې باید تر بجلکو پورته دي، خولۍ ساده پکار ده، څپلۍ وطني ساده په پښو کول پکار دي، ترکي خولۍ او ګوټونه بنه نه دي فقط

سوال: (۲۲۱) ... (الف) کومه جامه اسلامي جامه ده؟

(ب) چیرې چې د انګریزي جامې رواج وي هلته انګریزي جامې اغوستل عیب دي او کنه؟ (۳۳۲/۳۵-۱۳۳۶ھ)

ځواب: (الف) اسلامي لباس هغه دی چې د شریعت خلاف نه دی او د نورو مذهبونو سره په لباس کې مشابهت کولو څخه منع راغلې ده، لیکن که کوم ځای عام خلګ انګریزي لباس اغوندي هلته همداسې رواج او عادت وي نو د دوی لپاره هغه لباس نه دی منع.

(ب) چیرې چې رواج دی هلته نه دی عیب. کما في الجواب الأول فقط

پائڅې تر بجلکو پورته کول ضروري دي

سوال: (۲۲۲) په لمانځه کې پائڅې تر بجلکو لاندې کول جائز دي او کنه؟ (۲۵۸/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: په لمانځه کې پائڅې تر بجلکو لاندې کول مکروه دي، له ثواب څخه به محروم شي، له لمانځه څخه دباندې هم پورته ساتل ضروري دي، په حدیث کې د داسې سړي لپاره (یعني کوم څوک چې پائڅې تر بجلکو

لاندي کوي) ډیر وعیدونه راغلي دي. (۱)

سوال: (۲۲۳) په لنګ یا د پرتاګه په پائڅو بجلکي په لمانځه کي پټول څنګه دي؟ (۲۲۴۳/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: بجلکي په پائڅو یا لنګ پټول (یعني دومره لاندي کول) حرام دي او په داسي حال کي لمونځ تحریمي مکروه دی، که څه هم فرض ادا کیږي، مګر په حدیث شریف کي په داسي حال کي لمونځ کولو ډیر سخته منع راغلې ده، په ابو داؤد شریف کي راغلي دي: عن أبي هريرة رضى الله عنه قال: بينما رجل يصلى مسبلا إزاره قال له رسول الله صلى الله عليه وسلم: اذهب فتوضا (إلى أن قال) و إن الله جل ذكره لا يقبل صلاة رجل مسبل ازاره الحديث(۲)

د نارینه لپاره سرې جامې اغوستل څنګه دي؟

سوال: (۲۲۴) د ښځو په رنګه سرې رنګیني جامې اغوستل څنګه دي؟ (۱۲۹۵/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: ويكره لبس المعصفر والمزعفر الأحمر و الأصفر للرجال، مفاده أنه لا يكره للنساء إلخ و فى المجتبى و القهستانى و شرح النقاية لأبى المكارم: لا بأس بلبس الثوب الأحمر اهـ و مفاده أن الكراهة تنزيهية إلخ(۳) لنډه دا چي سرې رنګېدلي جامې یا په زعفرانو رنګ شوي ژړې جامې د نارینه وو لپاره مکروه دي او بیا یې له شرح نقایه او نورو څخه د دې حلت

---

(۱) عن أبي هريرة رضى الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: لا ينظر الله يوم القيامة إلى من جر أزاره بطرا. متفق عليه و عن ابن عمر رضى الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: بينهما رجل يجر إزاره من الخيلاء خسف به فهو يتجلجل فى الأرض إلى يوم القيامة، رواه البخارى و عن أبي هريرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ما أسفل من الكعبين من الإزار فى النار، رواه البخارى (مشكاة المصابيح ص: ۳۷۳، كتاب اللباس، الفصل الأول)

(۲) سنن أبي داؤد، ص: ۹۳، كتاب الصلاة، باب الإسبال فى الصلاة و فيه أيضًا ص: ۵۶۵، كتاب اللباس. باب ما جاء فى إسبال الأزار.

(۳) الدر المختار مع رد المحتار ۲۵۲/۵ كتاب الحظر و الإباحة، فصل فى اللبس. ط رشيديه

رانقل کړی دی او يو قول يې د استحباب هم ليکلی دی، لنډه دا چې غوره دا دي چې سرې جامې دې نه اغوندي ليکن دا حرامې نه دي. په تېره بيا چې سور رنګ د معصفر نه وي او ناپاکوالی هم معلوم نه وي دا څه پروا نلري، بلکه ځينې علماء ورته مستحب ويلي دي، للشر نبلالی فيه رسالة نقل فيها ثمانية أقوال، منها أنه مستحب(۱)

سوال: (۲۲۵) سرې جامې د نارينه وو لپاره اغوستل جائز دي او کنه؟ جواز او عدم جواز په کوم قيد مقيد دی او کنه؟ (۱۳۳۲-۳۵/۳۵۸هـ)

ځواب: سرې جامې د نرو لپاره صحيح دي مګر ښې نه دي يعني تنزيهي مکروه دي او که د ورېښمو وي نو حرامې دي او د سور ګل په رنګ وهلي مکروه دي و کره لبس المعصفر و المزعفر الأحمر و الأصفر للرجال إلخ(۲) فقط

د نارينه لپاره نرۍ جامه

سوال: (۲۲۶) د نارينه لپاره نرۍ جامه اغوستل صحيح دي او کنه؟

(۱۳۳۰-۲۹/۱۸۰هـ)

ځواب: نرۍ جامه اغوستل د نارينه لپاره صحيح ده مګر پرتوګ يا لنګ که دومره نرۍ وي چې عورت تر ښکاري نو صحيح نه دی. فقط

د نارينه لپاره د ورېښمو جامه استعمالول ناروا ده

سوال: (۲۲۷) د ورېښمو جامه د نر لپاره حرامه ولې ده؟ او په يو حديث کې دا هم راغلي دي چې کوم نر په دې دنيا ورېښمي جامه وانه غوندي هغه ته الله رب العزت په جنت کې د ورېښمو جامه وراغوندي. (۱۳۳۵/۱۱۲۲هـ)

ځواب: د نرو لپاره د ورېښمو جامه په همدغه دليل حرامه ده چې په حديثو کې رسول الله

---

(۱) مخکنۍ حواله.

(۲) الدر المختار مع الشامي ۲۵۲/۵ كتاب الحظر و الإباحة، فصل في اللبس و فيه ايضا: ۵۳۳/۵ كتاب الخنثى مسائل شتى. ط: رشيديه

صلی الله علیه وسلم ورڅخه منع فرمایلې ده او پر دې وعید بیان کړی دی(۱) زموږ لپاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد بس دی. قال الله تعالی: "و ماآتکم الرسول فخذوه و ما نهاکم عنه فانتهوا" (سورة حشر، آیت: ۷) او په دې کې خبره نه دي کول پکار چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ولې منع کړې ده؟ ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله په حکم سره منع فرمایلې ده.

سوال: (۲۲۸) ... (الف) په وربښمینه جامه کې که په اوږدوالي او پلن والي دواړو کې وربښم او عام تار استعمال کړی وي نو د نرو لپاره روا دي که نارو ا؟

(ب) که په اوږدوالي کې وربښم او په پلن والي کې وربښم او ساده تار دواړه کارولي وي نو د نرو لپاره څنګه دي؟ (۱۳۳۵/۱۷۱۲هـ)

ځواب: (الف) اعتبار و غالب والي ته دی که وربښم غالب دي نو ناجائز دي او که عام تار غالب دی نو صحیح دی. (۲)

---

(۱) عن ابن عمر رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: إنما یلبس الحریر فی الدنیا مـــن لاخلاق له فی الآخرة، متفق علیه.

و عن حذیفة رضی الله عنه قال: نهانا رسول الله صلی الله علیه وسلم أن نشرب فی آنیة الفضة و الـــذهب، و أن نأکل فیها و عن لبس الحریر و الدیباج، و أن نجلس علیه. متفق علیه(مشکاة المصابیح، ص: ۲۷۳-۳۷٤ کتاب اللباس، الفصل الأول)

(۲) قلت: و لم أرما لو خلطت اللحمة بابریسم و غیره و الظاهر اعتبار الغالب و فی حاوی الزاهدی: یکره ما کان ظاهره قز و خط منه غیره بحیث یری کله قز، فأما إذا کان کل واحد مستبینا کالطراز فی العمامة فظاهر المذهب أنه لا یجمع اهــ و أقره شیخنا(الدر) و فی الشامی: أقول: لیس المراد بالخط ما یکون فی السدی طولاً لأن السدی لا یعتبر و لو کان کله قزا، بل المراد بالخط ما یکون فی اللحمة عرضا، فإذا کان المراد ذلک ظهر منه جواب آخر عن المسئلة السابقة بأن یقال: إذا خلطت اللحمة بابریسم و غیره بحیث یری کله إبریســـما کره، و إن کان کل واحد مستبینا کالطراز لم یکره، لأن ظاهر المذهب عدم الجمع فیما لم یبلغ أربع أصابع و یظهر لی أن هذا الجواب أحسن من الجواب السابق(الدر و الرد ۲۵۲/۵ کتاب الحظر و الإباحة، فصـــل فی اللبس. ط رشیدیه)

(ب) كه عام تار غالب دى نو صحيح دى كما مر و يحل لبس ما سداه إبريسم و لحمته غيره إلخ(۱)

سوال: (۲۶۹) د وريښمي جامې استعمال د نارينه وو لپاره څنګه دى؟ (۴۱۹/۲۹-۱۳۳۰هـ)

ځواب: د وريښمي جامې استعمال د نارينه وو لپاره جائز دى كه پلنوالى د عامو تارو وي او اوږدوالى د وريښمونو صحيح دى. فقط

د خامو وريښمو او پخو وريښمو يو حكم دى؟

سوال: (۲۷۰) هغه جامه چې اوږدوالى وريښمدى او پلن والى عام تار مباح ده او كنه؟ (۱۲۵۰/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: مباح او جائز ده.

سوال: (۲۷۱) د خامو وريښمو او پخو وريښمو يو حكم دى كه څنګه؟ (۲۹۲/۱۳۳۸هـ)

ځواب: د حضرت مولانا رشيد احمد ګنګوهي رحمه الله تحقيق همدا دى چې دا هم وريښم دي كه څه هم پنډ او ارزانه دي(۲) فقط

د نرو لپاره وريښمي دستمال كارول صحيح نه دى

سوال: (۲۷۲) د وريښمو دستمال د پوزې پاكولو او په اودس كې د مخ وچولو لپاره

---

(۱) الدر المختار مع رد المحتار ۲۵۱/۵ كتاب الحظر و الإباحة، فصل فى اللبس. ط رشيديه

(۲) په فتاوى رشيديه كې راغلي دي: بهاګلپوري كپړې ريښمي دي د دوى حكم د وريښمو دى مګر دا پنډ وريښم دي او مشهوره وريښم د وريښمو يو عمده قسم دى نو كه اوږدوالى او پلن والى دواړه د وريښمو.

استعمالول صحیح دي او کنه؟ چې د ښکلا لپاره نه وي، آیا شریعت د دې اجازه ورکوي او کنه؟ (۱۳۳۵/۱۷۷هـ)

ځواب: صحیح نه دی، کما في رد المحتار: قوله: (و الکیس الذی یعلق) أی یعلقه الرجل معه لا الذی یوضع و لا الذی یعلقه فی البیت و احترز به عن الذی لا یعلق و الظاهر فی وجهه أن التعلیق یشبه اللبس، فحرم لذلک لما علم أن الشبهة فی باب المحرمات ملحقة بالیقین (۱) انتهی او له دې څخه څه مخکې راغلي دي: و به یعلم حکم العرقیة السماة بالطاقیة، فإذا کانت منقشة بالحریرو کان أحد نقوشها أکثر من أربع أصابع لا تحل(۱)

دوړېښمي کمربند حکم

سوال: (۲۷۳) وړېښمي دستمال، کمربند او موزې د نرو لپاره استعمالول جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۵/۱۸۷هـ)

ځواب: وړېښمي دستمال او موزې د نرو لپاره حرام دي او کمربند د وړېښمو مکروه دی ځینو فقهاوو جائز ورته ویلي دي و تکره التکة منه أی من الدیباج هو الصحیح و قیل: لا بأس بها(۲)

د قرآن شریف پوښ د وړېښمو جوړول

سوال: (۲۷۴) نارینه د قرآن شریف لپاره د وړېښمو پوښ استعمالولای شي او کنه؟ (۱۳۴۳/۱۳۱۴هـ)

ځواب: نه دی پکار، جائز نه دی. فقط

د ململ خولۍ پر سرول صحیح ده

سوال: (۲۷۵) د ململ د تورکر خولۍ صحیح ده او کنه؟ (۱۳۳۰-۲۹/۴۲۳هـ)

---

(۱) رد المختار ۲۴۹/۵ کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی اللبس. ط رشیدیه

(۲) الدر المختار مع الشامی ۲۴۹/۵ کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی اللبس. ط رشیدیه

ځواب: صحیح ده. فقط

د ترکي خولۍ حکم

سوال: (۲۷۶) که څوک ترکي خولۍ سره د کوټ او پتلونه واغوندي نو جائز دي او کنه؟ که جائز دي نو په هر صورت کې، وربانديې د ورېښمو ګل لګول څنګه دي؟ او فی نفسه د کوټ او پتلون اغوستل څنګه دي؟ (۱۹۹۳/۲۹-۱۳۳۰ھ)

ځواب: ترکي خولۍ سره د کوټه او پتلونه د تشبه په سبب مکروه دي که تشبه نه وای نو جائز و، فی نفسه په دغه لباسونو کي کوم حرمت نشته او صرف د ترکي خولۍ هم همدا حکم دی چي که تشبه وي نو مکروه ده کني جائز. فقط و الله تعالی اعلم

لنګ وهل څنګه دي؟

سوال: (۲۷۷) لنګ وهل څنګه دي؟ دا رواج په مشرقي مسلمانانو کي عام دي آیا لنګ وهونکیی فاسق دی؟ په لنګ سره لمونځ صحیح کیږي او کنه؟

(۱۱۲۳/۴۴-۱۳۴۵ھ)

ځواب: په کومو ځایونو کي چي په مسلمانانو کي د لنګ وهلو رواج دی هلته لنګ وهل جائز دی، په دې شرط چي کشف د عورت به پکي نه وي او اسراف او تکبر به نه وي کمار وی عن ابن عباس رضی الله عنهما کل ما شئت و البس ما شئت ما أخطأتک اثنتان: سرف او مخیلة رواه البخاری(۱) او په کومو ځایونو کي چي لنګ وهل د هندوانو او کفارو شعار دی، هلته ځني پرهیز کوئ ځکه چي له تشبه بالکفار څخه منع راغلي ده: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من تشبه بقوم فهو منهم أی من شبه نفسه بالکفار مثلاً فی اللباس و غیره الخ(۲) (مرقات) فقط

---

(۱) صحیح البخاری: ۸۶۰/۲، أوائل کتاب اللباس.

(۲) مرقاة المفاتیح، شرح مشکاة المصابیح: ۲۵۵/۸ کتاب اللباس، الفصل الثانی المطبوعة: مکتبة إمدادیة. ملتان، باکستان

د کرتی حکم

سوال: (۲۷۸) د کرتی اغوستلو څه حکم دی؟

ځواب: مروجه کرتی جائز ده، عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: کل ما شئت و البس ما شئت ما اخطأتک اثنتان: سرف أو مخیلة. رواه البخاری(۱)

د کوټ او پتلون حکم

سوال: (۲۷۹) کوټ او پتلون اغوستل د مسلمان لپاره جائز دي که مکرو؟ که مکروه دي نو ولي؟ (۱۱۸۵/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: مکروه دي ځکه چې په دې کې د نورو مذهبو والو سره تشبه ده او په حدیث کې راغلي دي: من تشبه بقوم فهو منهم(۲)

سوال: (۲۸۰) کوټ استعمالول څنګه دی؟ (۱۹۰۴/۱۳۴۳هـ)

ځواب: د دې استعمال د امت د صلحاء شعار نه دی، د مسلمانانو بد قسمتي ده چې دوی خپل اسلامي لباس پرېږدي د نورو قومونو کړه وړه یې خپل کړو او د: من تشبه بقوم فهو منهم (ابو داؤد، ص: ۵۵۹، کتاب اللباس) مصداق وګرځېدی، د دې استعمالول له کراهیته خالي نه دي، مسلمانان باید پر خپل شعار په پوره قوت او استقامت سره قائم وي. فقط

د ښکار پر مهال انګریزي کوټ اغوستل

سوال: (۲۸۱) انګریزي کوټ د ښکار پر مهال اغوستل کله چې د عزت خیال نه وي صرف د ښکار په وجه واغوندي جائز دي او کنه؟ (۲۵۴/۱۳۳۵هـ)

ځواب: کوم لباس چې منع وي هغه هر وخت منع دی، د ښکار او نورو په وجه نه روا کیږي. فقط

---

(۱) صحیح البخاری: ۸۶۰/۲، اوائل کتاب اللباس.

(۲) سنن أبي داؤد: ص: ۵۵۹ کتاب اللباس، باب فی لبس الشهرة.

په کوټ او پتلون کي لمونځ کول

سوال: (۲۸۲) په کوټ، پتلون کي شریعت د لمانځه کولو اجازه ورکوي او کنه؟ (۱۳۳۵/۱۰۹۹هـ)

ځواب: په کوټ، پتلون کي لمونځ کیږي (مګر د تشبه بالکفار په وجه اغوستل منع دي) فقط

پټو څرنګه پر ځان اچول پکار دی؟

سوال: (۲۸۳) په لمانځه کي پټو ټول پر ځان واچوي که څهٔ پر اوږو او څه پریږدي که یو ول پر سر و پیپچي نور پر ځان واچوي کومه طریقه زیاته صحیح ده؟ پټو پر سر اچول د ښځو سره مشابهت دی او یو ول پیچل د کفارو سره مشابهت دی. (۱۳۳۵/۱۸۱هـ)

ځواب: په لمانځه کي یا بهر تر لمانځه پټو او تلتک چي څرنګه زړه غواړي پر ځان دي یې واچوي که یې پر سر اچوي یا یې تر سر لاندي کوي شرعًا کوم قید پکي نشته د عرف رواج اور احت خیال وساتئ، پر سر اچول هم ثابت دي او پر اوږو اچول هم ثابت دي. فقط و الله تعالی اعلم

په ولاړي پرتوګ اغوستل

سوال: (۲۸۴) آیا په ولاړه پرتوګ اغوستل منع دی؟ (۱۳۳۹/۸۰۵هـ)

ځواب: دا فعل شرعًا ممنوع او حرام نه دی، زیات نه زیات که یو بزرګ داسي لیکلي وي یا په یو روایت کي داسي راغلي وي نو هغه له آدابو څخه دی له واجب احکامو څخه نه دی فقط

لمونځ په پرتوګ کي افضل دی که په لنګ کي

سوال: (۲۸۵) ازار څه ته وایي؟ او لمونځ په پرتاګه کي افضل دی که په لنګ کي؟ (۱۳۴۱/۲۵۴۲هـ)

ځواب: ازار و لنګ ته وايي او لمونځ په لنګ او پرتاګه دواړو کي صحيح دی او په دواړو کي فضيلت لري. فقط

رسول الله صلی الله علیه وسلم پرتوګ اغوستی دی کنه؟

سوال: (۲۸۶) رسول الله صلی الله علیه وسلم پرتوګ اغوستی دی او کنه؟ او د ده مبارک په زمانه کي پرتوګ و او کنه؟ (۱۳۳۵/۹۴۹هـ)

ځواب: په زاد المعاد کي راغلي دي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم پرتوګ رانيولی دی او دا هم په هغه کي ليکلي دي چي ظاهر دا دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم د همدې لپاره رانيولی دی چي وايي غوندي او دا هم روايت شوی دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم پرتوګ اغوستی دی الخ د زاد المعاد عبارت دا دی: و اشترى سراويل، و الظاهر أنه إنما اشتراها ليلبسها و قد روى فى غير حديث أنه لبس السراويل و كانو يلبسون السراويلات بإذنه صلى الله عليه وسلم. (۱)

سوال: (۲۸۷) رسول الله صلی الله علیه وسلم پرتوګ اغوستی دی او کنه؟ (۱۳۳۵/۳۰۹هـ)

ځواب: د پرتوګ اغوستل د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ثابت نه دي اما رانيول يې ثابت دي، كما جاء فى بعض الروايات(۲) فقط

د نبي علیه الصلاة والسلام په زمانه کي ښځو پرتوګ اغوستی که لنګ؟

سوال: (۲۸۸) د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کي ښځو پرتوګ اغوستی که بل څه؟ او که پرتوګ و نو څه ډول؟ د حديثو په رڼا کي راته بيان کړئ. (۱۳۳۰-۲۹/۴۱۸هـ)

ځواب: د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کي غالب رواج د لنګ وهلو و، په نرو کي هم او

---

(۱) زاد المعاد فى هدى خير العباد: ۳٦/۱، فصل فى ذكرسراويله و نعله و خاتمه و غير ذلک المطبوعة: المطبع النظامي، كانفور.

(۲) عن سويد بن قيس رضى الله عنه قال: اتانا النبى صلى الله عليه وسلم فساومنا سراويل (سنن ابن ماجة، ص: ۲٥٦، كتاب اللباس، باب لبس السراويل)

په ښځو کي هم(۱) لیکن اسراف پکي نه و. فقط و الله تعالی اعلم

د ښځو لپاره پراخ پرتوګ څنګه دی؟

سوال: (۲۸۹) پراخ پرتوګونه لکه چي د لکهنؤ په ښځو کي زیات رواج دی د ښځو لپاره شرعًا جائز دی او کنه؟ ځیني ښاغلي منع کوي چي پکي کشف د عورت راځي مګر دا وجه معقوله نه معلومیږي ځکه چي کشف د عورت خو د نارینه وو په پراخو پرتوګونو کي هم دی، هندا وجه ده چي ځیني بزرګان په ناسته ولاړه کي خیال ساتي او بل دا چي زیات د کشف عورت خیال خو په لنګ کي دی کوم چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کي په عربو کي عام رواج و او غالبًا اوس هم دی په پنجاب کي ډیر رواج دی، که وجه اسراف وي نو دا هم صحیح نه ده ځکه چي تنګ پرتوګونه ورته څلور ځیري شي دا یو لا هغه رنګه وي. بینوا توجروا (۲۹/۴۱۸-۱۳۳۰ه)

ځواب: د ښځو لپاره داسي خلاص پرتوګ جوړول چي پکي د کشف عورت څخه پرته اسراف یقیني دی ناروا دی، او دا شبه چي نارینه هم خلاص پرتوګونه اغوندي په هغه کي هم احتمال د کشف عورت شته صحیح نه ده چي د حرې ښځي ټول بدن عورت دی، د دې لپاره ټول غړي پټول ضروري دي، پرته له هغو د کومو استثناء چي فقهاء فرمایلې ده نو د ښځي پنډۍ هم واجب الستر ده(۲) په خلاف

---

(۱) حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله لیکي:

عن أم سلمة رضی الله تعالی عنها قالت لرسول الله صلی الله علیه وسلم:حین ذکر الإزار فالمرأة؟ یا رسول الله! قال: ترخي شبرًا فقالت: إذا تنکشف أقدامهن قال فیرخین ذراعًا. رواه أبو داؤد(مشکاة)

نبي علیه الصلاة و السلام د لنګ بیان وکړی نو ام سلمه رضی الله عنها(د نبي علیها الصلاة و السلام بي بي)پوښتنه ځني وکړه چي ښځه به یې څومره کښته کوي؟نبي علیه الصلاة و السلام وفرمایل(چي له نصف ساق څخه) یوه لوېشت دې ورته وویل چي که کله قدمونه ښکاره شي. وې فرمایل:نو یو لاس ئې دغه حدیث څخه په هغه زمانه کي د لنګ رواج کېدل ثابتیږي(القول الصواب فی تحقیق مسئلة الحجاب. ص ۲۰. دریمه حصه.تحقیق لباس ازواج مطهرات و بنات مقدسات. مطبوعة. مطبع احمدی لکهنؤ)

(۲) و للحرة و لو خنثی جمیع بدنها حتی شعرها النازل فی الأصح خلا الوجه و الکفین... و القدمین (الدر المختار مع الشامی ۲۹۷/۱ کتاب الصلاة، باب شروط الصلاة، مطلب فی سترالعورة. ط رشیدیه)

د نارینه چې د ده پنډۍ عورت نه ده او د فخذ(ورون) په عورت والي کې هم اختلاف دی که څه هم د احنافو مذهب د نارینه د فخذ د عورتوالي دی لیکن اختلاف د مجتهدینو(۱) باعث د خفت ضرور دی، لنډه دا چې په دې اړه ښځه پر نر قیاسول ډیر غلط کار دی، قال علیه الصلاة و السلام: المرأة عورة فإذا خرجت استشرفها الشیطان رواه الترمذی(۲) پرته له دې داسې پراخ پرتوګ لکه چې ښځې اغوندي په اولی طریقه د نارینه وو لپاره حرام او ناجائز دی.

او د اسراف کیدو دا شبه چې تنګ پرتوګونه ورته څلور خیرې شي الخ هم صحیح نه ده، ځکه چې په شریعت کې کوم اسراف منع دی په هغه کې لحاظ د هغه وخت دی چې کوم وخت د هغه استعمال وي، جامې باید د شریعت سره سمې وي، په دې کې دا وجه د شرعي امر د جواز د خلاف نشي کیدلای چې د شرعي په خلاف امر کولو کې دا ګټه ده او د شرعي سره سم کولو کې دا نقصان دی نو د استعمال پر مهال چې په کومه جامه کې اسراف دی هغه حرامه ده که څه هم هغه ډیر وخت تیروي او کومه جامه چې د شرعي سره سمه وي هغه ژر خیرې شي، په ډیر وخت تیرولو اسراف نشي جائز کیدلای. فقط

د ښځو جامې باید څنګه وي؟

سوال: (۲۹۰) ... (الف) د میرمنو لپاره شرعًا څرنګه جامې اغوستل جائز دي؟

(ب) ښځې چې لنګ وهلی وي څاه ته تللای شي او کنه؟

(ج) چې لنګ یې وهلی وي څاه ته ورشي هلته دا احتمال شته چې که ښځه حائضه وي نو شاید د وینې کوم څاڅکي به په څاه کې ولویږي ځکه چې په لنګ کې راګرځونکی ځای نه وي. (۱۳۴۲/۳۰۱هـ)

ځواب: (الف-ج) د میرمنو لباس باید داسې وي چې پکې پوره پرده وي نور نو کوم خاص

---

(۱) وهي للرجل ما تحت سرته إلى ما تحت رکبته، و شرط احمد ستر احد منکبیه ایضًا و عن مالک: هی القبل و الدبر، فقط (الدر مع الشامی ۲۹۷/۱ کتاب الصلاة مطلب فی ستر العورة. ط رشیدیه)

(۲) عن عبد الله رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: المرأة عورة الحدیث(جامع الترمذی: ۲۲۲/۱، أبواب الرضاع)

هیئت او صورت د لباس په شریعت کې معین نه دی، بلکه څرنګه لباس چې په کوم ملک کې رواج وي صحیح دی. په دې شرط چې پرده پکې پوره وي که لنګ وي او که پرتوګ، اما په دې کې شک نشته چې پرتوګ غوره دی تر لنګ، که څه هم د دې په جواز کې هم څه خبره نشته او د پردې مسئله بېله ده، د ښځو لپاره پرده ضروري او فرض ده، بېله پردې دباندې وتل حرام دي، و ښځو ته باید په کلکه وویل شي چې حتی الوسع بېله پردې بهر ته نه وزي، د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې د عربو هم غالب لباس قمیص او لنګ و، د ښځو لباس هم داسې و او ښکاره ده چې د ستمال هم په دې کې نه وي نو داسې فکر کول چې حیض د وینو څاڅکي به ولوېږي دا له توهماتو څخه دي، د داسې توهماتو په شریعت کې اعتبار نشته. فقط

سوال: (۲۹۱) د ښځو د پرتاګه پائڅې باید تنګې وي که پراخې؟ (۱۲۹۸/۱۳۳۹ھ)

ځواب: د ښځې لباس باید په پرده پوره د شریعت سره سم وي داسې پرتوګ نه دی پکار چې پکې بې پردګي وي او په کومه جامه کې چې پوره پرده وي هغه جائز ده. فقط

ساړۍ او لنګ وهل جائز دي او کنه؟

سوال: (۲۹۲) ... (الف) د ساړۍ استعمال د مسلمانو ښځو لپاره څنګه دی؟ که روا دی نو فضیلت په ساړۍ کې دی که په پرتوګ، قمیص او پړوني کې؟

(ب) د ساړۍ مخترع څوک دی؟ او رسول الله صلی الله علیه وسلم د ساړۍ په اړه څه فرمایلي دي او کنه؟ (۱۳۳۹/۳۳۲ھ)

ځواب: (الف) کوم ځای چې د ساړۍ رواج وي نو د ښځو لپاره اغوستل شرعًا منع نه دي اما په لباس کې دا خبره ضروري ده چې کشف د عورت به پکې نه وي او د ښځو لپاره افضل هغه لباس دی چې پکې ستر ډېر وي لکه قمیص، پرتوګ، پړونی.

(ب) دا معلوم نه دي چې مخترع د دې څوک دی، د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې عام رواج د دې نه معلومېږي نو د حدیثو د عامو الفاظو څخه اجازه ضرور راوځي. خو شرط دا دی چې بدن به پوره

پکي پټ وي. (۱)

سوال: (۲۹۳) د ښځو لپاره د هندوانو په رنګه ساړی او لنګ اغوستل څنګه دي؟ (۲۹/۴۲۳-۱۳۳۰هـ)

ځواب: د نرو او ښځو لپاره تشبه بالکفار جائز نه ده. (من تشبه بقوم فهو منهم)

د ښځو لنګ وهل

سوال: (۲۹۴) د ښځو لپاره لنګ وهل جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۵/۱۷۲۹هـ)

ځواب: شرعًا د لنګ په اړه کومه منع نشته نو کله چي ستر د عورت پکي پوره دی او په یو ښار او قوم کي د دې رواج شته نو هیڅ قباحت پکي نشته، په حدیث شریف کي راغلي دي: کل ما شئت و البس ما شئت ما اخطأتک اثنتان: سرف و مخیلة الحدیث(مشکاة المصابیح، ص: ۳۷۷، کتاب اللباس، الفصل الثالث) فقط

داسي لباس اغوستل چي پکي ورنونه ښکاره وي

سوال: (۲۹۵) د مکتب د طالبانو لپاره داسي جامې اغوستل چي ورنونه پکي ښکاره وي څنګه دي؟ (۱۳۳۹/۷۳۹هـ)

ځواب: داسي لباس اغوستل جائز نه دی چي پکي ورنونه ښکاره وي ځکه چي ورون هم عورت دی ستر یې لازم دی قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: الرکبة من العورة(۲) کذا نقله فی الشامی(۳) فقط

---

(۱) عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: کل ما شئت و البس ما شئت ما اخطأتک اثنتان: سرف او مخیلة، رواه البخاری (صحیح البخاری: ۸۶۰/۲ اوائل کتاب اللباس)

(۲) عن عقبة بن علقمة قال: سمعت علیا رضی الله عنه یقول: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: الرکبة من العورة(سنن الدار قطنی: ۸۵/۱ کتاب الصلاة باب الأمر بتعلیم الصلوات و الضرب علیها و حد العورة الذی یجب سترها، المطبوعة: المطبع الفاروقی، دهلی)

(۳) و هی للرجل ما تحت سرته إلی ما تحت رکبته (در مختار) فالرکبة من العورة لروایة الدار قطنی: ما تحت السرة إلی الرکبة من العورة (الدر المختار و رد المحتار ۲۹۷/۱ کتاب الصلاة باب شروط الصلوة مطلب فی ستر العورة. ط رشیدیه)

انګریزي جامې اغوستونکې ښځه طلاقول

سوال: (۲۹۶) یوه ښځه انګریزي جامې اغوندي که دا انګریزي جامې اغوستل نه پریږدي نو طلاق ورکول لازم دي او کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۲۵۸هـ)

ځواب: په دې وجه طلاق نه دی ورکول پکار. فقط

د ښځو لپاره جګې چوټې په پښو کول څنګه دي؟

سوال: (۲۹۷) د ښځو لپاره جګې څپلۍ په پښو کول جائز دي او کنه؟ په زیاتره کلیو کې داسې رواج دی او زیاتره دوی په ځنګل کې کار کوي لیکن هغه خاص پخپل پتي کې کوي او بېله دغه څپلیو په نورو چوټو کې کار نشي کولای آیا په دې کې څه تأویل کیدلای شي او کنه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۳۲۳هـ)

ځواب: جګې څپلۍ باید ښځې نکړي په پښو(۱) ځکه چې په دې کې د نرو سره مشابهت دی او په حدیث شریف کې پر دې وعید راغلی دی(۲) فقط

سوال: (۲۹۸) د ښځو لپاره جګې چوټې په پښو کول جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۲۵هـ)

ځواب: جګې څپلۍ د نرو په رنګه د ښځو لپاره په پښو کول ناروا دي لکه چې په حدیث شریف کې راغلي دي: عن ابن ابی ملیکة قال: قیل لعائشة رضی الله عنها: إن امرأة تلبس النعل، فقالت: لعن رسول

---

(۱) جګې څپلۍ یعني د جګو پوندو څپلۍ، مخکې د جګو پوندو چوټې صرف نارینه وو استعمالولې. ښځو نه استعمالولې اوس د ښځو د څپلیو پوندې هم جګې وي ځکه د جګو پوندو چوټې اوس د نارینه وو سره خاص نه دي د نرو د څپلیو په رنګه د ښځو څپلۍ هم د جګو پوندو والا وي ځکه ښځې زنانه څپلۍ چې لږ جګې وي استعمالولای شي اما ډیرې نرۍ او ډیرې جګې څپلۍ چې پکې د غوڅارېدو خطره وي مسلماني ښځې باید نکړي استعمال، ځکه چې په دې کې د فساقو، فجارو او کفارو سره مشابهت وي ۱۲ محمد امین پالن پوري

(۲) عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: لعن النبی صلی الله علیه وسلم المتشبهین من الرجال بالنساء و المتشبهات من النساء بالرجال(صحیح البخاری: ۸۷۴/۲ کتاب اللباس، باب: المتشبهین بالنساء و المتشبهات بالرجال)

الله صلی الله علیه وسلم الرجلة من النساء، رواه ابو داؤد.

و عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم الرجل یلبس لبسة المرأة و المرأة تلبس لبسة الرجل(۱) له دغه روایتونو څخه معلوم شو چې د ښځو لپاره د نرو په رنګه څپلۍ او جامې اغوستل صحیح نه دي. فقط

سوال: (۲۹۹) د ښځو لپاره جګې څپلۍ په پښو کول څنګه دي؟ (۱۳۴۱/۱۲۷۲هـ)

ځواب: جګې څپلۍ خو د نرو سره خاص دي او که ښځه يې په پښو کوي نو د نرو سره مشابهت راځي کوم چې منع دی او په حدیث شریف کې د داسې ښځې په هکله وعید راغلی دی چې په څپلیو کې د نرو مشابهت اختیاروئ، کما فی المشکاة فی باب الترجل: عن ابن ابی ملیکة قال: قیل لعائشة رضی الله عنها: أن امرأة تلبس النعل (أی التی یختص بالرجال فما حکمها؟) قالت: لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم الرجلة من النساء الخ(۲) (مرقاة: ۴۳۷/۴)

د نارینه لپاره د اوسپنې کړې په لاس کول

سوال: (۳۰۰) د نارینه لپاره د ګیلټو او اوسپنې کړې په لاس کول څنګه دي؟ (۱۳۳۵/۹۰۲هـ)

ځواب: د نارینه لپاره د اوسپنې کړې په لاس کول حرام دي. (۳) فقط

کوم ځای چې د هندوانو او مسلمانانو لباس یو وي نو څه کول پکار دي؟

سوال: (۳۰۱) ځینې ځایونه مسلمانان او هندوان یو ډول لباس استعمالوي د دې څه حکم دی

---

(۱) سنن ابی داؤد: ص: ۵۶۶، کتاب اللباس، باب فی لباس النساء.

(۲) مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح: ۳۱۳/۸ کتاب اللباس، باب الترجل، الفصل الثانی.

(۳) ځکه چې د اوسپینې کړې په لاس کول د هندوانو او سکهانو خوی دی او په حدیث کې راغلي دي: من تشبه بقوم فهو منهم(عن ابن عمر رضی الله عنهما، سنن ابی داؤد، ص: ۵۵۹ کتاب اللباس، باب فی لبس الشهرة)

په حدیث شریف کې راغلي دي: من تشبه بقوم فهو منهم(۱) (۲۵۰۴/۱۳۳۷هـ)

ځواب: په داسې ځای کې د تشبه حکم نه جاري کیږي، ځکه چې په کوم وطن کې چې کوم لباس په مسلمانانو کې رواج وي که څه هم په هندوانو کې هم هغسې وي هغه د تشبه بالکفار په وجه مستعمل او مروج نه دی (یعنې مسلمانان داسې لباس د کفارو سره د مشابهت په اختیارولو په غرض نه استعمالوي بلکه د مسلمانانو د لباس کېدو په وجه استعمالوي) لیکن په داسې صورت کې د اسلامي شریعت حکم دا دی چې مسلمانان باید په لباس کې امتیازي شان ولري تر څو د مسلمانانو او نا مسلمانو په لباس کې فرق ښکاره وي لکه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې مشرکانو هم لنګوټې (پګړۍ) تړلې نو رسول الله صلی الله علیه وسلم مسلمانانو ته امر وکړئ چې پر خولیو (ټوپیو) باندې لنګوټې تړې تر څو زموږ او د مشرکانو تر منځ فرق وي. عن رکانة رضی الله عنه عن النبي صلی الله علیه وسلم قال: فرق ما بیننا و بین المشرکین العمائم علی القلانس، رواه الترمذی (مشکاة المصابیح، ص: ۳۷٤ کتاب اللباس الفصل الثانی) محمد امین پالن پوري)

د شملې سنت طریقه

سوال: (۳۰۲) د لنګوټې شمله باید مخته وي که شاته؟ دوې شملې ورکول څنګه دي مخ او شاته؟ یو سړی وایي چې مکروه دي. (۲۸۲/۱۳۳۷هـ)

ځواب: په شامي کې راغلي دي چې شمله پر ملا باندې د اوږو تر منځ کول مستحب دي و عبارته: و أن المستحب إرسال ذنب العمامة بین الکتفین(۲) او په ترمذي شریف کې راغلي دي: کان النبي صلی الله علیه وسلم إذا اعتم سدل عمامته بین کتفیه(۳) د شامي له روایت او د ترمذي له حدیث څخه معلوم شو چې یوه شمله ورکول سنت دي او هغه به د اوږو تر منځ وي لیکن په یو بل روایت کې دا هم راغلي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه ته لنګوټه وروتړله، شمله یې مخ او

---

(۱) سنن ابي داؤد: ص: ۵۵۹ کتاب اللباس، باب فی لبس الشهرة.

(۲) حاشیة ابن عابدین علی الدر المختار: ۵۳۳/۵ کتاب الخنثی، مسائل شتی. ط رشیدیه

(۳) عن ابن عمر رضی الله عنهما قال: کان النبي صلی الله علیه وسلم الحدیث (جامع الترمذی: ۳۰٤/۱ ابواب اللباس، باب ما جاء فی العمامة السوداء)

شا دواړو ته پرېښوده(۱) نو ممکنه ده چي د ضرورت په وجه دي داسي شوي وي مثلاً تر لنګوټې تړلو وروسته څه زيات نه شوه نو هغه يې مخته پرېښودل يا يې د جواز د بيان لپاره داسي کړي وي لنډه دا چي جواز د دې هم ثابت دی لهذا محل د طعن نه دی. فقط

په لنګوټه کي ګل تمبل

سوال: (۳۰۳) د دوهمي ډلي تېنګار دی چي په لنګوټه کي يو ډول ګل تمبل ناوړه او ناروا دی، مولوي صاحب ورته مباح وايي. (۱۴۲۲/۱۳۳۸هـ)

ځواب: دې ته ناوړه او ناروا نه شي ويلای اما سنت او مستحب کېدل يې هم نه دی ثابت. فقط

پر خولۍ لنګوټه تړل بهتر دي

سوال: (۳۰۴) تر لنګوټې لاندي خولۍ پر سر کول ضروري دي او کنه؟ (۱۷۱۹/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: پر خولۍ لنګوټه تړل هم بهتر دي. (۲) فقط

لنګوټه بايد څومره وي

سوال: (۳۰۵) پټکی بايد څومره اوږد وي؟ د دې په اړه کوم حديث هم شته؟ که شمله نه وي نو د سنت خلاف دي؟ او شمله بايد څومره وي؟ (۱۰۵۴/۱۳۳۷هـ)

ځواب: د لنګوټې د اوږدوالي شرعًا کوم تحديد نشته، څومره چي د سړي سره وي او معروف او مروج وي صحيح ده او د رسول الله صلی الله عليه وسلم د عمامې اووه ذراع او دوولس ذراع کېدل منقول دي. و قد قال الجزري في تصحيح المصابيح قد تتبعت الكتب و تطلبت من السير و التواريخ لأقف

---

(۱) عن عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه يقول: عممنی رسول الله صلی الله عليه وسلم فسدلها من بين يدی و من خلفی(سنن ابی داؤد، ص: ٥٦٤، كتاب اللباس، باب فی العمائم)

(۲) عن ركانة رضی الله عنه عن النبی صلی الله عليه وسلم، قال: فرق ما بيننا و بين المشركين العمائم علی القلانس(مشكاة المصابيح ص: ٣٧٤ كتاب اللباس، الفصل الثانی)

على قدر عمامة النبي صلى الله عليه وسلم، فلم أقف على شئ حتى أخبرني من أثق به انه وقف على شئ من كلام النووى ذكر فيه أنه كان له صلى الله عليه وسلم عمامة قصيرة و عمامة طويلة و أن القصيرة كانت سبعة اذرع، و الطويلة اثنا عشر ذراعا(۱) (مرقاة) او په در مختار کې راغلي دي چې شمله ورکول مستحب دي په دې کې درې قوله دي تر وسط ظهر پورې یا تر موقع جلوس پورې یا یوه لوېشته. (۲)

پر سر دستمال تړل د لنګوټې کار کوي او کنه؟

سوال: (۳۰۶) لنګوټه خو اووه یا یوولس ګزه وي نن صبا چې ملا امام پر سر دستمال وپیچي دا به څه ډول عمامه وي؟ (۷۰۷/۲۹-۱۳۳۰ھ)

ځواب: د اوو یا یوولسو ګزو تحدید شریعت نه دی کړی، په عرف کې چې کومې ته عمامه ویل کیږي پر هغه د عمامې اطلاق کیږي. فقط

بېله لنګوټې په خولۍ کې لمونځ کول

سوال: (۳۰۷) که د چا سره لنګوټه وي او نه یې تړي نو څنګه دی؟ (۴۲۳/۲۹-۱۳۳۰ھ)

ځواب: لنګوټه که ورسره وي او نه یې تړي نو د اولی خلاف دي، كما في شرح منية المصلى المعروف بكبيرى، ص: ۳۳۷، و المستحب أن يصلى الرجل فى ثلاثة اثواب: إزار و قميص و عمامة، و لو صلى فى ثواب واحد متوحشا به جميع بدنه كما يفعله القصار فى المقصرة جاز من غير كراهة الخ(۳)

سوال: (۳۰۸) که څوک په لمانځه کې لنګوټه و نه تړي نو څه نقصان لري؟ عمامه به څومره وي او

---

(۱) مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح: ۲۵۰/۸ كتاب اللباس، الفصل الثاني.

(۲) و إرسال ذنب العمامة بين كتفيه إلى وسط الظهر، و قيل: لموضع الجلوس، و قيل: شبر(الدر مع الرد ۵۳۳/۵ كتاب الخنثى، مسائل شتى. ط رشيديه)

(۳) غنية المستملى شرح منية المصلى، ص: ۳۰۳، فصل فى صفه الصلاة.

شمله به په څه اندازه وي؟ (۵۸/۴۴-۱۳۴۵ھ)

ځواب: ښېله لنګوټې هم لمونځ ښېله کراهيته صحيح کيږي خو په لنګوټه سره افضل او مستحب دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم به زیاتره لنګوټه تړله او د عمامې کوم مقدار لازم نه دی، له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه هم د بیلا بیلو مقدارو لنګوټې ثابتې دي، څرنګه چې عادت او عرف وي هغسې لنګوټه تړئ او شمله باید تر ملا پورې وي. فقط

د نارینه لپاره د ګلونو امیل یا کړه استعمالول

سوال: (۳۰۹) د ګلونو غاړکۍ او کړه د نارینه لپاره استعمالول جائز دي او کنه؟ (۲۵۱۵/۱۳۴۰ھ)

ځواب: دا ښه نه دي په دې کې تشبه بالنساء او نور دي. فقط

په کوم ځای کې عطر لګول سنت دي؟

سوال: (۳۱۰) په کوم کوم ځای کې عطر لګول سنت دي؟ (۱۳۰/۴۴-۱۳۴۵ھ)

ځواب: په حدیثو کې راغلي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خوشبو خوښوله(۱) لهذا چیرې چې مناسب وي او کوم وخت چې مناسب وي عطر لګول ښه دي. فقط

د نارینه لپاره سره او سپین زر کارول څنګه دي؟

سوال: (۳۱۱) د نارینه لپاره څومره سره سپین زر استعمالول جائز دي؟ (۱۸۰/۲۹-۱۳۳۰ھ)

ځواب: د نارینه لپاره سره او سپین زر استعمالول صحیح نه دي کما فی الدر المختار: و لا یتحلی الرجل بذهب و فضة إلخ (۲)

---

(۱) عن أنس رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: حبب إلی من الدنیا النساء و الطیب و جعل قرة عینی فی الصلاة (سنن النسائی: ۷۷/۲، کتاب عشرة النساء، باب حب النساء)

(۲) الدر المختار مع الرد: ۲۵۳/۵ کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی اللبس. ط رشیدیه

اما د ګړۍ زنځیر او بټن د سرو او سپینو زرو صحیح دي (۱) که څه هم تقوی او احتیاط په ترک کې دي او د څلورو ګوتو په اندازه د ګلابتونو د کار کپړه صحیح ده. له دې څخه زیاته صحیح نه ده او د ټاپې ګوتمۍ د دریو څلورو ماشو صحیح ده(۲) فقط

د نارینه لپاره د هیرې ګوتمۍ په ګوته کول څنګه دي؟

سوال: (۳۱۲) د نارینه لپاره د هیرې او نورو استعمال روا دی که ناروا؟ (۱۳۲۸/۱۴۲۵ھ)

ځواب: د ګوتمۍ غمی که د هیرې یا عقیق او نورو وي دې ته ځینې فقهاء جائز فرمایلي دي (۳)

زرینه خولۍ پر سر کول

سوال: (۳۱۳) د نارینه لپاره خالصه زرینه خولۍ پر سر کول څنګه ده او څومره صحیح ده؟ (۱۸۰/۲۹-۱۳۳۰ھ)

ځواب: د زرو په تارو جوړه شوې خولۍ د نارینه لپاره صحیح نه ده اما که د څلورو ګوتو په اندازه پکې د زرو تراوونه کارول شوي وي نو صحیح دي.(۴) او د دې هم ترک اولی دی فقط

---

(۱) اصح خبره دا ده چې د نرو لپاره د ګړۍ زنځیر او د سرو سپینو زرو بټن استعمال منع او تحریمي مکروه دي. په عین الهدایه کې راغلي دي: که د ګړۍ حلقه او زنځیر د سرو او سپینو زرو وي نو د نارینه وو لپاره استعمال منع او تحریمي مکروه دي(عین الهدایة شرح الهدایة: ۲۱٦/٤ کتاب الکراهیة، فصل فی الأکل و الشرب) او د نرو لپاره د سرو او سپینو زرو بټنان حرام دي دلیل یې پر مخ راغی. محمد امین پالن پوري

(۲) قوله: (و لا یزیده علی مثقال) و قیل: لا یبلغ به المثقال، ذخیرة(الشامی ٥/٢٥٥ کتاب الحظر و الإباحة. فصل فی اللبس. ط رشیدیه)

(۳) و رد النص بجواز التختم بالعقیق و قال علیه الصلاة و السلام: تختموا بالعقیق فإنه مبارک الحدیث. و فی الحاوی: و لا بأس أن یتخذ الرجل خاتم فضة. فإن جعل فصه من عقیق او یاقوت او فیروزج او زمرد فلا بأس به(تکملة البحر الرائق: ۳۵۰/۹. کتاب الکراهیة. فصل فی اللبس)

(٤) فی الفتاوی الهندیة: یکره أن یلبس الذکور قلنسوة من الحریر او الذهب او الفضة او الکرباس الذی خیط علیه إبریسم کثیر او شئ من الذهب او الفضة اکثر من قدر اربع اصابع اهـ (رد المحتار ٥/٢٤٩ کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی اللبس. ط رشیدیه)

د نارینه لپاره د سرو او سپینو زرو بټنان استعمالول څنګه دي؟

سوال: (۳۱۴) د سرو زرو او سپینو زرو بټنان د نارینه وو لپاره استعمالول جائز دي او کنه؟ که جائز دي نو په څومره اندازه؟ (۳۲/۱۸۷-۱۳۳۳هـ)

ځواب: د سرو زرو او سپینو زرو بټنان د نارینه وو لپاره استعمالول صحیح دي او د دې لپاره کوم معین مقدار نشته چې تر هغه مقداره دي جائز وي او تر هغه زیات دي ناجائز وي په شامي کې راغلي دي: و فی التاترخانیة عن السیر الکبیر: لا بأس بأزرار الدیباج و الـذهب إلخ(۱) له دغه عبارت څخه صفا ښکاره دي چې د سرو او سپینو زرو بټنان د نارینه وو لپاره جائز دي

د ترتیب کونکي اضافه:

د حضرت تهانوي رحمه الله هم لومړی همدا رایه وه بیا ده له دې څخه رجوع وکړه په امداد الفتاوی کې راغلي دي:

سوال: (۱۳۷) د لاندې خبرو په هکله پوښتنه لرم، په تفصیل او دلائلو ښائسته جواب راکړي د "صفایي معاملات" له عبارت څخه معلومیږي چې د سرو او سپینو زرو بټنان استعمالول مطلقًا جائز دي، وزن که هر څومره وي او زنځیر ورسره که یو وي او که زیات او زنځیر سره زنګوله وي او که نه وي ښیله کراهیته جائز دي ما د دغه جزئي په هکله ځیني کتابونه وکتل نو زما په خیال د دې په اړه د در مختار دا عبارت راغلی: فی التاترخانیة عن السیر الکبیر لا بأس بأزرار الدیباج و النهب (الـدر المختار و الشامی ۵/۲۵۰ کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی اللبس. ط رشیدیه) او د عالمګیري دا عبارت: فی السیر الکبیر: لا بأس بلبس الثوب فی غیر الحرب إذا کان أزراره دیباجا او ذهبا کذا فی الذخیرة (الفتاوی الهندیة: ۵/۳۳۲ کتاب الکراهیة، الباب التاسع فی اللبس ما یکره من ذلک و ما لا یکره)

زما په ذهن کې چې د دغه عبارت کوم مطلب راغلی دی هغه دا سې دی: دا زرار ذهب څخه مراد د ګلابتونو بټنې ده چې د کپړې سره ګنډلي وي، خالص د سرو زرو بټنې مراد نه ده چې د کپړې څخه بېله وي په قرینه د ازرار الدیباج او په قرینه د دې چې چیري په ملبوساتو کې د فضه او ذهب یادونه ده لکه در مختار: لا یکره علم الثوب من الفضة و یکره من الـذهب (الدر المختار مع الشامی ۵/۲۵۰ کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی اللبس. ط رشیدیه)

---

(۱) الدر مع الرد ۵/۲۵۰ کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی اللبس. ط رشیدیه

له دې څخه مراد ګلابتون دی، خالصه د ذهبو او فضه ټوټه نه ده مراد، دا خو په زیور کې راځي او د سرو او سپینو زرو زیور خو د نارینه لپاره مطلقًا منع دي پرته له یو څو شیانو چې د آثا ر و په راتلو د هغوی رخصت ثابت دی او بټن په دغه مستثنیاتو کې نه دی، لکه چې له در مختار او شامي څخه څرګند دي: في الدر المختار: و لا يتحلى الرجل بذهب و فضة مطلقا إلا بخاتم و منطقة و حلية سيف منها أى الفضة إذا لم يرد به التزين و في الشامي: قوله: (منها أى الفضة) لا من الذهب "درر" و قال في "غرر الأفكار" حال كون كل من الخاتم و المنطقة و الحلية منها: أى الفضة لورود آثار اقتضت الرخصة منها في هذه الأشياء خاصة اهـ (الدر مع الشامي ۲۵۳/۵ كتاب الحظر و الإباحة، فصل في اللبس. ط رشيديه)

او د ازرار الذهب څخه چې د ګلابتونو بټني مراد وا خلې نو دا د کپړې تابع دي او بټن د زرو خو په اوس زمانه کې مستقل زیور دی، نن صبا خلک د ښائست لپاره دوه، درې، څلور زنځیرونه لګوي او په ځینو زنځیرونو کې ذي روح تصویرونه هم جوړ وي او څوک پکې غوټۍ لګوي چې د تیز تلو پر مهال شرنګې کوي او ځینې پکې ملغلرې لګوي او د لګولو اطلاق وړاندې کیږي ویل کیږي "د سرو زرو بټن ولګوه" یا "د سپینو زرو بټن ولګوه" او بټن له کپړې څخه جلا کیدلای شي د خالصه وربښمو پرتوګانې په رنګه چې د پرتاګه د تابع والي باوجوده ناجائز دي، دا ټولې علامې د بټنو ځان ته زیور کیدو دي او که په أزرار الذهب کې د ګلابتونو او سرو زرو دواړو د بټنو کیدو احتمال شته نو د قاضي خان په دغه قول: و لا رخصة للرجل فيما يتخذ من الذهب و الفضة مفضضا أو مذهبا ما خلا الخاتم من الفضة و حليـة السـيف و السلاح لرخصة جاءت فيه اهـ (الفتاوى الخانية مع الهندية: ۴۱۳/۳ كتاب الحظر و الإباحة باب مـا يكره من الثياب و الحلى و الزينة و ما لا يكره الخ) د بټن احتمال مرتفع شو نو د کپړې بټن پاتې شو.

او که تیرې ټولې خبرې پریږدو له أزرار الذهب څخه خالص د سرو زرو بټن مراد وا خلو بیا هم د هغه د استعمال ترک اولی معلومیږي لکه چې د لا بأس له کلمې څخه معلومیږي د شامي په باب مکروهات الصلاة کې راغلي دي: قال في النهاية: لأن لفظ لا بأس دليل على أن المسـتحب غيره لأن البأس الشدة (كتاب الصلاة ۴۸۷/۱ ط رشيديه)

او بله دا چې په اوس زمانه کې زیاتره خلک یې د فخر، زینت او نامه لپاره لګوي کوم چې د منع اسباب دي د نعمت د اظهار لپاره نه وي، ځکه زیاتره علماء او صلحاء یې نه لګوي، بلکې زیاتره جهال او فساق یې لګوي اوس خبره دا ده چې د سرو زرو او سپینو زرو د بټنو جواز د همدغه ذکر شوي عبارت څخه دی نو د دې تشریح او د شبهاتو تفصلي دفع بیان کړی یا په نور نصوصو او فقهي تصریحاتو د دې جواز په تفصیل سره ولیکي،

تر څو اطمینان وشي.

ځواب: څه موده کېږي د حضرت مولانا قاري عبد الرحمن پاني پتي رحمه الله قول چي له ازرار څخه مراد د ګلابتونو بټنان دي خاص د سرو او سپينو زرو بټنان په دې کي داخل نه دي، د ده له زوی قاري عبد السلام مرحوم څخه مي واورېدل نو د "صفايي معاملات" په دغه مسئله کي شکمن شوم اوس د احتياط په درجه کي له هغه څخه رجوع کوم (امداد الفتاوی ۴/۱۳۰-۱۳۲)

داغه راز د حضرت تهانوي رحمه الله له لاندي ليکل شوي فتوی څخه هم دا خبره څرګندېږي چي د نارينه لپاره خالصه د سرو او سپينو زرو بټنان استعمالول جائز دي.

سوال: (۱۵۲) د کوټ بټنان چي د لاندي خوا چادر پورته ښکر او پر شا وخوا باندي سپين زر لګيدلي دي چي تقريبًا د بټني اتمه برخه هم نه جوړېږي داسي بټنان استعمالول څنګه دي؟ داسي بټنان مي د حيدر آباد په سفر کي هم د رښکاره کړي و.

ځواب: في الدر المختار: بعد ما ذكر حكم المفضض و شرط جواز استعماله من اتقاء موضع الفضة ما نصه(و حل الشرب من إناء مفضض ... و الركوب على سرج مفضض و الجلوس على كرسى مفضض و لكن بشرط أن يتقى أى يجتنب موضع الفضة...) و كذا الإناء المضبب بذهب او فضة و الكرسى المضبب بهما و حلية مرآة و مصحف بهما و فى رد المحتار: قوله: (و حلية مرآة) الذى فى المنح و الهداية و غيرهما: حلقة بالقاف، قال: فى الكفاية: و المراد بها التى تكون حوالى المرآة لا ما تأخذ المرأة بيدها فإنه مكروه اتفاقًا.

(الدر المختار مع الشامى ٢٤٢/٥ اوائل كتاب الحظر و الإباحة. ط رشيديه)

دغه سپين زر چي د آئيني د حلقې په څېر لګيدلي دي د جواز شرط يې دا دی چي لاس به ورسره نه لګيږي او داسي دلته ممکن نه دي لهذا د دې استعمال ناجائز دی (امداد الفتاوی: ۱۳۸/۴ ط، زکريا بک ډپو ديوبند)

د ګيلټو او زيړو بټنان استعمال

سوال: (۳۱۵) د ګيلټو او زيړو بټنان استعمالول جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۸/۲۰۴۱هـ)

ځواب: مکروه دي. (۱) فقط

---

(۱) حضرت مفتی صاحب د ګيلټو او زيړو بټنان استعمالول مکروه ليکلي دي، په ظاهره د دې بنياد د شامي دا عبارت دی: و التختم بالحديد و الصفر و النحاس و الرصاص مكروه للرجال –

د نارينه د ګړۍ زنځير كه د سرو يا سپينو زرو وي؟

سوال: (۳۱۲) د سرو زرو زنځير چي د ګړۍ وي يا د سرو زرو بټن يا د سپينو زرو زنځير او د سپينو زرو بټن لګول جائز دي او كنه؟ (۱۲۵۷/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: د سرو زرو او سپينو زرو بټنان يې په در مختار كي صحيح بللي دي(۱) لا بأس بأزرار الديباج و الذهب(۲) او د سرو سپينو زرو او وريښمو زنځير د جواز عبارت هم له شامي څخه معلوميږي(۳)

= و النساء الخ(رد المحتار ۲۵۳/۵ كتاب الحظر و الإباحة فصل فى اللبس) مګر حضرت تهانوي رحمه الله د دې عبارت مطلب دا ليكلى دى چي د ښځو او نرو لپاره د او سپيني، ګيلټو او سرفو ګوتمۍ په لاس كول مكره دي له ګوتمۍ څخه پرته د اوسپيني. زيرږو، ګيلټو او سرفو زيور د ښځو لپاره جائز دي او دليل يې دا ليكلى دى چي په نصوصو كي مخالف مفهوم ته اعتبار نشته، د فقهاء په روايتونو كي معتبر دى. د حضرت تهانوي رحمه الله له دغه دليل څخه دا خبره څرګنده شوه چي د ښځو او نرو لپاره د ګيلټو، زيرږو او نورو بټنان استعمالول جائز دي او بله خبره دا ده چي علماء صلحاء بيله نكيره د سرو او سپينو زرو څخه پرته د نو فلزو بټنان استعمالوي د علماء صلحاء دغه تعامل پر جواز دلالت كوي د حضرت تهانوي رحمه الله استدلال وګورئ.

سوال: (۱۴۵) په بهشتي زيور كي مي د زيرږو، سرفو، ګيلټو او نورو د جواز مسئله تر نظر تېره شوه د دغه مسئلي جزئي راته وليكئ.

ځواب: فى الدر المختار: و لا يتختم إلا بالفضة... فيحرم بغيرها كحجر... و ذهب و حديد و صفر و رصاص و زجاج الخ(الدر مع الرد ۲۵۳/۵ كتاب الحظر و الإباحة. فصل فى اللبس. ط رشيديه) قلت و قد تقرر فى محله أن مفاهيم الروايات حجة، د بيان شويو جزئي او كلي پر اساس ثابت شو چي له ګوتمۍ څخه پرته بل زيور د حديد و صفر. نحاس او رصاص د ښځو لپاره جائز دي (امداد الفتاوى: ۱۳۵/۴-۱۳۲، ط زكريا ديوبند)

(۱) په دغه مسئله كي اختلاف دى اصح عدم جواز دى وګوره د سوال (۳۱۴) اضافه ۱۲

(۲) الدر مع الشامى ۲۵۰/۵ كتاب الحظر و الإباحة. فصل فى اللبس. ط رشيديه

(۳) مګر حضرت تهانوي رحمه الله په امداد الفتاوى كي ليكلي دي چي د كومي ګړۍ مخ د سپينو زرو وي د هغه استعمال جائز نه دى قياسًا على المرآة من الفضة(امداد الفتاوى ۱۳۳/٤) دا غه راز چي د ګړۍ زنځير پر مخ قياس كړي ناروا ورته ويل اصح معلوميږي. محمد امين پالن پوري

بقى الكلام فى بند الساعة الذى تربط به و يعلقه الرجل بزر ثوبه. و الظاهر أنه كبند السبحة الذى تربط به إلخ (۱)

سوال: (۳۱۷) د نارینه لپاره د سرو او سپینو زرو بټنان او د ګړۍ زنځیر استعمالول څنګه دی؟ (۲/۲۱۵۷-۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: د نارینه لپاره د سپینو او سرو زرو بټنان او د ګړۍ زنځیر استعمالول جائز دي(۲) په در مختار کې راغلي دي: و لا بأس بأزرار الديباج و الذهب إلخ(۳) او په شامي کې راغلي دي: بقى الكلام فى بند الساعة الذى تربط به و يعلقه الرجل بزر ثوبه. الظاهر أنه كبند السبحة الذى تربط به إلخ. (۴)

د نارینه لپاره د سرو او سپینو زرو د زنځیر بټنان لګول

سوال: (۳۱۸) د نارینه لپاره د سرو او سپینو زرو بټنان د زنځیر سره لګول څنګه دي؟ (۱۳۳۷/۲۲۲۹هـ)

ځواب: صحیح دي(۴) كما فى الدر المختار: و لا بأس بأزرار الديباج و الذهب(۵)

---

(۱) الشامى ٥/٢٤٩ كتاب الحظر و الإباحة، فصل فى اللبس. ط رشيديه

(۲) الدر مع الرد ٥/٢٥٠ كتاب الحظر و الإباحة، فصل فى اللبس. ط رشيديه

(۳) صحیح خبره دا ده چې ناروا دي په احسن الفتاوی کې راغلي دي:

سوال: یو مولوي صاحب وايي چې د نارینه لپاره د سرو او سپینو زرو بټنان جائز دي حواله د فتاوی رشیدیه ورکوي. آیا دا سې صحیح دي؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: جائز نه دي، قال الحصكفى رحمه الله تعالى: لا بأس بأزرار الديباج و الذهب(الدر مع الشامى ٥/٢٥٠ كتاب الحظر و الإباحة، فصل فى اللبس. ط رشيديه) د ځینو دا خیال له دې څخه شوی دی چې: سرو زرو بټنان جائز دي خو دا سې صحیح نه دي ځکه چې ازرار د کپړې و صدف ته وايي و بټن ته نه وايي: کپړې صدف د کپړې تابع وي، بټن تابع نه وي ځکه د سرو زرو او د سپینو زرو د تارو صدف جائز دی بټن جائز نه دی و الله سبحانه و تعالى علم(احسن الفتاوی: ۷۰/۸ کتاب الحظر و الإباحة. ط زکریا بک ډپو دیوبند)

(۴) صحیح خبره دا ده چې د نارینه لپاره د سرو سپینو زرو بټنان او د ګړۍ زنځیر استعمالول ناجائز او حرام دي ۱۲ محمد امین پالن پوري

(۵) الدر مع الرد ٥/٢٥٠ كتاب الحظر و الإباحة، فصل فى اللبس. ط رشيديه

او زنځير تابع دی ځکه هغه هم صحيح دی. فقط

د نارينه لپاره ملغلري او نور جواهرات استعمالول حرام دي

سوال: (۳۱۹) د نارينه لپاره صفا ملغلري يا جواهرات: عقيق، فيروزه او نور استعمالول جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۵/۱۳۴۸هـ)

ځواب: په در مختار کي له اختلاف رانقلولو وروسته راغلي دي: فالمعتمد فی المذهب حرمة لبس اللؤلؤ و نحوه على الرجال لأنه من حلى النساء إلخ(۱) يعني معتبر مذهب دا دی چي د نرو لپاره ملغلري او نور جواهرات استعمالول حرام دي.

د نارينه لپاره صرف د څلور نيمو ماشو سپينو زرو ګوتمۍ روا ده

سوال: (۳۲۰) د نارينه لپاره د يوې تولې ګوتمۍ په ګوته کول روا دي او کنه؟ (۱۳۳۷/۱۲۰۲هـ)

ځواب: د يوې تولې سپينو زرو ګوتمۍ د نارينه لپاره ناجائز او حرامه ده صرف د يوه مثقال په اندازه يعني څلور نيمي ماشې د سپينو زرو ګوتمۍ د تاپې د نارينه لپاره صحيح ده كذا فی الدر المختار.(۲)

د نارينه لپاره د سرو زرو ګوتمۍ حرامه ده

سوال: (۳۲۱) د نارينه لپاره د سپينو او سرو زرو ګوتمۍ څنګه ده؟ که جائز ده نو څومره وزن به يې وي؟ (۱۳۳۷/۲۱۹۸هـ)

ځواب: د سرو زرو ګوتمۍ د نارينه لپاره روا نه ده او د سپينو زرو ګوتمۍ چي پکي تاپه وي د يو مثقال يعني څلور نيمو ماشو تر اندازې صحيح ده ليکن د کومو خلکو چي و تاپه لګولو ته ضرورت نشته د هغوی لپاره يې نه استعمالول بهتر دي.(۳)

---

(۱) الدر المختار مع الشامی ۲۹۸/۵ كتاب الحظر و الإباحة، فصل فی البيع. ط رشيديه

(۲) قوله (و لا يزيده على مثقال) و قيل: لا يبلغ به المثقال ذخيرة (الشامی ۲۵۵/۵ كتاب الحظر و الإباحة، فصل فی اللبس. ط رشيديه)

(۳) التختم إنما يكون سنة إذا كانت له حاجة إلى التختم بأن كان سلطانا او قاضيا، أما إذا لم يكن محتاجا إلى التختم فالترك أولى (الفتاوی السراجية ص: ۳۲۹ كتاب الكراهية و الاستحسان، باب اللبس، المطبوعة: مكتبة الاتحاد ديوبند)

سوال: (۳۲۲) د نارینه لپاره د سرو او سپینو زرو ګوتمۍ تر څو مره اندازې استعمالول پکار دي؟ (۱۴۲۷/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: د نارینه لپاره د سرو زرو ګوتمۍ روانه ده او د سپینو زرو ګوتمۍ تر یو مثقال پورې صحیح ده. فقط

د ښځو په پزه زیور کول

سوال: (۳۲۳) نتکۍ، چارګل او نور چې عمومًا په هندوستان کې ښځې په پزه کوي که د زینت په توګه وي نو شرعًا څه فتوی ده؟ شرک او بدعت خو به نه وي، په ظاهر خو مباح معلومیږي؟ (۲۹/۴۱۸-۱۳۳۰هـ)

ځواب: د زینت په توګه فقهاء دغه شیان جائز بللي دي(۱) که اساس د دغه زیور د استعمال کومه بله خبره وي او د کفارو د رسم اتباع وي نو بیا یې په حرمت کې شک نشته. فقط

د ښځې پزه او غوږونه سوري کول او پکې زیور اچول

سوال: (۳۲۴) د ښځو غوږونه او پزه سوري کول جائز دي او کنه؟ او د بي بي عائشې رضي الله عنها غوږونه پزه سوري وو او کنه؟ (۹۱۸/۱۳۳۵هـ)

ځواب: د بخاري او مسلم په حدیث کې راغلي دي: ثم أتى النساء فوعظهن و ذكرهن و أمرهن بالصدقة فرأيتهن يهوين إلى آذانهن و حلوقهن يدفعن إلى بلال الحديث أى حليهن من القرط و القلادة(۲) (لمعات) په دغه حدیث سره دا ثابت شو چې د رسول الله صلى الله علیه وسلم په

---

(۱) وهل يجوز الخزام فى الأنف لم أره او په شامي کې راغلي دي: قوله: (لم أره) قلت: إن كان مما يتزين النساء به كما هو فى بعض البلاد فهو فيها كثقب القرط اهـ ط و قد نص الشافعية على جوازه مدنى(الدر و الرد ۵/۲۹۸ كتاب الحظر و الإباحة فصل فى البيع. ط رشيديه)

(۲) عن ابن عمر رضى الله عنهما قال: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم ... و سئل =

زمانه کي د صحابیاتو په غوږونو کي زیور وو او کله چي د غوږونو زیور ثابت شول نو سوري کول د غوږونو هم ثابت شو ، پاته شوه د پزي سوري کول د هغه په اړه په در مختار کي راغلي دي: و هل یجوز الخزام فی الأنف؟ لم أره او په شامي کي راغلي دي: قوله: (لم أره) قلت: إن کان مما یتزین النساء به کما هو فی بعض البلاد فهو فیها کثقب القرط اهـ ط و قد نص الشافعیة علی جوازه مدنی(۱) (شامی) (۵/ ۲۷۰ الحظر و الإباحة) نو د شامي له دغه عبارت څخه جواز معلوم شو. فقط

سوال: (۳۲۵) غوږونه او پزه سوري کول جائز دي او کنه؟ (۱۱۲۷/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: د فقهي له کتابونو څخه ظاهرًا د دې جواز معلومیږي په در مختار کي راغلي دي: و لا بأس بثقب أذن البنت الخ(۱) و فی الحدیث ما یدل علی هذا (۲) و هل یجوز الخزام فی الأنف؟ لم أره(در مختار) قال فی الشامی: قلت: إن کان مما یتزین النساء به کما هو فی بعض البلاد فهو فیها کثقب القرط اهـ ط ، و قد نص الشافعیة علی جوازه، مدنی(۳) فقط

سوال: (۳۲۶) د ښځو لپاره نتکۍ او چارګل په پزه کول جائز دي او کنه؟ (۱۵۲۹/۱۳۳۵هـ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: و هل یجوز الخزام فی الأنف لم أره الخ ترجمه: او آیا نتکۍ او نور په پزه کول جائز دي؟ ما دا نه دي لیدلي پر دې علامه شامي رحمه الله له طحطاوي څخه رانقل کړي دي قلت: و إن کان مما یتزین النساء به کما هو فی بعض البلاد فهو فیها کثقب القرط. ط و قد نص الشافعیة علی جوازه، مدنی(۳) (شامی) د دې حاصل دا دی چي په کومو بلادو کي د نتکۍ عادت دی او په زینت کي داخله ده هلته جائز ده له دې څخه معلومیږي چي په هندوستان کي جائز دي. فقط

=ابن عباس أشهدت مع رسول الله صلی الله علیه وسلم العید؟ قال: نعم، خرج رسول الله صلی الله علیه وسلم فصلی ثم خطب... ثم أتی النساء فوعظهن الحدیث، و بین السطور تحت قوله صلی الله علیه وسلم آذانهن و حلوقهن أی حلیهن من القرط و القلادة، لمعات(مشکاة المصابیح، ص: ۱۲۵ کتاب الصلاة، باب صلاة العیدین الفصل الأول)

(۱) الدر و الرد ۲۹۸/۵ کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی البیع. ط رشیدیه

(۲) د دغه حدیث تخریج په مخکي سوال کي تېر شو.

(۳) الدر مع الرد ۲۹۸/۵ کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی البیع. ط رشیدیه

د پای زیب او نورو زیوراتو حکم

سؤال: (۳۲۷) په کینه کي د ښځي لپاره کومه کینه(زیور) استعمالول منع دي؟ په تېره بیا پای زیب چي پکي زنګولې نه وي او په تګ کي شرنګار نه کوي او هغه کړې چي پر پای زیب سربېره په پښو کوي په تګ کي لږ غوندي شرنګار وي او جانور چي شرنګار کوي او آرسي آئینه دار(۱) صحیح دي کنه؟ (۱۳۳۷/۲۵۰۴هـ)

ځواب: په کوم زېور کي چي زنګولې او باجه نه وي د هغه استعمال د ښځو لپاره صحیح دی، بېله شرنګار پای زیب کړې او نور صحیح دي او آرسي آئینه دار صحیح نه دي.(۲)

له سرو او سپینو زرو پرته کوم زېور صحیح دي او د ښځو لباس باید څرنګه وي؟

سؤال: (۳۲۸) د ښځو لپاره د سرو او سپینو زرو څخه پرته د کوم کوم شي جوړ شوي زېور استعمال صحیح دی؟ د ښځو لپاره په قمیص کي خلاصه غاړه جوړول او پر ګریبان بټنان لګول او خلاص لوستوڼي جوړول او پکي بټنان لګول صحیح دي او کنه؟ او په اوږدوالي د ښځو قمیص باید څومره وي؟ او د ښځو لپاره صدري اغوستل څرنګه دي؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۰۱۲هـ)

ځواب: په شامي کي له جوهره څخه را نقل کړي دي: و التختم بالحديد و الصفر و النحاس

---

(۱) آرسي آئینه دار: یو ګوتمۍ ده چي ښځي يې په بټه ګوته کوي پکي هینداره لګېدلې وي (فیروز اللغات)

(۲) عن عامر بن عبد الله قال: على بن سهل بن الزبير أخبره أن مولاة لهم ذهبت بابنة الزبير إلى عمر بن الخطاب رضى الله عنه و فى رجلها أجراس فقطعها عمر، ثم قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: إن مع كل جرس شيطانا.

و ببنانة مولاة عبد الرحمن بن حسان الأنصارى عن عائشة رضى الله تعالى عنها قالت: بينما هى عندها إذ دخل عليها بجارية و عليها جلاجل يصوتن، فقالت لا تدخلنها على إلا أن تقطعوا جلاجلها، و قالت: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: لا تدخل الملائكة بيتا فيه جرس (سنن ابى داؤد: ص: ۵۸۱ كتاب الخاتم، باب ما جاء فى الجلاجل)

و الرصاص مکروه للرجال و النساء إلخ(۱) یعني ګوتمۍ جوړول د اوسپني، زیړو، ګیلټو او سرفو د نارینه او ښځو دواړو لپاره مکروه دي نو معلوم شو چې د دغه شیانو زیور، ګوتمۍ، چله او نور د ښځو لپاره هم مکروه دي(۲) د ښځو لپاره په قمیص کي ګریبان ورکول بتني پکي لګول، خلاص لستوني جوړول او صدرۍ اغوستل ټول صحیح دي خو پرده به وي او د قمیص په اوږدوالي کي کوم تحدید نشته، ستر باید وي.

د زیړو، اوسپني او نورو زیور که د سرو او سپینو زرو په اوبو وهل شوي وي؟

سوال: (۳۲۹) که د زیړو او سپینو او نورو زیور د سرو یا سپینو زرو په اوبو وهل شوي وي نو د هغه استعمال د ښځو لپاره څنګه دی؟ (۲۱۵۷/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: که د زیړو یا اوسپینو او نورو زیور د سرو زرو یا سپینو زور په اوبو وهل شوي وي نو د هغه استعمال د ښځو لپاره جائز دی په شامي کي راغلي دي: لا بأس بأن یتخذ خاتم حدید قد لوی علیه فضة و ألبس بفضة حتی لا یری تاترخانیة.(۳)

د ښځو د ښیښې او بلور بنګړي په لاس کول

سوال: (۳۳۰) څه ارشاد فرمایي علماء د دین او مفتیان د شرع متین په دغه مسئله کي چې زید

---

(۱) رد المحتار ۲۵۳/۵ کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی اللبس. ط رشیدیه

(۲) په فتاوی رشیدیه او بهشتي زیور کي د ښځو لپاره د دغه شیانو زیور استعمالول جائز لیکلي دي په فتاوی رشیدیه کي راغلي دي:

سوال: د زیړو، ګیلټو او نورو زیور د ښځو لپاره استعمالول صحیح دي او کنه؟

ځواب: زیور هر ډول د ښځو لپاره صحیح دي، فقط و الله تعالی اعلم

سوال: د ښځو لپاره د سرو او سپینو زرو څخه پرته د نورو شیانو زیورات استعمالول څنګه دي؟

ځواب: د ښځو لپاره د هر ډول زیور استعمال جائز دی په دې شرط چید کوم بد دین سره به مشابهت نه وي و الله تعالی اعلم(فتاوی رشیدیه: ص: ۵۹۴-۵۹۵ ط جسیم بک ډپو دهلي)

داغه راز په بهشتي زیور کي راغلي دي: د سپینوزرو او سرو زرو څخه پرته د کوم بل شي زیور استعمالول هم صحیح دي لکه زیړ، ګلټ، سرف او نور مګر ګوتمۍ د سرو او سپینو زرو څخه پرته د کوم بل شي روا نه ده(اختري بهشتي زیور، دریمه برخه، ص: ۲۲)

(۳) الشامي ۲۵٤/۵ کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی اللبس. ط رشیدیه

وايي چي د ښيښې بنګړي په لاس کول جائز نه دي او عمر وايي چي جائز دي، د زيد دليل دا دی چي د ښيښې بنګړي شرنګی کوي او په کليو کي رواج دی چي ښځي لاسونه ښه د بنګړيو ډک کړي څکه شرنګی ډير کوي او عمر وايي چي ايا شرنګی صرف په دغه بنګړيو پوري تړلی دی د هر زيور صوت چي د پردي نارينه تر غوږ ورسي هغه حرام دي که څه هم هغه د سرو او سپينو زرو ولي نه وي. بينوا توجروا (۳۲۳/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: د ښيښې او بلور بنګړي د ښځو لپاره صحيح دي د زيد وينا او دليل غلط دی. فقط و الله تعالی اعلم

د سرو او سپينو زرو د فريم عينکي لګول

سوال: (۳۳۱) د سرو او سپينو زرو د فريم عينکي لګول جائز دي او کنه؟ (۱۲۵۷/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: د سرو او سپينو زرو د فريم عينکي لګول صحيح نه دي، په درمختار کي راغلي دي: و كره الأكل و الشرب و الإدهان و التطيب من إناء ذهب و فضة للرجل و المرأة... و كذا يكره الأكل بملعقة الفضة و الذهب و الاكتحال بميلهما و ما أشبه ذلك من الاستعمال كملحلة و مرآة و قلم و دوات و نحوها.(۱) فقط

سوال: (۳۳۲) د عينکو فريم چي د سرو زرو وي يا د سرو زرو په اوبو وهل شوی وي د نارينه لپاره يې استعمال څرنګه دی؟ (۳۶۰/۱۳۴۳هـ)

ځواب: داسي عينکي چي فريم يې د سرو زرو وي د نارينه لپاره بلکه د ښځو لپاره يې هم استعمال صحيح نه دی او که صرف د سرو زرو په اوبو وهل شوی وي نو صحيح دی. فقط

د کټ په پښو د سپينو زرو پوښ اغوستل

سوال: (۳۳۳) د کټ پښې د لرګي دي که د سپينو زرو پوښ په واغوندو

---

(۱) الدر المختار مع الرد ۲٤٠/٥ أوائل كتاب الحظرو الإباحة. ط رشيديه

نو استعمال يې جائز دی او کنه؟ دا صورت د پوښ به د مفضض له قسم څخه وي که د مضبب او که به نه وي؟ (۳۲/۲۰۷۳-۱۳۳۳هـ)

ځواب: که و تولي پښې ته پوښ د سپينو زرو وراغوستی وي نو هغه تولـه پښـه د سپينو زرو بلل کيږي، استعمال يې ناروا دی. و لا يخفى أن الكلام فى المفضض و إلا فالذى كله فضة يحرم استعماله بأى وجه كان كما قدمناه و لو بلا مس بالجسد(۱) (و حل الشرب من إناء مفضض أى مزوق بالفضة) كذا فى المنح و فسره الشمنى بالمرصع بها(۲) لنډه دا چي کومي تولي پښې ته پوښ وراغوستی وي هغه تولـه د سپينو زرو بلل کيږي د مفضض او مضبب په حکم کي نه ده. فقط

د سرو او سپينو زرو د رنجلومي او هنداري حکم

سوال: (۳۳۴) رنجلومه او هنداره که د سرو او سپينو زرو وي نو د نرو او ښځو لپاره يې استعمال څرنګه دی؟ (۳۳/۵۷-۱۳۳۴هـ)

ځواب: رنجلومه، آينه او نور د سرو او سپينو زرو د ښځو او نورو دواړو لپاره حرام دی، په درمختار او شامي کي وجه دا ليکلې ده چي د ذهبو او فضې د آينې د منع حديث مطلق دی د ښځي او نر پکي تخصيص نشته د زيور تخصيص د ښځو لپاره ثابت شوی دی و كره الأكل و الشرب و الإدهان و التطيب من إناء ذهب و فضة للرجل و المرأة لإطلاق الحديث و كذا يكره الأكل بملعقة الفضة و الذهب و الاكتحال بميلهما و ما أشبه ذلك من الاستعمال.

قوله: (لإطلاق الحديث) هو ما روى عن حذيفة رضى الله عنه أنه قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: لا تلبسوا الحرير و لا الديباج و لا تشربوا فى آنية الذهب و الفضة و لا تأكلوا فى صحافها فإنها لهم فى الدنيا و لكم فى الآخرة. رواه البخارى(۳) فقط

---

(۱) رد المحتار ۵/۲٤۲ أوائل كتاب الحظر و الاباحة. ط رشيديه

(۲) الدر المختار و الرد ۵/۲٤۱ أوائل كتاب الحظر و الإباحة. ط رشيديه

(۳) الدر المختار و الرد ۵/۲٤۰ أوائل كتاب الحظر و الإباحة. ط رشيديه

د سرو او سپینو زرو څوکه لرونکی قلم او مشوانۍ استعمالول صحیح نه دي

سوال: (۳۳۵) د قلم څوکه داسي وي چي پکي څورلس برخي سره زر او لس برخي نور فلز وي د دغه څوکي پر سر یو بل ډیر قیمتي فلز وي چي زر نه زړیږي ځکه یوه څوکه څو کلونه وهي، سره زر ځکه ورسره ګډوي چي بل داسي ارزانه فلز نشته چي له رنګ څخه دي زنګ وانه اخلي د فخر او لویي لپاره نه دی د قلم ضرورت صرف دومره دی چي وخت پکي ډیر پاتیږي رنګ یې له دننه څخه راځي ما حدیثونه او فتاواوي ډیري کتلي دي په عدم جواز مي زړه ته اطمینان نه راځي ځکه چي د سرو زرو استعمال ضرورةً دی د فخر او نوم لپاره نه دی لیکن استفتاء کوم فتوی نه ده د کوم دلیل بحث نه کوم، پخپله خو ما استعمال هم پريږ ایښی دی خو چي بل څوک منع کوم نو شکي یم.
(۱۳۳۲-۳۵/۵۲۲ھ)

ځواب: لومړی خو دا معلومول پکار دي چي دا مسلمه قاعده ده چي غالب فضه په حکم د فضه وي او غالب ذهب په حکم د ذهب وي(۱) لأن للأکثر حکم الکل (۲) او دا هم منل شوې خبره ده چي د سرو او سپینو زرو لوښي، رنجلومي، سلايي، کاچوغه، پیاله، قلم، مشوانۍ او نور ټول حرام دي، د ښځو لپاره هم او د نرو لپاره هم(۳) د ښځو لپاره صرف د زیور اجازه شته نور د استعمال شیان د سرو زرو او سپینو زرو د هیچا لپاره صحیح نه دي او دا هم په شامي کي څرګندونه راغلې ده چي دا چي شرعًا اجازه ده چي د توري په لاستي، قیضه، زین، کرسۍ او نورو کي سره زر او سپین زر لګیدلي وي نو استعمال د دغه شیانو روا دی په دې شرط چي په هغه ځایونو به لاس نه اړدي په کومو چي سره او سپین زر لګیدلي دي(۴) نو دا حکم خاص په هغه صورت کي دی چي سره او

---

(۱) و غالب الفضة و النهب فضة و ذهب إلخ(الدر مع الشامی ۳٤/۲) کتاب الزکاة، باب زکاة المال. ط رشیدیه
(۲) رد المحتار مع الشامی ۲۰۷/۵ أوائل کتاب الذبائح. ط رشیدیه
(۳) الدر المختار مع الشامی ۲٤۰/۵ أوائل کتاب الحظر و الإباحة. ط رشیدیه
(٤) و حل... الرکوب علی سرج مفضض و الجلوس علی کرسی مفضض و لکن بشرط أن یتقی أی یجتب موضع الفضة... و کذا الإناء المضبب بذهب أو فضة و الکرسی المضبب بهما و حلیة مرآة و مصحف بهما، کما لو جله أی التفضیض =

سپین زر وربانديې سربیرة وي او سپنه او نور لاندې وي او که هغه ټول شی د سرو او سپینو زرو جوړ شوی وي نو استعمال د هغه په هر حال کي حرام دی که پر هغه ځای لاس ږدي او که نه اږدي. قال في الشامي: و لا يخفى أن الكلام في المفضض و إلا فالذى كله فضة يحرم اسعماله بأى وجه كان إلخ(۱) نو کله چي دا معلوم شو نو اوس په دې ځان پوه کول پکار دي چي څوکه د قلم چي يو ځانته شی دی که هغه د سرو زرو جوړ شوی وي يا له هغه شي څخه چي پکي زياتره سره زر وي لکه چي په سوال کي ليکلي دي چي څورلس برخي سره زر او لس برخي نور فلز دي نو د دغه څوکي استعمال حرام دی په در مختار کي راغلي دي: و كره الأكل و الشرب و الإدهان و التطيب من إناء ذهب و فضة للرجل و المرأة لإطلاق الحديث و كذا يكره الأكل بملعقة الفضة و الذهب و الاكتحال بميلهما و ما أشبه ذلک من الاستعمال كملحلة و مرآة و قلم و دواة و نحوها إلخ(۲) فقط

سوال: (۳۳۶) ... (الف) د سرو او سپینو زرو څوکه په قلم کي لګول جائز ده او کنه؟

(ب) د سرو زرو او سپینو زرو قلم او مشوانۍ استعمالول د نارینه يا ښځي لپاره څنګه دي؟ (۱۰۰۸/۱۳۴۵هـ)

ځواب: (الف) جائز نه دی.

(ب) جائز نه دی، و يكره للذكر و الأنثى الكتابة بالقلم المتخذ من الذهب أو الفضة او من دواة كذالک إلخ(۳) (در مختار) فقط

د سرو زرو غاښونه اېښودل

سوال: (۳۳۷) ... (الف) د سرو زرو غاښونه لګول شرعًا جائز دي او کنه؟

(ب) د غسل پر مهال که سړی د سرو زرو غاښونه لګولي وي نو غسل صحيح کیږي او کنه؟ (۱۱۲۲/۱۳۳۸هـ)

-في نصل سيف و سكين أو في قبضتهما أو لجام أو ركاب و لم يضع يده موضع الذهب و الفضة (الدر مع الرد ۲٤۱/٥ كتاب الحظر و الإباحة. ط رشيديه)

(۱) رد المحتار ۲٤۲/٥ أوائل كتاب الحظر و الإباحة. ط رشيديه

(۲) الدر المختار مع الشامى ۲٤۰/٥ أوائل كتاب الحظر و الإباحة. ط رشيديه

(۳) الدر مع الرد ۲۹۸/٥ كتاب الحظر و الإباحة. فصل في البيع. ط رشيديه

ځواب: (الف-ب) د سپینو زرو غاښونه لګول بالاتفاق صحیح دي او د سرو زرو غاښونه لګول د امام محمد رحمه الله په نزد صحیح دي او که څه هم غاښونه په خوله کي وي غسل صحیح کیږي په شامي کي راغلي دي: و فی التاترخانیة و علی هذا الاختلاف إذا جدع أنفه أو أذنه أو سقط سنه، فأراد أن یتخذ سنا آخر فعند الإمام یتخذ ذلک من الفضة فقط. و عند محمد من الذهب ایضًا اهـ(۱) فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۳۳۸) زید وایي چي د سرو زرو غاښونه لګول جائز دي او د ترمذي شریف له حدیث څخه استدلال کوي دا شرعًا صحیح دي او کنه؟ (۱۳۴۲/۲۵۹۴هـ)

ځواب: په شامي کي راغلي دي: و علی هذا الاختلاف إذا جدع أنف او أذنه او سقط سنه فأراد أن یتخذ سنا آخر فعند الإمام یتخذ ذلک من الفضة فقط و عند محمد من الذهب ایضًا اهـ (۱) له دې څخه معلوم شو چي په دې کي د امام اعظم او امام محمد رحمهما الله اختلاف دی امام اعظم رحمه الله فرمایي چي د سپینو زرو غاښ دي جوړ کړي او امام محمد رحمه الله د سرو زرو د غاښ اجازه هم کوي نو معلوم شو چي د سرو زرو د غاښ جوړلو هم ګنجائش شته، مګر زیات احتیاط په دې کي دی چي د سپینو زرو دا جوړ کړي فقط

سوال: (۳۳۹) د سروزرو د غاښو په اړه فقهاء جواز یو ځای هم نه دی لیکلی، اما د فقهي د کتابونو څخه معلومیږي چي د سرو زرو په تارونو غاښونه تړل جائز دي تاسو پکي څه وایاست؟ (۱۳۴۵/۲۳۲هـ)

ځواب: د علامه شامي او نورو رجحان د سرو زرو د غاښ د جواز و طرف ته دی، په در مختار کي په دې کي اختلاف رانقل کړی دی: و لا یشد سنة المتحرک بذهب بل بفضة و جوزهما محمد إلخ(۲) (در مختار) او په شامي کي راغلي دي چي و ظاهر کلامه جواز الأنف منهما اتفاقًا إلخ(۲) نو په همدې وجه د جواز فتوی ورکول کیږي.

سوال: (۳۴۰) د کوم ضرورت په وجه د سرو زرو غاښونه لګول جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۷-۴۲/۳۱۸۵هـ)

---

(۱) رد المحتار ۵/۲۵۶ کتاب الحظر و الإباحة. فصل فی اللبس. ط رشیدیه


(۲) الدر مع الرد ۵/۲۵۵ کتاب الحظر و الإباحة. فصل فی اللبس. ط رشیدیه

ځواب: په در مختار کتاب الحظر و الإباحة کي راغلي دي: و لا يشد سنة المتحرك بذهب بل بفضة و جوزهما محمد إلخ(١) او په شامي کي له تاتارخانيه څخه رانقل کړي دي: فعند الإمام يتخذ ذلک من الفضة فقط و عند محمد من الذهب ايضًا إلخ(١) له دغه عبارتونو څخه معلوم شو چي امام ابو حنيفه رحمه الله فرمايي چي که د چا غاښ ښوري نو بايد په سپينو زرو باندي ټينګ کړي او امام محمد رحمه الله فرمايي چي په سرو زرو باندي ټينګول هم جائزدي لنډه دا چي که ضرورت وي نو په سرو زرو ټينګول او د سرو زرو پوښ ورکول جائز دي.

وآس . غويي او نورو ته سره او سپين زرور په غاړه کول

سوال: (٣۴١) و آس، غويي او نورو ته د سرو او سپينو زرو زيور ورپه غاړه کول جائز دي او که نه؟ (١٣۴۵/٢٩٢١هـ)

ځواب: د سپينو زرو دا جائز دي له سرو زرو څخه پرهيز کول پکار دي، لأن ما حرم لبسه ... حرم إلباسه(٢) (در مختار)



(١) الدر مع الرد ٥/٢٥٥ کتاب الحظر و الإباحة، فصل في اللبس. ط رشيديه
(٢) الدر مع الرد ٥/٢٥٦ کتاب الحظر و الإباحة. فصل في اللبس. ط رشيديه

د پردې او ستر حکمونه

د پردې شرعي حیثیت او اهمیت

سوال: (۳۴۲) څه فرمایي علماء د دین او مفتیان د شرعي متین په دغه مسئله کي چي د پردې حکم مسلمانانو ته کله وشو؟ او کله عملي شو؟ د قرآن او حدیثو په رڼا کي په تفصیل سره راته بیان کړئ.

بله خبره دا چي نن صبا مسلمانان په پرده کي کمزوري دي او د اغیارو سره په ناسته ولاړه ورځ په ورځ د پردې (چي د مسلمانانو لپاره یو مستحکم شی و او د خپلو ځانو او ناموس، د عفت او پاک دامنۍ خیال به ساتي) اوس تنزل دی، همدا شی دی چي په مسلمانانو کي تر اوسه د پردې څه لږ فکر شته او پنجاب وال خو عمومًا له پردې څخه ډیر بې پروا دي الله تعالی دي د نیکیو توفیق راکړي آمین بینوا توجروا

(۵۰۸/۲۹-۱۳۳۰هـ)

ځواب: د پردې په اړه یو لیک د حضرت مولانا رشید احمد صاحب ګنګوهي قدس سره العزیز دی د هغه یو څو عبارت لیکل به کافي وي کله چي هغه رساله(۱) چاپ شي نو انشاء الله په هغه سره به د پردې ټول تحقیق مخته راشي او د مخالفینو د شکوکو او شبهو جواب به په احسنو وجهو معلوم شي حالاً په لاندي عبارت باندي بسنه کوو. الله یهدی من یشاء إلی صراط مستقیم(سورة بقره، آیت: ۲۱۳)

---

(۱) دغه رساله د "لطائف رشیدیه" په نوم چاپ شوې ده او مفتي صاحب چي کوم عبارت را نقل کړی دی د هغه تصحیح مونږ له لطائف رشیدیه څخه کړې ده او په پای کي د مخ او باب حواله هم لیکلې ده. ۱۲

قال الله تعالى: يا ايها النبي قل لأزواجك و بناتك و نساء المؤمنين يدنين عليهن من جلابيبهن (سورة احزاب، ايت: ۵۹) په دغه آيت کي الله تعالى د فتني په ځای کي مطلقًا د مخ پټولو څرګند حکم ورکړی دی لکه چي صاحب د کشاف د دې په معنی کي ليکي: "يدنين عليهن من جلابيبهن" يرخينها عليهن و يغطين بها و جوههن و أعطا فهن(۱) نو له دې څخه د لمر په څېر روښانه شو چي قرار في البيوت يرعامو مؤمنو ميرمنو فرض دی او له کوره وتل د معصيتو فتني او فساد باعث دی چي غض بصر په دغه حال کي ډېر ګران دی، په همدې وجه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: المرأة عورة فإذا خرجت استشرفها الشيطان(۲) يعني ښځه سر تر پښو ستر ده کله چي له کوره راووزي نو شيطان سم د لاسه ورځخه ګناه صادرولو لپاره ورته په انتظار وي، په دغه حديث کي د ښځي و ټول بدن ته ستر فرمايلي دی، د کوم عضو استثناء پکي نشته چي ځني دا معلوم شو چي د ښځي ټول بدن ستر دی او چي کله راووزي نو شيطان سم د ستي په پسې شي چي دغه ښځه او د دې په وسيله نور خلک په ګناه کي واچوي او خروج يې په کوم قيد سره نه دی مقيد کړی چي دا خبره ځني صفا معلومېږي چي د نر و ښځي ته نظر کول او د ښځي و نر ته نظر کول محل د انديښني دی، لکه چي د بي بي ام سلمي رضى الله عنها په حديث کي چي راغلي دي: عن ام سلمة رضى الله عنها قالت: كنت عند النبي صلى الله عليه وسلم و عنده ميمونة فأقبل ابن أم مكتوم رضى الله عنه و ذلك بعد ما أمرنا بالحجاب فقال: احتجبا منه فقلنا: يا رسول الله! أليس أعمى لا يبصرنا و لا يعرفنا؟! فقال النبي صلى الله عليه وسلم: أفعمياوان انتما؟! ألستما تبصرانه؟(۳) يعني بي بي ام سلمه رضى الله عنها فرمايي چي زه او بي بي ميمونه رضى الله عنها د نبي صلى الله عليه وسلم سره وو چي عبد الله ابن ام مکتوم رضى الله ړوند صاحبي راغلی، (دا قصه د پردې له فرض کيدو وروسته

---

(۱) الكشاف عن حقائق غوامض التنزيل للزمخشري رحمة الله عليه: ۳/ ۵۶۰ المطبوعة: دار الكتاب العربي، لبنان بيروت.

(۲) عن عبد الله رضى الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: المرأة عورة الحديث (جامع الترمذي ۱/ ۲۲۲ أبواب الرضاع)

(۳) سنن ابي داؤد: ص ۵۶۸ كتاب اللباس، باب في قوله تعالى: "و قل للمؤمنات يغضضن من ابصارهن"

ده) رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ ته وفرمایل: چي له ده څخه پرده وکړئ. بي بي میمونې رضی الله عنها ورته وویل: چي ای د الله رسوله! آیا دی ړوند نه دی چي موږ نه ویني نه مو پېژني، نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل چي دی خو ړوند دی تاسو خو ړندې نه یاست تاسو خو دی وینئ؟! انتهی.

وګوره په دغه صورت کي څه ډول رسول الله صلی الله علیه وسلم د نارینه و طرف ته د ښځو له نظر کولو څخه تحذیر فرمایلی دی او داغه راز د لفظ "ادنی أن یعـرفن" (سورة احزاب، آیت ۵۹) څخه دا هم معلوم شو چي صرف په دې خبرېدل چي دا فلانی ښځه ده باعث د فتنې دی، که څه هم مخ و نه ویني. لکه چي "و لا یعرفنا" په جواب کي ویل څرګند دلیل دی او کله چي د ازواجو مطهراتو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حضور کي د نارینه و طرف ته د کتلو اندېښنه وه او هغه کتل رسول الله صلی الله علیه وسلم ناجائز و بلل نو د کوڅې او بازار عام و یو بل ته د نارینه او ښځو کتل او نظارې کول به آیا د فساد باعث نه وي؟! په تېره بیا چي د عادة سره سم هر ډله په نوو جامو او ځان ښائسته کولو راووزي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: کل عین زانیة، و المرأة إذا استعطرت فمرت بالمجلس فهی کذا و کذا یعنی زانیة(۱) یعني هره سترګه زنا کونکې ده او کومي ښځي چي عطر لګولي وي د نر پر مجلس تېره شي هغه هم زناکاره ده دا رنګه ډېر حدیثونه راغلي دي چي ورڅخه د ښځو د خروج ممانعت ثابتیږي دا ښکاره خبره ده چي کله د ښځو خروج د سیل لپاره وي نو د زینت سره به وي، په خیري او زړو جامو کي به نه وي. لکه چي د باندې ګرځیدونکیو ښځو حال پخپله مشاهده دی(۲) انتهی ما قال رحمه الله. فقط و الله تعالی اعلم

د شرعي پردې او نامحرم تعریف

سوال: (۳۴۳)...(الف) شرعي پرده څه ته وایي؟

(ب) څو ښځي دي چي کله د خاوند خپلوان کور ته راشي نو دوی

---

(۱) عن ابی موسی رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: کل عین الحدیث (جـامع الترمـذی: ۱۰۷/۲ ابواب الأدب، باب ما جاء فی کراهیة المرأة متعطرة)

(۲) لطائف رشیدیه، ص: ۳۸/۳۷

مخ پټ کړي دا شرعي پرده شوه او کنه؟

(ج) نامحرم چاته ویل کیږي؟ نا محرم څوک څوک وي؟ او له نامحرم ښځه مخ پټول جائز دي او کنه؟ (۳۰۲/۲۹-۱۳۳۰هـ)

ځواب: (الف) شرعي پرده دا ده کومه چې په کورونو کې رواج ده چې له کوره نه وتل له نامحرم ښځه مخ پټول.

(ب) شرعي پرده وشوه.

(ج) نامحرم هغه څوک وي چې نکاح ورسره روا وي، په پورته سوال کې پرته له خاونده، د خاوند باجه (ساندو) اجنبي او د خاوند ورونه ټول نامحرمان دي.

شرعي پرده څومره اندازه ده؟ او نقاب کول څرنګه دي؟

سوال: (۳۴۴) د ښځو لپاره شرعي پرده څومره اندازه ده؟ پر مخ نقاب اچول څنګه دي؟ (۲۲۱/۱۳۴۲هـ)

ځواب: شرعي پرده دا ده چې د نامحرمانو ښځه خپل ټول بدن پټ کړي او مخ که څه هم په ستر کې داخل نه دی مګر د فتنې په وجه مخ هم باید پټ کړي او د اجنبیانو مخته مخ نه دي لوڅول پکار که نقاب پر اچوي او که په بل شي پټوي.(۱)

چادري باید څرنګه وي؟

سوال: (۳۴۵) ... (الف) که ښځه خپل بدن په قمیص او پرتوګ، مخ په دستمال، لاسونه په دستکلو، پښې په جرابو پټې کړي، سربېره وربانـدې زیـور واچـوي یـا نـور کـوم د ښائسـت شـی واغونـدي،

---

(۱) فإن خاف الشهوة او شک امتنع نظره إلى وجهها، فحل النظرمقيد بعدم الشهوة و إلا فحرام. وهذا فى زمانهم و أما فى زماننا فمنع من الشابة(الدر المختار) قوله: (و أما فى زماننا فمنع من الشابة) لا لأنه عورة بل لخوف الفتنة كما قدمه فى شروط الصلاة (الدر المختار و رد المحتار ۲۶۱/۵ كتاب الحظر و الإباحة، فصل فى النظر و المس. ط رشيديه)

په پښو باندي ښه د سرو او سپينو زرو په اوبو وهل شوی نقش و نگار لرونکي څپلۍ کړي. ښځه چادري اغوستلو د ورځي د کوم ضرورت په خاطر د باندي ځي ګرځي نو داسي جائز دي او کنه؟

(ب) په داسي بورقه کي چي د سرو او سپينو زرو په تارونو وربانـدي ګلونـه شوي وي د ښځي لپاره بهر ته راوتل څرنکه دي؟

(ج) نن صبا د عـامو جاهلانو او بدکاره خلګو دا عـادت ګرځېدلی دی چي چادري کړي ښځي طرف تـه خامخا متوجه وي، حالانکه د دې برعکس ښځه بورقي ښځه کـه هر څومره ښائسته وي مګر په هغه کي چندان فکر نه بندوي څومره چي په بورقه واله کي بند وي په داسي حال کي ښځه بايد چادري وکړي که داغسي يو غټ زوړ او خيرن پړونی پر ځان واچوي ووځي؟

(د) دغه رواجي بورقه له کوم وخت څخه شروع شوې ده پيل کونکی يې څوک دی؟

(هـ) د هري مالداري او مسکيني ښځي لپاره د يو قيمت او رنګ بورقـه ضروري ده که هره ښځه د خپل حيثيت سره سمه اعلی او ادنی جوړولای شي؟

(و) د ورېښمو بورقه جوړول څنګه ده؟ او پر بورقـه باندي د ورېښمو يا سپينو او سرو زرو په تارونو ګلونه جوړل څنګه دي؟

(ز) د بورقي پر سر باندي د سرو او سپينو زرو په تـارونو د ګلونـو خولۍ(ټوپۍ) جوړول جائز دي او کنه؟

(ح) ښځه که داسي جامې واغوندي چي د بدن کومه برخه ښکاره او لوڅه نه وي، مګر اعضاء، لاسونه، تي او نور هر يو بيل بيل معلومېږي داسي څرنګه دي؟

(ط) صرف د بدن رنګ پټول فرض دي که د اعضاوو شکل او شباهت پټول هم فرض دي؟

(ی) هر هغه زيور چي په ښکاره کولو يې د ښځي بدن نه ښکارېږي او نه د هغه زيور شرنګار او نور اورېدل کېږي د داسي زيور استعمال څرنګه دی؟

(ک) ښځه چي بهر ته ځي نو بايد چادري واغوندي ولاړه شي که غټ پړونی؟

(۱۳۳۴-۳۳/۱۰۵۹هـ)

ځواب: (الف) ناجائز دي.

(ب) دا ناجائز او ممنوع دي.

(ج) د دواړو خبرو خيـال سـاتل پکـار دي يـوه دا چـي پـه بهـر تـه وتلـو کـي بـه فتنـه نـه وي بلـه دا چـي بـدن او مـخ بـه پـټ

وي په کومه يوه کي چي دا خبري پوره وي هغه بايد وشي، اصلاً بهر ته وتل د فتنې باعث دي.

(د) دا راته معلوم نه دي

(هـ-ز) اصلاً خو ښځي ته دباندي وتل پکار هم نه دي او که د ضرورت په وجه ووځي نو ځان دي نه ښائسته کوي چادري وي که پروني بايد ساده او بې رنګه او بې ښائسته خيرن پيرن وي.

(ح-ط) په داسي جامو کي وتل ضرور باعث د فتنې دي او همدغه دليل د حرمت دي.

(ی) په کور کي اغوستل صحيح دي، مګر بهر ته دي نه پکي وزي

(ک) بورقه وي که غټ پروني بايد خيرن پيرن وي او بيله شديد ضرورته بهر نه دي وتل پکار که وځي نو بايد په خيرن پيرن او ساده پروني يا چادري کي ووځي. (۱) فقط

پرده فرض ده که سنت او که مباح؟

سوال: (۳۴۶) پرده د ښځو لپاره فرض ده که سنت که مباح او که بدعت؟

(۱۳۳۴-۳۳/۱۱۷۸هـ)

ځواب: د ښځو لپاره پرده فرض ده او بيله پردې بهر ګرځلاو حرام دي.

سوال: (۳۴۷) پر ښځو له نامحرم څخه پرده فرض ده او کنه؟ (۱۳۳۷/۱۵۴۲هـ)

ځواب: فرض ده. فقط

د څومره عمر پر انجونو پرده فرض ده

سوال: (۳۴۸) يوه ښځه وايي چي زما زوی د ۱۹ کلو دی له ده څخه پرده کول فرض ده او کنه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۵۷۱هـ)

ځواب: شرعًا د پنځلسو کلونو په عمر هلک بالغيږي او ټول حکمونو د بالغو ورباندي مرتب کيږي نو کله چي د دغه هلک عمر د ده د مور د بيان سره سم ۱۹ کاله دی نو له ده څخه پرده کول او دی په ښځو کي نه راپرېښودل ضروري دي لکه چي په در مختار کي له اشباه څخه رانقل

---

(۱) "و قرن فی بیوتکن و لا تبرجن تبرج الجاهلیة الأولی" (سورة احزاب، آیت: ۳۳)

کړي دي، و فی الأشباه: يدخل على النساء إلى خمسة عشر سنة حسب(۱) (در مختار) يعني هلک صرف د پنځلسو کلونو تر عمر پوري يعني له دې څخه مخکي مخکي په ښځو کي راتلای شي لنډه دا چي له دې وروسته له ده څخه پرده کول ضروري او فرض ده. فقط

سوال: (۳۴۹) له هلکانو څخه د پردې د واجبېدو شرعي حد بلوغ دی که د عمر په حساب دی؟ که د عمر په حساب دی نو په څومره عمر کي پرده واجب ده؟ (۱۳۴۳/۱۴۷۲هـ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: چي هلک تر پنځلسو کلونو عمر پوري ښځو ته ورتلای شي کله چي پنځلس کلونه پوره شو یا له دې څخه مخکي د بلوغ علامت يعني احتلام او نور ظاهر شي نو له ده څخه پرده کول واجب دي

خوښینه به له اخښي پرده کوي

سوال: (۳۵۰) سکه خوښینه به له اخښي پرده کوي او کنه؟ که به کوي نو تر کوم حده؟ (۱۴/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: شرعي پرده به کوي فقط

سوال: (۳۵۱) د زيد خوښينه به د خپلي خور يعني د زيد د ښځي په ژوند کي له زيد څخه پرده کوي او کنه؟ (۱۳۳۷/۱۵۵۳هـ)

ځواب: سکه خوښينه خو له ابدي محرماتو څخه نه ده لهذا دا به پرده کوي د دې خور يعني د زيد ښځه که ژوندۍ وي او که مړه وي.

سوال: (۳۵۲) د يو سړي دوې لوڼې دي اوس د عمر نکاح د ده د کشري لور سره شوې ده او د زيد نکاح د مشري سره شوې ده نو د زيد ښځه به له عمر څخه او د عمر ښځه به له زيد څخه پرده کوي او کنه؟ او د فتنې هم څه اندېښنه شته. (۱۳۴۱/۱۴۳۱هـ)

(۱) الدر مع الرد ۱/ ۳۰۰ کتاب الصلاة باب شروط الصلاة، مطلب فی النظر إلى وجه الأمرد. ط رشيديه و فی الشامی أيضًا ۵/ ۲۵۷ کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی النظر و المس. ط رشيديه

ځواب: دوی به پرده کوي په تېره بیا د فتنې د ویرې په صورت ډیر زیات احتیاط کول لازم دي. فقط

ښځه به د خپل خاوند له اخښي څخه پرده کوي

سوال: (۳۵۳) ښځه به د خپل خاوند له اخښي څخه پرده کوي او کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۴هـ)

ځواب: پرده به کوي. فقط و الله تعالی اعلم

د اکا، ماما، خاله او ترور له زامنو پرده شته

سوال: (۳۵۴) ... (الف) انجلۍ به د خپل کاکا له زوی څخه پرده کوي او کنه؟
(ب) د خاله زامن، لوني او د ماما او ترور زامن او لوني به پرده کوي او کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۴هـ)

ځواب: (الف) کوي به فقط
(ب) کوي به فقط

له پیر څخه هم پرده ضروري دي

سوال: (۳۵۵) د زید ښځه او د هغې پیر دواړه ځوانان دي پیر صاحب څو میاشتې کیږي چې د دوی کره او سیږي بیله کوم خنډه د دوی کره ځي راځي د دې خاوند یې نه منع کوي او وایي چې پیر پردی سړی نه دی د پیر څخه پرده نه کول څه پروا نلري، په دې اړه څه حکم دی؟ (۱۳۳۳-۳۲/۲۱۲۸هـ)

ځواب: له پیر څخه پرده کول همداسې ضروري او فرض ده لکه چې له ټولو اجنبي خلکو څخه. پیر که هر څومره نیک شي خو له ده څخه پرده نه کول او په داسې آزادي ورسره ژوند کول لکه چې په سوال کې لیکلي دي په هیڅ ډول صحیح نه دی. فقط

سوال: (۳۵۶) د ښځې لپاره له پیر څخه پرده کول جائز دي او کنه؟ کوم پیر چې ببله پردې و ښځې ته بیعت ورکوي او په حلقه کې کښینوي د داسې پیر په هکله څه حکم دی؟ (۱۳۴۱/۱۵۵۶هـ)

ځواب: شرعًا له پیر څخه هم د پردې حکم دی او کوم پیر چې پخپلو مریدو ښځو پرده نه کوي او بېله پردې دوی په حلقه او نورو کې کښېنوي داسې پیر ګنهکار او فاسق دی د پیر جوړولو لائق نه دی او د ده سره بیعت کول صحیح نه دی. فقط

د کور له مزدورانو هم پرده کول ضروري دي

سوال: (۳۵۷) د کور د مزدور و مختـه د ښځي مخ او ورغوي ښکاره کول څرنګه دي؟ (۱۲۲۱/۱۳۳۷هـ)

ځواب: مزدور اجنبي سړی دي د ښځو لپاره څني پرده کول ضروري دي او مخ ورغوي او نور د ده و مخته ښکاره کول صحیح نه دي. فقط

له مرګ وروسته د ښځي او خاوند د یو بل کتل

سوال: (۳۵۸) د ښځي یا خاوند له وفات وروسته د دوی تر منځ د پردې څه حکم دی؟ (۱۵۵۳/۱۳۳۸هـ)

ځواب: د خاوند له وفات وروسته ښځه د خپل وفات شوي خاوند مخ ته کتلای شي بلکه غسل هم ورکولای شي کما فی العالمغیریة: ویجوز للمرأة أن تغسل زوجها إلخ(۱) او خاوند خپلي وفات شوي ښځي ته غسل نشي ورکولای لیکن د خپلي ښځي مخته کتلای شي کذا فی الدر المختار و غیره(۲) د احنافو صحیح مذهب همدغه دی کوم چې ولیکل شو.

د خاوند له وراره څخه پرده شته

سوال: (۳۵۹) ښځه به د خاوند له وراره څخه پرده کوي او کنه د وراره پلار که څه هم ژوندی وي؟ (۱۵۵۳/۱۳۳۸هـ)

---

(۱) الفتاوی الهندیة: ۱/۱۶۰ کتاب الصلاة الباب الحادی العشرون فی الجنائز الفصل الثانی فی غسل المیت.

(۲) و یمنع زوجها عن غسلها و مسها لا من النظر إلیها علی الأصح... و هی لا تمنع من ذلک و لو ذمیة بشرط بقاء الزوجیة (الدر مع الرد ۱/۶۳۳ کتاب الصلاة باب صلاة الجنازة مطلب فی القراءة عند المیت. ط رشیدیه)

ځواب: د اکا د ښځي سره د اکا تر مرګ او عدې تېرېدو وروسته د وراره نکاح صحیح ده نو د اکا ښځه به د اکا په ژوند کي هم ځني پرده کوي.

له همسایګانو هم پرده کول ضروري ده

سوال: (۳۲۰) زید وايي چي د ښځي پرده کول ښه دي د خدای او رسول صلی الله علیه وسلم همدا حکم دی، له نا محرم ځخه تر خپله وسه پرده کول پکار ده، عمر وايي چي له همسایه ځخه د پردې کولو حکم په حدیث کي نه دی راغلی که څه هم نامحرم وي د چا خبره صحیح ده؟ (۱۳۳۸/۱۵۲۲هـ)

ځواب: د زید خبره په دې اړه صحیح ده نامحرم که څۀ هم همسایه وي او د سرای په خلور د ېوالي کي او سیږي له ده ځخه هم پرده کول لازم دي، ښکاره خبره ده چي د خاوند ورور زیاتره په یو سرای کي او سیږي او له همسایه ګانو ځخه زیات همسایه او زیات نژدې وي خو رسول الله صلی الله علیه وسلم له ده ځخه هم د پردې حکم فرمایلی دی نو له پردیو او نامحرم همسایه ګانو ځخه خو په اولی درجه د پردې حکم ثابت شو.(۱)

د بچندر یا منکوحې سره راغلي هلک ځخه د پردې حکم

سوال: (۳۲۱) ... (الف) یو سړی د بل قوم د یو دریو ځلورو کلونو هلک وپالي او س دغه هلک ځوان دی پرده ورځخه کول پکار ده او که نه؟

(ب) یو سړي یوه ښځه په نکاح کړه، د دې سړه د اوو اتو کلونو هلک ورسره و او س هغه ځوان دی پرده ورځخه کول پکار ده او که نه؟ (۱۳۴۲/۲۲۰۹هـ)

ځواب: (الف-ب) په دواړو صورتونو کي له دغه هلکانو ځخه د پردې حکم دی، له محارمو پرته نوري ټولي ښځي به پرده ځني کوي فقط

---

(۱) عن عقبة بن عامر رضى الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: إياكم و الدخول على النساء فقال رجل من الأنصار: يا رسول الله! أفرايت الحمو؟ قال: الحمو: الموت (صحيح البخارى ۷۸۷/۲ كتاب النكاح، باب لا يخلون رجل بامرأة إلا ذو محرم و الدخول على المغيبة)

طلاقه شوې ښځه به له خپل مخکني خاوند څخه ضرور پرده کوي

سوال: (۳۲۲) زید ډیر سپین ږیری او کمزوری سړی دی مګر ښځه یې پېلغه او روغه جوړه وه ځکه ښځې هندې ورته وویل چې ماته طلاق راکړه چې زه د بل چا سره واده وکړم زید طلاقه کړه هندې د بل چا سره واده وکړی اوس د بل خاوند سره اوسيږي لیکن زید د خپل دکان د حفاظت لپاره مزدوره کړه که کله ناجوړه شي نو دا یې خدمت کوي لاسونه او پښې په تیلو ورغوړوي دا سي جائز دي او کنه؟ (۱۸۵۵/۱۳۴۳هـ)

ځواب: کله چې زید هنده طلاقه کړه او هندې له عدې وروسته د بل چا سره نکاح وکړه نو زید اوس د دغه ښځې لپاره بالکل اجنبي شو نو د دکان او نورو د حفاظت لپاره مزدوره کول خو صحیح دي لیکن د ده څخه پرده نه کول او لاسونه پښې ورغوړول صحیح نه دي. فقط

د پلار د اکا له زوی څخه پرده لازمي ده

سوال: (۳۲۳) پر هنده باندې شرعًا د خپل پلار د اکا له زوی بکر څخه پرده کول واجب دي او کنه؟ (۳۲۷/۱۳۳۵هـ)

ځواب: پر هنده له بکر څخه پرده کول لازم دي.

له ناسکه خواښې څخه د پردې حکم

سوال: (۳۲۴) خاکسار د لومړۍ ښځې له وفات وروسته بل واده وکړی د وفات شوې ښځې د لور خاوند یعني زما زوم زما د موجودې ښځې محرم دی او کنه؟ پر شرعي پرده د ضرورت په خاطر اکتفاء کول صحیح دي او کنه؟ (۵۸۴/۱۳۴۱هـ)

ځواب: د سائل زوم په بیان شوې صورت کې د سائل د دوهمې ښځې محرم نه دی اما د ضرورت او عدم خوف فتنې په صورت پر شرعي پرده اکتفاء کول صحیح دي.

لیور او نور اجنبیان دي

سوال: (۳۶۵) د لیور او نورو نامحرم والی له محض اجنبي ښځه کم دی که مساوي دی؟ (۱۳۴۵-۴۴/۱۵۱ھ)

ځواب: و من محرمه هي من لا يحل له نكاحها أبداً بنسب او بسـبـب و لـو بزنـا(۱) (در مختار) له دې ښځه معلوم شو چي په نامحرم والي کي لیور او نور د اجنبیانو سره مساوي دي فقط

له لیور. خسر او خاوند له نیکه ښځه د پردې حکم

سوال: (۳۶۶) نامحرم خپلوان به کور ته راتلو کي اجازه اخلي او کنه؟ داغه راز د خاوند خپلوان لکه ورونه او نور د تګ راتګ اجازه لري او کنه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۹۰۸ھ)

ځواب: شرعًا به ښځه د خاوند له وروڼو ښځه پرده کوي ځکه چي دی په محارمو کي نه دی او په حدیث شریف کي هم د خاوند له وروڼو ښځه د پردې کولو حکم راغلی دی(۲) او کلي قاعده دا ده چي څوک په محارمو کي نه وي د هغه ښځه د پردې حکم دی له خسر ښځه پرده نشته، ځکه چي دی په محارمو کي دی. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۳۶۷) ... (الف) ښځه به د خپل لیور ښځه مخ پټوي او کنه؟

(ب) که مړوړ په یو اځي سرای کي وي نو هلته خسر ورتللای شي او کنه؟

(۱۳۳۸/۲۲۹۸ھ)

ځواب: (الف) له لیور او نورو ښځه شرعًا پرده ده، پرده به کوي

(ب) احتیاط غوره دی که څه هم شرعًا دی محرم دی. لیکن احتیاط کول ښه دی فقط

---

(۱) الدر مع الرد ۲۵۹/۵ كتاب الحظر و الإباحة. فصل في النظر و المس. ط رشيديه

(۲) عن عقبة بن عامر رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: إياكم و الدخول على النساء. فقال رجل من الأنصار: يا رسول الله! أفريت الحمو؟ فقال: الحمو: الموت(صحيح البخاري: ۷۸۷/۲ كتاب النكاح باب لا يخلون رجل بامرأة إلا ذو محرم و الدخول على المغيبة)

سوال: (۳۶۸) ناوې به د زوم له پلار، نیکه (د مور پلار) او کشر و رور څخه مخ پټوي او کنه؟ او سفر ورسره کول جائز دی او کنه؟ (۱۳۳۷/۱۳۹۲هـ)

ځواب: د زوم پلار او نیکه خو د ناوې شرعي محرمان دي، د دوی څخه مخ نه پټول او سفر ورسره کول صحیح دی او د خاوند ورور نامحرم دی د هغه څخه به پرده کوي سفر به یوازې ورسره نه کوي. فقط

سوال: (۳۶۹) که خاوند ښځه د خسر سره د خبرو کولو څخه منع کړي خو دا عمل نه په کوي نو خاوند باید څه وکړي؟ (۱۳۳۸/۹۷۲هـ)

ځواب: خسر یعني د خاوند پلار له محارمو څخه دی شرعًا له ده څخه پرده کول ضروري نه ده او خبرې ورسره کول صحیح دي.

د خوښیني د بالغې لور، د اکا ښځې، مامي، د خاله میړه او ترور میړه څخه پرده کول

سوال: (۳۷۰) د زید څخه به د ده د سکه خوښیني پېغله لور پرده کوي او کنه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۱۷۳۵هـ)

ځواب: پرده ضروري ده ځکه چې د ابدي محرماتو څخه پرته له ټولو پرده ضروري ده.

سوال: (۳۷۱) له زید څخه به د ده د اکا او ماما ښځې پرده کوي او کنه؟ او هنده به د خپلې خاله او ترور له میړه او اخنبي څخه پرده کوي او کنه؟ (۱۳۳۹/۱۳۸۹هـ)

ځواب: چونکه دلیل خو له دغه ټولو بیان شویو څخه د پرده کولو مشترک دی ځکه یو جواب کافي دی او هغه دا چې له دغه ټولو څخه پرده شته ځکه چې دا له ابدي محرماتو څخه نه دي کما قال الله تعالی: "و احل لکم ما وراء ذلکم" (سورة نساء، آیت: ۲٤) فقط

له پلار او ورور څخه پرده نشته

سوال: (۳۷۲) ... (الف) انجلۍ به له خپل پلار څخه پرده کوي او کنه؟
(ب) سکه خور به له خپل ورور څخه پرده کوي او کنه؟ (۱۴/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: (الف) له پلار ځخه پرده نشته. فقط

(ب) پرده نشته فقط

د فتنې په صورت کې له محرم ځخه پرده کول

سوال: (۳۷۳) د يوې ښځې هندې سکه ورور يا اکا شراب خور، فاسق، زاني او نشه وي ځکه هنده ځنې پرده کوي، زيد وايي چې شرعًا د دې لپاره پرده کول جائز دي ځکه چې د فاسق اعتبار نشته او هنده که پرده ونکړي نو د دې په پت او حيا کې فرق راځي، عمر وايي چې دا محرمان دي له ديو ځخه په هيڅ صورت کې پرده نشته بلکه پرده کول بې حيايي ده؟ (۱۳۳۵/۱۰۹هـ)

ځواب: له خپل محرم ځخه پرده نشته او سکه ورور او اکا له ابدي محرماتو ځخه دي لهذا له دوی ځخه پرده کول ضروري نه ده ليکن په ځای د فتنې او په وېره د فتنې کې فقهاء له محارمو ځخه هم د پردې حکم فرمايلی دی لکه چې په در مختار کې راغلي دي: و من محرمه هی من لا يحل له نکاحها أبدًا بنسب او سبب و لو بزنا إلى الرأس و الوجه و الصدر و الساق و العضد إن أمن شهوته و شهوتها أيضا إلخ(۱) نو هندې ته که د فتنې وېره ده نو پرده کول د دې صحيح دي بايد خوک يې نکړي ملامته. فقط و الله اعلم

سوال: (۳۷۴) که د خپل محرم ولي فسق تر دومره حده وي چې د محارمو سره د ده ابتلاء معلومه شي نو شرعًا له ده ځخه پرده واجب ده او کنه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۲۷۲هـ)

ځواب: محرم که فاسق دی نو که څه هم شرعًا پرده له ده ځخه واجب نه ده ليکن که اندېښنه وي نو احتياط په پرده کولو کې دی.

د ميرې ځخه پرده نشته مګر احتياط ضروري دی

سوال: (۳۷۵) د زيد ښځه وفات شوه او پلار عمر يې هم وفات شو د زيد ميره ژوندی ده هغه د زيد سره او سيږي د شپې په يو دالان کې ويديږي او دواړه ځوانان دي داسې تخيله د دوی لپاره جائز ده او کنه؟ که ناروا ده نو د دوی د خپلوانو لپاره داسې معاملات کتل او

(۱) الدر مع الشامي ۲۵۹/۵ کتاب الحظر و الإباحة، فصل في النظر و المس. ط رشيديه

د دوى سره اړيكي ساتل څرنګه دي؟ (۳۳/۴۱۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: شامي دا حاكم له كافي څخه رانقل كړي دي چي د پلار د ښځي سره په تېره بيا چي دواړه ځوانان وي په يو كور كي خلوت كول كله چي د فتنې خوف وي ناجائز او تحريمي مكروه دي د شامي عبارت دا دى: و لعل وجهه خشية الفتنة: حيث كانوا رجالا معها في بيت واحـد، و إن كانوا محارم لها بكونهم اولاد زوجها، كما قالوا: بكراهة الخلوة بالصهرة الشابة. و في البحر عن المعراج: و كذلك حكم السترة إذا مات زوجها، و له أولاد كبار أجانب اهـ فسماهم أجانب لما قلنا إلخ(۱) له دغه عبارت څخه معلوم شو چي لكه څرنګه چي زيد او د عمر ښځه په تخيله سره يو ځاى ويديږي او اوسيږي په تېره بيا چي دوى له مخكي څخه متهم وي او د فتنې خوف وي دا رنګه د دواړو يو ځاى اوسيدل او ويدېدل صحيح نه دي، د خپلوانو او قريبانو كار دومره دى چي دوى دواړه پوه كړي چي داسي يو ازي يو ځاى هستوګنه مه كوئ نور نو د پلار ښځه خو له ابدي محرماتو څخه ده ځكه نو نور دي هم خامخا بد ګمان نه كوي او اړيكي دي ورسره نه ختموي، ځكه چي په حقيقت كي د پلار له ښځي څخه پرده لازمه نه ده ځكه چي دا له محارمو څخه ده. او د فقهاوو دا عبارت هم راغلى دى: إذ لا يجب عليها الاستتار من أولاد زوجها إلخ(۱) ليكن د فتنې د خوف او احتياط په وجه دوى منع كيږي او يو ځاى ويدېدلو څخه منع كيږي لنډه دا چي دوى ته دا مسئله بيانول پكار ده چي د تهمت له ځايه ځان ګوري(۲) دا نه چي سړي يو مخ پر دوى د زناكارو خيال وكړي او اړيكي ورسره ختمي كړي

د مدخوله ښځي له لور څخه پرده نشته

سوال: (۳۷۲) هنده كونډه شوه د ځوان زيد سره بيا نكاح وكړه د دې له مخكني خاوند څخه يوه پېلغه لور شته چي نكاح يې شوې ده مګر د واده نه كيدو په وجه اوس لا د هندې سره اوسيږي

---

(۱) رد المحتار ۲/۲۷٤ كتاب الطلاق مطلب: الحق أن على المفتي أن ينظر في نصوص الوقائع قبيل فصل في ثبوت النسب. ط رشيديه

(۲) روى الخرائطي في مكارم الأخلاق عن عمر من قوله بلفظ من أقام نفسه مقام التهمة فلا يلو من من أساء الظن به (كشف الخفاء و مزيل الإلباس: ۲۰/۳۳۳)

په داسي حال کي هنده بايد لور واده کړي او کنه؟ که نه وي نو په دواړو صورتونو کي دا به له زيد څخه پرده کوي او کنه؟ (۱۳۴۰/۱۳۴هـ)

ځواب: قال الله تعالى: "و ربائبكم التى فى حجوركم من نسائكم التى دخلتم بهـن" (سورة نساء، آيت: ۲۳) د دغه آيت حاصل دا دی چي د مدخوله ښځي لور له ابدي محرماتو څخه ده لهذا له دې څخه پرده نشته دا د لور په رنګه ده، اما که د فتني خوف او اندېښنه وي نو بايد دا خاوند ته ور واده کړي. فقط

له رضاعي ربيبي څخه د پردې ضرورت نشته

سوال: (۳۷۷) زيد وفات شو يوه ښځه هنده او يوه لور خديجه يې پاته شوه، هندې د بکر سره واده وکړی له بکر څخه د هندې لور فاطمه وشوه، فاطمې ته څو مياشتي تی خديجې ورکړی خديجه کونډه شوه بل واده يې د عمر سره وکړی اوس شرعًا د فاطمې پرده له عمر څخه شته او کنه؟ (۱۳۴۲/۹۸۰هـ)

ځواب: د سوال له صورت څخه ظاهر دي چي نسبًا فاطمه د خديجې اخيافي (مور شريکه) خور ده ځکه چي د دواړو مور هنده ده او د رضاعت په وجه فاطمه د خديجې رضاعي لور ده نو خديجې چي کله وروسته د عمر سره نکاح وکړه نو فاطمه د عمر رضاعي ربيبه شوه او د "يحرم من الرضاع ما يحرم من النسب" (۱) په قاعده فاطمه د عمر محرمه شوه لهذا د فاطمې لپاره د عمر څخه د پردې کولو ضرورت نشته. فقط

له رضاعي پلار څخه پرده ضروري نه ده

سوال: (۳۷۸) و محمودي ته خاوند وايي چي له خپل رضاعي پلار بکر څخه به پرده کوې په دې اړه څه حکم دی؟ (۱۳۴۷-۴۲/۳۲۵۰هـ)

ځواب: له رضاعي پلار څخه پرده کول ضروري نه ده ليکن که د فتني خوف وي نو پرده کول پکار ده. فقط

---

(۱) رد المحتار ۲/۴۴۰ كتاب النكاح، باب الرضاع. ط رشيديه

په یو کور کي اوسیدونکي به پرده څرنګه کوي؟

سوال: (۳۷۹) د نارینه لپاره و نامحرمو ته کتل مطلقًا حرام دي که صرف په نظر د شهوت؟ که مطلقًا حرام دي نو بیا په داسي صورت کي چي د زید کورنۍ محرمات او نامحرمات ټول په یو کور کي ژوند کوي داسي به شرعًا څنګه وي؟ ځکه چي هر کله کور ته د تلو راتلو ضرورت پیښیږي او که په نظر د شهوت حرام دی نو د محرماتو او نامحرماتو په هکله څه حکم دی؟ یعني څه فرق لري؟ او د آیت: "قل للمؤمنین یغضوا من أبصارهم" (سورة نور، آیت: ۳۰) چي پکي هیڅ ډول قید نشته معنی به څه وي؟
(۱۳۳۷/۵۹۲هـ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: و تمنع المرأة الشابة من كشف الوجه بين الرجال لأنه عورة بل لخوف الفتنة إلخ و لا يجوز النظر إليه بشهوة إلخ و فى رد المحتار: و التقيد بالشهوة يفيد جوازه بدونها لكن سيأتى فى الحظر تقييده بالضرورة و ظاهر الكراهة بلا حاجة داعية قال فى التاترخانية و فى شرح الكراخى: النظر إلى وجه الأجنبية الحرة ليس بحرام، و لكنه يكره لغير حاجة إلخ(۱) (شامي: ۲۷۲/۱)

و فى الحظر و الإباحة من الدر المختار: و ينظر من الأجنبية إلخ إلى وجهها و كفيها فقط للضرورة إلخ فإن خاف الشهوة أو شک امتنع نظره إلى وجهها فحل النظر مقيد

---

(۱) ترجمه: او پېغله ښځه باید د نرو په منځ کي له مخ لوڅولو څخه منع کړل شي. په دې وجه نه چي د دې مخ په عورت کي راځي بلکه د فتنې خوف د منع حکم دی... او جائز نه دي کتل په شهوت سره د ښځي و مخته الخ
او په ردالمحتار کي ارغلي دي: او په شهوت سره مقید کول د بېله شهوته د جواز فائده ورکوي، لیکن په کتاب الحظر کي راځي چي د کتلو په ضرورت سره مقید کړي دي له دې څخه معلومیږي چي بېله ضرورته ورته کتل مکروه دي، په تاترخانیه کي راغلي دي: په شرح الکرخي کي بیان کړي دي چي آزادي اجنبي ښځي ته کتل حرام نه دي لیکن بېله ضرورته ورته کتل مکروه دي(الدر و رد المحتار ۲۹۹/۱ كتاب الصلاة باب شروط الصلاة مطلب فى النظر إلى وجه الأمرد. ط رشيديه)

بعدم الشهورة و إلا فحرام و هذا في زمانهم و أما في زماننا فمنع من الشابة قهستاني وغيره إلخ(۱) په دغه عبارتونو د سوال د برخو جواب وشو او په آیت: قل للمؤمنين يغضوا من أبصارهم(سورة نور، آيت: ۳۰) کې د عدم شهوت پر مهال غض بصر محمول پر استحباب دی.(۲)

---

(۱) ترجمه: او نارینه د اجنبي ښځي صرف و مخ او ورغوو ته په وخت د ضرورت کتلای شي... بیا که د شهوت خوف یا شک وي نو د نارینه د ښځي و مخته کتل منع دي. لنډه دا چي د کتلو حلت په عدم شهوت سره مقید دی. کنې حرام دی او دغه یعني د عدم شهوت په صورت کي د کتلو حلت د دوی په زمانه کي و اما زموږ په زمانه کي و ځواني ښځي ته کتل منع دي. قهستاني وغیره(الدر المختار مع الشامي: ۵/۲۶۱ کتاب الحظر و الإباحة، فصل في النظر و المس. ط رشيديه)

(۲) مفسر قرآن مولانا مفتي سعید احمدصاحب پالن پوري صدر المدرسین و شیخ الحدیث دار العلوم دیوبند په هدایة القرآن کي لیکي: لیور، اخښی، د ماما، اکا او عمه(ترور) زوی هم نا حرم دي ځکه چي له دوی سره نکاح جائز ده مګر زموږ په معاشره کي له دوی ځخه کامله پرده مشکله ده.

لومړی: خو د هندوستاني مسلمانانو مالي حالت کمزوری دی، هر یو ځان ته کور نشي جوړولای.

دوه: د هندو معاشرې د مسلمانانو پر معاشره اثر لوېدلی دی او اختلاط عام شوی، ځکه د دوی په اړه هم په دوو شرطونو سره تخفیف مناسب معلومیږي:

لومړی بیله اجازې اخیستلو دي دا خلګ ناڅاپه کور ته نه راځي هر کله چي راځي لومړی دي خبر ورکوي تر څو ښځه خپل ځان راټول کړي او د دغه اعضاء(یعني مخ ورغوي او پښو) څخه پرته نور بدن پټ کړي

دوهم: دوی به په یو ځای کي یوازیوالی او خلوت نه کوي او د یو بل سره به په آزادي سره خبري نه کوي په حدیث کي راغلي دي چي د ښځو سره د یوازي ناستي کولو څخه پام کوئ یو انصاري پوښتنه وکړه د لیور څه حکم دی؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل لیور "مرګ" دی یعني غټه فتنه ده ځکه چي لیور د وربنداري سره آزاد وي ځکه په فتنه پیښیدو کي وخت نه لګیږي همدغه حکم د خوښینو دی د دوی سره هم اخښی آزاد وي ځکه فتنه پېښه شي.

له دغه حدیث څخه معلوم شو چي لیور که څه هم نامحرم دی خو د ده سره هر وخت اوسیدونه وي ځکه د ده سره تنها والی او آزادي کول خو جائز نه دي اما په نوره پرده کي څه تخفیف شته، و الله اعلم(هدایت القرآن. سورة نور، آیت: ۳۱ زیر طبع ما دغه مضمون له مسودې څخه رانقل کړی دی) محمد امین پالن پوري

له څه وخت تېرېدو وروسته هم د عمې له خاوند او د هغه له ورور څخه پرده شته

سوال: (۳۸۰) کله چې هنده وفات شوه د دې لو رخوله د یو کال وه د خولې روزنه بیلابیلو خپلوانو وکړه مثلاً د خاله خاوند، ماما او عمه(د پلار خور) د خولې په ملک کي روپۍ ډېري وې ځکه د دې د واده مصرف هم د دې له روپیو وشو له واده څخه دوه کاله مخکي خوله د عمې کره او سیدله ځکه عمې په دې له خپل زوی، زوم او خاوند څخه پرده و نه کړه، د خولې خاوند زید اوس وایي چې دا به له دوی څخه پرده کوي، د دې خپلوان وايي چې تا دا دوه کاله نه ولې څه نه ویل؟ په دې اړه څه حکم دی؟
(۱۳۴۱/۲۴۴۹هـ)

ځواب: بطلان د دغه خبري ښکاره دی چې له کوم چا څخه غلطي وشي یا د شرعي په خلاف کوم کار وشي نو همیشه به پر هغه قائم وي بلکه کله چې هغه د شرعي خلاف کار پرېږدي او د حق پیروي وکړي داسي غوره او عین صواب دی. و الحق احق ان یتبع.

د پردې شرعي حکم په رواج نه ساقطیږي

سوال: (۳۸۱) یو سني مسلمان د خپل سرای په کلکینانو د بل سني مسلمان سرای بې پرده کړي او په دغه بې پردګي دواړه راضي شول دا ډول عام رواج دی نو داسي رواج شرع منع کولای شي او کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۴هـ)

ځواب: د پردې شرعي حکم په کوم رواج نه ماتیږي. فقط

د ښځو بې پرده کولو کوم عذر ته اعتبار نشته

سوال: (۳۸۲) د مالي کلي مسلمانان زیاتره خپلي ښځي بې پرده ګرځوي او لغو عذرونه بیانوي د دوی په هکله څه حکم دی؟ (۱۳۴۲/۲۱۵۵هـ)

ځواب: الله تعالی فرمايي: "و قرن في بيوتكن و لا تبرجن تبرج الجاهلية الأولى" (سورة احزاب، آيت: ۳۳) او ای ښځو تاسو پخپلو کورونو کي اوسيدنه کوي او بهر تـه دزينت سره مه وځئ او زينت مه ظاهروئ، له دې څخه معلوم شو چي ښځي لومړی بايد پخپلو کورونو کي وي او که د ضرورت پر مهال بهر ته ووځي نو د شرعي پردې سره په چادري او نورو کي دي وځي. فقط

مور او پلار د زوی ښځه پر پرده نه کولو مجبوروي

سوال: (۳۸۳) زید غواړي چي د ده ښځه پرده وکړي خو مور او پلار دی مجبوروي چي خپله ښځه بهر ته وباسه د کور کارونه په وکړه په داسي صورت کي د زيد لپاره څه حکم دی؟ (۱۳۳۳-۳۲/۹۲۱هـ)

ځواب: واجبات او شرعي ضروريات د مور او پلار په وينا پرېښودل صحيح نه دي فإنه لا طاعة لمخلوق في معصية الخالق. (۱)

د خاوند په اجازه هم بې پردګي کول صحيح نه دي

سوال: (۳۸۴) ښځه به له چا څخه پرده کوي او له چا څخه به يې نه کوي؟ او له چا څخه چي پرده شته د هغو څخه د پردې نه کولو اجازه خاوند ورکولای شي او کنه؟ (۱۳۴۱/۲۲۱۳هـ)

ځواب: له محارمو پرته له ټولو څخه پرده شته او له کوم چا څخه چي پرده شته يعني له محارمو څخه سيوا له نورو کسانو څخه نو د هغوی څخه د خاوند په اجازه هم پرده نه کول صحيح نه دي، لأنه لا طاعة لمخلوق في معصية الخالق. (۱) فقط

د نامحرم سره سفر کول کله منع دي؟

سوال: (۳۸۵) شرعي مسئله په دې اړه څه ده چي د ښځي لپاره کوم چي د نامحرم سره سفر کول منع دي نو دومره سفر مراد دی چي د لمانځه د قصر حکم پکي راځي که د لسو يوولسو ميلو سفر هم تحت النفي راځي؟

---

(۱) مشكاة المصابيح، ص: ۳۲۱ كتاب الإمارة و القضاء، الفصل الثاني.

د نامحرم سره د سفر کولو په هلکه که د عزیمت او رخصت څه فرق وي نو رانه وي ښکاره کړي
(۱۵۱ ۴۴ ۱۳۴۵هـ)

ځواب: د نامحرم سره د سفر کولو په هکله په بیلابیلو حدیثونو کي په بیلا بیلو الفاظو نهي راغلې ده په ځینو کي مطلقًا(۱) په ځینو کي د یوم و لیلة(۲) په قید سره په ځینو کي د یو میل(۳) په قید سره نور او نور(۴) دلته د فقهي په معتبرو کتابونو کي څرګندوه راغلې ده چي د سفر تر مودې په کمي لپاره د نامحرم سره هم خروج جائز دی فی الهدایة: یباح بها الخروج إلی ما دون السفر بغیر محرم(۵) و فی الخانیة: و الحرة لا تسافر ثلاثة ایام بغیر محرم انتهی(۶) (خانیة ج:۳) علماء کرامو د دغه فقهي روایتونو او حدیثو په تطبیقولو کي فرمایلي دي چي په حدیثو کي د منع منشاء خو صرف د دغه لپاره

---

(۱) عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: قال النبی صلی الله علیه وسلم: لا تسافر المرأة إلا مع ذی محرم الحدیث(صحیح البخاری: ۱/۲۵۰ کتاب المناسک أبواب العمرة، باب حج النساء)

(۲) عن ابی هریرة رضی الله عنه أن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: لا یحل لامرأة تؤمن بالله و الیوم الآخر تسافر مسیرة یوم و لیلة إلا مع ذی محرم علیها(الصحیح لمسلم: ۱/۴۳۴ کتاب الحج سفر المرأة مع محرم إلی حج وغیره)

(۳) عن قزعة مولی زیاد قال: سمعت ابا سعید رضی الله عنه و قد غزا مع النبی صلی الله علیه وسلم ثنتی عشرة غزوة، قال: اربع سمعتهن من رسول الله صلی الله علیه وسلم او قال یحدثهن عن النبی صلی الله علیه وسلم فاعجبننی و آنقننی أن لا تسافر امرأة مسیرة یومین لیس معها زوجها او ذو محرم الحدیث(البخاری: ۱/۲۵۱ کتاب المناسک ابواب العمرة باب حج النساء)

(۴) عن ابی سعید الخدری رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لا یحل لامرأة تؤمن بالله و الیوم الآخر أن تسافر سفرًا یکون ثلاثة أیام فصاعدا إلا و معها ابوها، او ابنها، او زوجها او اخوها، او ذو محرم منها(الصحیح لمسلم ۱/۴۳۴ کتاب الحج، سفر المرأة مع محرم إلی حج و غیره)

(۵) الهدایة: ۱/۲۳۳ کتاب الحج.

(۶) الفتاوی الخانیة مع الفتاوی الهندیة: ۳/۴۰۷ کتاب الحظر و الاباحة باب فیما یکره من النظر و المس للأقارب و الأجانب و ما لایکره.

دروازه بندول دي کوم تحدید مقصود نه دی(۱) او په فقهي روایتونو کي د شرعي حکم د انتهاء اعلان. لهذا اوس همدا ویل کیدلای شي چي خروج مع غیر المحرم له کراهت څخه خو په هیڅ حال کي هم خالي نه دی، اما شدت او ممانعت د سفر له موديِ یعني د لمانځه د قصر د مسافت سره خاص دی، قال الطیبی فی شرح المشکاة: و لیس المراد بقوله مسیرة یوم و لیلة التحدید إلخ و قال المحقق ابن الهمام: و حاصله أنه نبه بمنع الخروج أقل كل عدد على منع خروجها عن البلاد مطلقًا إلا بمحرم إلخ نقله صاحب المرقاة فی شرح المشكاة.(۲)

---

(۱) علامه مولانا محمد انور شاه صاحب کشمیري رحمه الله په فیض الباري کي بل رنګه تطبیق ورکړی دی چي د نهي منشاء خوف د فتنې دی که یوه شپه وي که زیات، بلکه که فتنه سخته وي نو مسجد او بازار ته هم بېله محرمه تلل صحیح نه دي. کنې د یمن له صنعاء څخه یوه ښځه یوازي د مکې سفر کولای شي او تجربه پر دې ګواه ده چي د هوایي جهاز په سفر کي هیڅ فتنه نشته نو که کومه ښځه بېله محرمه په هوایي جهاز کي سفر کول وغواړي نو د جهاز د مامورینو په نګراني کي سفر کولای شي تر هوایي جهازه پوري دې بې محرم ورسوي او چي کله ورسیده نو د جهاز مامور دي و محرم یا خاوند ته وسپاري داسي په جهازونو کي بندوبست وي.

په فیض الباري کي راغلي دي: ولما لم یکن عند المصنف رحمه الله تعالی فی القصر و الإتمام حدیث أخرج له حدیث الحج و السفر للحاجات العامة کقوله: لا تسافر المرأة ثلاثا فإنه لم یقع فی مسألة الإتمام و القصر بل ورد فی سفر الحاجات و اختلف فیه الروایات ر فی بعضها مسیرة یوم و لیلة و هو عندی مختلف باختلاف الأحوال و الأحادیث فی هذا الباب صدرت عن حضرة الرسالة تارة کذا و تارة کذا و لیست محمولة علی اختلاف الرواة و فی کتب الحنفیة عامة عدم جواز السفر إلا مع محرم.

قلت: و یجوز عندی مع غیر محرم ایضا بشرط الاعتماد و الأمن عن الفتنة و قد وجت له مادة کثیرة فی الأحادیث أما فی الفقه فهو مسائل الفتن.

و فی حاشیة البدر الساری: یقول للعبد الضعیف: منها(الأحادیث أمر النبی صلی الله علیه وسلم أبا العاص أن یرسل زینب رضی الله عنها مع رجل لم یکن لها محرما. و مجی عائشة رضی الله عنها فی قصة الإفک (فیض الباری علی صحیح البخاری: ۳۹۷/۲ ابواب التقصیر، باب فی کم یقصر الصلاة)

(۲) مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح: ۲۶۹/۵ کتاب المناسک، الفصل الأول.

که د فتنې وېره نه وي نو د نامحرم سره سفر کول څرنګه دي؟

سوال: (۳۸۲) زيد خپله لور بل وطن ته چيرې چې خاوند دی هلته د خاوند خپلوانو سره مثلاً د خاوند د اکا يا د عمه د زوی سره لیږي خاوند يې ورغواړي او د فتنې وېره هم نشته او فقهاء چې کومه منع کوي هغه د فتنې په وجه ده او داغه راز په حديث کي هم چې کوم نهي راغلې ده هغه د فتنې په وجه ده او په مسئوله صورت کي فتنه نشته نو بايد چې جائز وي. (۱۳۳۷/۲۵۳۹هـ)

ځواب: د حديثو او فقهي له کتابونو څخه د نامحرم سره سفر کولو منع مطلقاً معلومېږي په دې کي د تأويل لاره نشته که داسي واى نو فقهاء به دا قيد لګولى واى چي که د فتنې وېره نه وي نو د نامحرم سره سفر کول صحيح دي، حالانکه فقهاء مطلقاً منع کوي او په هيڅ حال کي اجازه نه کوي(۱) كذا فى الدر المختار وغيره.(۲) فقط

د نامحرم سره د ښځي سفر کول

سوال: (۳۸۷) زيد خپله لور افريقي ته لیږي نو دا د خپل خاوند د اکا سره کوم چي نامحرم دی سفر کولای شي او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۴۰۵هـ)

---

(۱) اما علامه مولانا محمد انور شاه صاحب کشميري رحمه الله فرمايي چي که د فتنې خوف نه وي نو ښځه بېله محرمه سفر کولای شي، په فيض الباري کي راغلي دي: قلت: و يجوز عندي مع غير محرم ايضا بشرط الاعتماد و الأمن عن الفتنة و قد وجدت له مادة كثيرة فى الأحاديث(فيض البارى: ۳۹۷/۲)

(۲) و جاز سفر الأمة و أم الولد و المكاتبة و المبعضة بلا محرم هذا فى زمانهم أما فى زماننا فلا لغلبة أهل الفساد و به يفتى ابن كمال(الدر المختار) و فى الشامى: و فيه إشارة إلى أن الحرة لا تسافر ثلاثة أيام بلا محرم (الدر مع الرد ۲۷٦/٥ كتاب الحظر و الإباحة، فصل فى البيع. ط رشيديه)

ځواب: د نامحرم سره د ښځي سفر کول ناجائز دی. قال فی الشامی: قوله: (فی سفر) هو ثلاثة ایام و لیالیها الخ و روی عن ابی حنیفة و ابي یوسف رحمهما الله کراهة خروجها في حدها مسیرة یوم واحد و ینبغی أن یکون الفتوی علیه لفساد الزمان الخ و یؤیده حدیث الصحیحین: لا یحل لامرأة تؤمن بالله و الیوم الآخر أن تسافر مسیرة یوم و لیلة إلا مع ذی محرم علیها و قال بعض: لکن أشار به: إلی أن ما استفید من المقام من عدم جواز السفر للمرأة إلا بزوج او محرم خاص باخرة الخ(۱) فقط

سوال: (۳۸۸) آیا ښځه د خپل لیور او خاله د زوی سره سفر کولای شي؟ او د پردي څه حکم دی؟ (۱۳۴۰/۲۵۵۸ه)

ځواب: دا خلک نامحرمان دي او د نامحرم سره د ښځي سفر کول صحیح نه دي. فقط

که ښځه په پرده کي پر نامحرم سبق وایي

سوال: (۳۸۹) د ښځو لپاره په پرده کي له نامحرم نارینه څخه سبق اخیستل جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۰/۵۸۷ه)

ځواب: که د فتنې ویره نه وي نو صحیح دی.

آیا ښځي په پرده کي د خپل استاذ سره خبري کولای شي؟

سوال: (۳۹۰) ... (الف) که پېغله انجلۍ پر کوم سپین ږیري عالم عربي او فارسي پخپل کور کي په پرده کي وایي او له سبق وروسته هم هلته کور په پرده کي ورسره خبري کوي نو جائز دي او کنه؟

(ب) که یو نابالغه انجلۍ پر څوان عالم بېله پردي قرآن ووایي نو تر بالغېدو وروسته د ده سره په پرده کي خبره کولای شي او کنه؟ (۱۳۴۳/۲۲۰۰ه)

(۱) رد المحتار ۱۵۷/۲ کتاب الحج، مطلب في قولهم: یقدم حق العبد علی حق الشرع. ط رشیدیه

ځواب: (الف) که د فتنې ویره نه وي او په پرده کي خبره وکړي نو صحيح ده.

(ب) په دې کي هم هغه خبره په پام کي نیول پکار ده چي د فتنې خوف به نه وي او په پرده کي کومه ضروري خبره وي نو صحيح ده لیکن احتیاط کول ښه دي

بالغه انجلۍ یواځي له ځوان عالم څخه قرآن وایي

سوال: (۳۹۱) که پېغله انجلۍ له ځوان عالم څخه په کور کي قرآن زده کوي کله چي په کور کي له انجونو پرته بل څوک نه وي نو څه حکم دی؟ (۲۲۰۰/۱۳۴۳هـ)

ځواب: په دې کي احتیاط کول پکار دي. فقط

ښځي د نارینه وو تقریرونه اورېدلای شي

سوال: (۳۹۲) ... (الف) آیا د نرو تقریرونه شرعًا د ښځو لپاره اورېدل جائز دي او کنه؟

(ب) آیا په مذهبي او سیاسي تقریرونو کي فرق شته؟ (۸۱۴/۱۳۴۱هـ)

ځواب: (الف-ب) د نارینه وو مواعظ او تقریرونه د ښځو لپاره اورېدل صحيح دي او په شریعت کي ثابت دي او هغه سیاسي امور چي د شرعي سره سم وي هغه هم مذهبي دي د هغو اورېدل هم صحيح دي، كما فى حديث الشيخين: ثم أتى النساء فوعظهن و ذكرهن و أمرهن بالصدقة. (۱)

د وعظ او نصیحت ځای ته د ښځو تلل

سوال: (۳۹۳) دغه د فتنې او فساد په زمانه کي د ښځو د جمعې لمانځه او نورو او د وعظ او نصیحت مجلسونو او نورو ته تلل صحيح دي او کنه؟ (۲۲۴۳/۱۳۳۷هـ)

---

(۱) عن ابن عباس رضى الله عنهما قال: خرجت مع النبى صلى الله عليه وسلم يوم فطر او أضحى فصلى ثم خطب ثم أتى النساء الحديث(صحيح البخارى: ۱۳۳/۱ كتاب العيدين. باب خروج الصبيان إلى المصلى و الصحيح لمسلم: ۲۸۹/۱ كتاب العيدين فصل فى الصلاة قبل الخطبة بغير أذان و لا إقامة و تذكير الدجال و النساء و أمرهن بالتصدق)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: و يكره حضورهن الجماعة و لو لجمعة و عيد و وعظ مطلقًا و لو عجوزًا ليلا على المذهب المفتى به لفساد الزمان و استثنى الكمال بحثا العجائز المتفانية(۱) يعني د ښځو جماعت ته حاضرېدل مکروه دي که څه هم د جمعې لپاره وي او د اختر او وعظ لپاره وي مطلقًا او که څه هم بوډۍ (سپين سرې) ښځه وي او شپه وي د مفتى به قول سره سم د زماني د فساد په وجه او محقق ابن همام رحمه الله ډيري سپين سري ښځي ځني مستثنى کړي دي نو همدغه حکم دی د ښځو په هکله کوم چي په در مختار کي بيان شوی دی (همدا ډول يوه مسئله چي خلک يې ډيره پوښتنه کوي دلته ليکو)

د ښځو د تبليغ په سفر تګ

د مولانا مفتى سيد عبد الرحيم صاحب لاجپوري رحمه الله (د ګجرات مفتي اعظم) فتوی:

سوال: (۱۲۷) څه فرمايي علماء د دين په دغه مسئله کي چي زه خپله ښځه په تبليغ بېولای شم؟ د ښځو په جماعت کي بېول پکار دي او کنه؟

ځواب: حامدًا و مصليا و مسلمًا: د ښځو په جماعت کي بېول مطلوب او غوره نه دي او د: "و إثمهما أكبر من نفعهما" (سورة بقره، آيت: ۲۱۹) مصداق دی، ښځي بې احتياطه وي. فقط و الله تعالى اعلم بالصواب (۴۹۸/۱۰)

(فتاوی رحيميه کامل: ۲/۱۳۶-۱۳۷ باب الدعوة و التبليغ)

د مولانا مفتي سيد مهدي حسن صاحب رحمه الله (صدر مفتی دار العلوم ديوبند) فتوی داغه راز د حضرت مولانا عبد اللطيف صاحب رحمه الله (ناظم اعلی مظاهر علوم سهارنپور) تائيد او تصديق.

---

(۱) الدر مع الشامي ۱/۴۱۸ کتاب الصلاة باب الإمامة. ط رشيديه

(۵۷۷/د)

سوال: څه فرمايي علماء د دين او مفتيان د شرع متين په لاندي مسئله کي چي آيا د ښځو د خپل محرم سره د تبليغ سفر کول صحيح دی؟

المستفتی:

حافظ عبد الرحيم مسجد کوټي والی صدر بازار دهلی

۱۳۷۱/۲/۱۷هـ

(۱۰۹/د)

بسم الله الرحمن الرحيم

ځواب: د رسول الله صلی الله عليه وسلم، صحابه رضی الله عنهم او تابعينو رحمهم الله په زمانه کي د تبليغ لپاره ښځو سفر نا کاوی او نه رسول الله صلی الله عليه وسلم او نه صحابو د تبليغ لپاره و ښځو ته د سفر کولو حکم کړی دی نه يي پخپله د تبليغ لپاره په سفر رواني کړي دي، له دغه عمل څخه ثابت دي چي د ښځو لپاره د تبليغ سفر کول جائز نه دی، د خير القرون په زمانه کي چي به کومي ښځي ته کومه مسئله ورپېښه شوه نو رابه غله له رسول الله صلی الله عليه وسلم يا د نبي عليه الصلاة و السلام له بي بي ګانو او يا به د صحابو له بي بي ګانو پوښتنه کوله، تبليغ په هغه زمانه کي د نارينه وو ذمه واري وه او ښځو به په پرده کي حکمونه معلوم کړو د دين خبري به زده کولي، د نارينه وو کار دا و چي دوی خپلي ښځي په دين خبري کړي، رسول الله صلی الله عليه وسلم او اصحابو به د تبليغ سفر کاوی، جهاد ته به تلو، ليکن په عامه توګه ټولو ښځي د ځان سره نه بېولې.

کله چي هغه د خير په زمانه کي دا حال و نو دغه د شر او فتنو په زمانه کي د ښځو لپاره د تبليغ سفر کول که څه هم د محرم سره ولي نه وي څرنګه جائز کيدلای شي؟ دا خبره چي ښځو ته به څه ډول تبليغ وي؟ څکه صحيح نه ده چي د دوی نارينه دي دوی ته تبليغ وکړي او ديني حکمونه دي دوی ته وښيي او پخپله دي نارينه د دين خبري د نورو پوهانو څخه زده کړي يا دي د زده کړي او ورښودلو لپاره سفر وکړي کني په عامه توګه د ښځو د تبليغ لپاره سفر کول د فتنو دروازه خلاصول دي کوم چي نن صبا نړی

ته په کتلو په نظر راځي.فقط و الله اعلم

سيد مهدی حسن غفرله

(صدر مفتي دار العلوم ديوبند)

۱۳۷۱/۲/۲۵ھ

الجواب صحيح: سعيد احمد غفر له(مفتی اعظم مظاهر علوم سهارنپور)

الجواب صحيح: عبد اللطيف (ناظم اعلى مظاهر علوم سهارنپور)

يادونه: د دغه دواړو محترمو تصديق د دار العلوم سهارنپور په دار الافتاء کي محفوظ دی.

(مفتي) حبيب الرحمن عفا الله عنه

۱۴۳۲/۳/۲۳ھ

د مولانا مفتي رشيد احمد صاحب لدهيانوي رحمه الله فتوی

سوال: د ښځو په تبليغي جماعت کي د خپلو محارمو سره د دريو ورځو، لسو ورځو او کال لپاره خپلي اولسوالۍ يا خپل ولايت يا خپل ملک او يا نورو هيوادونو ته تلل څرنګه دي؟ کله چي د موجود زماني حالات هم ستاسو مخ ته دي، که د دوی وتل جائز دي بيا خو هيڅ تاوان نه شو، او که جائز نه دی نو بيا کوم خلک چي خپلي ښځي بيايي د هغوی په هکله څه حکم دی؟ هغوی ګنهکار دي او کنه؟ په څرګند ډول مسئله را ته بيان کړي بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: د ښځو له کورونو وتل ډيره غټه فتنه ده(۱) ځکه فقهاء

(۱) عن عبد الله بن مسعود رضی الله عنه عن النبی صلی الله عليه وسلم قال: المرأة عورة فإذا خرجت استشرفها الشيطان رواه الترمذی(مشكاة المصابيح ص: ۲۶۹ كتاب النكاح، باب النظر إلى المخطوبة)

له حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ښځه ستر (يعني د پټولو شی) ده نو کله چي له کوره ووځي نو شيطان يې د نرو په نظرونو کي ښائسته ښکاروي (جامع الترمذی: ۲۲۲/۱ أبواب الرضاع، باب)

رحمهم الله پر دې کلکه پابندي لګولې ده او د ديني کار لپاره هم د ښځو وتل بالاتفاق حرام بللي دي.

قال العلامة الخوارزمي ناقلا عن فخر الإسلام رحمهما الله تعالى: و الفتوى اليوم على الكراهة فى الصلوات كلها لظهور الفساد، فمتى كره حضور المسجد للصلاة لأن كره حضور مجالس العلم خصوصًا عند هؤلاء الجهال الذين تحلوا بحلية العلم أولى.

(الكفاية مع فتح القدير: ۳۱۸/۱ كتاب الصلاة، باب الإمامة)

و قال العلامه الحصكفى رحمه الله تعالى: و يكره حضورهن الجماعة و لو لجمعة وعيد و وعظ مطلقًا و لو عجوزًا ليلا على المذهب المفتى به لفساد الزمان و استثنى الكمال بحثًا العجائز المتفانية(۱)

و قال الإمام الطحطاوى رحمه الله تعالى: (قوله و لو لجمعة وعيد و وعظ) قال فى مجموع النوازل يجوز للزوج أن يأذن لها بالخروج إلى زيارة الأبوين و عيادتهما و تعزيتهما او أحدهما و زيارة المحارم فإن كانت قابلة او غاسلة او كان لها على آخر حق او عليها حق تخرج بالإذن و بغير الإذن و الحج على هذا و فيما عدا ذلک من زيارة الأجانب و عيادتهم و الوليمة لا يأذن لها و لا تخرج و لو اذن لها وخرجت كانا عاصيين و تمنع من الحمام و إن أرادت أن تخرج إلى مجلس العلم بغير رضى الزوج ليس لها ذلک فإن وقعت لها نازلة إن سأل الزوج من العالم و أخبرها بذلک لا يسعها الخروج، و إن امتنع من السؤال يسعها الخروج من غير رضى الزوج و إن لم يقع لها نازلة و أرادت أن تخرج لمجلس العلم لتعليم المسألة من مسائل الوضوء و الصلاة إن كان الزوج يحفظ المسائل و يذكرها معها له أن يمنعها، و إن كان لا يحفظها الأولى أن يأذن لها احيانا و ان لم يأذن لها فلا شىء عليه و لا يسعها الخروج ما لم تقع نازة اهـ قوله: (و لو عجوزًا) اسم لمؤنث غير لازم التاء كما فى الرضى و فى القاموس: لا يقال: عجوزة

---

(۱) الدر مع الرد: ۴۱۸/۱ كتاب الصلاة، باب الإمامة مطلب: إذا صلى الشافعى قبل الحنفى هل الأفضل الصلاة مع الشافعى أم لا؟ ط رشيديه

او لغة ردية من إحدى و خمسين إلى آخر العمر قهستاني، و قوله "ليلا" بيان للإطلاق ايضا قوله(على المذهب المفتى به) قد يقال:: هذه الفتاوى التي اعتمدها المتأخرون مخالفة لمذهب الإمام و صاحبيه، فإنهم نقلوا أن الشابة تمنع مطلقًا اتفاقًا و أما العجوز فلها حضور الجماعة عند الإمام في الصلوات في الظهر و العصر و الجمعة فالإفتاء بمنع العجائز في الكل يخالف الكل و ما في الدر المنتقى يوافق ماهنا حيث قال: و في الكافي وغيره: أما في زماننا فالمفتى به منع الكل في الكل حتى في الوعظ و نحوه(۱) (حاشية الطحطاوى على الدر: ۲٤٥/۱)

و قال شمس العلماء العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى: قال المصنف في لاكافي و الفتوى اليوم على الكراهة في الصلوات كلها لظهور الفساد و متى كره حضور المسجد للصلاة فلأن يكره حضور مجالس الوعظ خصوصًا عند هؤلاء الجهال الذين تحلوا بحلية العلماء أولى، ذكره فخر الإسلام اهـ (۲) (البحر الرائق: ۳٥۸/۱)

و قال العلامة عالم بن العلاء رحمه الله تعالى: و الفتوى اليوم على الكراهة في كل الصلوات لظهور الفساد و متى كره حضور المسجد للصلاة لأن يكره حضور مجالس الوعظ خصوصًا عند هؤلاء الجهال الذين تحلوا بحلية العلماء أولى(۳) (الفتاوى التتارخانية: ٦۲۸/۱)

و قال الحافظ العيني رحمه الله تعالى: (قال: و يكره لهن حضور الجماعات) أي يكره للنساء يعني الشواب منهن و هي جمع شابة و هذه اللفظة بإطلاقها تتناول الجمع و الأعياد والكسوف و الاستسقاء و عن الشافعي رحمه الله تعالى يباح لهن الخروج(لما

---

(۱) الطحطاوي على الدر: ۳۸۳/۱-۳۸٤، كتاب الصلاة، باب الإمامة.

(۲) البحر الرائق: ٦۲۸/۱، كتاب الصلاة، باب الإمامة.

(۳) الفتاوى التتارخانية: ۲۸۱/۲، كتاب الصلاة، بيان ما يمنع صحة الاقتداء و ما لا يمنع، الفصل الثامن في الحث على الجماعة، هل يجوز للنساء حضور المساجد إلخ. المطبوعة: زكريا بک ډپو ديوبند.

فيه) أى في حضورهن الجماعة(من خوف الفتنة) عليهن من الفساق، و خروجهن سبب للحرام و ما يفضي إلى الحرام فحرام، و ذكر في كتاب الصلوات مكان الكراهة الإساءة و الكراهة فحش.

قلت المراد من الكراهة التحريم، و لا سيما فى هذا الزمان لفساد أهله.

(و لا بأس للعجوز أن تخرج في الفجر و المغرب و العشاء) لحصول الأمن، و فى المغرب اختلاف الروايات، و فى المنظومة: الحق المغرب بالعشاء كما ذكره المصنف و المبسوط لشمس الأئمة، و في المختلف: ألحق العصر و المغرب بالظهر كما فى مبسوط شيخ الإسلام و يحتمل أن ذلك بناء على أن المغرب تنشر فيه الفسقة ايضا كالعصر في بعض البلاد، قيل: هذا كله فى زمانهم، أما في زماننا فيكره خروج النساء إلى الجماعة لغلبة الفسق و الفساد، فإذا كره خروجهن للصلاة فلان يكره حضورهن مجالس العلم خصوصًا عند هؤلاء الجهال الذين تحلوا بحلية أهل العلم أولى(۱) (البناية: ۲/۰۲۰)

و قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: و إذا منعت حضور الجماعة فمنعها من حضور الوعظ و الاستسقاء أولى، وأدخله العينى فى الجماعات و ما قلناه أولى(۲) (منحة الخالق بهامش البحر: ۱/۳٥۹)

و قال العلامة منلامسكين رحمه الله تعالى: و متى كره حضور المسجد للصلوات لأن يكره حضورهن مجالس الوعظ خصوصًا عند هؤلاء الجهال الذين تحلوا بحلية العلماء أولى. ذكره فخر الاسلام.

و قال العلامة ابو السعود رحمه الله تعالى: (قوله و متى كره حضور المسجد إلخ) أى كراهة تحريمية دل على ذلك قوله فى النهر و لا يحضرن أى لا يحل لهن أن يحضرن

---

(۱) البناية شرح الهداية المشهور بالعينى: ۱/۷۳۹-۷٤۰، المطبوعة: المطبع العالى نول كشور لكناؤ.

(۲) منحة الخالق على البحر الرائق: ۱/٦۲۸ كتاب الصلوة، باب الإمامة.

لكن ذكر بعده عن كتاب الصلاة أنه ذكر الإساءة التي هي أدون من الكراهة.
(فتح المعين على منلامسكين: ۲۱۵/۱، كتاب الصلاة، باب الإمامة)

و قال العالمة ابو بكر بن علي الحداد رحمه الله تعالى: و الفتوى اليوم على الكراهة في الصلوات كلها لظهور الفسق في هذا الزمان و لا يباح لهن الخروج إلى الجمعة عند أبي حنيفة رحمه الله تعالى كذا في المحيط فجعلها كالظهر و في المبسوط جعلها كالعيدين حتى أنه يباح لهن الخروج إليها بالاجماع(۱) (الجوهرة: ۲۷/۱)

و قال العلامة السهارنپوري رحمه الله تعالى معزيا لشرح النقاية: و الفتوى اليوم على الكراهة في الصلوات كلها لظهور الفساد، و متى كره حضورهن في المسجد للصلاة فلأن يكره حضورهن في مجالس الوعظ خصوصًا عند هؤلاء الجهال الذين تحلوا بحلية العلماء أولى هكذا قال المشايخ رحمهم الله، و لو شاهدوا ما شهدنا من حضورهن بين مجالس وعاظ زماننا متبرجات بزينتهن لأنكروا كل الإنكار رحم الله معاشر الأبرار (بذل المجهود: ۳۱۹/۱، كتاب الصلاة، باب التشديد في ذلك أي في خروج النساء إلى المساجد)

د بیان شویو نصوصو حاصل:

د ښځو له کورونو څخه وتل ډیر غټه فتنه ده، ځکه فقهاء رحمهم الله د مسجد د جماعت، جمعې، د علم د طلب او وعظ اوریدلو لپاره د ښځو وتل ناروا بللي دي کله چې د داسې مهمو عباداتو او دیني ضروریاتو په خاطر د ړو وخت لپاره تر نژدې ځایونو پورې وتلو باندې هم دومره پابندي ده نو د تبلیغ لپاره د خو خو ورځو بلکه خو میاشتو او چلو لپاره لیرې لیرې ځایونو ته تلل په اولی طریقه باید ناروا شي.

(احسن الفتاوی: ۸/۵۵-۵۸، کتاب الحظر و الإباحة)

(۱) الجوهرة النيرة: ۶۰/۱، كتاب الصلاة، باب صفة الصلاة المطبوعة: المطبع المجتبائي، دهلي.

په مکتب کي زده کړه کونکيو او ور زده کونکيو ښځو ته د ضرورت په خاطر کتل

سوال: (۳۹۴) په مکتب کي د ضرورت په خاطر پر مراهقو انجونو نظر لګيږي او يوه عيسائي ښځه موږ ته سبق وايي پرهغې هم نظر لګيږي آيا دا جائز دي او کنه؟
(۱۳۴۵-۴۴/۱۳۵۴هـ)

ځواب: نظر ټيټ ساتل په هر حال کي احوط دی، كما قال الله تعالى: "قـل للمـؤمنين يغضوا من أبصارهم و يحفظوا فروجهم" (سورة نور، آيـت: ۳۰) که اتفاقًا نظر ولګي نو مواخذه ورباندي نشته سمد ستي دي نظر واړوي او د ګواهانو پر کتلو د دې قياس نه شي کيدلای او د منکر د انکار لپاره تلل او کتل هم په امر معروف کي داخل دي. پر هغه د دغه صورت قياس نشي کيدلای.

آيا و ښائسته ښځو ته کتل عبادت دی؟

سوال: (۳۹۵) کله چي په حديث شريف کي راغلي دي چي ښائسته شي ته کتل عبادت دی(۱) پر دې اساس و پردی ښځي ته کتل هم عبادت دی داسي فکر څرنګه دی؟
(۱۳۳۴-۳۳/۱۴۳هـ)

ځواب: الله تعالی فرمايي: "قل للمؤمنين يغضوا من أبصارهم و يحفظوا فروجهم" (سـورة نور، آيت: ۳۰) او فرمايي: "و لا تمدن عينيک إلى مامتعنا به أزواجا منهم زهرة الحيوة الـدنيا" (سورة طه، آيت: ۱۳۱) او په حديث شريف کي و اجنبيې ښځي ته قصدًا له کتلو څخه منع راغلې ده(۲) نو اسي خيال کوم چي په سوال کي بيان شوی دی غلط دی، داسي عقيده نه ده ساتل پکار. فقط

---

(۱) داسي کوم حديث نشته.
(۲) عن ابن بريدة عن أبيه رفعه قال: يا علي! لا تتبع النظرة النظرة فإن لک الأولى، و ليست لک الأخـرة (جامع الترمذي: ۱۰٦/۲ ابواب الآداب، باب ما جاء في نظرة الفجاءة)

له توبې وروسته و پردیو ښځو ته کتل

سوال: (۳۹۲) یو سړي و نامحرمو ښځو ته کتل پر ده یوه دعوی وشوه، ده توبه و ایستله او د الله سره یې وعده وکړه چي زه به بیا کومي نامحرمي ښځي ته نه ګورم دعوی ده وکټله اوس هم ده و نامحرمو ښځو ته د کتلو عادت نه دی پرېښی نو داسي سړی مخکي ګنهکار و او کنه او اوس هم ګنهکار دی او کنه؟ (۴۲۵/۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: مخ محل د فتنې دی باید سړی قصداً د اجنبي ښځي و مخته و نه ګوري څرنګه ګناه چي مخکي وه هغه رنګه ګناه وروسته هم ده توبه او استغفار دي کوي او دغه ناوړه عادت دي پرېږدي. فقط

و اجنبي ښځي ته په دې غرض کتل چي دا څوک ده؟ او د همسایه په کورکي کتل

سوال: (۳۹۷) ... (الف) و نامحرمو ښځو ته په دې نیت کتل چي دا ښځه څوک ده جائز دي او کنه؟ او ضعیفي ته بیله کوم غرضه کتل څرنګه دي؟

(ب) د همسایه په کورکي کتل کله چي د هغه خوښه نه وي څه حکم لري؟

(۲۴۸/۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: (الف) و نامحرم ته په دې نیت کتل هم صحیح نه دي او د ضعیفي حکم هم دا دی.

(ب) چي د کور والا نه ده خوښه نو مه ورته ګورئ.

انجوني په مکتب کي زده کړه کوي

سوال: (۳۹۸) گورنمنٹ می‌خواہد کہ در ملک بنگال برائے تعلیم دختران مسلمانان جابجا اسکولہا قائم نماید، ودر آن درس گاہ تعلیم بنگالہ وغیرہ دادہ آید وبرائے نگرانی انسپکٹر در سہ ماہ آمدہ امتحان کند، بایں ہمہ وجوہ دختران را برائے تعلیم در اسکول دادن جائز است یا نہ؟ (۹۳۵/۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: تعلیم نسواں مطلقاً ممنوع نیست، بلکہ تعلیم مسائل دینیہ جماعت نساء را ضروری است.

ولیکن در اسکولها داخل کردن دختران خود را بغرض تعلیم خوب نیست که دریں صورت خوف فتنہ است. فقط

سوال: (۳۹۸) ترجمه: حکومت په بنګال کي د مسلمانو انجونو د تعلیم لپاره ځای پر ځای مکتبونه جوړول غواړي چي پکي به په د بنلګه ژبي او نورو زده کړه کیږي او د صاحب منصب تر څارني لاندي به سه ماهي امتحانونه کیږي. د دغه وجهو پر اساس و انجونو ته په مکتب کي تعلیم ورکول جائز دي او کنه؟

ځواب: د ښځو تعلیم مطلقًا منع نه دی، بلکه د دیني مسئلو تعلیم ورکول و ښځو ته ضروري دي، لیکن په مکتبونو کي خپلي انجوني د تعلیم په غرض داخلول صحیح نه دي چي په دې کي خوف د فتني دی. فقط

د انجونو تعلیم په مدرسو کي مناسب نه دی

سوال: (۳۹۹) د میرپور سیمي مسلمانان د ښځو د نن صبا د تعلیم په خلاف په بیلابیلو روایاتو او پخپل قیاسي اجتهاد عمل کونکي دي، د سیمي مهارجه د خپلو ناوسه او ناپوهه مسلمانانو رعایا د خواخوږي په وجه تېر کال د ښځو د تعلیم اسلامي مدرسه جوړه کړه او سره د مخالفته بیا هم مسلمانانو خپلي لوڼي پکي داخلي کړې، لیکن خو اوس د مروج نصاب تعلیم لاندي دا لازمه ده چي د هلکانو د مدرسو په رنګه د انجونو په مدرسو کي هم له مذهبي تعلیم څخه پرته د اردو ژبي لیکنه او ویتا زده شي لیکن د سیمي مسلمانان بیله کوم شرعي دلیل وړاندي کولو د اردو د لیکني او زده کړي په خلاف د حکومت و تعلیمي څانګي ته نقصان رسوي زه په دې اړه ستاسو څخه خواست کوم چي د انجونو د لیکني او دغه مروج تعلیم په خلاف که کوم صریح نص د قرآن یا حدیثو موجود وي نو په جواب کي د استفاده کولو موقع راکړې بینوا توجروا. (۴۲۴/۱۳۴۳ھ)

ځواب: و انجونو ته لیکنه او د دین د ضروري مسئلو زده کړه کول منع نه دي بلکه په لیکنه وینه او حساب کي مهارت حاصلول هم شرعًا منع نه دي اما خبره په دې کي ده چي طریقه د زده کړي به داسي وي چي ورڅخه به د دوی پر اخلاقو، عاداتو، ناسته ولاړه او نورو به په ائنده کي کوم بد اثر نه پرېوزي داسي به نه وي چي بې پرده عادت شي او بیا بې پرده ګرځېدنه جائز بولي. داغه راز بل

خواهش د آزادي به پکې نه راځي، ځکه د انجونو تعلیم په مدرسو کې مناسب نه دی، بلکه په کورونو کې باید د دوی محارم پلار، ورور یا مور او نور دوی ته ضروري تعلیم ورکړي او لیکنه ورزده کړي، داسې څه پروا نلري، بلکې د دیني ضروري مسئلو تعلیم او تعلم تر یو حده پوري فرض او ضروري دی. فقط و الله تعالی اعلم

اضافه از مرتب:

د ښځو او انجونو د دیني تعلیم غوره طریقه

په فتاوی رحیمیه کې راغلي دي: د ښځو او انجونو د دیني زده کړې غوره طریقه دا ده چې باید هر ځای او په هر کلي کې د دوی د تعلیم بندوبست وشي چې ښځې او انجونې په پوره پرده کې تګ راتګ کوي او داسې د اعتماد ډک رفاقت وي چې له بدنامۍ څخه یو مخ خوندي وي او د دوی پر پت او عزت باندې په هیڅ ډول تور نشي را، او ماپښین مازدیګر خپلو کورونو ته بیرته ورسي د دوی مشران دې هم د دوی تعلیم او تګ راتګ پوره څارنه کوي، د ښځو او انجونو دغه طریقه د تعلیم به انشاء الله له فتنو خوندي وي. (فتاوی رحمیه کامل: ۱۰۴/۲، ط دیوبند)

د انجونو په عام اجلاس کې قرأت او شعرونه ویل

سوال: (۴۰۰) د انجونو مدرسه چې پکې انجونې شته چې پېغلتوب ته رسیدلې دي یا نژدې یا لیرې وي یوه عامه جلسه کې چې د ښار مشران او ځوانان پکې راجمع وي او په منځ کې صرف یوه پرده وي په داسې ځای کې د مدرسې ناظم د انجونو مونه د پلار د نوم سره په لوړ آواز اخلي انجونې د پردې شاته په لوړ آواز قرأت او نعتونه شعرونه وايي او د دوی پر آوازونو ټول خلک واه واه شاباش، مرحبا او جزاک الله وايي داسې عمل څرنګه دی؟ (۱۳۴۲/۱۳۳۸ھ)

ځواب: له داسې عمل چې پکې د فتنې خوف وي پرهېز کول مناسب دی، که څه هم حالاً دا عمل منع نه وي لیکن په آئنده کې د فتنو پیدا کیدو له ویرې له داسې کارونو پرهېز کول پر مسلمانانو لازم دی. فقط

د پردې په اړه د پلار او نورو لا پرواهي ګناه ده

سوال: (۴۰۱) که پلار په خپلو لوڼو د پردې کولو په هکله لاپرواهي کوي نو ګناهکار به وي او کنه؟ (۱۳۴۰/۱۷۸۴هـ)

ځواب: ببله شکه په دې هلکه د پلار ذمه واري ده چې خپل بچیان په شرعي حکم خبر کړي او پېغلو انجونو ته د پردې حکم وکړي که یې هغوی عملي نکړي نو ګنهکاري به وي.

سوال: (۴۰۲) د چا د کور ښځې چې ځانونه ښایسته کړي شرنګار کونکي زیور واغوندي په کوڅو کې ګرځي دی عالم او سید وي خو منع ځني نه کوي د داسي عالم په هکله څه حکم دی؟ (۱۳۴۰/۱۹۸۴هـ)

ځواب: داسي ښځې باید له دې عمله منع کړي بیا که دوی یې ونه مني نو دوی ګنهکاري دي.

له ازواج مطهراتو رضی الله عنهن څخه د پردې کولو وجه؟

سوال: (۴۰۳) کله چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم بي بي ګاني د امت لپاره په مثل د میندو دي نو د دوی د پردې څه معنی ده؟ لکه څرنګه چې له مور څخه پرده نشته داغه ډول له دوی څخه باید نه وي. (۱۳۳۷/۱۲۲۴هـ)

ځواب: الله رب العزت چې لکه څرنګه و ازواج مطهراتو ته د مؤمنانو میندې فرمایلي دي په "و أزواجه أمهاتهم" (سورة احزاب، آیت: ٦) کې داغه راز په بل آیت کې فرمایلي دي: "و إذا سئلتموهن متاعا فاسئلوهن من ورآء حجاب" (سورة احزاب، آیت: ٥٣) نو معلوم شو چې میندې ویل دوی ته په اعتبار د تعظیم او د نکاح د حرام والي دي او په پرده کې دوی د اجنبیانو په رنګه دي كذا في معالم التنزيل(۱)

---

(۱) قوله عز و جل: و ازواجه امهاتهم(سورة احزاب، آیت: ٦) ... و هن امهات المؤمنين في تعظيم حقهن و تحريم نكاحهن على التأبيد لا في النظر إليهن و الخلوة بهن فإنه حرام في حقهن كما في حق الأجانب. قال الله تعالى: و إذا سئلتموهن متاعًا فاسئلوهن من ورآء حجاب (سورة احزاب، ایت: ٥٣) (معالم التنزيل للبغوى رحمة الله عليه: ص: ٧٠٤، سورة الأحزاب)

د محرمو ښځو ستر

سوال: (۴۰۴) ښځه به د خپل محرم څخه څومره بدن پټوي؟ (۲۷۲/۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: و من محرمه ... إلى الرأس و الوجه و الصدر و الساق و العضد إن أمن شهوته و شهوتها ايضا إلخ(۱) د دغه عبارت حاصل دا دی چي د نارينه لپاره د خپلو محارمو ښځو و سر، مخ، سيني، پنډۍ او ليڅو ته کتل صحيح دي په دې شرط چي د شهوت خوف به نه وي.

په حجاب او ستر کي څه فرق دی؟

سوال: (۴۰۵) حجاب او ستر يو شی دی که دوه؟ او حجاب فرض دی که واجب؟ څوک ورته فرض وايي او څوک ورته واجب؟ (۴۱۵/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: حجاب فرض دی که چيري د وجوب لفظ وي نو له هغه څخه هم مراد فرضيت دی او ستر او حجاب بېل بېل نه دي فقط.

اضافه از مرتب:

د ستر احکام او د ښځو په حجاب کي فرق

د نر او د ښځي د بدن هغه برخه چي په عربي کي ورته عورة او په فارسي کي ستر وايي چي له هر چا څخه پټول په شرعي، طبعي او عقلي توګه فرض دي او له ايمان وروسته تر ټولو لومړی فرض چي عمل په کول ضروري دی هغه ستر د عورت دی دا فريضه خو د پيدا کيدو له پيل څخه ده د ټولو انبياوو په شريعتونو کي فرض ده، بلکه د شريعتونو له وجود څخه هم مخکي کله چي په جنت کي د شجرة ممنوعه خوړلو وروسته د حضرت آدم او حواء عليهما الصلاة و السلام ستر ښکاره کول جائز نه وبلل څکه حضرت آدم او حواء عليهما الصلاة و السلام دواړو د جنت پاڼي پر خپل ستر وترلې: د "و طفقا يخصفان عليهما من ورق الجنة" (سورة اعراف، آيت: ۲۲) هم دغه مطلب دی و دنيا ته له راتلو وروسته له حضرت آدم عليه الصلاة و السلام څخه واخله بيا تر خاتم الانبياء صلى الله عليه وسلم

---

(۱) الدر مع الشامی ۲۵۹/۵ کتاب الحظر و الإباحة، فصل في النظر و المس، ط رشيديه

د هر پیغمبر په شریعت کي د ستر پټول فرض شوي دي، د مستوره اعضاء په تعین او تحدید کي اختلاف کیدلای شي چي ستر له کوم ځایه تر کوم ځایه دی؟ مګر اصل فرضیت د ستر عورت د ټولو نبیانو په شریعتونو کي منل شوی دی او دا فرض پر هر نر او ښځه انسان باندي شته کوم بل ځوک ورته کتونکی وي او که نه وي ځکه نو که کوم سړی په توره شپه په لوڅ بدن لمونځ وکړي حال دا چي د ستر پټولو جامه د ده سره وي نو داسي لمونځ اتفاقًا ناروا دی حالانکه دی لوڅ هیڅا نه دی لیدلی (البحر الرائق) داغه راز لمونځ که په کوم داسي ځای کي وکړل شي چیري چي کوم بل کس لیدونکی نه وي داسي وخت هم که په لمانځه کي ستر ښکاره شو نو لمونځ فاسدیږي (کما فی عامة کتب الفقه) له لمانځه څخه خارج خو د خلګو مخته ستر د عورت په فرض والي کي د هیڅا اختلاف نشته لیکن په خلوت کي چیري چي کوم بل ځوک لیدونکی نه وي هلته هم صحیح قول هم دغه دی چي له لمانځه څخه خارج هم بېله شرعي یا طبعي ضرورته ستر ښکاره کول او لوڅ کښېنستل جائز نه دي کما فی البحر عن الشرح المنیة دا حکم خو د عورت د ستر و چي د اسلام له پیل څخه بلکه د پیدائش له پیل څخه د ټولو انبیاوو په شریعتونو کي فرض و چي پکي ښځه او نر دواړه برابر دي په خلوت او جلوت کي هم برابر دی لکه څرنګه چي د خلګو په مخ کي ځان لوڅول جائز نه دي داغسي په خلوت او یو ازیوالي کي بېله ضرورته ځان لوڅول جائز نه دي.

دوهمه مسئله د حجاب او پردې ده چي ښځي به له اجنبي خلګو څخه پرده کوي په دغه مسئله کي هم دومره خبره خو په انبیاء صلحاء او شرفاء کي له همیشه څخه راغلي ده چي د اجنبي نارینه وو سره به د ښځو په آزاده اختلاط نه وي د حضرت شعیب علیه الصلاة و السلام د دوو لوڼو قصه چي د قرآن کریم په شلمه سپاره کي راغلي ده چي هغه انجوني د خپلو وزو اوبولو لپاره د کلي ځاه ته تللي دي هلته د خلګو رش و. هغوی خپل حیوانان اوبول نو په قرآن کریم کي راغلي دي چي دغه انجوني یوې خوا ته بیلي ودریدلي حضرت موسی علیه الصلاة و السلام چي دا وخت د یو مسافر په حیث هلته تیریدی نو دغه انجوني چي جلا ولاړي ولیدې نو پوښتنه یې ځني وکړه انجونو په جواب کي دوې خبري ورته وکړې لومړی دا چي دا وخت دلته د خلګو رش دی موږ خپل حیوانان هغه وخت اوبو و چي خلګ ولاړ شي دوهمه خبره یې دا ورته وکړه چي زموږ پلار سپین ږیری ضعیف دی په دې کي اشاره دې خوا ته ده چي د حیوانانو د اوبولو لپاره وتل د عرف او عادت له مخه د ښځو کار نه و مګر د پلار د ضعف او په کور کي د بل نارینه د نه کیدو په وجه دا کار موږ وکړی

دا حال په قرآن شریف کي د حضرت شعیب علیه الصلاة و السلام د لوڼو بیان کړل شوی دی چي دا ځني معلوم شول چي په هغه زمانه کي هم او د دوی په شریعت کي هم د ښځو د نارینه وو سره اوږه په اوږه تګ او د یو بل سره اختلاط چا نه خوښوی او داسي کار و نه چي

پکې به د نارینه وو سره اختلاط راتلی هغه به په ښځو نه کول لنډه دا چې له دغه مجموعي ځخه دا معلومیږي چې ښځو ته باقاعده په پرده کې اوسیدو حکم هغه وخت نه و داغه راز په اول د اسلام کې هم دا ډول حال و، د هجرت په دریم یا پنځم کال پر ښځو باندې له اجنبیانو پرده کول فرض شوه چې تفصیل یې پر مخ راځي له دې ځخه دا معلوم شو چې ستر د عورت او حجاب د نساء دا دوې جلا جلا مسئلې دي، ستر د عورت له همیشه ځخه فرض شوی دی، حجاب د نساء د هجرت په پنځم کال فرض شوی دی ستر د عورت پر نر او ښځه دواړو فرض دی او حجاب صرف پر ښځو، ستر د عورت د خلګو په مخکې او په خلوت کې په دواړو کې فرض دی حجاب صرف د اجنبیانو په موجودیت کې، دا تفصیل مې ځکه بیان کړ چې د دغه دوو مسئلو په یو بل سره ګډولو د قرآن په احکامو او مسائلو باندې ځان پوهولو کې ډیرې شبهې پیدا کیږي (معارف القرآن ۷/۲۱۱-۲۱۳ سورة احزاب، آیت ۵۵)

داغه راز حضرت مفتي سعید احمد صاحب پالن پوري صدر المدرسین او شیخ الحدیث د دار العلوم دیوبند فرمایي:

د نارینه او زنانه ستر یو دی: ستر د نر او ښځې یو دی، له نو ځخه واخله د ګوډې تر پایه پوري ستر دی، یعني د پټولو بدن دی، بېله ضرورته د چا و مخته لوځول جائز نه دي یوه ښځه د بلې ښځې و مخته د بدن دغه برخه بېله ضرورته نشي لوځولای د مجبورۍ خبره جلا ده لکه مثلاً د بچې پیدا کیدل، یا کوم اپریشن کول نو دا ځان ته مسئله ده لیکن بېله ضرورته یې نشي لوځولای، د نر او ښځې دواړو همدا ستر دی.

د ښځې حجاب درې درجې دی: بیا د نارینه لپاره هیڅ حجاب نشته لیکن د ښځې لپاره له ستر ځخه پرته حجاب هم شته او د هغې حجاب درې درجې دی:

لومړی حجاب: له الله ځخه د بنده حجاب دی چې کله ښځه لمونځ کوي نو مخ چې څومره په اودس کې پرېمنځل فرض دی او دواړه لاسونه تر مړوندو پوري او دواړې پښې تر بجلکو پوري ښکاره ساتلای شي، دغه درې اعضاء د لمانځه په حجاب کې داخل نه دي لیکن که کومه ښځه دستکلې په لاس کړي او موزې په پښو کړي لمونځ کوي نو ښه خبره ده ضروري نه ده ځکه چې دا د لمانځه په حجاب کې داخل نه دي اما بجلکي پټول ضروري دي که هغه ښکاره وي نو د ښځې لمونځ نه کیږي داغه راز غوږونه پټول هم ضروري دي که په لمانځه کې ښکاره و نو لمونځ نه کیږي صرف درې اعضاء ښکاره ساتلای شي د نور بدن په لمانځه کې پټول ضروري دي دا د بنده حجاب دی له الله رب العزت ځخه

دوهم حجاب د محارمو حجاب دی یعني له هغو خلکو څخه دی له کومو څخه چې د همیشه لپاره نکاح حرامه ده د دوی و مخته خیټه او د هغې په مقابل شا نشي ښکاره کولای له دې څخه سیوا نور بدن ښکاره کولای شي سینه د سینې په مقابل شا له سینې څخه پورته برخه د وا ړ د لاسونه او دواړې پنډۍ دا ټول اعضاء د محارمو و مخته ښځه ښکاره کولای شي لیکن د ښکاره کولای شي مطلب دا نه دی چې بس ښکاره به یې ساتي د پنډۍ، سر، غاړې او نورو په اړه خو به کوم اشکال نه وي لیکن د سینې او د هغې د مقابل شا په حجاب کې نه کیدو باندې اشکال کیدلای شي نو باید موږ په دې ځانونه پوه کړو چې دا یو معاشرتي ضرورت دی، ښځه په کور کې و ماشوم ته تی ورکوي او په همدغه کور کې پلار، خسر او وروروي نو که سینه په حجاب کې راشي نو ښځه به ماشوم ته شیدې څرنګه ورکوي؟ د همدې ضرورت په وجه سینه د محارمو له حجابه ایستل شوې ده او کله چې سینه و ایستل شوه نو د هغه په مقابل شا هم و ایستل شوه او د خیټې ښکاره کولو کوم ضرورت نشته ځکه خیټه او د هغې په مقابل شا په حجاب کې و شمېرل شوه، لنډه دا چې دا یو معاشرتي ضرورت دی که پر دې پابندي ولګول شي نو کار نه چلیږي

دریم حجاب د اجنبیانو حجاب دی او هغه د ټول بدن حجاب دی، په دې کې کومه استثناء نشته د لاس، پښو او مخ ټولو حجاب شته بلکه د آواز هم حجاب شته د ښځې لپاره ضروري ده چې دا خپل ږغ په اجنبیانو وانه وري، په ټیلي فون باندې دې هم نه په اوري، که څوک د کور دروازه و ټکوي نو هم دې یې نه په اوري هو که مجبوري وي نو صحیح ده، ټیلي فون راشي او کور ته کوم نارینه نه وي نو ښځه په ټیلي فون پورته کولو جواب ورکولای شي مګر په نرم او خوږ آواز دې جواب نه ورکوي بلکه په کلک او تریخ آواز دې جواب ورکړي داسي حکم په قرآن کې راغلی دی: "فلا تخضعن بالقول فیطمع الذی فی قلبه مرض" په جیږ آواز دې جواب ورکړي چې کور ته څوک نشته، د ښځې دا پوښتنه کول چې ته څوک یې؟ په قوم څوک یې؟ له کومه ځایه خبري کوې؟ دا ټول غلط دي، د ښځو په دې څه کار دی بس دومره دې ورته ووایي چې کور څوک نشته او که په کور کې کوم نارینه یا په خبره پوه ماشوم وي نو باید ټیلي فون هغه پورته کړي ښځې دې یې نه پورته کوي، مګر نن صبا داسي مصیبت راغلی دی چې د چا کره ټیلي فون وروکړي نو لومړی ښځه ټیلي فون پورته کړي هغه د ټولې نړۍ خبري د رڅخه و پوښتني بیا بې خاوند ته ورکړي هغه هم ورسره ناستوي دا د اسلام خلاف دی. ښځې باید له دې څخه پرهېز وکړي

د حجاب د دغه دریمي درجې یادونه په سورة الاحزاب کې راغلې ده "یایها النبی قل لأزواجک و بناتک و نساء المؤمنین یدنین علیهن من جلابیبهن" ای نبي و وایه بیبیانو خپلو ته او لونو خپلو ته او بیبیانو د مؤمنانو ته چې راکش کړي پر خپلو مخانو پړوني خپل، یعني که د کوم ضرورت په وجه د باندې ووځي نو پړوني دې پر مخ راکش کړي، دا د مخ حجاب دی او کله چې پړوني پر مخانو راکشوي

نو لاسونه خو به پټ وي، که پټ نه وي نو کوم خاص حکم يې په دې اړه نه دی کړی د اغه راز د پښو په اړه کوم خاص حکم نه دی کړی، صرف د مخ په اړه حکم کړی دی چې ښځې دې په پټ مخ له کورونو وځي ځکه چې مخ مجمع المحاسن دی د ټول بدن ښائست په مخ کې وي او حواس خمسه چې د هغوی په وسیله علم حاصلول کيږي کوم چې د انسان کمال دی هغه ټول په مخ کې جمع دي ځکه د ټول بدن ښائست په مخ کې راځي ځکه په خصوصي توګه د مخ د حجاب حکم وکړی او د لاسونو پښو په هکله هيڅ ونه فرمايل. (علمي خطبات: ۲/۱۱۱-۱۱۴) داغه راز دا مضمون په تحفة الألمعی شرح سنن الترمذي کې هم راغلی دی: ۲/۲۰۴-۲۰۵، عنوان دی د بالغي ښځي لمونځ بېله پړوني نه کيږي.

آیا ستر پټول هر وخت فرض دی؟

سوال: (۴۰۶) د نارینه لپاره ستر پټول صرف د لمانځه لپاره فرض دی که هر وخت؟ (۵۰۲/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: هر وخت صرف د غټو او کوچنیو بولو او کوروالي پر مهال يې لوڅولای شي.

لاندي کتنه

سوال: (۴۰۷) زه هره ورځ سهار او ماښام د سیل او تفریح لپاره ځنګل ته ځم او هر طرف ته درختو ته ګورم تر څو مې دماغ او نظر تېز شي او ښهٔ علم حاصل کړم نو آیا داسې وخت هم لاندې پښو ته کتل مستحب دي که څنګه؟ (۱۲۱۹/۱۳۴۵ھ)

ځواب: د سیل او تفریح لپاره ځنګل ته تلل او درختو او ونو ته کتل جائز دي او کله چې نیت نیک وي نو د ثواب هیله کول پکار دي او لاندې کتل ځکه غوره دي چې پر اجنبي ښځه او نورو نظر و نه لګيږي د دې دا مطلب نه دی چې مخته شي ته به ګوري هم نه چې څه شي راروان دی. فقط

د پهلوانانو پهلواني کتل جائز ده که نه؟

سوال: (۴۰۸) د هغه پهلوانانو پهلواني کتل چې تر ګوډو پورته ورنونه يې ښکاره وي

جائز ده او کنه؟ (۱۳۳۰-۲۹/۹۷۹هـ)

ځواب: ورون ستر (عورت) دی داسي پهلواني کتل چي پکي ستر ته نظر کول راځي جائز نه ده. فقط

د نېکر اغوستي پهلواني کول

سوال: (۴۰۹) د یو سړي لپاره د خلکو و مخته د نېکر اغوستلو پر مهال پهلواني کول جائز ده او کنه؟ د داسي سړي په هکله شریعت څه وایي؟ (۱۳۳۹/۱۴۹هـ)

ځواب: جائز نه دي لکه چي په حدیث شریف کي راغلي دي چي ورنونه د چا مخته مه لوڅوئ ځکه چي ورون هم په ستر کي داخل دی(۱) نو څوک چي داسي کوي هغه ګنهکار دی هغه باید له دې څخه توبه وباسي. فقط

سوال: (۴۱۰) عمر یو پهلوان سړی دی د ده د معاش وسیله پهلواني کول دي او دا ښکاره خبره ده چي پهلوان د پهلوانۍ پر مهال صرف نېکر اغوستی وي داسي جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۳/۲۰۹۰هـ)

ځواب: پهلواني کول في حد ذاته منع نه ده لیکن دا وخت فرض نه پتهول حرام دي او پر ګټلو بایللو څه اخیستل ورکول هم حرام او منع دي. فقط

لوڅ ویدېدل او کوروالی کول

سوال: (۴۱۱) ... (الف) د خپل کور په غولي کي چیري چي څوک نه وي یوازي لوڅ ویدېدل جائز دي او کنه؟

(ب) داغه راز ښځه او خاوند د خپل کور په غولي کي یوازي یو مخ لوڅ کوروالی کولای شي او کنه؟ (۱۳۴۵-۴۴/۴۲۴هـ)

ځواب: (الف) مکروه دي و الرابع: ستر عورته و وجوبه عام و لو فی الخلوة علی

---

(۱) عن ابن عباس و جرهد و محمد بن جحش رضی الله عنهم عن النبی صلی الله علیه وسلم: الفخذ عورة الحدیث(صحیح البخاری: ۵۳/۱ کتاب الصلاة، باب ما یذکر فی الفخذ)

الصحیح إلا لغرض صحیح إلخ(۱) (در مختار)

(ب) دا هم مکروه دی. فقط

سوال: (۴۱۲) ښځه او خاوند لوڅ کوروالی کولای شي او کنه؟(۵۰/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: په خلوت کې يې کولای شي مګر د ادب او مستحب خلاف دي.

لوڅ د کور په غولي کې لمبېدل مکروه دي

سوال: (۴۱۳) د کور په غولي کې د ښځې لوڅ غسل کول څرنګه دي؟ (۸۸۵/۱۳۳۵ھ)

ځواب: ښځه وي که نر د کور په غولي کې لوڅ لمبېدل مکروه دي. فقط

په پردې کور کې کتل

سوال: (۴۱۴) په پردي کور کې کتل هم منع دي او کنه؟(۴۶۵/۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: و کور او غولي ته کتل منع نه دي مقصد دا دی چې نامحرم ته به نه ګوري او د چا د پردې خيال دې ساتي. فقط

د ماشوم زېږېدو پر مهال د ښځې ستر ته کتل

سوال: (۴۱۵) د ماشوم پیدا کېدو پر مهال د ښځو لپاره د ښځې و ستر ته نظر کول څرنګه دي؟(۱۱۹۰/۱۳۳۵ھ)

ځواب: په داسې حالت کې صحیح دي. کما لا یخفی(۲)

د ملازمت لپاره لوڅ په ډاکټر ګان کتل

سوال: (۴۱۶) لنډېز د سوال دا دی چې کوم څوک په مکتب کې ملازم جوړېدل غواړي هغه به لوڅ لغړ

---

(۱) الدر مع الشامي ۲۹۷/۱ کتاب الصلاة، باب شروط الصلاة، مطلب في ستر العورة. ط رشیدیه

(۲) ینظر الطبیب إلی موضع مرضها بقدر الضرورة إذ الضرورات تتقدر بقدرها، و کذا نظر قابلة و ختان الخ(الدر مع الشامي ۲۶۱/۵ کتاب الحظر و الإباحة. فصل في النظر و المس. ط رشیدیه)

په ډاکټر ځان ګوري داسي جائز دي او کنه؟ (۱۰۰۹/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: فقهي روايتونه په دې اړه داسي دي: و الرابع: ستر عورته و وجوبه عام الخ (در مختار) أی فی الصلاة و خارجها(۱) (شامي) عليه غسل و ثمه رجال لايدعه و إن راوه(در مختـار) قوله: (لا يدعه و إن رأوه) قال فی شرح المنية: و هو غير مسلم، لأن ترک المنهی مقدم علی فعل المأمور و للغسل خلف و هو التيمم فلا يجوز كشف العورة لأجله عند من لا يجوز نظـره إليهـا بخلاف الختان الخ(۲) (شامي) و كذا نقل المنع عن الحيلة(۳)

لنډه دا چي په نصوصو او آيتونو (۴) او احاديثو(۵) او فقهي روايتونو دا ثابت دي چي پخپل اختيار په ډاکټر ځان کتني لپاره ځان لوڅول شرعًا جائز نه دي او کله چي د ضرورت او شرعي فريضو پر مهال لکه د جنابت غسل لپاره لوڅ د خلګو مخته غسل کول د صحيح مذهب سره سم روا نه دي نو د داسي ملازمت په وجه به ځان لوڅول څه ډول جائز شي؟ او د خپل اختيار په صورت کي د جواز هيڅ وجه نه معلوميږي د اضطرار او بې اختيار والي قصه بېله ده.فقط

بېله ضرورته د اجنبي ښځو سره خبري کول

سوال: (۴۱۷) آيا د اجنبي ښځو سره بېله شرعي ضرورته تر ډېره پوري خبري کول جائز دي؟ (۵۷۰/۱۳۴۰هـ)

---

(۱) الدر مع الشامي ۲۹۷/۱ كتاب الصلاة باب شروط الصلاة، مطلب فی ستر العورة. ط رشيديه

(۲) رد المحتار ۱۱٤/۱ كتاب الطهارة، مطلب فی أبحاث الغسل. ط رشيديه

(۳) و كذا استشكله فی الحلية بما فی النهاية عن الجامع الصغير للإمام التمرتاشي عن الإمام البقالي: و لو كان عليه نجاسة لا يمكن غسلها الا باظهار عورته يصلی معها لأن إظهارها منهی عنه و الغسل مـأمور بـه، و إذا اجتمعا كان النهی اولی (الشامی پورتنی حواله)

(٤) قل للمؤمنين يغضوا من أبصارهم و يحفظوا فروجهم الآية(سورة نور، ايت: ۳۰)

(٥) عن ابی سعيد الخدري عن ابيه رضی الله عنهما ان رسول الله صلی الله عليه وسلم قال: لا ينظر الرجل إلی عورة الرجل و لا المرأة إلی عورة المرأة الحديث(الصحيح لمسلم: ١٥٤/١ كتاب الحيض باب تحريم النظـر إلی العورات)

ځواب: په خلوت کي د اجنبي ښځو سره خبري کول صحيح نه دي

وروېنداري ته خط ليکل او د وريېنداري او خوښيني سره خبري کول

سوال: (۴۱۸) و خپلي ورېنداري ته داسي خط ليکل چي زه فلاني ځای ته ورسېدم تاسو خپل حال راکړئ، د ورور اجازه ضروري ده که بېله اجازې يي هم ليکلای شي؟ او د وريېنداري او خوښيني سره خبري اتري کول جائز دي او کنه؟ (۳۲/۲۰۱-۱۳۳۳هـ)

ځواب: دا ډول خط ليکل او د روغ جوړ پوښتنه کول څه پروا نلري او په دې کي د ورور اجازې ورکولو ته هم ضرورت نشته او د ضرورت پر مهال د وريېنداري او خوښيني سره خبري کول صحيح دي. فقط

سوال: (۴۱۹) د خپلي خوښيني سره خبري کول يا ودې ته کوم شی ورکول چي د سرې نيت هم سم وي جائز دي او کنه؟ (۱۲۹۴/۱۳۴۵هـ)

ځواب: جائز دی.

په اجنبي ښځه بدن کښېکښل جائز نه دي

سوال: (۴۲۰) پـه اصلاح الرسوم کي راغلي دي چي د نارينه لپاره پـه ښځه بدن کښېکښل جائز نه دي دا مقيد دي که مطلق؟ (۳۳/۳۵۷-۱۳۳۴هـ)

ځواب: دا مسئله مقيده ده يعني د نارينه لپاره په اجنبي ښځه بدن کښېکښل صحيح نه دي اما پخپله ښځه مطلقاً صحيح دي او پـه محرماتو باندي پـه دې شرط صحيح دي چي له شهوت څخه به په امن وي قال في الدر المختار: و ما حل نظره مما مر من ذکر او أنثى حل لمسه إذا أمن الشهوة على نفسه و عليها(۱)

د مرور سره خبري کول او خدمت په کول

سوال: (۴۲۱) زيـد کـه د خپلـي مـرور سـره خبـري وکـړي يـا پـه دې روا يـا نـاروا خـدمت کـوي نـو

---

(۱) الدر مع الشامي ۲۵۹/۵ کتاب الحظر و الإباحة، فصل في النظر و المس. ط رشيديه

څرنګه حکم دی؟ (۱۳۴۱/۱۲۱۲هـ)

ځواب: د ضرورت پر مهال د زید لپاره د خپلي مرور سره مباح خبري کول جائز دي، و یجوز الکلام المباح مع امرأة اجنبیة(۱) (شامي عن القنیة: ۲۵۷/۵) او که د فتنې خوف نه وي او د زید فسق ثابت نه وي نو جائز خدمت په دې کولای شي، کما فی الشامی عن القنیة فی عکس هذه الصورة: ماتت عن زوج و أم، فلهما أن یسکنا فی دار واحدة إذا لم یخافا الفتنة الخ(۱) د دغه مسئلې په پای کي علامه شامي رحمه الله فرمایي: و العلة تفید أن الحکم کذلک فی بنتها و نحوها اهـ (یعني همدغه حکم دی د ښځي د لور او نورو محارمو ښځو)(۱) (۲۵۷/۵)

په لور، خور، مور او نورو سرغوړل یا نور خدمتونه په کول

سوال: (۴۲۲) پخپله لور، خور یا مور او نورو سر غوړل یا په نوسي و ښتان په ایستل یا د ډوډۍ او اوبو خدمت په کول یا خبري ورسره کول جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۱/۲۲۹۱هـ)

ځواب: د دغه خدمتونو په کول څه پروا شرعًا نلري کله چيّ دوی په خوشحالي او رضا دا کار کوي. کما هو معروف(۲) فقط

ښځه په کورکي لوڅ سر ګرځي


سوال: (۴۲۳) کومه ښځه چي پخپل کور کي لوڅ سر ګرځي او خاوند هم ځني ناراض وي او کور ته د خاوند کشران بالغ ورونه هم راځي، د دې په هکله څه حکم دی؟ (۱۳۴۷-۴۶/۳۴۲هـ)

---

(۱) الشامي ۲۶۱/۵ کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی النظر و المس. ط رشیدیه

(۲) ماتت عن زوج و ام، فلهما أن یسکنا فی دار واحدة إذا لم یخافا الفتنة الخ د دغه مسئلې په پای کي علامه شامي رحمه الله فرمایي: و العلة تفید أن الحکم کذلک فی بنتها و نحوها.

ځواب: په کور کي چي کله کوم اجنبي سړی له خاوند څخه پرته نه وي نو په ګرمي کي سر لوڅول هم جائز دي لیکن هر وخت داسي عمل کول په تېره بیا چي خاوند یې منع کړي او کله چي د خاوند ورونه هم ځي راځي داسي نه دي کول پکار، پړونی پر سرول پکار دي او په دا ډول کارونو کي د خاوند اطاعت لازم دی. فقط و الله تعالی اعلم



د ویښتانو او سنتي احکام

د سر ویښتان باید څومره وي؟

سوال: (۴۲۴) د نارینه لپاره د سر ویښتان څومره غټول جائز دي؟ (۱۳۴۷-۴۲/۳۱۲۵هـ)

ځواب: عن انس رضی الله عنه قال: کان شعر رسول الله صلی الله علیه و سلم إلی نصف أذنیه(۱) (شمائل ترمذي، باب ما جاء فی شعر النبی صلی الله علیه و سلم) له دغه حدیث څخه معلوم شو چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ویښتان د غوږونو تر نیمایه پوري ؤ، نو دومره اندازه سنت شو، که څه هم له دې څخه کمې او زیاتوب کول هم جائز دی. فقط

سوال: (۴۲۵) ویښتان غټول څرنګه دي؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۲۹۵هـ)

ځواب: د ویښتانو غټول په بېلابېلو وختونو کې په بیلابیلو کیفیتونو سره له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ثابت دي، کله به د ده مبارک صلی الله علیه وسلم ویښتان تر اوږو پوري ورسېدو او کله به تر غوږو پوري او کله به د غوږونو تر منځ پوري(۲) نو په داسي کارونو کې ډېره سختي مناسب نه ده.

---

(۱) شمائل ترمذي، ص:۳.

(۲) عن انس بن مالک رضی الله عنه قال: کان شعر رسول الله صلی الله علیه وسلم إلی نصف أذنیه. و عن عائشه رضی الله عنها قالت: کنت اغتسل أنا و رسول الله صلی الله علیه وسلم من إناء واحد و کان له شعر فوق الجمة و دون الوفرة. و عن قتادة قال: قلت لأنس رضی الله عنه: کیف کان شعر رسول الله صلی الله علیه وسلم؟ قال: لم یکن بالجعد و لا بالسبط، کان یبلغ شعره شحمة أذنیه (شمائل الترمذی، ص: ۳، =

د سر وېښتان کوچني کول او خریل

سوال: (۴۲۶) د سر وېښتان کوچني کول پکار دي که خریل؟ (۵۹۳/ ۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: وېښتان کوچني کول هم صحي دي او خریل هم صحیح دي. څرنګه چي مصلحت او ضرورت وي، هغسي وکړئ. فقط

د سر ځیني وېښتان غټ او ځیني کوچني کول

سوال: (۴۲۷) کله چي د زید د سر وېښتان د دریو وربشو د دانو په اندازه غټ شي نو دی د دوو وربشو د دانو په اندازه د سر و دواړو خواوو ته وېښتان پرېږدي د ښائست لپاره نور وېښتان کوچني کړي داسي جائز دي او کنه؟ (۱۲۲۱/ ۱۳۳۹هـ)

ځواب: که د ټول سر وېښتان برابر برابر کوچني کړي نو څه پروا نلري لیکن غټ او کوچني کول یو ځای کوچني کول بل غټول دا ښه نه دي او انګریزي وېښتان د همدي نومکېدل دا بله وجه د ممانعت او کراهت ده چي په دې کي تشبه بالنصاری ده او داغه راز په لباس کي د نصاری سره تشبه منع ده که څه هم په بعض لباس کي وي. فقط

لږ سر خریل

سوال: (۴۲۸) داسي کوم حدیث شته چي د هغه مضمون داسي وي یعني د ټول سر وېښتان وخریاست یا د ټول سر وېښتان پرېږدئ. (۳۴۹/ ۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: عن ابن عمر رضی الله عنهما أن النبی صلی الله علیه وسلم رأی صبیا

=باب ما جاء فی شعر رسول الله صلی الله علیه وسلم)

و عن قتادة سألت أنس بن مالك رضی الله عنه عن شعر رسول الله صلی الله علیه وسلم فقال: كان شعر رسول الله صلی الله علیه وسلم رجلا لیس بالسبط و لا الجعد بین أذنیه و عاتقیه.

و عن أنس رضی الله عنه كان یضرب شعر النبی صلی الله علیه وسلم منكبیه (صحیح البخاری: ۸۷۶/۲، كتاب اللباس، باب الجعد)

قد حلق بعض رأسه و ترک بعضه. فنهاهم عن ذلک و قال: احلقوا کله او اترکوا کله(۱) رواه مسلم(مشکوة، ص: ۳۷۲، باب الترجل، مطبع احمدی) فقط

سوال: (۴۲۹) سر کودک دریں دیار همگی می تراشند و سر دختر چیزے می تراشند و چیزے می گزارند ایں جائز است یانه؟ فرق در کودک و دختر است یانه؟ (۱۳۳۲-۳۵/۴۱۵ھ)

ځواب: مذکر و مؤنث دریں امر یکساں اند، تراشیدن بعض موئے سر و گزاشتن بعض چنانچه در طفل مذکر ممنوع است در دختر هم ممنوع است. فقط

سوال: (۴۲۹) ترجمه: زموږ په وطن کي د هلک سر ټول ورخروي او د انجلۍ د سر یو څه وېښتان ورخروي او څه پرېږدي، داسي جائز دي او کنه؟ د هلک او انجلۍ د وېښتانو په هکله څه فرق شته او کنه؟

ځواب: هلک او انجلۍ په دغه حکم کي برابر دي، د سر څه وېښتان خریل او څه پرېښودل لکه څرنګه چي د هلک په هکله منع دي، د انجلۍ په هکله هم منع دي. فقط

د سر، د مخ او د شا وېښتان خریل

سوال: (۴۳۰) د سر وېښتان که سړی غټ کړي نو باید څومره وي؟ او مخ او شا ته خریل څه حکم لري؟ (۱۳۳۹/۱۵۲۳ھ)

ځواب: د سره وېښتان که سړی غټوي نو د ټول سر وېښتان دي غټ کړي او تر غوږو پوري یا تر هغه څه لاندي غټولای شي او و مخ او شاته خریل به نه کوي. فقط

په نیت انګریزي وېښتان جوړول او ږیره خریل

سوال: (۴۳۱) انګریزي وېښتان جوړول، ږیره خریل، غټ، برېتونه جوړول څرنګه دي؟ که عیب

---

(۱) ترجمه: له حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم یو ماشوم ولیدی چي د سر څه برخه یې خریل شوې وه او څه برخه یې پرېښې وه نو مبارک علیه الصلاة و السلام خلک له دې څخه منع کړل او وې فرمایل چي ټول سرخروئ یا ټول وېښتان پرېږدئ (مشکوة ص: ۳۸۰، الفصل الاول)

دی نو ولي؟ الله پاک خو د سړي و نیت ته ګوري، لکه چي په حدیث شریف کي راغلي دي: إنما الأعمال بالنيات. (۱۳۳۳-۳۲/۷۴۷هـ)

ځواب: دا کارونه حرام او معصیت دي، په حرام فعل کي نیت نېک نشي کېدلای د حدیث إنما الأعمال بالنيات (بخاري: ۲/۱) دا مطلب دی چي په عبادت کي بېله نېکه نیته ثواب نشته فقط

سوال: (۴۳۲) د ضرورت پر مهال ږیره خریل جائز ده او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۷۱۹هـ)

ځواب: په هیڅ حال کي جائز نه ده. فقط

د ملا او سیني وېښتان خریل

سوال: (۴۳۳) د سیني وېښتان خریل یا کوچني کول څنګه دي؟ (۱۳۳۵/۲۷۲هـ)

ځواب: د سیني وېښتان خریل یا کوچني کول مباح دي لیکن بېله ضرورته داسي فعل ښه نه دی(۱) فقط

سوال: (۴۳۴) د ملا، سیني او نورو وېښتان خریل صحیح دي او کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۲۰۹۱هـ)

ځواب: صحیح دي فقط

پر تندي، بارخوګانو او څټ د وېښتانو خریلو چاره راتېرول

سوال: (۴۳۵) پر تندي یا بارخوګانو یا څټ پنر(چاړه) راتېرول څرنګه دي؟ (۱۳۴۵-۴۴/۱۴۳۰هـ)

ځواب: ښه نه دي که څه هم جائز دي فقط

د پنډیو وېښتان لیري کول

سوال: (۴۳۶) د پنډیو وېښتان لیري کول څرنګه دي؟ (۱۳۳۴-۳۳/۲۷۱هـ)

ځواب: که ضرورت وي نو د پنډیو وېښتان لیري کول منع نه دي فقط

---

(۱) و في حلق شعر الصدر و الظهر ترک الأدب(رد المحتار ۲۸۸/۵ کتاب الحظر و الإباحة فصل في البيع. ط رشيديه)

انګریزي وېښتان جوړول

سوال: (۴۳۷) انګریزي وېښتان جوړول څرنګه دي؟ (۱۳۳۹/۴۹۴ھ)

ځواب: د سر وېښتان انګریزي جوړول ښکاره خبره ده چي د شرعي خلاف عمل دی او په حدیث شریف کي د داسي وېښتانو جوړولو منع ثابته ده(۱) نو پر مسلمانانو لازم دي چي له دغه ممنوع تشبه څخه یو مخ پرهېز وکړي فقط

د هندوانو په رنګه د سر وېښتان چوټي کول

سوال: (۴۳۸) زموږ د وطن مسلمانان د هندوانو په رنګه سرونه چوټي کوي چي ورته وواېي داسي ولي کوئ؟ نو وايي چي همدا د امام شافعي رحمه الله مذهب دی آیا دا خبره صحیح ده؟ (۱۳۳۸/۱۷۵۲ھ)

ځواب: دا د چا مذهب نه دی د جاهلانو حرکت دی کوم چي پخپل مذهب خبر هم نه دي فقط

سوال: (۴۳۹) د سر د مخکي پر برخه باندي سر چوټي کول څه ډول ګناه ده؟ او په څه وجه منع دي؟ (۱۳۴۵-۴۴/۵۲۰ھ)

ځواب: په حدیث کي د دې منع راغلې ده(۲) او غالبًا دا يې د تشبه بالکفار په وجه منع کړی دی، لنډه دا چي که د منع کولو وجه معلومه هم نه وي خو د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد کافي دی فقط

---

(۱) عن ابن عمر رضی الله عنهما أن النبی صلی الله علیه وسلم رأی صبیا قد حلق بعض راسه و ترک بعضه فنهاهم عن ذالک، و قال: احلقوا کله او اترکوا کله، رواه مسلم(مشکاة المصابیح، صح: ۳۸۰، کتاب اللباس، باب الترجل الفصل الأول)

(۲) عن ابن عمر رضی الله عنهما قال سمعت النبی صلی الله علیه وسلم عن القزع قیل لنافع: ما القزع؟ قال تحلق بعض رأس الصبی و یترک البعض متفق علیه(مشکاة المصابیح: ص: ۳۸۰، کتاب اللباس، باب الترجل الفصل الأول)

د ښځو په رنګه د سر چوټي جوړول

سوال: (۴۴۰) د ښځو په رنګه د نارینه وو لپاره چوټي جوړول څرنګه دی؟ او په دې اړه حدیثونه راغلي دي او کنه؟ (۱۳۴۵/۲۱۴ ﻫ)

ځواب: د نارینه لپاره د ښځو په رنګه چوټي جوړولو حرمت په دغه حدیث ثابت دی: عن ابن عباس رضى الله عنهما لعن النبي صلى الله عليه وسلم المتشبهين من الرجال بالنساء و المتشبهات من النساء بالرجال رواه البخارى(۱) و عن أبي هريرة رضى الله عنه قال: لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم الرجل يلبس لبسة المرأة و المرأة تلبس لبسة الرجل رواه أبو داؤد(۲) داغه راز په نورو حدیثونو کې راغلي دي په یو روایت کې راغلي دي: عن أبي هريرة رضى الله عنه أن النبي صلى الله عليه وسلم أتي بمخنث قد خضب يديه و رجليه بآلحناء فقال النبي صلى الله عليه وسلم: ما بال هذا؟ فقيل يتشبه بالنساء فأمر به، فنفي إلى النقيع، الحديث(۳) لنډه دا چې له دغو حدیثونو او دا ډول نورو روایتونو څخه د نارینه لپاره د ښځو په رنګه چوټي جوړولو ممانعت ظاهر دی فقط

د سر شاوخوا ویښتان خریل یا جوړول

سوال: (۴۴۱) د سر ویښتان پرې کول په مشین او نورو او د تندي ویښتان خریل او هغه مربع کول او د ږیرې ویښتان چې پر بارخوګانو وي هغه خریل یعني بارخو صفا کول جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۷/۱۵۲۴ ﻫ)

ځواب: د ټول سر ویښتان پرې کول په مشین او نورو صحیح دي او څه ویښتان خریل او څه پرېښودل

---

(۱) صحیح البخاری: ۸۷٤/۲، کتاب اللباس، باب المتشبهين بالنساء و المتشبهات بالرجال.

(۲) سنن أبي داؤد: ص: ٥٦٦، کتاب اللباس، باب في الباس النساء.

(۳) سنن أبي داؤد: ص: ٦٧٤، کتاب الأدب باب الحکم في المخنثين.

ښه نه دي، که خروي نو د ټول سر وېښتان دي وخروي او که نه خروي نو د ټول سر وېښتان دي نه خروي او د بارخوګانو وېښتان خريل صحيح دي مګر غوره نه دي کما قالوا: و فى حلق شعر الصدر و الظهر ترک الأدب(۱) (شامي) و فيه أيضا: و لا يحلق شعر حلقه و عن أبي يوسف لا بأس به ط، و في المضمرات: و لا بأس بأخذ الحاجبين و شعر وجهه ما لم يشبه المخنث إلخ(۲) او ښکاره خبره ده چي لا بأس زياتره د خلاف ادب لپاره استعماليږي فقط

سوال: (۴۴۲) د بارخوګانو وېښتان چي ورته خط وايي خريل جائزدي او کنه؟ داغه راز د غاړي وېښتان خريل څرنګه دي؟ بينوا توجروا (۱۳۴۵-۴۴/۳۹۵هـ)

ځواب: د بارخوګانو وېښتان جوړول يې په شامي کي جائز ليکلي دي او د غاړي وېښتان يې جوړول مختلف فيه ليکلي دي، غوره دا دي چي نکړي جوړ، په شامي کي راغلي دي: و لا يحلق شعر حلقه و عن أبي يوسف رحمه الله لا بأس به و في المضمرات: و لا بأس بأخذ الحاجبين و شعر وجهه ما لم يشبه المخنث تاترخانية(۳) فقط و الله تعالى اعلم

د سر او ږيري حدود او شاوخوا سر جوړونه د څټ او غاړي وېښتان خريل

سوال: (۴۴۳) د سر حد له کومه ځايه بيا تر کومه ځايه پوري دى، تر کوم ځاى پوري خرول پکار دي؟ او په دې کي ږيره له کوم ځايه شروع کيږي چي له هغه ځاى څخه خريل او کوچني کول منع وي او د ماشومانو د سر شاوخوا ورخريل جائز دي او کنه؟ د څټ، غاړي او تر شونډو لاندي وېښتان خريل څنګه دي؟ (۱۳۴۳/۲۱۵هـ)

ځواب: د سر او ږيري حد معلوم او معروف دى، هر سړي ته معلوم دى چي طولاً او عرضًا د مخ حد پرېږده کوم ځاى چي د سر د وېښتانو د شنه کېدو ځاى دى هغه سر دى لکه چي په در مختار کي د "وجه" حد دا ليکلى دى: من مبدأ سطح جبهته... إلى أسفل ذقنه... طولاً... و ما بين

---

(۱) رد المحتار ۲۸۸/۵ کتاب الحظر و الإباحة، فصل فى البيع. ط رشيديه

(۲) الشامي ۲۸۸/۵ کتاب الحظر و الإباحة، فصل فى البيع. ط رشيديه

(۳) رد المحتار ۲۸۸/۵ کتاب الحظر و الإباحة، فصل فى البيع. ط رشيديه

شحمق الأذنين عرضًا(۱) نو له دې څخه پورته چې کومه حصه ده هغه د سر د وېښتانو ده داغه راز د ږيرې د وېښتانو خای معروف دی او په مشاهده سره معلوم دی نو د ماشومانو د سر شاوخوا ورخريل هم ناجائز دی او د غاړې او تر شونډو لاندې وېښتان خريل هم ناجائز دي، قال في الشامي: و لا يحلق شعر حلقه، و عن أبي يوسف رحمه الله لا بأس به إلخ(۲) او بنکاره خبره ده چې د لفظ "لا بأس" څخه هم د کراهت نفي نه کيږي، تنبيه: نتف الفنكين بدعة و هما جانبا العنفقة و هي شعر الشفة السفلى إلخ(۲) (شامي)

د کوچنۍ انجلۍ سر ورخريل

سوال: (۴۴۴) د کوچنۍ انجلۍ سر ورخريل جائز دي او کنه؟ که جائز دي نو تر کوم عمره؟ (۱۳۴۲/۲۰۷۲هـ)

ځواب: په دې کې کوم شرعي تحديد نشته، حکم دا دی چې د بالغې ښځې سر بېله عذره مه ورخروئ(۳) او د قريب البلوغ هم همدا حکم دی له دې څخه پرته صحيح دی.

سوال: (۴۴۵) تر څو کلونو د انجونو سرونه ورخريل صحيح دي؟ (۱۳۳۷/۱۴۲۱هـ)

ځواب: له بلوغ څخه مخکې که ضرورت وي پروا نلري فقط

ږيره رنګول يا سپينه پرېښودل

سوال: (۴۴۶) ږيره رنګول څرنګه دي؟ او سپينه پرېښودل څنګه دي؟ (۱۳۳۷/۴۸۵هـ)

ځواب: ږيرې ته د نکريځو او نورو خضاب ورکول صحيح دی او تور خضاب مکروه دی او سپينه پرېښودل

---

(۱) الدر مع الشامي ۱/۷۱ كتاب الطهارة، أركان الوضوء. ط رشيديه

(۲) الشامي ۵/۲۸۸ كتاب الحظر والإباحة، فصل في البيع. ط رشيديه

(۳)و إذا حلقت المرأة شعر رأسها، فإن كان لوجع أصابها فلا بأس به و إن حلقت تشبه الرجل فهو مكروه(تكملة البحر الرائق: ۹/۳۷۵، كتاب الكراهية، فصل في البيع)

و عن علي رضى الله عنه قال: نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم أن تحلق المرأة راسها(مشكوة المصابيح: ص: ۳۸٤، كتاب اللباس، باب الترجل)

هم صحیح دي، سپینه پرېښودل هم په حدیث ثابته ده(۱) او نکریځو او نورو خضاب هم ثابت دی(۲)

د نکریځو او نورو رنګ لګول

سوال: (۴۴۷) خضاب ولي خلک لګوي؟ خضاب کول څه رنګه دی؟ او د کوم رنګ کول پکار دی؟ (۷۴۷/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: خضاب د نکریځو او نورو لګول جائز او ثابت دی، صحابه رضی الله عنهم داسي کړي دي(۳) د تور خضاب منع په حدیث شریف کي راغلې ده(۴) نو که څوک خضاب لګوي نو د نکریځو او نورو دي لګوي، توروي دي یې نه او که یو مخ خضاب نه لګوي و ښستان سپین پرېږدي نو دا هم څه پروا نلري. مسلمانان باید دیني مسئلې زده کړي، د وجې په پوښتلو

(۱) عن عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا تنتفوا الشيب فإنه نور المسلم من شاب شيبة في الإسلام كتب الله له بها حسنة و كفر عنه بها خطيئة، و رفعه بها درجة، رواه أبو داؤد (مشكاة المصابيح: ص: ۳۸۲، كتاب اللباس، باب الترجل، الفصل الثاني)

(۲) عن ابن عباس رضى الله عنهما قال: مر على النبى صلى الله عليه وسلم رجل قد خضب بالحناء فقال ما أحسن هذا، الحديث(مشكوة المصابيح: ص: ۳۸۲، كتاب اللباس، باب الترجل)

(۳) عن ابن عباس رضى الله عنهما قال: مر على النبى صلى الله عليه وسلم رجل قد خضب بالحناء فقال: ما أحسن هذا، قال: فمر آخر قد خضب بالحناء و الكتم فقال: هذا أحسن من هذا، ثم مر آخر قد خضب بالصفرة فقال: هذا أحسن من هذا كله، رواه أبو داؤد(مشكوة المصابيح: ص: ۳۸۲، كتاب اللباس، باب الترجل، الفصل الثاني) و عن قتادة رضى الله عنه قال: قلت لأنس بن مالك رضى الله عنه: هل خضب رسول الله صلى الله عليه وسلم؟ قال: لم يبلغ ذلك، إنما كان شيبا في صدغيه و لكن أبوبكر خضب بالحناء و الكتم(شمائل الترمذي: ص: ٤ باب ما جاء في شيب رسول الله صلى الله عليه وسلم)

(٤) عن جابر رضى الله عنه قال: أتى بأبي قحافة يوم فتح مكة و رأسه و لحيته كالثغامة بياضًا فقال النبى صلى الله عليه وسلم: غيروا هذا بشئ و اجتنبوا السواد، رواه مسلم(مشكوة المصابيح: ص: ۳۸۰ كتاب اللباس، باب الترجل، الفصل الاول)

پسي و نه لګيږي اجمالاً په دومره خبره ځان پوهول پکار دي چي الله رب العزت كوم حكمونه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په وسيله راښودلي دي په هغو كي حكمت دى، كه څه هم موږ په هغه حكمت نه پوهيږو. فقط

وښتان تورول مكروه دي

سوال: (۴۴۸) تور خضاب جائز دى او كنه؟ (۱۳۳۵/۱۷۱۹هـ)

ځواب: په در مختار كي راغلي دي: و يكره بالسواد(۱) او تور خضاب مكروه دى فقط

سوال: (۴۴۹) تور خضاب لګول څرنګه دى؟ (۱۳۳۷/۱۷۳۴هـ)

ځواب: قال فى الدر المختار: و يكره بالسواد، و قيل: لا مجمع الفتاوى و فى الشامي: و إن ليزين نفسه للنساء فمكروه، و عليه عامة المشايخ و بعضهم جوزه بلا كراهة إلخ(۲) له دغه روايت څخه معلوم شو چي تور خضاب مكروه دى د زياتره مشائخو په نزد او ځيني د عدم كراهيت هم قول كونكي دي، لنډه دا چي پرهيز ځني غوره دى. فقط

سوال: (۴۵۰) تور خضاب شرعًا څه حكم لري؟ (۱۳۴۱/۱۳۴۰هـ)

ځواب: د در مختار عبارت په دې اړه دا دى چي: يستحب للرجل خضاب شعره و لحيته و لو فى غير حرب فى الأصح، و الأصح أنه عليه الصلاة و السلام لم يفعله، و يكره بالسواد، و قيل: لا، مجمع الفتاوى(۳) او په شامي كي راغلي دي: قوله: (و يكره بالسواد) أى لغير الحرب. قال فى الذخيرة: أما الخضاب بالسواد للغز و ليكون أهيب فى عين العدو فهو محمود بالاتفاق و إن ليزين نفسه للنساء فمكروه و عليه عامة المشايخ، و بعضهم جوزه بلا كراهة، روى عن أبي يوسف رحمه الله أنه قال: كما يعجبنى أن تتزين لى يعجبها أن أتزين لها(٤) د در مختار او شامي له دغه عبارت څخه معلوم شو چي په احنافو كي زياتره مشائخ تور خضاب بې د حرب له ضرورته تحريمي مكروه بولي او ځيني مشائخ د جواز بيله كراهيته قول كونكي

(۱) الدر مع الشامي ۲۹۹/۵ كتاب الحظر و الإباحة، فصل فى البيع. ط رشيديه
(۲) الدر مع الشامي ۲۹۹/۵ كتاب الحظر و الإباحة، فصل فى البيع. ط رشيديه
(۳) الدر مع الشامي ۲۹۹/۵ كتاب الحظر و الإباحة، فصل فى البيع. ط رشيديه
(٤) الدر مع الشامي ۲۹۹/۵ كتاب الحظر و الإباحة، فصل فى البيع. ط رشيديه

دي لکه چي له امام ابو یوسف رحمه الله څخه چي منقول دي نو احوط ترک د اسود خضاب دی لیکن خو مسئله مختلف فیها ده ځکه پکي د نزاع ضرورت نشته او ښکاره ده چي په حدیثونو کي د اسود خضاب په هکله کوم وعید راغلی دی هغه د کراهت تحریمي لپاره خاص مرجح دی ځکه د اسود خضاب د ترک په احوط کېدو کي شک نشي کېدلای فقط

سوال: (۴۵۱) تور خضاب شرعًا جائز دی او کنه؟ بکر وایي چي تور خضاب لګول کبیره ګناه ده، د حضرت ابو هریره او ابن عباس رضی الله عنهم په حدیثونو استدلال کوي کوم چي په صحیح مسلم کي موجود دي، زید د ده خلاف دی، شرعي فیصله راته بیان کړئ (۱۳۴۳/۹۴۰هـ)

ځواب: په مشکوة شریف کي دا حدیث له ابن عباس رضی الله عنهما څخه مروي دی: عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: یکون قوم فی آخر الزمان یخضبون بهذا السواد کحواصل الحمام لا یجدون رائحة الجنة. رواه أبو داؤد و النسائی(۱) ځکه زیاتره علماء تور خضاب تحریمي مکروه بولي او د تحریمي مکروه کونکی د حرام کونکي په رنګه فاسق ګرځي، له دغه حدیث څخه بېشکه د تور خضاب کبیره ګناه والی معلومېږي او احنافو په دې کي دا تفصیل بیان کړی دی چي په جنګ کي د دښمن په مقابله کي صحیح دی او داغسي تحریمي مکروه دی کوم چي عملاً د حرامو په رنګه دی، و یکره بالسواد و قیل: لا (در مختار) قوله: (و یکره بالسواد) أی لغیر الحرب قال فی الذخیرة: أما الخضاب بالسواد للغزو لیکون أهیب فی عین العدو فهو محمود بالاتفاق، و إن لیزین نفسه للنساء فمکروه، و علیه عامة المشائخ و بعضهم جوزه بلا کراهة، روی عن أبي یوسف رحمه الله أنه قال: کما یعجبنی أن تتزین لی یعجبها أن أتزین لها إلخ(۲) (شامي) نو معلوم شو چي که څه هم له ځیني ائمه څخه جواز هم رانقل شوی دی لیکن د زیاتره مشائخو او عامة الفقهاء مذهب همدا دی چي له جنګ څخه پرته په نورو حالاتو کي تور خضاب تحریمي مکروه دی. فقط

د علاج لپاره تور خضاب لګول

سوال: (۴۵۲) یو سړی د نزلې مریض شو، غاښونه یې ختم شول، چا ورته

---

(۱) مشکوة المصابیح، ص: ۳۸۲ کتاب اللباس، باب الترجل، الفصل الثاني.

(۲) رد المحتار ۲۹۹/۵ کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی البیع. ط رشیدیه

وویل چي خضاب ولګوه نو د مرض فائده به دي وشي، نظر به دي هم تېز شي لهذا د نزلې د داسي مرض له امله تور خضاب لګول صحیح دی او کنه؟ (۱۳۴۱/۱۵۲۷هـ)

ځواب: دا ښکاره خبره ده چي د نزلې د مرض دپر علاجونه له دې څخه غوره موجود دي، لهذا دا وجه د تور خضاب د جواز نشي کېدلای فقط

د ځواني ښځي د زړه لپاره ږیره تورول

سوال: (۴۵۳) عمر د خپلي ښځي تر وفات کېدو وروسته یوه پنځه ویشت کلنه کونډه په نکاح کړه اوس ده ته ښځه وايي چي ته خپله ږیره توره کړه، په داسي حال کي د عمر لپاره ږیره تورول جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۱/۴۴۲هـ)

ځواب: په شامي کي له ذخیره څخه رانقل کړي دي چي د ښځو لپاره تور رنګ کارول مکروه دی: و إن لیزین نفسه للنساء فمکروه و علیه عامة المشائخ و بعضهم جوزه بلاکراهة، روی عن أبي یوسف رحمه الله أنه قال: کما یعجبنی أن تتزین لی یعجبها أن أتزین لها(۱) (شامي)

سوال: (۴۵۴) د یو سپین ږیري واده د پیغلي ښځي سره وشو اوس که دی د ښځي لپاره ږیره توره کړي نو څنګه دي؟ (۱۳۴۱/۱۵۲۲هـ)

ځواب: د شامي له لاندي عبارت څخه د بیان شوي غرض لپاره د تور رنګ لګول منع معلومیږي و إن لیزین نفسه للنساء فمکروه و علیه عامة المشایخ (۲) یعني که د دې لپاره تور رنګ لګوي چي د ښځو په نظر کي ښائسته شي نو تحریمي مکروه دی له دې وروسته له امام ابو یوسف رحمه الله څخه د جواز روایت رانقل کړی دی(۳) مګر د زیاتره مشائخو مذهب د منع دی او همدا احوط دی یعني د

---

(۱) رد المحتار ۲۹۹/۵ کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی البیع. ط رشیدیه

(۲) الشامي ۲۹۹/۵ کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی البیع. ط رشیدیه

(۳) روی عن أبي یوسف رحمه الله تعالی أنه قال: کما یعجبنی أن تتزین لی یعجبها أن أتزین لها(الشامي: ۲۹۹/۵ کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی البیع. ط رشیدیه)

تور خضاب ترک احوط دی ځکه چې په حدیث شریف کې پر دې شدید وعید راغلی دی(۱)

د جائز او ناجائز رنګ تفصیل

سوال: (۴۵۵) د کوم، کوم شي خضاب لګول جائز دی؟ او د کوم شي حرام یا مکروه؟ د تور خضاب څه حکم دی؟ او په خالص تور او ناخالص تور کې د جواز او عدم جواز په اعتبار څه فرق شته او کنه؟ د زعفرانو د خضاب څه حکم دی؟ (۱۳۳۸/۳۴۲ھ)

ځواب: خضاب کول مستحب او سنت دی او تور خضاب حرام دی او سر، ژړ او شین صحیح دی د زعفرانو خضاب هم صحیح دی په شرح شرعة الإسلام کې راغلي دي: و الخضاب سنة الخ و لا یختضب بالسواد إلخ فقد جاء فیه وعید عظیم إلخ و قال النبی صلی الله علیه وسلم: هو خضاب أهل النار و فی لفظ آخر: الخضاب بالسواد خضاب الکفار، و یقال: أول من خضب بالسواد فرعون کذا فی الأحیاء و یختضب بالصفرة و الحمرة الخ(۲) و فی الحدیث: أن النبی صلی الله علیه وسلم یصفر لحیته بالورس و الزعفران الحدیث(۳)

سوال: (۴۵۶) وسمه(۴) او نکریځې چې سره ګډې کړې پر سپینه ږیره او بریتو لګول کیږي دا جائز دي او کنه؟ که جائز وي کله وسمه او نکریځې سره ګډې شي نو د دغه حدیث به څه تأویل وي؟ عن ابن عباس رضی الله عنهما عن النبی صلی الله علیه وسلم: یکون قوم فی آخر الزمان یخضبون بهذا السواد کحواصل الحمام لا یجدون رائحة الجنة رواه

---

(۱) عن ابن عباس رضی الله عنهما عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: یکون قوم فی آخر الزمان یخضبون بهذا السواد کحواصل الحمام لا یجدون رائحة الجنة. رواه أبو داؤد و النسائی(مشکاة المصابیح: ص: ۳۸۲، کتاب اللباس، باب الترجل، الفصل الثانی)

(۲) شرح شرعة الإسلام: ص: ۲۹۴-۲۹۶، فصل فی سنن اللباس و أحبه.

(۳) عن ابن عمر رضی الله عنهما قال: کان النبی صلی الله علیه وسلم یلبس النعال السبتیة و یصفر الحدیث(سنن النسائی: ۲۴۸/۲، کتاب الزینة، تصفیر اللحیة بالورس و الزعفران)

(۴) وسمه: د نیل پاڼې چې ویښته پرې توریږي (فیروز اللغات)

أبو داؤد و النسائی(۱) او طبراني روایت کړی دی: من خضب بالسواد سود الله وجهه یوم القیامة(۲) په نیل کي رنګ شین وبره دی چي نکریځي ورسره یو ځای شي، سور تور وګرځي، فقهاء لیکي چي حنا، کتم او وسمه جائز دي، په فتاوی عالمګیري، د درمختار په ترجمه او نورو کي خضاب، وسمه او حنا په هر حال کي که په جهاد کي وي او که نه وي مباح او جائز لیکلي دي، د زید او بکر په دغه مسئله کي اختلاف دی چي حنا یا وسمه که فردًا وي او که مجموعة قطعي حرام دی، بکر وایي چي جائز دی. (۱۳۳۹/۹۵۲هـ)

ځواب: تور خضاب عند الحنفیه هم مکروه دي او د بیان شویو حدیثونو په وجه له دي څخه پرهیز لازم دی، په در مختار کي راغلي دي: و یکره بالسواد(۳) اما په کوم کي چي تور والی نه وي سوروالی غالب وي نو هغه جائز دی او همدغه مطلب دی د هغو روایتونو چي پکي د حنا او کتم سره خضاب جائز لیکلي دي، په شامي کي راغلي دي: و ورد أن أبا بکر رضی الله عنه خضب بالحناء و الکتم(٤)

سوال: (۴۵۷) خضاب، وسمه او حنا جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۰/۲۵۹۸هـ)

ځواب: اصل دا دی چي تور خضاب منع دی او په حدیثو کي د دې منع راغلې ده او وربانديوعید راغلی دی لکه چي روایت دی: عن ابن عباس رضی اله عنهما عن النبي صلی الله علیه وسلم قال: یکون قوم فی آخر الزمان یخضبون بهذا السواد کحواصل الحمام لا یجدون رائحة الجنة رواه أبو داؤد و النسائی(۵) د دغه حدیث حاصل دا دی چي په آخره زمانه کي به یو قوم وي چي دوی به تور رنګ کاروي، دوی به د جنت بوی هم و نه مومندي، په دې وجه احنافو لیکلي دي چي تور رنګ تحریمي مکروه دی: کما فی الشامي: قوله: (و یکره بالسواد) أی لغیر الحرب قال فی الذخیرة: أما الخضاب بالسواد للغزو لیکون أهیب فی عین العدو فهو محمود

---

(۱) مشکوة المصابیح: ص: ۳۸۲ کتاب اللباس، باب الترجل، الفصل الثاني.

(۲) أخرج الطبراني: ابن أبي عاصم عن أبي الدرداء رفعه من خضب الحدیث(مرقاة المفاتیح، شرح المشکاة: ۳۰٤/۸) کتاب اللباس، باب الترجل، الفصل الثاني.

(۳)الدر المختار مع الرد ۲۹۹/۵ کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی البیع. ط رشیدیه

(٤) الشامي ۲۹۹/۵ کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی البیع. ط رشیدیه

(۵) مشکوة المصابیح: ص: ۳۸۲ کتاب اللباس، باب الترجل، الفصل الثاني.

بالاتفاق، و إن لیزین نفسه للنساء فمکروه و علیه عامة المشائخ الخ(۱) (شامي) نو کله چي دا خبره په تحقیق ورسېده چي خضاب بالسواد په غیر حرب کي عند عامة المشایخ تحریمي مکروه دی نو اوس دا کتل دي چي له کوم شي څخه تور خضاب حاصل وي هغه خضاب به مکروه وي او وسمه چي د حنا سره ګډه کړي نو خضاب تور راځي لهذا دا به ممنوع او مکروه وي او حدیث کوم چي د دې د جواز دی د هغه به تأویل کیږي، لتقدم المحرم علی المبیح(۲) قال فی المرقاة شرح المشکوة فإن الحناء إذا خضب به مع الکتم جاء أسود. و قد صح النهی عن السواد و لعل الحدیث بالحناء او الکتم علی التخییر و لکن الروایات علی اختلافها بالحناء و الکتم انتهی فیکون التقدیر بالحناء تارة فیکون لونه أحمر و بالکتم أخری فیکون لونه أخضر(۳)

د ښځو لپاره نکریځي استعمالول مستحب دي

سوال: (۴۵۸) نکریځي لګول سنت دي که څنګه؟ (۱۱۷۱/۱۳۳۷هـ)

ځواب: نکریځي لګول د ښځو لپاره مستحب دی، په حدیث شریف کي راغلي دي(۴) فقط

د کوږ او نورو د وېښتانو برش د وېښتانو د صفائي لپاره استعمالول

سوال: (۴۵۹) د کوږ د وېښتانو برش د سر او ږیرې د صفائی لپاره استعمالول جائز دی او

---

(۱) رد المحتار ۲۹۹/۵ کتاب الحظر و الإباحة فصل فی البیع. ط رشیدیه

(۲) قاعدة: إذا اجتمع الحلال و الحرام أو المحرم و المبیح غلب الحرام و المحرم (قواعد الفقه الرسالة الثالثة: ص: ۵۵ رقم القاعدة: ۱٤)

(۳) مرقاة المفاتیح، شرح المشکاة: ۳۰۳/۸ کتاب اللباس، باب الترجل، الفصل الثاني.

(٤) عن عائشة رضی الله عنها أن هندا بنت عتبة قالت: یا نبي الله! بایعني فقال: لا أبا یعک حتی تغیري کفیک، فکأنهما کفا سبع، رواه أبو داؤد و عنها قالت: أو مت امرأة من وراء ستر بیدها کتاب إلی رسول الله صلی الله علیه وسلم فقبض النبی صلی الله علیه وسلم یده، فقال ما أدری أید رجل ام ید أمرأة؟ قالت: بل ید امرأة، قال: لو کنت امرأة لغیرت أظفارک یعني بالحناء رواه أبو داؤد و النسائی(مشکوة المصابیح: ۳۸۳ کتاب اللباس، باب الترجل، الفصل الثانی)

کنه؟ (۱۳۴۱/۲۸۱۷ھ)

ځواب: وېښتان د هر حیوان چي وي که هغه مأکول اللحم وي او که نه وي پاک دی، پرته د خنزیر له وېښتانو لهذا د کوړ د وېښتانو برش د سر او ږیري د وېښتانو لپاره استعمالول صحیح دی. فقط

ښځي وېښتان خلاص او ایله کړي که یې چوټي کړي؟

سوال: (۴۲۰) ښځي وېښتان شاته چوټي کړي که پښتیۍ ووډي په د غه صورتونو کي کوم صورت جائز او کوم ناجائز دی؟ (۱۳۴۲/۲۳ھ)

ځواب: د ښځي لپاره پښتیۍ (کوڅۍ) وودل یا شاته چوټي کول لکه چي عام رواج دی یا یو وخت خلاص ایله کول هم که ضرورت وي جائز دي په د غه ټولو صورتونو کي یو صورت هم شرعًا ممنوع نه دی.

د جمعي په ورځ حجامت کول افضل دی

سوال: (۴۲۱) د جمعي په ورځ حجامت کول سنت دی او کنه؟ (۱۳۴۳/۳۰۲ھ)

ځواب: د جمعي په ورځ افضل او مستحب دی لکه چي په در مختار کي راغلي دي:

و يستحب قلم أظافيره الخ يوم الجمعة إلخ و يستحب حلق عانته و تنظيف بدنه بالاغتسال في كل أسبوع مرة و الأفضل يوم الجمعة الخ(۱) فقط

د جنابت په حالت کي حجامت کول

سوال: (۴۲۲) پر کوم چا چي غسل واجب وي د ده که و حجامت ته ضرورت وي نو لومړی غسل وکړي که حجامت وکړي؟ (۱۳۳۹/۱۴۸۷ھ)

ځواب: د جنابت په حالت کي تر غسل مخکي هم حجامت جوړول صحيح دی او که تر غسل وروسته وي نو ښه دی.

---

(۱) الدر المختار مع الرد ۲۸۷/۵-۲۸۸ کتاب الحظر و الإباحة، فصل في البيع. ط رشیدیه

تر نو لاندي او بغل د وېښتانو د لیري کولو طریقه

سوال: (۴۶۳) د ښځو لپاره تر نو لاندي وېښتان او د بغل وېښتان د سنت په خلاف په غچي پرې کول یا په چاړه خریل ګناه ده او کنه؟ که له نوسي او نورو څخه د تکلیف کیدو په خیال کار وانه اخلي او چونه او نورو نه موړي نو څه حکم دی؟ (۵۱۰/۱۳۳۹هـ)

ځواب: تر نو لاندي وېښتانو کي د نارینه لپاره خریل او د ښځي لپاره نتف (کښل) سنت دي لیکن که ښځه د مجبورۍ او ضرورت په وجه وخروي بیا هم څه ګناه نلري اما د سنت طریقې خلاف دی، قال فی الهندیة: و السنة فی عانة المرأة النتف الخ(۱) فقط

تر نو لاندي وېښتانو لیري کولو موده

سوال: (۴۶۴) تر نو لاندي وېښتان څو مره موده وروسته لیري کول پکار دي؟ (۱۴۳۰/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: تر څلو ېښت ورځي زیاتي مه په اخلئ(۲)

په صابون او نورو تر نولو لاندي وېښتان لیري کول

سوال: (۴۶۵) یو سړی د کمزورۍ او د خیتې د غټ والي په وجه تر نو لاندي وېښتان ښه

---

(۱) رد المحتار ۲۸۸/۵ کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی البیع. ط رشیدیه

او د بغل وېښتان خریل جائز او کښل اولی دي، په شامي کي راغلي دي: قوله(و تنظیف بدنه) بنحو إزالة الشعر من إبطیه و یجوز فیه الحلق و النتف أولی، و فی المجتبی عن بعضهم: و کلاهما حسن(رد المحتار ۲۸۸/۵ کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی البیع. ط رشیدیه)

(۲) عن أنس رضی الله عنه قال و قت لنا فی قص الشارب، و تقلیم الأظفار، و نتف الإبط، و حلق العانة أن لا نترک أکثر من أربعین لیلة، رواه مسلم(مشکوة المصابیح، ص: ۳۸۰ کتاب اللباس، باب الترجل، الفصل الأول)

و یستحب حلق عانته و تنظیف بدنه بالغتسال فی کل أسبوع مرة، والأفضل یوم الجمعة، و جاز فی کل خمسة عشر و کره ترکه وراء الأربعین (الدر مع الشامی ۲۸۸/۵ کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی البیع. ط رشیدیه)

نشي خريلای، زياتره په چاړه ځان پرې کړي په داسې صورت کې د ښځو د بغلو او وړمېږ ويښتان لرې کولو لپاره صابون استعمالولای شي او کنه؟ (۴۹۰/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: په داسې حالت کې د ويښتان ايستونکي صابن استعمالولای شي. فقط

سوال: (۴۲۶) څه فرمايي علماء د دين او مفتيان د شرعي متين په لاندې مسئله کې چې يو سړی د بر زيات سپين ږيرې دی او لاسونه يې رپيږي. ښځه هم نلري، تر نو لاندې ويښتان په چاړه نشي خريلای، د ده په هکله شرعي حکم څه دی؟ (۱۲۷۰/۱۳۴۳ھ)

ځواب: په يو دوا او چونه او نورو ليرې کول صحيح دي. فقط

د ښځو لپاره د تندي ويښتان کښل جائز نه دي

سوال: (۴۲۷) د ځينو ښځو پر تنديو ويښتان وي آيا د هغوی ليرې کول جائز دي؟ (۲۰۰۱/۱۳۴۰ھ)

ځواب: دا جائز نه دي(۱) فقط

(۱) د ښځې پر تندي ويښتان پر مخ راغلي وي نو د هغوی ليرې کول د اصح قول سره سم جائز دي په احسن الفتاوی کې راغلي دي:

سوال: د ښځې لپاره د مخ ويښتان ختمول جائز دي او کنه؟ په حديث کې پر نامصه او متنمصه لعنت راغلی دی له دې څخه څه مراد دی؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د ښځې لپاره د مخ ويښتان ليرې کول جائز دي که ږيره او بريتونه يو مخ راشي نو ختمول يې مستحب دي.

پر نامصه او متنمصه چې لعنت شوی دی له دې څخه مراد هغه ښځې دي چې د ورزو د شاوخوا ويښتان وکاږي، نرۍ ليکه ځني جوړه کړي، كما يدل عليه التعليل بتغيير خلق الله ورزي که ډيرې زيات خوړې وي نو د هغو سمول چې د عام حالت سره سمې شي جائز دي. لنډه دا چې تزيين مستحب دی او د عيب د زائلولو استحباب نسبةً څه زيات مؤکد دی او تلبيس او تغيير د خلق ناجائز دی.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى تحت قوله: (و النامصة الخ) ذكره في "الاختيار" ايضًا: و في المغرب: النمص نتف الشعر و منه المنماص المنقاش اهـ =

د بل چا زمونځ استعمالول

سوال: (۲۲۸) د یو سړي زمونځ بل سړی استعمالولای شي او کنه؟
(۵۰/۲۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: د مالک په اجازه یې استعمالولای شي.

د ږیرې حکم په حدیث ثابت دی

سوال: (۲۲۹) ... (الف) د ږیرې ایله کولو حکم په قرآن او حدیث ثابت دی او کنه؟ که ثابت دی نو د حوالې سره یې راته ولیکئ.

(ب) د ترک مسلمانان ږیرې خروي د دې څه وجه ده؟ (۵۳۴/۳۵-۱۳۳۲ھ)

ځواب: (الف) په حدیث شریف کې راغلي دي: أوفروا اللحی و أحفوا الشوارب و في روایة: أنهکوا الشوارب و اعفوا اللحی، متفق علیه(۱) په بخاري شریف او مسلم شریف کې دا حدیث راغلی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې ږیرې غټې کړئ او بریتونه کم کړئ او په یو روایت کې راغلي دي چې بریتونه ښه کم کړئ او ږیرې ایله کړئ او غټې یې کړئ او د فقهې په کتابونو کې راغلي دي چې

=و لعله محمول علی ما إذا فعلته لتتزین للأجانب و إلا فلو کان فی وجهها شعر ینفر زوجها عنها بسببه ففی تحریم إزالته بعد لأن الزینة للنساء مطلوبة للتحسین، إلا أن یحمل علی ما لا ضرورة إلیه لما فی نتفه بالمنماص من الإیذاء، و فی "تبیین المحارم" إزالة الشعر من الوجه حرام إلا إذا نبت للمرأة لحیة أو شوارب فلا تحرم إزالته بل تستحب اهـ و فی "التاترخانیة" عن "المضمرات": و لا بأس بأخذ الحاجبین و شعر وجهه ما لم یشبه المخنث اهـ و مثله فی "المجتبی" تأمل(الشامي ۲٦٤/٥ کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی النظر و المس) و الله سبحانه و تعالی اعلم(احسن الفتاوی: ۷٥/۸-۷٦، کتاب الحظر و الإباحة)

(۱) عن ابن عمر رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم خالفوا المشرکین أوفروا اللحی و احفوا الشوارب الحدیث، متفق علیه(مشکوة المصابیح، ص: ۳۸۰ کتاب اللباس، باب الترجل، الفصل الأول)

خریل د ږیري او کمول تر مټ حرام دي(۱)

(ب) دا کار د دوی بد او د شرعي په خلاف دی د دې وجهې پوښتنه له دوی څخه باید وشي، ځکه په دوی کې لمنځونه هم نه کوي او روژې به هم نه نیسي نو د دوی فعل څرنګه حجت کېدلای شي؟!

سوال: (۴۷۰) زید وايي چې د ږیري حکم په قرآن او حدیث ثابت نه دی علماء له ځانه دغه مسئله و خلکو ته بیانوي، شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۳۸/۱۲۰۹هـ)

ځواب: د ږیري حکم په حدیث شریف کې راغلي دي و اعفوا اللحــی: او ږیري غټې کړي دا څرګند حکم دی د ږیري غټولو، نو دزید وینا کومه چې په سوال کې لیکل شوې ده. غلطه ده. فقط

ږیره غټول واجب دي

سوال: (۴۷۱) ږیره سنت ده که واجب؟ څوک چې همېشه ږیره خروي یا یې کوچنۍ کوي او دا ګناه هم نه بولي د هغه څه حکم دی؟ او خریل او کوچنې کول برابر دي که څه فرق لري؟ او رسول الله صلی الله علیه وسلم کله تر قبضه(مټ) ږیره کمه کړې ده او کنه؟ (۱۳۳۸/۲۸۸هـ)

ځواب: ږیره واجب ده لکه چې د "اعفوا اللحی"(۲) د امر تقاضا ده او کوم څوک چې همېشه ږیره خروي هغه فاسق دی او د کبیره ګناه کوونکی دی او تر قبضه کمول د ږیري حرام دي او رسول الله صلی الله علیه وسلم تر قبضه هیڅکله نه ده کمه کړې فقط

د ږیري او بریتونو مقدار

سوال: (۴۷۲) کــوم خلــک چــې د شــریعت ســره ســم ږیــره بریتونــــه نــــه جــــوړوي او لــــه بینــــک څخــــه ســــود

---

(۱) قوله: (و السنة فيها القبضة) و هو أن يقبض الرجل لحيته، فما زاد منها على قبضة قطعه، و فى الدر المختار: يحرم على الرجل قطع لحيته(الدر والرد ۲۸۸/۵ كتاب الحظر و الإباحة، فصل فى البيع. ط رشيديه)

(۲) مشكوة المصابيح، ص: ۳۸۰ كتاب اللباس، باب الترجل، الفصل الأول.

اخلي، بې لمانځه او روژه خوړ وي داسي خلګ متشرع دي که فاسقان؟ او ږیره بریتونه باید څومره غټې وي؟ (۱۰۱۲/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: د کومو خلګو یادونه چي په سوال کي وشوه، دا خلګ ګنهکار او د کبیره ګناه کونکي دي، متشرع نه دي بلکي فاسقان، فاجران دي، شرعًا د دوی لپاره د فاسق لفظ استعمالېدلای شي او سخت ګنهکاران او عاصیان دي، په حدیث شریف کي راغلي دي: احفوا الشوارب و اعفوا اللحی الحدیث او کما قال صلی الله علیه وسلم(۱) یعني بریتونه کم کړئ او ږیري غټي کړئ. بریتونه دومره کمول پکار دي چي پورته شونډي صفا ښکاره وي او د بریتو یوه نری لیکه وي او ږیره تر یو موټ(قبضه) پوري باید وي فقط

سوال: (۴۷۳) ږیره څومره غټول روا دي؟ (۱۱۹۲/۱۳۳۷هـ)

ځواب: د ږیري حد یوه قبضه ده، له دې څخه کمول صحیح نه دي او زیاته غټول جائز دي(۲) په در مختار کي راغلي دي: و أما الأخذ منها(أی اللحیة) و هی دون ذلک (أی القبضة) کما یفعله بعض المغاربة و مخنثة الرجال فلم یبحه أحد(۳) او په حدیث شریف کي راغلي دي: و اعفوا اللحی الحدیث او کما قال صلی الله علیه وسلم یعني ږیرې غټي کړئ فقط

سوال: (۴۷۴) ږیره باید څومره وي؟ (۲۱۵۸/۱۳۳۷هـ)

ځواب: ږیره دومره ضروري ده چي تر یو موټ(قبضه) به کمه نه وي خریل د ږیري او کوچني

---

(۱) عن ابن عمر رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: خالفوا المشرکین أوفروا اللحی و احفوا الشوارب و فی روایة: أنهکوا الشوارب و اعفوا اللحی، متفق علیه(مشکوة المصابیح، ص: ۳۸۰، کتاب اللباس، باب الترجل، الفصل الأول).

(۲) په حدیث شریف کي راغلي دي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم تر یو موټ زیاته ږیره په طول او عرض کي له دواړه جانبو پرې کوله، عن عمرو بن شعیب عن أبیه عن جده أن النبی صلی الله علیه وسلم کان یأخذ من لحیته من عرضها و طولها(جامع الترمذي: ۱۰۵/۲، ابواب الآداب، باب ما جاء فی الأخذ من اللحیة) او په شامي کي راغلي دي: فما زادمنها علی قبضة قطعه(الدر مع الرد ۲۸۸/۵ کتاب الحظر و الإباحة. ط رشیدیه) نو تر موټ زیاته ږیره پرې کول سنت دي

(۳) الدر مع الشامي: ۱۲۳/۲ کتاب الصوم، باب ما یفسد الصوم و ما لا یفسده، مطلب فی الأخذ من اللحیة. ط رشیدیه

کول حرام دي او کله چي دا حرام شو نو ږیره ایله کول فرض شو. ځکه چي د حرام فعل پرېښودل هم پر انسان فرض دي، مثلاً زنا او غلا حرامه ده نو پرېښودل يې فرض او ضروري شول، دا نکته په یاد ساتلو وړ ده چي "ترک د حرامو فرض وي او ترک د فرضو حرام وي" فقط

له هر طرفه ږیره باید یو موټ وي

سوال: (۴۷۵) د ږیري هغه کومه برخه ده چي تر ځلور ګوتي به کمه نه وي؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۷۳۱هـ)

ځواب: تو له ږیره باید تر ځلورو ګوتو کمه نه وي له یو اړخ څخه هم ږیره تر ځلور ګوتي کمه مه جوړوي و السنة فیها القبضة(۱)

د یو موټ اندازه به له کوم ځایه وي؟

سوال: (۴۷۶) د ځینو قول دی چي یو موټ ږیره ایله کول سنت دي، که دا خبره صحیح ده نو د یو موټ اندازه به له کوم ځای څخه لګول کیږي؟ بینوا توجروا (۱۳۳۴-۳۳/۱۷۸۵هـ)

ځواب: قال فی الدر المختار: و السنة فیها القبضة الخ و فی الشامي: و هو أن یقبض الرجل لحیته، فما زاد منها علی قبضة قطعه إلخ(۲) (شامي) او د دغه قبضي اندازه به تر زنه لاندي څخه کیږي فقط

تر یو موټ زیاته ږیره کمول حرام دي؟

سوال: (۴۷۷) د ږیري حد شرعًا تر کوم ځایه دی؟ که څوک تر مقرر حد کمه کړي نو آیا هغه د ږیري خریلو سره برابر دی؟ (۱۳۳۷/۳۴۴هـ)

ځواب: د ږیري حد یوه قبضه(موټ) دی، تر قبضه کمول صحیح نه دی او له مشروع حد څخه کمول

---

(۱) الدر المختار مع رد المحتار ۲۸۸/۵ کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی البیع. ط رشیدیه

(۲) الدر المختار و الشامي ۲۸۸/۵ کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی البیع. ط رشیدیه

همداسي حرام دي لکه خریل، که څه هم خریونکی زیات بد دی چي دی تشبه بالکفار هم کوي او دا پخپله حرام دي، قال الله تعالی: "و لا ترکنوا إلی الذین ظلموا" الآیة (سورة هـود، آیت: ۱۱۳) فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۴۷۸) د ږيري وېښتان طولاً او عرضًا دومره کوچني کول چي تر قبضه کم شي بیا که د یو اینچ په اندازه پاته شي او که د یوې وربشي، داسي جائز او سنت دي که ممنوع؟ او څوک چي د دې د سنت والي فتوی ورکړي هغه څنګه دي؟ (۱۳۳۸/۲۲۲۹هـ)

ځواب: ږيره تر قبضه کمول منع دي سنت یوه قبضه ده(۱) کما فی الدر المختار: و السنة فیها القبضة(۲) و فیه أیضًا: و أما الأخذ منها و هی دون ذلک... فلم یبحه أحد(۳) له دې څخه معلوم شو چي ږيره تر قبضه کمول ناجائز دي او څوک چي ورته جائز یا سنت وایي هغه خطا دی. فقط

ږيره خريلی متقي نه بلکه فاسق دی

سوال: (۴۷۹) کوم مسلمان چي ږيره برېتونه خروي او لمونځ هم کوي داسي سړی متقي دی که څه حکم دی؟ (۱۳۳۹/۸۹۱هـ)

ځواب: داسي سړی متقي نه بلکه فاسق او عاصي دی. فقط

ږيره خريل او کوچني کول کبیره ګناه او حرام دي

سوال: (۴۸۰) ږيره خريل صغیره ګناه ده که کبیره؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۲۵۰هـ)

ځواب: کبیره ګناه ده. فقط

---

(۱) دلته له "سنت" څخه د فقهاء والا سنت مراد نه دی بلکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه رضی الله عنهم خوښه کړې طریقه مراد ده.

(۲) الدر المختار مع الشامي ۲۸۸/۵ کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی البیع. ط رشیدیه

(۳) الدر المختار مع الشامي ۱۲۳/۲ کتاب الصوم، باب ما یفسد الصوم و ما لا یفسده، مطلب فی الأخذ من اللحیة. ط رشیدیه

سوال: (۴۸۱) ږيره خريل يا کوچنۍ کول حرام دي که جائز دي؟ د حرمت يا جواز دواړو حواله له قرآن او حديث څخه راکړه، که کوم قوم د جهاد پر مهال يا د همېشه لپاره ږيره وخروي نو په موږ او ترکيانو کي آيا څه فرق شته؟ که کوم قوم له امام صاحب څخه پرته د کوم بل امام پيروي کونکي وي نو د کوم امام په نزد ږيره خريل جائز دي؟ (۱۰۳/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: ږيره خريل او کوچنۍ کول ناجائز او حرام دي، و أما الأخذ منها و هـي دون ذلک... فلم يبحه أحد(۱) او په حديث شريف کي راغلي دي: اعفوا اللحى(۲) يعني ږيري غټي کړئ او که کوم قوم يا کسان د دغه شرعي حکم پر خلاف وکړي نو هغه ګنهکار دی، د دوی په فعل د نورو لپاره دليل نيول نه دي پکار (او د يو امام په نزد هم ږيره خريل جائز نه دي) فقط

سوال: (۴۸۲) د يوې ګوتي په اندازه ږيره پرېښودل يا يو مخ خريل دواړه برابر دي که فرق لري؟ (۵۵۹/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: په ترک د سنت(يعني واجب) کي او ګناه کي دواړه برابر دي اما په خريلو کي خو تشبه بالکفار هم ده، ځکه هغه زيات قبيح ناوړه او معصيت دی.

د ږيري خريلو او کوچني کولو سزا

سوال: (۴۸۳) کوم خلک چي شرعي ږيره نه پرېږدي بلکه خروي يا يې کوچنۍ کوي، هغه ګنهکار دي او کنه؟ که دي نو په آخرت کي د کومي سزا مستحق دي؟ (۱۴۱۲/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: ږيره خريل حرام دي، ږيره خريونکی فاسق دی، کوم عذاب چي به په قيامت کي د فاسقانو، فاجرانو وي، د ده لپاره به هم هغه عذاب وي او په غچي د ږيري کوچنۍ کونکي حکم هم د ږيري خريونکي کي دی. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) الدر مع الرد ۱۲۳/۲، کتاب الصوم، باب ما يفسد الصوم و ما لا يفسده، مطلب في الأخذ من اللحية. ط رشيديه

(۲) عن ابن عمر رضى الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: خالفوا المشركين أوفـروا اللحـى و احفوا الشوارب الحديث، متفق عليه(مشكوة المصابيح، ص: ۳۸۰ كتاب اللباس، باب الترجل، الفصل الأول)

سوال: (۴۸۴) د ږیري خریل څومره ګناه ده؟ یو سړی وایي چې داسي ده لکه چې څوک د خپلي مور سره او یا واره زنا وکړي. بل سړی ورته وایي داسي سخته خبره نه ده کول پکار. په دې هکله شرعي حکم څه دی؟ (۱۵۵/۱۳۴۵هـ)

ځواب: ږیره خریل او کوچنی کول کله چي تر قبضه کمه وي حرام دي. په حدیث شریف کي راغلي دي: اعفوا اللحی و احفوا الشوارب(۱) یعني ږیري غټي کړئ او بریتونه کم کړئ او په در مختار کي راغلي دي: و أما الأخذ منها و هي دون ذلک ... فلم یبحه أحد(۲) یعني ږیره کوچنی کول کله چي تر قبضه کمه وي هیچا ورته جائز نه دي ویلي نو کله چي دا فعل هم حرام دی او زنا هم حرامه ده نو که چا داسي وویل نو په دې کي کومه خرابي نشته، په یو حدیث شریف کي داسي راغلي دي چي د سود او یا برخي دي په دې کي تر ټولو کمه داسي ده لکه چي سړی د خپلي مور سره زنا وکړي(۳) اما خاص د ږیري خریلو یا کوچني کولو په هکله داسي لفظ نه دی راغلی، لیکن کله چي دواړه کارونه حرام دي نو که په حرمت کي داسي تشبیه ورکوله شي نو څه پروا نلري فقط

مجاهد هم ږیره نشي خریلای

سوال: (۴۸۵) د جهاد پر مهال ږیره خریل روا دي که ناروا؟ (۱۴۸۷/۱۳۳۹هـ)

ځواب: ږیره دا وخت هم مه خروئ فقط

---

(۱) عن ابن عمر رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: خالفوا المشرکین أوفروا اللحی و احفوا الشوارب الحدیث، متفق علیه(مشکوة المصابیح، ص: ۳۸۰، کتاب اللباس، باب الترجل، الفصل الأول)

(۲) الدر مع الرد ۱۲۳/۲ کتاب الصوم، باب ما یفسد الصوم و ما لا یفسده، مطلب فی الأخذ من اللحیة. ط رشیدیه

(۳) عن أبی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: الربا سبعون جزء، أیسرها أن ینکح الرجل أمه(مشکوة المصابیح: ص: ۲٤٦ کتاب البیوع، باب الربا، و سنن ابن ماجة، ص: ١٦٤، أبواب التجارات باب التغلیظ فی الربا)

وږیري خرېلو ته سنت ویل کبیره ګناه ده

سوال: (۴۸۶) یو وار بکر وویل چې ږیره خریل سنت دي شرعًا د ده په هکله څه حکم دی؟(۱۳۳۹/۱۸۴۲هـ)

ځواب: ږیره خریلو ته سنت طریقه ویل سخته ګناه او د کفر ورباندې وېره ده. لنډه دا چې پر بکر لازم دي چې ژر توبه وباسي او سمدستي اسلام او نکاح نوې کول ضروري دي(احتیاطًا) فقط

که ږیره تر شرعي مقدار کمه وي نو وبښتان سره برابرول څنګه دي؟

سوال: (۴۸۷) ږیره لږ تر لږه باید څومره اوږده وي؟ اوزیاته سرې څومره غځولای شي؟ که له شرعي مقدار څخه کمه وي نو آیا غټ او کوچني وبښتان یکي برابرول جائز دي او کنه؟(۱۳۳۷/۱۰۷۲هـ)

ځواب: د ږیري په هکله شرعي حکم دا دی چې د یوې قبضې په اندازه غځول سنت دي او که تر دې څه زیاته هم وي نو هیڅ ګناه پکې نشته، لیکن تر دون ذلک... فلم یبحه احد الخ(۱) یعني ږیره دومره کوچنی کول چې تر قبضه کمه شي ورته هیچا جائز نه دي فرمایلي نو معلوم شو چې کله ږیره تر قبضه کمه وي نو بیا کوچنی کول صحیح نه دي. فقط و الله تعالی اعلم

تر شونډو لاندې وبښتان وهل څنګه دي؟

سوال: (۴۸۸) تر لاندې شونډه لاندې وبښتان ځیني خلک خروي چې تر زنه پورته وي او ځیني وایي چې دا په ږیره کې دي، شرعًا په دې هکله څه حکم دی؟

(۱۳۳۷/۲۷۱۱هـ)

ځواب: د شامي په پنځم ټوک حظر او اباحة کې راغلي دي:

نتف الفنيكين بدعة و هما جانبا العنفقة

---

(۱) الدر المختار مع الشامي: ۱۲۳/۲ كتاب الصوم، باب ما يفسد الصوم و ما لا يفسده، مطلب في الأخذ من اللحية. ط رشيديه

و هی شعر الشفة السفلی(۱) له دې څخه معلوم شو چې تر لاندې شونډه لاندې وېښتان مه پرې کوئ.

د نائي لپاره د چاړیره ورخریل یا کوچنی کول جائز نه دي

سوال: (۴۸۹) موږ د خلګو حجامت ورکوو ځینې خلګ ږیرې خروي او ځینې یې کوچنی کوي څه حکم دی؟ (۱۳۳۴-۳۳/۸۳۰هـ)

ځواب: داسې نه دي کول پکار، که کوم مسلمان ږیره خروي یا یې د شرع پر خلاف کوي نو یې مه ورکوئ، داسې پېشه باید سړی نکړي اختیار. فقط

نائي په ږیره خریلو ګنهکاریږي او کنه؟

سوال: (۴۹۰) مسلمان نائي د مسلمان په ږیره خریلو ګنهکاریږي او کنه؟ (۱۳۳۲-۳۵/۵۳۴هـ)

ځواب: ګنهکاریږي. فقط

بریتونه څومره باید کوچني وي؟

سوال: (۴۹۱) بریتونه باید څومره غټ او څومره کوچني وي؟ (۱۳۴۱/۹۲۲هـ)

ځواب: بریتونه یو مخ باید کوچني وي چې پر شونډو وېښتان نه راځي او شونډان ښکاریږي لکه چې معروف دي فقط

بریتونه کوچني کول سنت دي که خریل؟

سوال: (۴۹۲) د امام ابو حنیفه رحمه الله مذهب دا دی چې بریتونه په بېخ کې په غچي ووهل شي که څنګه؟ (۱۳۳۹/۴۷۰هـ)

ځواب: د بریتونو په هکله دواړه قوله دي حلق هم او قص هم، په شامي کې راغلي دي: و عبارة

---

(۱) الشامي ۲۸۸/۵ کتاب الحظر و الإباحة، فصل في البيع. ط رشيديه

المجتبى بعد ما رمز للطحاوي: حلقه سنة، و نسبه إلى أبي حنيفة رحمه الله و صاحبيه و القص منه حتى يوازي الحرف الأعلى من الشفة العلياء سنة بالإجماع اهـ(١) نو دغه دوهم قول معمول به دی(يعني بريتونه کوچني کول سنت دي)

سنتي ولي کيږي؟

سوال: (۴۹۳) سنتي ولي کيږي؟ په دې کې څه حکمت دی؟ و ماشوم ته تکليف ورکولو باندې نه پوهيږم؟(۱۳۴۰/۹۹۹هـ)

ځواب: په حديث شريف کې راغلي دي: عن أبي هريرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الفطرة خمس: الختان، والاستحداد، و قص الشارب، و تقليم الأظفار، و نتف الإبط(٢) له دغه حديث څخه څرګند دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم سنتي کول اسلامي فطرت او د اسلام طريقه بللي ده نو د "ما آتاكم الرسول فخذوه و ما نهاكم عنه فانتهوا" (سورة حشر، آيت: ٧) په حکم مسلمانان بايد د رسول الله صلى الله عليه وسلم طريقه خپله کړي او فقهاء رحمهم الله ختنه د اسلام شعار بللي ده نو که څوک په حکمت پوه هم نشي بيا هم د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اتباع په وجه سړی دا بايد د اسلام شعار وبولي او لازمي يې عملي کړي او د تشبه بالکفار څخه ځان ساتل پکار دي فقط

که د زخم په وجه څرمن پرې شي نو د سنتي ضرورت شته او که نه؟

سوال: (۴۹۴) د نابالغ هلک د ذکر سر زخمي شو له امله يې څرمن پرې شوه ورژېده خو د ذکر سر پوره ښکاره نه شو حشفه تولهٔ نشوه ښکاره نو د ده لپاره سنتي ضروري ده او که نه؟(۱۳۴۱/۵۳۵هـ)

ځواب: په درمختار کې راغلي دي: صبي حشفته ظاهرة بحيث لو رآه إنسان ظنه مختونا و لا

---

(١) رد المحتار ٥/٢٨٨ كتاب الحظر و الإباحة، فصل فى البيع. ط رشيديه

(٢) مشكوة المصابيح: ص: ٣٨٠، كتاب اللباس، باب الترجل.

تقطع جلدة ذكره إلا بتشديد آلمه، ترک على حاله كشيخ أسلم، و قال أهل النظر: لا يطيق الختان ترک أيضًا(۱) له دې څخه معلوم شو چي په مسئوله صورت کي تر څو له حشفه نه ده ښکاره شوې نو سنتي کول پکار ده. فقط

چي حشفه يې ښکاره وي سنت کول نه غواړي

سوال: (۴۹۵) د چا خرمن چي پخپله پورته شي ځای ښکاره شي د هغه لپاره د ختني ضرورت شته او کنه؟ (۱۳۳۹/۱۸۳۴هـ)

ځواب: د چا حشفه چي ښکاره وي د هغه لپاره د سنتي کولو ضرورت نشته. فقط

د مختون پيدا شوي ختنه ضروري نه ده

سوال: (۴۹۶) کوم څوک چي پيدائشي سنت شوی وي د هغه لپاره بيا د سنتي ضرورت شته او کنه؟ (۱۳۴۱/۲۳۸۹هـ)

ځواب: د ده د ختني ضرورت نشته. فقط

تر بلوغ وروسته هم سنتي کول ضروري ده

سوال: (۴۹۷) د ځوان سنتولو په هکله څه حکم دی؟ او څه ډول کول پکار دي؟ (۱۳۴۳/۹۹۴هـ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: ينظر الطبيب إلى موضع مرضها بقدر الضرورة، إذا الضرورات تتقدر بقدرها و كذا نظر قابلة و ختان الخ(۲) و ايضًا فيه: و من بلغ غير

---

(۱) ترجمه: د کوم ماشوم حشفه چي دومره ښکاره وي چي سړی ورته وګوري دا يې خيال شي چي دی سنت شوی دی او د ده د ذکر خرمن ببله سخت تکليف ورسولو پرې کول ممکن نه وي نو بيا دی پر همدا غه حال پرېښودې لکه مثلاً يو سپين ږيری مسلمان شو او پوهانو وويل چي دغه سپين ږيری د سنتي طاقت نلري نو د ده ختنه هم مه کوئ(الـدر مـع الشـامي ۵۲۹/۵ کتـاب الخنثى، مسائل شتى. ط رشيديه)

(۲) الدر المختار ۲۶۱/۵ کتاب الحظر و الإباحة، فصل في النظر و المس. ط رشيديه

مختون أجبره الحاکم علیه الخ(۱) له دغه عبارتونو څخه معلوم شو چي د ځوان لپاره په یو داسي چا ځان سنتول چي هغه په سنت کولو پوهیږي جائز دی کله چي دی پخپله ځان نشي سنتولای او نه د ده ښځه یا مینځه ختنه کولای شي. فقط

سوال: (۴۹۸) زید بالغ شو خو سنت شوی نه دی اوس سنتول پکار دي او کنه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۱۰۷۳هـ)

ځواب: سنتول پکار دي، په در مختار کي راغلي دي: و کذا نظر قابلة و ختان الخ(۲)

سوال: (۴۹۹) یو سړی وایي چي د هلک سنتول په قرآن او حدیث ثابت نه دي په همدې وجه د یو سړي زوی غټ شو تر اوسه یې سنت کړی نه دی، سنتول یې واجب دي او کنه؟ (۱۳۴۳/۱۳۰۹هـ)

ځواب: هلکان سنتول سنت دي په حدیثو ثابت دي(۳) بلکي په در مختار کي یې فرمایلي دي چي سنتي د اسلام له شعائرو څخه ده الختان سنة کما جاء فی الخبر و هو من شعائر الإسلام و خصائصه(٤) او د سنتولو وخت عند البعض د اوو کلونو له عمر څخه بیا تر دوولس کلونو پوري دی(۵) او که کوم هلک بالغ شو او سنت شوی نه ؤ نو هغه هم باید سنت شي که هغه پخپله کولای شي نو پخپله دي وکړي کنې د ضرورت پر مهال یې په بل چا کول جائز دي لکه چي په در مختار کي راغلي دي: و کذا یجوز نظر قابلة و ختان(٦) فقط

---

(١) ردالمحتار ٥/٥٣٠ کتاب الخنثی، مسائل شتی. ط رشیدیه

(٢) الدر مع الشامي ٥/٢٦١ کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی النظر و المس. ط رشیدیه

(٣) عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: الختان سنة للرجال، مکرمة للنساء(المعجم الکبیر للحافظ أبي القاسم سلیمان احمدالطبراني: ١٤١/١٢، رقم الحدیث: ١٢٨٢٨، ١٨٦/١١، رقم الحدیث: ١١٥٩٠)

(٤) الدر المختار مع الشامي ٥/٥٣٠ کتاب الخنثی، مسائل شتی. ط رشیدیه

(٥) و وقته غیر معلوم، و قیل: سبع سنین کذا فی الملتقی، و قیل: عشر، و قیل: أقصاه اثنتا عشرة سنة (الدر مع الشامي ٥/٥٣٠ کتاب الخنثی، مسائل شتی. ط رشیدیه)

(٦) الدر مع الرد ٥/٢٦١ کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی النظر و المس. ط رشیدیه

ښځه سنتول څنګه دي؟

سوال: (۵۰۰) ښځه سنتول څنګه دي؟ (۳۳/۹۱۰-۱۳۳۴ھ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: و ختان المرءة ليس سنة بل مكرمة للرجال الخ(۱) او په شامي کي هم د ښځي سنتي غير راجح ليکلي دي(۲) فقط

سوال: (۵۰۱) څرنګه چي د نارينه سنتول سنت دي داغه راز د ښځو لپاره جائز دي که ناجائز؟ (۱۳۴۲/۲۹۳۵)

ځواب: دا ښکاره خبره ده چي ښځي سنتول معمول نه دي، له سلفو څخه تر خلفو پوري همدا معمول راغلی دی او تر اوسه دی، له دې څخه هم معلومېدلای شي چي د ښځو لپاره سنتي سنت نه ده او له حديث شريف څخه همدا معلومېږي چي ختنه د رجالو لپاره سنت ده، د ښځو لپاره سنت نه ده، بلکه مکرمه ده د رجالو لپاره(۳) په در مختار کي راغلي دي: و ختان المرأة ليس سنة بل مكرمة للرجال(در مختار) قوله: (بل مكرمة للرجال) لأنه ألذ فى الجماع زيلعى(٤) (شامي) فقط

ښځه به ښځه سنتوي

سوال: (۵۰۲) ښځي ولي سنتيږي؟ او څرنګه سنتيږي؟ او

---

(۱) الدر المختار مع الشامي ٥/٥٣٠ كتاب الخنثى، مسائل شق. ط رشيديه

(۲) قوله: (و قيل سنة) جزم به البزازى معللاً بأنه نص على أن الخنثى تختن و لو كان ختانها مكرمة لم تختن الخنثى لاحتمال أن تكون امرأة و لكن لا كالسنة فى حق الرجال اهـ أقول: ختان الخنثى لاحتمال كونه رجلاً و ختان الرجل لا يترک فلذا كان سنة احتياطًا و لا يفيد ذلک سنته للمرأة، تأمل (رد المحتار ٥/٥٣٠ كتاب الخنثى، مسائل شق. ط رشيديه)

(۳) عن ابن عباس رضى الله عنهما قال: الختان سنة للرجال، مكرمة للنساء (المعجم الكبير للحافظ أبى القاسم سليمان احمد الطبرانى: ١٤١/١٢، رقم الحديث: ١٢٨٢٨، ١٨٦/١١، رقم الحديث: ١١٥٩٠ المطبوعة: دار الاحياء التراث العربى، بيروت)

(٤) الدر و الشامي ٥/٥٣٠ كتاب الخنثى، مسائل شق. ط رشيديه

په څومره عمر کي باید سنت شي؟ (۱۳۳۷/۲۷۲۴هـ)

ځواب: ښځه به بس ښځه سنتوي او که چیري سنتونکې ښځه نه وي نو سنتي دي نه کوي ځکه چي د ښځو سنتول ضروري نه دي ځکه متروک شوې ده، په در مختار کي راغلي دي: و ختان المرأة ليس سنة بل مكرمة للرجال الخ قوله: (بل مكرمة للرجال) لأنه ألـذ في الجماع(۱) (شامي) و وقته غير معلوم(۱) (در مختار) و قيل: سبع سنين الخ(۱)

بېله قوي عذره ختنه پرېښودل صحیح نه دي

سوال: (۵۰۳) یو سړي یو هلک تر بلوغ مخکي سنت کړی، د هغه هلک تر سنتي دوې ورځي وروسته سخته تبه شوه وفات شو، څو موده وروسته بل هلک سنت کړی د هغه هم داغه دوې درې ورځي تبه شوه وفات شو، څه زمانه تېره شوه دریم هلک یې سنت کړی هغه دوې، درې ورځي کلک ناجوړه ؤ، مړ شو، اوس نوبت د څلورم هلک راغلی دی خو مور او پلار یې له مخکنی تجربې څخه غالب گمان کوي چي لکه څرنګه چي مخکي له دغه عمل څخه پرلپسې د دریو زامنو د مرګ غم مور و ګالی، شاهد اوس هم د سنتي د خوشحالی سره د بچي د مرګ غم و نه ووینو ځکه د دغه زوی په ختنه کولو کي مور او پلار شکمن دي آیا په داسي حالت کي ترک د ختني یا تأخیر صحیح دی او کنه؟ بینوا توجروا (۱۳۳۵/۴۱۰هـ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: و الأصل أن الختان سنة كما جاء في الخبر و هو من شعائر الإسلام و خصائصه، فلو اجتمع أهل بلدة على تركه حاربهم الإمام فلا يترك إلا لعذر و عذر شيخ لا يطيقه ظاهر و وقته غير معلوم، و قيل: سبع سنين كذا في الملتقى، و قيل: عشـر، و قيل: أقصاه اثنتا عشرة سنة، و قيل: العبرة بطاقته و هو الأشبه و قال أبو حنيفة رحمه الله تعـالى: لا علم لي بوقته(۲) د دغه عبارت حاصل دا دی چي سنتي کول سنت دي او د اسلام له شعائرو څخه ده، بېله قوي عذره ترک یې صحیح نه دی او داسي سپین ږیری

(۱) الدر المختار و الشامي ۵/۵۳۰ كتاب الخنثى، مسائل شتى. ط رشيديه

(۲)الدر المختار و الشامي ۵/۵۳۰ كتاب الخنثى، مسائل شتى. ط رشيديه

چي د ختنې توان پکي نه وي عذر د ده ظاهر دی او وخت د دې معين نه دی الخ يعني تر بلوغ مخکي چي هر کله وغواړي ختنه دي وکړي الخ نو په مسئوله صورت کي سنتي پرېښودل جائز نه دي ليکن تأخير تر بلوغ پوري صحيح دی په ښه موسم کي او کله چي هلک تحمل نشي کولای نو په ماهره سړي يې سنت کړئ فقط

پر پښو شوټ ماشوم ختنه کول

سوال: (۵۰۴) يو هلک د لسو کلو دی خو پر پښو يو مخ تګ راتګ نشي کولای د ده د مور او پلار اراده ده چي سنت يې کړي، سنتول پکار دي او کنه؟(۱۲۵/۳۵-۱۳۳۲هـ)

ځواب: که د سنتېدو توان لري نو سنت يې کړئ فقط

نوی مسلمان شوی بالغ هم سنتول ضروري دي

سوال: (۵۰۵) مور دوه ورونه نوي مسلمانان شوي يو، يو د پنځه ويشتو کلو او بل د دوويشتو کلو يو نو مور لپاره ختنه کول جائز دي که څنګه حکم دی؟
(۲۴۵/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: ختنه خو د اسلام له شعائرو څخه ده ځکه تاسو بايد ضرور ختنه وکړئ د ضرورت په وجه د غير نظر کول صحيح دی، فی الدر المختار: و كذا نظر قابلة و ختان(۱) که پخپله د ختنه کولو همت وي نو تر ټولو اولی او افضل دی فقط

سوال: (۵۰۶) کله چي کوم نامسلمان مسلمان شي نو که سنت نکړو په اسلام کي خو به څه فرق نه راځي؟ د ديرشو، څلويښتو کلو په عمر کي ختنه کولو څه حکم دی؟
(۸۳۲/۱۳۳۵هـ)

ځواب: د در مختار په مسائل شتی کي راغلي دي: و الأصل أن الختان سنة كما جاء فی الخبر و هو من شعائر الإسلام و خصائصه (إلى أن قال) فلا يتــرک إلا لعــذر و عــذر شــيخ

---

(۱) الدر المختار مع الشامي ۲۶۱/۵ كتاب الحظر و الإباحة فصل فی النظر و المس. ط رشيديه

لا یطیقه ظاهر(۱) د دغه عبارت حاصل دا دی چي ختنه سنت ده او د اسلام له خاصو علامتونو څخه ده، بېله قوي عذره یې مه پرېږدئ او داسي سپین ږیری چي د ختنې طاقت نلري معذوره دی، نو څوک چي داسي معذور نه وي یعني سپین ږیری نه وي د هغه ختنه ضرور کول پکار ده، که څه هم د ختنې په ترک هغه کافر نه ګرځي او د ده په اسلام کي فرق نه راځي لیکن د سنت او د اسلام د شعار د ترک په وجه ګنهکار ګرځي لهذا حتی الوسع نوی مسلمان ضرور ختنه کوئ د ځلوېښتو، پنځوسو کلونو په عمر کي سړی دومره معذور نه وي چي ترک د ختنې د ده لپاره صحیح وي. فقط

د سنتي پر مهال خپلوان مېلمانه کول او د تحفې ورکولو رواج کول

سوال: (۵۰۷) ... (الف) د سنتي پر مهال خپلوان او دوستان راغوښتل او دوی ته مېلمستیا کول او د تحفو ورکولو راکولو رواج کول شرعًا صحیح دی او کنه؟ زما په خیال خو د ختنې پر مهال د رواجونو پر ځای خیرات کول ښه دی دا خیال څنګه دی؟

(ب) د ختنې پر مهال سنت طریقه څه ده؟ (۱۳۳۸/۴۲۳ھ)

ځواب: (الف) د سنتي پر مهال قریبان او دوستان راغوښتل مېلمستیا ورته کول صحیح دي او د تحفو راکړه ورکړه هم فقهاء جائز لیکلي دي(۲) أما جبر به پکي نه وي او نه ورکونکي ته به پیغور او بد رد پسي ویل به نه وي

---

(۱) الدر المختار مع الشامي: ۵/ ۵۳۰ کتاب الخنثی، مسائل شتی. ط رشیدیه

(۲) و فی الفتاوی الخیریة: سئل فیما یرسله الشخص إلی غیره فی الأعراس و نحوها هل یکون حکمه حکم القرض فیلزمه الوفاء به أم لا؟ أجاب: إن کان العرف بأنهم یدفعونه علی وجه البدل یلزم الوفاء به إن مثلیا فبمثله و إن قیمیا فبقیمته و إن کان العرف خلاف ذلک بأن کانوا یدفعون علی وجه الهبة و لا ینظرون فی ذلک إلی إعطاء البدل فحکمه حکم الهبة فی سائر أحکامه الخ.

ترجمه: په فتاوی خیریه کي راغلي دي: پوښتنه وشوه د هغه سامان په هکله کوم چي یو بل ته د واده او نورو خوشحالیو پر مهال ورکوي، آیا د دې حکم د قرض د حکم په رنګه دی چي بیرته ورکول ضروري دي او کنه؟ ځواب: که عرف او رواج دا دی چي خلک یې د بدل په توګه و ده ته ورکوي نو بیرته ورکول-

او دا چي کوم ستاسو خیال دی دا هم ښه دی.

(ب) په حدیث باندي د ختنې پر مهال کومه خاص خوشحالي جوړول ثابت نه دي، نور نو د خوشحالۍ پر مهال مېلمستیا او نور کول شرعًا صحیح دي، د دې کومه منع نشته او سنت هم نه دی. فقط

سوال: (۵۰۸) د هلک سنتولو پر مهال خلک مېلمانه کول څنګه دي؟ نن صبا زموږ په وطن کي دغه مروجه دوده عام خلک ضروري بولي، په همدې وجه ځیني ماشومان بې له ختنې کولو د بلوغ تر عمر ورسیږي شرعًا به په داسي حالت کي څه حکم وي؟ (۱۳۳۸/۱۱۷۴هـ)

ځواب: د سنتي پر مهال مېلمستیا کول صحیح دي لیکن دا ضروري بلل یا د دې په وجه ماشوم نه سنتول منع او ناوړه کار دی، داسي رواج نه مه کوئ. فقط

د مړه ماشوم نو مه پرې کوئ

سوال: (۵۰۹) ماشوم تر پیدا کېدو وروسته مړ شو، د ده نو پرې کول پکار دي او کنه؟ یو عالم وایي چي نو یې پرې کول پکار دي ځکه چي نجس شی وي لمونځ نه صحیح کیږي، بل عالم یې منع کوي، ځکه چي دی مړ دی او پر مړي چاړه چلول ناروا دي؟ (۱۳۴۱/۹۵۲هـ)

ځواب: دوهم قول صحیح دی، مړی ماشوم چي ژوندی پیدا شو بیا مړ شو او د ژوند پر مهال د ده نو پرې نکړل شو نو له مرګ وروسته د ده نو مه پرې کوئ لکه چي د فقهي د کتابونو له دغه عبارت څخه چي معلومیږي: و لا یسرح شعره أی یکره تحریما و لا یقص ظفره إلا المکسور و لا شعره و لا یختن إلخ (۱) (در مختار) فقط و الله تعالی اعلم

ضروري دي، که له ذوات الامثال څخه دی نو د هغه مثل او که ذوات القیم دی نو قیمت به د بدل په توګه ورکول کیږي او که عرف او رواج د دې خلاف دی دا ډول چي خلک داسي سامان د هبې په توګه ورکوي او د دې د بدل ورکولو طرف ته خیال نه کوي نو د دې حکم په ټولو احکامو کي د هبې د حکم په رنګه دی (یعني د دې عوض ورکول ضروري نه دی) رد المحتار مع الدر المختار ۵۷۳/۴ کتاب الهبة ط رشیدیه

(۱) الدر المختار مع الشامي ۶۳۳/۱ کتاب الصلاة باب صلاة الجنازة مطلب فی القرأة عند المیت. ط رشیدیه

د بازیو، تماشو، عکسونو او نورو احکام

غېږ او توپ لنډه کول کله جائز وي؟

سوال: (۵۱۰) امام غزالي رحمه الله په کیمیائي سعادت کي لیکلي دي چي په ټوله ورځ کي د څه وخت لپاره ماشومانو ته اجازه کول پکار دي چي بازۍ وکړي نو د څه ډول بازیو؟ (۱۴۴۸/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: مطلب یې دا دی چي د ماشومانو طبیعت سم وي ځکه مباح بازۍ یا صرف ګرځېدل منډه وهل څه پکار دي چي وي ترڅو د هر وخت په درس د دماغ سترې نشي، مباح بازۍ هم ځیني دي لکه غېږ ایستل، توپ لنډه کول او نور بېله شرط اېښودلو. فقط

په واده کي رقص، توشکي الوزول، ډولونه او سرناوي وهل ناروا دي

سوال: (۵۱۱) په نکاح کي ډول، سرنا، رقص او نور د لهو و لعب شیان تکول جائز دي که ناجائز؟ (۱۱۱۷/۱۳۴۰هـ)

ځواب: په نکاح کي صرف د اعلان په غرض دریا تکول مباح دي او سرنا او رقص او نور ټول حرام دي فقط

سوال: (۵۱۲) په واده کي ناچ، سرنا، توشکي الوزول او نور د نکاح د اعلان په غرض کول جائز دي او کنه؟ (۱۷۴۳/۱۳۴۰هـ)

ځواب: دا حرام شیان روا نه دي اما که د دزیا په وسیله اعلان وشي نو پروا

نلري، کما ورد: أعلنوا هذا النکاح و لو بالدف او کما قال صلی الله علیه وسلم(۱)

د دریا سره نعتونه او نظمونه ویل بې ادبي ده

سوال: (۵۱۳) یوه ډله په اوداسه ودریږي حمدونه، نعتونه د اولیاؤ تعریفونه او قصیدې وايي او ورسره دریا هم ټکوي نو داسي جائز دي که ناجائز؟ او د دف شکل باید څرنګه وي؟ (۱۳۳۹/۱۳۸۷هـ)

ځواب: د دف او مزامیرو حرمت په نصوصو کي راغلی دی(۲) او د حمد او نعت سره شرعي محرمات جمع کول نور هم زیات ناوړه او قبیح عمل دی او بې ادبي ده. فقط

ډرامه کول او کتل

سوال: (۵۱۴) ... (الف) د حضرت موسی علیه الصلاة و السلام د ژوند کرشمه او د ټول ژوند نقشه(ب) د ډاکټر پیرس کانورته پول تلاش کولو تماشه(ج) د ډاکټر فاسټ یعني د شیطان د مریي تماشه(د) د جنت دوزخ عجائبات کرشمه او نور نو پوښتنه دا ده چي ډرامه کول او کتل چي پکي د انبیاء علیهم الصلاة و السلام تماشې او د مذهبونو تماشې کیږي جائز دی؟ او د داسي تماشو کته حلاله ده که حرامه؟ ځیني خلګ ورته حرامه وايي سیکرټري صاحب وايي چي حلاله ده. (۵۹۳/۲۹-۱۳۳۰هـ)

ځواب: (الف-د) شرعًا بازۍ او تماشې ټولي حرامي او ناوړه دي، په آیتونو، حدیثونو او د فقهي په کتابونو د لهو او لعب حرمت ثابت دی قال الله تعالی: "و من الناس من یشتری لهو الحدیث" (سورة لقمان، آیت: ٦) و قال علیه الصلاة و السلام: لهو المؤمن باطل إلا فی ثلاث: تأدیبه فرسه و فی روایة ملاعبته بفرسه و رمیه عن قوسه و ملاعبته مع اهله(شامي) او

---

(۱) عن عائشة رضی الله عنها قالت: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: أعلنوا هذا النکاح و اجعلوه فی المساجد و اضربوا علیه بالدفوف. رواه الترمذي(مشکوة المصابیح ص: ۲۷۲ کتاب النکاح، باب اعلان النکاح، الفصل الثاني)

(۲) د مزامیر د حرمت تفصیل په سوال(۵۴۴-۵۴۶) کي وګورئ.

په در مختار کي راغلي دي: و دلت المسئلة أن الملاهي كلها حرام الخ(۱) نو ثابته شوه چي ډرامې کول کتل او پکي شريکېدل ټول ناجائز دي، په تېره بيا د انبياء عليهم الصلاة و السلام ډرامې کول او دوى د لهو او لعب آله ګرځول يا اسلام لهو او لعب جوړول سخته ګناه او مفضى إلى الكفر ده، نو په دې کي هر ډول مرسته کول او ډرامه کتلو لپاره خلګ ترغيبول او په ډرامه کي شريکول حرام دي، قال الله تعالىٰ: "و تعاونوا على البر و التقوى و لا تعاونوا على الإثم و العدوان" (سورة مائده، آيت: ۲) نو کومه آمدني چي په حرامه وسيله حاصله شي هغه هم حرامه ده. فقط

سوال: (۵۱۵) په يو مجلس کي يو ډرامه دا ډول کيږي چي يوه ښځه د يو يهودي لور وي د اسلام د ميني اظهار کوي د دې و مخته دوه کسان چي پکي د يو فرضي نوم ايمان او د بل نوم شيطان وي نو موړې ښځه د ايمان د محبت او صداقت يقيني اظهار کوي ايمان يې تائيد کوي او شيطان د اسلام په خلاف وراندي سختي حملې او ناروا اعتراضونه کوي، ايمان جوابونه ورکوي، آخر اسلام کامياب شي او شيطان ماته وخوري ليکن په همدغه ډرامه کي يوه يهودي انجلۍ وي چي د بدچلندۍ او فاحشه کيدو ښخه پرته د قرآن مجيد آيتونه د ډول سره واي او زياتره د قرآن الفاظ غلط هم وايي او د ايمان او شيطان تمثل دوه کسان کوي هغه هم ناوړه اعمال کونکي دي نو داسي ډرامه کتل او کول جائز دي او کنه؟ سرناوي خو پرېږده داغسي پکي د اسلام او مذهب سپکاوى شته او کنه؟ (۱۳۳۵/۱۰۴۳هـ)

جواب: قال في الدر المختار: و دلت المسئلة أن الملاهي كلها حرام و يدخل عليهم بلا إذنهم لإنكار المنكر الخ(۱) و في الشامي: قال عليه الصلاة و السلام: لهو المؤمن باطل إلا في ثلاث الحديث(۱) نو معلوم شو چي دا ډول ډرامه کول او کتل په دې وجه هم حرام دي چي لهو و لعب دي او په دې وجه هم حرام دي چي په ايمان او اسلام پوري ټوکي او لهو و لعب کيږي، په دې کي بې له شکه سپکاوى کول دي د اسلام او هغه حرام دى نو بندول د دې ضروري دي: قال عليه الصلاة و السلام: من رأى منكم منكرا فليغيره بيده

(۱) الدر المختار و رد المحتار ۲۴۵/۵ أوائل كتاب الحظر و الإباحة. ط رشيديه

فإن لم یستطع فبلسانه، فإن لم یستطع فبقلبه و ذلک أضعف الإیمان. رواه مسلم(۱) فقط

د صحابي په نوم ډرامه او فلم جوړول

سوال: (۵۱۲) د پټیالې د مسلمانانو په مکتب کې د هرقل او د نبي صلی الله علیه وسلم د سفیر ډرامه وشوه یو سړی پکې هرقل ؤ او یو سړی د نبي صلی الله علیه وسلم سفیر، د نبي علیه الصلاة و السلام لیک په عربي کې وویل شو، ترجمان یې ترجمه وکړه، هرقل او سفیر سره خبرې اترې وکړې، دا جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۲/۱۵۲۳هـ)

ځواب: جاء في الحدیث: دع ما یریبک إلی ما لا یریبک(۲) و قال الله تعالی: "و من الناس من یشتری لهو الحدیث" الآیة(سورة لقمان، آیت: ۶) او ښکاره خبره ده چې دا ډول عمل کول په لهو الحدیث کې داخل دي او منع دي نو کله چې د دا ډول عمل کولو کوم صالح غرض نه وي صرف یو ډرامه کول وي نو داسې فعل شرعًا جائز نه دی، داغه راز که چیرې پکې کوم ښه غرض او نیت هم وي بیا هم ځنې پرهېز باید وشي چې په دې کې د استهزاء بالشریعة لاره خلاصیږي. فقط

مېلې ته تلل څنګه دي؟

سوال: (۵۱۷) مېلې او نورو ته د شیانو رانیولو په غرض تلل څنګه دي؟ (۱۳۳۰-۲۹/۲۷۲هـ)

ځواب: چیرې چې صرف نمائش وي کومه مېله او عرس نه وي، هلته د شیانو رانیولو او خرڅولو په غرض تلل صحیح دي، د سیل په غرض تلل ښه نه دي او په کوم ځای کې چې کومه مېله هم له مخکې څخه وي او نمائش هم پکې وي هلته تګ صحیح نه دی. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) الصحیح لمسلم: ۵۱/۱، کتاب الإیمان، باب بیان کون النهی عن المنکر من الإیمان الخ.

(۲) عن أبي الحوراء السعدي قال: قلت لحسن بن علي رضی الله عنهما: ما حفظت من رسول الله صلی الله علیه وسلم؟ قال: حفظت من رسول الله صلی الله علیه وسلم: دع ما یریبک إلی ما لا یریبک الحدیث(جامع الترمذي: ۷۸/۲، ابواب صفة القیامة، باب قبیل ابواب صفة الجنة.)

د کفارو په مېلو کي شريکېدل

سوال: (۵۱۸) کوم بازار يا مېله چي د بوتانو د لمانځني لپاره وي په هغه کي د مسلمانانو برخه اخيستل يا مرسته ورسره کول او په خوشحاله کېدل جائز دي او کنه؟ که جائز نه وي نو د مسلمانانو د دغه شر څخه د خوندي کولو لپاره د مسلمانانو کومه مېله يا بازار قائمول صحيح دي او کنه؟ او د مسلمانانو لپاره د دې مخالفت کول څنګه دی؟ (۱۳۴۵/۵۲۰هـ)

ځواب: د کفارو د عبادت په مېلو کي د مسلمانانو برخه اخيستل او مرسته ورسره کول او په خوشحاله کېدل حرام او کبيره ګناه ده او په خوشحاله کېدلو کي د کفر خطره ده و العياذ بالله تعالی او د مسلمانانو کوم بازار قائمول پکي بيع او شراء کول جائز ده او د کفارو په ملګري د دې مخالفت کول ناجائز دی قال الله تعالی: "و تعاونوا علی البر و التقوی و لا تعاونوا علی الإثم و العدوان" (سورة مائده، آيت: ۲) فقط

د کفارو مذهبي مېلو ته د رانيولو خرڅولو لپاره تلل

سوال: (۵۱۹) د هندوانو مېلو ته د رانيولو او خرڅولو لپاره تلل صحيح دي او کنه؟ (۱۳۳۵/۲هـ)

ځواب: د کفارو مذهبي مېلو ته تلل او څه پکي رانيول خرڅول صحيح نه دي، پرهېز څني لازم دی فقط

سوال: (۵۲۰) د هندوانو په مېله کي د تجارت په غرض د کان لګول او د کاروبار لپاره تلل جائز دي او کنه؟ په تېره بيا په هغه صورت کي چي مېله د دوی د بوتانو عبادت کولو له ځای څخه د نيم ميل پر واټن وي؟ (۱۳۳۷/۱۴۲هـ)

ځواب: په حديث شريف کي راغلي دي: من كثر سواد قوم فهو منهم(۱) لهذا په داسي مجلسونو

---

(۱) أخرجه الحافظ ابن حجر في فتح الباری شرح صحيح البخاری من أبي يعلى عن ابن مسعود رضي الله عنه مرفوعًا بلفظ: من كثر سواد قوم فهو منهم (فتح الباری: ۴۷/۱۳، كتاب الفتن، باب من كره أن يكثر الفتن و الظلم، المطبوعة: دار الكتب العلمية بيروت) ==

او مېلو کې د تجارت، بيع او شراء په غرض برخه اخيستل هم صحيح نه دي.

د لکړي اړوني لوبه کول

سوال: (۵۲۱) څوک چې د دين علم نلري د هغه لپاره هغه بازۍ چې زياتره د محرم د مياشتې په اوله کې کيږي ورسره ډول، سرنا هم وي داسې بازۍ څنګه دي؟ (۱۳۳۸/۹۴هـ)

ځواب: بازۍ لهو او و لعب هيڅ ډول صحيح نه دي حرام دي په در مختار کې راغلي دي: أن الملاهي كلها حرام(۱)

سوال: (۵۲۲) د لکړي اړولو بازۍ کول څنګه دي؟ (۱۳۳۸/۹۱۲هـ)

ځواب: عمومًا د لکړي اړوني بازۍ لهو و لعب دي او لهو و لعب شرعًا حرام او منع دي. فقط

سوال: (۵۲۳) د لکړي اړولو او نوري بازۍ کول جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۳/۱۲۸هـ)

ځواب: د لکړي اړولو او نوري بازۍ کول صحيح نه دي ليکن که د کوم صحيح غرض او صالح عمل سره وي د لهو او لعب په غرض نه وي لکه چې عمومًا فساق او فجار يې کوي نو صحيح دي.

سرکس کتل څنګه دي؟

سوال: (۵۲۴) د سرکس تماشه کتل څنګه دي؟ کتونکي وايي چې سرکس کتل په حديث ثابت دي. (۱۳۴۲/۱۲۳هـ)

ځواب: د "كل لهو المسلم حرام"(۲) په حکم او داغه راز د "و من الناس من يشترى لهوا الحديث" الآية (سورة لقمان، آيت: ۶) په حکم په دې کې برخه اخيستل صحيح نه دي.

= من سود مع قوم فهو منهم (كنز العمال: ۶/۹، كتاب الصحبة، من قسم الأقوال، رقم الحديث: ۲۴۶۷۶، المطبوعة: دار الكتب العلمية، بيروت)

(۱) الدر المختار مع الشامي ۲۴۵/۵ أوائل كتاب الحظر و الإباحة. ط رشيديه

(۲) الدر المختار مع الشامي ۲۷۹/۵ كتاب الحظر و الإباحة فصل فى البيع. ط رشيديه

د سینما حکم

سوال: (۵۲۵) سینما کتل صحیح دي او کنه؟ (۱۳۴۰/۲۳۷۱هـ)

ځواب: شرعًا د دې د جواز کوم صورت نشته، په حدیثو او فقهي روایتونو د دې حرمت ظاهر او باهر دی په دې کې د کوم عالم او دیندار اختلاف نشته، په در مختار کې راغلي دي: و فی السراج و دلت المسئلة أن الملاهی کلها حرام، و یدخل علیهم، بلا إذنهم لإنکار المنکر قال ابن مسعود رضی الله عنه: صوت اللهو و الغناء ینبت النفاق فی القلب کما ینبت الماء النبات الخ(۱) فقط

په هولي کې برخه اخیستل حرام دي

سوال: (۵۲۶) د مسلمانانو لپاره په هولي کې برخه اخیستل څنګه دي؟ (۱۳۴۲/۲۲۹۱هـ)

ځواب: د مسلمانانو لپاره په هولي کې برخه اخیستل حرام دي او د هندوانو سره په هولي کې شرکت کونکی فاسق دی باید توبه وباسي او هیڅکله دې هندوانو ته اجازه نه کوي چې رنګ وروباندې واچوي فقط

غیږ(کشتي) ایستل څنګه دي؟

سوال: (۵۲۷) غیږ بېله شرطه یا د شرط ایښودلو سره ایستل او له دې وروسته و دواړو ته یا یو ته د خلکو له لوري انعام ورکول جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۳/۹۴۳هـ)

ځواب: دا لهو او لعب دی جائز نه ده مګر کله چې په کوم صحیح نیت وي او د کوم حرام فعل لکه کشف د عورت او نورو ارتکاب پکې نه وي نو په داسي صورت کې پروا نلري

سوال: (۵۲۸) د امام اعظم رحمه الله په مذهب کې غیږ ایستل صحیح ده او کنه؟ که کوم څوک

---

(۱) الدر المختار مع الشامی ۲۴۵/۵ أوائل کتاب الحظر و الإباحة. ط رشیدیه

د بدني ورزش لپاره کشتي کوي نو څنګه وکړي؟ (۲۱۵۲/۱۳۴۳هـ)

ځواب: کشتي کول لکه چي په عامه توګه د لهو و لعب، کشف عورت او نورو په طریقه رواج دي په شریعت کي جائز نه ده، ځکه چي لهو و لعب په شریعت کي حرام دي قال فی الدر المختار: إن الملاهی کلها حرام(۱) أما که په یوازي والي کي د ورزش طاقت حاصلولو په مقابل د دښمن کي په نیت وشي نو جائز دي، کما قال الله تعالی: "و اعدوا لهم ما استطعتم من قوة" (سورة انفال، آیت: ٦٠) فقط

د کشتي مېله کول او پکي ټیکټ اخیستل

سوال: (۵۲۹) ... (الف) نن صبا زیاتره لنګ وهلي کشتي کوي چي پکي بې ستري وي دا ډول کشتي کول او کتل جائز ده او کنه؟

(ب) د کشتي مېله کول او پکي ټیکټ مقررول څنګه دي؟ (۱۲۴۴/۱۳۴۲هـ)

ځواب: (الف) فی الحدیث: الفخذ عورة(۲) نو په لنګ او نورو کي کشتي کول چي عورت ښکاره کیږي جائز نه ده او کشتي کول که په ښه نیت وي نو هغه که څه هم صحیح ده لیکن د لهو و لعب په طریقه لکه چي عام رواج دی جائز نه ده.

(ب) او مېله کول ټیکټ پکي مقررول هم صحیح نه دي، ځکه چي مېله او نور قایمول لهو او لعب دي او لهو و لعب حرام دي، قال الله تعالی: "و من الناس من یشتری لهو الحدیث" الآیة (سورة لقمان، آیت: ٦) په در مختار کي راغلي دي: و دلت المسئلة أن الملاهی کلها حرام و فی الشامی: قال علیه الصلاة و السلام: لهو المؤمن باطل إلا فی ثلاث: تأدیبه فرسه و فی روایة: ملاعبته بفرسه و رمیه عن قوسه، و ملا عبته مع أهله(۳) (شامي) فقط

---

(۱) الدر المختار مع الشامي ٥/٢٤٥ أوائل کتاب الحظر و الإباحة. ط رشیدیه

(۲) عن زرعة بن عبد الرحمن بن جرهد عن أبیه قال: کان جر هد هذا من أصحاب الصفة أنه قال: جلس رسول الله صلی الله علیه وسلم عندنا و فخذي منکشفة فقال: أما علمت أن الفخذ عورة (سنن أبي داؤد: ص: ٥٥٧ کتاب الحمام، باب النهی عن التعری)

(۳) الدر و الشامي ٥/٢٤٥ أوائل کتاب الحظر و الإباحة. ط رشیدیه

وکشتي ګټونکي ته روپۍ ورکول او د کشتي ګټلو لپاره قرآن په میدان کي ختمول

سوال: (۵۳۰) د يو مسلمان د بل مسلمان سره کشتي کول چي پکي مقصد مغلوبول او ذليله کول نه وي جائز دي او کنه؟ او د بايللو او ګټلو روپۍ مقررول چي کوم چا که کشتي وګټله سل روپۍ به ګټي بل د کشتي ګټونکي لپاره په ميدان کي قرآن ختمول جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۷/۴۲/۳۲۱۱هـ)

ځواب: کشتي او ورزش د هر ضروري او مفيد شی دی او کوم خلک چي کشتي کوي د هغو لپاره ورزش کول لابدي او ضروري دی کوم چي صحت او قوت ته فايده کوي، لهذا کشتي کول جائز بلکه مستحسن ده(۱) او ورزش کول د صحت او قوت په اعتبار د هر مسلمان لپاره ضروري دی، دې طرف ته بايد هر يو متوجه شي اما د ګټلو او بايللو په وجه خوک ذليله کول پېغور ورکول د ېر ناوړه او ناروا عمل دی خوک چي داسي کوي هغه ګنهکار دی او کشتي ګټونکي ته د انعام په توګه څه روپۍ ورکول لکه چي مشران اميران يې ورکوي جائز دي اما د ګټلو او بايللو په وجه پخپل منځ کي روپۍ ورکول او اخيستل ناجائز دي او په ميدان کي د قرآن ختمول نه دي پکار او نه دې ته ضرورت شته بلکه د قرآن شريف د بې ادبۍ ويره ده، ځکه ترک کول يې پکار دي فقط

تاش کول څنګه دي؟

سوال: (۵۳۱) تاش کول په تېره بيا د روژې په مياشت کي د روژې په حالت کي څنګه دي؟ په روژه کي خو به تاوان نه پيښيږي؟ (۱۳۳۰-۲۹/۴۰۵هـ)

ځواب: حرام دي، په تېره بيا د روژې مبارکي په مياشت کي خو نور هم بد دي چي د روژې په حالت کي بازی

---

(۱) ليکن په لنګ او نورو داسو جامو کي کشتي کول چي پکي کشف د عورت وي جائز نه دي لکه چي د سوال (۵۲۹) په جواب کي چي تېر شول ۱۲ سعيد احمد پالن پوري

کوي. فقط

سوال: (۵۳۲) تاش کول او د کولو لپاره بل ته بلنه ورکول څنګه دي؟ او د کونکي او رابلونکي په هکله څه حکم دی؟ (۱۳۳۷/۴۲۴هـ)

ځواب: تاش کول حرام دي او څوک چې تاش کوي یا خلک ورته رابولي هغه ګنهکار دي، په در مختار کي راغلي دي: کل لهو المسلم حرام(الحدیث) (۱) فقط

سوال: (۵۳۳) له غیبت څخه ځان ساتلو لپاره تاش کول جائز دي او کنه؟ (۱۲۳۱/۱۳۴۰هـ)

ځواب: جائز نه دي.

سوال: (۵۳۴) تاش کول څنګه دي؟ خمار دی کنه؟ او په آیت: "أنما الخمر و المیسر" کي داخل دي او کنه؟ (۱۳۴۲/۲۸۵۸هـ)

ځواب: تاش کول حرام دي ځکه چې دا یو لهو و لعب دي او ټول لهو او لعب په شریعت کي حرام دي لقوله تعالی: "و من الناس من یشتری لهو الحدیث" (سورة لقمان، آیت: ٦) او که په تاش کولو کي پر ګټلو او بایللو کوم شرط ولګول شي نو بیا د "إنما الخمر و المیسر" الآیة (سورة مائده، آیت: ۹۰) په آیت کي داخلیږي او قطعي حرام ګرځي. فقط

د ورزش پر مهال سرناوي وهل

سوال: (۵۳۵) ... (الف) په ځیني اسلامي مکتبونو کي په طالبانو ورزش کولو پر مهال سرناوي وهي او د دې د جواز لپاره د مصري، ترکي او انګریزي طریقو دلیل نیول کیږي آیا سرناوي باجې وهل مطلقًا روا دي که ناروا؟ که په ځیني ځایونو کي روا او ځینو کي ناروا دي؟

(ب) داغه راز کله نا کله په اسکولونو کي انګریزي ډرامې کیږي سرناوي پکي وهل کیږي د دې څه حکم دی؟ (۱۳۴۷-۴۲/۳۳۲۸هـ)

ځواب: (الف) سرناوي وهل او اورېدل حرام ناجائز او ګناه ده او خوند پر اخیستل کفر ن نعمت دی، په در مختار کي له فتاوی سراجیه څخه رانقل کړي دي: و فی السراج: و دلت المسئلة

---

(۱) الدر المختار مع الشامي ۲۷۹/۵، کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی البیع. ط رشیدیه

أن الملاهي كلها حرام الخ قال ابن مسعود رضى الله عنه: صوت اللهو و الغناء ينبت النفاق في القلب كما ينبت الماء النبات قلت: و في البزازية: استماع صوت الملاهي كضرب قصب و نحوه حرام لقوله عليه الصلاة و السلام: استماع الملاهي معصية و الجلوس عليها فسق و التلذذ بها كفر أى بالنعمة، فصرف الجوارح إلى غير ما خلق لأجله كفر بالنعمة لا شكر فالواجب كل الواجب أن يجتنب كي لا يسمع لما روى أنه عليه الصلاة و السلام أدخل إصبعه في أذنه عند سماعه الخ(۱) او په مصري او ترکي فوجي طريقه سره مطلقًا د سرنا پر جواز استدلال کول صحيح نه دي، ځکه چي په جنګ کي د دښمن سره مقابله وي او د ښمن مغلوبول او مرعوبول مقصد وي، ځکه هلته د دښم مرعوبولو په غرض دا ډول خبري جائز شي، مثلاً وښتان تورول مکروه دي ليکن په جنګ کي د دښمن مرعوبولو او وربانـدي هيبت اچولو لپاره د وښتانو تورولو اجازه ده بلکه دا سي کول غوره دي او د ښائست لپاره وښتان تورول مکروه ليکلي دي(۲) داغه راز نوکان پري کول او بريتونه کو چني کول مستحب او سنت دي ليکن په دار الحرب کي د غازي لپاره نوکان او بريتونه غټول مستحب ليکلي دي، په در مختار کي راغلي دي: و يستحب قلم أظافيره إلا لمجاهد في دار الحرب فيستحب توفير شاربه و أظفاره الخ او په شامي کي راغلي دي: و في المنح ذكر أن عمر بن الخطاب رضى الله عنه كتب إلينا: و فروا الأظافير في أرض العدو فإنها سلاح، لأنه إذا سقط السلاح من يده و قرب العدو منه ربما يتمكن من دفعه بأظافيره و هو نظير قص الشارب فإنه سنة و توفيره في دار الحرب للغازي مندوب ليكون أهيب في عين العدو اهـ ملخصًا(۳)

په همدغه طريقه که د جنګ پر مهال د دښمن مرعوبه کولو لپاره او خپل فوج تشويقولو لپاره سرنا، باجه ووهله شي نو روا ده او که صرف د لهو او لعب په نيت ووهله شي نو منع

---

(۱) الدر مع الشامي ٥/٢٤٥ أوائل كتاب الحظر و الإباحة. ط رشيديه

(۲) (و يكره بالسواد) أى لغير الحرب، قال في الذخيرة: أما الخضاب بالسواد للغزو ليكون أهيب في عين العدو فهو محمود بالاتفاق و إن ليزين نفسه للنساء فمكروه، و عليه عامة المشايخ (الشامي ٥/٢٩٩ كتاب الحظر و الإباحة، فصل في البيع. ط رشيديه)

(۳) الدر المختار و الشامي ٥/٢٨٧ كتاب الحظر و الإباحة، فصل في البيع. ط رشيديه

ده او له جنګ څخه پرته سرناوي او باجې وهل او اورېدل مطلقًا ناجائز او حرام دي، په اسکول کي ورزش کولو پر مهال هم باجې وهل حرامي او ناروا دي او کوم معلم او استاد چي پکي کوشش کوي هغه هم ګنهکار دی او دا پر معصیت مرسته ده کومه چي منع ده کما قال الله تعالى: "و تعاونوا على البر و التقوى و لا تعاونوا علــى الإثم و العــدوان" (سورة مائده، آیت: ۲) فقط

(ب) دا هم لهو و لعب دي او منع دي. فقط

د زنګ وهونکیو ګړیو حکم

سوال: (۵۳۲) رسول الله صلى الله علیه وسلم چي له جرس څخه منع فرمایلې ده په دې کي زنګ وهونکې ګړۍ هم شامله ده او کنه؟ او ړنګولې چي زیاتره په زیوراتو کي وي شاملي دي او کنه؟ (۱۲۰/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: زنګ وهونکي ګړیاني په حرام جرس کي نه دي داخلي او ړنګولې چي زیاتره په زیوراتو کي وي پکي داخلي دي چي منع صراحةً راغلې ده(۱) او په ګړۍ باندي وخت معلومېږي او شرعًا د دې ضرورت دی کما لا یخفی او په داسي کارونو کي دارومدار پر نیت وي بلکه په ټولو کارونو کي اعتبار نیت ته وي که د زنګ وهونکي ګړۍ څخه هم نیت او غرض د زنګ اورېدل او د هغه پر ږغ خوند اخیستل وي نو بیا دا هم ناجائز ګرځي او که د وختونو معلومولو او د لمانځه پابندي کولو نیت وي نو ثواب دی، جرس عرفًا پخپله معلومه ده لیکن د ضرورت او نا ضرورت په وجه د جواز او ناجواز فرق راځــي، د ریــل ګــاډۍ ګنټــۍ هــم جــرس ده مګــر د ضــرورت او خبرتیــا

---

(۱) عن ابن الزبير أن مولاة لهم ذهبت بابنة الزبير إلى عمر بن الخطاب رضي الله عنه، و ف رجلها أجــراس فقطعها عمر، و قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: مع كل جرس شيطان، رواه أبو داؤد.
و عن بنانة مولاة عبد الرحمن بن حيان الأنصاري كانت عند عائشة رضي الله عنها إذ دخلت عليها بجارية، و عليها جلاجل يصوتن، فقالت: لا تدخلنها على إلا أن تقطعن جلاجلها سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: لا تدخل الملائكــة بيتــا فيــه جــرس رواه ابــو داؤد(مشــكاة المصــابيح: ص: ۳۷۹، كتــاب اللباس، باب الخاتم، الفصل الثاني)

ورکولو په غرض د دي وهل صحيح دي، و قس عليه قاعده ده: "الضرورات تبيح المحظورات" (۱) ضرورتونه ځيني منع کارونه هم روا کوي مګر په دې کي د فقهاء اقوال او تفصيلات مخته اينبودل پکار دي، ممکنه ده چي کوم کار مونږ ضرورت بولو هغه شرعًا ضرورت نه وي او فقهاء هغه ته ضرورت نه وايي، نور نو د علماء په اختلاف تشويش مه کوئ لومړی خو اختلاف الأمة رحمة(۲) مه نته کنبيږدئ. له دي څخه پرته په علماء کي د هغو علماوو افعال او اقوال واخلئ کوم چي متبع سنت حنفي اهل سنت و جماعت جامع ظاهر او باطن وي، زما رايه دا ده چي نن صبا د مولانا اشرف علي صاحب سلمه تهانوي تصانيف مخته کنبيږده او هغه کتابونه راوغواړه، له تهانه بهون څخه فهرست راوغواړه وي ګوره. فقط

ولمانځه ته د رابللو لپاره په مسجد کي نغاره وهل

سؤال: (۵۳۷) په مسجد کي و لمانځه ته رابللو لپاره نغاره وهل څنګه دي؟
(۲۹/۷۰۷-۱۳۳۰هـ)

ځواب: اذان کوئ، په مسجد کي د رابللو لپاره نغاره وهل صحيح نه دي.

سوال: (۵۳۸) کوم خلګ چي له ښار څخه ميل، دوه ميله ليري کار کوي دوی د جمعي اذان نه اوري او کله بيا د دوی په ياد نه وي چي نن کومه ورځ ده، که د داسي خلګو

---

(۱) الدر مع الرد ۲/۶۷۰ كتاب الطلاق، باب العدة، فصل في الحداد. ط رشيديه

(۲) له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د حديث دغه کلمات ثابت نه دي، بلکه د حديث کلمات داسي دي: "اختلاف أصحابي لكم رحمة" په شامي کي راغلي دي: قال في المقاصد الحسنة رواه البيهقي بسند منقطع عن ابن عباس رضى الله عنهما بلفظ: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم مهما أو تيتم من كتاب الله فالعمل به، لا عذر لأحد من تركه فإن لم يكن في كتاب الله فسنة مني ماضية فإن لم تكن سنة مني فما قال أصحابي إن أصحابي بمنزلة النجوم في السماء فأيما أخذتم به اهتديتم و اختلاف أصحابي لكم رحمة و أورده ابن الحاجب في المختصر بلفظ اختلاف أمتي رحمة للناس و قال ملا على القاري: إن السيوطي قال: أخرجه نصر المقدسي في الحجة و البيهقي في الرسالة الأشعرية بغير سند(رد المحتار ۱/ ۵۰ مقدمه، مطلب في حديث اختلاف أمتي رحمة. ط رشيديه)

د خبرتیا لپاره نغاره د جمعې په ورځ پر دوولس بجې و وهله شي نو څنګه دي؟ (۱۳۴۰/۲۵۲هـ)

ځواب: په بیان شوي صورت کې د لمونځ کونکیو د خبرتیا لپاره نغاره وهل صحیح دي(۱)

سوال: (۵۳۹) له اذان وروسته نغاره وهل د خلګو د لمانځه لپاره راجمع کولو جائز ده او کنه؟ (۱۳۴۰/۱۷۹۵هـ)

ځواب: له اذان وروسته د لمونځ کونکیو د خبرتیا لپاره نغاره وهل منع دي. داسې نه دي کول پکار او د لمونځونو په وختونو کې شرعًا وسعت دی. فقط

پر پیشلمي او روژه مات نغاره وهل

سوال: (۵۴۰) د مسجد د حجرې پر بام باندې په روژه کې د پیشلمي لپاره نغاره وهل جائز دي او کنه؟ دغه نغاره له دوو بجو څخه تر پیشلمي پورې داسې پرلپسې په زوره وهل کیږي چې د څلورو پنځو منټو لپاره هم نه بندیږي چې ورڅخه لمونځ کونکي او مریضان په تکلیف وي حالانکه د دې د مخ نیوي امکان شته چې په هره ګنټه کې دي څو واره تر دریو څلورو منټو و وهله شي او په پای کې دي د خولې بندولو لپاره لس دوولس منټه و وهله شي شرعًا چې کوم حکم وي راته بیان یې کړئ. (۱۳۴۰/۱۸۷۳هـ)

ځواب: بیان شوي نغاره د پیشلمي او نورو وختونو د خبرتیا لپاره وهل صحیح ده لیکن د دې سره دې خبرې ته پام کول ضروري دي چې نائمین(ویده خلګو) مصلین(لمونځ کونکیو) او مرضي(ناجوړیانو) ته به تکلیف نه وي(۲) نو د دې غوره صورت هغه دی کوم چې په سوال کې لیکل شوی دی چې د ضرورت سره سم دې د نغارې وهلو وختونه معلوم شي تر ډېره دې نه وهله کیږي بلکه د ضرورت پر اندازه دې بسنه وشي، په در مختار کې راغلي دي: و من ذلک ضرب النوبة للتفاخر، فلو للتنبیه فلا بأس به، کما إذا

---

(۱) مګره غوره دا دي چې نغاره و نه وهله شي بلکه په لوډ سپیکر کې دې اذان کوې ترڅو د اذان ږغ تر لیرې لیرې ورسي. ۱۲ محمد امین پالن پوري

(۲) أجمع العلماء سلفا و خلفا علی استحباب ذکر الجماعة فی المساجد و غیرها إلا أن یشوش جهر هم علی نائم أو مصل أوقاری الخ(الشامي ۴۸۸/۱ کتاب الصلاة مطلب فی رفع الصوت بالذکر. ط رشیدیه)

ضرب فی ثلاثة أوقات الخ(۱) و فی رد المحتار: و ینبغی أن یکون بوق الحمام یجوز کضرب النوبة و عن الحسن: لا بأس بالدف فی العرس یشتهر الخ، أقول: و ینبغی أن یکون طبل المسحر فی رمضان لإیقاظ النائمین للسحور کبوق الحمام(۱) فقط

په مدرسو کې تلی (گنتی) وهل

سوال: (۵۴۱) عن علی بن سهل بن الزبیر أخبره أن مولاة لهم ذهبت بابنة الزبیر إلی عمر بن الخطاب رضی الله عنه و فی رجلها أجراس فقطعها عمر، ثم قال: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم إن مع کل جرس شیطان(۲) (رواه ابو داؤد، کتاب الخاتم: ۲/۲۲۹)

و عن عائشة رضی الله عنها... و قالت سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: لا تدخل الملائکة بیتًا فیه جرس(۲) (رواه ابو داؤد کتاب الخاتم: ۲/۲۳۰)

له دغه روایتونو څخه معلومیږي چې تلی وهل حرام دي، په عربي مدرسو کې د وختونو معلومولو لپاره تلی وهل لکه څرنګه چې په دار العلوم کې وهل کیږي په دې کې مې شک دی، په تحقیق مې خبر کړئ. (۱۸۴۸/۱۳۴۰هـ)

ځواب: په رد المحتار کې راغلي دي: أقول: و هذا یفید أن آلة اللهو لیست محرمة لعینها، بل لقصد اللهو منها: إما من سامعها، أو من المشتغل بها و به تشعر الإضافة، ألا تری أن ضرب تلک الألة بعینها حل تارة و حرم أخری باختلاف النیة، و الأمور بمقاصدها (إلی أن قال) عن الإمام البزدوی و ینبغی أن یکون بوق الحمام یجوز کضرب النوبة، و عن الحسن: لا بأس بالدف فی العرس لیشتهر، و فی السراجیة: هذا إذا لم یکن له جلاجل و لم یضرب علی هیئة التطرب، أقول: و ینبغی أن یکون طبل المسحر فی رمضان لإیقاظ النائمین للسحور کبوق الحمام الخ(۱) (کتاب الحظر و الإباحة) نو لومړی خو دغه تلی د مدرسو

---

(۱) الدر المختار و رد المحتار ۵/۲۴۷ کتاب الحظر و الإباحة، قبیل: فصل فی اللبس. ط رشیدیه

(۲) سنن أبی داؤد: ص: ۵۸۱، کتاب الخاتم، باب ماجاء فی الجلاجل.

(۱) الشامي ۵/۲۴۷ کتاب الحظر و الإباحة، قبیل: فصل فی اللبس. ط رشیدیه

جرس او جلاجل نه ده او بیا دا د غټې کړۍ د رنګ په رنګه ده چې په دې سره وختونه معلومیږي او مقصد له دې څخه لهو نه دی او د جرس د منع وجه لهو او لعب دی لکه چې له "إن مع كل جرس شيطانا"(١) څخه چې څرګند دي او کله چې دف هم له مزامیرو څخه دی او هغه د صحیح غرض لپاره په نص جائز دی(٢) نو دا قاعده د فقهاء مستنبط من الحادیث ده: إن آلة اللهو ليست محرمة لعينها بل قصد اللهو منها(٣) فقط

سوال: (٥۴٢) د مدرسې د افتتاح او د جماعت د بدلون لپاره تلی وهل صحیح دي او کنه؟ (۴٢١/۴۴-١٣۴۵هـ)

ځواب: د مدرسې د وختونو د افتتاح او اختتام او د سبقونو د بدلون د خبرتیا لپاره تلی وهل صحیح دي لکه چې په عامو اسلامي مدرسو کې چې معمول دی و ما رآه المؤمنون حسنا فهو عند الله حسن و لاسيما إذا فعله قوم من الصلحاء الأخيار(٤)

د قوالۍ حکم

سوال: (٥۴٣) د دف (دریا) سره قوالي اوریدل چې د قوالۍ مضمونونه هم عارفانه وي نو شرعًا جائز دي که ناجائز؟ (٨٠٨/١٣٣٧هـ)

ځواب: شرعًا دا جائز نه دي لکه چې په در مختار کې راغلي دي: و في السراج: و دلت المسئلة أن الملاهي كلها حرام و يدخل عليهم بلا إذنهم لإنكار المنكر، قال ابن مسعود رضي الله عنه: صوت اللهو و الغناء ينبت النفاق في القلب كما ينبت الماء النبات، قلت:

(١) سنن أبي داؤد: ص: ٥٨١ كتاب الخاتم، باب ماجاء في الجلاجل.

(٢) عن عائشة رضي الله عنها قالت: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: أعلنوا هذا النكاح واجعلوه في المساجد و اضربو عليه بالدفوف، رواه الترمذي(مشكوة المصابيح ص: ٢٧٢ كتاب النكاح، باب إعلان النكاح، الفصل الثاني)

(٣) الشامي ٢٤٧/٥ كتاب الحظر و الإباحة قبيل فصل في اللبس. ط رشيديه

(٤) عمدة القاري شرح البخاري: ٦١/٨، كتاب الجنائز، باب من استعد الكفن في زمن النبي صلى الله عليه وسلم فلم ينكر عليه.

و فی البزازیة: استماع صوت الملاهی کضرب قصب و نحوه حرام الخ(۱) فقط

سوال: (۵۴۴) په ځینې میلادونو کې لومړی د قرآن شریف یو څو آیتونه یا یو پوره سورة د برکت لپاره وویل شي له دې وروسته په همدغه مجلس کې قوالي ویونکې څه غزلې او نعتونه د ملاهي د آلاتو سره لکه سرنا او باجه او نورو سره وایي آیا داسې مجلسونه او میلاد په شریعت کې عمومًا او په تېره بیا په حنفي مذهب کې جائز او صحیح دي که حرام ناروا؟ او په داسې مجلسونو کې د مسلمانانو لپاره برخه اخیستل جائز دي او که نه؟ بینوا تؤجروا (۱۳۳۷/۱۰۸۹هـ)

ځواب: په در مختار کې راغلي دي: قلت: و فی البزازیة: استماع الملاهی کضرب قصب و نحوه حرام لقوله علیه الصلاة و السلام: استماع الملاهی معصیة و الجلوس علیها فسق الخ فالواجب کل الواجب أن یجتنب کي لا یسمع لما روی أنه علیه الصلاة و السلام أدخل إصبعه فی أذنه عند سماعه الخ(۲) نو معلوم شو چې په داسې مجلسونو کې برخه اخیستل ناروا دي. فقط

سوال: (۵۴۵) قوالي یعني د الله حمد یا د نبي علیه الصلاة و السلام نعت یا د بزرګانو تعریف د ډول او باجې سره اوریدل جائز دي او که نه؟ (۱۳۳۸/۱۹۸۵هـ)

ځواب: د مزامیرو سره هر ډول شعرونه اوریدل او په داسې مجلس کې کښېنستل صحیح نه دي په آیتونو، حدیثو او د آئمو په اقوالو د دې حرمت ثابت دی، لکه چې د قرآن په آیت: "و من الناس من یشتری لهو الحدیث" (سورة لقمان، آیت: ٦) مفسرینو د غناء حرمت ثابت کړی دی او د مزامیرو حرمت متفق علیه دی. فقط

سوال: (۵۴۶) قوالي اوریدل شرعًا روا دي که ناروا؟ او له سلفو صالحینو څخه ثابته ده او که نه؟ (۱۳۴۳/۵۱۲هـ)

ځواب: د احنافو مسلک په دې هکله: احتیاط دی چې صرف له سماع څخه هم منع کوي او د مزامیرو حرمت خو متفق علیه دی. په در مختار کې راغلي دي: و فی البزازیة: استماع صوت الملاهی

---

(۱) الدر المختار مع الشامي ٥/٢٤٥ أوائل كتاب الحظر و الإباحة. ط رشيديه

(۲) الدر المختار مع الشامي ٥/٢٤٦ أوائل كتاب الحظر و الإباحة. ط رشيديه

كضرب قصب و نحوه حرام لقوله عليه الصلاة و السلام: استماع الملاهى معصية و الجلوس عليها فسق و التلذذبها كفر أى بالنعمة، فصرف الجوارح إلى غير ما خلق لأجله كفر بالنعمة لا شكر فالواجب كل الواجب أن يجتنب كى لا يسمع، لما روى أنه عليه الصلاة و السلام أدخل إصبعه فى أذنه عند سماعه الخ(۱)

و فيه قبيلة: قال ابن مسعود رضى الله عنه: صوت اللهو و الغناء ينبت النفاق فى القلب كما ينبت الماء النبات(۲)

په شامي کي راغلي دي: قوله: (قال ابن مسعود رضى الله عنه) رواه فى "السنن" مرفوعًا إلى النبى صلى الله عليه وسلم بلفظ "إن الغناء ينبت ينبت النفاق فى القلب إلخ" و قيل: إن تغنى وحده لنفسه لدفع الوحشة لا بأس به، و به أخذ السرخسى و ذكر شيخ الإسلام أن كل ذلك مكروه عند علمائنا و احتج بقوله تعالى: "و من الناس من يشترى لهوا الحديث" الآية (لقمان، آيت: ٦) جاء فى التفسير: أن المراد الغناء و حمل ما وقع من بعض الصحابة على إنشاد الشعر المباح الذى فيه الحكم و المواعظ(۲) فقط

په ګراموفون کي قرآن ضبطول او اورېدل

سؤال: (۵۴۷) په ګراموفون کي چي زياتره حافظان او خوش آواز قاريان ريکارډ کوي د دې په هکله څه حکم دی. او د خوش آوازي په خيال د دې اورېدل څنګه دي؟

(۱۳۳۳-۳۲/۱۲۷۹هـ)

جواب: دغه فعل يعني په ګراموفون کي قرآن شريف ضبطول او اورېدل ښه کار نه دی دا خو ښکاره خبره ده چي دغه باجه خو د لهو و لعب له قسم څخه ده کومه چي بالکليه پخپله د ځيني صورتونو په استثناء په شريعت کي حرامه ده نو قرآن شريف په دغه صورت او صوت کي راوړل او د لهو د آلې په وسيله يې اورېدل داسي دي لکه د سرنا او نورو سره چي قرآن شريف وويل شي او واورېدل شي. العياذ بالله تعالى

سؤال: (۵۴۸) د فونوګراف باجې په وسيله کلام الله، نعتونه او نور اورېدل جائز دي او که نه؟ او

---

(۱) الدر المختار مع الرد ٢٤٦/٥ أوائل كتاب الحظر و الإباحة، قبيل فصل فى اللبس. ط رشيديه

(۲) الدر و الشامي ٢٤٥/٥ أوائل كتاب الحظر و الإباحة. ط رشيديه

د دې د اورېدو په مشغولیت کې فرض جماعت قصداً پرېښودل څنګه دی؟ او باجه اورېدونکی هم یو عالم او د خلکو مقتدا وي نو څه حکم دی؟ (۱۳۴۳/۸۹۰هـ)

ځواب: په داسې باجه کې د کلام الله اورېدل جائز نه دي داغه راز نعتونه او نور په دغه باجه کې اورېدل صحیح نه دي رسول الله صلی الله علیه وسلم له ټولو مزامیرو او باجو له اورېدو څخه منع فرمایلې ده(۱) او په قرآن شریف کې هم د دې منع راغلې ده کما حرره الفقهاء(۲) او کله چې د دې په وجه ترک د جماعت وي نو بیا دا کبیره ګناه ده تارک د جماعت بېله کوم شرعي عذر فاسق ګرځي نو عالم او مقتدا سړي لپاره له داسې کارونو څخه خصوصي پرهېز کول لازم دي چې په دې سره نور مسلمانان ګمراه کېږي او نو موړی د حدیث فضلوا و أضلوا(۳) مصداق دی قال الله تعالی: "و من الناس من یشتری لهو الحدیث لیضل عن سبیل الله بغیر علم و یتخذها هزوا أولئک لهم عذاب مهین" الآیة (سورة لقمان، آیت: ٦) فقط

د تیترانو او چرګانو جنګ ورزده کول

سوال: (۵۴۹) یو سړی د تیتر بازۍ او چرګ بازۍ استاد دی و خلکو ته د جنګولو طریقه

---

(١) استماع الملاهي كضرب قصب و نحوه حرام لقوله عليه الصلاة و السلام: استماع الملاهي معصية و الجلوس عليها فسق الخ، فالواجب كل الواجب أن يجتنب كي لا يسمع لما روى أنه عليه الصلاة و السلام أدخل إصبعه في أذنه عند سماعه إلخ(الدر المختار مع الشامي ٢٤٦/٥ أوائل كتاب الحظر و الإباحة. ط رشيديه)

(٢) و ذكر شيخ الإسلام أن كل ذلك مكروه عند علمائنا و احتج بقوله تعالى: "و من الناس من يشترى لهو الحديث" الآية (لقمان، آيت: ٦) جاء في التفسير أن المراد الغناء (الشامي ٢٤٦/٥ أوائل كتاب الحظر و الإباحة. ط رشيديه)

(٣) عن عبد الله بن عمرو بن العاص رضى الله عنه قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: إن الله لا يقبض العلم انتزاعا ينتزعه من العباد و لكن يقبض العلم بقبض العلماء حتى إذا لم يبق عالم اتخذ الناس رؤسا جهالا، فسئلوا فأفتوا بغير علم، فضلوا و أضلوا(صحيح البخارى: ٢٠/١ كتاب العلم، باب كيف يقبض العلم و كتب عمر بن عبد العزيز الخ)

ښيي، مګر پخپله يې نه جنګوي نه جنګول ګوري، دغه ورښودل جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۱/۱۸۱۲هـ)

ځواب: دا هم ګناه ده، بايد دا پريږدي، بلکه ورزده کول د دې زياته ګناه ده. فقط

کوتري پالل او الوزول څنګه دي؟

سوال: (۵۵۰) کوتري پالل جائز دي او کنه؟ او الوزول يې څنګه دي؟ (۱۳۳۸/۱۲۹۵هـ)

ځواب: پالل د کوترو صحيح دي اما الوزول يې صحيح نه دي(۱)

ببله شرط لګولو چرګان جنګول څنګه دي؟

سوال: (۵۵۱) ببله شرط لګولو چرګان جنګول څنګه دي؟ (۱۳۴۰/۱۴۹۱هـ)

ځواب: جائز نه دي(۲)

ناچ او سندري ويل حرام دي

سوال: (۵۵۲) ناچ کول او سندري ويل جائز دي که حرام؟ (۱۳۳۴-۳۳/۱۲۸۶هـ)

ځواب: حرام او کبيره ګناه ده. فقط

سوال: (۵۵۳) د باجې او سرنا سره سندري ويل څنګه دي؟ (۱۳۳۷/۴۸۵هـ)

ځواب: د باجې او نورو سره سندري ويل حرام دي په حديثو او فقه يې حرمت ثابت دی(۱)

---

(۱) عن أبي هريرة رضى الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم رأى رجلاً يتبع حمامة، فقال شيطان يتبع شيطانة (مشكوة المصابيح، ص: ۳۸۶، كتاب اللباس، باب التصاوير الفصل الثاني، و ابو داؤد: ص: ۶۷۵، كتاب الأدب، باب في اللعب بالحمام)

(۲) د مشکوة په حاشيه کې راغلي دي: قال النووي: اتخاذ الحمام للفرخ و البيض أو الأنس جائز بلا كراهة و أما اللعب بها بالتطير فالصحيح أنه مكروه فإن انضم إليه قمار و نحوه ردت الشهادة، طيبي(حاشية: ۶، ص: ۳۸۶، باب التصاوير، الفصل الثاني)

سوال: (۵۵۴) یوه سندره ده چي زیاتره د هندوانو ښځي او داغه راز بازاري فاحشي ښځي يې وايي او اوس يې لړ وخت کيږي چي په نارينه وو کي هم رواج شوې ده په دې کي هغه مسلمانان هم برخه اخلي کوم چي د لمونځ او روژې پابند دي شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۴۳/۹۴۱هـ)

ځواب: سندري ويل شرعًا حرام دي ويونکی او په داسي مجلسونو کي برخه اخيستونکي فاسقان، فاجران، اشرار او بدکار دي، پر مسلمانانو لازم دي چي په داسي مجلسونو کي به شرکت نه کوي، کما قال الله تعالى: "فلا تقعد بعد الذكرى مع القوم الظالمين" (سورة انعام، آيت: ۶۸) فقط

سوال: (۵۵۵) يو مولوي صاحب په تقرير کي وويل چي څوک ډول او سرناوي اوري او خوند ورباندي اخلئ د هغه ښځه طلاقيږي دا خبره صحيح ده او کنه؟ (۱۳۴۵/۳۰۰۴هـ)

ځواب: ببله شکه ډول او سرناوي اورېدل او وربانـدي خونـد اخيسـتل حـرام دي، داسي سړی فاسق ګرځي مګر کافر ورته نه ويل کيږي، ښځه له نکاح څخه نه وځي.

د سندري په اجرت کي څه ورکول

سوال: (۵۵۶) سندري اورېدل او په اجرت کي څه ورکول څنګه دي؟ کوم علماء چي د جواز فتوى ورکوي د هغو په هکله څه حکم دی؟ (۱۳۳۹/۸۰۲هـ)

ځواب: سندري اورېدل حرام دي او داسي خلکو ته څه ورکول هم ګناه ده، کوم متقي مسلمان هيڅکله هم دا د ثواب کار نشي بللای او دې ته جائز نشي ويلای او څوک چي داسي وکړي هغه جاهل او ګمراه دی. فقط

د مسجد و مخته باجې وهل

سوال: (۵۵۷) د مسجد و مخته باجه وهل څنګه دي؟ د يو مسجد د جوړېدو پر مهال زيد او بکر و حکومت ته د وعدې داسي پانه ورکړې وه چي که د مسجد و مخته باجې ووهل شي نو مونږ به ورته څه نه وايو، په داسي صورت کي آيا د مسجد و مخته باجـه وهـل کېـدلای شـي؟ د زيـد او بکـر دغـه د وعـدې پانـه شـرعًا

---

(۱) استماع صوت الملاهي كضرب قصب و نحوه حرام لقوله عليه الصلاة و السلام: استماع الملاهي معصية و الجلوس عليها فسق، و التلذذ بها كفر اى بالنعمة، فصرف الجوارح إلى غير ما خلق لأجله كفر بالنعمة لا شكر (الدر المختار مع الشامي ۲٤٦/٥ أوائل كتاب الحظر و الإباحة. ط رشيديه)

څه حکم لري؟ (۱۳۴۱/۲۹۳هـ)

ځواب: په دې کې شک نشته چې که حکومت د دې بندوبست وکړي چې مسجد ته نژدې به باجه و نه وهله کیږي نو دا کار ډېر مهم او ډېر ښه دی، په تېره بیا د لمونځونو په وختونو کې حتمًا د باجو بندول لازم دي، ترڅو مسلمانان په اطمینان سره خپل فرضي عبادت ادا کړي. پر مسلمانانو لازم دي چې په دې هکله کوشش او سعی وکړي یعني حتی الوسع دې د باجې د بندولو کوشش وکړي، په تېره بیا د لمونځونو په وختونو کې دې د باجې د بندولو عارضه وکړي او د زید او بکر دا اقرار چې که د مسجد و مخته باجه ووهله شي نو دوی به څه ورته نه وايي دې ته اعتبار نشته. او د دې پابندي پر مسلمانانو لازمه نه ده بلکه مسلمانان دې دا عذر وکړي چې دغه وعده د دوی د شرع خلاف ده. ځکه مسلمانان د دې پابند نه دي. أما دا خبره ضروري ده. چې مسلمانان دې پر دې باندي جنګ، جګړه او مرګ ژوبله نه کوي بلکه د حکومت په وسیله چې څومره کېدلای شي، دا دې بند کړي یا دې پخپله په دې هکله د هندوانو سره دروغي خبره وکړي چې خصوصًا د لمونځونو په وختونو او په مسجد کې د لمانځه پر وخت دې دوی دغه کار په عبادت کې خلل اچونکی نه کوي. له دې وروسته دې دا خبره هم څرګنده وي چې الله تعالی فرمايي: "لا يكلف الله نفسا إلا وسعها لها ما كسبت و عليها ما اكتسبت" (سورة بقره، آيت: ۲۸۶) نو مسلمانان دې د باجې په بندولو کې کوشش کوي، لیکن جنګ او وهل ټکول دې نه کوي. ځکه چې د مجبورۍ په صورت کې مسلمانان مجبور او معذور دي. د هندوانو د دغه فعل ملامتیا او جرم پر مسلمانانو نشته. كما قال الله تعالى: و لا تزر وازرة وزر أخرى الآية(۱)

سوال: (۵۵۸) د مسجدونو و مخته باجې وهل شرعًا منع دي او کنه؟ ځيني مشران دا وايي چې په قرآن شریف کې د باجې د منع هیڅ حکم نشته. (۱۳۴۷-۴۲/۸۴۵هـ)

ځواب: پر مسلمانانو خو ښېله شکه لازم دي د مسجد د آدابو خیال به ساتي او د لمونځ کونکیو لمونځونه به له خرابېدو راګوري لومړی خو به مطلقًا له باجې وهلو پرهېز کوي او په تېره بیا د مسجد و مخته د لمونځونو په وختونو کې خو به یو مخ دا ناوړه عمل پرېږدي، لیکن ښکاره خبره ده چې کفار مشرکین د اسلام د احکامو پابند نه دي او د مسلمانانو حکومت نه دی چې دوی منع کړي ځکه مناسبه طریقــه دا ده چــي د

(۱) (سورة انعام، آيت: ۱۶۴، سورة اسراء، آيت: ۱۵، سورة فاطر، آيت: ۱۸، سورة زمر. آيت: ۷)فقط

حکومت په وسیله دوی د لمونځونو په وختونو کي و مسجد ته نژدې له باجه وهلو څخه منع کړي، پخپله دي په دغه وجه کوم جنګ جګړه نه کوي، ځکه لمونځ په هر حال کي کیږي فقط

د ورزش لپاره فټ بال، هاکي او کرکټ کول

سوال: (۵۵۹) فټ بال، هاکي، کرکټ چي سړی صرف د ورزش لپاره کوي د شرع په خلاف کوم کار پکي نه وي جائز دی او کنه؟ او ورنونه پکي نه ښکاره کوي.
(۱۳۴۲/۱۰۸۳هـ)

ځواب: که ورنونه ښکاره نه وي نو د ورزش لپاره څه پروا نلري. فقط

فټ بال او نور کول جائز دي او کنه؟

سوال: (۵۲۰) ... (الف) د بالغو هلکانو لپاره فټ بال کول جائز دی او کنه؟
(ب) معلم صاحب پخپله په بازیو کي برخه نه اخلي، هلکانو ته وایي چي تاسو بازۍ وکړئ نو معلم صاحب ګنهکار دی او کنه؟
(ج) د ورزش په توګه داسي بازۍ جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۹۰۲هـ)

ځواب: (الف) داسي بازۍ د ورزش په توګه کول جائز دي.
(ب) ګنهکار نه دی.
(ج) صحیح دی.

سوال: (۵۲۱) لوبي فټ بال، ینډه او نور کول صحیح دي او کنه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۲۳۳هـ)

ځواب: په حدیث شریف کي راغلي دي: لهو المؤمن باطل إلا فی ثلاث: تادیبه فرســه و فی روایة: ملاعبته بفرسه، و رمیه عن قوسه و ملاعبته مع أهله کفایة(۱) (شامي) او پـه در مختـار کي راغلي دي: و دلت المسئلة أن الملاهی کلها حرام الخ(۱) له حدیث او فقهي روایت څخه دا خبره څرګنده شوه چي لهو او لعب شرعًا اصلاً منع دي لیکن که کوم غرض د دې په اړه وي لکه په غشو بازۍ کول او د آس سپرتیا زده کول او نور نو صحیح دي نـو کـه د ینډې او نورو څخه هم مقصد د بدن روغتیا او نور وي نو صحیح دي. فقط

سوال: (۵۲۲) ګیند او فټ بال کول شرعًا جائـز دی او کنــه؟ پکــي لمونــځ قضـاء

(۱) الدر المختار و ردالمحتار ۲٤٥/٥ أوائل کتاب الحظر و الإباحة. ط رشیدیه

کیږي، دعیسایانو په رنګه کوټ او پتلون اغوندي که د عدم جواز وجه د کفارو مشابهت دی نو په ریل ګاډي کي سپرېدل، ټوپک چلول خو هم د کفارو سره مشابهت دی په دې کي به شرعًا څه حکم وي؟ (۱۳۴۲/۱۹۲۲هـ)

ځواب: داسي لهو او لعب چي پکي د لمانځه او جماعت خیال نه ساتل کیږي، لمونځ او جماعت پکي قضاء شي، شرعًا جائز نه دی، ځکه چي دا ډول ورزشونو په ښه نیت کولو اجازه هغه وخت کېدلای شي چي د کوم شرعي حکم او فرضو او واجبو ترک پکي نه پیښیږي کنې د "کل لهو المسلم حرام"(۱) په حکم او د "لهو المؤمن باطل"(۲) حدیث په حکم به حرام او منع وي او په کوټ، پتلون او نورو اغوستلو کي مشابهت د نصاری دی لهذا دا هم ناجائز دی او دا ګمان غلط دی چي د ریل ګاډي په سپرتیا او ټوپک چلولو کي هم د نصاری مشابهت دی، دا خیال غلط دی. فقط

سوال: (۵۲۳) د اسلامي مدرسو طالبان فټ بال د ورزش په توګه او تفریح لپاره کوي ځیني علماء د حرمت فتوی ورکوي دا صحیح دي که څنګه؟ (۱۳۴۳/۱۱۳۲هـ)

ځواب: دا صحیح خبره ده چي فټ بال او نوري لوبي لهو او لعب دي او لهو او لعب ټول حرام دي، پرته له هغو د کومو استثناء چي په حدیث کي شوې ده لیکن په دغه بازۍ کي لکه څرنګه چي حیثیت د لهو او لعب دی دا غه راز دا یو ورزش هم دی او ورزش که په ښه نیت وي نو د "اعدوا لهم ما استطعتم" (سورة انفال، ایت: ۶۰) په حکم باعث د اجر او ثواب دی، قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: إنما الأعمال بالنیات و إنما لکل امرئ ما نوی الحدیث(۱) فقط

سوال: (۵۲۴) ګیند کول جائز دی او کنه؟ په دې کي د فرضو ښکاره کېدل هم راځي او لمونځ هم پکي قضاء کیږي؟ (۱۳۴۷-۴۲/۲۷هـ)

ځواب: که مقصد له دغه بازۍ څخه صرف لهو او لعب وي نو د درمختار موافق و دلت المسئلة أن الملاهی کلها حرام إلخ(۲) حرام دي او که مقصد لهو او لعب نه دي بلکه مستعد کېدل او قوت

---

(۱) الدر مع الرد ۲۷۹/۵ کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی البیع. ط رشیدیه

(۲) رد المحتار ۲۴۵/۵ أوائل کتاب الحظر و الإباحة. ط رشیدیه

(۱) صحیح البخاری: ۲/۱، باب کیف کان بدء الوحی إلی رسول الله صلی الله علیه وسلم.

(۲) الدر مع الرد ۲۴۵/۵ أوائل کتاب الحظر و الإباحة. ط رشیدیه

حاصلول د دین د دښمنانو په مقابل نو د "اعدوا لهم ماستطعتم من قوة" (سورة انفال، آیت: ٦٠) په رڼا کي جائز او مباح بلکه مستحب دی لیکن شرط دا دی چي کشف د عورت به پکي نه وي او په فرضو کي به خلل نه راځي. فقط

سوال: (۵۷۵) د بدن روغتیا او قوت حاصلولو لپاره فټبال کول جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۲/۹۳۱هـ)

ځواب: په حدیث شریف کي راغلي دي: لهو المؤمن باطل إلا فى ثلاث: تأديبه فرسه و فى رواية ملاعبته بفرسه و رميه عن قوسه و ملاعبته مع أهله(۱) الحدیث له دغه حدیث څخه معلومیږي چي له دغه دریو ځایونو څخه پرته چي یادونه په حدیث کي شوې ده لهو او لعب باطل دي او ناجائز دي أما که په نیک غرض او صحیح نیت د غشو ویشتلو په رنګه بازۍ وي نو صحیح دي فقط

د خوشحالۍ لپاره چکچکي وهل

سوال: (۵۷۶) نن صبا په جلسو کي د خوشحالۍ د اظهار او د کوم تقریر کونکي د تقریر پر مهال خلک لاسونه ټکوي، شرعًا که د دې د معیوب او مذموم کېدو په هکله د یورپ د تشبه او تقلید کېدو څخه پرته لاندي بیان هم ورته وشي نو صحیح دی او کنه؟ یعني د آیت: و ما كان صلاتهم عند البيت إلا مكاء و تصدية الآية (سورة انفال، آیت: ۳۵) له تفسیر څخه بحث او استدلال وشي. (۱۳۳۸/۲۸۲هـ)

ځواب: واقعتًا مکاء او تصدیه خو فی نفسه لهو او لعب دي ځکه له تشبه څخه قطع نظر هم د دې استعمال د مؤمن وړ نه دی او د ټولو ملاهي حرام کېدل په حدیثو(۱) او د فقهاء په تصریحاتو(۲)

---

(۱) رد المحتار ۲٤٥/٥ أوائل كتاب الحظر و الإباحة. ط رشيديه

(۱) عن عبد الله بن عبد الرحمن بن أبي حسين رضى الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: إن الله ليدخل بالسهم الواحد ثلاثة الجنة: صانعه يحتسب فى صنعته الخير، و الرامى به، والممد به، قال: ارموا و اركبو او لأن ترموا أحب إلى من أن تركبوا، كل ما يلهو به الرجل المسلم باطل إلا رميه بقوسه، و تأديبه فرسه و ملاعبته أهله فانهن من الحق(جامع الترمذى: ۲۹۳/۱، ابواب فضائل الجهاد، باب ما جاء فى فضل الرمى فى سبيل الله)

(۲) إن الملاهى كلها حرام(الدر المختار مع الشامى: ۲٤٥/٥ أوائل كتاب الحظر و الإباحة. ط رشيديه)

ثابت دي او په حدیث کې چې د کومو شیانو استثناء شوې ده مکاء او تصدیه په هغه کې داخل نه دي فقط

کاغذباد (ګډی) جوړول او خرڅول جائز دي او کنه؟

سوال: (۵۲۷) پتنګ (کاغذباد) جوړول او خرڅول جائز دي او کنه؟ او د داسي پېشه کونکيو کره خوراک څنګه دی؟ (۱۳۳۵/۲۳۴هـ)

ځواب: داسي پېشه ناروا ده، د دوی کره خوراک هم ښه نه دی. فقط

قمار (جواري) کول

سوال: (۵۲۸) قمار او فټ بال کول څنګه دي؟ (۱۳۴۳/۲۲۹هـ)

ځواب: قمار او کومي بازۍ چې د ګټلو او بايللو دی هغه ټول حرام دي. فقط

نردشیر او شطرنج کول څنګه دي؟

سوال: (۵۲۹) نردشیر او شطرنج کول څنګه دي؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۳۲۴هـ)

ځواب: د نردشیر په هکله دا حدیث راغلی دی: من لعب بالنردشير فكأنما صبغ يده في لحم خنزير و دمه، رواه مسلم(۱) نردشیر کونکی داسي دی لکه چې لاس وهونکی د خنزیر په غوښه او وینه کې، او د شطرنج په هکله دا روایتونه راغلي دي: و عن علي رضي الله عنه أنه كان يقول: الشطرنج هو ميسر الأعاجم(۲) حضرت علي رضی الله عنه فرمائی شطرنج د عجمو قمار دي و عن ابن شهاب أن أبا موسى الأشعرى رضى الله عنه قال: لا يلعب بالشطرنج إلا خاطئ و عنه رضى الله عنه أن سئل عن لعب الشطرنج فقال: هي من الباطل و لا يحب الله الباطل(۲)

---

(۱) عن بریدة أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: من لعب الحديث (مشكوة المصابيح، ص: ۳۸۶، كتاب اللباس، باب التصاوير، الفصل الأول)

(۲) مشكوة المصابيح، ص: ۳۸۷، كتاب اللباس، باب التصاوير، الفصل الثالث.

ترجمه: له ابن شهاب څخه روایت دی چې ابو موسی اشعري رضی الله عنه فرمایي چې د شطرنج بازی هم هغه څوک کوي چې خطا کونکي او ګنهکار وي او له همده څخه روایت دی چې له ده څخه چا د شطرنج د کولو په هکله پوښتنه وکړه ده په جواب کې ورته وفرمایل چې دا باطل دي او الله تعالی د باطل سره دوستي نه کوي انتهی(مشکوة)

سؤال: (۵۷۰) د شطرنج په اړه حضرت مولانا ګنګوهي علیه الرحمة د کراهت فتوی ورکړې وه، دا کراهت تنزیهي دی که تحریمي؟(۱۳۳۵/۱۳۴۸هـ)

جواب: د شطرنج کراهت تحریمي کراهت دی، لما فی الشامي: فهو حرام و کبیرة عندنا و فی إباحته إعانة الشیطان علی الإسلام و المسلمین کما فی الکافي قهستاني(۱)

سؤال: (۵۷۱) د دماغي قوت زیاتولو یا وخت تیرولو یا طبعي تفریح په غرض شطرنج کول جائز دي او کنه؟ ځینې خلک دلیل وایي چې د امام شافعي رحمه الله په نزد مباح دی دا خبره تر کومه صحیح ده؟(۱۳۳۸/۱۵۲۷هـ)

جواب: زموږ په مذهب کې شطرنج کول د هیڅ غرض لپاره کول جائز نه دي بلکه تحریمي مکروه دي کوم چې د حرامو په رنګه دي او پر کونکي توبه لازمه ده لکه چې د هري ګناه حکم دی چې توبه دي وباسي همدا د دې کفاره ده، په در مختار کې راغلي دي: و کره تحریما اللعب بالنرد و کذا الشطرنج الخ(۲) او له امام ابو یوسف رحمه الله څخه چې یو روایت د جواز راغلی دی شامي هغه رد کړي دي چې صحیح همدا دی چې منع دی او شامي له قهستاني څخه دا هم رانقل کړي چې شطرنج کول حرام دي او کبیره ګناه ده نو د امام شافعي رحمه الله ورته مباح ویلو څخه د احنافو لپاره جائز نشي کیدلای(۳) فقط

---

(۱) رد المحتار ۲۷۹/۵ کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی البیع. ط رشیدیه

(۲) الدر المختار مع رد المحتار ۲۷۹/۵ کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی البیع. ط رشیدیه

(۳) و أباحه الشافعی و أبو یوسف فی روایة (الدر المختار) و فی الشامي: قوله (و الشطرنج) معرب شدرنج و إنما کره لأن من اشتغل به ذهب عناؤه الدنیوی و جاءه العناء الأخروی، فهو حرام و کبیرة عندنا و فی إباحته إعانة الشیطان الخ(الدر و الرد ۲۷۹/۵ کتاب الحظر و الإباحة فصل فی البیع. ط رشیدیه)

ګنجفه کول حرام دي

سوال: (۵۷۲) ګنجفه(۱) کله چي په ديني کارونو يعني لمونځ روژه او نورو کي فرق نه راځي او کوم ډول دنيوي يا ديني حرج پکي نه پيښيږي، په داسي حال کي ګنجفه د تفريح لپاره کولای شو او کنه؟ (۴۲/۳۳۰۴-۱۳۴۷هـ)

ځواب: ګنجفه حرامه او ناروا ده په هر حال کي د فقهي په کتابونو کي مطلقا په هر حال کي لهو او لعب حرام ليکلي دي او پر دې خوند اخيستل او تفريح حاصلول د نعمت کفران دی و فی السراج و دلت المسئلة أن الملاهی کلها حرام إلخ استماع الملاهی معصية و الجلوس عليها فسق و التلذذ بها کفر أی بالنعمة، فصرف الجوارح إلی غير ما خلق لأجله کفر بالنعمة لاشکر إلخ(۲)

د جنم اشتمي په ورځ که هندوان د کرکمن او مستو اوبه پر مسلمان وپاشي نو...

سوال: (۵۷۳) د جنم اشتمي(۳) په ورځ هندوان عمومًا يو ډول اوبه پاشي چي پکي مستې او کرکمن ګډ کړي وي که هغه پر کوم مسجد يا مسلمان وپاشي نو څه حکم دی؟ او نجسي دی او کنه؟ (۴۲/۷۸۰-۱۳۴۷هـ)

ځواب: د شريعت حکم په دې هکله دا دی چي مسلمان دی پخپل اختيار دغه اوبه نه استعمالوي او کفارو ته دي موقع نه ورکوي چي دوی دا اوبه پر مسلمان واچوي، کما ورد فی الحديث: من تشبه بقوم فهو منهم(۴) ليکن که بېله د ده د اختيار اتفاقًا پر ده اوبه توی يا يو هندو

---

(۱) د يو بازۍ نوم دی چي پکي ۹۲ پاڼي او درې لوب غاړي وي (فيروز اللغات)

(۲) الدر المختار مع الشامي ۲٤٥/٥ أوائل کتاب الحظر و الإباحة. ط رشيديه

(۳) جنم اشتمي: د هندوانو يوه د خوشحالۍ ورځ چي د کرشن جي د زېږېدو په خوشحالي کي وي (فيروز اللغات)

(٤) عن ابن عمر رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: من تشبه بقوم فهو منهم(ابو داؤد: ص: ٥٥٩، کتاب اللباس، باب فی لبس الشهرة)

وربانديي واچولی نو مسلمان په دې نه دی ګنهکار او نجس(پلیت) کېدل د دغه اوبو يقيني نه دی ځکه که پر بدن، جامو يا مسجد او نورو که ولګي نه پلیتیږي مګر د اشعار خو د کفارو دی ځکه مسلمان دی له دغه رنګ څخه خپل بدن جامې او مسجد پرېمنځي. فقط

عکسونه(تصویرونه) اخیستل

سؤال: (۵۷۴) فوټو او تصویر د زېبائش او شوق لپاره اخیستل څنګه دی؟
(۱۳۳۳-۳۲/۷۴۷هـ)

ځواب: فوټو او تصویر اخیستل مطلقًا حرام دی، په هیڅ وجه صحیح نه دی په حدیثو کي وربانديي سخت وعیدونه راغلي دي(۱)

سؤال: (۵۷۵) فوټو اخیستل څنګه دي؟ که منع دي نو وجه څه ده؟
(۱۳۳۳-۳۲/۱۱۸۵هـ)

ځواب: فوټو تصویر دی او تصویر اخیستل داسي دي لکه جوړول نو لکه څنګه چي هغه حرام دي دا هم حرام دي فقط

سؤال: (۵۷۶) ... (الف) د ذي روح تصویر جوړول که په لاس وي او که عکسي او که مجسم وي او که پر کاغذ او کپړه او نورو وي د دې د اېښودلو څه حکم دی؟
(ب) په کوم کور کي چي تصویر یا سپی وي هلته فرښتې راځي او کنه؟
(ج) و تصویر ته حلال او جائز ویونکی شرعًا څه حکم دی؟
(د) د تصویر د تحریم په هکله له سلف څخه تر خلف پوري ټولو فقهاء او محدثینو او مفسرینو ته غلط ویونکی

---

(۱) عن أبي هريرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: يخرج عنق من النار يوم القيامة لها عينان تبصران و أذنان تسمعان و لسان ينطق يقول: إني وكلت بثلاثة: (۱) بكل جبار عنيد(۲) و كل من دعا مع الله إلها آخر(۳) و بالمصورين، رواه الترمذى(مشكاة المصابيح: ص: ۳۸۶، كتاب اللباس، باب التصاوير، الفصل الثاني)
و عن عبدالله بن مسعود رضى الله عنه قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: أشد الناس عذابًا عند الله المصورون، متفق عليه(مشكوة المصابيح: ص: ۳۸۵، كتاب اللباس، باب التصاوير، الفصل الأول)

او ګمراه ویونکی شرعًا څه حکم دی؟ بینوا توجروا (۲۴۲۹/۱۳۴۳هـ)

ځواب: (الف) د ذي روح تصویر جوړول که دستي وي که عکسي وي که مجسم وي که پر کاغذ وي او که پر ټوکر او نورو ټول مطلقًا حرام دی. قال فی الشامي: و ظاهر كلام النووي فی "شرح مسلم" الإجماع على تحريم تصوير الحيوان، و قال: وسواء صنعه لما يمتهن او لغيره فصنعته حرام بكل حال، لأن فيه مضاهاة لخلق الله تعالى: و سواء كان فی ثوب او بساط او درهم و إناء و حائط و غيرها انتهى(۱) (شامي)

و فيه أيضًا بعد اسطر: تنبيه: هذا كله فی اقتناء الصورة و أما فعل التصوير فهو غير جائز مطلقًا لأنه مضاهاة لخلق الله تعالى كما مر(۲) او د تصویر ځان سره ایښودلو کي دا تفصیل دی چي ډېر کوچنی تصویر یا چي مقطوعة الرأس و الوجه او نور وي نو صحیح دی(۳) او غټ تصویر غير مقطوع الرأس او نور ایښودل حرام دي و قد صرح فی الفتح و غيره بأن الصورة الصغيرة لا تكره فی البيت الخ و لو كانت تمنع دخول الملائكة كره إبقاؤها فی البيت الخ(۲) (شامي)

(ب) په حدیث شریف کي راغلي دي چي په کوم کور کي سپی یا تصویر وي په هغه کي در حمت ملائکي نه داخلیږي، كما فی حديث مسلم: إنا لا ندخل بيتا فيه كلب و لا صورة(٤) (شامي)

(ج) فاسق، مردود الشهادة دی.

(د) ضال او مضل دی. فقط

---

(۱) رد المحتار ۴۷۹/۱ كتاب الصلاة، باب ما يفسد الصلاة و ما يكره فيها، بمطلب: إذا تردد الحكم بين سنة و بدعة الخ. ط رشيديه

(۲) الشامي ۴۸۰/۱ كتاب الصلاة، باب ما يفسد الصلاة و ما يكره فيها، قبيل مطلب: الكلام على اتخاذ المسبحة. ط رشيديه

(۳) او مقطوعة الرأس أو الوجه أو ممحوة عضو لا تعيش بدونه(الدر المختار) قال فی الشامي: قوله: (او مقطوعة الرأس) أی سواء كان من الأصل او كان لها رأس و محي، و سواء كان القطع بخيط خيط على جميع الرأس حتى لم يبق له أثر او يطليه بمغرة او بنحته او بغسله لأنها لا تعبد بدون الرأس عادة الخ(الدر و الشامي ۴۷۹/۱ كتاب الصلاة، أبواب ما يفسد الصلوة و ما يكره فيها، مطلب: إذا تردد الحكم بين سنة و بدعة. ط رشيديه)

(٤) الشامي ۴۸۰/۱ مخکنی حواله

د پاسپورټ او ویزې لپاره تصویر اخیستل

سوال: (۵۷۷) دلته د افریقې حکومت دا قانون جاري کړی دی چې د هندوستان وطن پرېښودونکی چې له ډېرې مودې راهیسې دلته کاروبار کوي خپلې ښځې چې له هندوستان څخه دلته راولي نو له دغه ښځو څخه د عکس(تصویر) غوښتنه کیږي کنې دوی دې ملک ته نشي راداخلېدلای؟(۳۲/۳۱۷-۱۳۳۳ھ)

ځواب: په داسې صورت کې که دوی تصویرونه واخلي نو څه پروا نلري، دوی مجبور دي.

سوال: (۵۷۸) د حکومت له لوري اعلان شوی دی چې هیڅوک له هندوستان څخه دباندې نشي تللای، ترڅو راه داري(Visa) وانه خلي، د ویزې اخیستلو لپاره ضروري دي چې تصویر به لږ نه لږ د پورته نیم بدن اخلي، د دې به درې نقله د ویزې د عارضې سره لیږي چې یکې به یو د ویزې سره بیرته راشي چې هغه به ویزه حاصلونکی ضرور د ځان سره اړدي، دوه به د حکومت په کور کې وي، په داسې صورت کې د تصویر(فوټو) اخیستلو اجازه شته، که څنګه؟(۱۳۳۷/۷۷۲ھ)

ځواب: که دا داسې ضروري خبره ده چې بېله فوټو اخیستلو ویزه نه ورکوله کیږي نو بیا د "الضرورات تبیح المحظورات" (۱) په حکم د مجبورۍ پر مهال فوټو ورسره لیږل جائز دي، مګر تر ضرورت پوره کېدو وروسته دا جواز هم ختمیږي، ځکه چې دا هم د فقهې قاعده ده: "الضرورات تتقدر بقدرها" (۲) فقط

سوال: (۵۷۹) زه حج ته ځم د پاسپورټ جوړولو لپاره تصویر اخیستل ضروري دی، په داسې صورت کې زما لپاره تصویر اخیستل جائز دی او کنه؟(۱۳۳۷/۲۱۱۱ھ)

ځواب: که بیله فوټو اخیستلو کوم صورت د اجازې نه وي نو د داسې ضرورت پر مهال فوټو اخیستل صحیح دی. فقط

---

(۱) الدر المختار مع الشامي ۲/۶۷۰ کتاب الطلاق، باب العدة فصل في الحداد. ط رشيديه

(۲) الدر المختار مع رد المحتار ۵/۲۶۱ کتاب الحظر و الإباحة، فصل في النظر و المس. ط رشيديه

د ذي روح تصویر اخیستل او اینبودل

سوال: (۵۸۰) تصویر اینبودل او اخیستل جوړول جائزدي او کنه؟ او څوک چي خپل تصویر اخلي یا نورو ته ترغیب ورکوي مثلاً د خپلو مشرانو عکسونه ځان سره اینبودل صحیح دي او کنه؟ (۱۳۳۷/۱۲۵۸هـ)

ځواب: د ذي روح تصویر اخیستل او اینبودل ټول قطعًا ناروا او حرام دي او د داسي خلګو په هکله په حدیث شریف کي سخت وعید راغلی دی په صحیح بخاري او مسلم کي له حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی، دی فرمایي: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واورېدل: أشد الناس عذابًا عند الله المصورون(۱)

ترجمه: د الله رب العزت سره به سخت عذاب د مصویرینو وي

په بل روایت کي راغلي دي: أشد الناس عذابًا یوم القیامة الذین یضاهون بخلق الله(۲)

ترجمه: د قیامت په ورځ سخت عذاب د هغو خلګو دی کوم چي د الله سره په پیدا کولو او تصویر جوړولو کي مشابهت کوي.

او په شامي کي راغلي دي: و أما فعل التصویر فهو غیر جائز مطلقًا لأنه مضاهاة لخلق الله تعالی(۳) نو که کوم مشر هم وي له دغه حکم څخه مستثنی نه دی او دغه د تصویر اخیستلو یا اینبودلو فعل یا بل چا ته د تصویر اینبودلو ترغیب ورکول صحیح نه دي بلکه حرام او کبیره ګناه ده. فقط

---

(۱) عن عبد الله بن مسعود رضی الله عنه قال: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: أشد الناس عذابًا عند الله المصورون، متفق علیه (مشکوة المصابیح، ص: ۳۸۵، کتاب اللباس، باب التصاویر، الفصل الأول)

(۲) عن عائشة رضی الله عنها قالت: قدم رسول الله صلی الله علیه وسلم من سفر... و قال أشد الناس الحدیث(صحیح البخاری: ۸۸۰/۲، کتاب اللباس، باب ما وطئ من التصاویر)

(۳) رد المحتار ۴۸۱/۱، کتاب الصلاة، باب ما یفسد الصلوة و ما یکره فیها، قبیل مطلب: الکلام علی اتخاذ المسبحة. ط رشیدیه

سوال: (۵۸۱) کاغذي عکسونه چي پر ځمکه سایه نه راځي د کوټې د ښائست لپاره پر دېوالونو لګول یا د مشرانو تصویرونه د یادګار لپاره خوندي ایښودل شرعًا جائز دي او کنه؟(۱۳۴۱/۲۸۵ھ)

ځواب: د ذي روح تصویر ایښودل په هیڅ ډول جائز نه دي.

سوال: (۵۸۲) ... (الف) د حیوان یا انسان فوټو اخیستل جائز دي او کنه؟ او په کوټو کي لګول جائز دي او کنه؟

(ب) و طالبانو ته د تصویرونو جوړولو فن ورزده کول جائز دي او کنه؟(۱۳۴۱/۱۸۴۴ھ)

ځواب: (الف) جائز نه دي

(ب) ناجائز دي

شوقیه د ځوکسانو عکسونه سره اخیستل

سوال: (۵۸۳) فوټو اخیستل یا د ځو کسانو شوقیه یو ځای عکس اخیستل شرعًا څنګه دي؟(۱۳۳۸/۴۵۵ھ)

ځواب: د تصویر اخیستونکیو په هکله په صحیح حدیث کي دا وعید راغلی دی: إن أشد الناس عذابًا عند الله المصورون(۱) یعني د قیامت په ورځ به زیات عذاب و تصویر جوړونکیو او اخیستونکیو ته وي او دا هم په حدیث شریف کي راغلي دي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: إن أصحاب هذه الصور يعذبون يوم القيامة و يقال هم: أحيوا ما خلقتم و قال: إن البيت الذى فيه الصور لا تدخله الملائكة(۲) یعني و تصویروالو ته به د قیامت په ورځ عذاب ورکول کیږي او دوی ته به وویل شي چي کوم تصویرونه تاسو جوړ کړي دي دا ژوندي کړئ او دا هم ده مبارک فرمایلي دي چي په کوم کور کي تصویر وي په هغه کي د رحمت فرښتې نه داخلیږي نو لکه څنګه چي تصویر جوړول او اخیستل حرام دي داغسي

---

(۱) عن عبد الله بن مسعود رضى الله عنه قال: سمعت النبى صلى الله عليه وسلم يقول: إن أشد الناس الحديث(صحيح البخارى: ۸۸۰/۲، كتاب اللباس، باب عذاب المصورين يوم القيامة)

(۲) عن القاسم بن محمد عن عائشة زوج النبى صلى الله عليه وسلم أنها أخبرته أنها اشترت نمرقة فيها تصاوير... فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إن أصحاب هذه الصور الحديث(صحيح البخارى: ۸۸۱/۲، كتاب اللباس، باب من لم يدخل بيتًا فيه صورة)

په بل اخیستل هم حرام دي او په شوقیه توګه یو ځای اخیستلو هم دا حکم دی چې دا ټول حرام دي او لهو او لعب او باطل دي. فقط

پر لاس او نورو په خالونو تصویر یا نوم لیکل

سوال: (۵۸۴) عمومًا مسلمانانو پر لاسونو پښو په خالونو تصویرونه نومونه او نور لیکلي وي او جائز یې بولي، د دې څه وجه ده؟ (۱۳۳۸/۱۷۵۲هـ)

ځواب: د دې وجه پرته له دې بله کومه کېدلای شي چې د دوی په خوا همدا رواج دی، ښکاره خبره ده چې شرعًا دا منع دي او رسول الله صلی الله علیه وسلم له دې څخه منع کړې ده او پر داسي خلګو یې لعنت ویلی دی(۱) الله رب العزت دي و مسلمانانو ته د نیکو توفیق ورکړي او د نبوي سنتو اتباع دي ورنصیب کړي آمین

د اوسي سر پر کور لګول

سوال: (۵۸۵) زیاتره ښکاریان اوسي ښکار کړي، د دې مخ او سر د کور پر دېوال ولګوي آیا د دې حکم هم د تصویر دی؟ (۱۳۴۰/۱۳۱۵هـ)

ځواب: د دې حکم د تصویر په رنګه نه دی. فقط

د طبي اړتیا لپاره د تصویر حکم

سوال: (۵۸۶) د انسان د جسم تصویر د اعضاء او اعصابو کلًا یا جزءًا د افهام لپاره کوم چې په طبي تشریح کي لازم دي جوړول کیږي او شرعًا چې د ذي روح شیانو تصویر جوړول منع دي، آیا دغه د انسان د جسم د هډونو نقشه پر کاغذ او نورو جوړول څه حکم لري؟ (۲۰۴/۲۹-۱۳۳۰هـ)

---

(۱) عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: لعنت الواصلة و المستوصلة و النامصة و المتنمصة و الواشمة و المستوشمة من غیر داء(سنن ابي داؤد: ص: ۵۷۴، کتاب الترجل، باب فی صلة الشعر)

ځواب: د ذي روح تصوير جوړول او ايښودل حرام دي نو د طبي تشريح په غرض کله چي له اجزاء څخه هم تفهيم کېدلای شي نو جائز نشي کېدلای، أما که د ځينو اجزاء صورت او نقش د افهام لپاره جوړ کړي چي پکي پوره تصوير نه وي يا هغه حصه نه وي چي ورسره ذي روح ژوندی پاته کيدلای شي نو صحيح دي(۱) لنډه دا چي د کوم تصوير جوړول او ايښودل شرعًا حرام دي هغه د طبي تشريح او افهام په غرض هم جوړول حرام دي او د کوم جوړول چي صحيح دي هغه دلته هم صحيح دي. فقط

سوال: (۵۸۷) که د طب په کتاب کي تصوير وي نو د اعضاء د تحقيق په ضرورت د هغه ايښودل جائزدي او کنه؟(۱۳۴۳/۲۲۰۴هـ)

ځواب: که د تصوير ايښودل ضروري دي نو په دې کي د جواز هم صورت شته چي پورته برخه يعني سترګي پزه او نور محو کړي يا يو داسي شی سربېره پر ومښلوي چي د محو په حکم شي(۲)

د ماشومانو د خبرتيا او ذهني ودي لپاره په درسي کتابونو کي تصويرونه لګول

سوال: (۵۸۸) په حکومتي او ناحکومتي درسي کتابونو کي د ماشومانو د خبرولو او ذهني ودي لپاره تصويرونه لګول تقريبًا لازمي شوي دي او د ټيکسټ بک کاميټي(۳) هم ميلان د داسي

---

(۱) او ممحوة عضو لا تعيش بدونه او لغير ذي روح لا يكره لأنها لا تعبد(الدر المختار مع الشامي ۴۸۰/۱ كتاب الصلاة، باب ما يفسد الصلاة و ما يكره فيها، مطلب: إذا تردد الحكم بين سنة و بدعة الخ. ط رشيديه)

(۲) و هذا إذا كانت الصورة تبدو للناظرين من غير تكلف، فإن كانت صغيرة او ممحوة الرأس لا بأس به، هذا، و في شرح السنة: فيه دليل على أن الصورة إذا غيرت هيئتها بأن قطعت رأسها او حلت او صالها حتى لم يبق منها إلا الأثر على شبه الصور فلا بأس به(مرقاة المفاتيح: ۳۳۴/۸، كتاب اللباس، باب التصاوير، الفصل الثاني)

(۳) ټيکسټ بک کاميټي(Text Book Committee) هغه کاميټه ياډله چي درسي کتابونه منظوروي(فيروز اللغات)

کتابونو منظورولو طرف ته دی چي پکي تصویرونه وي د انجمن(انجمن حمایت اسلام لاهور) اردو تألیفات قاعده او نورو ترمیم او تجدید روان دی او د لیکني او چاپ کار کونکي کامیتي رایه ده چي د نورو درسي کتابونو په رنګه دي په دې کي هم د حروف تهجي او سبقونو په اړه تصویرونه واچول شي، تاسو د الله فضل دی عالم او تعلیمي مبصر یې، لهذا پخپله زرینه رایه حتی الوسع زر تر زر کامیټي خبره کړئ (۱۳۳۷/۲۹۲هـ)

ځواب: د ذي روح تصویرونه اچونه په درسي او نا درسي ټولو کتابونو کي منع او حرام دي او په حدیثونو کي چي څومره سخت وعیدونه د تصویرونو د جوړولو اخیستلو او ایښودلو په هکله راغلي دي، هغه د کوم مصلحت او کوم غرض په وجه اجازه نه کوي چي د تصویرونو اچونه دي د تقریب الی الذهن په غرض جائز کړل شي، لهذا پر مصالح او منافع عاجله باندي دیني مصلحت او شرعي حکم مختته کول پکار دی، قال علیه الصلاة و السلام: أشد الناس عذابًا عند الله المصورون(۱) و قال صلی الله علیه وسلم: لا تدخل الملائکة بیتًا فیه کلب و لا تصاویر(۲) داغه راز نور حدیثونه په دې باب کي راغلي دي(۳) او په رد المحتار شامي کي راغلي دي: و أما فعل التصویر

(۱) عن عبد الله بن مسعود رضی الله عنه قال: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: أشد الناس عذابًا الحدیث(مشکوة المصابیح: ص: ۳۸۵، کتاب اللباس، باب التصاویر، الفصل الأول)

(۲) عن ابی طلحة رضی الله عنه قال: قال النبی صلی الله علیه وسلم: لا تدخل الملائکة الحدیث(مشکوة المصابیح: ص: ۳۸۵، کتاب اللباس، باب التصاویر، الفصل الأول)

(۳) عن عائشة رضی الله عنها ... فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم: إن أصحاب هذه الصور یعذبون یوم القیامة، یقال لهم: أحیوا ما خلقتم، و قال: إن البیت الذی فیه الصورة لا تدخله الملائکة.
و عنها رضی الله عنها عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: أشد الناس عذابًا یوم القیامة الذین یضاهون بخلق الله.
و عن أبی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: یخرج عنق من النار یوم القیامة لها عینان تبصران و اذنان تسمعان و لسان ینطق یقول: إنی وکلت بثلاثة: (۱) بکل جبار عنید (۲) و کل من دعا مع الله الها آخر (۳) و بالمصورین(مشکوة المصابیح، ص: ۳۸۵-۳۸۶ کتاب اللباس باب التصاویر الفصل الاول و الثانی)

فهو غير جائز مطلقًا، لأنه مضاهاة لخلق الله تعالى كما مر(۱) فقط

د عکسونو(فوټوګانو) کتابونه رانیول خرڅول

سوال: (۵۸۹) که څوک د تصویر کتابونه خرڅوي د هغه په هکله څه حکم دی؟ (۴۴۹/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: داسي کتابونه رانیول خرڅول نه دي پکار لیکن د دې د خرڅلاو قیمت حلال دی فقط

د ذي روح شیانو مارکه جوړول ناروا ده

سوال: (۵۹۰) زموږ د بنیانو(انګیاوو) تجارت دی چي پکي ډیري مارکې(علامې) وي لیکن یوه مارکه چي په ټولو کي زیاته مشهوره او چلیږي هغه د یو مرغۍ خوش رنګه تصویر دی، موږ کوشش وکړی چي د یو ساکښ حیوان د مارکې پر ځای کومه بله بې ساه شی مارکه وچلیږي مګر ونه چلیږده حالانکه مال هم هغه رنګه و او قیمت مي ډېرکم کړی، د دې سره بیا هم هغه د بې ساه مارکې مال ډېر په ګرانه وواتی او په څنډ وواتی، لنډه دا چي که موږ له خپل مال څخه زړې مشهوره د ساه کښنو مارکې وباسو نو د نورو غټو تاجرانو او د یورپ د شراکتونو په مقابل زموږ په کامیابي سره تجارت کول مشکل شي، ځکه چي غټ غټ تاجران او د یورپ کمپنیاني هر وخت په دې انتظار وي چي یو چالو مارکه ختمه شي نو دوی ته د خپلو مارکو مشهوره کولو موقع په لاس ورشي او چي څومره زړه غواړي هغومره ګټه حاصله کړي په داسي حالاتو کي شرعًا زړې د ساه کښنو مارکې جاري ساتل روا دي که ناروا؟ (۴۱/۱۳۴۵هـ)

ځواب: د حیوان د تصویر مارکه په هیڅ رنګه جائز نه ده، امام نووي رحمه الله د حیوان تصویر د جوړولو او ورجوړولو پر حرمت اجماع رانقل کړې ده. قال في البحر: و في الخلاصة و تكره

---

(۱) الشامي ۴۸۰/۱، كتاب الصلاة، باب ما يفسد الصلاة و ما يكره فيها، قبيل مطلب: الكلام على اتخاذ المسبحة. ط رشيديه

التصاوير على الثوب صلى فيه اولاً انتهى و هذه الكراهة تحريمية، و ظــاهر كــلام النــووي في "شرح مسلم" الإجماع على تحريم تصوير الحيوان، و قال: و سواء صنعه لما يمتهن او لغيره، فصنعته حرام بكل حال لأن فيه مضاهاة لخلق الله تعالى و سواء كان في ثوب او بساط او درهم و إناء و حائط و غيرها اهـــ(١) (شامي)

و أيضًا فيه: تنبيه: و هذا كله في اقتناء الصورة و أما فعل التصوير فهو غير جائز مطلقًـــا لأنـــه مضاهاة لخلق الله تعالى كما مر(٢)

اقول: و في الأحاديث وعيد شديد في فعل التصوير مطلقًا ففي البخارى ومسلم: عـــن عائشـــة رضي الله عنها قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إن أصحاب هذه الصور يعذبون يوم القيامة، يقال لهم: أحيو ما خلقتم، و قال: إن البيت الذى فيه الصورة لا تدخله الملائكة(الحديث)

و عن أبي هريرة رضى الله عنه قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: قال الله تعالى: و من أظلم ممن ذهب يخلق كخلقي فليخلقوا ذرة او ليخلقو حبة او شعيرة متفق عليه.

و عن عبد الله بن مسعود رضى الله عنه قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: أشـــد الناس عذابًا عند الله المصوررون، متفق عليه.

و عن ابن عباس رضى الله عنهما قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: كـــل مصـــور في النار يجعل له بكل صورة صورها نفسا فيعذبه في جهنم، قال ابن عباس رضى الله عنهما فإن كنت لا بد فاعلا فاصنع الشجر و ما لا روح فيه(٣) (مشكوة شريف) نو په دغه حديثو كي چي د تصوير پر فعل خومره وعيدونه راغلي دي هغه ښکاره دي، په آخري حديث کي د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما دا صفا ښکاره شوه چي که کوم ضرورت وي نو د درختو او بې ساه شیانو

(١) الشامي ٤٨٠/١، كتاب الصلاة، باب ما يفسد الصلوة و ما يكره فيها مطلب: إذا تردد الحكم بين سنة و بدعة. ط رشيديه

(٢) رد المحتار ٤٨٠/١، مخکني حواله

(٣) مشكوة المصابيح: ص: ٣٨٥-٣٨٦، كتاب اللباس، باب التصاوير، الفصل الأول.

عکسونه جوړ کړي(۱) لهذا تجاران باید د بې ساه شیانو مارکه خپله کړي فقط

پر قرآن لوړ فوټوګان راځړول

سوال: (۵۹۱) پر قرآن شریف لوړ تصویرونه راځړول صحیح دي او کنه؟ (۱۳۳۷/۱۹۹۱هـ)

ځواب: صحیح نه دی(بلکه مطلقًا په کور او نورو کې د ذي روح تصویرونه راځړول حرام دي)

د خاوري بوتان خرڅول حرام دي

سوال: (۵۹۲) یو سړی د صوم او صلوة پابند دی مګر د هندوانو په اختر کې د خاوري بوتان خرڅوي، دا شرعًا جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۵/۹۸۳هـ)

ځواب: داسې سړی عاصي او فاسق دی، دی باید له دغه حرام عمل څخه توبه وباسي خو پرده د کفر حکم نه لګیږي فقط

د منکراتو ډک واده او مېلمستیا کې برخه اخیستل

سوال: (۵۹۳) په واده کې ډول، ناچ، اوربازۍ او نور کولو کې څه ډول ګناه وي؟ په حنفي مذهب کې هلته ډوډۍ خوړل جائز دي او کنه؟ اوریدلي مي دي چې داسې نکاح نه صحیح کیږي او اولاد به حرامي وي (۱۳۴۳/۲۲۲۳هـ)

ځواب: څوک چې داسې کوي، هغه د کبیره ګناه کونکي او فاسقان دي د دوی په مېلمستیا کې هم د متقدا لپاره برخه اخیستل نه دي پکار، مګر نکاح صحیح کیږي او اولاد ولد الحلال دی حرامي نه دی فقط

سوال: (۵۹۴) زید وایي چې که عمر بکر ته مېلمستیا وکړه او بکر هم قبوله کړه وروسته خبر شو چې د ده په مېلمستیا کې سرنا، ډول او نور هم شته نو په داسې حالت کې به بکر ته د وعدې په خلاف کولو کې اجر او ثواب

(۱) و فيه إشارة إلى جواز تصوير نحو الأشجار مما لا حياة فيه كما ذهب إليه الجمهور(مرقاة المفاتيح: ۳۳٤/۸، كتاب اللباس، باب التصاوير، الفصل الثاني)

وي او د وعدې په وفا کي معصيت دی نو د زيد دغه وينا صحيح ده او کنه؟
(۱۴۷۷/۴۴-۱۳۴۵ھ)

ځواب: دزيد دغه وينا صحيح ده. فقط و الله تعالى اعلم

سوال: (۵۹۵) يو سړی د خپل زوی په واده کي د ناچ او باجو باندار جوړوي د ده کره ډوډۍ خوړول که دی کور ته ډوډۍ راوليږي نو اخيستل يې څنګه دي؟ (۱۳۴۵/۱۷۲۵ھ)

ځواب: په در مختار کي ليکلي دي چي په کوم واده کي ناچ، باجې او نور شرعي محرمات وي، هلته يو مخ د هغو خلګو شرکت کول نه دی پکار کوم چي مقتدا دی لکه علماء مشائخ او ائمه او عام خلګ هم هغه وخت هلته ډوډۍ خوړلای شي چي خاص د ډوډۍ په مجلس کي به باجه او نور نه وي په کوم بل ځای کي وي او که په همدغه مجلس کي باجه او نور وي نو هيڅوک بايد شريک نه شي او هلته ډوډۍ نه ده خوړل پکار(۱) او باجا او نور اعمال کونکي په هر حال کي فاسقان او عاصيان دي، تنبيهًا د دوی په واده کي يو مخ برخه نه دي اخيستل پکار او د دوی ډوډۍ نه ده خوړل پکار ترڅو دوی ته تنبيه وشي. فقط

په ميټايي جوړکړي د حيوانانو بوتان خرڅول جائز نه دي

سوال: (۵۹۶) د هندوانو په هولي کي د مسلمان ميټايي خرڅونکي لپاره له ميټايي څخه د غوا، غوايه، انسان، آس او نورو جوړ کړي بوتان خرڅول جائز دي او کنه؟
(۱۳۳۹/۱۴۸۳ھ)

ځواب: جائز نه دی.

د اخترونو د لمونځو اعلان د ډول په وسيله څنګه دی؟

سوال: (۵۹۷) د کوچني يا لوی اختر د لمانځه د وخت اعلان د ډول په وسيله کول جائز دي

---

(۱) دعی إلى وليمة وثمة لعب او غناء قعدو أكل لو المنكر فى المنزل، فلو على المائدة لا ينبغى أن يقعد بل يخرج معرضا لقوله تعالى: "فلا تقعد بعد الذكرى مع القوم الظالمين" (الانعام، الآية: ٦٨) فإن قدر على المنع فعل و الا يقدر صبر إن لم يكن ممن يقتدى به، فإن كان مقتدى و لم يقدر على المنع خرج و لم يقعد ... و إن علم أولا باللعب لا يحضر أصلاً (الدر المختار مع الشامي ٥/٢٤٥، كتاب الحظر و الإباحة. ط رشيديه)

او کنه؟(۱۳۴۷-۴۲/۲۰۱۳هـ)

ځواب: د لمانځه وخت مقرر او متعين کړي اعلان وکړي چې پر فلاني وخت به د لوی یا کوچني اختر لمونځ کيږي او اعلان د ډول په وسيله کول هم جائز دی(۱) فقط

د اور ويشتونکيو، بارودو او ديوالۍ د سامان جوړولو حکم

سوال: (۵۹۸) يو سړی د اور ويشتونکيو، بارودو او ديوالۍ سامان کار کوي او د صدفانو کار هم کوي، د ده مال حلال دی که حرام؟ او عند الله د ده عبادتونه او صدقې قبليږي او کنه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۲۳۵هـ)

ځواب: د اور ويشتونکيو، بارودو او ديوالۍ د سامان جوړولو پېشه او کسب حرام او مکروه دي چې په دې کې اعانت علی المعصيت دی او داسې آمدني له کراهت او خباثت څخه خلاصه نه ده نور نو د عبادتونو او صدقو قبلېدل د اخلاص او عدم اخلاص سره اړه لري، قال الله تعالی: "و ما امروا إلا ليعبدوا الله مخلصين له الدين" (سورة بينة، آيت: ۵) او صدقه د حلال مال قبليږي(۲) فقط

د سندري ويونکيو ښځو و مدرسې ته چنده ورکول

سوال: (۵۹۹) که غزلې ويونکې ښځې مدرسې ته چنده ورکړي يا نور شيان ورکړي نو جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۷/۱۸۹هـ)

ځواب: پر مسکينانو طالبانو باندې مصرفول صحيح دي او د دوی لپاره اخيستل صحي دي فقط

---


(۱) أقول: و ينبغي أن يكون طبل المسحر في رمضان لإيقاظ النائمين للسحور كبوق الحمام (الشامي ۲۴۷/۵، كتاب الحظر و الإباحة، قبيل فصل في اللبس. ط رشيديه)

(۲) عن أبي هريرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إن الله طيب لا يقبل إلا طيبا الحديث(مشكوة المصابيح، ص: ۲۴۱، كتاب البيوع، باب الكسب و طلب الحلال)

په کوم کور کې چې ښکاري یا محافظ سپی وي، هغه ته د رحمت فرښتې راځي او کنه؟

سوال: (۲۰۰) په کوم کور کي چي د سپي و ښنته پروت وي اورېدلي مي دي چي هلته د رحمت فرښتې نه راځي نو په کوم کور کي چي ښکاري یا محافظ سپی وي هلته د رحمت فرښتې راځي او کنه؟ (۱۱۷۰/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: د ښکار او کښت حفاظت کونکی سپی له دې څخه مستثنی دی د رحمت ملائکو راتلو ته مانع نه دي(۱)



(۱) قال الخطابی: إنما لم یدخل فی بیت إذا کان فیه شئ من هذه مما یحرم اقتناؤه من الکلاب و الصور و أما ما لیس بحرام من کلب الصید او الزرع او الماشیة ... فلا یمنع دخول الملائکة بسببه(عمدة القاری شرح صحیح البخاری: ۱۳۹/۱۵، کتاب بدء الخلق باب إذا قال أحدکم: آمین، و الملائکة فی السماء، المطبوعة: مکتبه رشیدیه باکستان)

د دوا او علاج احکام

د ناجوړۍ علاج کول سنت دي

سوال: (۲۰۱) په ناجوړي کي علاج او دوا کول فرض دي که واجب او که سنت؟ او دواء نه کونکی ګنهکار دی او کنه؟ (۱۹۹۷/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: په حلاله او طاهره دوا تداوي کول سنت او مستحب دي، فرض او واجب نه دی چي پرېښودونکی عاصي او ګنهکار وي او په حديثو کي د تداوي تأکيد راغلی دی(۱) ترڅو معلوم شي چي دا د توکل په خلاف نه دي او په حديث شريف کي راغلي دي چي صحابه رضی الله عنهم له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه چي دوا، رقيه او نور آيا الهي تقدير اړوي او بدلوي يې؟ ده مبارک صلی الله عليه وسلم وفرمايل: هی من قدر الله يعني دوا کول هم الهي تقدير دی(۲) و فی حديث أسامة بن شريک رضی الله عنه قال: قالت الأعراب: يا رسول الله! ألا نتداوی؟ قال: نعم يا عباد الله! تداووا، فإن الله لم يضع داء إلا وضع له شفاء الحديث(۲)

---

(۱) جامع الترمذی: ۲/۲٤، ابواب الطب، باب ما جاء فی الدواء و الحث عليه.

و عن ابی هريرة رضی الله عنه عن النبی صلی الله عليه وسلم قال: ما أنزل الله داء إلا أنزل له شفاء(صحيح البخاری: ۲/۸٤۸، کتاب الطب باب ما أنزل الله داء إلا أنزل له شفاء)

(۲) عن أبی خزامة عن أبيه رضی الله عه قال: سألت رسول الله صلی الله عليه وسلم، قلت: يا رسول الله! ارأيت رقی نسترقيها و دواءً نتداوی به و تقاة نتقيها هل ترد من قدر الله شيئا؟ قال: هی من قدر الله (جامع الترمذی: ۲/۲۷، أبواب الطب، باب ما جاء فی الرقی و الأدوية و أيضًا فيه: ۲/۳۷، أبواب القدر، باب ما جاء لا ترد الرقی و الدواء من قدر الله شيئا)

سوال: (۲۰۲) د هدايې په حاشيه کي علاج کول مباح ليکلي دي ليکن په حديث کي "تداووا عباد الله" (۱) راغلي دي او پخپله نبي عليه الصلاة و السلام د ښکر لګولو علاج کړی دی(۲) په دې وجه علاج ته سنت ويل کېدلای شي او کنه؟ (۱۳۳۸/۲۵۸هـ)

ځواب: علاج او تداوي د انبياء عليهم الصلاة و السلام سنت دی او مباح ليکل د سنت والي منافي نه دی، د مباح ليکونکيو به مطلب دا وي چي کوم خلک منع ځني کوي د هغو ترديد به مقصود وي. فقط

د علاج لپاره کومه موده مقرره نه ده

سوال: (۲۰۳) د مريض د دوا لپاره د علاج د څومره ورځو حکم دی؟ (۱۳۴۷-۴۲/۳۳۱۴هـ)

ځواب: د علاج لپاره کوم شرعي حد مقرر نشته، ترڅو چي فرض ختمېږي، تر هغو علاج کول سنت دی. فقط

د چيچک(کوي) طاعون او حفظ ما تقدم لپاره پيچکارۍ لګول

سوال: (۲۰۴) ستن(پيچکارۍ) د حفظ ما تقدم علاج په توګه لګول جائز ده او کنه؟ (۱۳۳۰-۲۹/۲۴۹هـ)

ځواب: د حفظ ما تقدم په توګه ستن لګول جائز دي، شرعًا څه پروا نلري چي دا پيچکارۍ هم د چيچک د پيچکارۍ په رنګه يو علاج دی. و الله تعالی اعلم

سوال: (۲۰۵) د طاعون(وبا) پيچکارۍ لګول صحيح ده او کنه؟ (۱۳۳۵/۲۸۸هـ)

ځواب: د طاعون پيچکارۍ لګول صحيح ده، دا يو علاج دی. و الله تعالی اعلم

سوال: (۲۰۶) د حفظ ما تقدم په توګه د طاعون پيچکارۍ لګول جائز ده او کنه؟ (۱۳۴۳/۲۲۰۳هـ)

---

(۱) د دغه حديث تخريج د تېر سوال په حاشيه کي تېر شو.

(۲) عن جابر رضی الله عنه أن رسول الله صلی الله عليه وسلم احتجم علی وركه من وثی كان به(سنن ابی داؤد، ص: ٥٤٠، كتاب الطب، باب فی قطع العرق و موضع الحجم)

ځواب: جائز دي فقط

سوال: (۲۰۷) و ماشومانو ته د چیچک پیچکاری ورلګول جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۳/۲۲۰۳هـ)

ځواب: جائز دي فقط

د هومیوپیتهک دوایانو حکم

سوال: (۲۰۸) د هومیو پیتهک (Homoeopathic) دوایاني په الکحل کي تیاریږي چي د سپین عرق په صورت کي وي دا یو ډول اسپرټ دي چي د مېز، کرسیانو او نورو په پالش او نورو کارونو کي هم کارول کیږي او په شرابو هم ګډیږي نو د دې استعمال روا دی که ناروا؟ (۱۳۴۱/۱۲۱۵هـ)

ځواب: اسپرټ ته فقهاء د شرابو حکم ورکړی دی ځکه چي په کومو دوایانو کي د اسپرټ ګډول یقیني شي، د هغو استعمال شرعًا صحیح نه دی(۱) په شامي کي راغلي دي: و لا شک أن العرق المستقطر من الخمر هو عین الخمر تتصاعد مع الدخان و تقطر من الطابق بحیث لا یبقی منها إلا أجزاؤها الترابیة، و لذا یفعل القلیل منه فی الإسکار أضعاف ما یفعله کثیر الخمر الخ(۲) (شامي: ۱۶۳/۳) فقط

د انګریزي دوا استعمال

سوال: (۲۰۹) اورېدلي مې دي چي په انګریزي دوایانو د شرابو استعمال کیږي، لهذا د انګریزي دوا

---

(۱) په کفایت المفتی کي راغلي دي: جواب: (۱۷۵) په هومیوپیتهک دوایانو کي که اسپرټ یا کوم بل نشه راوستونکی شی شامل وي، خو بیا هم د علاج لپاره استعمال یې روا دی. ځکه چي د انګورو له شراب څخه پرته (کوم چي خمر دي) نور شرابونه پلیت نه دي، د نشه راوستلو په وجه حرام خو دي مګر پلیت نه دي نو د دوی دومره مقدار چي نشه نه راولي د علاج لپاره استعمالولای شي. محمد کفایت الله کان الله له (کفایت: ۱۴۲/۴، کتاب الحظر و الإباحة، نهم باب)

(۲) رد المحتار للشامي: ۱۷۸/۳، کتاب الحدود، باب حد الشرب، مطلب فی نجاسة العرق و وجوب الحد بشربه. ط رشیدیه

استعمال جائز دی او کنه؟ (۳۲/۲۵۴-۱۳۳۳هـ)

ځواب: د انګریزي دوایانو استعمال علی العموم ناجائز نه دی، که په کومه دوا کي د شرابو او نورو کېدل معلوم شي نو د هغه دوا استعمال ناروا ګرځي، نور نو په شک او شبه یو شی پلیت نه ګرځي. فقط

د انګریزي دوایانو بایکاټ

سوال: (۲۱۰) د انګریزي دوایانو استعمال د ترک موالات په خلاف دی او کنه؟ (۱۳۳۹/۹۸۳هـ)

ځواب: کومي انګریزي دواوي چي حلالي دي چي پکي شراب نشته، د هغو معامله کول او روانیول خرڅول یې همداسي دي لکه چي د نورو انګریزي او ولایتي شیانو رانیول او خرڅول چي دي نو تر اوسه کلیةً د ترک موالات په وجه د ولایتي او انګریزي ټولو شیانو رانیول خرڅول نه دي منع شوي، اما سوکه سوکه داسي کول پکار دي چي د خپل ملک شیان رانیول شي او انګریزي او ولایتي شیان نشي رانیول(۱)
مګر دا کار تدریجًا کېدلای شي، د دې څرګندونه د یو عالم څخه مخامخ واورئ او ځان په پوه کړئ. فقط

د علاج لپاره که نارینه نکریځي ولګوي

سوال: (۲۱۱) د نارینه لپاره نکریځي لګول څنګه دي؟ او د دوا او علاج لپاره نارینه نکریځي لګولای شي او کنه؟ (۱۳۴۵-۴۴/۵۸هـ)

ځواب: نکریځي د نارینه لپاره لګول حرام دي او د دوا لپاره جائز دي.

د علاج لپاره د ښځي شیدې څښل

سوال: (۲۱۲) د تي رودونکي ماشوم څخه پرته د بل لپاره د علاج په توګه د ښځي شیدې رودل صحیح دي او

(۱) دا حکم هغه وخت و کله چي د انګریز له هندوستان څخه ایستلو تحریک چلېدی او د انګریزي شیانو اصل حکم هغه دی کوم چي د جواب په سر کي بیان شوی دی یعني د حلالو شیانو رانیول خرڅول یې جائز دي او استعمال یې څه پروا نلري ۱۲ محمد امین پالن پوري

کنه؟ او که خاوند د خپلې ښځې له تيو شيدې ورودې نو څنګه دې؟ (۲۹/۳۹۹-۱۳۳۰هـ)

ځواب: د ښځې شيدې رودل له تې رودونکې ماشوم څخه پرته د هيڅ لپاره په هيڅ وخت صحيح نه دې نو داسې حرام علاج نه دی کول پکار، خاوند که د خپلې ښځې له تيو شيدې ورودې نو په دې وجه چې د ښځې شيدې د هر چا لپاره حرامې دي خاوند د کبيره ګناه کونکی شو مګر پر نکاح کوم اثر نه لويږي فقط

سوال: (۲۱۳) يو سړی داسې مريض شو چې بې د يو ښځې له شيدو څښلو نشي جوړېدلای نو په داسې حال کې که دا سړی د خپلې ښځې شيدې ورودې نو جائز او حلالې دي که حرامې؟ او د شيدو په څښلو پر نکاح خو به کوم اثر نه لويږي؟ (۳۳/۱۱۱۴-۱۳۳۴هـ)

ځواب: مص رجل ثدی زوجته لم تحرم(۱) يو سړي د خپلې ښځې تي وځېښل شيدې يې ورودلې، د ده ښځه پر ده نه حراميږي(الدر المختار، باب الرضاع) و فيه ايضًا: و لم يبح الإرضاع بعد مدته(۲) يعني مباح نه دي د رضاعت تر موده وروسته شيدې رودل، له دغه دواړو روايتونو څخه معلوم شو چې د خپلې ښځې تي رودل جائز نه دي او دا چې په رودلو ښځه وربانديې نه حراميږي او د تداوي لپاره هغهٔ وخت استعمال جائز دی چې پکې شفا د حاذق مسلمان طبيب په وينا ثابته شي او کومه بله دوا د دې کار نشي کولای(۳) فقط

سوال: (۲۱۴) د ښځې شيدې په يو دوا کې کارول څنګه دي؟ (۱۴۲۱/۱۳۳۷هـ)

ځواب: د ښځې د شيدو استعمال په دوا کې بېله شديد ضرورت صحيح نه دی او شديد ضرورت دا دی چې حاذق طبيب يې تجويز کړي او کومه حلاله دوا د دې په بدل نه وي فقط

---

(۱) الدر المختار مع الرد ۴۴۹/۲ كتاب النكاح، آخر باب الرضاع. ط رشيديه

(۲) الدر المختار مع الرد ۴۳۸/۲ كتاب النكاح، باب الرضاع. ط رشيديه

(۳) و ظاهر المذهب المنع كما في رضاع "البحر" لكن نقل المصنف ثمة و هنا عن "الحاوی" و قيل يرخص إذا علم فيه الشفاء و لم يعلم دواء آخر كما رخص الخمر للعطشان و عليه الفتوى اه(رد المحتار ۴۳۸/۲ كتاب النكاح، باب الرضاع و في الدر المختار مع الشامي ۱۵۴/۱، كتاب الطهارة، باب المياه، مطلب في التداوي بالمحرم. ط رشيديه)

سوال: (۲۱۵) مولوي عبد الحی صاحب لکهنوي رحمة الله علیه په نفع المفتی کي لیکي: چي د ښځي د شیدو استعمال د دوا په توګه جائز دی او مولوي اشرف علي تهانوي رحمة الله علیه په "بهشتي زېور" کي لیکي چي د ښځي شیدې په هیڅ دوا کي اچول جائز نه دي(۱) حرام او ناجائز دي په دغه دواړو صورتونو کي صحیح کوم یو دی؟(۱۹۳۸/۱۳۳۸هـ)

ځواب: مولوي تهانوي سلمه د اصل مذهب او ظاهر الروایة سره سم منع فرمایلي دي او مولانا عبد الحی صاحب مرحوم د مفتی به قول سره سم د دوا لپاره کارول جائز لیکلي دي.

د مولانا تهانوي رحمه الله د قول دلیل دا عبارت دی: لا یجوز الانتفاع به للتداوی(۲) (شامي، باب الرضاع) او د جواز دلیل د شامي دا عبارت دی: و ظاهر المذهب المنع کما فی إرضاع "البحر" لکن نقل المصنف ثمة و هنا عن "الحاوی": و قیل: یرخص إذا علم فیه الشفاء و لم یعلم دواء آخر کما رخص الخمر للعطشان و علیه الفتوی الخ(۳)

د خپلي ښځي شیدې رودل حرام دي

سوال: (۲۱۶) یو ډله وایي چي د خپلي ښځي شیدې څښل که عذر وي او که نه وي جائز دي، بله ډله مطلقًا منع کوي، په دغه مسئله کي د شریعت حکم څه دی؟(۲۸۱۲/۱۳۴۵هـ)

ځواب: د خپلي ښځي شیدې رودل حرام دي لیکن په دې سره پر نکاح کوم اثر نه پرېوځي، یعني که چا د خپلي ښځي شیدې ورودلې نو ښځه له نکاح څخه نه وځي، لیکن دغه شیدې څښل حرام دي، لکه چي دغه دواړي مسئلې په در مختار کي راغلي دي:

د شیدو څښلو د حرمت په هکله عبارت دا دی: و لم یبح الإرضاع بعد مدته لأنه جزء آدمی و الانتفاع به لغیر ضرورة حرام علی الصحیح الخ(۴) او د دوهمي مسئلې دلیل دا

---

(۱) اختر بهشتي زېور، څلورمه برخه، ص: ۱۹ مسئله: ۲۱.
(۲) الشامي ۴۳۸/۲ کتاب النکاح، باب الرضاع. ط رشیدیه
(۳) رد المحتار ۴۳۸/۲ کتاب النکاح، باب الرضاع، و فی الدر المختار مع الشامي ۱۵۴/۱ کتاب الطهارة، باب المیاه، مطلب فی العداوی بالمحرم. ط رشیدیه
(۴) الدر المختار مع الرد ۴۳۸/۲ کتاب النکاح، باب الرضاع. ط رشیدیه

عبارت دی: مص رجل ثدی زوجته لم تحرم الخ(۱) او له عذر او ناعذر څخه معلوم نه دي څه مراد اخیستی دی؟ که د مرض عذر مراد دی نو د دې حکم دا دی چي حرام شی که د اړتیا پر مهال په دوا کي استعمال شي په دې شرط چي کومه بله حلاله دوا یې نه وي نو په داسي صورت کي تداوی بالحرام ځینو فقهاء په ځینو شرطونو جائز بللي دي او د درمختار د عبارت: لغیر ضرورة له قید څخه همدا ضرورت مراد دی. فقط

د ښځي شیدې په سترګه کي اچول

سوال: (۲۱۷) د ښځي په شیدو ګډه کړې دوا په سترګو کي اچول روا دي که ناروا؟ (۱۳۳۷/۱۱۱۷هـ)

ځواب: په دې سره حرمت نه راځي مګر ببله شدید ضرورت د ښځي د شیدو استعمال صحیح نه دی. فقط

د علاج لپاره و ماشوم ته د خرې شیدې ورکول

سوال: (۲۱۸) یو ماشوم چي ډیر کمزور او لاغر دی د لسو میاشتو دی زیاتره ډاکتران او حکیمان وایي چي د خرې شیدې ورکړئ نو ماشوم ته د خرې شیدې په ورکولو به مور او پلار څومره ګنهکار وي؟ (۱۳۳۶-۳۵/۱۵۱هـ)

ځواب: څرګندونه دي وي چي د کوم حیوان غوښه حرامه وي د هغه شیدې هم حرامي دي لهذا د خرې شیدې هم حرامي دي لیکن د دوا علاج لپاره که د دې مفید او نافع کېدل د حذاقو طبیبانو د رایه سره سم وي نو استعمال یې صحیح دی(۲) فقط

---

(۱) الدر المختار مع الرد ۴۴۹/۲، کتاب النکاح، باب الرضاع. ط رشیدیه

(۲) و کره لحم الأتان أی الحمارة الأهلیة ... و لبنها و لبن الجلالة التی تأکل العذرة و لبن الرمکة أی الفرس و بول الإبل و أجازه أبو یوسف رحمة الله علیه للتداوی. و فی الشامي: قوله: (و لبنها) لتولده من اللحم فصار مثله(الدر المختار و الشامي ۲۳۹/۵، أوائل کتاب الحظر و الإباحة. ط رشیدیه)

د حیوان تریخی په دوا کي اچول

(دغه دواړي مسئلي د فتاوی دار العلوم په ۳۳۸/۱ او ۳۵۷/۱ کي خپري شوي دي)

سوال: (۲۱۹) د حلال حیوان تریخی که په کومه دوا کي واچول شي او هغه دوا د خوراک نه وي بلکه پر بدن باندي د منبولو وي نو جائز دي او کنه؟ او بدن پلیت کیږي او کنه؟ (۱۳۳۸/۳۲۷هـ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: مرارة کل حیوان کبوله الخ(۱) نو لکه څنګه چي د مأکول اللحم بولي پلیتي دي تریخی(۲) هم پلیت دی او تداوي د ضرورت پر مهال جائز ده نو د لمانځه پر وخت هغه ځای پرېمنځئ. فقط

سوال: (۲۲۰) د غوایه، ګامیښي او خنزیر تریخی د نورو دواوو سره ګډه کړي ګولۍ ځني جوړېږي کوم څوک چي له لاعلاجه ناجوړی سرسام څخه بې هوښه شي او مرګ ته نژدې شي او په هیڅ دوا په هوښ کي نه راځي په دغه دوا سره په پنځه منټه کي په هوښ کي راشي آیا چي کله بله کومه دوا فائده نه کوي نو د دې استعمال روا دی؟ (۱۳۴۱/۱۵۳۴هـ)

ځواب: په داسي حال کي چي په نجسه دوا کي د شفا ظن او نفع غالبه وي او د دې متبادل کومه پاکه دوا نه وي ځیني فقهاؤ د داسي دوا د استعمال اجازه کړې ده لکه چي په رد المحتار کي راغلي دي: قوله: (اختلف فی التداوی بالمحرم) ففی النهایة عن الذخیرة: یجوز إن علم فیه شفاء و لم یعلم دواء آخر الخ(۳) (شامي) فقط

---

(۱) الدر المختار مع الشامي ۲۵۶/۱، کتاب الطهارة، باب الأنجاس، مطلب فی الفرق بین الاستبراء و الاستنقاء و الاستنجاء. ط رشیدیه

(۲) دلته له تریخي څخه مراد هغه ترخې اوبه دي چي د تریخي په کڅوړه کي وي د تریخي کڅوړه مراد نه ده ځکه چي د تریخي کڅوړه په پرېمنځو پاکیږي مګر خوراک د دې مکروه دی په تقریرات رافعي کي راغلي دي: (قوله: و لو أدخل فی إصبعه مرارة مأکول اللحم یکره عنده) وجه الکراهة استعمال النجاسة، لأن الجلدة نجسة بمجاورة ما فیها من النجاسة، فلو غسلها و کانت من ذکیة فلا کراهة فیما یظهر الخ(تقریرات الرافعی مع حاشیة ابن عابدین: ۴۲/۱، کتاب الطهارة فصل فی الاستنجاء. ط رشیدیه)

(۳) رد المحتار ۱۵۴/۱، کتاب الطهارة، باب المیاه، مطلب فی التداوی بالمحرم. ط رشیدیه

د مار سر په دوا کي سوځولو سره دوا جوړول

سوال: (۲۲۱) يوه دوا د مار په سر کي جوړيږي د مار سر او دوا دواړه وسوځوي يو ذات يې کړي، د داسي دوا استعمال صحيح دى او کنه؟ (۱۳۳۸/۵۸۹هـ)

ځواب: د حرامي دوا استعمال په داسي حال کي فقهاء جائز ليکلى دى چي طبيب مسلمان حاذق د دې مفيد کېدل بيان کړي او کومه بله پاکه دوا د دې بدل نشي کېدلاى(۱) نو همدغه حکم د دغه دوا دى کومه چي د مار په سر کي تياريږي که د مار سر دا ډول وسوځول شي چي هيره شي لکه چي لرګي او تپى چي سوځول کيږي نو هيره پاکه ده(۲) په داسي حال کي د دغه دوا په استعمالولو کي و کوم شرط ته ضرورت نشته فقط

د ناپاک شي خارجي استعمال څنګه دى؟

سوال: (۲۲۲) د پليت شي خارجي استعمال صحيح دى او کنه؟ که دى نو آيا ميته او شراب هم پکي داخل دي؟ او که داخل نه دي نو ما به الفرق څه دى؟ دا پر استصباح دهن نجس (په پليتو تيلو ډيوه بلولو) ولي نه قياسوئ؟ (۱۳۳۴/۳۳/۵۷۰هـ)

ځواب: د شامي په لومړي ټوک کي د ستر عورت په بيان کي د در مختار د دغه قول: و لبس ثوب نجس

---

(۱) يجوز للعليل شرب الدم و البول و أكل الميتة للتداوى إذا اخبره طبيب مسلم أن شفاءه فيه و لم يجد من المباح ما يقوم مقامه(الفتاوى الهندية: ۳۵۵/۵، كتاب الكراهية الباب الثامن عشر فى التداوى و المعالجات الخ)

(۲) قوله: (و يطهر زيت الخ) ... فيدخل فيه كل ما كان فيه تغير و انقلاب حقيقة و كان فيه بلوى عامة ... و عذرة صارت رمادًا او حمأة، فإن ذلک كله انقلاب حقيقة إلى حقيقة أخرى لا مجرد انقلاب و صف الخ(رد المحتار ۲۳۱/۱، كتاب الطهارة، باب الأنجاس. ط رشيديه)

قوله: (و الحرق كالغسل) لأن النار يأكل ما فيه من النجاسة حتى لا يبقى فيه شئ ... و لهذا لو أحرقت العذرة و صارت رمادًا طهرت للاستحالة كالخمر إذا تخللت الخ (الشامى ۵۱۹/۵ كتاب الخنثى مسائل شتى. ط رشيديه)

فی غیر صلوة په وضاحت کې بیان کړی دی. قال ط: و لم یتعرض لحکم تلویثه بالنجاسة و الظاهر أنه مکروه لأنه اشتغال بما لا یفید الخ(۱) له دې ځخه معلومیږي چې بېله ضرورته د نجس شي استعمال خارجًا هم مکروه دی او د شرابو او میتې هم دا حکم دی، د تداوی د ضرورت لپاره باید صحیح شی، ځکه چې په دې کې علت د اشتغال بمالایفید موجود نه دی.

په کوم ولهم چې د خنزیر وازګه ګډه وي

سوال: (۲۲۳) د انګریزي شفاخانو په ډېرو دواوو کې شراب ګډوي د خنزیر وازګه په ډیرو ولهمو ګډه وي، له دې ځخه پرته د خالصو شرابو څو قسمه د ډیرو مرضونو لپاره مستعمل دي مثلاً د نمونیا(د سږي پاړسوب لپاره) او په خارجي او داخلي توګه د دغه دواوو استعمال کیږي، دا جائز دي او کنه؟(۱۳۳۷/۷۳۷هـ)

ځواب: په کومه دوا کې چې د شرابو یا خنزیر د وازګو او نورو کېدل ثابت وي د هغو استعمال حرام او ناجائز دی او د داسې دواوو د خارجي او داخلي استعمال د جواز لپاره هغه شرطونه دي کوم چې فقهاء د حرام دوا د جواز لپاره ضروري لیکلي دي مثلاً دا چې په تجربه یا حاذق طبیب په وینا به د دې نافع کېدل یقیني وي او په حلاله دوا کې بدل نه وي(۲) په مهلک او خطرناک مرض کې هم دا قاعده جاري کیږي چې که د دغه حرامې او پلیتې یا مشتبه دوا مفید کېدل ثابت وي او حلاله دوا د دې په بدل دومره مؤثره نه وي نو حرامه دوا په داسې وخت کې حلاله ګرځي.

سوال: (۲۲۴) په کومو انګریزي ولهمو کې چې د خنزیر او نورو وازګه ګډه وي د هغو رانیول خرڅول او استعمال جائز دی او کنه؟(۱۳۳۹/۲۰۳۷هـ)

ځواب: ناجائز دی استعمال یې هم ناجائز دی او د مجبورۍ حکم بېل دی. فقط

---

(۱) الدر المختار مع الشامي ۲۹۷/۱ کتاب الصلاة، باب شروط الصلاة، مطلب فی ستر العورة. ط رشیدیه

(۲) قوله: (اختلف فی التداوی بالمحرم) ففی النهایة عن الذخیرة: یجوز إن علم فیه شفاء و لم یعلم دواء آخر الخ(رد المحتار ۱۵٤/۱، کتاب الطهارة، باب المیاه، مطلب فی التداوی بالمحرم. ط رشیدیه)

د چونګوښي او نورو چینجیانو له تیلو جوړي شوي دوا حکم

سوال: (۲۲۵) یوه دوا د څو واره تجربه کولو سره ډېره مجربه ثابته شوې مګر د غیر ماکول اللحم حیوانانو چونګښي او نورو چینجیانو له تیلو تیاره شوې ده د داسې دوا داخلي یا خارجي استعمال کولای شو او کنه؟ (۱۳۴۷-۴۲/۱۳۱۴هـ)

ځواب: د حرامي دوا نافع کېدل که په تجربه او حاذق طبیب په رایه معلوم شي نو فقهاء رحمهم الله د شدید ضرورت پر مهال چي کله په بدل کي کومه حلاله دوا نه وي، د دې د خوراک او استعمال اجازه کړې ده، کما فی الشامي: و قیل بالجواز إذا علم فیه الشفاء کما فی الفتح هنا و قال فی موضع آخر: إن أهل الطب یثبتون نفعًا للبن البنت للعین و هی مـن أفراد مسئلة الانتفاع بالمحرم للتداوی کالخمر، و اختار فی النهایة و الخانیة الجواز إذا علـم فیـه الشفاء و لم یجد دواء غیره بحر(۱) (۱۱۳/٤) فقط

د زمرۍ او سانډا د وازګو خراجي استعمال

سوال: (۲۲۶) د یو سړي د شېر او سانډا(۲) د وازګي ته پر خپل بدن باندي مالشولو ته ضرورت دی نو د دواء په توګه استعمال جائز دی او کنه؟ او د لمانځه پر وخت که پرېمنځلای شي نو بې له پرېمنځلو لمونځ ورسره روا دی که ناروا؟ (۱۳۴۵-۴۴/۲۲۰هـ)

ځواب: د ناپاکو او حرامو شیانو استعمال د دوا لپاره هغه وخت جائز دی چي کومه بله حلاله دوا یې بدل نه وي او حاذق طبیب ورته ووایي نو که داسي وي نو د حرامي دوا استعمال جائز دی او که نشي پرېمنځلای نو بېله پرېمنځلو لمونځ ورسره صحیح دی(لیکن که پرېمنځلای شي نو د لمانځه پر مهال یې پرېمنځل ضروري دي بېله پرېمنځلو لمونځ نه صحیح کیږي محمد امین پالن پوري)

(۱) الشامي ٤/۱۲٦، کتاب البیوع، باب البیع الفاسد، مطلب فی التداوی بلبن البنت للرمدقولان.

(۲) سانډا د سمساري په رنګه یو حیوان دی چي د ګوډو د درد لپاره تېل کارول کیږي(فیروز اللغات)

سوال: (۲۲۷) یو عنین(نامرد) سړی چي هر ډول علاج یې کړی دی خو فایده یې نه ده شوې، دی د حرامو شیانو استعمال کولای شي او کنه؟ یعني د چونګښي، ساندا او نورو چینجیانو له روغنو څخه چي دوا جوړه کړې استعمالولای شي او کنه؟(۷۰۲/۱۳۴۵هـ)

ځواب: د ضرورت پر مهال د حرامو شیانو دوا استعمالول جائز دي، په دې شرط چي د حاذق طبیب په رایه د دوا مفید کېدو غالب ګمان وي، قال في الشامي: و اختار في النهاية و الخانية للجواز إذا علم فيه الشفاء و لم يجد دواء غيره بحر(۱) فقط

په کومه دوا چي شراب ګډ شوي وي هغه څنګه ده؟

سوال: (۲۲۸) په کومه دوا کي چي شراب وي په هغه علاج کول جائز دي او کنه؟ (۹۲۷/۱۳۴۵هـ)

ځواب: په کومه دوا کي چي د شرابو کېدل یقیني وي په هغه سره علاج کول او د هغه دوا استعمالول بېله هغه صورته چي پکي حرامه دوا هم جائز کیږي، جائز نه دي او د حرامي دوا استعمال هغه وخت صحیح دی چي د حاذق طبیب په رایه هغه زیاته مفیده وي او د فائدې لپاره متعینه وي، د دې په بدل کي حلاله دوا نه وي، كما حققه الفقهاء رحمهم الله(۲) فقط

سوال: (۲۲۹) یو سړی له پنځه ویشت کلونو راهیسي په ډېرو ناجوړیو اخته دی علاج یې په ډاکتري دوایانو کېدی ترڅو چي دوا استعمالوي تر هغو خو ښه وي او کله چي دوا پرېږدي نو ناجوړه شي اوس دا ته معلومه شوې ده چي دغه دواوي زیاتره له شرابو او نورو څخه جوړي شوي وي، څکه دا دوا پرېښوده چي له امله ډېر په تکلیف دی اوس وفرمایاست په داسي حال کي د دغه دواوو استعمال څنګه دی؟(۲۰۰۲/۳۳-۱۳۳۴)

ځواب: د حرامو دواوو استعمال په داسي صورت کي چي نفع یې ثابته وي او په حلالو دوایانو کي بدل نه وي فقهاء جائز لیکلي دي نو په داسي ضرورت کي د حرامو دواوو استعمال د ضرورت په اندازه

---

(۱) رد المحتار ۱۲٦/٤، كتاب البيوع، باب البيع الفاسد، مطلب في التداوي بلبن البنت للرمد إلخ. ط رشيديه

(۲) يجوز للعليل شرب الدم و البول و أكل الميتة للتداوي إذا أخبره طبيب مسلم أن شفاءه فيه و لم يجد في المباح ما يقوم مقامه(الفتاوى الهندية: ٣٥٥/٥، كتاب الكراهية، الباب الثامن عشر في التداوي و المعالجات الخ)

صحیح دي. فقط و الله تعالی اعلم

د مجبورۍ په حالت کې د دوا په توګه شراب استعمالول

سوال: (۲۳۰) د شرابو استعمال د دوا په توګه جائز دی او کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۸۷۱هـ)

ځواب: په خاصو ناجوړيو کې چې پکې بله کومه دوا فایده نه کوي او د شرابو فایده کول په تجربه ثابت وي نو د ضرورت پر مهال د شرابو استعمال روا دی. فقط

سوال: (۲۳۱) اته کاله کیږي چې زه د زړه مریض یم، ډېر په تکلیف یم، څو مره چې کېدلای شو یوناني او ډاکټري علاج مې وکړی خو هیڅ فایده مې و نه لیده اوس دوو څلورو ډاکټرانو طبیبانو په اتفاق سره دا رایه قائمه کړې ده چې ترڅه موده پورې به هره ورځ یوه د چرګې هګۍ د یوې تولې شرابو سره خورې، آیا په داسې حال کې د شرابو استعمال جائز دی او کنه؟ (۱۳۴۷-۴۲/۳۸۲هـ)

ځواب: د داسې مجبورۍ په حالت کې کله چې حاذق ډاکټر او حکیم کومه بله دوا تجویز نکړي ځیني فقهاء رحمهم الله د حرامې دوا شرابو او نورو د استعمال اجازه کړې ده لهذا په داسې حالت د مرض کې د شرابو استعمال د دوا په غرض جائز دی. فقط

سوال: (۲۳۲) د یو سړي دماغي ناجوړي ده چې له امله دی و ځان وژنې ته آماده دی هیڅ علاج فایده ورته نه کوي مګر د شرابو په څښلو ډېره تسلي کیږي نو آیا د داسې عذر پر مهال د ده لپاره شراب څښل جائز دي؟ (۱۳۳۸/۱۹۵۷هـ)

ځواب: که کومه بله دوا مفیده نه وي نو د مجبورۍ پر مهال د حرامې دوا فقهاء اجازه کړې ده، لهذا په داسې وخت کې چې کومه حلاله دوا د دغه مرض لپاره فایده نه کوي د شرابو تداوي روا ده.

د ژوندي چرګ خېټه څيري کړي و مریض ته پر سر ورتړي

سوال: (۲۳۳) د ژوندي چرګ نس ورڅیري کړي د سرسام(۱) و مریض ته پر سر ورتړي

---

(۱) سرسام: یوه ناجوړي ده چې ماغزه پکې وپړسیږي (فیروز اللغات)

آیا دا جائز دي؟(۱۳۳۵/۱۰۰هـ)

ځواب: بېله حلالولو داسي کول صحیح نه دي په دې کي تعذیب دی او بیا استعمال د میتې پخپله حرام دی. فقط و الله تعالی اعلم

مجبوراً د دوا په توګه د تاریاقو استعمال او رانیول خرڅول

سوال: (۲۳۴) د مایوس العلاج مریض لپاره که کوم مسلمان حاذق حکیم په افیونو علاج کول بیان کړي نو شرعًا به تاریاق خوړل جائز وي او کنه؟ د جواز په صورت به رانیول خرڅول هم جائز وي او کنه؟ (۱۳۴۲/۲۷۴۴هـ)

ځواب: قال فی الدر المختار: و کذا کل تداو لا یجوز إلا بطاهر، و جوزه فی النهایة بمحرم إذا أخبره طبیب مسلم أن فیه شفاء و لم یجد مباحا یقوم مقامه الخ(۱) و صح بیع غیر الخمر مما مر و مفاده صحة بیع الحشیشة و الأفیون الخ(در مختار) ثم إن البیع و إن صح لکنه یکره(۲) (شامي) و فیه أن جواز إقدام المشتری علی الشراء للضرورة لا یفید صحة البیع کما لو اضطر إلی دفع الرشوة لإحیاء حقه جاز له الدفع و حرم علی القابض الخ(۳) (شامي)

له دغه عبارتونو څخه د ضرورت پر مهال په حرامو سره د تداوی جواز او د افیونو د بیع او شراء صحیح کېدل معلوم شو او له آخرني عبارت څخه دا هم څرګند شو چي د تداوي جواز د بیع و جواز ته مستلزم نه دی، ځکه چي تداوي په هره حرام سره په معتبرو شرطو جائز ده اما بیع بې جائز نه ده مګر د افیونو بیع او شراء امام صاحب بې د تداوي له ضرورته هم جائز مع الکراهت بولي، نو د تداوی د ضرورت پر مهال خو په اولی طریقه جائز ده.

په مجبوري کي د حمل مانع دوا استعمالول

سوال: (۲۳۵) زینب کونده شوه وروسته بې د خپلو ورنهو له رضا د کلیوالو

---

(۱) الدر المختار مع الشامي ۲۷۵/۵، کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی البیع. ط رشیدیه

(۲) الدر المختار و رد المحتار ۳۲۳/۵، کتاب الأشربة. ط رشیدیه

(۳) رد المحتار ۱۲۷/٤ کتاب البیوع، باب البیع الفاسد، مطلب فی التداوی بلبن البنت للرمد قولان. ط رشیدیه

په پټه بل ځای نکاح وکړه، راجپوت قام بله نکاح بده بولي او د زینب لپاره نکاح کول ضروري و ځکه دې بله نکاح پخپله د زید سره وکړه، څه موده وروسته زینب حامله شوه، ډېره په مشکل کې ولوېده که حمل پرېږدي نو کلیوال او ورونه به دواړه مړه کړي، د همدې وېرې له اَمله حمل خو یې په دوې میاشتې کې دننه د دوا په استعمال ساقط کړی خو بیا هم وېره لري چې داسې نه بیا حمل وشي که کوم داسې علاج وکړي چې حمل نشي وه نو جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۸/۴۵۳ھ)

ځواب: که د داسې وېرې په حالت کې چې د هلاکت اندېښنه وي که داسې علاج وکړي نو انشاء الله څه ګناه به پر نه وي لکه چې عزل هم په داسې حالت کې صحیح کېدلای شي لیکن د کوم انسان چې راتلل وي هغه به راځي که علاج وي او که نه وي. فقط

سوال: (۲۳۶) د زید ښځه د ډېرو بچیانو له زېږېدو ډېره زیاته کمزورې ده، د زید او د ده د ښځې دا خوښه ده چې د یو دوا په وسیله توالد او تناسل ختم کړي چې جماع کوي خو اولاد به نه وي، دا فعل جائز دی او کنه؟ (۱۳۳۸/۱۰۲۸ھ)

ځواب: په مذکوره صورت کې د بیان شوي عذر په اساس داسې کول صحیح دي، كما قالوا فى إسقاط الحمل قبل التخليق: قال فى النهر: بقى هل يباح الإسقاط بعد الحمل؟ نعم، يباح ما لم يتخلق منه شئ الخ(۱) (شامي: ۳۸۰/۲) فقط

د پنځو شپږو میاشتو حمل ساقطول حرام دي

سوال: (۲۳۷) یوه ښځه کونډه شوه دې ته د بلې نکاح په هکله وویل شو خو دې انکار وکړی وروسته د یو سړي څخه حامله شوه درې څلور میاشتې وروسته د دغه سړي سره نکاح وکړه په شپږ میاشتې چې کله حمل ظاهر شو نو ساقط یې کړی نو آیا دا نکاح صحیح شوې ده او کنه؟ او د شپږ او وو میاشتو حمل ساقطول جائز دي او کنه؟ د دې په اړه څه حکم دی؟ او د زاني څه سزا ده؟ (۱۳۴۷-۴۲/۳۱۷۴ھ)

---

(۱) ردالمحتار ۴۱۲/۲، كتاب النكاح، باب نكاح الرقيق، مطلب فى حكم إسقاط الحمل. ط رشيديه

ځواب: زنا کول حرام او کبیره ګناه ده او د زاني شرعي سزا دا ده چي په کاڼو(ډبرو) بې سنګسار کړي کله چي شرعًا د ده زنا ثابته شي او دا شدیده ګناه ده چي کونډه له نکاح کولو څخه انکار وکړي اوزنا وکړي او دا مسئله ځان ته ده چي کومه ښځه په زنا حامله شي د هغې نکاح د حمل پر مهال صحیح ده او کنه؟ نو شرعي حکم دا دی چي د حاملې من الزنا نکاح د حمل پر مهال د زاني او نازاني سره صحیح ده لیکن که نکاح د زاني سره وشي لکه چي په مسئوله صورت کي چي شوي دي نو د خاوند لپاره د بچي تر زېږېدو مخکي د حمل په حالت کي ورسره کوروالی کول هم جائز دی او که نکاح د نازاني سره شوې ده نو د ده لپاره د حمل پر مهال جماع کول صحیح نه دي، په حدیث شریف کي راغلي دي: لئلا یسقی ماءه زرع غیره(۱) او د پنځو شپږو میاشتو حمل ساقطول حرام او ناجائز دي داسي کونکی سخت ګنهکار او ظالم دی. فقط

مات شوی یا ختلی غاښ بیرته لګول

سوال: (۲۳۸) مات شوی یا ختلی غاښ بیرته لګول جائز دي او کنه؟(۱۳۴۳/۸۳۱هـ)

ځواب: د کوم چا غاښ چي مات شي ورژیږي، د ده لپاره نوی غاښ یا هم هغه غاښ لګول جائز دي مګر احتیاط په دې کي دی چي کوم غاښ مات شوی او رژېدلی دی هغه مه لګوئ فإن أبا حنیفة رحمة الله علیه یکره أن یعیدها و یشدها بفضة او ذهب إلخ(۲) (شامي پنځم ټوک) لیکن که چا داسي وکړو نو جائز دي د امام ابو یوسف رحمه الله همدا مذهب دی ځکه ګنجائش شته، په قاضي خان کي راغلي دي: و قال ابو یوسف رحمة الله علیه: لا بأس بأن یشد ثنیته فی موضعها(۳)

---

(۱) عن حنش الصنعاني عن رویفع بن ثابت الأنصاري قال: قام فینا خطیبا قال: أما أني لا أقول لکم إلا ما سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول یوم حنین: قال: لا یحل لامرئ یؤمن بالله و الیوم الآخر أن یسقی ماءه زرع غیره یعنی إتیان الحبالی الحدیث(سنن ابی داؤد ص: ۲۹۳، کتاب النکاح، باب فی وطی السبایا)

(۲) الشامي ۲۵۵/۵، کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی اللبس. ط رشیدیه

(۳) الفتاوی الخانیة علی الفتاوی الهندیة: ۴۱۳/۳، کتاب الحظر و الإباحة، باب ما یکره من الثیاب و الحلی و الزینة و ما لا یکره.

او په البحر الرائق کي راغلي دي: و قال ابو يوسف رحمة الله عليه: يشدها بالذهب و الفضة في مكانها(۱) و ذكر في جامع الصغير: إذا تحرک سن الرجل فشدها بذهب، قال محمد رحمه الله تعالى: لا بأس به، و هو قول أبي حنيفة رحمه الله تعالى الأول(۲) او په شامي کي راغلي دي: و جوزهما محمد أي جوز الذهب و الفضة أي جوز الشد بهما إلخ(۳) په قاضي خان کي راغلي دي: و كذا إذا سقطت سنه لا بأس بأن يتخذ سنًا من فضة و يكره أن يتخذ من ذهب إلخ(۴) فقط

غاښ ډکول

سوال: (۲۳۹) زما د نبي‌زامي په غاښ کي يو کډی شوی دی چي خوراک کوم نو تقريبًا د نيمي وريجي په اندازه خوراک پکي بنديږي ترڅو چي نه راوباسم تر هغو قرار نه راځي چي او به څنبم درد کوي دغه د غاښ کډی ډکول شرعًا صحيح دي او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۹۴هـ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: و لا طعام بين أسنانه او في سنه المجوف، به يفتى و قيل: إن صلبا منع و هو الأصح(۵) او شامي هم دغه آخري قول ته صحيح ويلي دي(۶) نو معلوم شو چي خالي غاښ په کوم داسي شي ډکول چي د اوبو دننه تلو ته خنډ وي د غسل لپاره حارج دی او غسل نه ادا کيږي(۷) اما په اوداسه کي خو خوله پر بمنځل فرض نه دي سنت دي ځکه اودس صحيح کيږي، که څه هم ترک د سنتو راځي

---

(۱) تكملة البحر الرائق: ۳٤۲/۹، كتاب الكراهية، فصل في الأكل و الشرب.

(۲) الفتاوى الخانية على الهندية: ٤۱۳/۳، كتاب الحظر و الإباحة، باب ما يكره الخ.

(۳) الشامي ۲٥٥/٥، كتاب الحظر و الإباحة، فصل في اللبس. ط رشيديه

(٤) الفتاوى الخانية على الهندية: ٤۱۳/۳، كتاب الحظر و الإباحة، باب ما يكره الخ.

(٥) الدر المختار مع الرد ۱۱٤/۱، كتاب الطهارة، قبيل سنن الغسل. ط رشيديه .

(٦) قوله: (و هو الأصح) صرح به في شرح المنية لامتناع نفوذ الماء مع عدم الضرورة و الحرج اهـ و لا يخفى أن التصحيح لا ينافي ما قبله، فافهم (الشامي ۱۱٤/۱، كتاب الطهارة، مطلب في ابحاث الغسل، قبيل: سنن الغسل)

(۷) اصح خبره دا ده چي غسل صحيح کيږي په کفايت المفتى کي راغلي دي:
جواب: (۱۸۲) د غاښونو د کومي خرابی په وجه د سرو زرو پوښ په اغوستل جائز دي او صرف د ښائست لپاره په اغوستل مکروه دي او که د ضرورت په وجه په اغوستی وي او که بيله ضرورته په هر صورت کي د غسل او اودس لپاره مانع نه دي ځکه چي دا د -

لیکن په غسل کي د ننه خولې ته اوبه رسول فرض دي لهذا په داسي شي سره ډکولو چي د اوبو رسولو ته خنډ وي غسل نه ادا کیږي. فقط

د ډبري یا هډوکي غاښ لګول جائز دي

سوال: (۲۴۰) د کوم چا غاښ چي په ضعیفي کي ووځي د هغه لپاره د ډبري(کاني) یا هډوکي غاښ لګول جائز دي او کنه؟(۱۳۳۵/۹۴۵ھ)

ځواب: جائز دي. فقط

د دوا او اوبو ډک د خاوري منګی د آس په خرشنو کي ایښودل

سوال: (۲۴۱) د یو خاوري په منګي کي که سرې دواوي او اوبه واچوي د منګي خوله بنده کړي او دومره کړۍ وکیندي چي منګی پکي راځي پر منګي لوړ او لاندي د آس خرشنه کښیږدي او په داسي ځای کي دا کښیږدي چیري چي شونو او د لمر رڼا دواړه پر لګیږي پنځلس ورځي وروسته راوباسي د دغه دواوو عرق او جوس راوباسي، د داسي دوا استعمال خو به د مسلمانانو لپاره تاواني نه وي؟
(۱۳۴۰/۹۳۲ھ)

ځواب: د خاوري منګی خو پلیتي راکشوي او د دې اثر د ننه ځي ځکه دغه دواوي

-یو لازم جز حیثیت لري، په خلاف د اوړو او رونو خیرو چي هغه لازم جز نه دي. محمد کفایت الله کان الله له(کفایت المفق: ۱۴۷/۹، کتاب الحظر و الإباحة)

جواب (۱۹۷) په غاښونو د سرو زرو پوښ اغوستل که د غاښونو د کوم مرض په وجه ضروري وي یا په غاښونو کي د کوم مرض پیدا کېدو اندېښنه وي له هغه ځخه د خوندي کولو لپاره پوښ په اغوستل ضروري وي نو د سرو زرو پوښ په اغوستل مباح دي او که ضروري نه وي صرف د زینت او بنائست لپاره وي نو مکروه دي او په هر صورت کله چي د پوښ راکښل متعذر وي نو د غاښونو په حکم کي ګرځي او په اودس او غسل کي هیڅ نقصان نه راځي، للحرج المدفوع شرعًا. فقط محمد کفایت الله کان الله له دهلي(کفایت المفق: ۱۵۵/۹، کتاب الحظر و الإباحة)

پليتي شوي استعمال د دوى صحيح نه دى، مګر په هغه شرط سره کوم چي د حرامو دواوو د استعمال د جواز لپاره فقهاء ليکلي دي مثلاً دا چي مسلمان حاذق طبيب ووايي چي دا مفيده ده او په حلاله دوا کي د دې بدل نه وي. فقط

د علاج لپاره د سپينو زرو چلى استعمالول

سوال: (۲۴۲) يو سړى د نقرس(۱) مرض علاج داسي کوي چي د دواړو پښو په بټو ګوتو د سپينو زرو چلى وراغوندي، د زيد دغه ناجوړي ده، د ده لپاره د علاج په غرض د سپينو زرو چلى استعمالول صحيح دي او کنه؟ (۱۳۴۲/۲۵۱۳هـ)

ځواب: د علاج په توګه د سپينو زرو چلى د زيد لپاره په دغه حالت کي صحيح دى او زيد نه ګنهکاريږي او د ده په لمانځه کي هيڅ تاوان نه راځي، لأن الضرورات تبيح المحظورات(۲) فقط

د غولو د چينجي د خولي اوبه په سترګه کي اچول

سوال: (۲۴۳) يو څه پاکي دواياني د انسان په غولو کي واچوي پکي چينجي پيدا شي، بيا د دغه چينجيانو د خولي اوبه په سلائي سره په سترګو کي لګول کيږي ځکه چي دا د سترګو د هر ډول ناجوړيو د علاج لپاره فائده کوي دا جائز دي او کنه؟

(۱۳۴۲/۲۷۴۸هـ)

ځواب: د ضرورت پر مهال د علاج لپاره دغه اوبه او لاړي په سترګو کي اچول جائز دي. فقط

د بدن جوړ ساتلو لپاره شراب خوړل جائز نه دي

سوال: (۲۴۴) د بدن د صحت قائم ساتلو لپاره که ډاکټر د شرابو خوړلو ووايي نو د

---

(۱) النقرس: د پښو د بندونو ناجوړي چي زياتره په بټه ګوته کي وي نوم يې داء الملوک هم دى (القاموس الوحيد)

(۲) قواعد الفقه: ص: ۸۹، قاعده: ۱۷۰، و أيضًا في الدر المختار مع الرد ۲/ ۶۷۰، كتاب الطلاق، باب العدة، فصل في الحداد. ط رشيديه

شرابو استعمال جائز دی او کنه؟ (۳۵۰۷/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: صرف د بدن د صحت قائم ساتلو لپاره شراب خوړل جائز نه دي. قال النبي صلى الله عليه وسلم: إن الله لم يجعل شفاءكم فيما حرم عليكم او كما قال صلى الله عليه وسلم(۱) فقط

د وفات شوي ښځې خېټه د ماشوم را ایستلو لپاره څیرل

سوال: (۷۴۵) که ښځه د څلورو یا شپږو یا اوو یا نهو میاشتو حامله وي چې وفات شي نو د ماشوم را ایستلو لپاره د دې خېټه څیري کړو او کنه؟ (۲۲۰۹/۱۳۳۷هـ)

ځواب: په در مختار کې لیکلي دي چې که حامله ښځه مړه شي او ماشوم یې په خېټهٔ کې ژوندی وي حرکت کوي نو خېټه څیري کړئ، ماشوم ځني را وباسئ، نو که د حمل دومره موده وشي چې بچی یې په خېټه کې حرکت کوي او د مور له مرګ وروسته هم د ده حرکت وي هغه وخت دا بیان شوی حکم دی د کومې مودې قید وروسره نشته، بلکه که د حاملې نهمه میاشته هم وي او په خېټه کې د ماشوم حرکت نه معلومېدی نو خېټهٔ مه څیرئ بلکه بنیاد د ماشوم پر ژوند او حرکت دی، پر کومه موده نه دی، لکه چې په در مختار کې راغلي دي: حامل ماتت و ولدها حي يضطرب شق بطنها من الأيسر و يخرج ولدها إلخ(۲) ترجمه د دې دا ده چې حامله ښځه وفات شوه، په خېټه کې بچی ژوندی دی حرکت کوي نو پر کیڼ طرف دي د ښځې خېټه څیري کړي، بچی دې ځني راوباسي. فقط

د ماشوم نوم باید په تجربه کار پرې شي

سوال: (۷۴۶) د ماشوم تر پیدا کېدلو وروسته نو پخپله پرې کول پکار دی که په بل تجربه کار پرې کول

---

(۱) صحیح البخاری: ۲/ ۸٤٠، کتاب الأشربة، باب شراب الحلواء و العسل.

(۲) الدر المختار مع الشامي ٦٦٢/١، کتاب الصلاة، باب صلوة الجنازة، مطلب فی دفن المیت. ط رشیدیه

پکار دی؟ ترجیح چاته ده؟ (۱۲۹۱/۱۳۴۰هـ)

ځواب: څوک چې ښه په پوهیږي، په هم هغه پرې کول پکار دي او په دې کې بحث کول فضول دي شرعًا په دې کې کوم نص نشته او هیڅا ته ترجیح ورکول نه دي بیان شوي چې څرنګه موقع وي او څوک چې په پوه وي هغه دي دا کار وکړي.

د انسان هډونه ماتول او څیرل د ځانه سره ایښودل

سوال: (۲۴۷) د انسان هډونه که مسلمان وي که نامسلمان د تشریح په غرض مسه کول د ځان سره ایښودل او په روپیو رانیول هر هر اندام یې بېلول جائز دي او که نه؟

(۲۵۲/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: په شریعت کې دا کار ناروا دی، فقهاء لیکلي دي چې د کافر ذمي هډونه هم محترم دي، د دوی هډونه هم ماتول او څیرل نه دي پکار، چیرې چې بیا د مسلمان مړي سره دا سې عمل وشي، قال فی الدر المختار: (عظم الذمی محترم) ... لأنه کما حرم إیذاؤه فی حیاته لأنه مثلة، وجبت صیانة نفسه عن الکسر بعد موته، خانیة(۱) (شامي) و الحدیث کسر عظم المیت ککسره حیا(۲) قال الطیبی إشارة إلی أنه لا یهان المیت کما لا یهان الحی(۳) فقط

د خبث الحدید کشته په شرابو کې خیشتول

سوال: (۲۴۸) یو سړی د خبث الحدید(۴) کشته په شرابو کې خیشته کړه وچیدو وروسته

---

(۱) الدر المختار و رد المحتار ۶۶۸/۱، کتاب الصلاة، باب صلوة الجنازة، مطلب فی وضع الجرید و نحو الآس علی القبور. ط رشیدیه

(۲) عن عائشة رضی الله عنها أن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: کسر عظم المیت ککسره حیا(سنن أبی داؤد: ص: ۴۵۸، کتاب الجنائز، باب فی الحفار یجد العظم هل ینکب ذلک المکان)

(۳) هامش مشکاة المصابیح: ص: ۱۴۹، کتاب الجنائز، باب دفن المیت، الفصل الثانی، رقم الحاشیة: ۶.

(۴) خبث الحدید: د اوسپنې خیره(فیروز اللغات)

خوړل جائز دي او کنه؟ لکه چي له شرابو سرکه جوړیږي نو فقها هغه جائز بللي دي؟ (۹۴۹/۱۳۴۰هـ)

ځواب: جائز نه دي ځکه چي د شرابو په لوښدو خبث الحدید پلیت شو. بیرته په وچیدو نه پاکیږي او قیاس پر سرکه باندي صحیح نه دی. فقط

د طاعون یا هیضه په ناجوړي کي مړ شوی شهید دی

سوال: (۲۴۹) په طاعون یا هیضه یا اور سوځلي یا د کور په نړېدلو کي وفات شوي شهیدان دي او کنه؟ (۲۲۰۳/۱۳۴۳هـ)

ځواب: په بیان شویو اسبابو وفات شوي د شهادت درجه حاصلولای شي. قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الطاعون شهادة لكل مسلم(۱) (صحيح بخاري) و عن جابر بن عتيك رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الشهادة سبع سوى القتل فى سبيل الله: المطعون شيهد و الغريق شهيد الحديث(۲) (مشكوة شريف: باب عيادة المريض و ثواب المرض) و على هذا فى البحر: فقد شهد رسول الله صلى الله عليه وسلم للغريق و للحريق والمبطون و الغريب بأنهم شهداء فينالون ثواب الشهداء كذا فى البدائع(۳) انتهى، أقول: و هكذا فى الدر المختار شرح تنوير الأبصار مع الشامى، و فيه ايضًا: و المهدوم عليه الخ(٤)

سوال: (۲۵۰) د طاعون په مرض کي وفات شوی شهید دی او کنه؟ (۸۰۸/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: دا اسي سړی شهید دی، کما ورد فی الحدیث. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) صحيح البخارى: ۸۵۳/۲، كتاب الطب، باب ما يذكر فى الطاعون.

(۲) مشكوة المصابيح، ص: ۱۳۶، كتاب الجنائز، باب عيادة المريض و ثواب المرض، الفصل الثانى.

(۳) البحر الرائق: ۳٤۳/۲، كتاب الجنائز، باب الشهيد.

(٤) الدر مع الرد ٦۷۲/۱، كتاب الصلوة، باب الشهيد، مطلب فى تعداد الشهداء. ط رشيديه

د آب او هوا بدلولو لپاره د طاعون له ځايه وتل

سوال: (۲۵۱) په کوم ښار يا کلي کې چې د طاعون وبا راشي، د هغه ځای او سيدونکي مسلمانان آيا کلي پريږدي، ځنګلونو ته لاړ شي، که په خپلو خپلو کورونو کې د الله په آسرا کښيني؟ که تېښته جائز ده نو د هغه څه احکام او اشکال دي؟ او که د هستوګنې په کور کې اوسيدل دي نو د دې په اړه رسول الله صلی الله عليه وسلم څه فرمايي؟ لنډه دا چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم چې څه فرمان وي، پرې خبر مو کړئ (۱۳۳۵/۲۴۰ھ)

ځواب: په در مختار (کوم چې د حنفي فقه جامع او معتبر کتاب دی) کې راغلي دي: و إذا خرج من بلدة بها الطاعون فإن علم ان کل شئ بقدر الله تعالی فلا بأس بأن يخرج و يدخل و إن کان عنده أنه لو خرج نجاولو دخل ابتلی به کره له ذلک، فلا يدخل و لا يخرج صيانة لاعتقاده و عليه حمل النهی فی الحديث الشريف مجمع الفتاوی(۱) (در مختار) لنډه دا چې که د طاعون له ښاره ووځي يا ورداخل شي نو که د ده عقيده دا ده چې هر څه د الله په تقدير دي نو د ده په هکله وتل او ورداخلېدل صحيح دي او که د ده عقيده دا ده چې د وتلو له امله به له مرګه خلاص شي او که داخل شو نو په طاعون به مبتلا شي نو د ده لپاره دخول او خروج مکروه دی، نو داسې عقيده لرونکي دي نه داخلېږي او نه خارجېږي او د حديث شريف ممانعت پر همدې حمل دی الخ فقط و الله اعلم

سوال: (۲۵۲) که طاعون راغلی وي نو له سيمې وتل په ځنګل يا بل ځای کې هستوګنه کول څنګه دي؟ د دې په اړه کوم حديث شريف شته؟ (۱۳۴۳/۲۲۰۳ھ)

ځواب: عن ابن شهاب عن عبد الله بن عامر أن عمر رضی الله عنه خرج إلی الشام فلما کان بسرغ بلغه أن الوباء وقع بالشام فأخبره عبد الرحمن بن عوف أن رسول الله صلی الله عليه وسلم قال: إذا سمعتم به بأرض فلا تقدموا عليه و إذا وقع بأرض و أنتم بها فلا تخرجوا فرارًا منه(۲) (معالم التنزيل: ۱۱۴/۴) له بيان شوي روايت څخه ظاهر

---

(۱) الدر المختار مع الشامی ۵/۵۳۴، کتاب الخنثی، مسائل شتی، قبيل کتاب الفرائض. ط رشيديه

(۲) معالم التنزيل لابی محمد الحسين الفراء البغوي: ص: ۱۱۴، البقرة الآية: ۲۴۳، و صحيح البخاری: ۲/۸۵۳، کتاب الطب، باب ما يذکر فی الطاعون.

دي چي د طاعون وبا د فاروق اعظم رضی الله عنه په زمانه کي راغلې وه او د نبي علیه الصلاة والسلام په زمانه کي که څه هم د دې راتلل ثابت نه دي لیکن ده مبارک د هغو خلګو په هکله چي دا وربانديراغلې وي، فرمایلي دي: چي هر ځای چي داسي وبا راغلې وي نو د هغه ځای اوسیدونکیو ته دا حکم دی چي د دې له ویري دي له هغه ځایه نه تېنبتي او د نورو ځایونو اوسیدونکیو ته نه دي پکار چي خامخا په دغه بل اور کي ځانونه واچوي، لنډه دا چي په بیان شوي حدیث کي دا ځای له خروج او دخول دواړو څخه منع ده لیکن د فقهي په کتابونو کي لیکلي دي چي هغه سړی چي عقیده یې دو مره ټینګه وي چي نفع او ضرر هر څه چي انسان ته رسي، هغه هر څه په الهي تقدیر دي، په هیڅ شي کي قدرت نشته چي بالذات کوم ضرر ورسوي، نو بیا د ده لپاره د طاعون له ځایه خروج او دخول جائز دی او د چا عقیده چي کمزوې وي یعني دا خیال یې وي چي په دلته پاته کېدو کي هلاکت او وتلو کي نجات دی نو د ده لپاره جائز نه دي چي له هغه ځایه ووځي یا هلته ورشي، همدغه د بیان شوي حدیث محمل دی، لکه چي په در مختار کي له مجمع الفتاوی څخه رانقل کړي دي: حیث قال: و إذا خرج من بلدة بها الطاعون فإن علم أن کل شئ بقدر الله تعالی فلا بأس بأن یخرج و یدخل و إن کان عنده أنه لو خرج نجاولو دخل ابتلی به کره له ذلک، فلا یدخل و لا یخرج صیانة لاعتقاده و علیه حمل النهی فی الحدیث الشریف انتهی(۱) (در مختار مع الشامي: ۴۸۲/۵) لنډه دا چي په حدیثو او فقهي روایتونو دا خبره ضرور ثابتیږي چي که کوم څوک صرف د آب او هوا بدلولو په غرض کلی پرېږدي، د دې پر ځنګ یا یو بل ځای قیام وکړي نو د ده لپاره جائز دي، هو که دا قیام د فرار او تیښتي په نیت وي نو جائز نه دی.

سوال: (۲۵۳) زید چي په کوم ښار کي د خپلو بچیانو سره اوسیږي هلته زیاتره خلګ د طاعون په مرض مري، د هغه ښار د پر خلګ نورو ځایونو ته تېنبتي، د زید دا عقیده ده چي هیڅوک بې د الله له امر هر ځای چي وي نشي مړ کېدلای، په داسي صورت کي د وحشت د دفع لپاره له دغه ښار څخه بل ښار ته یا له یوې محلې څخه بلې محلې ته نقل کېدل صحیح دي او کنه؟(۳۲/۱۲۴۵-۱۳۳۳ھ)

ځواب: که د زید عقیده داسي وي لکه چي په سوال کي بیان شوه نو د ده لپاره له دغه ځایه بهر ته تلل یا بلي محلې ته نقلېدل صحیح دي احنافو د خروج او دخول د عدم جواز وجه د عقیدې

---

(۱) الدر المختار مع الشامي ۵۳٤/۵، کتاب الخنثی، مسائل شتی، قبیل کتاب الفرائض. ط رشیدیه

حفاظت لیکلی دی نو که عقیده صحیح وي او داسي سړی پوهیږي چي بې د الله له امره هیڅ نشي کیدلای، نه تښتنه سړی له مرګه خلاصولای شي، نه هلته هستوګنه کول بې د الله له امره سبب د هلاکت کېدلای شي نو د ده په هکله خروج او دخول جائز دی. قال في الدر المختار: و إذا خرج من بلدة بها الطاعون فإن علم أن كل شئ بقدر الله تعالى فلا بأس بأن يخرج و يدخل، و إن كان عنده أنه لو خرج نجا و لو دخل ابتلي به كره له ذلك، فلا يدخل و لا يخرج صيانة لاعتقاده و عليه حمل النهي في الحديث الشريف، مجمع الفتاوى الخ(۱)

سوال: (۲۵۴) په کوم کلي کي چي مړکان مړه شي نو د هغه ځای او سیدونکي کورونه پرېږدي. ځنګل ته ولاړ شي چي کله آرامي شي نو خپلو خپلو کورونو ته ولاړ شي، د دغه انتقال نوم حفظ ما تقدم او د آب او هوا بدلون ږدي، ګو دوی د طاعون د وبا لپاره دا یو ډول علاج بولي، دا جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۸/۱۲۴۲هـ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: و إذا خرج من بلدة بها الطاعون فإن علم أن كل شئ بقدر الله تعالى فلا بأس بأن يخرج و يدخل و إن كان عنده أنه لو خرج نجا و لو دخل ابتلى به كره له ذلك، فلا يدخل و لا يخرج صيانة لاعتقاده و عليه حمل النهي في الحديث الشريف، مجمع الفتاوى الخ(۱) له دغه عبارت څخه د حنفي فقهاء مذهب په دغه هکله څرګند شو چي که عقیده صحیح ده او په دې پوهیږي او عقیده ساتي چي هر کار د الله په تقدیر سره دی. نه خروج خلاصون ورکولای شي او نه هلته پاته کېدل هلاکت راوستلای شي نو د ده لپاره خروج او دخول صحیح دی. فليحفظه هذا الأصل و هو محمل حديث النهي. فقط

سوال: (۲۵۵) په یو ښار کي وبا راغلې ده، زما په کور کي د مړکانو د مرګ په وجه ډیر بدبوی دی، د سیمي ټولو خلکو هندوانو او مسلمانانو کورونه پرېښودو له سیمي دباندي او سیرېږي په داسي حال کي زما لپاره له کلي وتل صحیح دي او کنه؟ (۱۳۳۵/۵۸۹هـ)

ځواب: په داسي صورت کي له کلي دباندي د هوا د سمون په غرض تلل صحیح دي مګر عقیده سمه ساتل پکار ده یعني داسي عقیده نه ده ساتل پکار چي دباندي وتلو کي خلاصون دی او په کلي کي پاته او سېدلو

---

(۱) الدر المختار مع الشامي ۵/۵۳٤، كتاب الخنثى، مسائل شتى، قبيل كتاب الفرائض. ط رشيديه

کي هلاکت دی، بلکه دا عقیده به ساتي چي هر کار مقرر او مقدر دی. نه وتل سړی له مرګه خلاصوي او نه هلته هستوګنه د هلاکت سبب دی، هکذا فی الدر المختار(۱) فقط

سوال: (۲۵۶) په کوم کلي کي چي طاعون یا بله کومه وبا راغلې وي له هغه کلي څخه بل ځای ته تلل جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۵/۷۲۸هـ)

ځواب: حنفي فقهاء دا څرګندونه کړې ده چي په بیان شوي حالت کي که عقیده صحیح وساتي نو له دغه کلي وتل جائز دي، د عقیدې صحیح ساتلو صورت دا دی چي دا به وایي چي هر څه د الله له طرفه کیږي، مرګ او ژوند ټول د الله له طرفه دي، په خروج کي خلاصون نشته او په هلته پاته کېدو کي مرګ نشته، قال فی الدر المختار: و إذا خرج من بلدة بها الطاعون فإن علم أن كل شئ بقدر الله تعالى فلا بأس بأن يخرج و يدخل و إن كـان عنده أنه لو خرج نجاولو دخل ابتلى به كره له ذلك، فلا يدخل و لا يخرج صيانة لاعتقـاده و عليه حمل النهى فى الحديث الشريف، مجمع الفتاوى(۱) (شامي: ۴۸۲/۵، دهلي) فقط

سوال: (۲۵۷) کوم ځای چي طاعون وي، ډاکتران وایي چي هوا خرابه شوه د هوا بدلولو لپاره ووځي، په داسي صورت کي دباندي په ځنګل کي هستوګنه کول صحیح دي او کنه؟ (۱۳۳۵/۱۵۷۳هـ)

ځواب: د آب او هوا د سمون لپاره دباندي تلل او په ځنګل کي هستوګنه کول صحیح دي، په دې کي هیڅ حرج نشته مګر خپله عقیده دي سمه ساتي یعني دا خیال به نه کوي چي په دباندي تلو کي خلاصون دی او په دلته پاته کېدو کي مرګ دی، بلکه مرګ او ژوند دي تقدیر ته وسپاري. فقط

د طاعون له ځایه بل ځای ته د تلونکي ګناه به څنګه معافیږي؟

سوال: (۲۵۸) د طاعون له ځایه عمدًا بل ځای ته تګ څنګه دی؟ داسي کونکی ګنهکار دی او کنه؟ دا ګناه څه ډول معافېدلای شي؟ (۱۳۴۲/۵۳۵هـ)

---

(۱) الدر المختار مع الشامي ۵/۵۳٤، کتاب الخنثى، مسائل شتى، قبيل كتاب الفرائض. ط رشيديه

ځواب: په در مختار کي راغلي دي چي که په دې عقیده ووځي چي دلته پاته کېدل باعث د هلاکت دي او وتل د خلاصون باعث دي نو دا فعل تحریمي مکروه دی(۱) که چا په داسي عقیده داسي وکړو نو هغه ګنهکار شو توبه دي وباسي په توبه دا ګناه معافیږي فقط

د طاعون پیل له کوم وخت څخه دی؟ او له ده څخه د حفاظت دعاګاني کومي دي؟

سوال: (۲۵۹) د طاعون د مرض ابتدا له کوم وخت څخه ده؟ د نبي علیه الصلاة و السلام یا صحابه رضی الله عنهم اجمعین په زمانه کي ؤ او کنه؟ او د دې علاج څه دی؟ د طاعون له ځایه د هوا او اوبو بدلولو په غرض ځنګل یا بل ښار ته تلل څنګه دي؟ او چیري چي دا مرض وي هلته د نورو خلکو راتلل څنګه دي؟ د طاعون د وباء د دفاع لپاره اذانونه کول څنګه دي؟ (۱۳۴۳/۱۴۲۴هـ)

ځواب: په صحیحینو کي راغلي دي: قال أسامة رضی الله عنه: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: الطاعون رجز أرسل علی بنی إسرائیل او علی من کان قبلکم، فإذا سمعتم به بأرض فلا تقدموا علیه و إذا وقع بأرض و أنتم بها فلا تخرجوا فرارًا منه(۲) په بیان شوي حدیث کي څرګند موجود دي چي د طاعون وبا په بني اسرائیلو کي راغلې وه او له همدې څخه دا هم معلوم شو چي چیري طاعون وي هلته باید سړی نشي ولاړ، که هلته له مخکي څخه موجود دی نو تېښتنه هم صحیح نه ده، أما د آب او هوا بدلولو لپاره له هغه ځایه تللای شي کله چي د ده په عقیده کي کومه خرابي نه وي، لکه چي په در مختار کي راغلي دي: و إذا خرج من بلدة بها الطاعون فإن علم أن کل شئ بقدر الله تعالی فلا بأس بأن یخرج إلخ(۳) او د آیت "الم تر الی الذین خرجوا من

---

(۱) و إذا خرج من بلدة بها الطاعون فإن علم أن کل شی بقدر الله تعالی فلا بأس بأن یخرج و یدخل، و إن کان عنده أنه لو خرج نجا ولو دخل ابتلی به کره له ذلک، فلا یدخل و لا یخرج صیانة لاعتقاده(الدر المختار مع الشامي ۵/۵۳۴، کتاب الخنثی، مسائل شتی. ط رشیدیه)

(۲) الصحیح لمسلم: ۲/۲۲۸، کتاب السلام، باب الطاعون و الطیرة و الکهانة و نحوها و صحیح البخاری: ۲/۱۰۳۲، کتاب الحیل، باب ما یکره من الاحتیال فی الفرار من الطاعون.

(۳) الدر المختار مع الشامی ۵/۵۳۴، کتاب الخنثی، قبیل کتاب الفرائض. ط رشیدیه

دیارهم و هم الوف" الآیة(سورة بقره، آیت: ۲۴۳) په تفسیر کي ټول مفسرین لیکي چي له دې څخه د بني اسرائیلو هغه قوم مراد دی چي پکي د طاعون وباء راغلي وه، د هغه له ویري خپل وطن پریښی ؤ، په جلالین کي راغلي دي: و هم قوم من بني اسرائیل وقع الطاعون ببلادهم ففروا(۱) او په معالم التنزیل او نورو کي دا قصه ډېره په تفصیل سره رانقل کړې ده(۲)

لنډه دا چي له حدیث، آیت او تفسیر څخه دومره خو معلوم شو چي د طاعون مرض کوم نوی مرض نه دی، بلکه له قدیمو مرضونو څخه دی چي له اسلام څخه مخکي د حضرت موسی علیه الصلاة و السلام په قوم کي راغلی دی، دلته د مؤرخینو هم خیال دی چي د دغه وباء ابتداء یو نیم دوه زره کاله یا له دې څخه هم مخکي شوې ده، په شریعت اسلامیه کي لومړی د فاروق اعظم رضی الله عنه په زمانه په شام کي راغلي وه(۳) او د دې علاج هغه عامي دعاګاني او اذکار دي کوم چي له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه رانقل شوي دي، په سنن آبي داؤد کي له ابو درداء رضی الله عنه څخه منقول دي: قال سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: من اشتکی منکم شیئا او اشتکاه أخ له فلیقل: ربنا الله الذی فی السماء تقدس اسمک أمرک فی السماء و الأرض کما رحمتک فی السماء فاجعل رحمتک فی الأرض و أغفرلنا حوبنا و خطایانا أنت رب الطیبین انزل رحمة من رحمتک و شفاء من شفائک علی هذا الوجع فیبرأ(۴) او په ابو داؤد شریف کي راغلي دي: عن أنس رضی الله عنه أن النبی صلی الله علیه وسلم کان یقول: اللهم إنی اعوذبک من البرص والجنون و الجذام و سیئ الاسقام(۵)

---

(۱) تفسیر جلالین، ص: ۳۷، مطبوعة: مکتبة رشیدیه، دهلي.

(۲) د تفصیل لپاره وګورئ: معالم التنزیل للبغوی، ص: ۱۱۴.

(۳) عن عبد الله بن عباس رضی الله عنهما أن عمر بن الخطاب رضی الله عنه خرج إلی الشام حتی إذا کان بسرغ لقیه امراء الاجناد أبو عبیدة بن الجراح و أصحابه فاخبروه أن الوباء قد وقع بالشام الحدیث(صحیح البخاری: ۸۵۳/۲، کتاب الطب، باب ما یذکر فی الطاعون)

(۴) سنن ابي داؤد، ص: ۵۴۳، کتاب الطب، باب کیف الرقی؟

(۵) سنن ابی داؤد، ص: ۲۱۲، کتاب الصلاة، باب فی الاستعاذة.

لنډه دا چې دا ډول ډيرې دعاګانې منقولې دي کومې چې د امراضو دفع کولو لپاره ویل شوي دي او خاص د طاعون دافع دعاء په علاج القحط والوباء کې مولوي اشرف علي صاحب رانقل کړې دي، که هغه کتل غواړئ نو د غه رساله راوغواړئ، دا دعا و امام اعظم رحمه الله ته منسوبه ده چې ده يو سړي ته ښودلې وه، نور د اذانو او نورو ثبوت په حديثو يا د صحابه په آثارو او نورو کې نشته، له دې څخه پرهيز کول پکار دی چې د مرض د دفع لپاره رانقل شوي اذکار بس دي، و کوم نوي عبادت ته ضرورت نشته فقط و الله تعالىٰ اعلم

سوال: (۲۲۰) دلته نن صبا د طاعون وباء راغلې ده، د دې د دفاع لپاره امام او مقتديان د پنځه وخته لمونځونو د آخري رکعت تر رکوع وروسته دعاء قنوت وايي دا مذهب د احنافو دی که څنګه؟ (۱۳۴۳/۱۳۲۴هـ)

ځواب: په داسې نوازلو او حوادثو کې د احنافو په نزد صرف د سهار په لمانځه کې په دوهم رکعت کې تر رکوع وروسته په قومه کې دعاء قنوت ويل ثابت دی، په ټولو لمونځونو کې دعاء قنوت ويل د احنافو مذهب نه دی و تفصيله في الشامي(۱) فقط

سوال: (۲۲۱) د طاعون د دفع لپاره که په حديث شريف کې کومه دعا وي راته وې ليکئ؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۵۱۸هـ)

ځواب: د طاعون د دفع لپاره په حديث شريف کې کومه خاص دعا راته معلومه نه ده، کومې دعاګانې چې عمومًا د بلاء د دفع لپاره دي، هغه وايا ست. فقط

په صدقه او خيرات ناجوړۍ او بلاګانې دفع کيږي

سوال: (۲۲۲) په زياتره مسلمانانو کې رواج دی، د ناجوړه د صحت لپاره وزه او نور د الله په نوم

---

(۱) قوله: (و لا يقنت لغيره) أى غير الوتر ... قوله: (إلا لنازلة قال فى الصحاح: النازلة: الشديدة من شدائد الدهر، و لا شك أن الطاعون من أشد النوازل ... إذا وقعت نازلة قنت الإمام فى الصلاة الجهرية لكن فى الأشباه عن الغاية: قنت فى صلوة الفجر ... و هو مذهبنا و عليه الجمهور(رد المحتار ٤٩٦/١، كتاب الصلاة، باب الوتر و النوافل مطلب فى القنوت للنازلة. ط رشيديه)

حلال کړي، غوښه مسکینانو ته ورکړي، دا عمل څنګه دی؟ (۱۳۴۱/۴۹۳هـ)

ځواب: دا صدقه او خیرات دي او په صدقه د بلا دفع کېدل په حدیثو کې راغلي دي() لهذا شرعًا دا څه پروا نلري. فقط

د طاعون او نورو وباؤ د دفاع لپاره څوله ځانه جوړ کړي تدبیرونه او د هغو شرعي حکم

سوال: (۲۲۳) څه فرمايي علماء د دين په دغه مسئله کې چې په يو ښار کې د ہر طاعون راغلی دی، ښاروالو څه روپۍ راجمع کړې چې صدقه وکړي له علماء څخه پوښتنه وکړه چې دغه روپۍ په چا ولګوؤ؟ يو عالم ورته وويل چې کونډو، يتيمانو ته يې ورکړي او دا يې هم ورته وويل چې پر ښار شاوخوا ياسين ووايا ست او پر هر مبين باندې اذان وکړئ بل عالم ورته وويل چې دا کار سئته بدعت او شرک دی، کوم چا چې دا کار کړی دی، د هغه لپاره تجديد د نکاح او توبه او استغفار ويل ضروري دی، کنې په ده پسې لمونځ ناروا دی. بينوا توجروا (۱۳۳۵/۸۸۹هـ)

ځواب: صدقه کول خو ښکاره خبره ده چې پروا نلري، بلکه په صدقه سره بلاء دفع کيږي(۱) او بيان شوې عمل که څه هم په حديثو او فقه ثابت نه دی ليکن د مشائخو د اعمالو په طريقه څه پروا نلري او کفر او شرک ورته ويل غلط دي، لهذا و نکاح نوي کولو ته ضرورت نشته او لمونځ پسې صحيح دی، أما احوط دا دی چې دا سې عمل ترک کړي. فقط

سوال: (۲۲۴) د وباء په ورځو يعني چې کله طاعون راغلی وي، د دفاع لپاره په لوړ آواز د شپې په مسجد کې يا بل ځای کې مثلاً په کور يا ځنګل کې خلک راجمع شي اذانونه کوي، داسې جائز دي او کنه؟ او وزه او نور پر ښار راګرځول او پر چورنګۍ حلالول صحيح دي او کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۵۱۸هـ)

---

(۱) عن ابن عمر رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: تصدقوا و داووا مرضاکم بالصدقة، فإن الصدقة تدفع عن الأعراض و الأمراض، و هی زيادة فی أعمالكم و حسناتكم (شعب الإيمان للبيهقی: ۲۸۲/۳، باب فی الزکاة، فصل من أتاه الله مالاً من غير مسئلة حديث: ۳۵۵۶، المطبوعة: دار الكتب العلمية، بيروت)

ځواب: په طاعون کي داسي ثابت نه دي، د اذانو کولو هيڅ ثبوت نشته، نو د سنت په خيال داسي کول نه دي پکار، پرهېښودل پکار دي، اما په شامي کي ليکلي دي چي د سهار په لمانځه کي د عاء قنوت ويل د دې دفاع لپاره صحيح دي(۱) داغه راز وزه او نور په ښار کي ګرځول او پر چورنګۍ (دوراهي) باندي ذبح کول او نور بې اصل دي دا هم پرېښودل پکار دي.

سوال: (۲۲۵) د وباء ليري کولو لپاره که يوه غوا يا ګامېښه پر کلي شاوخوا اوه واره راوګرځوؤ بيا يې حلاله کړو کباب يې کړو تو خلک غوښي څني وخوري او پر يوه لار باندي قرآن شريف راوځړؤ، ټول خلک لاندي تر تېر شي، آيا دا طريقه صحيح ده او کنه؟ غوا د همدغه طريقې لپاره رانيول شوې ده. (۱۳۳۷/۱۲۸هـ)

ځواب: دا طريقه صحيح نه ده، مشروع طريقه دا ده چي دغه غوا بې پر کلي شا وخوا راګرځولو د الله په نوم حلاله کړي، د دې غوښه خاص پر فقيرانو، مسکينانو او پر کونډو د الله د رضاء لپاره ووېشي، غنيان دي يې نه خوري. فقط

سوال: (۲۲۲) د يو ښار مسلمانان پر دوې ډلي دي، يوه ډله کله چي کوم سماوي آفت لکه وباء، هيضه او نور رانازل شي نو هره ورځ د ماخستن له لمانځه وروسته مناجات په درګاه قاضي الحاجات د وباء د دفع لپاره ووايي، کوڅه په کوڅه ګرځي او ځای پر ځای اذانونه کوي او يو بيرغ هم ورسره وي او هغه بله ډله دا د ګمراهۍ او ضلالت سبب بولي او بدعت ورته وايي، کومه ډله په سمه لار ده؟ (۱۳۳۷/۱۳۸۲هـ)

ځواب: په دې کي شک نشته چي زياتره بلاء او ناجوړۍ زموږ د ناوړه اعمالو په سبب رانازليږي، قال الله تعالى: "و مآ اصاب من مصيبة إلا بإذن الله" (سورة تغابن، آيت: ۱۱) و قال الله تعالى: "و مآ اصابكم من مصيبة فبما كسبت ايديكم و يعفوا عن كثير" (سورة

---

(۱) قوله: (و لا يقنت لغيره) أى غير الوتر ... قوله: (إلا لنازلة) قال فى الصحاح: النازلة الشديدة من شدائد الدهر، و لا شک أن الطاعون من أشد النوازل ... إذا وقعت نازلة قنت الإمام فى الصلاة الجهرية لكن فى الأشباه عن الغاية: قنت فى صلاة الفجر ... و هو مذهبنا و عليه الجمهور (رد المحتار ۱/ ۴۹۶، كتاب الصلاة، باب الوتر و النوافل، مطلب فى القنوت للنازلة. ط رشيديه)

شوری، آیت: ۳۰) نو که په داسي وخت کي هم انسان عبرت وانه اخلي او الله ته رجوع نه کوي نو د ډېري محرومۍ او ډېره د افسوس خبره ده او آیا د رجوع الی الله دا طریقه کېدلای شي د کومي چي لو مړی ډله ارتکاب کوي؟ بیرغ پورته کول او نور ټول بې اصل دي او لهو و لعب دي، له دې څخه اجتناب لازم دی، بلکه ضروري دا دي چي پخپلو وختونو کي د لمونځونو پابندي وشي، له مخکني افعالو څخه په خشوع او خضوع سره توبه وشي، د آئنده لپاره د حسنه افعالو پابندي وشي او صدقه او خیرات د خپل وس سره سم کول پکار دي چي په دې سره د بلاء او غضب دروازه بندیږي، په حدیث شریف کي راغلي دي: إن الصدقة لتطفئ غضب الرب(۱) او له لغو او لا یعني افعالو څخه پرهېز کول پکار دي. فقط

سوال: (۲۲۷) د هیضې او طاعون په زمانه کي څه خلګ را جمع شي په مسجد او میدان کي ټول په یو آواز اذان کوي او کله نا کله داسي هم کوي چي یو حافظ د سورة یسین ویلو لپاره مخته ودروي چي د مبین لفظ ووایي نو ټول خلګ اذان شروع کړي اووه اذانه وکړي، دا فعل څنګه دی؟ دا د وباء د دفع لپاره کوي. (۱۵۸۴/۱۳۳۷هـ)

ځواب: د دغه فعل هیڅ اصل او هیڅ ثبوت په شریعت کي نشته، لهذا ترک دې احوط دی. فقط

سوال: (۲۲۸) د طاعون او نورو وباؤ د دفع لپاره د کومې د عا رد کول پکار دي؟ ځیني کسان وایي چي سورة یسین به وایي، پر ټول کلي به راګرځي او پر هر مبین به آذان کوي، یا به یوه توره وزه پر کلي شاوخوا راګرځوي، سورة یسین به پر وایي په غوړو کي به وردموي او له حلالولو وروسته به ټول مسلمانان غوښي خوري، سر او پښې او خرمن به پر چورنګی (دوراهي) کي ښخوي، دا فعل جائز دی او کنه؟ (۱۸۱۸/۱۳۴۱هـ)

ځواب: د طاعون په وباء کي فقهاء لیکلي دي چي د سهار په لمانځه کي د دوهم رکعت تر رکوع وروسته دي قنوت نازله وایي او کوم اعمال چي په سوال کي لیکل شوي دي شرعًا ثابت نه دي. فقط

سوال: (۲۲۹)... (الف) د وباء په زمانه کي د مابنام یا ماخستن لمانځه وروسته امام سورة یسین

---

(۱) عن انس بن مالک رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: إن الصدقة الحدیث (جامع الترمذی: ۱۴۴/۱، ابواب الزکاة، باب ما جاء فی فضل الصدقة)

وایي، د مبین پر لفظ امام او مقتدیان په ګډه اووه اذانونه کوي، داسي څنګه دي؟

(ب) د وباء په زمانه کي مسلمانانو چنده وکړه، وزه او نور یې رانیول، سورة بقره یې ورباندي ووایو، پر کلي ګیرچاپیره را وګرځاؤ حلاله کړه او څرمن یې په ځمکه کي ښخه کړه، شرعًا دا څنګه دي؟(۱۳۴۲/۴۳۴هـ)

ځواب: (الف) شرعًا د دې هیڅ ثبوت نشته

(ب) د دې هم هیڅ ثبوت نشته فقط

سوال: (۲۷۰) د طاعون د ناجوړي لپاره چا دا عمل راښودلی دی چي توره وزه تر غوږ ونیسي، پر کلي شاوخوا را وګرځوي او سورة یس وواياست، بیا دغه وزه حلاله کړي، پخه یې کړي، غوښه وویشي، الله به فضل وکړي داسي عمل کول شرعًا جائز دی او کنه؟(۱۳۴۲/۷۲۱هـ)

ځواب: شرعًا د دې هیڅ اصل نشته او دا ثابت نه دي، اما صدقه کول د غوښي یا د یو شي یا د نغدو دا سبب د بلاء درد دی مګر په دې کي کوم قید او خصوصیت نشته او ټول خلک خورول دا د صدقې صورت هم نه دی ځکه چي صدقه د فقیرانو حق ده نو باید و محتاجو ته ورکړي. فقط

سوال: (۲۷۱) د وباء په ورځو کي وزه یا ګامېښه پر ښار را ګرځول یو سل یو وار سورة تغابن ویل په غوږ کي ورچف کول بیا له حلالولو وروسته غوښه خوړل صحیح دي او کنه؟(۱۳۴۲/۲۰۲۴هـ)

ځواب: د دې هم هیڅ اصل نشته، داسي مه کوئ.

سوال: (۲۷۲) څه فرمایي علماء د دین او مفتیان د شرع متین په دغه مسئله کي چي په کوم کلي یا ښار کي د طاعون یا هیضې زمانه وي نو یوه وزه به پر هغه ځای شاوخوا را ګرځوي سورة یاسین به په غوږ کي ورچف کړي، بیا به حلاله کړي، وبه یې خوري او اووه منګیه شربت به د کلي شاوخوا ځای پر ځای کښیږدي، د شریعت له مخه داسي جائز دي او کنه؟ او ذبیحه خوړل څنګه دي؟ او د دې څه اصل شته او کنه؟ د داسي کار کونکی د ملامتیا وړ دی او کنه؟(۱۳۴۳/۱۲۲۷هـ)

ځواب: د دغه فعل شرعًا هیڅ ثبوت نشته، لهذا دا بدعت او مکروه دي، داسي نه دي کول پکار او د ذبیحې خوړل د محتاجو خلکو لپاره صحیح دي، غنیان دي یې نه خوري او مسلمانان باید له داسي عمل څخه پرهیز

وکړي، اما صرف صدقه کول بېله کوم قید او تخصیصه جائز ده نو که وزه یا غوا او نور ذبح کړي، غوښه پر مسکینانو وویشي نو څه پروا نلري. فقط و الله اعلم بالصواب

سؤال: (۲۷۳) ځیني خلک وزه راوباسي، په یو غوږ کي سورة یاسین او په بل کي تبارک الذي ووايي په ټوله محله کي يې وګرځوي، بيا يې حلاله کړي، غوښه يې وويشي، دا عمل جائز دی او کنه؟ که جائز دی نو د کوم مرض لپاره؟ (۱۹۱۱/۴۲-۱۳۴۷ھ)

ځواب: دا ثابت نه دي. فقط و الله تعالی اعلم

د طاعون ځای ته د جنازې د لمانځه لپاره یا طبیب ته تګ د علاج کولو لپاره صحیح دی

سؤال: (۲۷۴) چیري چي طاعون وي، هلته د جنازې لمونځ ورکولو لپاره تلل صحیح دي او کنه؟ که دی ورنشي نو د جنازې لمونځ نشي کېدلای، و داسي ځای ته د طبیبانو لپاره تګ څنګه دی؟ (۱۳۵۸/۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: قال فی الدر المختار: مسائل شتی من آخر کتاب الخنثی: و إذا خرج من بلدة بها الطاعون فإن علم أن کل شئ بقدر الله تعالی فلا بأس بأن یخرج و یدخل و إن کان عنده أنه لو خرج نجا و لو دخل ابتلی به کره له ذلک، فلا یدخل و لا یخرج صیانة لاعتقاده و علیه حمل النهي فی الحدیث الشریف، مجمع الفتاوی إلخ(۱) له دغه عبارت څخه څرګند شو چي د چا عقیده صحیح وي خروج عن موضع الطاعون سبب د خلاصون او دخول سبب د هلاکت نه بولي نو د ده په هکله خروج او دخول منع نه دی او د جنازې د لمانځه ادا کول خو فرض کفایه دی ځکه هلته د لمانځه ادا کولو لپاره تلل ضروري دي، کله چي ده ته معلومه وي چي که دی نشي ولاړ نو د جنازې لمونځ نه کیږي، داغه راز د طبیبانو لپاره هلته د علاج کولو په غرض تلل صحیح دي.

---

(۱) الدر المختار مع الشامي ۵/۵۳٤، کتاب الخنثی، مسائل شتی، قبیل کتاب الفرائض. ط رشیدیه

د ضرورت لپاره د طاعون ځای ته تلل صحیح دي

سوال: (۲۷۵) د ضرورت لپاره د طاعون ځای ته تلل جائز دي او کنه؟

(۱۳۳۸/۹۹۷هـ)

ځواب: احناف په دې اړه لیکلي دي چي که عقیده د ده صحیح ده او دی دا وایي چي هر څه د الله په امر کیږي نو د ده لپاره د طاعون له ځایه وتل یا د طاعون ځای ته ورتلل صحیح دي، په در مختار کي راغلي دي: و إذا خرج من بلدة بها الطاعون فإن علم أن كل شئ بقدر الله تعالى فلا بأس بأن يخرج و يدخل الخ(۱) فقط

د طبیب او ډاکټر په غلطي که مریض مړ شي نو دوی قاتلان دي او کنه؟

سوال: (۲۷۶) د زید د ښځي تبه وه، ناڅاپه ټوخی هم شروع شو، د زید دا خیال ؤ چي دا معمولي ټوخی دی، بلغم یې وچ شوی دی، د باردو دواوو یوه نسخه یې ورکړه، کومه چي په تبه کي ډېره تاواني ده، په دې وجه ناجوړي ډېره شوه، ښځه وفات شوه، نو زید د قتل مجرم شو او کنه؟ (۱۳۳۷/۳۸۸هـ)

ځواب: زید په دغه صورت کي هیڅکله هم د قتل مجرم نه بلل کیږي، بلکه پر ده باندي په دې کي هیڅ ګناه نشته، په معمولي مرض ټوخی او زکام کي طبیب او ناطبیب معمولي نسخه ورکوي د چا فائده وشي او د چا دا ونه شي، په همداسي تبه کي ځیني طبیبان باردي دوایاني هم ورکوي لهذا په داسي غلطي سره کله چي نیت د ضرر رسولو نه وي مواخذه او ګناه نشته فقط

ډاکټر دا میرانو او مسکینانو څخه فیس اخلي

سوال: (۲۷۷) ... (الف) یو سړی د طبابت پېشه کوي چي کور ته مریض ورته راشي، فیس ځني نه اخلي خو دباندي چي چا سره ځي فیس ځني اخلي، یو سړی ورته راغی ورته وې ویل چي زما فلاني عزیز مریض ته راسره راځه، طبیب ورته وایي چي څلور یا پنځه روپۍ فیس غواړم خو دا سړی تر

---

(۱) الدر المختار مع الشامي ۵/۵۳٤، كتاب الخنثى، مسائل شتى، قبيل كتاب الفرائض. ط رشيديه

یوې روپۍ زیات توان او وس نلري، دی عذر بیانوي مګر طبیب صاحب یې لحاظ نه کوي، وايي چې له دې په کمو نه درسره ځم، مریض زیات په تکلیف دی، بل کوم طبیب نشته یا بل شته خو بیا هم د ده علاج زیات مناسب دی، جبرًا، قهرًا یې منظوره کړي، طبیب صاحب ورسره بوځي، د طبیب لپاره په دا سې سختي سره فیس اخیستل جائز دي او کنه؟

(ب) طبیب صاحب یو ځای په مقرر کړي فیس ولاړی، مریض یې وکاتی، یو همسایه چې په کور کې ناجوړی و دا خیال یې وکړی چې طبیب صاحب راغلی دی، باید مریض ورښکاره کړم ځکه طبیب صاحب کور ته راوبالی، له ده څخه هم طبیب هغومره فیس واخیستی څومره چې له هغه بل مریض څخه اخیستی ؤ، د کوم لپاره چې خاص دی راغلی ؤ، دا ډول فیس اخیستل جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۷/۹۰۹هـ)

ځواب: (الف-ب) کله چې د طبیب لپاره اجرت او فیس اخیستل جائز دي نو څومره چې دی مقرر کړي، د هغه اخیستل صحیح دي، د مروت خبره ځان ته ده چې د مسکینانو سره ښه کول ښکار دي او د حیثیت سره سم د مسکینانو څخه کم فیس اخیستل ښه دي او یو مخ نه اخیستل نور هم ښه دي او د ثواب کار دی، لیکن څومره چې ده په صفائي او سختي سره مقرر کړی، هغه هم حرام نه دی او بل صورت هم صحیح دی یعنې څو کورونو ته د دوی په غوښتنه تلو له ټولو فیس اخیستل صحیح دی، اصل خبره دا ده چې طبیب ته اجرت مقررول او مقرر کړی اجرت اخیستل صحیح دي، په دې کې څه شبه نشته فقط

پر علاج باندي فیس اخیستل

سوال: (۲۷۸) مطب کولو باندي فیس اخیستل جائز دي او کنه؟
(۱۳۳۴-۳۳/۱۹۷هـ)

ځواب: عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: احتجم النبی صلی الله علیه وسلم و أعطی الحجام أجره الحدیث رواه البخاری(۱) فقط

(۱) صحیح البخاری: ۳۰۴/۱، کتاب الإجارة، باب خراج الحجام.

عطار که قصدًا دوا کمه ورکړي

سوال: (۲۷۹) زه عطار (دوا خرخونکی) یم، نن صبا دواوي ګراني دي، ځکه د زیاتره نسخو بیه ډېره راځي چې مریض یې برداشت نلري، که زه بې مریض ته له خبر ورکولو د نسخې په خلاف کمې دواوې ورکړم نو دا طریقه جائز ده او کنه؟

(۱۳۴۰/۱۵۲۸ھ)

ځواب: د نسخې د مقدار په خلاف د عطار لپاره قصدًا دواوي کمول صحیح نه دي. فقط

طبیب په جنازه کې باید برخه واخلي که مریض وګوري؟

سوال: (۲۸۰) د طبیب لپاره د خپلوانو په جنازه کې شرکت کول ضروري دي که مریض کتل؟ (۱۳۴۳/۲۲۹۲ھ)

ځواب: دا وخت چې کوم کار زیات مهم وي، هغه دې وکړي. فقط

و طبیب ته مقرري کړې روپۍ ورکول ضروري دي، که فائده نه وي نو هم

سوال: (۲۸۱) یو مریض په یو طبیب علاج وکړی د طبیب د وینا سره سم د څلورو روپیو دوا مصرف شوه، ده پنځه روپۍ په ګټه کې ځنې وغوښتې، مګر دا شرط نه ؤ چې که جوړ شوم نو پنځه روپۍ درکوم اوس مریض باید څلور روپۍ ورکړي که پنځه؟

(۱۳۳۳-۳۲/۱۲۲۷ھ)

ځواب: که پنځه روپۍ د دوا او علاج مقرري کړي وي نو پنځه به ورکوي که څه هم طبیب غوښتنه ونکړي، او که دی وبخښي او په څلور روپۍ باندې راضي شي نو د ده خوښه ده و دغه طبیب ته دې وویل شي چې ښکه دی وایي هغسې وکړئ.

د جذامیانو سره اختلاط کونکي څخه نفرت کول

سوال: (۲۸۲) د جذام مریضان له کلي د باندې او سیږي، د دوی روغ

خپلو ان هم د جذامیانو سره او سیږي مگر د کلي مسلمانان د دغه خلکو سره د جذامیانو سره د اختلاط کولو په وجه نه خوراک څښاک کوي او نه په مسجدونو کي ورسره لمونځ کوي، له روغو خلکو څخه د اختلاط په وجه ډېر نفرت کوي. دغه کرکه کول او له مسجدونو څخه د دوی منع کول جائز دي او کنه؟ او آیا د دوی سره نکاح کول ناجائز دي؟ (۵۷۷/۱۳۳۷هـ)

ځواب: د دغه روغو خلکو سره داسي د متارکت معامله کول او دوی له مسجدونو او لمونځ کولو څخه منع کول صحیح نه دي او له دوی څخه کرکه کول صحیح نه دي او نکاح د دوی سره صحیح ده. قال الله تعالی: "و من اظلم ممن منع مساجد الله ان یذکر فیها اسمه و سعی فی خرابها" الآیة (سورة بقره، آیت: ۱۱۴) فقط

د علاج لپاره ستر ښکاره کول او د طبیب ورته کتل

سوال: (۲۸۳) د یوې پرده ناکي ښځي پر یو داسي ځای تپ دی چي په ستر کي راځي بېله علاج کولو آرام نه راځي آیا و کوم نارینه ته یې ښکاره کولای شي او کنه؟ (۲۳۴۶/۱۳۳۷هـ)

ځواب: د طبیب او جراح لپاره د ضرورت له امله و دغه ځای ته کتل صحیح دي. فقط

ډاکټر د ښځي خېټه کتلای شي

سوال: (۲۸۴) د حکیم لپاره د مریضي ښځي نس ته کتل جائز دي او کنه؟ (۲۳۹۵/۱۳۴۵هـ)

ځواب: د فقهي په کتابونو کي لیکلي دي چي د طبیب لپاره د مرض ځای کتل صحیح دي(۱) که نیت سم نه وي نو وبال یې پرده دی. فقط


---

(۱) و یحرم النظر إلى العورة إلا عند الضرورة كالطبيب أی له النظر إلى موضع المرض ضرورة فيرخص له إحياء لحقوق الناس و دفعًا لحاجتهم (و الختان و الخافضة) ... هی التی تختن النساء (و القابلة و الحاقن الذی يعمل الحقنة و لا يتجاوز) كل واحد منهم(قدر الضرورة) فإنه يلزم أن يغضوا أبصارهم من غير موضع المرض و الختان و الحقنة (ملتقى الأبحر مع مجمع الأنهر: ۱۹۹/۴، كتاب الكراهية، فصل فی بيان أحكام النظر و نحوه)

نيم لمر او نيم سايه ته پرېوتل

سؤال: (۴۸۵) داسي پرېوتل چي نيم بدن لمر ته وي او نيم سايه ته، داسي خو به منع نه وي؟ آيا له دې ځخه د درختي سايه مراد ده که د دېوال او په دې کي نهي شفقةً ده او که حکمًا؟ (۱۳۳۵/۴۳ھ)

ځواب: د حديث الفاظ دا دي: عن أبي هريرة رضی الله عنه يقول: قال ابو القاسم صلى الله عليه واسلم: إذا كان أحدكم في الشمس و قال مخلد في الفئ فقلص عنه الظل فيصار بعضه في الشمس و بعضه في الظل فليقم، رواه ابو داؤد(۱) صاحب د مرقات ليکي: قوله: (فليقم) أی فليتحول منه إلى مكان آخر يكون كله ظلا او شمسًا لأن الإنسان إذا قعد ذلک المقعد فسد مزاجه لاختلاف حال البدن من المؤثرين المتضادين الخ(۲) له دې ځخه معلوم شو چي ممانعت د شفقت په وجه دی او د مزاج د فساد له ويري دی. و الله اعلم



(۱) ترجمه: له حضرت ابو هريره رضی الله عنه ځخه روايت دی چي ابو القاسم صلى الله عليه وسلم ارشاد وفرمايو: چي کله څوک په تاسو کي لمر ته وي او مخلد ويلي دي په سايه کي وي او سايه ځني ليري شي او ځيني جسم يې لمر او ځيني سايې ته شي نو پايد دی ولاړ شي.

(ابو داؤد) (سنن ابي داؤد: ص: ۶۶۳، كتاب الأدب، باب في الجلوس بين الشمس و الظل)

(۲) صاحب د مرقات فرمايي چي د فليقم مطلب دا دی چي له هغه ځايه دي ليري شي بل داسي ځای ته دي ولاړ شي چيري چي پوره سايه يا پوره لمر وي ځکه چي انسان کله په داسي ځای کي کښيني نو د ده مزاج خرابيږي، د دوو متضاد شيانو په اثر سره د بدن حال بدليدو په وجه

(المرقاة شرح المشكاة: ۹۲/۹، كتاب الآداب، باب الجلوس و النوم و المشي، الفصل الثاني)

د تعویذونو او عملیاتو احکام

آیا په تعویذونوکي د هري ناروغۍ شفاء ده؟

سوال: (۲۸۶) مولوي صاحب د دم او تعویذ په اړه وايي چي د قرآني آیتونو صحیح حدیثونو، مأثورو دعاګانو تعویذونه شفاء لکل داء دي، ان چي که د چا بچیان نه کیږي نو الله رب العزت د دې په استعمال پخپل فضل اولاد هم ورکوي خو يوه ډله انکار کوي (۱۳۳۸/۱۴۲۲هـ)

ځواب: د مولوي خبره غلطه نه ده، داسي کېدلای شي. فقط

د قرآن د آیتو تعویذ صحیح دی

سوال: (۲۸۷) ... (الف) په قرآني آیتونو عملیات لکه تعویذ او نور کول صحیح دي او کنه؟

(ب) د پیریانو عمل پخپله رسول الله صلی الله علیه وسلم یا صحابه کرامو رضی الله عنهم د قرآن په آیتونو کړی دی او کنه؟

(ج) د قرآن د آیتونو په عملیاتو کي شرعًا اثر منل شوی دی او کنه؟
(۱۳۳۸/۲۱۹۹هـ)

ځواب: (الف) صحیح دي فقط و الله تعالی اعلم

(ب) داسي عمل له اصحابو رضی الله عنهم څخه ثابت دی.(۱)

(ج) اثر منل شوی دی. فقط و الله تعالی اعلم

د تعویذ جواز ثابت دی

سوال: (۲۸۸) د تعویذ لیکل لکه په زعفرانو یا بل رنګ باندي شرعًا جائز دی او کنه؟ زید مطلقًا تعویذ لیکل او په غاړه کول منع بولي. (۱۳۴۲/۹۲۴هـ)

ځواب: د الله د نوم او دعاګانو د تعویذ جواز ثابت دی، په مرقات شرح د مشکوة کي د دې جواز رانقل کړی دی(۲) کما لا یخفی علی الماهر(۳) نو د زید مطلقًا د تعویذ لیکل او په غاړه کول منع بلل د اجماع خلاف دي فقط

---

(۱) عن ابی سعید رضی الله تعالی عنه قال: کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یتعوذ من الجان و عین الإنسان حتی نزلت المعوذتان فلما نزلتا أخذ بهما و ترک ما سواهما(جامع الترمذی: ۲۶/۲، أبواب الطب، باب ما جاء فی الرقیة بالمعوذتین)

و عن ابن عباس رضی الله عنهما أن نفرًا من أصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم مروا بماء فیهم لدیغ او سلیم، فعرض لهم رجل من اهل الماء، فقال هل فیکم من راق؟ إن فی الماء رجلا لدیغًا او سلیما، فانطلق رجل منهم فقرأ بفاتحة الکتاب علی شاء فبرأ فجاء بالشاء إلی أصحابه فکرهوا ذلک و قالو: أخذت علی کتاب الله أجرًا حتی قدموا المدینة، فقالوا: یا رسول الله! أخذ علی کتاب الله أجرًا، فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم: "إن احق ما أخذتم علیه أجرًا کتاب الله" (صحیح البخاری: ۸۵٤/۲، کتاب الطب، باب الشرط فی الرقیة بقطیع من الغنم)

(۲) و أما ما کان من الآیات القرآنیة و الأسماء و الصفات الربانیة و الدعوات المأثورة النبویة فلا بأس، بل یستحب سواء کان تعویذا او رقیة او نشرة(مرقاة المفاتیح شرح مشکوة: ۳٦۰/۸-۳٦۱، کتاب الطب و الرقی، الفصل الثانی، المطبوعة: مکتبه إمدادیه، ملتان)

(۳) عن عمرو بن شعیب عن أبیه عن جده رضی الله عنه أن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: إذا فزع أحدکم فی النوم فلیقل: أعوذ بکلمات الله التامة من غضبه و عقابه و شر عباده و من همزات الشیاطین و أن یحضرون، فإنها لن تضروه فکان عبد الله بن عمرو یلقنها =

په تعویذ کې د قرآن آیتونه په هندسو کې لیکل

سوال: (۲۸۹) عاملان په ځینو تعویذونو کې د قرآن ایتونه لیکي. په ځینو کې هندسي، آیا دواړه ډوله تعویذونه مفید دي که یو قسم؟ زید وايي چې قرآن شریف د هدایت لپاره دی د مرض لپاره د نسخې په توګه استعمالولو لپاره نه دی. دا صحیح دي او کنه؟ (۲،۱۹/۱۳۴۳هـ)

ځواب: دواړه قسمه تعویذونه جائز دي او دواړه مفید کېدلای شي. قرآن شریف د مخلوق د هدایت لپاره دی او د مرضونو لپاره پکې شفاء هم ده، لنډه دا چې ظاهري او باطني شفاء پکښې ده: "و ننزل من القرآن ما هو شفاء و رحمة للمؤمنين" (سورة اسراء، آیت: ۸۲) فقط

د تعویذ ورکولو لپاره طبي تجربه ضروري نه ده

سوال: (۲۹۰) بېله طبي تحقیقه او بېله طبي تجربې و هر مریض ته د پیري او ام الصبیان او نورو تعویذ ورکول حرام او دروغ خو به نه وي؟ (۵۷۰/۱۳۴۰هـ)

ځواب: د تعویذ ورکول څه پروا نلري او دوکه و مسلمان ته ورکول جائز نه دي.

= (يعلمها) من بلغ من ولده و من لم يبلغ منهم كتبها في صک، ثم علقها في عنقه، هذا حديث حسن غريب(جامع الترمذي: ۱۹۲/۲، أبواب الدعوات، باب)

ترجمه: حضرت عمرو بن شعیب له خپل پلار (حضرت شعیب رحمة الله علیه) څخه او هغه له خپل نیکه (یعني حضرت عبد الله رضی الله عنه) څخه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چې څوک په تاسو کې په خوب کې ووېرېږي نو هغه باید دا توري ووايي: اعوذ بكلمات الله التامة من غضبه و عقابه و شر عباده و من همزات الشياطين و أن يحضرون، زه د الله په کاملو کلمو پناه غواړم. د هغه له غضبه د هغه له عذابه د هغه د بندګانو له شره د شیطانانو له وسوسو څخه او له دې خبرې څخه چې شیطانان ماته راشي نو شیطانان هیڅکله ضرر نشي رسولای. د دغه تورو ویونکیو ته څکه حضرت عبد الله بن عمرو و خپلو بالغو بچیانو ته دغه توري ورزده کول او کوم بچیان چې نابالغ و. دغه توري به پر کاغذ ولیکل وړ په غاړه به کړو.

د دم کولو لپاره د قرآن پر ختمولو اجرت اخیستل

سؤال: (۲۹۱) زموږ په وطن کي رواج دی چي خلک د ناروغانو لپاره یا د باران لپاره د مسجد په مولوي صاحب او نورو قرآن ختموي، په بدل کي ډوډۍ ورکوي، یا څه نغدي روپۍ ورکوي او دواړه دا وايي چي موږ د الله لپاره ویلی دی او د الله لپاره مي ورکړی دی لیکن که ورنکړي نو ناراض شي او که ورته ووايي چي ورکول او اخیستل ناجائز دي نو د وزو حدیث بیانوي د دغه حدیث اصل مطلب څه دی؟ او په اورادو ویلو دم کولو څخه څه مراد دی؟ (۱۳۳۸/۱۴۰۳هـ)

ځواب: په قرآن سره دم کول صحیح دي، کوم چي په حدیث اخذ قطیع غنم باندي ثابت دي(۱) صاحب د لمعات د دغه حدیث په اړوند لیکي: و فيه دليل على أن الرقية بالقرآن و أخذ الأجرة عليها جائز بلا شبهة، هكذا حكم الأجرة على تعليم القرآن و كتابته مع خلاف فيه(۲) او علامه شامي فرمایلي دي چي د حنفي فقهاء فتوی د اجرت علی تعلیم القرآن پر جواز ده د قرآن شریف پر تلاوت نه ده(۳) نو معلوم شو چي په قرآن شریف باندي دم کول او پر داسي دم

---

(۱) عن ابي سعيد الخدري رضي الله عنه إن ناسا من اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم كانوا في سفر، فمروا بحي من أحياء العرب، فاستضافوهم، فلم يضيفوهم، فقالوا لهم: هل فيكم راقٍ؟ فإن سيد الحي لديغ او حصاب، فقال رجل منهم: نعم، فأتاه، فرقاه بفاتحة الكتاب، فبرأ الرجل، فاعطى قطيعًا من غنم، فأبى أن يقبلها، و قال: حتى أذكر ذلك للنبي صلى الله عليه وسلم، فأتى النبي صلى الله عليه وسلم فذكر ذلك له، فقال: يا رسول الله! و الله ما رقيت إلا بفاتحة الكتاب، فتبسم و قال: و ما أدراك أنها رقية، ثم قال: خذوا منهم و اضربوا لي بسهم معكم(الصحيح لمسلم: ۲/۲۲٤، كتاب السلام، باب جواز أخذ الأجرة على الرقية بالقرآن و الأذكار)

(۲) هامش مشكوة المصابيح: ص: ۲۵۸، كتاب البيوع، باب الإجارة، الفصل الأول رقم الحاشية: ٤.

(۳) المفتى به جواز الأخذ استحسانا على تعليم القرآن لاعلى القراءة المجردة (الشامي ۳۹/۵، كتاب الإجارة، باب الإجارة الفاسدة، مطلب تحرير مهم في عدم جواز الاستئجار على التلاوة الخ. ط رشيديه)

اجرت اخیستل او داغه ډول د قرآن پر تعلیم اجرت اخیستل صحیح دی.

او په پوښتل شوي صورت کي نه دم دی نه تعلیم او دا هم معروف دي چي المعروف کالمشروط(۱) لهذا په مسئوله صورت کي د عوض په توګه څه اخیستل صحیح نه دي او که نیت د ورکونکي او اخیستونکي صرف د الله درضا وي او د عوض خیال په زړه کي نه وي نو څه پروا نلري. فقط

د دم لپاره راغوښتي عالم ته روپۍ ورکول

سوال: (۲۹۲) د سايې او جادو ختمولو لپاره که څوک مولوي صاحب راوغواړي دعا په وکړي نو روپۍ ورکول صحیح دي او کنه؟ (۳۲/۱۰۷۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: دا جائز دي. فقط

د تعویذ شکرانه بیرته ګڼي اخیستل

سوال: (۲۹۳) زید د ماشومانو د ام الصبیان ناجوړۍ علاج په تعویذ کوي، عمر د خپل زوی لپاره تعویذ په وکړی، پنځه روپۍ شکرانه یې پخپله خوښه و زید ته ورکړه، څه موده وروسته هغه هلک مړ شو نو اوس عمر هغه شکرانه بیرته غواړي او وایي چي زما روپۍ بیرته راکړه، کنې د قیامت په ورځ به دي غاړي بندي وي، آیا د زید غاړي به بندي وي او کنه؟ او عمر خپلي روپۍ بیرته څني اخیستلای شي او کنه؟ او زید چي کوم څه له عمر څخه اخیستي دي هغه حلال دي او کنه؟ (۳۲/۱۰۷۷-۱۳۳۳هـ)

ځواب: زید چي کومي روپۍ له عمر څخه اخیستي دي او عمر په خوشحالي د تعویذ په عوض و زید ته ورکړي دي، د زید لپاره یې اخیستل شرعًا حلال دي، د زید غاړي نه دي بندي او نه عمر ته دا حق شته چي بیرته یې څني واخلي، دعمر دعوی غلطه ده.

د آیتونو اعداد د ترلو یا ځښلو لپاره لیکل

سوال: (۲۹۴) د مسلمانانو لپاره د پیري یا جسماني ناروغیو لپاره د آیتونو یا دعا تعویذ په اعداد لیکل،

---

(۱) المعروف کالمشروط شرطًا (قواعد الفقه، ص: ۱۲۵، قاعده: ۳۳۴)

ترل یا ځنبل او پر تعویذ باندي روپۍ ورکول اخیستل صحیح دي او کنه؟
(۱۰۷۲/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: جائز دي فقط

د پیري شړلو لپاره د آیتونو لیکلي اعداد سوځول

سوال: (۲۹۵) زوړ شوی قرآن شریف ښخول غوره دي که سوځول؟ او د پیري شړلو لپاره د آیتونو د ابجد په حساب لیکلي اعداد سوځول صحیح دي او کنه؟
(۱۰۷۲/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: زوړ شوی قرآن شریف په ټوکر کي ونغاړئ ښخول يې مستحب دي، سوځول نه دي پکار، که کوم نقش د پیري دفع کولو لپاره وسوځوي نو پروا نلري، آیت مه سوځوئ فقط

د الله د نوم تعویذ و هندو ته ورکول او د قرآن دم ورباندي کول

سوال: (۲۹۶) داسي تعویذ چي پکي د الله نوم وي و هندو ته ورکول او پرده باندي د قران شریف دم کول څنګه دي؟ (۲۰۱۷/۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: تعویذ ورکول صحیح دي او دم ورباندي کول هم صحیح دي.

سوال: (۲۹۷) و بنګي او نورو ته د پنځلس نقش ورکول، آیات شفاء د ځنبلو لپاره ورکول او د اجرت روپۍ ځني اخیستل جائز دي او کنه؟ (۵۵۸/۴۴-۱۳۴۵ھ)

ځواب: جائز دي

په فاسق او فاجر تعویذ کول او تر تعویذ لاندي خپل نوم لیکل

سوال: (۲۹۸) یو سړی بې لمانځه روژه خوړ دی، تعویذونه کوي، تر تعویذ لاندي خپل نوم لیکي، تر تعویذ لاندي خپل نوم لیکل جائز دي او کنه؟ او په داسي چا تعویذ باید سړی وکړي او کنه؟ (۲۱۱۲/۴۲-۱۳۴۷ھ)

ځواب: کوم څوک چي د صوم او صلوة پابند نه وي، هغه فاسق او فاجر دی، تعویذ په کول جائز نه دی(۱) او د ده په تعویذ کي څه اثر نشي کیدلای که څه هم تر تعویذ لاندي خپل نوم لیکل شرعًا څه پروا نلري او څه منع پکي نشته.

چي تعویذ په غاړه وي بیت الخلا ته تګ څنګه دی؟

سوال: (۶۹۹) که د قرآن شریف کوم سورت یا آیت یا درود شریف په تعویذ کي لیکلی تعویذ په غاړه وي نو بیت الخلا (ټټی) ته تلل څنګه دي؟ (۲۳۰۴/۱۳۴۳هـ)

ځواب: بنه دا دي چي بیت الخلا ته د تلو پر مهال یې خلاص کړي، په مجبوري کي معذور دی.

د ناپاکی پر مهال تعویذ له ځان سره ساتل

سوال: (۷۰۰) د غټو او کوچنیو بولو، د حیض او نفاس او جنابت پر مهال کوم تعویذ یا دعا له ځان سره ایښودل څنګه دي؟ (۳۲/۱۰۷۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: صحیح دي.

د امساک لپاره لیکلی آیت د جماع پر مهال پروانه نړل

سوال: (۷۰۱) په کوم تعویذ کي چي د قرآن آیتونه لیکلي وي هغه د امساک لپاره یا قدرت علی الجماع لپاره

---

(۱) زیاته صحیح خبره دا ده چي جائز دي مګر بنه نه دي لکه چي د دار العلوم دیوبند د دار الافتاء له لاندي فتوی څخه چي څرګند دي:

سوال: (ب/۸۲۹) کوم څوک چي د صوم او صلوة پابند نه وي فاسق او فاجر وي په هغه تعویذ کول جائز دی او کنه؟ بینوا توجروا. فقط و السلام

المستفتي: محمد یونس قاسمي
شعبۀ ترتیب فتاوی دار العلوم دیوبند
۱۴۳۲/۲/۱۹هـ

الجواب: (تب/۱۵۷) جائز دی مګر بنه نه دی. فقط

کتبه: حبیب الرحمن عفا الله عنه
مفتی دار العلوم دیوبند ۱۴۳۲/۲/۲۲هـ

الجواب صحیح
محمود حسن غفر له بلند شهري

الجواب صحیح
وقار علي غفر له

الجواب صحیح
فخر الاسلام

د ښځي یا نارینه پر ورانه ترل جائزدي او کنه؟آیا بې ادبي ده؟(۱۳۳۷/۲۲۱۳ھ)

ځواب: بېشکه داسي تعویذ چي پکي د قرآن آیتونه او مأثوره دعاګاني وي په داسي حال کي د نر یا ښځي لپاره ترل ښه نه دي په دې کي بې ادبي ده. فقط

پیریان د آیتونو په وسیله نیول او سوځول جائز دي

سوال: (۷۰۲) شیطانان او پیریانان چي بني آدم ته تکلیف رسوي، د قرآن د کوم آیت په وسیله نیول یا سوځول جائز دي او کنه؟(۱۳۳۸/۲۱۹۹ھ)

ځواب: صحیح دي. فقط

د سایې او جادو او نورو اثر وي او کنه؟

سوال: (۷۰۳) د سایې پیریانانو، شیطانانو او جادو کېدل ثابت دي او کنه؟او له دوی څخه و انسانانو ته تکلیف رسېدل صحیح دي او،کنه؟(۱۳۳۳-۳۲/۹۳۹ھ)

ځواب: سایه، پېری او شیطان ټول یو دي، له دوی څخه کله ناکله و انسان ته تکلیف رسي او د جادو او نورو اثر هم وي.

سوال: (۷۰۴) د شرعي له مخه آیا پېری او سایه کوم شی شته او کنه؟او دوی سړی ناجوړه کولای شي او کنه؟او یورپ وال چي د دې منکرین دي، د دې څه وجه ده؟
(۱۳۴۳/۲۰۱۹ھ)

ځواب: د پېري د اثر کېدل ثابت دي او په شریعت کي د دې انکار نشته، کوم خلګ چي د دې منکر دي هغه دا ناجوړي بولي او في الواقع د پیریانو له اثر څخه هم مرض پیښیږي.

دم کړي میخونه د کور په کونجانو کي ټکوهل

سوال: (۷۰۵) هنده وفات شوه یوه ښځه وایي چي هنده ما په خوب کي تنګوي، خلګو د مسجد و مولوي صاحب زید ته وویل چي د غه ښځي ته میخونه ورکړه، ده ورته انکار وکړی بیا کلیوالو د خپل کلي د مسجد مولوي صاحب عمر ته وویل هغه میخونه راوغوښتو دم یې کړو د کور په کونجانو کي یې ټکوهل دا فعل جائز دی او

که نه؟ دا ډول عمل کول څنګه دي؟.(۳۲۱/۱۳۴۰هـ)

ځواب: د دا ډول اعمالو په هکله په حدیثو کي دومره ثابت دي چي که کوم لفظ او کلمه شرکیه پکي نه وي نو صحیح دي(۱) او دا هم په حدیث شریف کي راغلي دي چي څوک خپل ورور ته کوم ډول فایده رسولای شي ودي یې رسوي(۲) نو که عمر ته د بد اثر او نظر دغه عمل له چا څخه رسېدلی دی او پکي کومه شرکیه کلمه نه ویله کیږي نو شرعًا د جواز ګنجائش پکي شته فقط

د پیریانو تکلیف رسول شرعًا ثابت دی او کنه؟

سوال: (۷۰۲) د پیریانو انسانانو ته تکلیف رسول شرعًا ثابت دي او کنه؟ (۱۹۱۳/۱۳۴۳هـ)

ځواب: دا مسئله په شریعت کي مسکوت عنها ده، په شریعت کي نه د دې اثبات شته او نه انکار، له مشاهدې او تجربې څخه چي څه معلوم او محقق وي له هغه څخه د انکار کومه وجه نشته(۳) فقط

---

(۱) عن عوف بن مالک الأشجعي رضی الله عنه قال: کنا نرقی فی الجاهلية، فقلنا: يا رسول الله! كيف ترى فی ذلک؟ فقال: اعرضوا علی رقاكم، لا بأس بالرقی ما لم يكن فيه شرک(الصحيح لمسلم: ۲/۲۲٤، كتاب السلام، باب استحباب الرقية من العين و النملة و الحمة بالنظرة)

(۲) عن جابر رضی الله عنه قال: نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن الرقی، فجاء آل عمرو بن حزم إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم فقالوا: يا رسول الله! إنه كانت عندنا رقية نرقی بها من العقرب و إنک نهيت عن الرقی، قال: فعرضوها عليه، فقال: ما أرى بأسا من استطاع منكم أن ينفع أخاه فلينفعه (الصحيح لمسلم: ۲/۲۲٤، كتاب السلام، باب استحباب الرقية من العين و النملة و الحمة و النظرة)

(۳) عن يعلى بن مرة الثقفی رضی الله عنه ... قال: ثم سرنا فمررنا بماء فأتته امرأة بابن لها به جنة فأخذ النبی صلى الله عليه وسلم بمنخره، ثم قال: اخرج فإنی محمد رسول الله، ثم سرنا فلما رجعنا مررنا بذلک الماء فسألها من الصبی، فقالت: و الذی بعثک بالحق ما رأينا منه ريبًا بعدک، رواه فی شرح السنة و عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: إن امرأة جاءت بابن لها إلى رسول الله =

سوال: (۷۰۷) ناري لطيف اجسام لکه پيريان او نور په انساني جسم کي حلول يا بله وسيله سره تکليف کولای شي او کنه؟ (۱۳۴۲/۱۵۹هـ)

ځواب: داسي واقعات معروف او مشهور دي مګر په نصوصو د دې څه اصليت نه معلوميږي.

د جناتو حاضرولو عمل کول څنګه دی؟

سوال: (۷۰۸) يو سړي څپل ورغوی تور کړی څو واره قل هو الله پر وواييي بيا

= صلى الله عليه وسلم فقالت: يا رسول الله! ان ابنى به جنون و إنه ليأخذه عند غدائنا و عشائنا، فمسح رسول الله صلى الله عليه وسلم صدره و دعاء فثع ثعة و خرج من جوفه مثل الجر و الأسود يسعى، رواه الدارمي(مشكوة المصابيح، ص: ٥٤٠-٥٤١ كتاب الفتن، باب فى المعجزات، الفصل الثانى)

ترجمه: (۱) يعلى بن مرة ثقفي رضى الله عنه وويل: بيا روان شو موږ نو تېر شو پر څه اوبو باندي نو يوې ښځي نبي عليه الصلاة و السلام ته خپل زوی راوړی چي وربانـدي پيريـان ؤ، نبي عليـه الصلاة و السلام تر پزه ونيوی بيا يې هغه شياطينو او پيريانو ته وفرمايل: راووځئ! بې شکه زه محمد د الله رسول يم. بيا موږ روان شوو نو کله چي بيا موږ پر دغه اوبو باندي تېرېدو نو نبي عليه الصلاة و السلام له هغه ښځي څخه د هغه ليونی شوي هلک په هکله پوښتنه وکړه، هغي ښځي ورته وويل: قسم دي مي په هغه ذات وي چي ته په حق سره رالېږلی يې. ستا سو لـه تـګ وروسته بيـا موږ پـه دغـه هلک کي کومه ناخوښه کار نه دی ليدلی، دغه روايت بغوي په شرح السنة کي رانقل کړی دی(مظاهر حق قديم تتمه جلد چهارم، ص: ۳۵ ط نول كشور لكهنو)

(۲) له حضرت عبد الله بن عباس رضى الله عنهما څخه روايت دی چي ده وفرمايل: يوې ښځي خپل زوی نبي عليه الصلاة و السلام ته راوړی او ورته وې ويل: يا رسول الله! زما پر زوی جنون راځي او جنون د غرمي او مابنام د ډوډۍ پر وخت راځي، نبي عليـه الصلاة و السلام د ده پر سينه لاس راتېر کړی او دعا يې ورته وکړه، نو هغه هلک قی وواهی او د هغه له ځيټي د تور کتري په رنګه شی ووا تی چي منډي يې وهلې، دغه روايت ترمذي رانقل کړی دی(مظاهر حق قديم تتمة جلد چهارم، ص: ۳۵-۳۶، مطبوعة نول كشور لكهنو)

له بيان شوو دواړو روايتونو څخه د دې خبري اصليت معلوميږي چي پيريان د انسان پـه جسم کي حلول وکړي يا په کومه بله وسيله ضرر او تکليف ور رسولای شي. ۱۲ محمد امين پالن پوري

يو ولس، دوولس كلن هلک د غه ورغوي ته وګوري د ه ته د څو انسانانو شكلونه په نظر راشي، دى له هغو څخه پوښتنه وكړي چي پر فلاني كومه سايه، اثر او پيريان شته؟ هغه ونيسه رايې وله هغه يې ونيسي نور او نور دا ډول حاضرات كول او پر دې باندي روپۍ او پيسې اخيستل صحيح دي او كنه؟ (۳۲/۱۸۰۳-۱۳۳۳هـ)

ځواب: دا ډول اعمال حاضرات او نور شرعًا منع كړل شوي دي ځكه چي په دې كي د جناتو په وسيله د غيب د خبرو پوښتنه كيږي چي مثلاً پر فلاني اثر او پيريان شته او كنه نو قطع نظر له دې څخه چي دا صرف تخيلات وي او اصل هيڅ هم نه وي كه واقعتًا هغه شكلونه په نظر راځي نو له هغو څخه د غيب د خبرو پوښتنه كول چي پر فلاني سايه او پيريان او نور شته منع او حرام دي ځكه چي دا همداسي دي لكه چي ځيني خلګ له نجوميانو او كاهنانو څخه د غيب د خبرو پوښتني كوي لنډه دا چي د غيب علم چا ته نشته او د دې پوښتنه له چا څخه كول جائز نه دي، نو كه داسي عمل د قرآن په ايتونو وشي يا په كومه بله وسيله خو منع دي او اجرت پر دې اخيستل صحيح نه دي او كوم امام چي د شريعت خلاف عمل كوي د هغه امامت مكروه دى. فقط

سوال: (۷۰۹) ځيني بزرګان د حضراتو عمل كوي دا ډول چي تبارك الذي سورة تر يو ويشت ورځو پوري يو ډېرش واره هره ورځ وايي، په دغه عمل كولو دوه حرفه د دوى په قبضه كي راځي "لن، لن، تب تب" او يو پېرى د ده په قيد كي راځي، هغه پر يو هلک يا انجلۍ را حاضر كړي ورته وايي فلانى كار وكړه كه هغه كار د دغه موكل په وس وي نو سمدستي يې وكړي كنې انكار كوي دا عمل كول صحيح دى او كنه؟ (۳۵/۴۵۲-۱۳۳۶هـ)

ځواب: داسي عمل او دم شرعًا څه پروا نلري چي پكي شركيه كلمات نه وي، فى الحديث الشريف: لا بأس بالرقى ما لم يكن فيه شرک الحديث(۱) (رواه مسلم) وفى حديث جابر رضى الله عنه قال: نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن الرقى، فجاء

---

(۱) عن عوف بن مالک الأشجعى رضى الله عنه قال: كنا نرقى فى الجاهلية، فقلنا يا رسول الله! كيف ترى فى ذلک؟ فقال: اعرضوا على رقاكم، لا بأس بالرقى ما لم يكن فيه شرک(الصحيح لمسلم: ۲۲۴/۲، كتاب السلام، باب استحباب الرقية من العين و النملة و الحمة و النظرة)

آل عمرو بن حزم إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم فقالوا: يا رسول الله! إنه كانت عندنا رقية نرقى بها من العقرب و انک نهيت عن الرقى، قال: فعرضوها عليه، فقال: ما أرى بأسا، من استطاع منكم أن ينفع أخاه فلينفعه(۱) (رواه مسلم) نو معلوم شو چي په کلام الله او په طيب کلماتو اعمال او دم کول جائز بلکه مستحسن او مأمور به دی، نو د قرآن د سورتونو اعمال چي د پوهانو او ماهرينو له مجرباتو څخه دی او تأثيرات د دوی په تجربه ثابت دي، د دې کول د دوی د شرطونو سره سم په دې شرط چي د شريعت خلاف عمل به پکي نه وي، پروا نلري او د پيري په مسخر کولو کي دې خبري ته پام کول پکار دی چي د شريعت په خلاف کوم کار به نه په کوي او د غيب د خبرو پوښتني به نه ځني کوي او پر دې به يقين او عمل نه کوي. قال الله تعالى: "و لا تقف ما ليس بک به علم" (سورة اسراء، آيت: ۳۶) كما قال المحقق الشيخ ولى الله الدهلوي قدس سره فى القول الجميل: و لمعرفة السارق يتقابل اثنان، و يمسكان الإبريق بينهما و يحملانه بين إصبعيهما السبابتين و يكتب اسم المتهم فى الإبريق و يقرء سورة ياسين(إلى) من المكرمين، فإن كان هو الذى سرق دار الإبريق، فإن لم يدر فليمح اسمه و ليكتب اسم غيره و هكذا حتى يدور. قلت: و يجب على من اطلع على السارق بأمثال هذه أن لا يجزم بسرقته، و لا يشيع فاحشته بل يتبع القرائن، فإنما هى طريق اتباع القرائن، قال الله تعالى: "و لا تقف ما ليس لک به علم" (۲) فقط

سوال: (۷۱۰) يو سړی د پيريانو په وسيله د غيب خبري کوي او پيريان دا ډول راحاضروي چي لومړی د يو ترخوړلسو کلنو کم هلک پر تندي عطر ولګوي او پر نوک باندي تور رنګ وروموږي چي کله رنګ وچ شي تيل ورباندي ولګوي او هلک ته وايي چي په يو نظر په نوک کي ګوره او پخپله دم پر کوي بيا و هلک ته وايي وګوره بنګي پکي راغلی؟ په جواب کي هلک ورته وايي هو راغلی، بيا دی کرسياني ووينې آخر

(۱) الصحيح لمسلم: ۲/۲۲۴، كتاب السلام، باب استحباب الرقية من العين و النملة و الحمة و النظرة.

(۲) شفاء العليل ترجمه القول الجميل: ص: ۹۲، فصل ہشتم برائے شناختن وزد، ط. مطبع نظامی کانپور۔

د پیریانو پاچا تاج پر سر وي راشي پر کرسۍ کښیني، د دې په وسیله له هلک څخه د غیب خبري پوښتي دا شرعًا څنګه دي؟ کوم څوک چې داسي کوي یا یې په بل وکړي او دا صحیح وبولي هغه کافر دی او کنه؟ نکاح د هغه ماتیږي او کنه؟ او لمونځ پسي جایز دی او کنه؟ (۱۳۳۸/۱۴۰۷هـ)

ځواب: په بیان شوې طریقه پیریان راحاضرول او هغه رښتني ګڼل او حق بلل یو مخ حرام او باطل او بدعات او منکرات دي، څوک چې داسي کوي یا یې په بل کوي او دا حق بولي هغه فاسق او مبتدع دی، لمونځ پسي مکروه دی، او د ده امام جوړول حرام دي، ځکه چې په شامي کي لیکلي دي چې د فاسق په امام جوړولو کي د ده تعظیم دی او تعظیم د فاسق حرام دی(۱) او د کفر حکم پر ده نه لګول کیږي او د نکاح ماتېدو حکم نه وربانذي لګول کیږي، مسلمان ته کافر ویل ډېره سخته خبره ده په حدیث شریف کي راغلي دي چې څوک کوم مسلمان ته کافر ووایي او هغه په حقیقت کي کافر نه وي نو هغه (د هغه وبال) پر ویونکي راګرځي(۲) و العیاذ بالله تعالی لهذا تکفیر د ده مه کوئ فقط و الله تعالی اعلم

په نامسلمان دم چوکول

سوال: (۷۱۱) زید وایي چي که کوم مسلمان مار او لړم وچیچي او کوم درد او نور وي نو په هندوانو دم چو کول صحیح نه دی بکر وایي چي موږ پخپله دغه منتر او دم نه استعمالئ، د چا خبره صحیح ده؟ (۱۳۳۴-۳۳/۱۹۰۸هـ)

ځواب: قول د زید صحیح دی، داسي مجهول علاج نه دی کول پکار. فقط

(۱) و أما الفاسق فقد عللوا كراهة تقديمه، بأنه لا يهتم لأمر دينه، و بأن في تقديمه للأمامة تعظيمه و قد وجب عليهم إهانته شرعًا و لا يخفى أنه إذا كان أعلم من غيره لا تزول العلة(الشامی ۱/۴۱۴، كتاب الصلاة، باب الإمامة، قبيل مطلب: البدعة خمسة أقسام. ط رشيديه)

(۲) عن ابن عمر رضى الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه و سلم: أيما رجل قال لأخيه: كافر، فقد باء بها أحدهما، متفق عليه(مشكوة المصابيح، ص: ۴۱۱، كتاب الآداب، باب حفظ اللسان و الغيبة و الشتم و هكذا في جامع الترمذى: ۲/۹۲، ابواب الإيمان، باب ما جاء في من رمى أخاه بكفر)

زیاتوب د مرتب له خوا:

په ډېره سخته مجبوري کې کله چې د مسلمان په علاج فائده نه کیږي، په نامسلمان په دې شرط علاج کول جائز دي چې له مریض څخه به څه کول نه غواړي، نامسلمان له ده څخه روپۍ واخلي نور چې څه کولو وي د روږ او نور هغه ټول نامسلمان وکړي لکه چې د دار العلوم دیوبند له لاندي فتوی څخه چې څرګند دي:

سوال: (ب/۸۲۹) زید له جادو او نورو څخه ډېر پریشان دی، په مسلمانو عاملانو باندي ډېر علاجونه وکړو لیکن هیڅ فائده یې و نه شوه، ورځ په ورځ یې تکلیف زیاتیږي، د مرګ وړباندي وېره ده نو په داسي سخته مجبوري کي به په یو نامسلمان معالج علاج کول جائز وي چې له زید څخه څه کول نه غواړي صرف پیسي ورکړي د روږ او نور هر څۀ معالج وکړي فقط و السلام المستفتي: محمد یونس قاسمي

شعبۂ ترتیب فتاوی دارالعلوم دیوبند ۱۴۳۲/۲/۱۹ھ

الجواب و بالله التوفیق: (تب/۱۵۷) که د جادو علاج په مسلمانو عاملانو نه کیږي او بل کوم جائز او مفید علاج نه وي، ورځ په ورځ په سحر کي شدت راځي او د مریض د مرګ خطره وي، نو د سخت ضرورت او مجبورۍ پر مهال په نامسلمان علاج کولای شي، په دې شرط چې هغه به په مریض کوم ناپاک او نجس شی نه خوري او نه به په ده شرکیه او کفریه کلمات وایي، بلکه نامسلمان عامل پخپله د خپل عمل په وسیله د سحر مضر اثرات دفع کړي نو د سخت تکلیف او مجبورۍ پر مهال په نامسلمان عامل د داسي عمل کولو ګنجایش شته، او د دې معاوضه او اجرت هم ورکولای شي، و فی حاشیة الایضاح لبیري زاده قال الشمنی تعلمه و تعلیمه حرام أقول: مقتضی الإطلاق و لو تعلم لدفع الضرر عن المسلمین ... و فی ذخیرة الناظر تعلمه فرض لرد ساحر أهل الحرب و حرام لیفرق به بین المرأة و زوجها و جائز لیوفق بینهما الخ(إلی قوله) و للسحرة فصول کثیرة فی کتبهم فلیس کل ما یسمی سحرًا کفرًا إلخ(شامي ۳۳/۱، مقدمة: مطلب فی التنجیم و الرمل) (په حواله د فتاوی رحیمیه کامل: ۱۶۸/۱۰، ط پاکستان) فقط و الله اعلم

کتبه حبیب الرحمن عفا الله عنه
مفتی دار العلوم دیوبند ۱۴۳۲/۲/۲۲ھ

الجواب صحیح
محمود حسن غفر له بلند شهری

الجواب صحیح
وقار علي غفر له

الجواب صحیح
فخر الاسلام غفر له

داغه راز په فتاوی رحیمیه کي راغلي دي:

سوال:(۲۴۸۷) څه فرمايي علماء د دين او مفتيان د شرع متين په لاندي صورت حال کي چي زموږ په وطن ګجرات کي نن صبا جادو ډير زيات دی، بس که لږ اختلاف او دښمني پيدا شي نو د خپل غنيم پريشانه کولو يا وژلو لپاره په نامسلمان مشرک سحر او کوډي کوي، د دې د ختمولو لپاره مي تعويذونه عمليات هر څه وکړو مګر فايده ونه شوه، اما تخفيف پکي راځي. عاملان وايي چي دا خو سفلي او پليت علم دی، ځکه د دې مکمل ختمولو لپاره د اغه راز ناپاک او پليت عامل ته تګ غواړي، يو څو مشرکان عاملان هم د تعلق په وجه و عمل کولو ته آماده دي، مګر د شريعت د احترام او د ګناه د ويري په وجه مي نه تر ننه پوري داسي کړي دي او نه مي چاته اجازه کړې ده، خلګ ډير پريشانه شوي دي او ډير خلګ مړه شوي هم دي نو آيا په داسي صورت حال کي په نامسلمانو مشرکانو عاملانو سحر او نورو ماتولو عمل کول جائز دي او کنه؟

په دې کي زموږ څخه څه خوړل، څښل، ويل او تړل نه غواړي بلکه دوی يې د خپل عمل په وسيله پخپله ليري کوي يا په هغو کي کوم کار زموږ څخه کول غواړي مثلاً د دوی دم کړي تار په غاړه کول نو آيا په دې کي به څه فرق وي؟ که دواړه صورتونه مساوي دي؟ داغه راز د اجرت ورکولو يا کوم بل شی ور اخيستلو لپاره روپۍ ورکول څنګه دي؟ بينوا توجروا.

ځواب: کله چي د مرګ خطره ده او بل کوم جائز علاج نشته او له مريض څخه کوم پليت او حرام شی خوړل نه غواړي او نه شرکيه او کفريه کلمات پکي ويل شته بلکه نامسلمان پخپله د خپل عمل په وسيله د سحر مضر اثرات ليري کوي نو د مجبورۍ په وجه د اسي عمل په کول او اجرت ورکول صحيح دي و فی حاشية الإيضاح لبيري زاده قال الشمی: تعلمه و تعليمه حرام الخ(شامی ۳۳/۱ مقدمة مطلب فی التنجيم و الرمل) فقط و الله تعالی اعلم بالصواب (۲۴۷/۳-۲۴۸)
(فتاوی رحيميه کامل: ۴۴۱/۵، ط مکتبة الاحسان ديوبند)

سوال: (۷۱۲) زياتره مسلمانان چي مار او لړم وچيچي نو د دم لپاره نامسلمان راغواړي هغه پخپل دم کي څرګند د کفر او شرک الفاظ وايي دا جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۵/۱۰۰۸ھ)

ځواب: کله چي دا معلومه وي چي هغه شرکيه دم کوي نو جائز نه دی(۱) فقط

---

(۱) د مسلمان لپاره د شرکيه الفاظو دم کول حرام دی، مګر که نامسلمان په شرکيه دم د مسلمان علاج کوي او له مسلمان څخه د شرعي په خلاف کوم کار کول نه غواړي نو په نامسلمان داسي علاج کول او د هغه اجرت ورکول جائز دی ۱۲ محمد امين

په هندو دم کول جائز دی او کنه؟

سوال: (۷۱۳) د جادو ختمولو لپاره و هندو ته ورتلل او دم په کول صحیح دی او کنه؟ (۳۲/۱۰۷۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: صحیح نه دي (۱) فقط

و پادري ته د علاج لپاره ورتلل

سوال: (۷۱۴) په یو ښار کي یو پادري اشتهار ورکړی چي زه د هر ډول ناجوړی علاج کوم، الله زما په علاج اوزما په دعا و ناروغو ته شفاء ورکوي، د دي خبر په اوریدو ځیني مسلمانان هم صرف د علاج لپاره نه په دي وجه چي عیسائي دی ورغلو، آیا دا خلک گمراه او عیسایان شول که مسلمانان دي؟ (۳۱۸/۱۳۴۱هـ)

ځواب: دا خلک کافران او مرتدین نه شول، لیکن په داسي مدعی کذاب او اشد کافر علاج کول مناسب نه دي، له دوی ځخه لیري گرځي، ځکه چي دا خلک په داسي بهانو مسلمانان گمراه کوي فقط

د نظرمات دم کول

سوال: (۷۱۵) د نظر ماتولو یا نورو ناجوړیو علاج په داسي منتر او دم سره کول چي پکي شرک نه وي ځنگه دی؟ (۱۰۷۸/۱۳۳۹هـ)

ځواب: داسي عملیات کول چي پکي شرک نه وي جائز دي (۲) فقط

---

(۱) په سخته مجبوري کي کله چي د مسلمان په علاج فائده نه وي، په هندو علاج کول جائز دي، په دي شرط چي له مرض ځخه به کوم عمل کول نه غواړي ۱۲ محمد امین پالن پوري

(۲) عن عوف بن مالک الأشجعی رضی الله عنه قال: کنا نرقی فی الجاهلیة، فقلنا: یا رسول الله! کیف تری فی ذ لک؟ فقال: اعرضوا علی رقاکم، لابأس بالرقی =

نظر کېدل ثابت دي

سوال: (۷۱۶) د پیریانانو، شیطانانو، دیبانو او جادو څه اصل شته او نظر کېدل او په دې سره انسان ته تکلیف رسېدل صحیح دي او کنه؟ (۱۰۷۶/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: په حدیث شریف کې راغلي دي چې د سحر تأثیر وي(۱) او نظر کېدل هم صحیح دي(۲) او پېریان، شیطانان او دېبان ټول یو دي، د دوی هم اثر وي.

نظر کېدل او د هغه علاج

سوال: (۷۱۷) ... (الف) د زید زوی بازۍ کولې، یو سړي ورته کتل، په همدغه شپه د ده د زوی پر پښه دانه راوخته پښه یې وپړسېده او تبه یې شوه، درې هفتې سخت ناجوړه شو، اوس ټول وايي چې دغه ماشوم نظر شوی دی، تعویذ مي هم ورو کړی خو ټول وايي چې چا نظر کړی دی، د هغه د بولو خاوري یا د پله خاوره راواخلئ، دغه ماشوم په ولمبوئ نو کله چې مور دا عمل وکړی ماشوم جوړ او روغ

= مالم یکن فیه شرک (الصحیح لمسلم: ۲۲٤/۲، کتاب السلام، باب استحباب الرقیة من العین و النملة و الحمة و النظرة)

(۱) عن عائشة رضی الله عنها قالت: سحر رسول الله صلی الله علیه وسلم حتی إنه لیخیل إلیه أنه فعل الشئ و ما فعله حتی إذا کان ذات یوم و هو عندی دعا الله و دعاه ثم قال: أشعرت یا عائشة! أن الله قد أفتانی فیما استفتیه فیه، قلت: و ما ذاک؟ یا رسول الله! قال جاءنی رجلان فجلس أحدهما عند رأسی و الآخر عند رجلی، ثم قال أحدهما لصاحبه: ما وجع الرجل؟ قال: مطبوب(أی مسحور) قال: و من طبه؟ قال: لبید بن الأعصم الیهودی من بنی زریق الحدیث(صحیح البخاری: ۸۵۸/۲، کتاب الطب، باب السحر، أخرجه أیضًا الصحیح لمسلم: ۲۲۱/۲، کتاب السلام، باب السحر)

(۲) عن ابن عباس رضی الله عنهما عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: العین حق و لو کان شئ سابق القدر سبقته العین الحدیث(الصحیح لمسلم: ۲۲۰/۲، کتاب السلام، باب الطب و المرض و الرقی)

شو ، داسي کول صحيح دي او کنه؟ او نظر کېدل څنګه دي؟

(ب) د عوام الناس معمول دی چي کله څوک ناجوړه شي او د ده د نظر کېدو ګمان وي نو خلګ داسي کوي چي څو مرچکه يا اخبنل شوي څه اوړه په مټ کي ونيسي د داسي مريض پر بدن باندي يې راتېر کړي او په خوله باندي د هغو خلګو يو يو نوم اخلي چي دِ هغو د نظر کولو يقين يې وي او د هر يو د نوم سره وايي د فلاني نظر دي مات شي، د فلاني نظر دي مات شي، له دې وروسته دغه شيان په اور کي واچوي، په دې سره که د نظر اثرؤ نو هغه به ختم شي، په دې هکله څه حکم دی؟ (۱۳۳۸/۴۳۰هـ)

ځواب: (الف-ب) د مسلم شريف په حديث کي راغلي دي: العين حق و لو كان شئ سابق القدر سبقته العين و إذا استغسلتم فاغسلوا(۱) د دې حاصل دا دی چي نظر کېدل حق دي او کله چي تاسو ته د پرېمنځلو وويل شي نو پرې يې منځئ، د دغه پرېمنځلو کيفيت د حديثو په شرحو کي بيان شوی دی، په دغه پرېمنځلو کي د استنجاء د ځای پرېمنځل هم راغلي دي او بيا د همدغه اوبو پر معيون يعني نظر شوي اچول راغلي دي(۲) لنډه دا چي کله نظر کېدل حق دي نو که کوم داسي عمل د دې د دفع لپاره وشي چي پکي د شرک او کفر کلمې نه وي نو څه پروا نه لري.

نو په دوهم سوال کي چي کوم عمل د مرچکو او نورو بيان شوی دی، په دې کي هم شرعًا څه منع نشته. فقط و الله تعالی اعلم

دښمن ته د ماتي ورکولو لپاره ناجائز عمل کول

سوال: (۷۱۸) بکر غواړي چي خلک د مسجد د مولوي صاحب زيد معتقدين نشي، زيد د بکر لپاره عمر ته

---

(۱) عن ابن عباس رضى الله عنهما عن النبى صلى الله عليه وسلم قال: العين حق الحديث(الصحيح لمسلم: ۲۲۰/۲، كتاب السلام، باب الطب و المرض و الرقى)

(۲) قوله: (فاغسلوا) كانوا يرون أن يؤمر العائن ليغسل أطرافه و ما تحت الإزار فتصب غسالته على المعيون يستشفون بذلك(مرقاة المفاتيح: ۳۵۱/۸، كتاب الطب و الرقى، الفصل الأول)

وویل چي کوم داسي عمل راوښوده چي دی زما دښمني پریږدي، عمر ورته وویل چي د میاشتي په دیارلسمه د شپې د شمع یو بت جوړ کړه بیا د قرآن شریف فلانی آیت پر کاغذ ولیکه د بت خیټه ورځیري کړه، دغه آیت پکي کنبږده بیا د دغه بت پر سر مېخ ټکوهه بیا دغه بت پر دوراهي ښخ کړه د دښمن په سر کي به داسي درد شي چي بې تابه به ګرځي او کله چي دی ستا سره خوشحاله شي د بت له سره مېخ راوباسه، د دښمن پر سر الحمد لله ووایه دم یې کړه، سمد ستي به جوړ شي، دزید په هکله څه حکم دی؟ (۱۳۴۰/۲۱۳ھ)

ځواب: داسي عمل کول او د کولو چاته ویل صحیح نه دی، په دې کي دواړه ګنهکاران دي. فقط

د دښمن له شره د خلاصون مجرب عمل

سوال: (۷۱۹) د دنیوي دښمنانو د شر د دفع لپاره کوم مجرب عمل راته ولیکئ. (۱۳۳۹/۲۲۱ھ)

ځواب: "لا یلاف قریش" اویا واره هره ورځ یا لږ نه لږ یوولس واره هره ورځ وایه او حزب البحر یو وار هره ورځ وایه فقط

د ژبي بندولو عمل کول او د قرآن آیتونه په لاره کي ښخول

سوال: (۷۲۰) زید د بکر ژبي بندولو لپاره د یاسین د ایتونو عمل وکړی او آیتونه پر یو کاغذ باندي ولیکل د بکر د تګ راتګ په لاره کي یې ښخ کو اوس ځیني جاهلان وایي چي بکر کافر شو، آیا زید ګنهکار شو؟ او د ژبي بندولو لپاره د آیتونو عمل کول جائز دی او کنه؟ (۱۳۳۷/۱۷۴۲ھ)

ځواب: زید په دغه صورت کي کافر نه شو مګر د تګ راتګ په لار کي د قرآن آیتونه ښخول ښه نه دي مکروه دي او د ژبي بندولو عمل کول که د زید پر حق والي کېدو په وجه وي نو صحیح دي. فقط و الله تعالی اعلم

په کلام الله سره فال نیول

سوال: (۷۲۱) په کلام الله سره فال نیول صحیح دی او کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۵۸۸ه)

ځواب: هیڅ پروا نلري.

بم مرغه منحوس (ناسي) بلل غلط دي

سوال: (۷۲۲) د شلو کلونو په تجربه ثابت دي چي که بم وي یا کوم بل مرغه چي کله ځوک ناجوړه کېدونکی یا وفات کېدونکی وي نو د شپې د هغه پر کور چغه کوي، داسي خیال څنګه دی؟ (۱۳۳۹/۱۰۷۸ه)

ځواب: په حدیث شریف کي: "و لا عدوى و لا طيرة و لا هامة و لا صفر" (۱) راغلي دي او د هامه تفسیر په بوم (بم) سره هم شوی دی او د ده د منحوس ګڼلو نفي یې کړې ده. لهذا له داسي فاسد خیالاتو او طبعي توهماتو څخه اجتناب او پرهېز لازم دی، قال في المرقاة: قوله: (و لا هامة) بتخفيف الميم ... و هى اسم طير يتشائم به الناس و هى الصدى و هو طير كبير يضعف بصره بالنهار و يطير بالليل و يصوت و يسكن الخراب و يقال له بوم (إلى أن قال) فأبطل صلى الله عليه وسلم هذا الاعتقاد الخ (۲)

نېک فالي صحیح ده

سوال: (۷۲۳) سورة فاتحه، درې واره، درود شریف او آیت: "و افوض امرى الى الله إن الله بصير بالعباد" (سورة مؤمن، آیت: ٤٤) او یوه بله دعا ووایي، قرآن شریف خلاص کړي او وه ورقي راواړوي فال اخلي داسي څنګه دي؟ (۱۳۴۳/۲۲۸ه)

---

(۱) عن ابي هريرة رضى الله عنه يقول: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا عدوى الحديث (صحيح البخارى: ۲/۸۵۰، كتاب الطب، باب الجذام)

(۲) مرقاة المفاتيح: ۳/۹، كتاب الطب و الرقى، باب الفال و الطيرة.

ځواب: نېک فالي صحيح ده، خو د دې صورت دا دی چې مثلاً چا ږغ درباندې وکړې چې د چا نوم مثلاً محمود دی یا حسن دی یا بل کوم ښه نوم لکه صالح او نور دي او ږغ کونکي وویل "یا حسن!" یا "یا محمود" اورېدونکي نېک فالي ونیوله چې زما کار به ښه وي یا انجام به محمود وي نو داسې جائز دي، له دې څخه پرته په خاص طریقه لکه چې په سوال کي لیکل شوې ده ثابته نه ده(۱) نور نو که ښه فال په یو لفظ پوري واخیستل شي نو دا صحيح دي(۲)

په نوړې نېک فالي نیول او دا عادل ګواه بلل

سوال: (۷۲۴) زید وايي چې نوړې عادل ګواه دی، مثلاً څوک دعا کوي او چا ونوړل دا د قبلېدو دلیل دی او د دلیل په توګه د "ما ثبت من السنة" مترجم: ص: ۵۶ ذکر ماه صفر: باب اول طیره، دا عبارت بیانوي: الفال مرسل و العطاس شاهد عدل لا شؤم، و قد یکون الیمن فی الدار و المرأة و الفرس رواه الترمذی و ابن ماجه عن حکیم بن معاویة(۳) لیکن بکر د دې په خلاف کوي، په داسې صورت کي څه حکم دی؟ بکر وايي چې نوړې د عدم قبولیت او بدفالي دلیل دی؟ (۲/۱۰۲-۳۳-۱۳۳۴هـ)

---

(۱) په سوال کي فال ایستل مراد دي، هغه نېک فال هم راوتلای شي او بد هم او فال را ایستونکی به د دواړو اعتبار کوي نو دا جائز نه دي، د نیک فال جواز په حدیث ثابت دی، د حاشیې په دریم حدیث کي راغلي دي: و لا یتطیر. ۱۲ سعید احمد پالن پوري

(۲) عن انس رضی الله عنه أن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: لا عدوی و لا طیرة و أحب الفال، قالوا: یا رسول الله! و ما الفال؟ قال: الکلمة الطیبة.

و عن انس بن مالک رضی الله عنه أن النبی صلی الله علیه وسلم کان یعجبه إذا خرج لحاجته أن یسمع یا راشد یا نجیح(جامع الترمذی: ۱/ ۲۹۰-۲۹۱، ابواب السیر، باب ما جاء فی الطیرة)

و عن ابن عباس رضی الله تعالی عنهما قال: کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یتفائل و لا یتطیر و کان یحب الإسم الحسن، رواه فی شرح السنة (مشکوة المصابیح، ص: ۳۹۲، کتاب الطب و الرقی، باب الفال و الطیرة، الفصل الثانی)

(۳) ما ثبت من السنة: ص: ۳۱ باب بالطیرة، المطبوعة: المطبع العالی نول کشور، لکناؤ.

ځواب: په مجمع البحار کي راغلي دي: و فيه(أى فى الحديث) كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يحب العطاس و يكره التثاؤب، لأنه يكون مع خفة البدن و انفتاح المسام المسببة عن تخفيف الغذاء و إقلال الشراب و التثاؤب بخلافه(ن) لأنه يدل على النشاط و خفة البدن و يخرج به ما اختنق فى دماغه من الأبخرة و لذا أمر بالحمد(ك) المحبة راجع إلى سببه الجالب لـه، قـال الأطباء: العطاس يدل على قوة الدماغ و صحة مزاجه و زوال زلزلة البدن(ج) و سببه خفة البدن فيعين على الطاعات و التثاؤب يكون مع ثقل البدن و امتلائه و استرخائه للنوم و الكسل، فينشط عن الطاعات (۱) (مجمع البحار) په حديث شريف کي د عطاس په هلکه هم دومره الفاظ راغلي دي: كان يحب العطاس و يكره التثاؤب: ترجمه د نبي عليه الصلاة و السلام نوري(پرنچي) خوښ او اررمي يې ناخوښه وه او وجه د دې د مجمع البحار له پورتني عبارت څخه ځرګنده ده، کوم عبارت چي تاسو له ماثبت من السنة څخه رانقل کړی دی، هغه مو وکاتی، په ماثبت من السنة کي همدا ډول منقول دي، مګر په آخر کي چي کومه حواله په هغه کي د ترمذي او ابن ماجي ليکلې ده، هغه دواړه کتابونه مي وکتل په هغو کي صرف دا الفاظ دي: و قد روى حكيم بن معاوية قال: سمعت النبى صلى الله عليه وسلم يقول: لا شؤم و قد يكون اليمن فى الدار و المرأة و الفرس(۲) (ترمذي شريف) او پـه همدغه الفاظو سره په ابن ماجه کي راغلي دي، د "و العطاس شاهد عـدل" الفاظ پـه يو کـي هم نشته او نور په صحاح سته کي هم دا الفاظ د حديث مي تر نظر نه دي تېر شوي، لنډه دا که دا الفاظ په کوم حديث کي راغلي هم وي نو مطلب د دې دا دی چي نوری عادل ګواه دی،

---

(۱) مجمع بحار الأنوار: ۳۹۷/۲، باب العين مع الطاء، المطبوعة: المطبع لعالى نول كشور، لكناؤ.

(۲) جامع الترمذى: ۱۱۰/۲، أبواب الاستيذان و الأدب عـن رسـول الله صـلى الله عليـه وسـلم، باب ما جاء فى الشؤم.

و عن حكيم بن معاوية عن مخمر بن معاوية رضى الله عنه قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم، يقول: لا شؤم و قد يكون اليمن فى ثلاثة فى المرأة و الفرس و الدار (سنن ابن ماجة، ص: ۱۴۳، كتاب النكاح، باب ما يكون فيه اليمن و الشؤم)

د بدن د صحت، د بدن د خفت د دماغ د قوت او د مزاج او نورو د سلامتی. لکه چي په مجمع البحار کي د: کان یحب العطاس حدیث په شرح کي لیکلي دي د نېک فالي او بد فالي سره د دې هیڅ تعلق نه معلومیږي او د بکر قول خو یو مخ غلط او د صحیحو حدیثو او شرعي قواعدو مخالف دی. پاته شو د زید تقریر او بیان. د هغه په اړه خبره دا ده چي که د حدیث الفاظ دا ډول "و العطاس شاهد عدل لا شؤم" وایي نو د غه مطلب کوم چي زید بیانوي ورسره لګېدی او صحیح کېدی مګر الفاظ د حدیث دا نه دي، بلکه حدیث له دې ځایه شروع دي. لا شؤم و قد یکون الیمن الخ(١) یعني نحوست یو شی نه دی او هیڅ شی منحوس نه دی بلل پکار، اما یمن او برکت کله په کور او ښځه او آس کي وي نو که د غه الفاظ "و العطاس شاهد عدل" چیري مروي وي نو په ظاهره دا ځان ته بېله جمله ده او د دې مطلب د بل حدیث سره سم کوم چي ما رانقل کړی دی، هغه دی کوم چي له مجمع البحار څخه رانقل شوی دی. فقط

د چا په نوړلو یا اعتراض کولو کار پرېښودل

سوال: (٧٢٥) د زید عقیده ده چي دی کله کوم کار ته ځي او څوک پر ده اعتراض وکړي یا ونوړي نو دی ودریږي، په دې خیال چي د ده کار نه کیږي او کله چي دی له خوبه راکښیني نو بېله خپل لاس کتلو د بل و مخ ته نه ګوري، د داسي خیالاتو سړی څنګه دی؟ (١٣٣٧/١٨٧٣هـ)

ځواب: دا خیالات اصل نلري، په شریعت کي د دې هیڅ اصل نشته، داسي خیالات بنه دي ساتل پکار. پر الله باندي توکل کول پکار دی، د کوم خیال په وجه کوم کار نه دی پرېښودل پکار. فقط

د سحر تأثیر حق دی

سوال: (٧٢٦) زید وایي چي د سحر د تأثیر عقیده ساتونکی مشرک دی او عمر وایي چي د سحر د تأثیر منکر کافر دی نو څوک پر حق دی؟ (٢١/٤٢-١٣٤٧هـ)

ځواب: د اهل سنت و الجماعت مذهب دا دی چي تأثیر د سحر حق دی لیکن په دې کي چا ته کافر نشي ویل کېدلای، په شامي کي راغلي دي: و فی شرح الزعفرانی: السحر حق عندنا و جوده و تصوره

---

(١) مخکني حواله ١٢

و أثره الخ(۱) فقط و الله تعالی اعلم

جادو کول حرام دي

سوال: (۷۲۷) سحر کول او د غیب خبري ښودل څنګه دي؟ او په داسي چا پسي د لمانځه څه حکم دی؟ (۱۱۲۰/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: سحر او نور تول حرام دي(۲) په داسي سړي پسي لمونځ ناجائز دی. فقط

په سحر کونکیو سحر کول

سوال: (۷۲۸) دوو کسانو په یو سړي جادو وکړی، هغه سړی وفات شو لیکن عامل صاحب وایي چي اوس په دغه سحر کونکیو سحر کول د شرعي خلاف دي، شرعًا په دي هکله څه حکم دی؟ (۱۲۴۱/۱۳۴۲ھ)

ځواب: په دغه صورت کي د دغه عامل صاحب دا وینا "د شرعي خلاف دي" صحیح ده ځکه چي په شرعي قانون دا خبره نه ده ثابته شوي چي د دغه سړي سحر کړی دی، ځکه چي د شرعي قانون ثبوت دا دی چي یا هغه ساحر پخپله اقرار وکړي یا د دوو معتبرو ګواهانو په شهادت د دوی و مخته د سحر کول ثابت شي. په شامي کي راغلي دي: قال ابو حنیفة رحمه الله: الساحر إذا أقر بسحره أو ثبت بالبینة یقتل و لا یستتاب منه الخ(۳) فقط

له کاهن او نجومي څخه د غیب خبري پوښتل

سوال: (۷۲۹) علم نجوم په شریعت ثابت دی او کنه؟ او له نجومي څخه د غیب خبري پوښتلو

---

(۱) الشامی ۱/۳۳ مقدمة. مطلب: فی التنجیم و الرمل. ط رشیدیه

(۲) عن أبي هریرة رضی الله عنه أن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: إجتنبوا الموبقات: الشرک بالله و السحر(صحیح البخاری ۲/۸۵۸، کتاب الطب. باب الشرک و السحر من الموبقات)

(۳) الشامی ۳/۲۲۳ کتاب الجهاد. باب المرتد. مطلب فی الساحر و الزندیق. ط رشیدیه

او د هغو د تصدیق کولو څه حکم دی؟ (۱۳۳۸/۲۵۲هـ)

ځواب: په حدیث شریف کې راغلي دي: من أتی کاهنًا فصدقه بما یقول: أو أتی امرأته حائضا او أتی امرأته فی دبرها، فقد برئ مما أنزل علی محمد صلی الله علیه وسلم(۱) نو معلوم شو چې له کاهن او نجومي څخه د غیب د خبرو پوښتنه کول او د هغه تصدیق کول کبیره ګناه او له دینه بېزاره کوي. و العیاذ بالله تعالی

د غیب خبر معلومولو لپاره عمل کول

سوال: (۷۳۰) یو سړی د یو نابالغ ماشوم ګوته ورغوړه کړي. له هغه څخه د غیب خبري پوښتني لکه څنګه چې دا طریقه مشهوره ده، داسې خبرونه معتبر دي او کنه؟ او د داسې عمل په هکله څه حکم دی؟ داسې سړی امام او پیر جوړول صحیح دي او کنه؟ (۱۳۳۲-۳۵/۱۷۷هـ)

ځواب: د داسې خبرونو شرعًا اعتبار نشته او د شرعي قاعدې سره سم داسې اعمال چې پکې اخبار بالغیب وي صحیح نه دي(۲) نو داسې سړی د مقتدا او پیر جوړولو لائق نه دی او دی امام هم مه جوړوئ. فقط

د علم جفر په قاعده کوم شی معلومول حرام دي

سوال: (۷۳۱) زید بکر ته ورغلی چې زما ورور ناجوړه دی، ته وګوره چې د مرض سبب یې څه دی؟ بکر د جفر د قاعدې په جاري کولو و زید ته وویل چې ستا ورور نظر شوی دی یا چا جادو په کړی دی، په دغه صورت کې شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۳۸/۷۲هـ)

---

(۱) سنن ابی داؤد، ص: ۵٤٥، کتاب الکهانة و التطیر، باب النهی عن إتیان الکهان.

(۲) و فی البزازیة یکفر بادعاء علم الغیب و بإتیان الکاهن و تصدیقه و فی التاترخانیة: یکفر بقوله أنا أعلم المسروقات أو أنا أخبر عن إخبار الجن إیای اهـ. قلت: فعلی هذا أرباب التقاویم من أنواع الکاهن لادعائهم العلم بالحوادث الکائنة(الشامي ۳۲۵/۳ کتاب الجهاد، باب المرتد. مطلب فی الکاهن و العراف. ط رشیدیه)

ځواب: د جفر په قاعده کوم شی معلومول صحیح نه دي نو کوم شی چي په دغه قاعده معلوم شي، پر هغه اعتقاد نه دی ساتل پکار. فقط

د رافضي هلاکولو لپاره تعویذ کول

سوال: (۷۳۲) زید د سیمي مشر دی، هر ډول واک او اختیار لري خو دی رافضي د اهل سنت و الجماعت او دین دښمن دی، د اهل سنت و الجماعت په سپکاوي کولو کي هیخ کمي نه کوي، د خلافت کمېټۍ کارکنان یې ډېر په بې عزتي سره ګرفتار کړو او د سخت سزا ورکولو اراده لري او کومو خلکو چي په سمرنافنډ کي چنده ورکړه، په یو کمزوري قوم باندي هغه په چپلکو ووهل، په همدې وېره خلګو په مذهبي کارونو کي برخه اخیستل او په جماعت کي شریکېدل پرېښودو نو د داسي سړي د یو عمل یا تعویذ په وسیله هلاکول جائز دي او کنه؟ (۲۲۵۸/۱۳۴۰هـ)

ځواب: د داسي سړي لپاره په آخرت کي سخت عذاب دی او څه عجبه نه ده چي په دنیا کي هم کوم عذاب پر ده نازل شي یا الله رب العزت ده ته د توبې توفیق ورکړي، لنډه دا چي دا دعا کوي چي الله تعالی مسلمانان او د الله مخلوق د ده له شره وساتي، او یا دی دغه مظالم او معاصي پرېږدي، کنې الله دي دی تباه او خوار کړي نو مسلمانان باید پر همدې بسنه وکړي او الله ته یې سپارل پکار دي، پخپله د هلاکولو کوم تدبیر مه کوئ.

د شداد، هامان، نمرود، فرعون او قارون د نومونو پلتې دودول

سوال: (۷۳۳) زید یوه فلیته د لاندي نومونو د مصیبتونو د دفاع لپاره د دودولو په غرض ورکوي، هغه نومونه دادي: شداد، هامان، نمرود، فرعون، قارون، دا عمل کول جائز دی او کنه؟ (۲۵۰۵/۱۳۴۱هـ)

ځواب: که دغه عمل د ده سره د جناتو او مصیبتونو د دفاع لپاره وي نو جائز دي فقط

په روژه کې د قرآن د ختم پر مهال په حافظانو اوبه دمول

سوال: (۷۳۴) په رمضان شريف کي د قرآن د ختم پر مهال په حافظانو اوبه دمول شرعًا څه اصل لري او کنه؟ (۱۳۴۱/۱۵۹۳هـ)

ځواب: دا څه پروا نلري. په شريعت کي اصل لري(۱) فقط

د مريض د شفاء لپاره صدقه کول

سوال: (۷۳۵) د مرض پر مهال د الله په نوم د وزې يا غوا قرباني او صدقه کول جائز دي او کنه؟ (۱۳۲۱/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: د مريض او نورو د شفاء لپاره وزه يا غوا او نور د الله په نوم ذبح کول او صدقه کول جائز دي، دليل د در مختار روايت دی: و لو قال: إن برئت من مرضى هذا ذبحت شاة أو على شاة أذبحها فبرئ لا يلزمه شئ الخ إلا إذا زاد و أتصدق بلحمها فيلزمه لأن الصدقة من جنسها فرض الخ و لو قال لله على أن أذبح جزورًا و اتصدق بلحمه فذبح مكانه سبع

---

(۱) عن علي رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: خير الدواء القرآن(سنن ابن ماجة، ص: ۲۵۰، ابواب الطب، باب الاستشفاء بالقرآن)

و عن عبد الرحمن بن ابي ليلى عن ابيه ابي ليلى رضى الله عنه قال: كنت جالسا عند النبى صلى الله عليه و سلم، إذ جاءه أعرابى، فقال: إن لى أخا وجعًا، قال: ما وجع أخيک؟ قال: به لمم، قال: اذهب فأتنى به، قال: فجاء به، فأجلسه بين يديه، فسمعته عوذه بفاتحة الكتاب و أربع آيات من أول البقرة و آيتين من وسطها "و الهكم اله واحد" و آية الكرسى و ثلاث آيات من خاتمتها و آية من آل عمران، أحسبه قال: "شهد الله أنه لا اله إلا هو" و آية من الأعراف"إن ربكم الله" و آية من المؤمنين"و من يدع مع الله الها آخر لا برهان له به" و آية من الجن"و أنه تعالى جد ربنا" و عشر ايات من أول الصافات و ثلاث آيات من آخر الحشر و قل هو الله أحد و الموذتين فقال الأعرابى فقد برأ ليس به بأس(سنن ابن ماجة، ص: ۲۵۳-۲۵۴، ابواب الطب، باب الفزع و الأرق و ما يتعوذ منه)

شیاه جاز الخ(۱) له دغه عبارت څخه معلوم شو چي د وزي او نور ذبح کولو نذر منل د مریض شفاء او نورو لپاره او صدقه کول د الله لپاره جائز دي او د کوم شي نذر چي جائز دی او لازمیږي هغه شی شرعًا منع نه دی ځکه چي د معصیت نذر نه صحیح کیږي. فقط

پر ګوتمی د قرآن آیت لیکل

سوال: (۷۳۶) محترم بزرګ یو آیت پر ګوتمی لیکلو اجازه کړې وه، آیت دا دی:

"أليس الله بكاف عبده" (سورة زمر، آیت: ۳٦) نو دغه آیت لیکل خو به څه پروا نلري؟ (۱۳۴۷-۴۲/۲۱۲۰ه)

ځواب: جائز دی. فقط

د وبا لیري کولو لپاره شیدې او شراب په کوڅو کې بهېول او اوراد ویل

سوال: (۷۳۷) په یو ښار کي وباء راغله د دې لیري کولو لپاره داسي وکړو چي شراب او شیدې په کوڅو کي وبهېول او خلګو لرګي راخستي ؤ چیغې یې وهلې. دا دول منتر ویل څنګه دي؟ (۱۳۳۶-۳۵/۲۲۸ه)

ځواب: داسي د شرع خلاف اعمال او منترونه کول ګناه ده، داسي کار کونکي فاسقان او د کبیره ګناه کونکي دي، توبه دي وباسي، آئنده دي داسي اعمال نه کوي او نه دي داسي عقیده ساتي.

د کوم سرای په هکله چي بد خیال وي د هغه پرېښودل صحیح دي

سوال: (۷۳۸) یو داسي سرای دی چي هر څوک هستوګه پکي وکړي، د هغه بچیان نه کیږي او که وشي نو نه پایي، په دې خیال دا سرای پرېښودل او په بل سرای کي هستوګنه کول صحیح دي او کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۱۵۲ه)

---

(۱) الدر مع الشامي ۳/۷٦ كتاب الأيمان. مطلب في أحكام النذر. ط رشيديه

ځواب: له حديث شريف څخه معلوميږي چې په ځينو سرايونو کې څه ناموافقت وي(۱) نو سرای بدلول او د کوم سرای په هکله چې بد خيال وي د هغه پرېښودل صحيح دي. فقط

د چا مطيع ګرځولو لپاره په هغه نوکان خوړل

سوال: (۷۳۹) د چا ميطع ګرځولو لپاره په هغه نوکان خوړل جائز دي کنه؟ (۱۳۴۱/۱۵هـ)

ځواب: جائز نه دي. فقط

د غل معلومولو لپاره کوم عمل کول

سوال: (۷۴۰) ځيني خلک د غل معلومولو لپاره قرآن شريف وايي، کوزه ګرځوي. کوزه ګرځي مګر د غل تعيين نه کيږي، آيا داسي عمل جائز دی او کنه؟ او د کوزې ګرځېدلو څه وجه ده؟ (۱۳۳۹/۱۴۱۹هـ)

ځواب: دا عمل حضرت شاه ولی الله رحمه الله په القول الجميل کې هم رانقل کړي دي(۲) مګر دا يې هم ليکلي دي چې دا صرف اتباع د قرائنو ده، د دې سره سم چې دا د چا پر نوم ګرځېدلې ده. هغه يقينًا غل مه بولئ. فقط

سوال: (۷۴۱) د يو سړي څه مال غلا شو. له ډېر تلاش وروسته بيا هم نکړی پيدا نو دی يو

---

(۱) عن انس بن مالک رضی الله عنه قال: قال رجل: يا رسول الله! صلی الله عليه وسلم، إنا كنا فی دار كثير فيها عددنا و كثير فيها أموالنا، فتحولنا إلی دار أخری فقل فيها عددنا و قلت فيها أموالنا. فقال رسول الله صلی الله عليه وسلم: دروها ذميمة(سنن ابی داؤد: ص: ۵٤٧، كتاب الكهانة و التطير، باب فی الطيرة و الخط)

(۲) و لمعرفة السارق يتقابل اثنان: و يمسكان الإبريق بينهما، و يحملانه بين اصبعيهما السبابتين و يكتب اسم المتهم فی الإبريق و يقرء سورة يس(إلی) من المكرمين فإن كان هو الذی سرق دار الإبريق فإن لم يدر فليمح اسمه و ليكتب اسم غيره، و هكذا حتی يدور قلت: و يجب علی من اطلع علی السارق بإمثال هذه أن لا يجزم بسرقته و لا يشيع فاحشته بل يتبع القرائن فإنما هی طريق اتباع القرائن(شفاء العليل ترجمة القول الجميل: ص: ١٢٨، فصل: ٨)

مولوي صاحب ته ورغلی. مولوي صاحب د یو خاص عمل په وسیله دي و خاص سړي نوم وروښودی، آیا د مولوي صاحب پر خبره یقین وکړو او کنه؟ د چا نوم چې یې راښودلی دی هغه انکار کوي. (۱۴۷۹/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: په دې باندي یقین نه دی کول پکار لکه چې حضرت شاه ولی الله رحمه الله د ځینو اعمالو په وسیله د غل معلومولو په هکله لیکلي دي چې پر دې باندي یقین مه کوئ، قرائن او نورو ته کتل پکار دي. فقط

سوال: (۷۴۲) ... (الف) کوم خلګ چې د کوم عمل په وسیله ورک شوي شیان او غل ورښیي، دا جائز دي او کنه؟

(ب) د یو مسجد د مولوي صاحب څه روپۍ غلا شوې، ده تاوان را وایستی له یو سړي څخه یې تاوان واخیستی. حالانکه هغه په قسم سره انکار کوي چې ما غلا نه ده کړې، د دغه امام لپاره شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۸۲/۱۳۴۵هـ)

ځواب: (الف-ب) د مذکور عمل په وسیله که د چا نوم معلوم شي نو پر هغه یقین نه دی کول پکار او یقیني دی غل بلل او تاوان ځني اخیستل صحیح نه دي نو د نوموړي مولوي عمل د شرعي خلاف دی، پر ده لازمه ده چې روپۍ بیرته ورکړي، که دی دا سي ونکړي نو لمونځ پسي مکروه دی، دی امام مه جوړوئ. فقط

د جنون دفع کولو دم کول

سوال: (۷۴۳) ځیني کسان مجنونان وي، د دې د علاج لپاره یو دم کونکی دم کوي او پر یو روغ سړي دم وکړي، پیریان پر ښکاره کړي، پوښتنه ځني کوي، هغه پیری چې د دغه مجنون په وسیله څه غواړي، د خپل وس سره سم ورکوي. هغه دا سړی پریږدي او دی جوړ شي، دا جائز دي او کنه؟ (۲۵۲/۱۳۳۸هـ)

ځواب: په دغه دم کي که شرکیه کلمات او نور وي نو حرام دي کني مباح دي(۱) او د دغه طریقه

---

(۱) عن عوف بن مالک الأشجعي رضی الله عنه قال: کنا نرقي في الجاهلية، فقلنا: یا رسول الله! کیف تری في ذلک؟ فقال: اعرضوا علي رقاکم لا بأس بالرقی ما لم یکن فیه شرک(الصحیح لمسلم: ۲۲۴/۲. کتاب السلام، باب استحباب الرقیة من العین و النملة و الحمة و النظرة)

د مجنون جوړولو او دې په وسیله له پېریانو څخه پوښتنې کول او نور هم ناجائز دي.

د سپي داړلو یو دم

سوال: (۷۴۴) د سپي داړلو یو دم دا ډول دی چې لومړی بسم الله الرحمن الرحیم وروسته یا الله وروسته یا قطمیر، یا قطمیر، یا قطمیر لیکل کیږي په تجربه ډېر فائده مند ثابت شوي دي، دا جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۷/۱۵۵هـ)

ځواب: دا دم صحیح دی(۱)

د چرګ په وینه د قرآن آیت لیکل

سوال: (۷۴۵) د علاج لپاره د چرګ په وینه د قرآن آیت لیکل جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۳/۳۲/۲۲۷۴هـ)

ځواب: د علاج په توګه د چرګ په وینه که د قرآن آیت لیکلو کې شفاء معلومیږي نو جائز دي(۲) لکه چې په فتاوی سراجیه کې راغلي دي: إذا سال الدم من أنف إنسان یکتب بفاتحة

---

(۱) الصحیح لمسلم: ۲/۲۲٤، کتاب السلام، باب استحباب الرقیة من العین و النملة.

(۲) د مجبورۍ په صورت تداوي بالمحرم جائز ده مګر په دوه شرطه:

(۱) کومه بله دوا د دغه مرض لپاره مفیده نه وي.

(۲) او په حرام سره علاج کولو کې د شفاء غالب ظن وي یا مسلمان حاذق طبیب ورته ووایي چې په دې کې د شفاء غالب ظن دی.

لیکن سائل چې د کومې ناجوړۍ لپاره د قرآن آیت د چرګ په وینو لیکل غواړي. د دې نور جائز علاجونه شته، داغه راز د پزې د وینې (نکسیر) بندولو ډیرې دواوې او جائز علاجونه شته او په بیان شوې طریقه کې د شفاء غالب ظن هم نشته، صرف د شفاء وهم دی ځکه کوم مسلمان دې د قرآن کریم آیت په وینه یا بولو لیکلو هیڅکله جرأت نه کوي، په همدې کې د ایمان سلامتي ده. په امداد الفتاوی کې راغلي دي:

سوال: (۵) د قرآن شریف په بولو لیکل؟

ځواب: معاذ الله! د قرآن شریف په نجاست لیکل که بېله اکراه او اضطراره په قصد او اختیار سره وي نو کفر دی الخ (امداد الفتاوی: ٤/۳٦)=

الکتاب بالدم علی جبهته و أنفه و نحوه ذلک للاستشفاء و المعالجة، لو کتب بالبول إن علم أن فیه شفاء لا بأس به و لکن لم یفعل الخ(۱)

سوال: (۷۴۶) د چرګ په وینه تعویذ لیکل څنګه دي؟ (۵۵۸/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: بهېدونکې وینه پلیته وي ځکه دا ښه نه دي.

په خاوند داسې تعویذ کول چې طلاق ورکړي

سوال: (۷۴۷) یوه ښځه له خاوند څخه په کوم سبب چې د بیان وړ نه دی ناراضه ده. د ده سره ژوند تېرول نه غواړي، که دغه ښځه د طلاق لپاره په یو چا تعویذ وکړي نو دغه ښځه او تعویذ ورکونکی به ګنهکار وي او کنه؟ (۸۷/۱۳۳۵هـ)

= په کفایت المفتی کې راغلي دي:

سوال: په فقه کې کتابة القرآن بالبول و الدم جائز دی، و کذا اختاره صاحب الهدایة فی التجنیس فقال: لو رعف فکتب الفاتحة بالدم علی جبهته و أنفه جاز للاستشفاء و بالبول ایضا الخ(رد المحتار ۱۵٤/۱ کتاب الطهارة. ط رشیدیه) که جائز وي نو خیر دی کنې د بیان شوي عبارت جواب راکړئ.

ځواب: (۵۲) دا حکم د جواز مرجوح دی او د دې حکم اساس د علاج ضرورت دی لکه چې د بلې دوا نه پیدا کېدو او له علاج څخه مایوس کېدو او د حاذق طبیب په قول د شفاء په شرابو کې د منحصر کېدو په صورت کې د شرابو څښل جائز دي، مګر څرګندونه دې وي چې د کتابت د جواز حکم مرجوح او ضعیف دی محمد کفایت الله کان الله له

(کفایت المفتی: ۵٦/۹. کتاب الحظر و الإباحة، دوهم باب د عملیاتو او تعویذاتو)

او د فتاوی سراجیه په حاشیه کې راغلي دي:

الأصح المعتمد المفتی به عند جمیع مشایخنا منع کتابة القرآن بالنجاسة و أما ما ذکر فی بعض الکتب من الجواز فقول مرجوح ضعیف لا یعتمد علیه. لمخالفته أصول الدین و إلیک ما قاله حکیم الأمة الشیخ أشرف علی التهانوي(رحمه الله تعالی) العیاذ بالله و کتابة القرآن بالنجاسة إذا فعله متعمدًا بدون إکراه و اضطرار یکفر(الفتاوی السراجیة، ص: ۳۳۱، کتاب الکراهة و الاستحسان، باب التداوی و العلاج، رقم الحاشیة(۲) المطبوعة: مکتبه الاتحاد. دیوبند) محمد امین پالن پوري

(۱) الفتاوی السراجیة، ص: ۳۳۱، کتاب الکراهیة و الاستحسان باب التداوی و العلاج المطبوعة: مکتبة الاتحاد. دیوبند.

ځواب: د دې په حدیث شریف کې منع راغلې ده(۱) داسې عمل او تعویذ نه دی کول پکار. فقط

د مسمریزم حکم

سوال: (۷۴۸) مسمریزم(۲) زده کول او وربنودل او عمل په کول څنګه دي؟ (۱۲۲۷/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: مسمریزم زده کول او وربنودل صحیح نه دي.

سوال: (۷۴۹) د مسمریزم یوه طلسمي آله ده. چې سړی پکې وګوري نو لومړی پکې خپل مخ ویني بیا تیاره بیا غنډه ړڼا بیا غرونه او نور، لنډه دا چې یو شاهي دربار وي بیا له پاچاخه د خپلې مرضي مطابق سوال جواب کیږي مثلاً د لیږي. لیږي ځایونو سیل، د متبرک ځایونو سیل او زیارت، د خپلو خپلوانو له وفات شویو ارواحو سره ملاقات او خبري، د مرض مجربه نسخې او ځیني خلک د غیب د خبرو پوښتنې څنې کوي لیکن زما په خیال تیري او راتلونکي خبري څنې پوښتل خو ډېر بد، ناوړه او د دروغو کار دی، اما د مړو د ارواحو سره ملاقات، خبري اتري کول، د ملکونو او متبرک ځایونو سیل او زیارت کول ته میزړه غواړي، دا جائز دي او کنه؟ (۱۲۷۱/۱۳۴۳ھ)

ځواب: دغه آله د سحر له اقسامو څخه ده. لهذا په دا ډول طلسمو د کوم کار یا خبري پوښتنه کول حرام او ناروا دي، دا ډول شیطاني آثارو او متخلیه عجائباتو ته هیڅکله اعتبار نه دی ورکول پکار، پر داسې طلسمو عقیده ساتلو سره عقیده فاسدیږي او د ایمان د زوال خوف دی، الله دي مې حفاظت وکړي. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) عن زینب امرأة عبد الله، عن عبد الله قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: إن الرقى و التمائم و التولة شرك، قالت: قلت: لم يقول هذا؟ و الله! لقد كانت عيني تقذف فكنت اختلف إلى فلان اليهودي يرقيني. فإذا رقاني سكنت فقال عبد الله: إنما ذلك عمل الشيطان، كان ينخسها بيده فإذا رقاها كف عنها. إنما يكفيك أن تقولي كما كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: أذهب البأس رب الناس اشف أنت الشافي لا شفاء إلا شفاؤك شفاء لا يغادر سقما (سنن ابي داؤد، ص: ۵۴۲. كتاب الطب. باب في تعليق التمائم)

(۲) مسمریزم(Mesmerism) د ډاکټر مسمر(۱۷۳۴ء-۱۷۷۸ء) د آسټریا اوسیدونکي ایجاد کړی یو علم چې پکې د تصور یا خیال اثر د بل چا پر زړه واچوي د پټو او آئنده حالاتو پوښتنه کوي(فیروز اللغات)

د کفارو او مرتدينو سره د اړيکو ساتلو بيان

د نامسلمان عيادت جائز دی

سوال: (۷۵۰) د نامسلمان عيادت جائز دی او کنه؟ (۱۴۸/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: جائز دی، په دې شرط چې دا ډول نامسلمان به نه وي چې په اړه شريعت ورسره اړيکې ختمولو حکم کړی وي لکه مرتد او مذهب بدلوونکي خلک، د دوی عيادت کول ښه نه دی. د داسې خلکو په هلکه په حديثو کې راغلي دي: و إن مرضوا فلا تعودوهم(۱) او په حديث کې د کافر ذمي عيادت کول مرفوعًا ثابت دي(۱)

د کفارو عيادت، تعزيت، خدمت او په نامسنون طريقه کفن دفن کول

سوال: (۷۵۱) د ناجوړه کفارو پوښتني ته ورتلل جائزدي او کنه؟ (۴۳۹/۳۳-۱۳۳۴هـ)

---

(۱) عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: القدرية مجوس. هذه الأمة. إن مرضوا فلا تعودوهم و إن ماتوا فلا تشهدوهم(مشكوة المصابيح ص: ۲۲. كتاب الإيمان، باب الإيمان بالقدر. الفصل الثانی)

(۱) عن انس رضی الله عنه ان غلاما ليهود كان يخدم النبي صلى الله عليه وسلم. فمرض فأتاه النبي صلى الله عيه وسلم يعوده. فقال: أسلم فاسلم(صحيح البخاری: ۸۴۴/۲-۸۴۵. كتاب المرض. باب عيادة المشرک)

و عن سعيد بن المسيب عن أبيه رضی الله عنه قال: لما حضرت أبا طالب الوفاة جاءه رسول الله صلى الله عليه وسلم فوجد عنده أبا جهل و عبد الله بن أبي أميه ابن المغيرة الحديث(صحيح البخاری: ۷۰۲/۲-۷۰۳. كتاب التفسير، القصص، باب قوله: "إنک لا تهدی من أحببت و لكن الله يهدی من يشاء")

ځواب: د کفارو عیادت او تعزیت جائز دی، و جاز عیادته بالإجماع و فی عیادة المجوسی قولان الخ و صحح الشامی جواز عیادة المجوسی و قال أیضا: و فی النوادر: جار یهودی أو مجوسی مات ابن له أو قریب ینبغی أن یعزیه و یقول: أخلف الله علیک خیرا منه و أصلحک إلخ(شامي: ۲٤۸/٥) و فیه قبل أسطر: و صح أن النبی صلی الله علیه وسلم عاد یهودیا مرض بجواره الخ(۱) (شامي) د پورته بیان شوي روایت او عبارت څخه د ې جواز معلومېدلای شي یعني د ضرورت پر مهال څه پروا نلري لکه چي د کافر قریب او ولي که مسلمان وي نو د دغه مسلمان لپاره د خپل قریب کافر خدمت کول کفن ورکول او ښخول لا علی وجه المسنون فقهاء جائز لیکلي دي قال فی الدر المختار و یغسل المسلم و یکفن و یدفن قریبه کخاله الکافر الأصلی إلخ عند الاحتیاج فلو له قریب(أی من أهل ملته) فالأولی ترکه لهم من غیر مراعاة السنة فیغسله غسل الثوب النجس و یلفه فی خرقة و یلقیه فی حفرة و لیس للکافر غسل قریبه المسلم(۲) (در مختار)

د کفارو په کفن دفن کي شریکېدل او د "ولاتقم علی قبره" تفسیر

سوال: (۷۵۲) د کفارو په کفن دفن کي د مسلمانانو برخه اخیستل جائز دي او کنه؟ د قرآن د آیت "و لا تقم علی قبره" (سورة توبه، آیت: ۸٤) تفسیر څه دی؟

(۴۳۹/۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: په پورته عبارت(په پورته جواب) کي د "عند الاحتیاج" له قید څخه معلومېږي چي بېله حاجته د کفارو د کفن دفن انتظام او غسل نه دی ورکول پکار او دا ښه نه دي نو بېله ضرورته د دوی په کفن دفن کي برخه اخیستل هم ښه نه دي او که کوم مصلحت او ضرورت وي یا د جوار د حق په وجه رعایت کول په نظر کي وي نو صحیح دي، لیکن ځان څني ساتل خو په هر حال کي اولی دي، په آیت: "و لا تصل علی أحد منهم مات ابدًا و لا تقم علی قبره" (سورة توبه، بیت: ۸٤) کي د لمانځه او قیام علی القبر ممانعت

---

(۱) الدر المختار و رد المحتار ۲۷٤/٥ کتاب الحظر والإباحة، فصل فی البیع. ط رشیدیه

(۲) الدر و الرد۱/٦٥۷ کتاب الصلاة: باب صلوة الجنازة، قبیل مطلب فی حمل المیت. ط رشیدیه

معلومیږي نو د کافر جنازې ته لمونځ ورکول خو په اتفاق سره ناجائز او حرام دي، په دې کې څه شک او اختلاف نشته، پاتې شو قیام علی القبر د دې مطلب دا دی چې د قبر د زیارت او دعا او استغفار په طریقه قیام علی قبر الکفار ممنوع دي او د کوم ضرورت په وجه د کافر پر قبر دریدل لکه چې د کافر و مسلمان ولي ته د حاجت په وخت د دې ضرورت وي نو دا صحیح دي، په تفسیر احمدي کې د دغه آیت په هکله لیکلي دي: و مما ینبغی أن یعلم فی هذا المقام أن الفقهاء ذکروا أن الصلاة لا یجوز علی الکافر بحال و إن کان له ولی مسلم إلخ بخلاف غیرها من الأحکام فإنه إذا مات کافر و له ولی مسلم یغسله مثل غسل النجاسة لا کالغسل المسنون و یکفن فی خرقة تستر عورته لا أن یکفنه بالطریق المسنون إلخ و لا یرد علیهم أن الله تعالی کما منعهم عن الصلاة علیه بقوله: "و لا تصل علی أحد منهم مات أبدًا" کذالک منعهم عن القیام علی القبر للدفن والزیارة بقوله تعالی: "و لا تقم علی قبره" علی ما ذکرت أنفا لأنا نقول: النهی مخصوص بالنبی علیه السلام أو نقول: إنه نهی عن الدفن والزیارة و ما ذکرت من إلقاء الکفرة فی الحفرة إلقاء فیه لا دفن له. إذ المطلوب ترک تعظیمهم و ترک استغفارهم و هما موجودان حینئذ الخ(۱) احقر چې کوم مطلب لیکلی دی په بیان شوي عبارت سره هغه په وضاحت سره ثابت دی. فقط

د هندوانو سوځولو ځای ته د مسلمانانو تګ

سوال: (۷۵۳) د مسلمانانو د جنازې سره د هندوانو تر قبرستانه پورې تلل او پر قبر خاورې اړول جائز دي او کنه؟ او د مسلمانانو لپاره هندو سوز ته تلل جائز دي او کنه؟

(۱۰۸۱/۱۳۴۵ھ)

ځواب: دا طریقه ښه نه ده، په تېره بیا د مسلمانانو د کفارو هندو سوز ته تلل مکروه دي، له دې څخه پرهېز کول پکار دی. فقط

دیهودو، نصاری او مجوسو د مړي سره قبرستان ته تلل

سوال: (۷۵۴) په افریقه کې شپه او ورځ د یهودو، نصاری او مجوسو سره زیاتره کاروباري معاملات

---

(۱) التفسیرات الأحمدیة، ص: ۳۷۹. تحت الآیة: ۸٤، من سورة البرءة.

وي، بېله دوی کاروبار نشي کېدلای. لهذا د دوی د مړي سره تر قبرستان تلل صحيح دي او کنه؟ (۱۳۳۸/۱۵۹۰هـ)

ځواب: د ضرورت پر مهال جائز دي. فقط

په چای کي قادیاني د ځان سره شریکول

سوال: (۷۵۵) زموږ په دفتر کي يو د مرزائي ډلي لاهوري جماعت سره تړون لرونکي سړي دي چي مرزا د يو مجدد په حيث مني. موږ حنفيان پخپل دفتر کي په ګډه د چای يو پروګرام جوړوو آيا دغه مرزائيي موږ د ځان سره شريکولای شو؟ (۱۳۳۹/۹۸۲هـ)

ځواب: پر مرزا او د ده پر پيروکارانو عامو علماؤ د کفر فتوی لګولي او خپره کړي ده، لهذا دی بايد نه کړئ شريک. له ده څخه ليري او سيږي ليکن که دی له خپلو باطلو عقيدو څخه توبه وباسي او اسلام قبول کړي بيا يې شريک کړئ. فقط

د قادیاني سره خپلوي او اړیکي ساتل روا نه دي

سوال: (۷۵۶) يو سړی قادياني دی، د ده سره د خپلوي اړيکي او نور معاملات ساتل پکار دي او کنه؟ د دوی د صحبت په وجه داسي معلوميږي چي يو سړی و خپل زوی ته د قادياني لور غواړي، د دغه نکاح کونکيو سره ناسته پاسته کول پکار دي او کنه؟ (۱۳۳۰-۲۹/۱۰۲۱هـ)

ځواب: د چا عقائد چي د قاديانيانو په رنګه وي، هغه د جماعت اهل سنت بلکه اهل اسلام څخه خارج دي، د قاديانيانو د عقيدو په کفريه کيدو کي د علماء حق اختلاف نشته. نو د دغه سړي سره اړيکي ساتل او نکاح او نوري رشتې ورسره کول صحيح نه دي. قال الله تعالى: "لا تجد قومًا يؤمنون بالله و اليوم الآخر يوادون من حاد الله و رسوله و لو كانوا آبائهم او ابنائهم او اخوانهم او عيشرتهم" الآية(سورة مجادله، آيت: ۲۲) نو د اهل حق لپاره ضروري ده چي له دغه قادياني عقيده ساتونکيو څخه يو مخ پرهېز وکړي او تعلق نکاح او نور ورسره ونکړي. فقط و الله تعالى اعلم

سوال: (۷۵۷) د مرزا غلام احمد قادیاني ډله چې د هغو مذهب او د هغو د مذهب پېشوا مرزا د خدائي دعوی، د ابن الله په مثل داولاد د خدائي وي بیا هغه مدعی د نبوت رسالت او مسیح موعود نبی الله وي، په قرآن کي د انبیاؤ بیان شویو معجزو منکر او هغه ته مسمریزم او چل ویونکي وي، د انبیاء توهین او د مریم په تېره بیا د حضرت مسیح علیه الصلاة و السلام او د حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم کوي. د داسي عقیدو ساتونکیو خلکو سره زموږ د مسلمانانو اړیکي ساتل او رشتې ورسره کول صحیح دي او کنه؟ (۱۳۳۸/۱۲۹۳هـ)

ځواب: د نوموړي مرزا د بیان شویو دعؤ په اساس علماء د دوی ټولو د کفر فتوی ورکړې ده او هغه خپره شوې هم ده، اوس د ده سره او د ده د معتقدینو او پیروکارانو سره کومه اسلامي معامله ساتل صحیح نه دي او رشته او اړیکي د دوی سره ختمول لازم دي، دلائل د دې په کتابونو او رسالو کي ډېر زیات لیکل شوي دي، دلته هم یوه رساله موجوده ده که مي پکار وي نو له مولوي سید اصفر حسین صاحب مدرس مدرسه هذا څخه یې وغواړئ.

ځوک چي ځان ته احمدي وائي د هغه سره اړیکي ختمول

سوال: (۷۵۸) زید د یو مرزائي په دوکه کي راغلي داسي وویل: زه احمدي شوم او د پوهولو سره بیا هم خبره نه مني نو د زید سره د مسلمانانو اړیکي باید وي او کنه؟ (۱۳۴۰/۱۹۴۴هـ)

ځواب: زید په داسي کلماتو ویلو فاسق او عاصي شو که توبه نه او باسي نو د مسلمانانو لپاره د ده څخه اړیکي ختمول ضروري دي. فقط

د مرزائیانو سره اړیکي ساتل

سوال: (۷۵۹) مرزائیه ډله مسلمانان بلل او د دوی سره اړیکي ساتل او د دوی له خوا بحث او جګړه کول او له دوی سره خوراک څښاک کول شرعًا جائز دی او کنه؟ (۱۳۳۹/۲۹۲۳هـ)

ځواب: د مرزائی ډلي په کفر او ارتداد کي هیڅ شک او شبه نشته، لهذا دوی مسلمانان مه بولئ او له دوی څخه یو مخ لیري او سیرئ، د دوی طرفداري کول او د دوی له خوا جنګېدل حرام

دي او د دوی سره خوراک، څښاک او سلام کلام ترک کول پکار دي. فقط

د قادیانیانو سره خوراک او څښاک، ناسته او ولاړه او نکاح کول جائز نه دي

سوال: (۷۶۰) د قادیانیانو سره اړیکي ساتل، خوراک، څښاک، ناسته، ولاړه او نکاح کول څنګه دي؟ (۱۳۴۵/۲۰۷هـ)

ځواب: د مرزائیانو قادیانیانو سره په هر ډول عمل کي ګډون کول، خوراک، څښاک ناسته ولاړه نور او نور جائز نه دي، دا ډله د علماء اسلام په اتفاق سره کافره او مرتده ده، په شرعي حیث پر دوی ټول هم هغه احکام جاري کیږي کوم چي د خدای له دینه مخ اړونکیو جاري کیږي، دا خلګ چي د چا پیروکاري کوونکي دي، هغه داسي، داسي خبري کړي او لیکلي دي چي د اسلامي مانۍ بنیادونه وکښو د اسلام پریوي کونکیو متفقه عقیده (ختم نبوت) یې دا ډول په خاورو ولړله چي بس د خدای پناه دي وي، لومړی یې سپکي، سپکي دعوې وکړې، بیا یې په رنګ، رنګ حیلو او چلو مستقل د نبوت دعوی وکړه، تر دې چي نن د دوی منونکي دی همداسي نبي مني لکه موږ مسلمانان چي رسول الله صلی الله علیه وسلم منو.

دغه دروغجنو نبیانو د الله د سپیڅلو نبیانو په تېره بیا د حضرت مسیح روح الله عیسی علیه الصلاة و السلام داسي سپکاوی وکړی چي یو اځي همدا شی د ده او د ده پیروي کونکیو د کفر لپاره بس دی، دوی هغه ته شرابي او زاني وایي، او د ټولي دنیا غټ، غټ تهمتونه پر ده وایي او دا لا هم ده چي د دغه ټولو خرافاتو او دروغو نسبت و قرآن ته کوي، نو هغه خلګ چي د هغو د مذهب بنیاد د ختم نبوت انکار او د انبیاء علیهم الصلاة و السلام سپکاوی دی، کله د دې وړ کېدلای شي چي د دوی سره په هیڅ ډول هم اړیکي وساتل شي؟ دوی زموږ دښمنان او موږ د دوی دښمنان یو، دوی زموږ څخه بېل او د دوی دین زموږ له دین څخه بېل دی، کوم مسلمان چي د اسلام په عامو اصولو هم خبر وي، هغه د یو منټ لپاره هم د دوی په ارتداد کي شبه او شک نه کوي، د دغه بدبختانو عقیده ده چي د ټولي دنیا مسلمانان چي مرزا غلام احمد نبي نه مني کافران دي، یو عقل مند په آساني سره فیصله کولای شي چي نبي علیه الصلاة و السلام خو کافران مسلمانان کړو او

د دنیا په هر کونج کي اسلام خپور کړی او مرزا صاحب علیه ما علیه د نبوت دعوی وکړه له خپلو پیروکارانو څخه پرته د دنیا ټول مسلمانان کافران کړل، د قرآن مجید آیت دی: "انما المؤمنون إخوة" (سورة حجرات، آیت: ۱۰) ټول مسلمانان د یو بل ورونه دي، په حدیث شریف کي راغلي دي: المسلم أخو المسلم(۱) نو څوک چي زموږ ورونه(یعني د ټولي دنیا مسلمانان) کافران بولي، آیا د عقل او دین غیرت او ایمان د یوې ثانیي لپاره هم دا فتوی کېدلای شي چي د داسي خلکو سره دي یو ډول معامله که دیني وي یا دنیوي سړی وساتي؟!

ای علماء ته تنګ نظر ویونکو! د الله لپاره لږ فکر وکړئ چي کوم کاذب نبي د نبي علیه الصلاة و السلام د دین او مذهب په مقابل کي خپل دین د ځانه جوړ کړی وي، د اسلام د بیرغ په مقابل یې خپل بیرغ درولی وي، د مدینې په رنګه مدینه یې جوړه کړې وي او د جنة البقیع په رنګه قبرستان یې جوړ کړی وي، آیا د هغه سره هم څه اړیکي ساتل کېدلای شي؟!

د دوی سره واده کول، د دوی و مړي ته د جنازې لمونځ ورکول ناجائز دي، آیا داسي خلک چي ټولو د اسلام پیروکارانو ته بېله شکه کافران وایي، د دوی د سړي جنازه کول نه خوښوي، د دې وړ کېدلای شي چي د دوی سره څه نه څه اړیکي وساتل شي؟ اوس موږ لاندي داسي عبارتونه خاص د دوی د کتابونو رانقل کؤ چي هغه پخپله د دوی پر کفر شاهدي ورکونکي دي:

د ختم نبوت انکار او د خپل نبوت دعوی: رشتني خدای هم هغه خدای دی چي په قادیان کي خپل رسول راولیږي(۲) (دافع البلاء ص: ۱۱) إنا أرسلنا أحمد إلی قومه(۳) (اربعین: ۳۳/۳)

خپل ځان تر نبي علیه الصلاة و السلام افضل بلل: په تحفه ګولړویه کي د نبي علیه الصلاة و السلام معجزو شمېر درې زره لیکلی دی او د خپلو معجزو شمېر یې لس لکه ښودلی دی، وګورئ: تحفه ګولړویه ص: ۴۰، و براهین احمدیه، ص: ۵۲(۴)

---

(۱) عن ابن شهاب أن سالما أخبره، أن عبد الله بن عمر أخبره أن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: المسلم أخوا المسلم لا یظلمه و لا یسلمه الحدیث(الصحیح البخاری: ۱/ ۳۳۰، ابواب المظالم و القصاص، باب لا یظلم المسلم المسلم و لا یسلمه)

(۲) دافع البلاء، ص: ۱۱، روحاني خزائن: ۲۳۱/۱۸.

(۳) اربعین، نمبر، ۳، ص: ۳۳، روحاني خزائن: ۴۲۳/۱۷.

(۴) مثلاً کوم شریر النفس د هغه دریو زرو معجزو یادونه هیڅکله و نکړي کومي چي زموږ له نبي علیه الصلاة و السلام څخه -

د حضرت عیسی علیه الصلاة والسلام سپکاوی: لیکن د مسیح رشتیا وینه پخپله زمانه کي له نورو رشتیا ویونکیو ښخه زیاته نه ثابتیږي، بلکه پر یحیی نبي باندي ده ته یو فضیلت شته، ځکه چي هغه شراب نه خوړل او هیڅکله دا نه دي اورېدل شوي چي یو بد چلنده ښځه دي راغلې وي، د خپلې گټې په مال دي د ده پر سر عطر مښلي وي یا یې په لاسونو او د خپل سر په وېښتانو د ده بدن مسه کړی وي یا کومي بې اړیکي ساتونکي پیغلي ښځي د ده خدمت کاوی. په همدې وجه الله په قرآن کي د یحیی نوم حصور کښېښودی مگر د مسیح نوم یې دا نه دی اېښی ځکه چي داسي قصې د دغه نوم اېښودلو ته خنډ وې[1] (دافع البلاء آخري مخ)

خپلې شیطاني وسوسې د قرآن د وحې سره برابري بلل: زما پر خپلو وحي همداسي ایمان دی لکه پر تورات، انجیل او قرآن باندي الخ[2] (اربعین: ۱۹/۴)

ټولو مسلمانانو ته کافران ویل: په قرآن شریف کي د انبیاء و منکرانو ته کافران ویل شوي دي او موږ حضرت مسیح موعود او مرزا غلام احمد نبي الله منو، په دې سره موږ د ده منکران کافران بولو (تشحیذ الأذهان: ۱۳/۲)

هر هغه څوک چي د مسیح موعود په بیعت کي داخل شوي نه دي، هغه کافر دي (ایضًا)

دا ډول په سلگونو عبارتونه دي موږ صرف د نمونې په توگه یو څو عبارتونه رانقل کړو، الله پاک دي مسلمانان د دغه ظالم قوم له دوکو وساتي او د هدایت توفیق دي ورکړي. فقط و الله تعالی اعلم کتبه عتیق الرحمن عثماني (۳)

سوال: (۷۲۱) د مرزا غلام احمد قادیاني او لاهوري ډلي سره هر ډول اړیکي واده او نور ساتل څنگه دي؟ (۳۱۷۸/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: مرزا غلام احمد قادیاني او د ده پیروکاران او لاهوري ډله او د هغې پیروکاران کافران

=ظاهري شوي دي (تحفه گولړویه، ص: ۴۰، روحاني خزائن: ۲۷/۱۷)

په دغه څو لیکو کي چي کومي وړاندي وینې دي په هغو کي دا ډول ښانیانې دي چي تر لس لکه به زیاتې وي او داسي ښکاره دي چي په اوله درجه کي خارق عادت دي (براهین احمدیه، ص: ۵۲، روحاني خزائن: ۷۲/۲۱)

(۱) دافع البلاء، ص: ۴، روحاني خزائن: ۲۲۰/۱۸.

(۲) اربعین نمبر ۴، ص: ۱۹، روحاني خزاین: ۴۵۴/۱۷.

(۳) دا د حضرت مولانا مفتي عزیز الرحمن صاحب عثماني زوی دی.

او مرتد دي او د مرتدو احکام د کفارو په نسبت شدید او سخت دي او د مرتد لپاره شرعي حکم دا دی چې حاکم د اسلام راوړلو ورته ووایي او د ده شک دي ورلیرې کړي او درې ورځې دي قید کړي، که ده په درې ورځو کې اسلام راوړی نو فبها کنې وژني به یې، په در مختار کې راغلي دي: من ارتد عرض الحاكم عليه الإسلام استحبابًا ... و تكشف شبهته ... و يحبس ثلاثة أيام الخ فإن أسلم فبها و إلا قتل لحديث: من بدل دينه فاقتلوه(۱)

او د مرتد نکاح سمدستي په ارتداد فسخ کیږي، په در مختار کې راغلي دي: و ارتداد أحدهما ... فسخ ... عاجل إلخ(۲) او په در مختار باب الجنائز کې راغلي دي: و يغسل المسلم و يكفن و يدفن قريبه ... الكافر الأصلي، أما المرتد فليقى فى حفرة كالكلب(۳) له دغه روایت څخه معلوم شو چې که د کوم مسلمان خپل قریب اصلي کافر وي نو تر مرګ وروسته د غسل، کفن ورکولو او ښخولو حکم دی او د مرتد لپاره دا حکم دی چې د سپي په رنګه دی و کډي ته ورواچوي په همدې اساس د مرزائي او لاهوري ډلي سره هیڅ ډول اړیکي او ناسته ولاړه کول شرعًا جائز نه دي او کوم څوک چې د دغه دوو ډلو سره ناسته ولاړه او اړیکي ساتي د هغو سره هم اړیکي ختمول پکار دي، قال الله تبارک و تعالى: "و لا تركنوا الى الذين ظلموا فتمسكم النار" (سورة هود، آيت: ۱۱۳)

سوال:(۷۷۲) د قائم ګنج ډلي اهل سنت و الجماعت له قادیاني ډلي څخه د مذهب د تحفظ په نظر مذهبي اړیکي او خپلوي ختمه کړه، لاندې لیکل شوي قیدونه پر ځان لازم کړي دي:

(۱) و قادیاني ډلي ته به سلام نه اچوو.

(۲) په غم او ښادي کې به دوی نه راغواړو نه به دوی ته ورځو.

(۳) د دوی سره به خپلوي او رشته نه کوو.

---

(۱) الدر المختار مع الشامي۳/۳۱۲ كتاب الجهاد، باب المرتد، مطلب: ما يشك أنه ردة لا يحكم بها. ط رشيديه

(۲) الدر مع الرد۲/۴۲۵ كتاب النكاح، باب نكاح الكافر، مطلب: الصبى و المجنون ليسا بأهل لإيقاع طلاق بل للوقوع. ط رشيديه

(۳) الدر المختار مع الشامي۱/۶۵۷ كتاب الصلاة، باب صلوة الجنازة قبيل مطلب فى حمل الميت. ط رشيديه

(۴) کوم ځوک چي د دغه قیدونو په خلاف وکړي هغه هم پرېږدو.
(۵) د دوی سره ملاقاتونه د خپلوي اړیکي د مریض پوښتنه او فاتحه هم پرېږدو.
نو دغه قیدونه قابل د عمل دي، که قابل د ترک؟ (۱۳۴۵/۳۱۷هـ)

ځواب: ځرګندونه دي وي چي د قادیانیانو پر کفر او ارتداد باندي فتوی لګول شوې ده او د دوی په کفر او ارتداد کي هیڅ شک او شبه نشته او د اهل هوا ډلو په هکله په یو حدیث کي داسي الفاظ راغلي دي: القدرية مجوس هذه الأمة إن مرضوا فلا تعودوهم و إن ماتوا فلا تشهدوهم رواه أحمد و ابو داؤد او په بل حدیث کي دا الفاظ راغلي دي: لا تجالسوا أهل القدر و لا تفاتحوهم الحديث رواه ابو داؤد(۱) په لومړي حدیث کي دا حکم دی چي که دوی ناجوړه وي نو پوښتنه وربادي مه کوئ او که مړه شي نو جنازې ته یې مه ورځئ او په دوهم حدیث کي دا حکم دی چي د دوی سره ناسته مه کوئ او ابتداء بالسلام مه کوئ.
او کله چي د اهل هواء سره د داسي معاملې کولو حکم دی او کلي مقاطعه له دوی ځخه مأمور بها ده نو د قادیانیانو سره په اولی درجه دا معامله کول لازم دي او کلي مقاطعه له دوی ځخه واجب ده فقط

سوال: (۷۲۳) مرزائی که لاهوري وي او که قادیاني دوی ته سلام وراچول جائز دي او کنه؟ او د دوی د واده ډوډۍ او نوره خوړل ځنګه دي؟ او د دوی د سلام جواب ورکول جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۵/۷۱۲هـ)

ځواب: د مرزایانو دواړي ډلي لاهوریان او قادیانیان مرتد او کافران دي او د قطعیات او ضروریات د دین منکرین دي، د دوی سره په خوراک ځښاک غم او ښادي کي برخه اخیستل او د دوی د واده او نورو ډوډۍ خوړل ټول حرام او ناروا دي قال الله تعالى: "فلا تقعد بعد الذكرى مع القوم الظالمين" (سورة انعام، آیت: ٦٨) و قال عليه الصلاة و السلام في أهل الأهواء: فلا تناكحوهم و لا تجالسوهم الحديث(۲) او کما قال صلى الله عليه وسلم فما ظنك

---

(۱) عن ابن عمر رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: القدرية مجوس هذه الأمة إن مرضوا فلا تعودوهم و إن ماتوا فلا تشهدوهم.
و عن عمر رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لا تجالسوا أهل القدر و لا تفاتحوهم(مشكوة المصابيح، ص: ۲۲، كتاب الإيمان، باب الإيمان بالقدر)
(۲) عن انس رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: إن الله اختارني =

بالمرتدين و الملحدين. فقط.

د قادیانیانو سره په ګډه خیراتي اداره جوړول

سوال: (۷۲۴) دلته په لدهیانه کي یو قوم خپله قومي خیراتي اداره قائمه کړې ده، د دغه قوم زیاتره خلګ قادیانیان دي او ځیني یې حنفي خلګ هم شریکان دي نو په دې کي برخه اخیستل جائز دي او کنه؟ او چا چي برخه اخیستې ده د هغو څه حکم دی؟ (۷۲۷/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: احناف اهل سنت و الجماعت باید په دې کي برخه وانه اخلي او چا چي برخه اخیستې ده، هغه دي ځني بېل شي، لقوله تعالی: "فلا تقعد بعد الذکری مع القوم الظالمین" (سورة انعام، آیت: ۶۸)

په قومي او اسلامي جلسو کي قادیانیان شریکول

سوال: (۷۲۵) په قومي کانفرنس کي قادیانیانو ته ګډون ورکول شرعًا څنګه دي؟ (۱۷۹۳/۱۳۴۵هـ)

ځواب: په قومي مجلسونو او اسلامي جلسو کي د قادیاني او احمدي ډلي بد دین او ګمراه پیروکاران ګډول شرعًا جائز نه دي، دوی د اسلام او مسلمانانو کلک دښمنان دي د دوی عداوت او بدخواهي د مسلمانانو په هکله تر نامذهبه خلګو زیات سخت دي. فقط

د روافضو سره اړیکي ساتونکي ښځي څخه احتیاط کول

سوال: (۷۲۶) هنده یوه نامعلوم النسب ښځه ده، له تحقیق څخه دومره معلومیږي چي دا نوې مسلمانه شوې ده، تر یوې مودې پوري د رافضي سره وه، اوس دې د یو سني سره نکاح کړې ده او ځان سني بولي، حالانکه د روافضو سره زیاتي اړیکي ساتي، دا سني

= و اختارلي أصحابي و أصهاري و سيأتي قوم يسبونهم و ينتقصونهم، فلا تجالسوهم و لا تشاربوهم و لا تؤاكلوهم و لا تناكحوهم (عق- عن انس) (كنز العمال: ۲٤۱/۱۱، رقم الحديث: ۳۲٤٦٥، كتاب الفضائل، باب ذكر الصحابة و فضلهم رضى الله عنهم اجمعين، المطبوعة: دار الكتب العلمية، بيروت)

وبولو که رافضي وبولو احتیاط ځني وکړو؟ (۱۲۲۱/۱۳۴۰هـ)

ځواب: کله چي دا ځان ته سني وايي نو دې ته د رافضي ويلو ضرورت نشته بيا که دا په حقيقت کي رافضيه ده نو دا معامله د دې د الله سره ده اما له داسي ښځي څخه احتياط کول پکار دي.

د شيعه ګانو سره خوراک څښاک کول او اړيکي ساتل

سوال: (۷۲۷) د شيعه ګانو اثناعشري ډله چي پکي زياتره سيدان شامل دي او ځان ته بني فاطمه وايي او په صحابه رضوان الله عليهم اجمعين پسي بد او رد وايي او د تعزيې او مرثيې محفل ګرم ساتي، د کفر درجې ته رسېدلي دي او کنه؟ د دوی سره خوراک، څښاک جائز دی او کنه؟ څوک چي د دوی سره خوراک څښاک کول يا سلام ور اچوي، هغه د ګناه کبيره کونکی دی او کنه؟ (۱۳۲۵/۱۳۳۹)

ځواب: فقهاء په دې کي دا تفصيل کړی دی چي کوم روافض د شيخين د سب سره د بي بي عائشې رضی الله عنها د افک هم قائلين دي يا د حضرت علي رضی الله عنه د الوهيت قائلين دي يا د حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه د صحابيت منکرين دي، هغه په اتفاق سره کافران دي(۱) د دوی سره خوراک څښاک او اړيکي ساتل صحيح نه دي او د دوی تعظيم کول حرام دي، که څه هم دوی د سيد والي دعوی کوي او کوم خلګ چي د دوی سره خوراک څښاک او ناسته ولاړه کوي هغه ګنهکاران دي، د آئنده لپاره پر هغو لازم دي چي پرهېز وکړي او توبه وباسي. فقط

سوال: (۷۲۸) يو سړی د صديق د صحبت منکر او شيخين ته سب کول روا بولي د داسي سړي سره د مسلمانانو لپاره اړيکي ساتل او د خپل ځان سره په مسجدونو کي په لمونځونو کي شريکول شرعًا جائز دي او کنه؟ (۱۱۱/۱۳۴۵هـ)

ځواب: اقول وبه نستعين: بېشکه داسي رافضي چي د صديق د صحبت منکر وي په اتفاق سره کافر

---

(۱) لا شک فی تکفیر من قذف السیدة عائشة رضی الله تعالی عنها او انکر صحبة الصدیق او اعتقد الالوهیة فی علی او ان جبرئیل غلط فی الوحی او نحو ذلک من الکفر الصریح المخالف للقرآن (الشامی ۳/۳۲۱ کتاب الجهاد مطلب مهم فی حکم ساب الشیخین. ط رشیدیه)

دی او زیاتره فقهاء و شیخین ته سب کونکي ته هم کافر ویلي دي(۱) نو د داسي رافضي سره اختلاط او اړیکي ساتل او بېله نکیره دوی د مسلمانانو په مسجد کي پرېښودل او په لمانځه او جماعت کي شریکول حرام او ناجائز دي، لـه داسي خلکو څخه ترڅو چي وس وي، پرهېز کول او بیلتون پکار دی، قال الله تعالی: "فلا تقعد بعد الذکری مع القـوم الظالمین" (سورة انعام، آیت: ٦٨) فقط

له شیعه تبرائي څخه بیلتون ضروري دی

سوال: (۷۶۹) سږ کال د محرم په لسمه د عام معمول په خلاف په لوړ آواز په راشده خلفاء پسي بد او رد وویل شول نو زموږ لپاره لـه بد او رد ویونکیو شیعه ګانو څخه بیلتون کول صحیح دی او کنه؟ او د سني انجلۍ نکاح د شیعه سره ولي ناروا ده؟ (۱۳۴۱/۱۲۸۷هـ)

ځواب: له داسي شیعه ګانو څخه چي په سوال کي يې یادونه وشوه، د اهل سنت و الجماعت لپاره بیلتون ضروري دی او د شیعه په کفر کي د فقهاء اختلاف دی(۲) لنده دا چي د دوی سره لـه نکاح کولو څخه پر اهل سنت و الجماعت پرهیز کول لازم او ضروري دی. فقط

سوال: (۷۷۰) د شیعه سره د سني اړیکي ساتل جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۲/۲۸۳۱هـ)

ځواب: د روافضو سره خوراک څښاک جائز نه دی، لـه داسي بدعتیانو او د اهل هوا څخه د بیلتون حکم په حدیثو کي راغلی دی او لا تؤاکلوهـم و لا تشاربوهـم، د دوی پـه هکلـه

---

(۱) ان الرافضی اذا کان یسب الشیخین و یلعنهما فهو کافر ... لا شک فی تکفیر من قذف السیدة عائشة رضی الله تعالی عنها او انکر صحبة الصدیق او اعتقد الالوهیة فی علی الخ(الشامي کتاب الجهاد، مطلب مهم فی حکم سب الشیخین. ط رشیدیه)

(۲) القول: نعم نقل فی البزازیة عن الخلاصة: ان الرافضی اذا کان یسب الشیخین و یلعنهما فهو کافر و ان کـان یفضل علیا علیهما فهو مبتدع اهـ و هذا لا یستلزم عدم قبول التوبة علی ان الحکم علیه بالکفر مشـکل لـما فی الاختیار: اتفق الائمة علی تضلیل اهل البدع اجمع و تخطئتهم، و سب احد من الصحابة و بغضه لا یکون کفرًا لکن یضلل الخ(رد المحتار۳/۳۲۱ کتاب الجهاد، باب المرتد، مطلب مهم فی حکم ساب الشیخین. ط رشیدیه)

راغلي دي(۱) لکه چي له حدیث څخه چي څرګند دي فقط

د شیعه تعظیم جائز دی او کنه؟

سوال: (۷۷۱) که شیعه ګان او سنیان اتفاق وکړي په خلافت کامیټۍ کي داخل شي نو شرعًا داسي اتفاق صحیح دی او کنه؟ د شیعه تعظیم او احترام جائز دی او کنه؟

(۱۳۴۱/۲۵۸۵هـ)

ځواب: داسي روافض چي رفض یې د کفر حد ته رسېدلی وي بد او رد ویونکي دي و شیخینو ته سب کوي او د بي بي عائشې رضی الله عنها د افک قول کونکي دي، د دوی سره د سنیانو لپاره هیڅ ډول موافقه او شراکت کول صحیح نه دی او د نبي علیه الصلاة و السلام د دین په خلاف د داسي ډلي احترام او تعظیم جائز نه دی، قال الله تعالی: "فلا تقعد بعد الذکری مع القوم الظالمین" (سورة انعام، آیت: ٦٨) او د فاسق تعظیم کول نبي علیه الصلاة و السلام حرام بیان کړي دي(۲)

د شیعه ګانو جلوس جائز بلل او د هغه انتظام کول

سوال: (۷۷۲) کوم مسلمان چي د حنفي سني مذهب پابند وي او د شیعه ګانو په مجلس کي شرکت وکړي او

---

(۱) عن انس رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ان الله اختارني و اختارلي اصحابي و اصهاري و سياتي قوم يسبونهم و ينتقصونهم فلا تجالسوهم و لا تشاربوهم و لا تؤاكلوهم و لا تناكحوهم(عق-عن انس) (كنز العمال: ۲٤١/١١، رقم الحديث: ٣٢٤٦٥، كتاب الفضائل، باب ذكر الصحابة و فضلهم رضی الله عنهم اجمعين المطبوعة: دار الكتب العلمية، بيروت)

(۲) عن انس بن مالک رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ان الله عز و جل يغضب اذا مدح الفاسق في الارض.

و عنه رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: اذا مدح الفاسق غضب الرب و اهتز له العرش(شعب الايمان للبيهقي: ٢٣٠/٤، باب في حفظ اللسان، رقم الحديث: ٤٨٨٥-٤٨٨٦، المطبوعة: دار الكتب العلمية، بيروت)

د دوی د جلوس انتظام وکړي او جائز یې وبولي هغه څنګه دی؟ (۱۸۰۳/۱۳۳۹ھ)

ځواب: شرکت پکې حرام او ناجائز دی. فقط

مسلمانان باید له "وندې ماترم" ویلو څخه پرهېز وکړي

سوال: (۷۷۳) د هندوانو او مسلمانانو په اتحاد کې د مسلمانانو لپاره "وندې ماترم" ویل څنګه دي؟ (۱۳۷۱/۱۳۴۰ھ)

ځواب: د مسلمانانو لپاره له داسې شکمن الفاظو څخه احتراز کول اولی او انسب دي. فقط

د مهاتما ګاندهي د فتح نعرې لګول

سوال: (۷۷۴) د الله اکبر د نعرې سره د مسلمانانو لپاره وندې ماترم ویل جائز دي او کنه؟ یا د مهاتما ګاندهي د فتح نعرې لګول جائز دي او کنه؟ (۱۴۰۷/۱۳۴۰ھ)

ځواب: له داسې شکمن الفاظو څخه پرهېز مناسب دی.

نامسلمان چې الله په کومو نومونو یادوي مسلمانان د دوی په جلسو کې دغه نمونه استعمالولای شي او کنه؟

سوال: (۷۷۵) که کله اتفاقاً کوم مسلمان د کوم پارسي یا هندو یا نصارى یا یهودي دنیوي جلسې ته ورشي او د الله یا خدای پر ځای په خپلو خبرو کې د دوی الفاظ مثلاً کرتا، اوتار، داور، ایشور، بهګوان، رام، هري(۱) یا ګوډ او نور که کوم مسلمان استعمال کړي نو څه ګناه ده؟ (۱۵۹۰/۱۳۳۸ھ)

ځواب: د دغه الفاظو له استعمال څخه پرهېز اولی دی، که څه هم څه ګناه نشته مګر له تشبه بالکفار څخه په کلام او الفاظو کې ځان بچ کول غوره دي. فقط

---

(۱) کرتا: خالق. اوتار د هندوانو په عقیده خدای د چا په بڼه دنیا ته د خلګو اصلاح لپاره راشي. داور: خدای. هري: پرمیشور. خدا (فیروز اللغات)

کوم مسلمان چې بوتان لمانځي له هغه څخه اړیکي ختمول ضروري دي

سوال: (۷۷۶) یو مسلمان پخپل کور کي د هندوانو په رنګه بوتان ږدي او لمانځنه یې کوي، د ده په هکله څه حکم دی؟ که په مسلمانانو کي څوک د داسي منافق سره مینه او اړیکي ساتي نو څۀ حکم یې دی؟ (۱۳۳۷/۱۰۰۰هـ)

ځواب: له داسي سړي څخه یو مخ بیلتون کول پکار دی، قال الله تعالی: "و لا ترکنوا الی الذین ظلموا فتمسکم النار" الآیة (سورة هود، آیت: ۱۱۳) او مینه او اړیکي له داسي سړي سره ساتل د نصوصو په خلاف دي او ګناه ده، په آئنده کي دي توبه وباسي او اړیکي دي ورسره ختم کړي، د مجبورۍ او عداوت د ویري په وجه که څه وشي نو معذور دی. فقط.

سوال: (۷۷۷) د یو ځای مسلمانان بوت لمانځنه او نور کفري رواجونه کوي، لمونځ یو مخ نه کوي، که کوم عالم د لمانځه او روژې نصیحت ورته وکړي نو په بې عزتي سره یې مقابله کوي او پخپله ځمکه کي مسجد جوړول نه پرېږدي، د داسي خلګو سره اړیکي ساتل څنګه دي؟ (۱۳۴۵/۱۱۹۵هـ)

ځواب: د شریعت حکم دا دی چي د داسي خلګو سره ناسته ولاړه کول او د دوی په غم او ښادي کي شریکېدل حرام او ناجائز دي، ترڅو چي دوی له کفري رسمونو او ناوړه شرکیه افعالو څخه توبه ونه وباسي او لمونځونه ونکړي تر هغو د دوی څخه اړیکي ختمي کړئ، قال الله تعالی: فلا تقعد بعد الذکری مع القوم الظالمین(سورة انعام، آیت: ۶۸) فقط

د هندوانو په رنګه د بوتانو عبادت کونکي مسلمان حکم

سوال: (۷۷۸) یو سړی مسلمان شو قصداً روژه او لمونځ پرېږدي، نصیحت هم نه مني، د هندانو په رنګه د بوتانو عبادت کوي، د داسي سړي په هکله څۀ حکم دی؟ (۱۳۴۲/۲۱۱۵هـ)

ځواب: د ده د قلب تالیف پکار دی او په نرمي سره ده ته د لمانځه او روژې مسئلې ورښودل پکار دي او د ده سره په سختي کولو کي تلوار نه دی کول پکار، قال الله تعالی: ادع الی سبیل ربک بالحکمة و الموعظة الحسنة و جادلهم بالتی هی احسن (سورة نحل، آیت: ۱۲۵) فقط

د سکهانو او هندوانو جلسو ته د اسلام د تبلیغ په نیت تلل

سوال: (۷۷۹) د سکهانو او هندوانو جلسو ته د اسلام د تبلیغ په نیت تلل جائز دي او کنه؟ حالانکه هلته څو د شرعي په خلاف کارونه هم کیږي؟ (۱۳۴۰/۱۳۴۰ھ)

ځواب: داسي جلسو ته تلل چي پکي د شرعي خلاف کارونه وي صحیح نه دي.

هندوان د مسجد مخته پر سرنا وهلو ټینګار کوي نو مسلمانانو ته څه کول پکار دي؟

سوال: (۷۸۰) سږ کال هندوانو اراده کړې ده چي د خپلي مېلې په ورځو کي خپل جلوس د سرنا سره و جامع مسجد ته نژدې د ماخستن د لمانځه پر وخت راولي او د ماخستن په لمانځه کي خلل واچوي که کلیوال په دغه خاص شپه له مابنام لمانځه وروسته مسجد قلف کړي تر جلوس تیرېدو وروسته د جماعت لمونځ وکړي نو داسي جائز دي او کنه؟ که د وخت د تنګی له ویري کلیوال پخپلو کورونو کي یا په نورو مسجدونو کي دا شپه لمونځ وکړي نو جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۳/۵۹۱ھ)

ځواب: شرعًا داسي جائز نه دي چي کلیوال د کلي په مسجد کي لمونځ ونکړي مسجد بند کړي په نورو مسجدونو یا خپلو کورونو کي لمونځ وکړي بلکه لمونځ دي په همدغه مسجد کي وکړي او که کفار سرناوي او نور راوباسي او نه منع کیږي نو صبر او برداشت دي وکړي هیڅ جنګ جګړه او نور مه کوئ.

د واده لپاره مذهب بدلونکي سره څه کول پکار دي؟

سوال: (۷۸۱) یو مسلمان په عیسائي کورنۍ کي واده کول غواړي او پخپله یې هم مذهب بدل کړی دی مسلمانانو ته دوکه ورکوي چي زه مسلمان یم، په داسي صورت کي مسلمانان باید د ده سره څه معامله وکړي؟ (۱۳۴۳/۱۵۳۴ھ)

ځواب: لومړی خو د عيسائيانو سره نکاح کول منع دي(۱) او بيا د دې سره چې ده مذهب هم بدل کړی دی نو تر څو چې دی پوره توبه و نه باسي او اسلام نوی نه کړي تر هغو د ده سره ناسته ولاړه خوراک او څښاک کول صحيح نه دی او ترڅو چې دی له عيسائيت څخه په څرګنده توګه خپله بېزاري ښکاره نکړي او له دغه مذهب څخه انکار ونکړي تر هغو په ده باور مه کوئ. فقط

د عيسائی ښځي سره مينه او خوراک څښاک کونکي مسلمان حکم

سوال: (۷۸۲) زيد مسلمان پر يوه عيسائي ښځه مين شو، له دواړو خوا زياتره تګ راتګ وي او يو ځای خوراک، څښاک سره کوي چې د حلال او حرام معلومات يې نه وي، زيات شک د حرامو دی، د مور او پلار خبره هم نه مني، د زيد په هکله څه حکم دی؟ او مسلمانان بايد د ده سره څه وکړي؟ (۹۸۲/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: زيد په دغه صورت کي معلن فاسق دی، په ده توبه وباسئ، که توبه نه باسي نو اړيکي ورسره ختمي کړئ، د ده په غم او ښادي کي برخه مه اخلئ. فقط

د هندوانو مجلس ته تلل

سوال: (۷۸۳) يو هندو جادوګر ښار ته راغلی، هندوانو په کلکه ښه راغلی ورته وو ايو پخپله عقيده باندي کامل فقير وبالی او خپل حاجتونه يې ورته پېښ کړو يو ډاکټر چې د لمانځه او روژې پابند د قادري، چشتي او نقشبندي طريقو سره تړون لري چې دا ټولي خبري وا وريدې نو هلته ورغلی، هغه ورته وويل چې ستا د سترګي نظر چې کمزوری شوی دی او په ظاهره داسي معلوميږي چې اوبه پر راغلي دي دا غلطه خبره ده دا ټول د جادو اثرات

(۱) و تحل ذبيحة النصارى مطلقًا سواء قال: ثالث ثلاثة أولا و مقتضى الدلائل الجواز كما ذكره التمرتاشي في فتاواه، والأولى أن لا يأكل ذبيحتهم و لا يتزوج منهم إلا للضرورة كما حققه الكمال ابن الهمام (رد المحتار ۲۰۸/۵ كتاب الذبائح. ط رشيديه)

دي اوس ډاکټر صاحب د ده عقيدتمند شو، دی يې کور ته هم راوستی، هغه چي کور وکاتی. ورته وې ويل دا کور پر بړده مګر ډاکټر نه پرېښودی او دا يې هم ورته وويل چي په دې کي خزانه پټه ده، موږ به د دې طريقه وکړو، نو دی يې معتقد شو او د هندوانو مجلس ته ورځي، مسلمانانو منع کړی چي د هندوانو مجلس ته مه ځه.

(۱۳۳۴-۳۳/۱۹۰۸هـ)

ځواب: لومړی خو دی عمومًا ټول د هندوانو له صحبت څخه پرهېز کوي، په تېره بيا په هغه صورت کي چي د عقيدې د خرابېدو وېره وي، د دغه جادوګر له صحبت څخه پرهېز لازم دی او د ده په وينا باور مه کوئ. فقط

د هندوانو په مذهبي کارونو کي برخه اخيستل

سوال: (۷۸۴) يو سړي تعزيه په دې نيت وکړه چي زما زوی ښه شي او د هندوانو سره عبادت وکړي، د دوی په ناوړه رواجونو کي برخه اخلي، په منع کول هم نه منع کيږي، له داسي کاره راګرځول مشکل دي، شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۳۵/۱۲۹۴هـ)

ځواب: د مسلمانانو کار هم دومره دی چي دی د داسي د کفر او شرک له رواجونو راوګرځوئ که دی نه مني نو وبال پر ده دی مګر دا خبره ضروري ده چي له نه منلو وروسته د ده سره اړيکي مه ساتئ او محبت او دوستي ورسره مه کوئ او فتنه او فساد هم مه کوئ، قال الله تعالى: "لا تجد قومًا يؤمنون بالله و اليوم الآخر يوادون من حاد الله و رسوله و لو كانوا آبائهم او ابناءهم او اخوانهم او عشيرتهم" الآية (سورة مجادله، آيت: ۲۲)

سوال: (۷۸۵) څوک چي د هندوانو رواجونه کوي، د هغه په هکله څه حکم دی؟

(۱۳۴۳/۸۷۳هـ)

ځواب: د هندوانو رواجونه کول او پکي برخه اخيستل حرام دي، مسلمانان بايد پرهېز ځني وکړي فقط

سوال: (۷۸۶)... (الف) زيد په يوه کارخانه کي مزدوري کوي او مسلمان له شريفي کورنۍ دی، پرته له څو مسلمانانو ټول کارکوونکي هندوان دي، دوی هر کال چنده وکړي په ډېر اهتمام سره د يو بوت عبادت کوي ځيني مسلمانان هم په چنده کي ورسره برخه اخلي،

زید هم په خوشحالي سره د دغه عبادت لپاره چنده ورکوي په مېلمستيا کي برخه اخلي او له نورو خلکو څخه هم په جبر او ترغيب چنده راټولوي. آيا د کوم مسلمان لپاره په داسي عبادت کي چنده ورکول او په مېلمستيا کي برخه اخيستل صحيح دي؟

(ب) له خپلي برخي اخيستلو څخه پرته نور مسلمانان جبرًا و چنده ورکولو ته آماده کول څنګه دي؟

(ج) که کوم مزدور د عزل کولو له ويري پکي شريک شي نو جائز دي او کنه؟
(۱۳۴۳/۸۹۹هـ)

ځواب: (الف) د مسلمانانو لپاره په دې کي برخه اخيستل او چنده ورکول حرام دي او سخته ګناه ده او د هندوانو د عبادت په رواجونو کي برخه اخيستلو سره د کفر وبره ده، په حديث شريف کي راغلي دي: من تشبه بقوم فهو منهم(۱) و من كثر سواد قوم فهو منهم(۲) او حق تعالى فرمايي: "و تعاونوا على البر و التقوى و لا تعاونوا على الإثم و العدوان" (سورة مائده، آيت: ۲) و قال الله تعالى: "و لا تركنوا إلى الذين ظلموا فتمسكم النار" (سورة هود، آيت: ۱۱۳)

(ب) دا نور هم بد دي چي پخپله هم ګمراه وي او نور هم ګمراه کړي او د "ضلوا و أضلوا "(۳) مصداق وګرځي.

(ج) د عزل کولو له ويري هم پکي شرکت کول جائز نه دي. فقط

د هندوانو خوشحالولو لپاره د دوی په رواجو کي برخه اخيستل

سوال: (۷۸۷) کوم مسلمانان چي د هندوانو خوشحالولو لپاره او پخپل منځ کي د اتحاد او سلوک

---

(۱) عن ابن عمر رضى الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من تشبه بقوم فهو منهم (سنن أبي داؤد، ص: ۵۵۹، كتاب اللباس، باب في لبس الشهرة)

(۲) من كثر سواد قوم فهو منهم و من رضى عمل قوم كان شريكا في عمله(كنز العمال كتاب الصحبة من قسم الأقوال: ۲۲/۹، رقم الحديث: ۲۴۷۳۵، المطبوعة، مكتبة التراث الإسلامي، حلب)

(۳) عن عبد الله بن عمرو بن العاص رضى الله عنه قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: إن الله لا يقبض العلم انتزاعًا ينتزعه من العباد و لكن يقبض العلم بقبض العلماء حتى إذا لم يبق عالم اتخذ الناس رؤسا جهالا، فسئلوا فأفتوا بغير علم، فضلوا و أضلوا(صحيح البخارى ۲۰/۱، كتاب العلم، باب كيف يقبض العلم و كتب عمر بن عبد العزيز الخ)

په وجه د دوی په رواجونو کي برخه اخلي، د هندوانو نعرې لګوي او زنار په غاړه کوي او په لوښي کي پان، ګلونه، متهایاني او نور کښېږدي، د دوی د بوتانو په نوم يې کړي او په ښار کي د هندوانو په رنګه نعرې لګوي او په سلګونو روپۍ له ځانه پر پان سګريټ او نورو مصرف کړي، په داسي صورت کي څه حکم دی؟ (۳۱۷/۳۵-۱۳۳۶هـ)

ځواب: دا ټول کارونه حرام دي او ناروا دي، پر مسلمانانو لازمه ده چي پرهيز ځني وکړي، په داسي کارونو کي د کفر وېره ده، أعاذنا الله تعالی منه فقط

د دنياوي ګټو لپاره د مشرکانو سره ناسته ولاړه او دوستي کول

سوال: (۷۸۸) د دنياوي ګټو لپاره د مشرکانو سره اتحاد کول صحيح دي او کنه؟ (۴۲۸/۳۵-۱۳۳۶هـ)

ځواب: د مشرکانو سره په دنياوي معاملاتو کي د ضرورت په خاطر ناسته ولاړه کول روا دي او مينه او دوستي د اسلام د دښمنانو سره روا نه ده.

د مرتد سره اړيکي ساتل حرام دي

سوال: (۷۸۹) يو مسلمان عيسائی شو، د ده سره دوستي او مينه کول، په ورين تندي ورسره ملاقات کول او خوراک، څښاک ورسره کول څنګه دي؟ (۲۱۲۷/۱۳۳۷هـ)

ځواب: کوم چا چي اسلام پرېښودی، عيسائی شو، هغه مرتد دی، د ده سره اړيکي ساتل او ناسته ولاړه ورسره کول حرام او ناجائز دي، په ورين تندي د ده سره روغبړ کول او خوراک څښاک ورسره کول ناجائز او منع دی، کوم خلک چي د داسي مرتد سره په ورين تندي روغبړ کوي، خوراک او څښاک ورسره کوي، هغه ګنهکار دی، توبه دي وباسي او د آئنده لپاره دي پرهيز کوي فقط

سوال: (۷۹۰) زيد د خپل بال بچ سره قادياني شو، ده ته بايد کافر وويل شي او کنه؟ او د ده سره اړيکي او د ده کره خوراک، څښاک صحيح دی او کنه؟ عمر وايي چي د هندوانو کره دوډۍ خورو، داغه راز د قاديانيانو کره خوړل صحيح دي، داسي صحيح

دي او کنه؟(۱۹۳۵/۱۳۳۸هـ)

ځواب: پر قادياني د کفر فتوی لګېدلې ده، لهذا د ده سره اړيکي ساتل ناجائز دي، دی خو مرتد دی نو له نورو هندوانو څخه دی بد تر دی، د ده سره په هيڅ ډول خوراک څښاک او اړيکي ساتل صحيح نه دي او د عمر خبره غلطه ده، د مرتد حکم ډېر سخت وي، د ده حکم د نورو هندوانو په رنګه نه دی، د ده د کور ډوډۍ مه خورئ، مسلمانان بايد يو مخ له ده څخه بيلتون اختيار کړي. فقط

د هندوانو سره دومره اړيکي ساتل چي دوی په مذهبي کارونو هم ټوکي کوي

سوال: (۷۹۱) عيدو د سروښتان جوړول هلته هندوان هم ناست ؤ، هغو و نائي ته په ټوکو اشاره وکړه چي وښتان د هندوانو په رنګه ورجوړ کړه او ږيره وروخريه، لنډه دا چي هندو نائي همداسي وکړو، هندوانو په عيدو پوري ټوکي وکړې چي وروره ته ښه ځان پاک کړه، کورنۍ له عيدو څخه اړيکي ختمي کړې او عيدو ته وويل چي ته د هندوانو سره دومره اړيکي ولي ساتې چي دوی په مذهب پوري هم ټوکي کوي اوس عيدو توبه و ايستله نو د ده په هکله څه حکم دی؟(۲۳۲۰/۱۳۴۳هـ)

ځواب: دا اعتراض پر عيدو صحيح دی چي عيدو د هندوانو سره دومره اړيکي ساتلي دي چي دووی د اسلام سپکاوی کوي، عيدو بايد توبه وباسي او آئنده د هندوانو څخه اړيکي قطع کړي او د عيدو کورنۍ دي تر توبه وروسته د عيدو سره اړيکي ساتي. فقط

د تأليف قلوب لپاره د کفارو په شعارکي برخه اخيستل

سوال: (۷۹۲) د يو نامسلمان يعني هندو و جنازې ته اوره ورکول او د مسلمانانو پکي شرکت کول او تر هندو سوزه ورسره تلل او تعظيمًا او د غم او خواخوږي د ځرګندوني لپاره سر لوڅول او نور هم مجبورول او د مړي د نوم نعرې لګول او د غم د اظهار لپاره خپل کاروبار او دکانونه او نور بندول شرعًا څنګه دي؟

او داسې کسان شرعًا څه ډول مجرمان دي؟ دوی به اسلام او نکاح نوي کوي او کنه؟ (۱۳۳۸/۱۹۳۷هـ)

ځواب: که د اسلامي ضرورت په وجه د کفارو سره همدردي وشي او د دوی د مړي فاتحې ته سړی ورشي او په جنازه کې ورسره ولاړ شي نو داسې صحیح دي لیکن نعرې وهل او د کفارو په شعارو کې له شرکت کولو څخه پرهیز کوئ، په شامي پنځم ټوک کې راغلي دي: جار یهودی او مجوسی مات ابن له او قریب ینبغی ان یعزیه و یقول: أخلف الله علیک خیرًا منه و أصلحک و کان معناه: أصلحک الله بالإسلام: یعني رزقک الإسلام و رزقک و لدًا مسلمًا، کفایة(۱) لنډه دا چې د تألیف قلوب لپاره او د اسلامي ضرورت لپاره د کفارو سره د غم او همدردۍ اظهار کول صحیح دي لیکن په دې شرط چې د کفارو په شعار کې به برخه نه اخلي. فقط

په جلسه کې هندو صدر جوړول

سوال: (۷۹۳) په جلسه کې د هندو صدر جوړول جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۹/۱۰۲هـ)

ځواب: که کوم اسلامي مصلحت مخته وي چې کوم هندو صدر جوړ کړي څه کار د اسلام ځنې واخیستل شي نو دا څه پروا نلري. فقط

مجبورًا د "رام لیلا" د رواج اجازه کول

سوال: (۷۹۴) په یو کلي کې هندوانو د رام لیلا(۲) رواج کول وغوښت، مسلمانانو یې مخالفت کاوی محکمې ورته اجازه ونکړه، هندوانو د مسلمانانو سره معاملات بند کړو، مسلمانان پریشان دي که د دغه مجبورۍ په وجه د رام لیلا اجازه وکړي نو شرعًا جرم دی او کنه؟ (۱۳۳۹/۱۴۵۳هـ)

ځواب: که مسلمانان د مجبورۍ په وجه اجازه وکړي نو ګناه ورباندې نشته.

---

(۱) الشامی ۲۷٤/۵ کتاب الحظر و الإباحة، فصل في البیع. ط رشیدیه

(۲) رام لیلا: د رام چندر جي د فتوحاتو نقل چې هندوان یې کوي(فیروز اللغات)

د نصارٰی سره ترک موالات کول

سوال: (۷۹۵) د نصارٰی سره د ترک موالات(۱) کولو څه حکم دی؟ (۱۴/۱۳۴۱هـ)

ځواب: د نصارٰی سره ترک موالات مذهبي فریضه ده، څوک چې د دې په خلاف وي هغه د شرعي فرض تارک دی او عاصي او فاسق دی.

د هندوانو په مېلو کې برخه اخیستل او په مذهبي کارونو کې ورسره مرسته کول

سوال: (۷۹۶) په کلي کې هندوان سخته دښمني کوي، څلور مسلمانان ورسره هر ډول مرسته کوي، د دوی په هکله شرعًا څه حکم دی؟ د بوتانو په را ایستلو او مېلو او نورو کې ورسره مرسته کونکیو په هکله څه حکم دی؟ (۹۰۲/۱۳۴۲هـ)

ځواب: کوم مسلمانان چې د هندوانو همکاران د دوی په مېلو بوتانو را ایستلو او نورو کې دي، هغه ګنهکاران فاسقان دي توبه ورباندې لازمه ده. فقط

سوال: (۷۹۷) په یو ښار کې د هندوانو مېله کیږي چې پکې د هندوانو رواجونه ښه په شان او شوکت سره کیږي نو کوم مسلمانان چې په چنده او نورو کې ورسره مرسته کوي او د تماشو د کتلو په غرض ورسره شرکت کوي، د هغه په هکله څه حکم دی؟ (۹۰۴/۱۳۴۵هـ)

ځواب: د مسلمانانو د هندوانو په مذهبي مېله کې شریکېدل او د دوی سره مرسته کول صحیح نه دي، لهذا کوم مسلمانان چې پکې شرکت او په چنده او نورو کې مرسته ورسره کوي یا د دوی مېلو ته د تماشو په غرض ورځي، هغه ټول ګنهکاران او فاسقان دي، توبه دې وباسي او آئنده دې هیڅکله شرکت نه کوي او نه دې کومه مرسته ورسره کوي. فقط

---

(۱) موالات: دوستي، ترک موالات: مرسته نه کول. د آزادۍ د جنګ په زمانه کې د انګریز حکومت د مرستې نه کولو فتوی ورکولی شوې وه، ټولو هندوستانیانو د حکومت سره اړیکې ختمې کړې وې. د هغې زمانې په هکله سوال او جواب دی. ۱۲ سعید احمد پالن پوري

د هندوانو مېله کتل کبيره گناه ده

سوال: (۷۹۸) زه د هندوانو د رام جي چندر د فتح ورځي مېلې ته تللی وم، پلار راته وويل چي ستا نکاح ماته شوه، آيا دا خبره صحيح ده؟ که ماته شوې ده نو څه کول پکار دي؟ (۱۲۱/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: داسي مېله کتل غټه گناه ده بيا يې مه گوره، توبه وباسه، أما نکاح نه ده ماته شوې فقط

ناجوړه هندو پير ته وروستل او د هغه تعظيم کول

سوال: (۷۹۹) څه فرمايي علماء د دين او مفتيان د شرع متين په دغه مسئله کي چي د مسلمان و هندو پير ته چي په هندوانو کي په زرگونو مريدان لري، د دنيوي او اخروي حاجت لپاره تلل او مسلمانان مريضان وروستل، د ده څخه شفاء غوښتل او دی ولی الله بلل او له ده څخه پوښتنه کول چي فلانی کار وکړم او کنه؟ يا پخپله د هغه پير چي د خپلو هندوانو مريدانو کره راځي يا د کوم بل ضرورت لپاره راځي نو د مسلمانانو کورو ته راشي، مسلمانان د ده د تعظيم او تکريم لپاره روپۍ او د خوراک څښاک شيان ورکوي يا که کوم مسلمان د رادها کرشن تصوير واخلي و يو هندو ته يې ورکړي دا څنگه دي؟ دا خلک مسلمانان دي که مرتد؟ د دوی سره اړيکي ساتل پکار دي که قطع کول؟ او کوم خلک چي د دوی سره ناسته ولاړه کوي د هغو په هکله شرعًا څه حکم دی؟ (۱۹۱۲/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: کوم خلک چي د هندو پير سره داسي معاملې کوي، د کومو يادونه چي په سوال کي وشوه، هغه خلک فاسقان فاجران او گنهکاران دي، دوی بايد له دا ډول خبرو څخه توبه وباسي او د هندو پير سره دا ډول معاملات نه دي کول پکار، که د دوی و کوم تعويذ دعا يا عمل ته ضرورت وي نو کوم مسلمان بزرگ د شريعت پابند ته دي مراجعه وکړي لکه مولانا اشرف علي صاحب تهانوي او حضرت مولانا مفتي عزيز الرحمن صاحب ديوبندي فقط ليکونکی مولانا مسعود احمد(۱)

---

(۱) دا حضرت مولانا قاضي مسعود احمد صاحب دی چي له ۱۳۳۳هـ څخه بيا تر ۱۳۸۴هـ پوري د دار العلوم ديوبند په دار الافتاء کي نائب مفتي ؤ. ۱۲

هندوان چي د مسلمانانو سره ځنګه رویه کوي هغسي رویه ورسره کوئ

سؤال: (۸۰۰) په لاهور کي هندوانو له مسلمانانو څخه یو مخ انقطاع کړې ده، نه دوی له مسلمانانو څخه کوم شی رانیسي او نه په دوی مزدوري کوي، بلکه خپل مخکني مزدوران یې اوس له خپلو کارخانو وایستل، په داسي حال کي د مسلمانانو لپاره د دوی سره تجارتي اړیکي ساتل څنګه دي؟ (۱۳۴۵/۲۹۸۳هـ)

ځواب: کوم ځای چي هندوان دا ډول انقطاع وکړي هلته باید مسلمانان هم خپل معاملات له دوی منقطع کړي: "جزاء سيئة بمثلها" (سورة یونس، آیت: ۲۷) او د دوی له ډوډۍ او نورو څخه هم پرهېز کول مناسب دي، په حدیثو کي تر دې راغلي دي: لا ترايا ناراهما(۱) مطلب دا چي له کفارو څخه ډېر لیري والی او بعد اختیار کړئ، لنډه دا چي مسلمانان باید پخپل منځ کي اتفاق، اړیکي او معاملات وکړي او دې ته قوت ورکړي او د متعصبو کفارو څخه اجتناب او پرهېز وکړي. فقط

سؤال: (۸۰۱) هندوان چي کومه رویه د مسلمانانو سره ساتي یعني د دوی مسه کړې ډوډۍ نه خوري او د مسلمانانو سره پر یو کټ نه خوري، آیا مسلمانانو ته هم داسي کول پکار دي او کنه؟ او په دې هکله د نصاری لپاره څه حکم دی؟ (۱۳۴۱/۱۱۹۱هـ)

ځواب: مسلمانانو ته د داسي کولو ضرورت نشته، ځکه چي د هندو د لاس خوراک د مسلمان لپاره د مذهب له مخه صحیح دی، د دوی سره د ناستي هم اجازه شته، لهذا دا ډول پرهېز ته ضرورت نشته او اوس خو هندوان هم دا کوشش کوي چي د مسه کولو قصه ختمه شي

---

(۱) عن جرير بن عبد الله قال: بعث رسول الله صلى الله عليه وسلم سرية إلى خثعم ... و قال: أنا بريء من كل مسلم يقيم بين أظهر المشركين. قالوا: يا رسول الله! لم؟ قال: لا ترايا ناراهما (سنن ابي داؤد، ص: ۳۵۵، كتاب الجهاد، باب النهي عن قتل من اعتصم بالسجود)

او د نصاری لپاره هم دا حکم دی. فقط

د بنګي کره ډوډۍ خوړل څنګه دي؟

سوال: (۸۰۲) ... (الف): يو سړی مسلمان شو د ده سره په خوراک او څښاک کي پرهېز نه دی کول په کار، دا صحيح دي او کنه؟

(ب): يو سړی ډېر په ټينګه وايي چي د بنګي کره خوراک صحيح دی، دا خبره صحيح ده او کنه؟ (۱۳۳۸/۲۱۲۳هـ)

ځواب: (الف-ب) دا خبره صحيح ده چي څوک مسلمان شو د هغه سره په خوراک، څښاک کي پرهېز نه دی کول په کار، او هندوان که څه هم ټول برابر دي ليکن د بنګيانو لوښي او نور څو غالبًا پليت وي او دوی له کوم حرام شي څخه پرهېز نه کوي ځکه له دوی څخه بيلتون کول په کار دی او د دوی د کور ډوډۍ نه ده خوړل پکار. فقط

د بنګي مسه کړی چلم استعمالول څنګه دي؟

سوال: (۸۰۳): څه فرمايي علماء د دين په دغه مسئله کي چي يو بنګي د مسلمان چلم راواخيستی بل ځای يې کښيښودی، آيا اوس هغه د استعمال وړ دی او کنه؟
(۱۳۴۷-۴۲/۳۲۵۹هـ)

ځواب: کله چي د بنګي پر لاس کوم ظاهري نجاست نه و نو دا چلم پاک دی او د استعمال وړ دی، استعمالول يې جائز دي.

وابوبکر، عمر، عثمان او عائشي رضی الله عنهم ته منافقان او غاصبان ويونکي، دا د ثواب کار بلونکي سره ديني او دنياوي اړيکي ساتل

سوال: (۸۰۴) ... (الف): که کوم څوک و حضرت ابوبکر، عمر، عثمان او عائشه صديقه رضوان الله تعالی عليهم اجمعين ته کافران، منافقان او غاصبان وايي او دا کار د ثواب کار بولي، آيا داسي څوک کافر

دی؟ که کافر دی نو په کومو دلائلو؟ په ځینو کتابونو کي چي و اهل قبله ته له کافر ویلو څخه منع راغلي دي د هغه څه مطلب دی؟

(ب): که داسي عقیده ساتونکی کافر نه وي نو بیا خو هیڅ جګړه نشته او که کافر کیږي نو د لاندي خبرو پوښتنه لرم:

(۱): که د دغه الفاظو ویونکی سید وي نو آیا هغه د دغه د کفر له حکم څخه مستثنی دی او کنه؟

(۲): د داسي چا سره دیني رویه تر کوم حده جائز ده؟ که داسي څوک په سني امام پسي د لمانځه نیت وکړي نو د سني مقتدیانو لمونځ صحیح شو او کنه؟ که د دوی په لمانځه کي کوم تاوان راځي نو ولي؟ د حضرت شیخ سید عبد القادر جیلاني رحمة الله علیه لیکلی کتاب "غنیة الطالبین مخ ۱۹۴" کي دا حدیث لیکلی دی: فی روایة أنس : إن الله عز و جل اختـــارني و اختار لی أصحابي فجعلهم أنصاري و جعلهم أصهاري، و أنه سیجئ فی آخر الزمان قوم ینقصوهم، ألا! فلا إتأكلوهم، ألا! افلا تشاربوُهم، ألا! إفلا تناكحوهم ألا! إفلا تصلو معهم، ألا! إفلا تصلوا علـــيهم، علیهم حلت اللعنة(۱) د دغه حدیث په هکله پوره تسلي راکړئ چي آیا دا حدیث صحیح او واجب العمل دی او کنه؟ او دغه حدیث په کمو او زیاتو الفاظو په مظاهر حق کي هم موجود دی او غنیة الطالبین واقعتًا د شیخ سید عبد القادر جیلاني رحمه الله تصنیف دی که د بل چا دی؟

(۳): د داسي عقیده ساتونکي سره دنیاوي اړیکي تر کوم حده جائز دي او کول پکار دي؟ د ده سره خوراک څښاک جائز دی او کنه؟ (۱۳۳۷/۱۰۵۱هـ)

ځواب: (الف-ب) ځینو فقهاء د شیخینو سب ته کفر او ارتداد ویلی دی کما فی الدر المختار: فی البحر عن الجوهرة معزیا للشهید: من سب الشیخین او طعن فیهما كفر، و لا تقبل توبته، و بـــه أخــذ الدبوسی و أبو اللیث و هو المختار للفتوی إلخ(۱) ترجمه: چا چي شیخینو ته ښکنځا وکړه یا یې دوی ته بد او رد وویل هغه کافر شو او د هغه توبه نه قبلیږي او همدا خبره دبوسي رحمه الله او

---

(۱) غنیة الطالبین للشیخ السید محی الدین عبد القادر الجیلاني قدس سره ص: ۱۹۴-۱۹۵، كتاب الآداب، فصل فی العقائد، مطبوعة: مكتبه محمدي لاهور.

(۱)الدر المختار مع الشامي ۳۲۱/۳: كتاب الجهاد، باب المرتد، مطلب مهم فی حكم ساب الشیخین. ط رشیدیه

ابو الليث رحمه الله راخيستې ده او فتوی پر هـمدې ده. و في رد المحتار: أقول: نعم نقل في البزازية عن الخلاصة أن الرافضي إذا كان يسب الشيخين و يلعنهما فهو كافر، و إن كان يفضل عليا عليهما فهـو مبتدع إلخ(۱) ترجمه زه وايم: هو رانقل کړي بې دي په بزازيه کي له خلاصه څخه چي رافضي چي شيخينو ته ښکنځا کوي او لعنت وربا ندي کوي، هغه کافر دی او که چيري صرف و حضرت علي رضی الله عنه ته فضيلت ورکوي پر شيخينو باندي نو هغه بدعتي دی الخ بيا يې دا تحقيق کړی دی چي په روافضو کي چي کوم غاليان دي او د قطعي نصوصو منکرين دي هغه په اتفاق کافران دي او نور فاسقان او بدعتيان دي، لکه د حضرت صديق رضی الله عنه د صحبت انکار کول، پر بي بي عائشه رضی الله عنها دافک قول کول او د حضرت علي رضی الله عنه د الوهيت قول کول، داسي خبري د اهل سنت په اتفاق سره کفر دي(۲) او پر کوم رافضي چي د قطعي نصوصو څخه د انکار په وجه د کفر حکم لګول شوی دی، په هغه کي سيد او نا سيد برابر دی، دا غه ډول کوم رفض چي فسق او بدعت دی په هغه کي هم ټول برابر دي، لنډه دا چي سيد کېدل فسق، بدعت، کفر او ارتداد نه مباح کوي او له وعيد او عذاب څخه نشي خوندي کولای، له داسي خلکو څخه کلي متارکت لازم دی، يعني مواکلت، مشاربت او مناکحت د دوی سره حلال نه دی، قال الله تعالى: "و لا تركنوا إلى الذين ظلموا فتمسكم النار" الآية (سورة هـود، آيـت: ۱۱۳) او غنية الطالبين د حضرت شيخ عبد القادر جيلاني رحمه الله تصنيف دی او کوم حديث چي په دغه کتاب کي بيان شوی دی، مضامين د دې په نورو حديثونو کي هم په بېلابيلو الفاظو راغلي دي، په مظاهر حق کي له طبراني، حاکم او نورو څخه په داسي الفاظو روايت شوی دی: عن عويمر بن ساعدة أنه صلى الله عليه وسلم قال: إن الله اختارني، و اختارلي أصحابا، فجعل لي منهم وزراء و أنصارًا و أصهارًا فمن سبهم فعليه لعنة الله و الملائكة و الناس أجمعين و لا يقبل الله منه صرفًا و لا عـدلاً(۱) او دا حديث په مظاهر حق کي موجود دی او د روافضو په هکله د

---

(۱) رد المحتار۳/۳۲۱ كتاب الجهاد باب المرتد. مطلب مهم في حكم ساب الشيخين. ط رشيديه

(۲) نعم لا شک في تكفير من قذف السيدة عائشة رضي الله تعالى عنها، او أنكر صحبة الصديق أو اعتقد الألوهية في علي او أن جبريل غلط في الوحي او نحو ذلک من الكفر الصريح۳/۳۲۱ كتاب الجهاد، باب المرتد، مطلب مهم في حكم ساب الشيخين. ط رشيديه

(۱) مظاهر حق جديد: ۷/۲۵۸۷، كتاب الفتن: باب مناقب الصحابة رضي الله عنهم اجمعين الفصل الأول، ط ادارۂ اسلاميات ديوبند.

مظاهر حق لیکوال د ډېر آیتونه او حدیثونه رانقل کړي دي چې له هغو څخه د دوی د مذهب بطلان معلومیږي، هغه وګورئ او خپور يې کړئ(۱) فقط

شریعت، حدیث او رسول د خدای ته ښکنځا کونکی مرتد دی.

معامله د مرتد ورسره کول پکار ده

سوال: (۸۰۵): د زید لور کونډه شوه په عمر ډېره کشره ده، بکر او نور کسانو نورو د بلي نکاح کولو په هکله ورته وویل چې چیري ستا خوښه وي، د شرعي او حدیثو په رڼا کي وکړه، زید چې دا خبره واورېده نو شریعت، حدیث او د خدای رسول ته ښکنځاوي وکړې او دا يې وویل چې زما په کورنۍ کي نه دوهمه نکاح شوې ده او نه چا کړې ده نو اوس د زید سره خوراک، څښاک سلام او نور صحیح دي او کنه؟ (۱۳۳۷/۱۵۸۸هـ)

ځواب: زید په دغه حالت کي مرتد او کافر شو(۲) او د ده ټول اعمال حبط او باطل شوه، پر ده لازم دي چې له نوي سره اسلام قبول کړي او کلمه د شهادت ووايي او پر تیرو توبه وباسي، ترڅو چې ده توبه نه وي ایستلې، د ده سره اریکي، سلام او روغبړ، خوراک او څښاک ورسره

---

(۱) عن علي رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: سیأتي من بعدی قوم یقال لهم الرفضة فان أدرکتهم فاقتلهم و فإنهم مشرکون قال: قلت: یا رسول الله! ما العلامة فیهم؟ قال: یفرطونک بما لیس فیک و یطعنون علی السلف، رواه الدار قطني.

او د دار قطني په یو روایت کي دا الفاظ راغلي دي:

و ذلک یسبون أبابکر و عمر و من سب أصحابي فعلیه لعنة الله و الملائکة و الناس داغه ډول روایت له حضرت انس، حضرت عیاض انصاري، حضرت جابر، حضرت حسین بن علي، حضرت ابن عباس، حضرت فاطمه زهراء او حضرت ام سلمه رضی الله عنهم څخه هم منقول دي او دا هم راغلي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: من أبغضهم فقد أبغضني و من آذا هم فقد آذاني، و من آذاني فقد آذی الله.

(۲) من سب الرسول صلی الله علیه وسلم فإنه مرتد و حکمه حکم المرتد و یفعل به ما یفعل بالمرتد (الدر المختار مع الشامی ۳۱۹/۳ کتاب الجهاد باب المرتد مطلب مهم فی حکم ساب الأنبیاء. ط رشیدیه)

پریږدئ. فقط و الله تعالی اعلم

د هندو همسایه ګانو سره ښه رویه کول

سوال: (۸۰۲) ... (الف) د یو سړک پر غاړه د مسلمانانو او هندوانو کورونه دي، حالاً پر دغه سړک صرف یوه ګاډۍ تېرېدلای شي، دوې ګاډۍ په یو وخت ورباندې نشي تېرېدلای، که یوه ګاډۍ ډکه ولاړه وي نو دوهمه به انتظار کوي، د دغه ضرورت په وجه یو هندو دا غواړي چې سړک پراخ کړي، شپږ اوه زره له ځانه ورکول غواړي او د سړک په پراخېدو هم عام تکلیف هم لیرې کېږي او د سرایو قیمت هم زیاتېږي ځکه د سړک پر غاړه اوسېدونکي مسکینان مسلمانان او هندوان د دغه خیر د کار لپاره خپلې ځمکې خرڅولو ته آماده دي لیکن زید ورته خنډ دی شرعًا په دې هکله څه حکم دی؟

(ب) زید پخپله ځمکه کې بیت الخلا (ټټي) هم جوړه کړې ده چې ورڅخه هندو همسایه ګان په تکلیف دي، په دې هکله څه حکم دی؟


ځواب: (الف) د همسایه ګانو تکلیف لیرې کول چې پکې خپل تکلیف هم لیرې کېږي، دا عمل شرعًا محمود او غوره دی او په إماطة الأذی عن الطریق کې داخل دی، کوم چې د اجر او ثواب باعث او د ایمان علامت دی(۱) همسایه که هندو وي او که مسلمان، په دې هکله برابر دي، همسایه که څه هم کافر وي، د هغه سره هم د ملاطفت او ښه رویه کولو حکم دی او د جار حق دی(۱) لهذا مسلمانان

---

(۱) عن ابي هريرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الإيمان بضع و سبعون او بضع و ستون شعبة فأفضلها قول لا أله إلا الله و أدناها إماطة الأذى عن الطريق و الاحياء شعبة من الإيمان (الصحيح لمسلم: ۴۷/۱ كتاب الإيمان، باب بيان عدد شعب الإيمان و أفضلها و أدناها الخ)

(۱) عن أبي هريرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: و الله: لا يؤمن و الله لا يؤمن و الله لا يؤمن قيل: من يا رسول الله؟ قال: الذى لا يامن جاره بوائقه. متفق عليه=

باید په داسي کارونو کي کوشش وکړي، کوم چي د همسایه ګانو د راحت باعث وي
(ب) زید پخپله ځمکه کي د دا ډول تصرفاتو کولو اختیار لري لیکن د "لا ضرر و لا ضرار"(۱) په حکم په کوم عمل چي همسایه ګانو ته تکلیف وي د هغه رفع کول او لیري کول ضروري دي. فقط و الله تعالی اعلم



=و عن أنس رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا يدخل الجنة من لا يأمن جاره بوائقه، رواه مسلم (مشكوة المصابيح، ص: ٤٢٢، كتاب الآداب، باب الشفقة و الرحمة على الخلق، الفصل الأول)

(١) عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا ضرر و لا ضرار (ابن ماجة: ١٦٩، أبواب الأحكام، باب من بنى في حقه ما يضر بجاره)

د فاسقو او ګمراه خلګو سره د اړیکو ساتلو بیان

یوه پیړۍ مخکي د قومونو جرګي کېدلې، د جرګې والو به پر قوم باندي ډېره کلکه قبضه وه او س هغسي خبري نشته، چي کله جرګې وي نو د منکراتو د مخ نیوي لپاره بېلا بېل تدبیرونه کېدل، له کورنۍ څخه به د ایستلو سزاوي ورکول کېدې، کله به د مال جرمانه ورباندي ولګوله او کله به د قوم مشرانو د خپل ذاتي اختلاف په وجه د طاقت په نشه کي نامناسبي فیصلې هم کولې پر مخ لیکل شوي فتواوي د همداسي ماحول په اعتبار دي(مرتب)

د شریعت په خلاف کونکیو د مال جرمانه لګول

سوال: (۸۰۷) لنډیز د سوال دا دی چي جرګې د دې خبري انتظام کړی دی چي کوم څوک حرام او غیر شرعي کارونه لکه شراب خوړل، جوارګري کول، تاش کول، ږیره خرېل اونور داسي کارونه کوي ترڅو چي دوی دغه محرمات نه پرېږدي، د روژې او لمانځه پابند نشي دوی به له کورنۍ وتلي او هیڅ ډول اړیکي به نه ورسره ساتل کیږي، ترڅو چي دوی تر مالي تاوان ادا کولو وروسته توبه و نه باسي دوی به کورنۍ کي نه پرېښودل کیږي داسي جائز دي او کنه؟(۱۳۳۹/۸۰هـ)

ځواب: که په دیني امورو کي دا ډول تنبیهات او انتظامات وشي او خلک مجبور کړل شي او پر دوی فشار راوستل شي چي دوی شرعًا حرام کارونه پرېږدي او د شرعي اوامرو لکه لمونځ او روژې پابند شي نو په حقیقت کي دا د دین ډېر لوی خدمت دی او د دې ډېر زیات ثواب دی او له داسي خلګو څخه چي د شرعي په خلاف کارونه کوي، متارکـــت، عـــدم مجالســـت، مواکلـــت، مشـــاربت او نـــورو

منصوصي دي(۱) اما مالي جرمانه په شریعت کي نشته او کوم امام چي د دې اجازه کړې ده، هغه دا ډول ده چي که تنبیهًا څه څني واخیستل شي نو بل وخت به بیرته ده ته ورکوي یا دي د ده په خوښه او رضا د ده له خوا په کوم خیریه کار کي ولګوي(۲) او د لمانځه د جنازې لمونځ کول دا یو شرعي حکم دی، دا مه پرېږدئ مګر لمونځ د جنازې فرض کفایه دی، که څیني یې ادا کړي نو له نورو څخه ساقط دی، لنډه دا چي دغه انتظام دي د شرعي حکم پابندي لپاره وشي، داسي نه چي د نورو د هدایت په فکر پخپله معصیت کونکی شي. فقط

د یو میراثي د قصور په وجه د ټولو میراثیانو څخه اړیکي ختمول

سوال: (۸۰۸) د میراثیانو(۳) څخه اړیکي ختمول د هغه قصې په وجه چي یو میراثي په مولوي صاحب د خنزیر غوښه خوړلې وه، داسي څنګه دي؟

(۱۳۳۰-۲۹/۴۰۷هـ)

ځواب: د میراثي چي کومه قصه مشهوره ده، که هغه صحي وي نو قصور صرف د هم هغه میراثي دی چا چي داسي کار کړی دی، د ټولو میراثیانو د څخه د اړیکو قطع کولو کومه وجه نشته.

د یو سړي د قصور په وجه له ټول خاندان څخه اړیکي ختمول

سوال: (۸۰۹) عبد الستار د عبد الحق ښځه وتښتوله نو د کورنۍ لپاره د عبد الستار خاندان

---

(۱) عن ابن عمر رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: القدرية مجوس هذه الأمـــة، إن مرضوا فلا تعودوهم و إن ماتوا فلا تشهدوهم و عن عمر رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیــه وسلم: لا تجالسوا أهل القدر و لا تفاتحوهم (مشكوة المصابيح، ص: ۲۲، كتاب الإيمان، باب الإيمان بالقدر)

(۲) قوله: (و فيه الخ) أى فى البحر حيث قال: و أفاد فى البزازية: أن معنى التعزير بأخذ المال على القول بـــه إمساک شئ من ماله عند مدة ليزجر ثم يعيده الحاكم إليه لا أن يأخذه الحاكم لنفسه أو لبيت المـــال، كمـــا يتوهمه الظلمة إذ لا يجوز لأحد من المسلمين أخذ مال أحد بغير سبب شرعى(رد المحتار۳/۱۹۵ كتاب الحدود، باب التعزير، مطلب فى التعزير بأخذ المال. ط رشيديه)

(۳) میراثي: یو سندي ویونکی قوم، مغنی (فیروز اللغات)

جلا کول پکار دي او کنه؟(۱۳۸۵/۱۳۴۰هـ)

ځواب: په دغه صورت کي هر څه قصور او ګناه پر عبد الستار دی، دده د خاندان هیڅ قصور نه دی، که اړیکي ختموي نو د عبد الستار څخه یې ختمي کړئ یعني ترڅو چي دی توبه و نه باسي، له ده څخه اړیکي ختمي کړئ فقط

د سودخور سره اړیکي ساتل

سوال: (۸۱۰) زید سودخور دی څوواره کورنۍ ورته یادونه کړې ده مګر دی نه منع کیږي د زید سره اړیکي ساتل او د ځان سره ډوډۍ ورکول صحیح دي او کنه؟ کورنۍ و زید ته د ځان سره ډوډۍ ورکوي د دوی څه حکم دی؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۵۲۲هـ)

ځواب: زید چي ترڅو توبه ونه باس، اړیکي ورسره مه ساتي، څوک چي د زید سره په حال شریکان دي هغه ګنهکار دي فقط

لور د سودخور پلار کره نه پرېښودل

سوال: (۴۱۱) زید نه غواړي چي بکر چي د زید زوی دی او د ده ښځه د سود خور او د بکر د ښځي پلار خالد سره خوراک څښاک او تګ راتګ وکړي یا خالد د زید کره راشي، د زید لپاره داسي کول شرعًا جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۵/۵۲۳هـ)

ځواب: د زید لپاره جائز نه دي چي د بکر د ښځي اړیکي د دې له پلار خالد څخه قطع کړي او تګ راتګ د پلار او لور تر منځ یا زوم او خسر تر منځ بند کړي، دا قطع رحمي ده او قطع رحمي کول یا په بل چا کول سخته کبیره ګناه ده چي ورباندي سخت وعید راغلی دی(۱) نو پر زید لازمه ده چي خالد خپلي لور ته له تګ راتګ کولو څخه منع نکړي

---

(۱) عن جبیر بن مطعم رضی الله عنه أنه سمع النبی صلی الله علیه وسلم یقول: لا یدخل الجنة قاطع (صحیح البخاری: ۸۸۵/۲، کتاب الأدب، باب إثم القاطع) و عن عائشة رضی الله عنها عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: الترحم شجنة، فمن وصلها و صلته و من قطعها قطعته (صحیح البخاری: ۸۸٦/۲، کتاب الأدب، باب من وصل وصله الله)

او نه دي لور يعني د بکر ښځه د پلار يعني خالد له کوره منع کوي. خالد که سودخور دی نو نصیحت دي ورته وکړي، که دی و نه مني نو غاړي د ده بندي دي. زید د قطع رحمی ګناه ولي کوي. فقط

د بې لمانځو څخه اړيکي قطع کول او د دوی په جنازه کي شرکت نه کول

سوال: (۸۱۲) يو ځای دري څلور سوه مسلمانان کورونه پراته دي، لمنځونه نه کوي، په همدې وجه د دوی د جنازې لمونځ نه کول او اړيکي ورڅخه قطع کول جائز دي او کنه؟ (۳۲/۱۷۹۰-۱۳۳۳هـ)

ځواب: دا خو صحيح ده چي له دوی څخه اړيکي قطع کړي، ترڅو کوم خلک چي لمونځونه نه کوي، په دغه فشار لمونځونه شروع کړي مګر د بې لمانځه د جنازې لمونځ نه دی پرېښودل پکار، په حديث شريف کي راغلي دي: صلوا علی کل بر و فاجر الحديث(۱) يعني د هر نېک او بد د جنازې لمونځ کوئ.

د تنبيه په غرض د بې لمانځه په غم او ښادي کي برخه نه اخيستل

سوال: (۸۱۳) د بې لمانځه په غم او ښادي کي د تنبيه په نيت برخه نه اخيستل شرعًا جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۵/۱۲۲هـ)

ځواب: و بې لمانځه ته دا ډول تنبيه ورکول جائز دي چي د ده په غم او ښادي کي برخه و نه اخيستله شي او ناسته ولاړه ورسره پرېښودل شي ليکن د جنازې لمونځ د ده يو مخ نه دی پرېښودل پکار، لقوله عليه الصلاة و السلام: صلوا علی کل بر و فاجر(۱) يعني د هر نېک او بد فاسق او فاجر د جنازې لمونځ کوئ نو د تنبيه لپاره داسي وکړئ چي درې څلور عالم کسان دي د جنازې لمونځ ورکړي، خاص او با اثره خلک دي شرکت پکښي نه کوي. فقط

---

(۱) عن مکحول عن أبي هريرة رضی الله عنه أن رسول الله صلی الله عليه وسلم قال: صلوا خلف کل بر و فاجر و صلوا علی کل بر و فاجر و جاهدوا مع کل بر و فاجر(سنن الدرا قطني: ۱۸۵/۱، کتاب الصلاة. باب صفة من تجوز الصلاة معه و الصلاة عليه، المطبوعة: المطبع الأنصاری الواقع فی الدهلی) و (سنن أبی داؤد، ص: ۳۴۳/۱، کتاب الجهاد، باب فی الغزو مع أئمة الجور)

د بنګې سره واده کونکي سره څنګه رویه باید وشي؟

سوال: (۸۱۴) که کوم سړي بېله مسلمان کولو د يوې بنګې سره واده وکړي، کور ته يې راولي، د ده څه سزا ده؟ کورنۍ څه ورسره وکړي؟ (۳۲/۲۲۲۳-۱۳۳۳هـ)

ځواب: دی فاسق دی، له کورنۍ څخه يې وباسي. فقط

د اجنبي ښځې بې نکاح په کور کې د ساتونکي حکم

سوال: (۸۱۵) ... (الف) يو سړي يوه ښځه بېله نکاح کولو له کلي څخه راوسته، دواړه په يو سرای کې اوسيږي، تر دې چې ښځه حامله هم شوه او بچی يې پيدا شو، نه ده تر اوسه د دغه ښځې سره نکاح کړې ده او نه د کورنۍ خلک ده ته څۀ وايي نه ځني بيلتون کوي، په داسې صورت کې د دغه سړي، ښځې او کورنۍ په هکله څه حکم دی؟

(ب) د يو سړي درې ښځې دي، يوه په نکاح کړي او دوې بېله نکاح د داسې چا سره خوراک څښاک او اړيکې ساتل جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۵/۳۴۲هـ)

ځواب: (الف) ښکاره خبره ده چې ښځه او نر فاسقان او د کبيره ګناه کونکي دي، د دوی سره د مجالست، مواکلت او مشاربت ترک لازم دی او د کورنۍ خلک چې د دوی سره اړيکې نه ختموي او دوی ته يادونه نه کوي هغه هم ګنهکار دي.

(ب) د داسې فاسقانو د کوروډۍ چې په کور کې دوې ښځې بې نکاح وي، خوړل صحيح نه دي، د دوی سره له اړيکو ساتلو څخه پرهېز وکړي او ډوډۍ د دوی مه خورئ فقط و الله اعلم

سوال: (۸۱۶) آيا د کوم سړي په کور کې چې بېله نکاح کولو پردۍ ښځه اوسيږي او د ښځې خاوند هم ژوندی وي، د داسې چا سره د مسلمانانو اړيکې ساتل، دوستي ورسره کول او د دوی د کوروډۍ خوړل د اسلام له مخه جائز دي او کنه؟ د آيت په رڼا کې خبر راکړئ (۳/۳۲۷/۲۹-۱۳۳۰هـ)

ځواب: قال الله تعالیٰ: "فلا تقعد بعد الذكرى مع القوم الظالمين" (سورة انعام، ايت: ٦٨) له دغه آیت څخه معلوم شو چي د ظالمانو سره ناسته نه ده پکار نو د داسي سړي سره اړیکي ساتل او د ده ډوډۍ خوړل نه دي پکار، ده ته نصیحت وکړئ چي دا عمل پرېږدي او توبه وباسي، که یې نه مني نو دی پرېږدئ فقط و الله تعالیٰ اعلم

سوال: (۸۱۷) د کوم چا په کور کي چي بې نکاح کولو پردۍ ښځه وي، د هغه په هکله څه حکم دی؟ (۱۳۳۹/۱۲۸۰هـ)

ځواب: داسي سړی فاسق دی، توبه په وباسئ او بې نکاح ښځه له ده څخه بېله کړي، که دی بیلوي نه او نکاح هم ورسره نه کوي نو اړیکي ورسره قطع کړئ.

سوال: (۸۱۸) د یو سړي په کور کي یوه فاحشه ښځه له څه مودې راهیسي او سيږي دا سړی ورسره زنا کوي، مسلمانانو ډېر پوه کړی خو بیا هم دی په ډاګه دا عمل ورسره کوي، ښځه اوس حامله شوه، که دغه سړی له دغه فعل څخه توبه ونه باسي نو مسلمانان باید پرهېز ځني وکړي او کنه؟ (۱۳۴۰/۲۳۷۴هـ)

ځواب: ببشکه داسي سړی معلن فاسق دی د مسلمانانو ورسره اړیکي قطع کول او ده ته یادونه کول چي دی دا عمل پرېږدي ضروري دي، قال الله تعالیٰ: "فلا تقعد بعد الذكرى مع القوم الظالمين" (سورة انعام، آیت: ٦٨)

سوال: (۸۱۹) امام الدین قصاب یوه ښځه چي خاوند هم لري، له یوې مودې څخه پخپل کور کي ساتلې ده، زنا ورسره کوي، یوه لور یې هم ځني پیدا شوې ده، د علماوو فتوی نه مني، له ځانه دا نه بیلوي، د مسلمانانو د ده له دکان څخه غوښه اخیستل او اړیکي ورسره ساتل څنګه دي؟ او مسلمانان دی له خپلو جنازو څخه ایستلای شي او کنه؟ (۱۳۴۳/۲۱۲۳هـ)

ځواب: داسي سړی فاسق او ګنهکار دی، که دی دغه ښځه له ځانه نکړي بېله او توبه ونه باسي او پر ګناه باندي ټینګار کوي نو مسلمانان دي اړیکي ورسره ختمي کړي او مناسب دا دي چي د یادوني لپاره

د ده له دکانه غوښه نه اخلي او اړیکي دي د ده سره نه ساتي(۱) لیکن که دی وفات شي نو د جنازې لمونځ ورکړئ ځکه چي په حدیث شریف کي راغلي دي چي د فاسق او فاجر د جنازې لمونځ کوئ(۲) او د مسلمانانو په هدیره کي يې باید ښخ کړي. فقط

سوال: (۸۲۰) یو سړي بې له نکاح کولو اجنبي ښځه په کور کي ساتلې ده، د ده سره باید څه وشي؟ دی خبره نه مني (۱۳۳۹/۱۸۸۸هـ)

ځواب: له داسي سړي څخه چي توبه نه وباسي او د بل ښځي له ځانه نه بېلوي یا نکاح نه ورسره کوي، اړیکي قطع کړي، د ده په غم او ښادي کي برخه مه اخلئ، اما له جماعت څخه يې مه منع کوئ. فقط

سوال: (۸۲۱) فتح او نظام الدین دواړه سره د کاکا زامن دي، د فتح زوی علی بخش د نظام الدین ښځه خپل کور ته راوستې ده، نظام الدین ژوندی دی، شرعًا د علي بخش سره اړیکي ساتل جائزدي او کنه؟ څوک چي ورسره اړیکي ساتي د هغو لپاره څه حکم دی؟(۱۳۴۰/۵۸۵هـ)

ځواب: علي بخش فاسق دی، ورسره اړیکي ساتل صحیح نه دي او که د علي بخش سره اړیکي ساتونکیو ته هم یادونه وشي نو ښه دي چي د ده سره اړیکي قطع کړي. فقط

سوال: (۸۲۲) یو سړي اجنبي ښځه بې له نکاح په کورکي ساتلې ده، بچیان يې ځني شوي دي خو نکاح ورسره نه کوي د ده سره او څوک چي د ده سره اړیکي ساتي د هغو سره څه رویه باید وشي؟ (۱۳۴۳/۲۱۱۸هـ)

ځواب: له داسي سړي سره اړیکي قطع کړئ او کوم خلک چي د ده په فعل راضي وي او له ده څخه اړیکي نه قطع کوي، هغه ګنهکاره دي. فقط

د بل چا ښځه له ځان سره ساتونکي حکم

سوال: (۸۲۳) یو سړي د بل ښځه کور ته راوستې ده، دوه بچیان يې هم ځني شوي دي،

---

(۱) مګر د ده له جنازو څخه منع کول صحیح نه دي، ځکه چي د مسلمان په جنازه کي برخه اخیستل د خیر کار دی او د خیر له کاره منع کول مناسب نه دي ۱۲ محمد امین پالن پوري

(۲) د دغه حدیث تخریج د سوال (۸۱۲) د جواب په حاشیه کي وشو.

د ده په هکله څه حکم او فتوی ده؟ (۱۳۴۵/۲۹۲ هـ)

ځواب: چا چي د بل ښځه ساتلې ده، هغه ظالم، فاسق او بدکار دی، توبه په وباسي، که توبه نه باسي او ښځه له ځانه نه بېلوي نو له کورنۍ څخه يې وباسئ. فقط

د زوی له ښځي سره نکاح کونکي سره اړيکي مه ساتئ

سوال: (۸۲۴) زيد د خپل سکه زوی ښځه په نکاح کړه، دا نکاح جائز ده او کنه؟ مسلمانانو زيد ته وويل چي دا تاته حرامه ده دا پرېږده او توبه وباسه، زيد نه دغه ښځه پرېږدي او نه توبه باسي، د داسي سړي سره اړيکي ساتل او خپل قبرستان کي ښخول او مړی په لمبول جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۵/۱۱۴۳ هـ)

ځواب: د خپل سکه زوی له ښځي سره نکاح کول قطعي حرامه ده، هغه له ابدي محرماتو څخه ده، هيڅکله هم نکاح نشي ورسره روا کېدلای، قال الله تعالی: "و حلائل ابنائکم الذين من أصلابکم" (سورة نساء، آيت: ۲۳) او حرامي کړل شوي دي پر تاسو باندي ستاسو د سکه زامنو ښځي نو دغه نکاح باطله ده نو موږ د تعزير او تنبيه وړ دی، که توبه نه وباسي او دا ښځه له ځانه نه بېلوي نو اړيکي ورڅخه قطع کړئ او هيڅ ډول تعلق مه ورسره ساتئ.

د خاله سره بدکاري کونکی له کورنۍ ايستل

سوال: (۸۲۵) يو سړي د خپلي خاله سره ناروا عمل وکړ، مسلمانانو له کورنۍ و ايستی، د ده په هکله څه حکم دی؟ (۱۳۴۳/۲۱۲۲ هـ)

ځواب: داسي شخص چي ترڅو توبه و نه باسي تر هغوی دی په کورنۍ کي مه ګډوئ، ده ته تنبيه ورکړئ چي حرام کار پرېږدي او توبه وباسي. فقط

د ورېرې سره زنا کونکي سره اړيکي ختمول

سوال: (۸۲۶) ... (الف) يو سړي له خپلي ورېرې سره زنا وکړه، د ده څه حکم دی؟

١

(ب) ده ته سلام کول جائز دی او کنه؟ (۱۳۴۴/۴۴-۱۳۴۵ھ)

ځواب: (الف-ب) زاني که توبه ونه باسي نو اړیکي ورسره قطع کړئ (یعني سلام او خبري مه ورسره کوئ)

د مړور سره د حرام کار کونکي حکم

سوال: (۸۲۷) زید د خپل وفات شوي زوی د کونډي هندې سره زنا وکړه او د اوربدو او قرائنو څخه تر اوسه د ده حالات د توبې کنبلو نه معلومیږي نو له زید څخه کرکه او بیلتون پکار دی او کنه؟ (۱۳۳۹/۳۴۲ھ)

ځواب: که د زید رویه له قرائنو څخه داسي معلومه وي لکه چي په سوال کي لیکل شوې ده نو بې له شکه چي زید د کرکي وړ دی، توبه په وباسئ او بیلتون په وکړئ خو که زید له دغه عمل کولو څخه انکار وکړي او کوم ثبوت د ده په خلاف نه وي نو بیا د مسلمان د خبري اعتبار کول پکار دی او بدګماني مه کوئ فقط

سوال: (۸۲۸) زید د خپل سکه زوی د ښځي سره نکاح وکړه، هغه وفات هم شوه، دوه زامن یې ځني شته، کورنۍ له ده څخه اړیکي قطع کړي، اوس زید غواړي چي زه په کورنۍ کي ورشامل شم، د ده په هکله شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۴۱/۲۵۲۸ھ)

ځواب: که زید له خپلي ګناه څخه توبه وباسي او پښېمانه دی نو په کورنۍ کي یې داخل کړئ فقط

سوال: (۸۲۹) څوک چي د خپلي مړور سره حرام کار وکړي، د هغه سره اړیکي ساتل څنګه دي؟ (۱۸۴۰/۴۲-۱۳۴۷ھ)

ځواب: داسي سړی فاسق، بدکار او زاني دی، د داسي سړي سره هیڅ ډول اړیکي او ارتباط ساتل روا نه دی، بلکه دی له کورنۍ وباسئ، کما قال الله تعالی: "و لا ترکنوا الی الذین ظلموا فتمسکم النار" الآیة (سورة هود، آیت: ۱۱۳)

او په حدیثو کي د کبیره ګناه کونکیو سزا اړیکو،

ارتباط او اختلاط ساتلو منع راغلې ده(۱) فقط و الله تعالی اعلم

د زنا لپاره خپله لور د هندو په کورکي اوسونکي حکم

سوال: (۸۳۰) عمر خپله لور د زنا لپاره د یو هندو په کورکي اوسوي او پخپله عمر هم ورسره یوځای اوسیږي، خوراک او څښاک ورسره کوي، نور مسلمانان و عمر ته وایي چې داسي دي ولي وکړو؟ عمر په جواب کي ورته وایي چې زه کله مړ شم نو تاسو ما مه ښخوي، هندوان به مي وسوځوي، د داسي سړي سره اړیکي ساتل څنګه دي؟
(۱۳۳۸/۱۵۴۹هـ)

ځواب: داسي سړی فاسق، بې حیاء او دووث دی، د ده سره اړیکي ساتل صحیح نه دي لکه چي په ایتونو او حدیثو کي دېر زیات دا مضمون راغلی دی(۲) قال الله تعالی: "فلا تقعد بعد الذکری مع القوم الظالمین" (سورة انعام، آیت: ۶۸) و قال الله تعالی: "لا تجد قومًا یؤمنون بالله و الیوم الآخر یوادون من حاد الله و رسوله" الآیة (سورة مجادلة، آیت: ۲۲)

دوې سکه خوندي پر یوه وخت نکاح کونکي حکم

سوال: (۸۳۱) د یو سړي ناروا اړیکي د خپلي خوښیني سره دي، ګو دوې سکه خوندي په یوه وخت ده په نکاح کړي دي، د ده سره اړیکي ساتل څنګه دي؟
(۱۳۳۹/۲۰۴۵هـ)

---

(۱) عن ابن عمر رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: القدریة مجوس هذه الأمة، إن مرضوا فلا تعودوهم و إن ماتوا فلا تشهدوهم.
و عن عمر رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لا تجالسوا أهل القدر و لا تفاتحوهم (مشکوة المصابیح، ص: ۲۲، کتاب الیمان، باب الإیمان بالقدر)

(۲)عن ابن عمر رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: القدریة مجوس هذه الأمة، إن مرضوا فلا تعودوهم و إن ماتوا فلا تشهدوهم.
و عن عمر رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لا تجالسوا أهل القدر و لا تفاتحوهم (مشکوة المصابیح ص: ۲۲ کتاب الإیمان، باب الإیمان بالقدر)

ځواب: دوې خوندې په يوه وخت په نکاح کول حرام دي(۱) او بيله نکاح د خپلې ښځې د خور سره د زنا کولو په حرمت کې څه شک دی؟ نو داسې سړی که توبه و نه باسي او خوښينه له ځانه بيله نکړي نو اړيکې ورځخه قطع کړئ. فقط

زنا، ناچ او سندري پېشه جوړونکيو حکم

سوال: (۸۳۲) کومو خلکو چې زنا، ناچ او سندري خپله پېشه ګرځولي دي بلکې د پېشې په لفظ سره يې تعبيروي او پر دغه ناوړه فعل ټينګار کوي، عمر يې پر همدې تيريږي او د همدغه زنا په آمدني د کور ګزاره، خوراک، څښاک او هر څه کوي، مسلمانان بايد د دوی سره څه رويه وکړي؟ او د دوی سره اړيکې ساتل، خبرې اترې ورسره کول، د دوی کره خوراک، څښاک کول يا نغدي روپۍ ځني اخيستل يا د دوی خيرات او صدقه قبلول يا د دوی کوم کار په مزدوري ورکول يا د دوی د جنازې لمونځ کول يا په جنازه کې ورسره برخه اخيستل يا دوی ته غسل ورکول يا د همدغه آمدني په بدل پر دوی کوم شی خرڅول يا ځني رانيول نور او نور شرعًا څه حکم لري؟

(۱۳۳۵/۵۸۵هـ)

ځواب: د دغه پېشې په شنيع او حرام او د اسلام په خلاف کېدو کې هيڅ شبه او شک نشته او دا هم ښکاره خبره ده چې پر قطعي حرام ټينګار کونکي باندې د کفر وېره ده او قطعي حرام حلال بلل يقينًا کفر او ارتداد دی، لنډه دا چې د دغه خلکو په فاسقان او فاجران کېدو کې هيڅ شک او شبه نشته، په آيتونو او حديثونو کې د داسې خلکو له مجالست او موانست ځخه منع راغلې ده(۲) نو پر مسلمانانو لازم دي چې

---

(۱) "حرمت عليكم ... و أن تجمعوا بين الاختين" (سورة نساء، آيت: ۲۳)

(۲) "فلا تقعد بعد الذكرى مع القوم الظالمين" (سورة انعام، ايت: ۶۸)

عن ابن عمر رضى الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: القدرية مجوس هذه الأمة إن مرضوا فلا تعودوهم و إن ماتوا فلا تشهدوهم و عن عمر رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا تجالسوا أهل القدر و لا تفاتحوهم (مشكوة المصابيح، ص: ۲۲، كتاب الإيمان، باب الإيمان بالقدر)

په بیان شویو معاملو کې له دوی څخه بیلتون، متارکت او منافرت وکړې او نصیحت کول دوی ته ضروري دی، ترڅو دوی له خپل دغه عمل څخه منع شي او دغه پښه پریږدي، لیکن تر مرګ وروسته د دوی سره د مسلمانانو په رنګه معامله وکړې، غسل او کفن ورکړې او د جنازې لمونځ ورکړې چې دا د هر مسلمان حق دی، که څه هم هغه فاسق او فاجر وي او په حدیث شریف کې راغلي دي: صلوا علی کل بر و فاجر الحدیث(۱) دا جمله د حدیث ده چې روایت یې دار قطني کړی دی، په شرح منیه کې د دغه حدیث په اړه دا بحث راغلی دی: رواه الدار قطني و أعله بأن مکحولاً لم یسمع من ابي هریرة رضی الله عنه و من دونه ثقات، و حاصله أنه مرسل و هو حجة عندنا و عند مالک و جمهور الفقهاء فیکون حجة علیه و قدروی بعدة طرق للدار قطني و ابي نعیم و العقیلي کلها مضعفة من قبل بعض الرواة و بذلک یرتقي إلی درجة الحسن عند المحققین انتهی(۲) او په شرح منیه کې عمداً پخپله ځان وژونکي باندې د لمونځ کولو دلیل کې د امام صاحب او امام محمد رحمهما الله له خوا دا بیان کړی دی: و لأنه مسلم عاص غیر ساع فی الأرض فسادًا فلا یقاس علیه البغاة و قطاع الطریق إلخ(۳) فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) عن مکحول عن ابي هریرة رضی الله عنه أن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: صلوا خلف کل بر و فاجر و صلوا علی کل بر و فاجر و جاهدوا مع کل بر و فاجر(سنن الدار قطني: ۱/۱۸۵، کتاب الصلاة، باب صفة من تجوز الصلاة معه و الصلاة علیه، المطبوعة: المطبع الأنصاری الواقع فی الدهلی) و (سنن ابي داؤد: ۱/۳۴۳. کتاب الجهاد، باب فی الغزو مع أئمة الجور)

(۲) غنیة المستملی فی شرح منیة المصلی المعروف بالحلبی الکبیري، ص: ۴۴۲، فصل فی الإمامة، المطبوعة: دار الکتب دیوبند.

(۳) و لا یصلی علی من قتل نفسه عمدًا عند ابی یوسف رحمه الله و اختاره علی السغدی، لأنه باغ علی نفسه و عندهما یصلی علیه و اختاره شمس الأئمة الحلوانی، لأن دمه هدر، فصار کالمیت حتف أنفه و لأنه مسلم عاص إلخ(غنیة المستملی فی شرح منیة المصلی المعروف بالحلبی الکبیری، ص: ۵۰۹، فصل فی الجنائز و فیها أبحاث الرابع فی الصلاة علیه)

د خوړځي سره د زنا کونکي حکم

سوال: (۸۳۳) یو سړي د خپلي خور د لور سره زنا وکړه، د ده سره خوراک، څښاک او اړیکي جائز دي او کنه؟ او کوم خلک چي د ده ملګري دي، د هغو څه حکم دی؟ (۱۳۳۵/۱۲۵۲ه)

ځواب: په دغه سړي توبه وباسئ او یادونه ورته وکړئ، که توبه نه باسي نو بیلتون ځني وکړئ او کوم خلک چي د ده همکاران دي، هغه ګنهکاران دي.

د زاني او د زنا ترغیب ورکونکی نیم ملا حکم

سوال: (۸۳۴) یوه ښځه له خپل خاوند څخه بیله او بې لاري ده، د یو سړي سره اوسیږي، بې له نکاح یې ناروا اولاد وشو، کورنۍ چي په خبره شوه نو دې ته د جلا اوسیدو تاکید وکړی او نارینه د جلا اوسیدو وعده وکړه لیکن څه موده وروسته همدغه زاني د ښځي سره بیا اړیکي وساتلې او ښځي له لومړي خاوند څخه طلاق نه دی اخیستی، وجه یو نیم ملا دی، کورنۍ خطا کړي، د ده سره پر ملاقات مجبوروي په دغه صورت کي د زاني او نیم ملا په هکله څه حکم دی؟ (۱۳۳۹/۱۲۰۲ه)

ځواب: له داسي فاسق او زاني څخه ترڅو چي دی په رښتیا توبه و نه باسي او ناوړه عمل نه پریږدي اړیکي ختمول پکار دي او د هغه نیم ملا سره هم چا چي د دوی ناروا اړیکي ورقائمي کړې، همدا معامله کول پکار ده. فقط

د حضرت آدم علیه الصلاة و السلام د سپکاوي کونکي حکم

سوال: (۸۳۵) یو سړی وایي چي حضرت آدم علی نبینا و علیه الصلاة و السلام زنا وکړه دا ډول چي کله بې بي حواء پیدا شوه او دی له خوبه راویښ شو نو ده د لاس وروړلو اراده وکړه حضرت جبرائیل علیه الصلاة و السلام ورته وویل چي ترڅو زه له الله څخه اجازه وانخلم تر هغو لاس مه

وروړه نو حضرت جبرائيل عليه الصلاة و السلام له الله رب العزت څخه اجازه اخيستلو لپاره ولاړي، وروسته آدم زنا وکړه، په همدې وجه پر مور غسل واجب شو، دا وينا د ده څنګه ده؟ او د دې څه ثبوت شته که دا بهتان دی؟ که بهتان دی نو د داسي سړي د ايمان او نکاح څه حال دی؟ او په ده پسي لمونځ صحيح دی او کنه؟ او بيله توبه ايستلو د ده سره اړيکي وساتو او کنه؟ (۱۳۳۵/۸۷۲هـ)

ځواب: د دې هيڅ اصل نشته، دا صرف افترا او بهتان دی. په دې کي اهانت او استخفاف دی، د حضرت آدم عليه الصلاة و السلام او دا کفر دی نو داسي وينا کونکی بايد د تجديد د ايمان او تجديد د نکاح وکړي، بيله توبې او بې د ايمان له تجديده د ده امامت صحيح نه دی او متارکت له ده څخه لازم دی، سلام او کلام د ده سره پرېږدئ، ترڅو چي دی توبه و نه باسي لکه چي په شامي کي په مکفرات کي استخفاف د نبي هم شمېرلی دی، حيث قال: و قتل نبي و الاستخفاف به الخ و فيه بعد أسطر: قلت: و يظهر من هذا أن ما كان دليل الاستخفاف يكفر به و إن لم يقصد الاستخفاف الخ(۱) فقط

له توبې وروسته اړيکي ختمول صحيح نه دي

سوال: (۸۳۲) د زيد پلار کله چي زيد د يو نيم کال ؤ، وفات شو او چي کله زيد د اتو کلونو شو، د ده مور زنا وکړه چي ور څخه لور پيدا شوه، له دې دوه څلور کاله وروسته د زيد مور پخپل شوق او رضا بل ځای نکاح وکړه چي له دې څخه دا معلومېږي چي توبه يې و ايسته، په دې وجه څو کسانو ورسره اړيکي ختمي کړې او زيد ته هم ويل کيږي چي که ته هم اړيکي ختموې نو زمونږ سره د اړيکي ساتلو ورېې کنې زمونږ سره کار مه لره. آيا د زيد د مور کوم حقوق چي پر زيد يا پر نورو خپلوانو دي. هغه تر پښو لاندي شو او کنه؟ او شرعًا د زيد يا نورو خلګو لپاره متارکت جائز دی او کنه؟ داغه راز کوم خلګ چي له شرعي فتوی څخه مخ اړونه کوي، د هغو په هکله څه حکم دی؟ (۱۳۴۳/۵۴۹هـ)

ځواب: اوس چي کله د زيد مور نکاح وکړه او په ظاهره پر لومړي فعل پښېمانه شوه او توبه ګاره شوه نو د دې سره اړيکي مه ختموئ، په تېره بيا د دې زوی زيد خو دي په هر حال کي د خپلي مور سره ښه

---

(۱) الشامي ۳/۳۱۹-۳۱۱ كتاب الجهاد، باب المرتد، قبيل مطلب في منكر الإجماع. ط رشيديه

معامله کوي او د خپلي مور لپاره دي له الله څخه استغفار او معافي غواړي "إنـه هـو الغفور الرحيم"(۱) له بشر څخه خطا هم کيږي او ګناه کيږي مګر کله چي الله تعالی توبهٔ قبلوي او د ګنهکارو تر ګناهونو او خطاګانو ورتيريږي نو بندګان هم بايد د معافی معامله وکړي او له شرعي فتوی څخه چي کوم خلک مخ اړونه کوي، هغه ګنهکار دی، بايد توبه وباسي. فقط و الله تعالی اعلم

د ميرې سره د زنا کونکي حکم

سوال: (۸۳۷) کوم څوک چي د خپل پلار د منکوحې سره زنا کوي او په خبره ځان نه پوهوي نو د داسي سړي سره اړيکي ساتل شرعًا جائزدي او کنه؟(۱۳۴۵/۲۴۱۵ھ)

ځواب: دا سړی که توبه نه وباسي او دغه ناوړه فعل نه پريږدي نو له ده څخه اړيکي ختمول پکار دي. فقط

د زاني په کورنۍ کي شاملولو باندي رشوت اخيستل

سوال: (۸۳۸) يو سړي په کلي کي د بل سړي د ښځي سره زنا وکړه بيا يې د دې پر خاوند فشار واچاوی جبرًا يې ښځه په طلاقه کړه او تر اوسه د دې سره زنا کيږي، زموږ مولوي صاحب د دغه سړي په هکله لومړی دا حکم وکړی چي ترڅو دی توبه و نه باسي او نکاح ونکړي، د ده سره په هيڅ معامله کي اړيکي مه ساتي ځکه ټول کال همداسي حال ؤ، اوس مي اورېدلي دي چي په اختر کي مولوي صاحب څه تحفې ځني واخيستې، ده ته يې معافي وکړه، په دې هکله شرعًا څه حکم دی؟(۱۳۴۵/۱۰۲ھ)

ځواب: چا چي داسي وکړو، بد يې وکړو چي پر مسکين سړي فشار اچولی او ښځه په طلاقوي خو شرعًا دغه طلاق واقع شو نو کوم چا چي بې له نکاح د ځان سره ساتلې ده. هغـه زانـي او فاسـق دی، کـه دی توبـه نـه وباسـي او تـر عـدې وروسـته ورسـره نکـاح نـه کـوي نـو د ده سـره اړيکـي ختمـي کـړئ

---

(۱) (سورة يوسف، آيت: ۹۸، سورة لقصص، آيت: ۱۶، سورة زمر، آيت: ۵۳)

او کوم مولوي صاحب چي بې له په توبه کولو او بې لـه نکاح رشوت څني واخیستی، اړیکي بیا ورسره وساتلې او په کورنۍ یې ګډ کړی، هغه فاسق او ګنهکار دی، لمونځ پسي مکروه دی. فقط

پخپلو کورونو کي د زنا اړې قائمونکیو حکم

سوال: (۸۳۹) د کومو خلګو په کورونو کي چي د زنا پیشه کیږي شرعًا د هغوی څه حکم دی. (۱۳۴۱/۱۷۱۲هـ)

ځواب: کوم خلګ چي پخپلو کورونو کي زنا کاري او نور کوي هغه فاسقان او دوزخیان سخت بې حیاء او ظالمان دي داسي خلګ چي ترڅو توبه ونه باسي او خپل دغه ناوړه عمل نه پریږدي تر هغو اړیکي ورسره ختمي کړئ. فقط

د چا ښځه چي د بنګي سره تښتېدلې وي د هغه حکم

سوال: (۸۴۰) د یو مسلمان د ښځي له دوو کلونو څخه د یو بنګي سره ناروا اړیکي پیدا شوې، مسلمانانو دا سړی راوغوښتی، پوه یې کړ لیکن ده د چا په خبره عمل ونکړی او وایي زما ښځه داسي نه ده، دښمنان دا الزام پر لګوي او دغه نوموړې ښځه د همدغه بنګي سره و تښتېده، یوه میاشته وروسته د همده سره ونیول شوه، د دغه ښځي او د دې د خاوند په هکله شرعًا څه حکم دی؟ (۱۰۱۹/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: په دغه ښځه توبه وباسئ چي له تیرو افعالو توبه وباسي او استغفار وکړي او آئنده دغه ناوړه فعل ونکړي، لـه توبې وروسته دا او د دې خاوند په کورنۍ کي درګډ کړي. فقط

خپله ښځه له زنا څخه نه منع کونکي سره مسلمانان څه وکړي؟

سوال: (۸۴۱) د یو سړي ښځه زناکاره ده، دی یې لـه زنا څخه نه منع کوي، ان چي اوس حال داسي دی چي دغه ښځه خپل اشنایان د خاوند په مخکي کور ته راولي، خاوند څه ورته نه وایي او نه طلاق ورکوي، د داسي نر او ښځي څه حکم دی؟
(۳۷۵/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: په داسي حال کي و دغه خاوند ته د طلاق ورکولو وواياست کـه اوس هم نه ومني نو

مسلمانان باید له داسي بې حیا نارینه او ښځینه ځخه ټولي اړیکي ختمي کړي. دلته د کفارو د تسلط په وجه له دې پرته بله کومه سزا کېدلای شي چي ټول غیرتمند مسلمانان له دوی ځخه د بېزارۍ څرګندونه وکړي او د شریعت د وقار او د اسلام د غیرت په حق هیڅ ډول هیڅ تړون ورسره نه وساتي، کوم څوک چي سره د خبرتیا ورسره اړیکي ساتي، هغه هم ګنهکار دی. فقط

تښتېدلي زناکاره ښځه له توبې وروسته له ځان سره ساتونکي حکم

سؤال: (۸۴۲) د یو سړي ښځه د بل چا سره ولاړه او زنا یې وکړه. خاوند پسي ولاړی، کورته یې راوسته. خلګو یې د خاوند سره اړیکي ختمي کړې، یو مولوي صاحب راغلی او وې فرمایل چي دا ګناه په توبه معافیږي او تښتېدلې ښځه که په کال کي دننه خاوند ته راشي نو څه پروا نلري، توبه یې صرف په ښځه و ایستله او مور ته د لارو ورلو او رواج کولو ډېر تأکید وکړی، په داسي صورت کي شرعًا څه حکم دی؟

(۱۳۳۸/۱۴۲۴هـ)

ځواب: دا خبره صحیح ده چي د ښځي په تښتېدو یا زنا کولو د لومړي خاوند نکاح نه ده ماته شوې، لومړی خاوند دا د ځان سره ساتلی شي او د کال قید پکي هم نشته، د ده هیڅ قصور نه دی، توبه صرف د ښځي بس ده، نو له خاوند ځخه یې اړیکي مه ختموئ فقط

د بنګي سره ناروا اړیکي ساتونکي ښځي او د هغې د مور او پلار حکم

سؤال: (۸۴۳) د یوې ښځي د بنګي سره ناروا اړیکي پیدا شوې، مور او پلار ډېر ورته وویل خو دا منع نه شوه، خاوند هم نکړه طلاقه، اوس هغه بنګي مسلمان شو له مسلمان کېدو وروسته له همدغه بنګي ځخه یوه لور پیدا شوه، دري کاله کیږي، له اصل خاوند ځخه جلا ده، په دغه موده کي د دې هستوګنه خوراک او څښاک ټول یو ځای د مور او پلار سره ؤ،

د کورنۍ معامله هم ورسره دا غه ډول وه، د داسي خلکو په هکله شرعًا څه حکم دی؟ و ښځي ته څه سزا ورکړو؟ او د دې او د دې د مور او پلار سره څه رویه وکړو؟
(۱۳۴۵-۴۴/۸۵۴ھ)

ځواب: د داسي خلکو سره اړیکي ساتل ناروا دي، په ښځه او دغه نوي مسلمان توبه وباسي او له الله څخه معافي په وغواړئ، له توبې استغفار او نومورې نوي مسلمان څخه له بیلولو وروسته دا و لومړي خاوند ته وسپاري، یا یې په ده طلاقه کړي، له دعدې تیرېدو وروسته و نوي مسلمان ته ورپه نکاح کړئ فقط

د بنګي سره تښتېدونکي ښځي د بچیانو نکاح په کورنۍ کي څنګه ده؟

سوال: (۸۴۴) د زید ښځه هنده د یو بنګي سره وتښتېده، پنځه شپږ میاشتي یې ورسره تیري کړې، له دغه بنګي څخه د هندې یوه لور وشوه، بیا زید هنده راوستله، د ده څخه یې یو بچی دی، د دغه بچیانو ودونه په کورنۍ کي کول صحیح دي او کنه؟ د دوی په کور کي خوراک او څښاک صحیح دی او کنه؟ (۱۳۴۲/۱۵۳۸ھ)

ځواب: د زید ښځي که توبه ایستلې ده او پر اسلام قایمه ده نو د زید بچیان چي له دې څخه شوي دي، د هغو ودونه په کورنۍ کي کول صحیح دي او له توبې وروسته د دوی د کور ډوډۍ او اوبه جائز دي فقط

له توبې وروسته د بنګي سره تښتېدونکې ښځه او د هغې خاوند په کورنۍ ګډول

سوال: (۸۴۵) یو واده شوې ښځه د بنګي سره وتښتېده، څه موده وروسته بیرته راغله، جرګې سزا هم ورکړه، د ایمان او نکاح تجدید یې هم وشو لیکن د وطن مسلمانان د دې خاوند په کورنۍ کي نه شریکوي شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۴۵/۱۰۵۵ھ)

ځواب: په دغه صورت کي د دې خاوند په کورنۍ کي شاملول پکار دي د شریعت حکم همدا دی(۱) فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) عن عبد الله بن مسعود رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: التائب من الذنب کمن لا ذنب له (مشکوة ص: ۲۰۶، باب الاستغفار و التوبة، الفصل الثالث)

له کورنۍ څخه جلا کړی که توبې ایستلو ته آماده وي نو...

سوال: (۸۴۶) زید د خپل کاکا د لور سره زنا وکړه، کورنۍ د ده سزا شل کاله اینبې ده، تر شلو کلونو پورې به له کورنۍ جلا وي، اوس دی دې ته آماده دی چې نصوحاتو به وباسي نو شرعًا څه حکم دی؟ (۴۹۳/۴۴-۱۳۴۵ھ)

ځواب: کله چې دی توبه وباسي نو توبه يې قبوله ده، په کورنۍ کې شامله کړئ(۱)

د اکا د زوی ښځه تښتونکي او کفارو ته سپارونکي حکم

سوال: (۸۴۷) يو سړي د خپل اکا د زوی ښځه وتښتوله، کافرانو ته يې وسپارله، هغه هم کافره شوه، د داسي سړي په هکله شرعًا څه حکم دی؟ (۸۱۲/۱۳۴۳ھ)

ځواب: دا سړی سخت ګنهکار ظالم او فاسق دی، مسلمانان دي له ده څخه اړيکي ختمي کړي فقط و الله تعالى اعلم

د زاني او د هغه د حمايت کونکيو حکم

سوال: (۸۴۸) يو سړي د يوې اجنبي ښځي سره زنا وکړه، ښځه حامله شوه، دوه زامن يې پيدا شول، وروسته څو کسانو و دغه سړي ته وويل چې د دې سره نکاح وکړه کني مونږ سا سره خوراک، څښاک نه کؤ، د زاني د ډلي خلکو وويل چې ترڅو د زنا په وسيله دريم هلک نشي پيدا تر هغو توبه نه باسو او نکاح نه ورترو، اوس مونږ د دغه زاني سره خوراک، څښاک بند کړو او کنه؟ او د زاني خلک په دغه خبرو ګنهکار شول او کنه؟ او په دا ډول خبرو سړی

(۱) عن عبد الله بن مسعود رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: التائب من الذنب كمن لا ذنب له رواه ابن ماجة (مشكوة المصابيح، ص: ۲۰۶، كتاب أسماء الله تعالى، باب الاستغفار و التوبة)

کافر کیږي هم او کنه؟ (۱۳۴۵/۲۴۰۲هـ)

ځواب: ترڅو چي دی توبه و نه باسي، د ده سره خوراک او څښاک مه کوئ او د دغه زاني د ډلي خلګ او د ده همکاران ټول ګنهکاران او فاسقان دي. په دې کي د کفر خطر دی، و العیاذ بالله تعالی. فقط

و بد چلنده ښځي ته طلاق نه ورکونکی له کورنۍ ایستل

سوال: (۸۴۹) یوه ښځه د خپل خاوند نافرمانه ده، کورنۍ دا له خاندانه و ایستله. د دې خاوند د دې سره خوراک، څښاک نه کوي و طلاق ورکولو ته آماده دی مګر په څو وجهو وایي چي څو ورځي صبر وکړئ نو چاته چي خاوند ځي راځي هغه هم له کورنۍ ایستل جائز دي؟ (۱۳۴۷-۴۲/۳۱۴۳هـ)

ځواب: کومه ښځه چي بد چلنده یا نافرمانه وي. و هغې ته طلاق ورکول د خاوند لپاره ضروري نه دی، لهذا د طلاق نه ورکولو په وجه خاوند او دغه خلګ له کورنۍ ایستل جائز نه دي، اما پر خاوند لازم او ضروري دي چي خپله ښځه منع کړي.

د باطلو ډلو سره ناسته ولاړه او خوراک. څښاک کول

سوال: (۸۵۰) آیا د اسلامي فرقو پخپل منځ کي خوراک څښاک حلال دی او د دوی ناسته ولاړه سره جائز ده؟ (۱۳۴۰/۱۹۳۵هـ)

ځواب: له اهل سنت و الجماعت څخه پرته نوري ډلي لکه روافض، خوارج، معتزله، مرزائیه، اهل قرآن او نور له اهل هوا څخه دي او په حدیث شریف کي د دغه باطلو فرقو په هکله: "کلهم فی النار إلا ملة واحدة" الحدیث او کما قال صلی الله علیه وسلم راغلی دی(۱) یعني له اهل سنت و الجماعت څخه پرته د اهل هوا ټولي فرقې ناري دي او ترک د مواکلت، مشاربت،

---

(۱) عن عبد الله بن عمرو قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ... و إن بنی اسرائیل تفرقت علی ثنتین و سبعین ملة و تفترق أمتی علی ثلاث و سبعین ملة کلهم فی النار إلا ملة واحدة، قالوا: من هی یا رسول الله؟ قال: ما أنا علیه و أصحابی (جامع الترمذی: ۹۳/۲، أبواب الإیمان عن رسول الله صلی الله علیه وسلم باب افتراق هذه الأمة)

مجالست، مناکحت او نورو له دغه باطلو فرقو څخه په حدیث شریف کي راغلي دي(۱) نو د داسي خلکو سره اړیکي ساتل او بې له ضرورته ورسره خوراک څښاک کول صحیح نه دي.

د لاهوري جماعت کوم کس صدر جوړول

سوال: (۸۵۱) زید سني په یو قادیاني امام پسي د یو داسي چا د جنازې لمونځ وکړی چي د مرزائي په رنګه دی لیکن د مرزا د نبوت منونکي نه دي یعني د لاهوري جماعت معتقد دی، شرعًا داسي سړي سره باید څنګه رویه وشي، صدر جوړول د ده څنګه دي؟ (۱۴۷۳/۱۳۳۹هـ)

ځواب: داسي فاسق او بدعتي سړی د صدر او مقتدا جوړولو وړ نه دی مګر هغه وخت چي له خپل دغه ناوړه عمل څخه توبه وباسي. فقط

وانګریزانو ته د خنزیر غوښه پخونکي اشپز حکم

سوال: (۸۵۲) یو مسلمان چي روژه خور او بې لمانځه دی د انګریزانو اشپز دی، د خنزیر غوښه ورپخوي، مسلمانان باید د ده سره څه وکړي؟ (۱۲۷۵/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: که دی دا عمل نه پریږدي نو مسلمانان دي بیلتون ځني اختیار کړي. فقط

د خنزیرانو د ټېکي اخیستونکي حکم

سوال: (۸۵۳) یو سړی د خنزیرانو او نورو ټېکه اخلي، خپلوان ځني ناراض شول

---

(۱) عن ابن عمر رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: القدریة مجوس هذه الأمــة، إن مرضوا فلا تعودوهم و إن ماتوا فلا تشهدوهم.

و عن عمر رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لا تجالسوا أهل القــدر و لا تفــاتحوهم (مشکوة المصابیح: ص: ۲۲، کتاب الإیمان، باب الإیمان بالقدر)

چي دا کار ښه نه دی، څکه ورسره اړیکي قطع کړې، ده توبه و ایسته نو دوی روغه ورسره وکړه، اوس ده بیا د خنزیرانو ټیکه اخیستل شروع کړي دي. اوس ورسره اړیکي ساتل څنګه دي؟ (۱۳۳۵/۵۸۰هـ)

ځواب: کله چي ده بیا دغه خبیثه پېشه شروع کړې ده نو بیا ورسره اړیکي قطع کړي چي له اهل معصیت څخه متارکت جائز بلکه ضروري دی، قال الله تعالی: "فلا تقعد بعد الذکری مع القوم الظالمین" (سورة انعام، ایت: ٦٨) فقط

د نشه یي موادو ټیکه دار مقتدا جوړول

سوال: (۸۵۴) زید نژدې د ټولو نشه یي موادو لکه تاریاق، چرس او نورو ټیکه دار تاجر دی، داسي شخص مقتدا جوړول جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۲/۱۲۱۴هـ)

ځواب: داسي سړی د مقتدا جوړولو وړ نه دی، ښکاره خبره ده چي کوم سړی بې لاري وي، هغه بل څه پر لار کولای شي؟ به قول شخصې او *خویشتن گم است کرا رهبری کند*؟ (له هغه پخپله لار ورکه ده بل ته به څه لار وښیي؟)

د شراب او خنزیر خرڅونکي حکم

سوال: (۸۵۵) د شراب او خنزیر خرڅونکي په هکله شرعًا څه حکمونه دي؟ مسلمان د ده سره خوراک، څښاک کولای شي او کنه؟ او په لمونځونو کي دی امام جوړولای شي او کنه؟ او میلاد ویلای شي او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۷۲۷هـ)

ځواب: د شراب او خنزیر خرڅونکي فاسق او ګنهکار دی، د ده سره اړیکي قطع کړي، د داسي چا امام جوړول صحیح نه دي، لمونځ پسي مکروه دی، او میلاد په ویل هم صحیح نه دي، که توبه وباسي نو ټول (اړیکي) جائز دي.

د شرابي سره خوراک، څښاک مه کوئ

سوال: (۸۵۶) عمر پنځه وخته لمونځ کوي اوزید کلمه وایي، قرآن شریف یې ویلی دی، اما بې لمانځه او روژه خور دی، کله نا کله یې کوي، د خالد دا اعتراض دی چي د زید سره

چي شرابي، بې لمانځه او روژه خور دی، خوراک، څښاک صحیح نه دی، عمر وايي چي زید شرابي دی خوزما مخته يې نه څښي، عمر باید څه وکړي؟ (۱۳۳۸/۱۷۴۸هـ)

ځواب: کله چي عمر په دې خبر دی چي زید شرابي دی، که څه هم د عمر و مخته يې نه څښي نو په داسي صورت کي باید د ده سره له خوراک، څښاک او ناستي ولاړي کولو څخه پرهیز وکړي، کما قال الله تعالی: "و لا ترکنوا إلی الذین ظلموا فتمسکم النار" الآیة (سورة هود، آیت: ۱۱۳)

کوم بې لمانځه چي په روژه کي هم تر روژه مات وروسته شراب څښي د هغه حکم

سوال: (۸۵۷) د شرابي سره ناسته ولاړه کول څنګه دي؟ او د شرابي څه حکم دی؟ (۱۳۴۰/۲۵۴۵هـ)

ځواب: شرابي هم فاسق دی، د داسي خلکو سره ناسته ولاړه مه کوئ اما دوی ته کافران نه دي ویل پکار چي "الکفر شئ عظیم" (۱) او په نرمي سره دوی ته نصیحت کوئ، کما قال الله تعالی: "ادع إلی سبیل ربک بالحکمة و الموعظة الحسنة" (سورة نحل، آیت: ۲۵) فقط

سوال: (۸۵۸) زید زیاتره شراب څښي په تېره بیا په روژه کي تر روژه مات وروسته يې هم خوري، او لمونځ هم نه کوي، صرف د اختر د ورځي لمونځ کوي، د داسي سړي څخه باید مسلمانان اړیکي قطع کړي او کنه؟ او څوک چي له ده څخه اړیکي نه قطع کوي بلکه د ده نوره مرسته کوي، د هغو په هلکه شرعي حکم څه دی؟ (۱۳۴۵-۴۴/۸۷۷هـ)

ځواب: تهدیدًا له ده څخه اړیکي قطع کول ضروري دي او د ده همکاران ګنهکاران او ظالمان دي، توبه دي وباسي. فقط

له توبې وروسته د شراب څښونکي مسلمان حکم

سوال: (۸۵۹) یو سړي شراب، څښل او بیا يې په عامه د خلکو مخته توبه وایستله له توبې وروسته بیا هغسي

---

(۱) رد المحتار ۳/۳۱۲ کتاب الجهاد، باب المرتد، مطلب: ما یشک أنه ردة لا یحکم بها. ط رشیدیه

شراب څښي، پر مسلمانانو باندي سخت اثر دی، مسلمانان باید د داسي سړي سره څه وکړي او څوک چي اړیکي ورسره ساتي، هغه څنګه دی؟ او مالي جرمانه لګول شرعًا څه حکم لري؟ (۲۲۰۰/۱۳۳۸هـ)

ځواب: دی بیا پوه کړئ او توبه په وباسئ، ځکه چي الله پاک د بندګانو توبې قبلوي، که څه هم څو، څو واره دی توبه ماته کړي، قال الله تعالی: "و هو الذي يقبل التوبة عن عباده و يعفو عن السيات" (سورة شوری: آیت: ۲۵)

بازآ بازآ ازآنچه کردی بازآ — ایں درگاه مادرگاه نه آمیدی نیست

صد بار گر توبه شکستی بازآ(۱)

د ده سره په اړیکي قطع کولو کي نفع نشته، نفع په دې کي ده چي په ده توبه وباسي او که بیا دی توبه ماته کړي بیا توبه په وباسي او مالي جرمانه لګول صحیح نه دي، داسي مه کوئ(۲)

څوک چي د شرابو تېکه نه پرېږدي

سوال: (۸۲۰) کوم مسلمانان چي د شرابو تېکه اخلي که هغه د قرآن او حدیثو په رڼا کي د شرابو خرڅولو په حرمت پوه کړل او د موجوده حالاتو په اعتبار هم هر ډول د شرابو ناوړتیا ورته بیان شي خو بیا دغه تېکه داران خپل عمل نه پرېږدي

---

(۱) منع شه، منع شه هره ګناه چي تا کړې ده، له هغې څخه منع شه، دا زموږ درګاه د نا امیدۍ درګاه نه ده، سل واره دي هم که توبهٔ ماته کړې ده بیا هم منع شه

(۲) قوله: (و فيه إلخ) أی فی البحر حيث قال: و أفاد فی البزازية: أن معنی التعزير بأخذ المال علی القول به إمساک شئ من ماله عنده مدة لينزجر ثم يعيده الحاکم إليه، لا أن يأخذه الحاکم لنفسه أو لبيت المال، کما يتوهمه الظلمة، إذ لا يجوز لأحد من المسلمين أخذ مال أحد بغير سبب شرعی(رد المحتار۱۹۵/۳ کتاب الحدود، باب التعزير، مطلب فی التعزير بأخذ المال. ط رشيديه)

او د الله رب العزت په احکامو پوري ټوکي کوي او نه يې مني، په داسي حال کي عام مسلمانان بايد د دوی سره څه وکړي؟ (۱۳۳۹/۱۴۰۴هـ)

ځواب: دا خلک فاسقان او بې حيا دي، د دوی سره بايد مسلمانان متارکت وکړي او د دوی سره هيڅ ډول اړيکي نه دي ساتل پکار، ترڅو چي دوی توبه ونه باسي. فقط

د خرما نشه لرونکي اوبه څښونکي او ږيره خريونکي سره اړيکي ساتل

سوال: (۸۲۱) کوم مسلمان چي د خرما اوبه څښي، بې لمانځه وي او ږيره خريي د هغه سره اړيکي ساتل څنګه دي؟ (۱۳۳۹/۱۱۰۴هـ)

ځواب: د خرما په اوبو کي چي ترڅو نشه نه وي راغلې مثلاً تازه وي نو تر هغو يې څښل جائز دي او کله چي نشه پکي پيدا شي بيا د ټولو مسکراتو په رنګه څښل حرام دي او د ږيري خريل حرام دي، داسي سړی فاسق دی اړيکي ورسره ساتل ښه نه دي.

و شرابو ته روا ويونکي سره اړيکي ساتل څنګه دي؟

سوال: (۸۲۲) يو سړی وايي چي شراب څښل په هر مذهب کي د هر چا لپاره جائز دي او د مسلمانی دعوی مسئلې هم بيانوي، د داسي سړي سره تعلق ساتل څنګه دی؟ او د در مختار او شرح الوقايه په حواله بيان کوي. (۱۳۳۵/۹۴۳هـ)

ځواب: دا سړی افتراء کونکی دروغجن او فاسق دی، هيڅکله د ده په خبرو باور مه کوئ او مه له ده څخه خه وريء د ده سره له ناستي کولو څخه يو مخ پرهيز وکړئ، دی مفسد او مفتري دی، د کتابونو حوالې غلطي ورکوي، مسلمانان بايد يو مخ بيلتون څني اختيار کړي. فقط

له رشوت خور ورور څخه اړيکي قطع کول

سوال: (۸۲۳) ... (الف) داسي سکه ورور چي په پوليس کي مأمور وي، رشوت اخلي، درشوت په روپيو ځمکه په ګرو واخلي، د هغه حاصل خوري او چي منع کړي نو خبره نه مني، د ده څخه اړيکي قطع کول

جائز دي او کنه؟

(ب) آیا داسي تعلق قطع کونکی به قاطع الرحم وي؟ (۱۹۹۸/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: (الف) لومړی یې پوه کړئ، که یې و نه مني نو متارکت ورځخه صحیح دی لیکن که په دې وجه چې زور د چا سره نشي کېدلای، پر پوهولو بسنه وشي او متارکت ځني ونکړل شي په تېره بیا چې په متارکت کي د فتنې خوف وي نو په دې کي هم غاړي نه بندیږي.

(ب) قاطع رحم(رشته ماتونکی) به نه وي.

د قادیاني د مسلمان زوی په واده کي شرکت کول

سوال: (۸۲۴) یو سړی قادیاني دی او شپه او ورځ د قادیانیت د خپروني په فکر کي وي، خپل دوه زامن یې هم پخپل فکر ورشریک کړي دي، اوس د ده دریم زوی چې تر اوسه لا د مرزائیانو عقیده نه ده پر ښکاره شوې پخپله کورنۍ کي چې د مرزائیانو عقیده نلري واده دی، لهذا مسلمانان باید په دغه واده کي برخه واخلي او کنه؟ (۱۳۳۵/۲۳۷هـ)

ځواب: کوم هلک چې سني دی او واده یې په اهل سنت کي دی، د هغه په واده کي د مسلمانانو برخه اخیستل صحیح دي. فقط

سوال: (۸۲۵) دوه وروڼه چې مذهبًا سنیان دي، پلار یې خو ورځي کیږي چې مرزائي شوی دی چې د دوی سره هستوګنه کوي، په دوی کي د یو ورور واده د سنیانو کره کیږي، د ده په واده کي برخه اخیستل څنګه دي؟ (۱۳۳۵/۲۷۸هـ)

ځواب: د سني المذهب په واده کي شرکت او د ده د کور ډوډۍ خوړل صحیح دي. فقط

له مسلمان څخه ترک موالات کول

سوال: (۸۲۶) له کافر څخه ترک موالات جائز دی مګر له مسلمان څخه ترک د موالات کولای شو او کنه؟ (۱۳۷۴/۱۳۳۹هـ)

ځواب: د کفر او فسق په وجه ترک د موالات وي او په دې کي تفصيل او درجات وي

د اسلام و تبليغ ته خنډ خلګو څخه تعلق قطع کول

سوال: (۸۲۷) يو سړي خلګو ته د اسلام تبليغ کوی، يو بنګي ته الله هدايت وکړی، د دغه سړي په نصيحت مسلمان شو مګر خو مسلمانان دغه نوي مسلمان او تبليغ کونکي ته تکليف رسوي، ترڅو نوی مسلمان بيا مرتد شي او تبليغ کونکی آينده د اسلام تبليغ پريږدي، لهذا داسي خلګ چي ودې کار ته خنډ وي، د دې وړ دي چي د مسلمانانو په قبرستان کي له ښخولو او مسجد ته له راتلو څخه منع شي او له دوی څخه متارکت وکړو؟ (۳۲/۲۱۲۵-۱۳۳۳هـ)

ځواب: کوم خلګ چي د اسلام و تبليغ ته خنډ دي او نوي مسلمان او د اسلام تبليغ کونکي ته تکليف رسوي، هغه ګنهکار، فاسقان او فاجران دي، ترڅو چي دوی له خپل دغه عمله توبه و نه باسي او منع نشي، د دوی سره هيڅ ډول اړيکي مه ساتئ، نور نو د مسجد له راتګ او په قبرستان کي له ښخولو يې مه منع کوئ، له دې پرته نوري اړيکي ورسره مه ساتئ. فقط

د رسول او د رسول د بي بي ګانو له ګستاخ څخه ناسته ختمول

سوال: (۸۲۸) يو مولوي په نامه زيد او څو مسلمانان د ده سره د يو پادري کره ورځي ناسته ولاړه ورسره کوي او د ده په کور کي خوراک او نور کوي او په خبرو خبرو کي تر دې ځايه سره ورسي چي هغه پادري د نبي عليه الصلاة و السلام بي بي عائشه رضی الله عنها او بي بي زينب رضی الله عنها سپکاوی او ګستاخي کوي، نورو مسلمانانو چي کله زيد منع کړی نو ده په جواب کي ورته وويل چي زموږ په ايمان کي هيڅ فرق نه راځي، که فرق راځي نو موږ ته قرآن او حديث راښکاره کړئ، آيا داسي کول ګناه ده که څنګه؟ (۱۳۳۵/۱۵۲۲هـ)

ځواب: په قرآن شريف کي څو ځايه ارشاد دی چي کوم څوک په دين او اسلام پوري توکي کوي او بد پسي وايي، د هغو سره مه کښېنئ، له هغو څخه بېلتون اختيار کړئ، قال الله تعالی: "فلا تقعد بعد الذکری مع القوم الظالمين" (سورة انعام، آيت: ٦٨) و قال الله تعالی: "و لا ترکنوا الی الذين ظلموا

فتمسکم النار" الآية (سورة هــود، آيــت: ۱۱۳) نو په دغه معامله کي زيد خطا دی، هیڅکله دا جائز نه دي چي داسي ځای کښيني، چيري چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحابه کرامو او د نبي علیه الصلاة و السلام د بي بي ګانو رضوان الله علیهم اجمعين توهين او سپکاوی وي، دا سخته ګناه او فسق دی، توبهٔ دي وباسي او آئنده دي داسي ځای نه کښيني او کوم مسلمانان چي هلته کښيني، هغه دي هم له هغه ځايه پرهېـــز وکــړي او د زيــد پـــه خبــره دي بــاور نـــه کـــوي، دی خـــو د شـــرعي حکم مخالفت کوي. فقط

وآل نبي او صحابه ته له بد او رد ويونکي څخه اړيکي قطع کول ضروري دي

سوال: (۸۶۹) کوم مسلمان چي د نبي و آل تـه ښکنځل کوي لکه چي خوارج يې کوي، داغه ډول و صحابه ته ښکنځاوي کوي لکه چي روافض يې کوي، د داسي سړي سره مسلمانان بايد اړيکي او هر ډول همکاري وکړي او کنه؟ او په ده پسي د لمونځ کولو څه حکم دی؟ (۱۳۴۸/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: د داسي سړي اقتداء ناروا ده، ټول مسلمانان بايد د ده څخه اړيکي قطع کـړي، دی د مســلمانانو د هــيڅ همکــاري وړ نــه دی، د ده مرسـته کـونکي مسـلمانان ګنهکار دي، قال الله تعالی: "و تعاونوا علی البر و التقوی و لا تعانوا علـــی الاثم و العـــدوان" الآية (سورة مائده، آيت: ۲) و قال الله تعالی: "فلا تقعد بعد الذکری مع القوم الظالمين" الآيـــة (سورة انعام، آيت: ٦٨) فقط

وعلماء ته ښکنځل کونکي بدعتي سره اړيکي ساتل

سوال: (۸۷۰) کـوم سړی چي علمـاء تـه ښـکنځل کـوي او بـدعتي وي، د هغـه سره مواکلت او مجالست څنګه دی؟ او د ده نکاح ماته ده او کنه؟ (۱۳۳۷/۱۲۵۱هـ)

ځواب: داسي سړی چي علماء ته ښکنځل کوي او بدعات کوي فاسق او مبتدع دی مواکلـــت او مشــــاربت د داســــي خلکــــو ســــره روا نــــه دی او کلـــه چـــي د مســـلمان پـــه تکفيـــر کـــي تـــام احتيـــاط لازم دی،

ځکه د ده د ارتداد او د نکاح ماتېدو حکم مه کوئ.

پر جمعیة العلماء سندھ باندي ناروا عارضه کونکي حکم

سوال: (۸۷۱) یو سړي پر جمعیة العلماء سندھ باندي په حکومت کي عارضه کړې ده چي دا خلک د حکومت په خلاف تحریک چلوي، د داسي سړي سره اړیکي ساتل شرعًا څنګه دي؟ (۱۸۴/۱۳۴۰هـ)

ځواب: له داسي شخص څخه مقاطعه شرعًا لازمه ده. فقط

د مسلمانانو پر جماعت غلط الزام لګونکي حکم

سوال: (۸۷۲) که مسلمانان چیري یو جماعت جوړ کړي او په جماعت کي ورشریک کوم مسلمان پر جماعت او د جماعت پر غړیو غلط او فرضي الزامونه ولګوي، مخالف شي نو تنبیهًا له ده څخه اړیکي قطع کولای شو او کنه؟ (۱۸۳۱/۱۳۴۳هـ)

ځواب: په داسي خبرو کي مساهلت او مسامحت کول پکار دی، کوم خلک چي شرکت کونکي دي، د هغو په ملګري د جماعت کارونه کوي او کوم خلک چي شرکت نه کوي په هغو کار مه لرئ او د هغو تفسیق او تضلیل مه کوئ او د دوی په هکله فتواوي مه لیکئ، په دې سره نور هم د اختلاف بنیاد مستحکم کیږي، د کومو خلکو چي د کوم د خیر د کار توفیق وي هغه دي کوي او څوک چي شرکت نه کوي، هغه مه ملامتوئ، کما ورد: الدین یسر(۱) و قال الله تعالی: "و ما جعل علیکم فی الدین من حرج" (سورة مائده، آیت: ۶) فقط

(۱)عن أبي هریرة رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: إن الدین یسر الحدیث(صحیح البخاری: ۱۰/۱، کتاب الإیمان، باب الدین یسر الخ)

د خلافت مخالفت کونکي یا د مخالفت کونکیو مرسته کونکي حکم

سوال: (۸۷۳) د خلافت مخالفت کول یا د مخالفت کونکیو مرسته کول یا د خلافت په اجماع کي اختلاف پیدا کول شرعًا څنګه دي؟ (۱۳۴۰/۲۲۹هـ)

ځواب: د شریعت په رڼا کي د خلافت مخالفت کونکي او د مخالفینو مرسته او همکاري کونکي او د اسلام د دښمنانو ملاتړ کونکي سخت ظالمان او فاسقان دي، او د آیت: "و لا تعاونوا علی البر و التقوی و لا تعاونوا علی الإثم و العدوان" الآیة (سورة مائده، آیت: ۲) مخالفین دي او له داسي حکومت څخه تعلق قطع کول چي د اسلام او اسلامي حق خلافت په ختمولو کي هیڅ کمي نه وي کړې، قطع تعلق او ترک د موالات کول فرض او ضروري دی. فقط

د امن سبوتاژ ونکی جزئی

د امن سبها ړلي غړي او د نصارى په ښادي کي برخه اخیستونکي حکم

سوال: (۸۷۴) کوم سړی چي د شریعت پابند نه وي او د امن سبها ړلي غړی دی او د نصارى په ښادي کي برخه اخلي نو د آیت: "و من یتولهم منکم فإنه منهم" (سورة مائده، آیت: ۵۱) په حکم له ده څخه یو ړول مرسته اخیستل جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۰/۱۰۳۷هـ)

ځواب: دا سړی د آیت: "و من یتولهم منکم فإنه منهم" (سورة مائده، آیت: ۵۱) په حکم فاسق او ظالم دی، له ده څخه متارکت او مقاطعت لازم دی او ترڅو چي دی توبه و نه باسي، تر هغو ورسره اړیکي ساتل صحیح نه دي.

د اسلام مخالف حکم

سوال: (۸۷۵) یو سړی په یوه دعوی کي د اولسوال و مختته د ګواهي ورکولو پر مهال د ډیرو خلکو

په مخکې د ډیرو سوالونو له جوابونو پرته د لاندې سوالونو جوابونه هم ورکړو:

ته سني یې؟ جواب: هو

پر خلافت ستا ایمان دی؟ جواب: نه

ته د روم سلطان خلیفة المسلمین نه منې؟ جواب: هو، نه منم

د داسې سړي په هکله څه حکم دی؟(۱۳۳۹/۱۹۲۱هـ)

ځواب: د داسې سړي حال ښکاره دی و څه پوښتنې ته ضرورت نشته، دا سړی د اسلام مخالف او ډیر بې دینه او فاسق دی، مسلمانان باید اړیکې ورځخه قطع کړي، إلا أن یتوب و یرجع إلی الحق فقط

د زکوة نه ادا کونکي سره اړیکې ساتل

سوال: (۸۷۶) کوم د نصاب مالک چې سره د اسراف کولو زکوة نه ادا کوي د هغه سره اړیکې ساتل جائز دي او کنه؟(۱۹۲۰/۱۳۴۰هـ)

ځواب: په جواز کې هیڅ خبره نشته، اما له داسې ګناه کونکي او فاسقانو څخه بیلتون ښه دی، که کومه فتنه نه وي

د سود خور او زکوة نه ادا کونکي سره اړیکې مه ساتئ

سوال: (۸۷۷) زید سود خور دی، د غیبت عادي دی، مسلمانان سره جنګوي، سره د دې چې د نصاب مالک دی، زکوة نه ادا کوي، علماء ته دوکه ورکوي، غلطه استفتاء کوي نور او نور د داسې سړي سره اړیکې ساتل صحیح دي او کنه؟(۱۳۴۲/۱۷۱۹هـ)

ځواب: داسې سړی ظالم او فاسق دی، اړیکې ورسره ساتل صحیح نه دي فقط

د سلفیانو سره اړیکې مه ساتئ

سوال: (۸۷۸) زموږ په ځای کې اووه کسان اهل حدیث(سلفیان) شول،

سږ کال د اهل حدیثو د ډلي یو سړی د قومندان صاحب مخته دا دستخط وکړی چي موږ به قرباني په یوه ورځ کؤ چي له امله دوې ورځي قرباني بنده شوه. د داسي خلګو سره اړیکي ساتل څنګه دي؟ (۱۳۳۹/۲۲۸هـ)

ځواب: د نن صبا سلفیان چي د دوی کار بس و سلف مقلدین علماء ته بښکنځل کول او بد و رد ویل دي او تقلید شرک بولي، داسي خلګ فاسقان دي، حنفیان باید د دوی سره ناسته ولاړه ونکړي او دغه د دوی د دوو ورځو قرباني بندول ناوړه عمل او ګناه ده، په دې کي مرسته کول هم ګناه ده.

د اهل سنت علماء څخه کرکه کول او د سلفیانو سره اړیکي ساتل

سوال: (۸۷۹) د اهل حق، حنفي مذهب او اهل سنت و الجماعت علماء سره حسد، بغض او کرکه کول او د سلفیانو سره اړیکي ساتل څنګه دي؟ (۱۴۲۲/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: بد دي او کبیره ګناه ده، توبه دي وباسي او د اهل حق سره دي حسد، بغض او کرکه نه کوي، دا ناوړه اعمال خو د عامو مسلمانانو سره کول هم بد دي، په تېره بیا د اهل حق علماء سره زیات قبیح او ګناه ده. فقط

د سلفي وعظ اورېدل

سوال: (۸۸۰) د سلفي وعظ اورېدل څنګه دی؟ (۱۳۴۲/۲۲۹۰هـ)

ځواب: په دې کي احتیاط مناسب دی، ځکه چي سلفیان خامخا یو خبره داسي کوي چي د اهل سنت و الجماعت د مسلک خلاف وي. فقط

د اسلامي شعار (غوا حلالولو) د بندولو کوشش کونکي څخه تعلق قطع کول

سوال: (۸۸۱) زید چي حافظ او حاجي دی، سږ کال په اختر کي ده

کوشش وکړی هندوان یې د دې خبرې ته آماده کول وغوښت چې دوی د غوا قرباني بنده کړي او که کومه فتنه جوړه شوه نو موږ ستاسو ملګري یو، هندوانو په جواب کې ورته وویل چې دلته قرباني له همېشه څخه کېږي، مسلمانان دې پخپلو خپلو کورونو کې مذهبي فرائض ادا کړي، موږ ورته خنډ نه جوړېږو، پر دې خبرو مسلمانانو له زید څخه اړیکې قطع کړې، ځکه چې زید د مسلمانانو په یو غټ مصیبت کې اچولو کوښښ وکړی، په دې صورت کې کومو مسلمانانو چې له زید څخه اړیکې قطع کړې دي، د هغو څه حکم دی او د زید په هکله څه حکم دی؟(۱۳۳۲-۳۵/۳۳۰ھ)

ځواب: زید چې څه وکړو، بد یې وکړو، د افسوس خبره ده چې یو مسلمان د اسلامي مذهبي شعار ختمولو کوشش کوي، مګر الحمد لله په دغه کوشش کومه فتنه نه شوه پیدا، داسې سړی که آئنده خپل خیال او اراده نه پرېږدي نو ښېکه د نفرت او متارکت وړ دی لیکن که دی په آئنده کې داسې نه کوي او توبه وباسي نو متارکت او نفرت ورسره مه کوئ او نورو مسلمانانو چې د زید سره پر دغه عمل باندې کومه د متارکت او منافرت معامله کړې ده، په دې کې هغه پر حق دی او عند الله مأجور دی، إنما الأعمال بالنيات و لكل امرئ ما نوى(۱) فقط

سوال: (۸۸۲) جګرانوان د مسلمانانو یو کلی دی، لس دوولس کوره د هندوانو د دکاندارۍ په توګه پکې آباد دي، دلته یو موچي کله ناکله غوا حلالوي خو هندوانو و ښاروال ته چې هندو دی، عارضه وربانديې وکړه، ښاروال د څو مسلمانانو ګوتې د موچي په خلاف ولګولې، کومو مسلمانانو چې د غوا حلالولو د عمل پر خلاف ګوتې ولګولې، د هغو په اړه شرعًا څه حکم دی؟(۱۳۴۷-۴۲/۳۴۱۷ھ)

ځواب: کومو خلکو چې د غوا حلالولو په وجه د موچي خلاف ګوتې ولګولې، هغه فاسقان او ګنهکار دي، پر دوی لازم دي چې د نوموړي موچي ملګری وکړي او هیڅ کار د ده په خلاف ونکړي، مولانا عبد الحی لکهنوي رحمه الله په مجموعة الفتاوی دوهم ټوک کې لیکي: څوک چې د غوا تعظیم کوي نه یې حلالوي یا د دې حلالول بد بولي، د هغه په اسلام کې نقص دی او د فتنې پیدا کولو په قصد

---

(۱) صحيح البخاری: ۲/۱، باب كيف كان بدؤ الوحي إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم.

غوا مه حلالوی(۱) او دا هم په "مجموعة الفتاوی" کي لیکلي دي. که هندوان خنډ شي او د مذهبي تعصب په نظر منع وکړي نو د مسلمانانو لپاره منع کېدل صحیح نه دي بلکه هر وخت چي هندوان د یو قدیم شرعي کار د باطللو کوشش وکړي پر مسلمانانو واجب دي چي د داسي کار په بقاء او اجرا کولو کي سعی وکړي، که د هندوانو په وینا دا فعل پرېږدي نو ګنهکارېږي الخ(۲) فقط

سوال: (۸۸۳) که کفارو مسلمانان سره د خپلو کورونو سوځلي وي. ترڅو مسلمانان قرباني ونکړي، که پاچا و کفارو ته سزا ورکول غواړي او مدعی وي، څو څیني مسلمانان په ښکاره د مسلمانانو په خلاف شهادت ورکړي او مخالفت وکړي او دروغ ووایي، د داسي خلګو په هکله شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۳۷/۲۱۴۹هـ)

ځواب: داسي خلګ سخت فاسقان، ګنهکار او د اسلام دښمنان دي، د دوی په ایمان کي شک دی، الله دي هدایت ورته وکړي، دا ګناه ډېره سخته ګناه ده او د داسي خلګو پر حال سخت افسوس دی، د دوی حال ډېر دزړه سوي دی، باید توبه وباسي. فقط

د کلیوالو د مراعت په وجه د غوا قرباني نه کول او د کونکي سره دښمني کول

سوال: (۸۸۴) په ګونډه کي چیري چي مذهبي کوم احساس نه ؤ، په نامه مسلمانان ؤ، په هغه کي په کوشش او خاص فکر سره مذهبي غیرت او عزت رابیدار کړل شو او اوس په عامو او خاصو مسلمانانو کي د اسلامي خلافت د بقاء جذبه راویښه شوه، ټول مسلمانان متحد شول، مګر له بده مرغه یو سړی د خپلي خودغرضی او ذاتي ګټو قاعدو له امله د مسلمانانو په ډله کي اختلاف او بیلتون راوستل غواړي او څوک حسد کونکي مسلمانان د ده د خطا کولو له امله په غټ اختر کي د غوا د قرباني کولو لپاره صرف په دې وجه متفق دي چي د مسلمانانو په متفقه سیاسي اصولو کي داعیان شو او د دغه هندوانو نه

---

(۱) مجموعة الفتاوی للشیخ عبد الحی فرنغی محلی أسکنه الله فی جنانه ۲/۱۳۰، کتاب العقائد، استفتاء نمبر: ۵۶. ط، شوکت اسلام

(۲) مجموعة الفتاوی: ۲/۱۳۱، کتاب الأضحیة استفتاء نمبر: ۵۸.

صرف دا چي زړونه ورمات کړو بلکه د مسلمانانو او هندوانو تر منځ بیا هغه بغض او عناد پیدا شي او د خلافت مسئله بیا کمزوري شي، اوس پوښتنه دا ده چي داسي سړی چي د اسلام په جماعت کي اختلاف رامنځته کوي او د خلافت له چندې او جلسو او ترک موالات څخه منع کوي، آیا دی د دې قابل نه دی چي ټول مسلمانان د ده مقاطعه وکړي؟ (۱۳۳۸/۲۰۹۲هـ)

ځواب: د کوم مسلمان څخه مقاطعت او متارکت په دې وجه کېدلای شي چي دی کوم شرعي جرم وکړي او د الله او رسول نافرماني وکړي لیکن د غوا قرباني چي له همېشه څخه په مسلمانانو کي جاري ده او په کتاب او سنت د دې جواز ثابت دی او پخپله نبي علیه الصلاة و السلام غوا حلاله کړې ده(۱) نو د غوا حلالول او د غوا قرباني کول شرعًا څه ډول جرم کېدلای شي؟ چي د دې کوونکی شرعي مجرم وبلل شي او متارکت ځني وشي، لنډه دا چي د کلیوالو د رعایت په وجه پخپل مذهبي کارونو کي خلل مه راولي، موافقت د دوی سره تر همدې حده پکار ده چي د اسلام په مذهب کي هیڅ مداخله نه وي او د غوا قرباني په هم هغه اختیار جاري وي لکه څرنګه چي مخکي وه. فقط

د مسجد تعمیر په بندولو کي د کفارو له همکاري کوونکي سره اړیکي قطع کول

سوال: (۸۸۵) مسلمانان مسجد جوړول غواړي، کفار ورته خنډ شو، خبره تر محکمې ورسېده، د مسلمانانو حق ثابت شو مګر ځینو مسلمانانو د کفارو ملګری وکړه، شهادتونه یې ورکړو او دوهم وار یې کفار وعارضه کولو ته اماده کړل، د داسي خلکو سره اړیکي ساتل څنګه دي؟ (۱۳۳۴-۳۳/۱۷۷۸هـ)

ځواب: د کفارو په ملګري د مسلمانانو د مسجد تعمیر منع کول ګناه ده، داسي کوونکي فاسقان دي او د دوی همکاران هم فاسقان دي تنبیهًا ورڅخه اړیکي قطع کړئ فقط

سوال: (۸۸۲) د یو ملک سره د مسجد د چندې روپۍ د مسجد جوړولو لپاره جمع کړل شوې، تر نیم مسجد جوړېدو وروسته د هندوانو ملګری شو او د مسجد کار یې بندل کړی او د پاته مسجد روپۍ یې جواب کړې، د ده په اړه څه حکم دی؟ (۱۳۳۹/۱۹۹۹هـ)

(۱) وګورئ: فتاوی دار العلوم دیوبند: ۱۵/۴۴۹-۴۵۰، کتاب الذبائح و الصید، سوال: ۱۳۲.

ځواب: داسي ملک سخت ګنهکار او فاسق دی، توبه په وباسئ، کنې ورځخه جمله اړیکي قطع کړئ. فقط

له بدباطن او مفسد څخه لیري ګرځئ

سوال: (۸۸۷) که کوم سړی عامو خلګو ته دا ووایي چي په بولو د قرآن شریف لیکل جائز دي، شراب حرام نه دي، د حنفي مذهب سپکاوی کوي، د داسي سړي سره څه کول پکار دي او کومي مسئلې چي دی بیانوي صحیح دي که څنګه؟(۱۳۳۵/۷۲۱هـ)

ځواب: داسي سړی مفسد او بد باطن دی لیري ځني ګرځئ، کومي مسئلې چي دی بیانوي غلطي دي. فقط

د ډولچي، ماشوم د نو پرې کونکي او نوي مسلمان بنګي سره اړیکي ساتل

سوال: (۸۸۸) د مسلمان ډولچي او د ماشوم د نو پرې کونکي د مسلمانانو په ډله کي شریکېدل څنګه دي؟ ډولچي که توبه وباسي او بنګي، هندو او نور که مسلمانان شي نو خوراک، څښاک ورسره څنګه دی؟(۱۳۴۷-۴۲/۳۷۴هـ)

ځواب: مسلمان ډولچي فاسق دی که توبه نه وباسي نول له ده څخه بیلتون کول او د مسلمانانو په جماعت کي نه شریکول جائز دي او د ماشومانو نو پرې کول صحیح وي، پر دې څه عیب مه وایاست، او که ډولزن توبه وباسي او بنګي مسلمان شي نو پرهېز مه ځني کوئ، د جامو، بدن او نورو تر طهارت وروسته ورسره خوراک، څښاک جائز دی.

د منکراتو په واده کي برخه اخیستل

سوال: (۸۸۹) څه فرمايي علماء د دين او مفتيان د شرعي متين په لاندي مسئله کي:

په کوم واده کې چې اسباب د لهو لکه سرنا او نور موجود وي، په هغه کې شراکت کول ډوډۍ او نور پکې خوړل جائز دي او کنه؟(۱۲۷۰/۱۳۴۳هـ)

ځواب: نه دي پکار، په تېره بیا د مقتدا لپاره خو دا یو مخ نه دی جائز. فقط

سوال: (۸۹۰) په کوم واده کې چې شرعي ممنوعات انګریزي باجه او نور وي، په هغه کې برخه اخیستلو او ډوډۍ خوړلو څه حکم دی؟(۱۴۹۲/۱۳۴۳هـ)

ځواب: په در مختار کتاب الحظر و الإباحة کې لیکلي دي چې که له مخکې څخه د شرعي ممنوعاتو انګریزي باجو او نورو علم وي نو هلته مه ځئ، که مقتدا وي که عوام، عبارت یې دا دی: و إن علم أولا باللعب لا یحضر أصلاً سواء کان ممن یقتدی به او لا الخ(۱) فقط

تر څه مودې د هندوانو سره اوسیدونکی او د خنزیر غوښه خوړونکی مسلمان هلک پخپل جماعت کډول

سوال: (۸۹۱) یو د پنځلسو شپاړسو کلونو مسلمان هلک وتښتېدی، هندوانو ته ولاړی، تر څه مودې پورې هلته د خنزیر غوښه خوره، بیا یې خپلو وارثانو ته راوستی چې دا تاسو درشریک کړي، هغو انکار وکړی یو بل مسلمان لس روپۍ واخیستې، دی یې د ځان سره کړی، د ده څخه مسلمانانو اړیکې قطع کړې، اوس د دغه هلک او د ځان سره ساتونکي په اړه څه حکم دی؟(۴۱۲/۱۳۴۳هـ)

ځواب: کله چې هلک توبه وباسي او په اسلام کې داخلیږي نو په اسلام کې یې داخل کړئ، مسلمانان باید اړیکې ورسره وساتي او پخپل جماعت کې ورشریک کړي او هیڅ ډول پرهېز ځني ونکړي او چا چې دی د ځان سره کړی دی، له هغه څخه اړیکې مه ختموئ فقط

(۱) الدر مع الرد۵/۲٤۵ اوائل کتاب الحظر و الإباحة. ط رشیدیه

سني شیعه شو بیرته سني شو اوس د ده سره څه کول پکار دي؟

سوال: (۸۹۲) زید سني ؤ، شیعه شو بیا بیرته سني شو نو اهل سنت باید د زید سره څه وکړي؟ (۴۷/۳۵-۱۳۳۲هـ)

ځواب: زید چي مخکي سني ؤ بیا رافضي شو، وروسته چي له باطل مذهب رفض څخه توبه و ایستله، سني شو نو په ناجي فرقه اهل سنت و الجماعت کي داخل شو او له اهل حق څخه شو نو د ده سره د مسلمانانو په رنګه اړیکي او معامله باید وشي. فقط

د کلي زیاتره خلګ بې دینه وي نو...

سوال: (۸۹۳) زموږ په کلي کي زیاتره نارینه او ښځي مطلقًا بې لمانځه روژه خواره او د دین له ټولو احکامو څخه جاهل کېدو څخه پرته په زرګونو فسق و فجور، رسمونو، کفریاتو او واهیاتو اخته دي، اوس متقي څه وکړي؟ سره د خپلو بچیانو پر هجرت قدرت نلري، آیا رهبانیت اختیار کړي، که څه وکړي؟ (۱۲۹/۳۵-۱۳۳۲هـ)

ځواب: په داسي حال کي همدا غنیمت دی چي سړی پخپله د شریعت د اوامرو او نواهي پابند شي او تر خپل وسه پوري و بل ته هم د خیر ترغیب کوي، قال الله تعالی: "لا یکلف الله نفسًا إلا وسعها" (سورة بقره، آیت: ۲۸٦)

فاسق او مبتدع د نکاح تړلو له ذمه واری څخه عزلول

سوال: (۸۹۴) د زید کورنۍ له وخت څخه د قبرو ملنګان راروان دي، د بزرګانو قبرونو او زیارتونو ته راغلي شیان خوري، په همدې یې د عیال پالنه وي او په محرم کي پخپلو لاسونو د شیعه ګانو تعزیه جوړوي، د هغه په نوم راغلي شیان اخلي او خوري یې او زید هم د ښار د قاضي نائب دی او نکاحوي

ترړي نو آیا د زید نائب کېدل جائز دي؟ او د ده په ترړلو نکاح صحیح کیږي او کنه؟
(۱۳۴۵-۴۴/۳۲هـ)

ځواب: زید فاسق او بدعتي دی، دی شرعًا د کومي داسي عهدې وړ نه دی چي شرعًا معزز بلل کیږي، ځکه چي فاسق شرعًا واجب الاهانت دی او تعظیم د ده صحیح نه دی(۱) نور نو کومه نکاح چي ده وتړله، هغه صحیح شوه، آئنده دی له دغه منصب څخه لیري ساتئ یا دي توبه وباسي. فقط

و خپل ځان ته بد دین ویونکي سره اړیکي ساتل

سوال: (۸۹۵) کوم مسلمان چي خپل ځان ته بد دین وایي، د هغه سره خوراک جائز دی او کنه؟ (۱۳۳۵/۱۰۱۷هـ)

ځواب: د داسي سړي سره خوراک، څښاک کول او اړیکي ورسره ساتل جائز نه دي، ترڅو چي دی توبه و نه باسي، قال الله تعالی: "فلا تقعد بعد الذکری مع القوم الظالمین"

(سورة انعام، آیت: ٦٨)

پر اذان پوري ټوکي کونکي بې لمانځه حکم

سوال: (۸۹۶) که کوم مالدار یا زمیندار بې لمانځه وي او په اذان پوري خاندي، د ده سره څه کول پکار دي؟ (۱۳۴۵/۷۴هـ)

ځواب: داسي سړي ته تنبیه وکړئ چي توبه وباسي، که توبه نه باسي نو کلام سلام او نور ورسره ختم کړئ. فقط

د بې لمانځه په مېلمستیا او واده کي برخه اخیستل

سوال: (۸۹۷) د بې لمانځه کره خوراک، څښاک کول څنګه دي؟ او د ده په واده کي شرکت کول

---

(۱) عن انس بن مالک رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: إن الله عز و جل یغضب إذا صرح الفاسق فی الأرض و عنه رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: إذا مدح الفاسق غضب الرب و اهتز له العرش(شعب الإیمان للبیهقی: ٤/٢٣٠، باب فی حفظ اللسان، رقم الحدیث: ٤٨٨٥-٤٨٨٦، المطبوعة: دار الکتب العلمیة بیروت)

څنګه دی؟ (۱۳۳۵/۲۷۸هـ)

ځواب: د فساقو د دعوت اجابت ضروري نه دی، که یې وخوري او پکې شریک شي نو صحیح دي.

د بې لمانځه دوبیانو سره څه باید وشي؟

سوال: (۸۹۸) مشرقي دوبیان بې لمانځه او روژه خور مسلمانان دي، عام مسلمانان له دوی څخه د هندوانو په رنګه لیري ګرځي، دا جائز دي او کنه؟
(۱۳۴۵-۴۴/۱۳۸۲هـ)

ځواب: لیري ګرځلاؤ له دوی څخه جائز نه دی، اما د لمونځ نه کولو په وجه تنبیه ورکړئ او دوی ته ووایاست چې موږ تاسو په خوراک، څښاک کې نه شریکؤ. فقط و الله تعالی اعلم

د لمانځه په اړه غلطه خبره کونکي سره اړیکي ساتل

سوال: (۸۹۹) یو سړي له لمونځ کولو څخه انکار وکړ او ناوړه الفاظ یې استعمال کړو، د داسي سړي سره مسلمانان څه رویه وکړي؟ (۱۳۴۳/۱۷۹۰هـ)

ځواب: دا سړی فاسق او ګنهکار دی، باید توبه وباسي، که توبه ونه باسي نو تنبیه ورته وکړئ او اړیکي ورڅخه قطع کړئ.

د شکمن سړي څخه پرهېز لازم دی

سوال: (۹۰۰) د کوم سړي حال چې شکمن وي، ږیره او بریتونه یې خریلي وي، دا هم نه وي معلم چې هندو دی که مسلمان، د ده په اړه ښه عقیده ساتل او د ده نذر منل شرعًا څنګه دی؟ (۱۳۴۲/۲۰۲۴هـ)

ځواب: داسي خلک چې حال یې مشتبه وي او صورت یې د شرعي په خلاف وي، ځان ځني ساتل

لازم دي او د مسلمانانو لپاره د ده له صحبت څخه ځان ساتنه لازمي ده او خپل حاجتونه له الله رب العزت پرته له بل چا څخه غوښتل صحيح نه دي او د ده په اړه عقيده ساتل جائز نه ده. فقط

د طلاق په وجه د خاوند د کليوالو سره اړيکي قطع کول

سوال: (۹۰۱) د کرنال يو اوسېدونکي خپله لور په پاني پت کي واده کړه، د موافقه نه راتلو له کبله خاوند تر مهر ادا کولو وروسته طلاقه کړه، په دې وجه د کرنال والو له پاني پت والو څخه اړيکي قطع کړې او محمد اسماعيل او عبد الرحمن چي له بدعتونو او رواجونو ليري ګرځي، له دوی څخه اړيکي له مخکي څخه قطع شوي دي، په دې اړه شرعي حکم څه دی؟ (۱۳۴۳/۲۷۹ھ)

ځواب: په دې کي د اړيکي قطع کولو کومه خبره نشته، کله چي د موافقي نه رالتو په وجه طلاق ورکول شو او د مهر فيصله وشوه بيا له چا څخه و اړيکو قطع کولو ته ضرورت نشته، کليوالو دا کار بد کړی دی او محمد اسماعيل او عبد الرحمن چي له بدعتونو او رواجونو څخه ليري ګرځي، له دوی څخه اړيکي قطع کول هم بد دي، دا کارونه د ګناه دي، داسي خبري مه کوئ فقط

له شرعي احکامو څخه ناخبره بزرګانو څخه اړيکي ساتل

سوال: (۹۰۲) هغه بزرګان چي ځان ته مسلمانان وايي، ځيني په دوی کي ډيري خروي او د ماشومانو پر سرونو چوټي پرېږدي، ځيني پکي سنت شوي هم نه دي، څوک پکي لمونځ نه کوي، اما ځيني پکي روژې نيسي، د ماتا سيتا او نورو لمانځنه کوي او د هغوی نذر مني، د قرآن شريف په اړه دا خيال دی چي اصلي نه دی، دوی ته مسلمان ويل پکار دي او کنه؟ او دوی ته د جنازې لمونځ او ښخول پکار دي او کنه؟ د دوی سره خوراک، څښاک او ماتم پرستي کول، که مي دوی د مړي د دريمي ورځي ختم يا څلويښتي او نورو ته ورو غواړي نو ورتلل پکار دي او کنه؟ د مړي کوروالو ته ډوډۍ ورکول څنګه دي؟ (۱۳۳۶-۳۵/۲۳۵ھ)

ځواب: دوی مسلمانان بلل پکار دي، د دوی په جنازه، ښخولو، د مريض پوښتني او فاتحه ته ورځئ، او د مړي کوروالو ته ډوډۍ ورکول سنت دي(۱) ليکن

---

(۱) عن عبد الله بن جعفر رضي الله عنهما قال: لما جاء نعي جعفر النبي =

د دریمي، لسمي او څلوېښتۍ په ختم کي برخه مه اخلي او سوکه، سوکه په دوی هم دا د شریعت خلاف رواجونه پرېږدي، داسي قوم جاهل دی، د شرعي مسئلو او اسلامي احکامو څخه د ناخبرتیا په وجه داسي وايي او کوي او تر اوسه د دوی په اسلام کي ډېر کمی دی، تدریجًا دوی ته اسلامي مسائل وربنودل لازم دي، په حقیقت کي داسي خلګ د هدایت لاري ته راوستل او له ګمراهۍ څخه را ایستل او د اهل سنت و الجماعت د مذهب سره سم اسلامي مسئلې وربنودل ډېر ضروري او ډېر د اجر او ثواب کار دی، نبي صلی الله علیه وسلم و حضرت علي رضی الله عنه ته وفرمایل چي ای علي! که ستا سو په وسیله یو سړي ته هم الله هدایت وکړي نو ستا لپاره ترحمر نعم (سرو اوښانو) څخه غوره دي(۱) حمر نعم یعني سر اوښ د عربو په نزد ډېر محبوب مالؤ نو کله چي د یو سړي د هدایت لاري ته راتلو باندي د هدایت د وسیلې لپاره دا زیری دی نو پوره یو قوم د هدایت لاري ته راوستونکي لپاره به څومره بشارت او زیری وي؟!

د حکومتي هدایاتو خلاف کونکي راپور رسونکي امام سره اړیکي ساتل

سوال: (۹۰۳) زمونږ کلی د هندوانو په اولسوالي کي دی، د څو کلونو راهیسي د دې ځای د مشر هندو له طرفه دا اعلان شوی دی چي هیڅ علمي درس ګاه به د حکومت بې اجازې نه جوړوي، لیکن څو معلمانو د خپل منصبي فرض بللو په وجه یا د حکومت له اعلان څخه د ناخبرتیا په وجه

= صلى الله عليه وسلم: اصنعوا لأهل جعفر طعاما، فإنه قد جاء هم ما يشغلهم (جامع الترمذى: ۱/۱۹۵، ابواب الجنائز، باب ما جاء فى الطعام يصنع لأهل الميت)

و فى الشامى: قوله: (و باتخاذ طعام لهم) قال فى الفتح: و يستحب لجيران أهل الميت و الأقرباء الأباعد تهيئة طعام لهم يشبعهم يومهم و ليلتهم، لقوله صلى الله عليه وسلم إلخ(الشامي ۱/۶۶۳ كتاب الصلاة باب صلاة الجنائز، مطلب فى الثواب على المصيبة. ط رشيديه)

(۱) عن سهل بن سعد رضى الله عنه سمع النبى صلى الله عليه وسلم يقول يوم خيبر: لأعطين الراية رجلا يفتح على يديه ... فقال أين على؟ فقيل: يشتكى عينيه فأمر فدعى له ... فو الله لأن يهدى بك رجل واحد خير لک من حمر النعم (صحيح البخارى: ۱/۴۱۳، كتاب الجهاد، باب دعا النبى صلى الله عليه وسلم إلى الإسلام الخ)

تر او سه د قرآن تعلیم ورکاوی او د حکومت له طرفه چا څه نه دي ورته ویلي لیکن د دغه معلمانو د تعلیم په اړه یو مولوي صاحب چي د اسلامیه مدرسې مهتمم دی او د جمعې لمونځ هم ورکوي، و حکومت ته راپور ورکړی چي فلانی او فلانی د حکومت بې اجازې زده کړه ورکوي، دوی منع کړئ. ځکه محکمې معلمان وروغوښتو، کوم څوک چي د قرآن تعلیم د نامذهبه په وسیله بندولو کوشش وکړي، د داسي چا سره شرعًا اړیکي ساتل یا یي امام جوړول او تعظیم یې کول جائز دي او کنه؟(۱۳۴۲/۱۳۷۸هـ)

ځواب: که دا سړي واقعتًا و مشر ته راپور ورکړی وي نو د دې وجه له ده ځخه پوښتل په کار ده، ځکه چي ممکنه ده چي که واقعتًا ده خبر ورکړی دی نو د دغه خبر ورکولو به کوومه خاص وجه پېښه شوې وي او پر دغه معلمانو لازمۀ چي کله د سیمي مشر دا حکم جاري کړی ؤ نو دوی خبر ورکړی وای او په اجازه باندي یې تعلیم شروع کړی وای، ځکه چي داسي کارونه پټ نه کیږي او د پټ ساتلو څه ضرورت نشته، ځکه چي دا خبره ښکاره ده چي که مي له هغه مشر څخه اجازه غوښتې وای، هغه اجازه درکوله او په اجازه نه اخیستلو کي و معلمانو ته د سزا یا جرمانه کېدو خوف دی او په حدیث شریف کي راغلي دي: إنما الاعمال بالنيات(۱) یعني د اعمالو مدار پر نیت باندي دی او د نیت حال و علام الغیوب ته خاص معلومېدلای شي نو مسلمانان باید په دې هکله کوشش وکړي چي و مشر ته ووایي چي د قرآن تعلیم او دیني مسئلې زموږ مذهبي حکم دی، د دې د جاري کولو اجازه وکړه او و څومره مدرسو ته چي ضرورت دی، د هغومره د جاري کولو اجازه واخلي، ترڅو بیا کومه اندېښنه او خطره نه وي او که دغه مخبر په بد نیت داسي کړي دي نو د ده غاړي بندي دي، تاسو په ده کار مه لرئ، خپل کار پوخ کړئ او اجازه واخلئ، کار کوئ. فقط و الله تعالی اعلم

د دوکه باز سره اړیکي ساتل

سوال: (۹۰۴) که یو سړی د چا روپۍ وخوري او د هغه کار ورونکړي نو څۀ حکم دی؟ اړیکي ورسره ساتل څنګه دي؟(۱۳۳۷/۱۲۵۰هـ)

---

(۱)صحيح البخاری: ۲/۱، باب كيف كان بدؤ الوحي إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم.

ځواب: و کوم مسلمان ته دوکه ورکول او په ظلم د چا مال خوړل حرام او ناجائز دي، د داسي خلګو سره اړيکي ساتل ښه نه دي.

له جماعت او مسجد څخه د چا منع کول صحیح نه دي

سوال: (۹۰۵) که کوم مسلمان د کوم مذهبي قصور په وجه کومي ډلي له جماعت څخه خارج کړي، آيا دا خارجول او د جماعت له لمانځه او مسجد ته راتلو څخه منع کول شرعًا جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۸/۵۰۷هـ)

ځواب: له مسجد او د جماعت له لمانځه څخه د ده منع کول صحيح نه دي، الله تعالی فرمايي: "و من أظلم ممن منع مساجد الله أن يذكر فيها اسمه" الآية (سورة بقره، آيت: ۱۱۴) د دې مطلب دا چي هغه سړی غټ ظالم دی چي مسجدونو ته له راتلو څخه او د الله له نوم اخيستلو څخه څوک منع کړي. فقط

ماشوم مسجد ته راوستونکي ته شیطان ویل او له مسجد څخه ایستل

سوال: (۹۰۶) يو سړي خپل ماشوم زوی د جمعې لمانځه ته له ځان سره بوتلی، د لمانځه په منځ کي ماشوم وژړل، له لمانځه وروسته يو سړي وويل چي دا لمونځ خرابول او ژړل د شيطان کار دی او چا چي دا ماشوم راوستی دی، هغه پخپله شيطان دی، دا شيطان له مسجده وباسي، ځکه دی يې د ماشوم سره له مسجده و ايستی او د جمعې لمونځ يې بيرته راوګرځاوی، په داسي صورت کي پر ماشوم راوستونکي څه کفاره شته او کنه؟ او چا چي ده ته شيطان وويل او له مسجد څخه يې و ايستی، د هغه په هکله څه حکم دی؟ او د جمعې لمونځ راګرځول صحيح شو او کنه؟ (۱۳۴۵/۳۳۸هـ)

ځواب: په حديث شريف کي راغلي دي: جنبوا مساجدكم صبيانكم و مجانينكم(۱) يعني

---

(۱) عن واثلة بن الأسقع أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: جنبوا مساجدكم صبيانكم و مجانينكم و شراءكم الحديث(سنن ابن ماجة: ص: ۵۴، أبواب المساجد و الجماعات، باب ما يكره في المساجد)

ماشومان او لېونيان له مسجدونو ليري ساتئ، ځکه فقهاء ليکلي دي چي د ماشومانو مسجدونو ته بېول په ځينو صورتونو کي مکروه دي(۱) ليکن کوم چا چي دا اعلان کړی چي دغه ماشوم راوستونکی شيطان دی او د جمعي د لمانځه راګرځولو حکم يې وکړی دا غلطه خبره ده، د جمعي لمونځ صحيح شوی ؤ، د راګرځولو ضرورت يې نه ؤ. ماشوم راوستونکی له مسجد ځخه ايستل او شيطان ورته ويل دا ټول حرام او ناجائز دي، په دغه صورت کي د ماشوم پر راوستونکي هيڅ کفاره نشته، ده ته صرف دومره نصيحت کول بس دی چي کله دا بچی زيات ماشوم وي او په څه نه پوهيږي، تر هغو يې مسجد ته مه راوله او کوم چا چي و ايستی او شيطان يې ورته وويل هغه ګنهکار شو. بايد توبه وباسي، څوک چي يې له مسجد ځخه و ايستی او شيطان يې ورته وويل له هغه ځخه دي معافي وغواړي فقط

له خوندي نه ودونکي سره اړيکي قطع کول

سوال: (۹۰۷) يو سړی څو خوندي لري چي عمرونه يې ۳۰، ۳۲ او ۳۸ کلونه دي، دی قصدًا نکاحوي نه ورکوي، خپله يې واده کړی دی، د خپلي ښځي سره د شپې مخامخ کوروالی کوي، دوی غمجني شي، د داسي سړي سره اړيکي ساتل جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۸/۱۹۲۲هـ)

ځواب: که د کفو(سيال) موندلو سره خپلي خوندي د دومره عمر کېدو سره نکاحوي نه ورکوي نو بې شکه دی ګنهکار او خطا دی، تنبيه او نصيحت ورته پکار دی، که خبره نه مني نو که تنبيهًا اړيکي هم ورځخه قطع شي نو بې ځايه به نه وي فقط

د تيرو کارونو په وجه اړيکي مه قطع کوئ

سوال: (۹۰۸) يوه ښځه بدچلنده وه ځکه خاوند طلاقه کړه، بيا د يو

---

(۱) و يحرم إدخال صبيان و مجانين حيث غلب تنجيسهم و إلا فيكره و في الشامي: قوله: (و إلا فيكره) أي تنزيهًا (الدر المختار و رد المحتار ۴۸۶/۱ كتاب الصلاة، باب ما يفسد الصلاة و ما يكره فيها، مطلب في أحكام المسجد. ط رشيديه)

سړي سره وتښتېږده، آخر پلار او ورونو راوسته بل ځاى يې واده کړه اوس ځيني خلک د دې د پلار او ورونو سره اړيکي ساتي او ځيني يې نه ورسره ساتي، اړيکي ورسره ساتل پکار دي او کنه؟ (۳۹/۳۹۰هـ)

ځواب: اوس چي کله مور او پلار دې ته نکاح وروکړه نو اوس تيرو کارونو ته مه ګورئ، اړيکي ورسره مه قطع کوئ فقط

د ښکاره فسق کونکي څخه ليري ګرځئ

سوال: (۹۰۹) که زيد ووايي چي زه خو بچه باز او رنډى باز يم نو شرعًا د زيد سره څه کول پکار دي؟ (۱۱۰۳/۱۳۳۹هـ)

ځواب: د داسي ښکاره فسق کونکي څخه ليري ګرځېدل غوره او مناسب دي.

د خلګو حق خوړونکي سره اړيکي ساتل

سوال: (۹۱۰) څوک چي د چا حق وخوري، د هغه سره ناسته ولاړه کول څنګه دي؟ (۱۲۷۳/۱۳۴۰هـ)

ځواب: د ده سره محبت او ناسته ولاړه کول ناجائز دي، د داسي سړي څخه مقاطعه او بيلتون اختيار کړئ فقط

د معشوقې ولور ته ورکړى جائيداد حلال دى او د دې په غم او ښادي کي شرکت کول جائز دى

سوال: (۹۱۱) د يوې مسلماني ښځي اړيکي د يو هندو سره وې، په دې وجه نو موړي هندو خپل ټول جائيداد په حکومت کي د دغي ښځي د لور په نوم کړى، وروسته دوى دواړه وفات شول، انجلۍ ته حکومت جائيداد ورکړى نو له دغه جائيداد څخه حاصل کړى مال څنګه دى؟ د مسلمانانو لپاره شرعًا د دې په غم او ښادي کي برخه اخيستل جائز دي او کنه؟ (۸۵/۱۳۴۰هـ)

ځواب: د دغه انجلۍ لپاره د دغه مال حلال دی او د دې په غم او ښادي کې شرکت کول جائز دی. فقط

آیا د یورپ والو په طریقه ژوندون کونکی د اسلامي ډلي صدر کېدلای شي؟

سوال: (۹۱۲) کوم مسلمان چې ژوندون د یورپ والو په طریقه تېروي ان چې د لمانځه او روژې هم پابندي نه کوي، د یورپ والو په رقص کې برخه اخلي او رقصیږي، آیا داسي سړی د اسلامي ډلي صدر شرعًا کېدلای شي؟ (۱۳۴۰/۱۲۹ھ)

ځواب: که وتاکي نو کېدلای شي لیکن د داسي کار لپاره داسي سړی ټاکل مناسب او لائق نه دی.

وخپل استاد ته ښکنځل کونکي سره اړیکي ساتل

سوال: (۹۱۳) زید له عمر څخه قرآن مجید ویلی دی، او س د کوم دنیوي حرص په وجه زید د عمر دښمن ګرځېدلی دی، د خپل استاد عمر ته ښکنځل کوي او بې عزتي یې کوي، د قرآن مجید په ورته ویلو عمر د زید استاد شو او کنه؟ او په دا ډول سپکاوي او ښکنځل کولو د استاد عاق او نافرمانه شو او کنه؟ په ده پسي لمونځ جائز دی او کنه؟ او اړیکي ورسره ساتل څنګه دي؟ (۱۳۳۵/۲۹۲ھ)

ځواب: بې شکه عمر د زید استاد دی او ښکنځل کول خو لومړی و هر مسلمان ورور ته کبیره ګناه ده(۱) په تېره بیا د استاد داسي سپکاوی کول خو ډېر ناوړه عمل دی، زید په دغه فعل فاسق او عاق دی، لمونځ پسي مکروه دی، که توبه نه وباسي او له استاده معافي وانه اخلي نو اړیکي ورڅخه قطع کول صحیح دي. فقط

(۱) عن عبد الله أن النبی صلی الله علیه وسلم قال: سباب المسلم فسوق الحدیث(صحیح البخاری: ۱۲/۱، کتاب الإیمان، خوف المؤمن من أن یحبط عمله الخ، و فیه أیضًا: ۸۹۳/۲، کتاب الأدب، باب ما ینهی عن السباب و اللعن و أیضًا: ۱۰۴۸/۲، کتاب الفتن، باب قول النبی صلی الله علیه وسلم لا ترجعوا بعدی کفارًا)

پر پاک لمنه ښځه د زنا تور لګونکي څخه مقاطعه کول

سوال: (۹۱۴) زید و یو پاک لمنه ښځي ته چي د دوی د کور سره او سیږي، د عامو خلګو په مخکي وویل چي ته زناکاره یې، او ستا بچیان حرامیان دي. ښځي و خپلوانو ته وویل چي فلانی پر ما تور لګوي چي کله د قاضي مخته ولاړو، له زید څخه پوښتنه وشوه نو زید اقرار وکړی چي هو زه چي څه وایم رښتیا دي، کله چي د ګواهانو غوښتنه څني وشوه نو د زید سره یو ګواه هم نهٔ، د داسي سړي څخه اړیکي قطع کول جائز دي او کنه؟ او شرعًا د دې څه حکم دی؟ (۴۴/۷۳-۱۳۴۵هـ)

ځواب: پر کومه پاک لمنه ښځه د زنا تور لګول کبیره ګناه ده(۱) او که دار الاسلام وای نو پر تور لګونکي به حد جاري شوی وای یعني اتیا درې به وهل کېدی مګر زموږ ملک دار الاسلام نه دی ځکه حد نشي جاري کېدلای لیکن دغه تور لګونکی فاسق دی، توبه دي وباسي او معافي دي وغواړي، که توبه نه وباسي او بخښنه ونه غواړي نو اړیکي ورسره قطع کړي. فقط و الله تعالی اعلم

د نابالغ سره اړیکي قطع کول ظلم دی

سوال: (۹۱۵) یو نابالغ هلک په غلطي سره د یو بنګي د کور ډوډۍ وخوړله یا یې اوبه وڅښلي، کلیوالو له ده څخه اړیکي قطع کړې، آیا د ده دا فعل صحیح دی؟ که څوک د کومي بنګي سره زنا وکړي یا بېله نکاح کول اجنبي ښځه له ځان سره ساتي نو د ده سره

---

(۱) "إن الذين يرمون المحصنات الغافلات المؤمنات لعنوا فى الدنيا و الآخرة و لهم عذاب عظيم"

(سورة نور، آيت: ۲۳)

عن ابي هريرة رضى الله عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم قال: اجتنبوا السبع الموبقات قالوا: يا رسول الله و ما هن؟ قال: (۱) الشرک بالله (۲) و السحر (۳) و قتل النفس التى حرم الله إلا بالحق (٤) و أكل الربا (٥) و أكل مال اليتيم (٦) و التولى يوم الزحف (۷) و قذف المحصنات المؤمنات الغافلات (صحيح البخارى: ۱۰۱۳/۲، كتاب المحاربين من أهل الكفر و الردة، باب رمى المحصنات)

څه رویه وکړو؟ (۱۲۱۲/۴۴-۱۳۴۵ھ)

ځواب: نابالغ شرعًا هم مکلف نه دی، په حدیث شریف کي راغلي دي: رفع القلم عن ثلاثة الحدیث(۱) نو له دغه بالغ شخه اړیکي قطع کول په دې وجه چي ده په غلطي سره د بنګي د کورډودۍ وخوړه یا یې اوبه وڅښلې، جائز نه دي، دا ظلم دی.

او کوم مسلمان چي د کومي ښځي سره زنا وکړي، هغه که بنګی وي که مسلمانه او که کافره وي، دی فاسق دی، داغه راز بېله نکاح کولو اجنبي ښځه ساتونکی فاسق دی، دوی که توبه و نه باسي نو د دوی سره اړیکي قطع کړي. فقط و الله تعالی اعلم

د ضرر له ویري اړیکي قطع کول

سوال: (۹۱۲) له کوم مسلمان شخه چي د ضرر رسېدو اندېښنه وي، د هغه شخه اړیکي قطع کول څنګه دي؟ (۱۹۷۲/۱۳۴۵ھ)

ځواب: له کوم مسلمان شخه بې له کومي وجهي تعلق قطع کول جائز نه دی، لیکن د ضرر وېره که تعلق ته خنډ وي نو ځني لیري ګرځئ او پخپله ده ته د تکلیف رسولو فکر مه کوئ، ځکه چي د مسلمان شان دا دی چي له ده شخه و چاته تکلیف نه ورسي(۲) فقط و الله تعالی اعلم

ځان ته محمدیان ویونکي د مسلمانانو شخه سخته کرکه کوي د دوی سره څنګه رویه پکار ده؟

سوال: (۹۱۷) کوم خلک چي د نکاح کولو پر مهال کلمه او امنت بالله د مولوي صاحب په ویلو وایي

---

(۱) عن علي رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: رفع القلم عن ثلاثة: عن النائم حتی یستیقظ و عن الصبی حتی یحتلم و عن المجنون حتی یعقل (سنن ابی داؤد، ص: ۶۰۵، کتاب الحدود، باب فی المجنون یسرق او یصیب حدًا)

(۲) عن عبد الله بن عمرو عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: المسلم من سلم المسلمون من لسانه و یده الحدیث(صحیح البخاری: ۶/۱، کتاب الإیمان، باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه و یده)

او د لمانځه په احکامو یو مخ خبر نه وي او د جنازې لمونځونه په مسلمانانو کوي او ځان ته محمد یان وايي مگر د مسلمانانو سره له ناستي ولاړي او خوراک څښاک کولو څخه سخته کرکه کوي، ظاهري ژوند د دوی د هندوانو په رنگه دی لکه د بوتانو عبادت کول، غوږونه سوري کول او نومونه د هندوانو ایښودل او څوک چې د مسلمانانو سره خوراک څښاک کوي، هغه له ځانه شړل، دا قوم مسلمان دی که کافر؟ د دوی غوښه خوړل او د دوی د ښځو سره نکاح کول جائز دي او کنه؟ (۱۲۴۹/۱۳۳۷هـ)

ځواب: کله چې د مولوي صاحب په کلمه ویلو دا خلک د توحید کلمه وايي نو مسلمانان گرځي، که مخکې د شرک عملونه کړي هم وي نو د ایمان په کلمه ویلو د کفر او ټولو گناهونو څخه پاکیږي، حتی الوسع د داسې خلکو د هدایت په هکله کوشش کوئ او د کفر او شرک رواجونه په دوی پرېږدئ، دوی مسلمانان کړي اسلامي احکام وروښه یاست او تر کلمه ویلو وروسته د دوی ښځي په نکاح کول صحیح دي، د داسې خلکو سره ښه اړیکي او ناسته ولاړه کوئ، ترڅو د دوی هم د مسلمانانو سره زړونه ولگیږي، او سوکه سوکه کفر او شرک پریږدي او د دوی سره خواخوږي کول پکار دی، که د مسلمانانو په ناسته ولاړه او اړیکي ساتلو و دغه قوم ته هدایت وشو نو دا ډېر د ثواب کار دی، سوکه سوکه په حکمت او نرمي سره دوی ته اسلامي احکام وربښودل پکار دي؛ كما قال الله تعالى: "ادع الى سبيل ربک بالحكمة و الموعظة الحسنة و جادلهم باللتی هی أحسن" (سورة نحل، آیت: ۱۲۵) و الله الموفق فقط

له گناه څخه توبه کونکي سره د مسلمانانو په رنگه اړیکي ساتئ

سوال: (۹۱۸) د زید او هندې ناروا اړیکي سره دي چې کورنۍ په خبره شوه نو زید یې بېل کړي او د ده سره خوراک څښاک بند کړی، هندې سمدستي د خالد سره نکاح وکړه، اوس زید د زړه له کومي توبه و ایستله خو تر اوسه څه خلک ورسره اړیکي نه ساتي، په دې باره کې شرعًا څه حکم دی؟ (۸۹۲/۱۳۴۳هـ)

ځواب: د دې گناه سزا دا وخت همدا ده چې زید دې د زړه له کومي توبه وباسي بیا دې هیڅکله داسې فعل نه کوي نو کله چې زید نصوحه توبه وباسي نو د ده سره ناسته ولاړه او خوراک څښاک کول ټول

جائز دي، اوس ورڅخه بیلتون مه کوئ، کومو خلکو چي تر اوسه اړیکي ورسره نه دي ساتلي، هغه هم باید اړیکي ورسره وساتي، ځکه چي په حدیث شریف کي راغلي دي: التائب من الذنب کمن لا ذنب له(۱) فقط

سوال: (۹۱۹) بي بي نصیبې خپله د پنځو شپږو ورځو ناجوړه لور د علاج په توګه د بل په وینا د خنزیر په ځای کي واچوله، ترڅو جوړه شي مګر هغه په هغه ورځ مړه شوه، مسلمانان چي په خبر شو اړیکي یې ځني قطع کړې او نومړې توبه وباسي، اوس ورسره څه کول پکار دي، له توبې وروسته څه کفاره هم ادا کړي او کنه؟ (۱۳۴۳/۲۰۳۳هـ)

ځواب: کله چي نومړې توبه وباسي نو د دې سره هم هغه رویه باید وشي کومه چي د عامو مسلمانانو سره کیږي، پر دې باندي کومه کفاره نشته، لومړی خو په ناخبرتیا کي دې دا فعل کړی و بیا په تېره بیا چي توبه هم وباسي نو د "التائب من الذنب کمن لا ذنب له"(۱) په فهرست کي داخله شوه.

د بغض فی الله او حب فی الله مطلب

سوال: (۹۲۰) د بغض فی الله او حب فی الله ساتلو حکم له چا څخه دی؟ او ښکاره فسق کونکی که له دوو څلورو ورځو څخه فسق نه وي کړی نو څهٔ حکم یې دی؟ (۱۳۳۴-۳۳/۷۸هـ)

ځواب: د صلحاء او نیکو خلکو سره د الله لپاره مینه کول حب فی الله دی او د ظالمانو فاسقانو سره د دوی د ظلم او معصیت په وجه په زړه کي بغض ساتل بغض فی الله دی، په خلکو کي د همدې سره سم حکم جاري کیږي، ترڅو چي کوم ښکاره فسق کونکی له خپل فسق څخه توبه و نه باسي او آثار د توبې ورباندي ښکاره نشي، تر هغو د دغه معصیت د فعل په وجه کرکه ځني کوئ، کله چي توبه ظاهره شوه او آثار د توبې ښکاره شول، هغه وخت بغض ورسره مه کوي فقط و الله تعالی اعلم

(۱) عن عبد الله بن مسعود رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: التائب من الذنب کمن لا ذنب له(مشکوة المصابیح، ص: ۲۰۶، کتاب اسماء الله تعالی، باب الاستغفار و التوبة، الفصل الثالث)

د ټیټ او کمزورو قومونو سره د اړیکو ساتلو بیان

قومونه صرف دشناخت او پیژندګلوۍ لپاره وي

سوال: (۹۲۱) د قومونو فرق ولي راغلی دی؟ لکه شیخ، سید، مغل او نور (۱۳۴۳/۱۳۴۰هـ)

ځواب: قال الله تعالی: "و جعلناکم شعوبًا و قبائل لتعارفوا إن اکرمکم عند الله اتقاکم" (سورة حجرات، آیت: ۱۳) له دغه آیت څخه معلوم شو چي بېلا بېل نسبونه الله تعالی جوړ کړي دي او پیژندګلوي د قومونو د بېلوالي څخه ښکاره دي.

مسلمان دوبي کم ګڼل ورسره امتیازي معامله کول

سوال: (۹۲۲) د بنګال په وطن کي عام مسلمانان له قرآن او حدیث څخه د بې علمۍ په وجه زموږ په حواري عرف دوبي قوم سره کوم چي د شریعت پابند دي، ټوکي کوي او سپک ورته ګوري، په مسجد کي هم زموږ سپکاوی کوي، ګو موږ مسلمانان هم نه بولي، په داسي صورت کي شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۴۲/۱۸۹۸هـ)

ځواب: د مسلمانانو سره داسي معامله نه ده کول پکار، ټول مسلمانان ورونه دي لکه چي

الله تعالی فرمایلي دي: "إنما المؤمنون إخوة فاصلحوا بين أخويكم"(سورة حجرات، آيت: ۱۰) او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: المسلم أخوا المسلم الحديث(۱) نو بايد يو مسلمان د بل مسلمان سپکاوی و نکړي او دی کمزوری ذليله او سپک و نه بولي، دا ډېر بد کار دی، عذاب يې سخت دی، الله پاک دې ټولو مسلمانانو ته د نېکو توفيق ورکړي او په خپل منځ کې اتفاق او اتحاد ورکړي. فقط

سوال: (۹۲۳) د بهرائچ په ښار کې ځيني مسلمانان د دوبيانو سره صرف په دې وجه خوراک، څښاک نه کوي چې دوی د خپلو پلرونو پېشه خپله کړې ده، حال دا چې دوی د صفايي او پاکۍ پوره خيال ساتي او ډېر دوبيان د لمنځونو او روژو هم پابند دي، په داسې حال کې له دغه قوم څخه پرهيز کول او بيلتون اختيارول جائز دی او کنه؟ (۱۳۴۳/۴۸۵هـ)

ځواب: قال الله تعالى: "إنما المؤمنون إخوة فاصلحوا بين أخويكم و اتقوا الله لعلكم ترحمون" (سورة حجرات، آيت: ۱۰) نو کله چې معلوم شو چې ټول مسلمانان پخپل منځ کې سره ورونه دي، د دوی څخه متارکت کول د اخوت او د اسلام د همدردۍ په خلاف دي نو د دوبيانو قوم چې يادونه يې په سوال کې شوې ده، له دوی څخه بيلتون کول او خوراک، څښاک ورسره نه کول صحيح نه دی، کوم مسلمان چې د دوی څخه کرکه کوي سره د دې چې لمونځ کونکي او پاک کرځېدونکي دي، هغه ګنهکار دی. فقط

د دولتمندو خلکو پر نورو قومونو فخر کول

سوال: (۹۲۴) ... (الف) د دولتمند او مالدارو خلکو پر نورو خوار قومونو لکه درزيانو او جولاګيانو باندې فخر کول او دوی ذليل بلل جائز دي او کنه؟

(ب) آيا ملک قوم د آدم پر اولاد امتياز لري او کنه؟ (۱۳۴۵/۷۴هـ)

---

(۱) عن عبد الله بن عمر رضى الله عنهما قال: إن رسول اله صلى الله عليه وسلم قال: المسلم أخو المسلم، لا يظلمه و لا يسلمه الحديث(صحيح البخارى: ۳۳۰/۱، أبواب المظالم و القصاص، باب لا يظلم المسلم المسلم، و لا يسلمه)

ځواب: (الف) په نسب فخر کول د هیچا لپاره جائز نه دی، نور قومونه سپک ګڼل او ځان نه غټ ویل حرام دي قال الله تعالی: "إن أکرمکم عند الله اتقاکم"(سورة حجرات، آیت: ۱۳) یعني د الله په نزد په تاسو کي بزرګ او تر ټولو غوره هغه څوک دی چي زیات متقي وي نو د دولتمندو او ملک قوم خلګو پر درزیانو او جولاګیانو فخر کول او دوی سپک ګڼل حرام دي

(ب) ټول بني آدم د یو پلار او یوې مور بچیان دي، امتیاز او فخر په تقوی، پرهېزګاري د الله او رسول صلی الله علیه وسلم په اطاعت کي دی.(۱)

له مسلمان بنګي څخه کرکه کول

سوال: (۹۲۵) یو بنګي مسلمان شو لیکن خپله پېشه یې نه ده پرېښې، په دې وجه زیاتره مسلمانان ډوډۍ ورسره نه خوري او کرکه ځني کوي او وایي چي موږ ته خپلوان پېغور راکوي، په داسي صورت کي شرعًا څه حکم دی؟(۳۵/۵۴۰-۱۳۳۶ھ)

ځواب: کله چي بنګي مسلمان شو نو دده سره له خوراک څښاک کولو څخه پرهېز نه دی کول پکار، پاته شوه دا خبره چي دی خپله پېشه نه پرېږدي نو شرعًا دا څه پروا نلري، په عربو او حرمینو شریفینو کي دا پېشه مسلمانان کوي او کله چي دی و لمبیږي، ځان پاک کړي نو د ده څخه د پرهېز کولو هیڅ وجه نشته او د دنیا په پېغور کي هیڅ فکر مه کوئ، کله چي زموږ په وطن کي د دې عادت نشته او په بنګیانو کي مسلمانان ډېر کم وي او دا پېشه سپکه بلل کیږي، ځکه دا ډول کرکه خلګ ځني کوي، کني له مسلمان کېدو وروسته هیڅ وجه شرعًا له ده څخه د پرهېز کولو نشته. فقط

د شرک خبري کونکي نوي مسلماني بنځي څخه اړیکي قطع کول

سوال: (۹۲۶) یو بنګۍ چي له کله څخه مسلمانه شوې ده، تر او سه لمونځ نه دی کړی او نه یې روژه نیولې ده،

---

(۱) و عن عقبة بن عامر رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: أنسابکم هذه لیست بمسبة علی أحد، کلکم بنو آدم طف الصاع بالصاع لم تملؤه، لیس لأحد علی أحد فضل إلا بدین و تقوی، کفی بالرجل أن یکون بذیا فاحشا بخیلا(مشکوة المصابیح: ص: ۴۱۷-۴۱۸، کتاب الأدب، باب المفاخرة و العصبیة، الفصل الثاني و الثالث)

د شرک خبري کوي، په دې وجه کليوالو ورځخه اړيکي قطع کړي دي، اوس يو مولوي صاحب څه روپۍ ځني اخيستي دي او وايي چې اړيکي ورسره وساتي. په دې هکله شرعي حکم څه دی؟ (۱۳۴۷-۴۲/۱۷۷۶هـ)

ځواب: دا ښځه مسلمانه ده خو د شرک له خبرو يې منع کړئ. لمونځ او روژه وروښياست، په نرمي سره، سختي ورسره مه کوئ، دا خو په اسلامي احکامو ناخبره ده، ځکه دې ته د لمانځه او روژې تعليم ورکړي او اړيکي هم ورسره وساتي، همدا مطلب به وي، د هغه مولوي صاحب چې د دې سره د اړيکي ساتلو خبره کوي. فقط

ځان غټ او بل سپک ګڼل د جاهليت رسم دی

سوال: (۹۲۷) يو د قرآن حافظ چې نور تعليم هم لري، د کمزوري پېښي خلکو ته په سپک نظر ګوري او پر څه يې نه شماري، که څوک د داسې خلکو نوم په ښو واخلي نو سمدستي په جواب کې وايي چې هغه خو جولاګی دی، موچي دی، هغه څنګه زمونږ سره خبره کولای شي يا خط رالېږلای شي؟ که څوک ورته ووايي چې شرعًا دا خبره جائز نه ده نو په جواب کې وايي چې تاسو په هره خبره کې ولې شريعت رامخې ته کوئ؟ په داسې صورت کې څه حکم دی؟ (۱۳۳۷/۴۹۲هـ)

ځواب: قال الله تعالى: "إن اكرمكم عند الله اتقاكم" (سورة حجرات، آيت: ۱۳) يعني بې شکه د الله په نزد په تاسو کې تر ټولو بزرګ هغه دی چې زيات متقي وي نو فخر بالانساب ځان غټ او بل سپک ګڼل د جاهليت رسم او ناوړه عمل دی، د دې غندنه په شريعت کې راغلې ده(۱) او داغه زاز د شرعي احکامو په اورېدو دا ويل چې تاسو په هره خبره کې شريعت ولې مخې ته راوړئ، ډېره

---


(۱) عن ابي هريرة رضى الله عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم قال: لينتهين أقوام يفتخرون بآبائهم الذين ماتوا... إن الله قد أذهب عنكم عبية الجاهلية و فخرها بالآباء، إنما هو مؤمن تقى أو فاجر شقى، الناس كلهم بنو آدم، و آدم من تراب، و عن عقبة بن عامر رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: أنسابكم هذه ليست بمسبة على أحد، كلكم بنو آدم طف الصاع بالصاع لم تملؤه، ليس لأحد على أحد فضل إلا بدين و تقوى، كفى بالرجل أن يكون بذيا فاحشا بخيلا(مشكوة المصابيح، ص: ۴۱۷-۴۱۸، كتاب الأدب، باب المفاخرة و العصبية، الفصل الثاني و الثالث)

د خطر خبره ده او لویه ګناه ده، توبه باید وباسي. فقط

له بې لمانځه سید څخه لمونځ کونکی غیر سید افضل دی

سوال: (۹۲۸) دوه کسان دي یو ځان ته سید وایي لیکن شرابي،زاني او بې لمانځه دی، بل کس د بل کمزوري قوم دی لیکن لمونځ کونکی او د شریعت پابند دی. په دوی کي څوک افضل دی؟ (۴۲/۳۳۲۹-۱۳۴۷هـ)

ځواب: په دوی دواړو کي چي کوم کس لمونځ کونکی پرهېزګار او د شریعت پابند دی، هغه افضل دی "إن اکرمکم عندالله اتقاکم" (سورة حجرات، آیت: ۱۳) فقط و الله تعالی اعلم



د نوي مسلمانانو سره د رویه کولو بیان

د نوي مسلمان سره باید څه رویه وشي؟

سوال: (۹۲۹) یو هندو ډیوې بنګۍ سره ناروا اړیکي وساتلې بیا یې وتښتوله، اوس دغه ښځه او سړی غواړي چې مسلمانان شي او د ټولو مسلمانانو سره یو ځای خوراک څښاک وکړي نو دوی څه ډول مسلمانان کړو؟ او تر اسلام قبلولو وروسته د دوی سره خوراک، څښاک جائز دی او کنه؟ او د دوی مسه کړی لوښی او نور د استعمال قابل دي او کنه؟ او له عالم پرته بل کوم مسلمان دوی مسلمانولای شي او کنه؟ او له اسلام قبلولو وروسته سنتول ضروري دي او کنه؟ (۱۳۳۸/۵۹۴هـ)

ځواب: دوی دواړو ته هر خبردار مسلمان د اسلام کلمه ویلای شي او مسلمانولای یې شي، دواړه مسلمانان کړي او تر اسلام راوړلو وروسته پرهېز مه ځني کوئ، خوراک، څښاک د دوی سره صحیح دی او د دوی مسه کړی د خاورو او نورو لوښی پاک دی، لنډه دا چې تر اسلام قبلولو وروسته دوی یو مخ د نورو مسلمانانو په رنګه دي بلکه له ګناهونو څخه پاکیږي، تر نورو ښه دي او د ښځي سر مه ورخریاست او نارینه تر اسلام قبلولو وروسته سنت کړئ، مسلمان یې مخکې کړئ فقط

نوی مسلمان سپک ګڼل او مقاطعه ورڅخه کول

سوال: (۹۳۰) پوښتنه دا ده چې یو سړی چې دین محمد نومیږي، سره د خپلو بچیانو مسلمان شو، نکاح یې هم وشوه او مرید هم شو، ځینو مسلمانانو نور زیاتره مسلمانان خطا کړو، د دوی مقاطعه یې وکړه، نه

د دوی کره خوراک کوي او نه يې د ځان سره په ډوډۍ کي شريکوي، له خپل ځاه څخه او به نه ورکوي او مسجدونو ته يې نه پريږدي، په دغه صورت کي شرعًا څه حکم دی؟ آيا د نوي مسلمان دين محمد سره داسي معامله کول شرعًا جائز ده او کنه؟ (۱۳۴۳/۱۳۱۵ھ)

ځواب: الله تعالی فرمايي: "إنما المؤمنون إخوة فاصلحوا بين اخويكم" (سورة حجرات، آيت: ۱۰)

او په حديث شريف کي راغلي دي: المسلم أخو المسلم الحديث(۱) نو څوک چي مسلمان شو او اسلام يې قبول کړی، هغه له ټولو ګناهونو څخه داسي پاک شو لکه چيّ ماشوم له موره پيدا شي او هغه د بيان شوي نص په وجه د مسلمانانو ورور شو.

لهذا دی سپک او ذليل بلل يا د ده مقاطعه کول يا په خوراک څښاک کي دی نه شريکول يا د ده ډوډۍ نه خوړل، دا سخته ګناه او لوی معصيت دی، مسلمانان بايد د دوی سره خواخوږي وکړي، نه دا چي کرکه ځني وکړي، دا خو سخت جهالت دی، دوی له مسجدونو او له ځاه څخه او به وړلو څخه مه منع کوي، د دوی عزت کوئ، ځکه چي د الله په نزد د دې لوی عزت دی، قال الله تعالی: "و لله العزة و لرسوله و للمؤمنين و لكن المنفقين لا يعلمون" (سورة منافقون، آيت: ۸) يعني عزت الله لره دی او د هغه در سول لپاره او د ايمان والو لپاره، ليکن منافقان په دې نه پوهيږي نو چاته چي الله عزت ورکړ، هغه ذليل او سپک ګڼل څومره جهالت دی؟ لنډه دا چي د نوي مسلمان دين محمد سره بايد ټول مسلمانان همدردي او مينه وکړي او دی له خپلي ډلي بېل نکړي، سپک دي يې نه ګڼي او له کوم ځاه څخه چي دی او به وړي، ده ته اجازه ورکړي او په ټولو کارونو کي دی د نورو مسلمانانو په رنګه بلل پکار دي، په کوم کار کي له ده څخه پرهېز او بيلتون مه کوي. فقط

سوال: (۹۳۱) کوم کافر چي مسلمان شي، دغه نوی مسلمان د نورو مسلمانانو سره برابر دی، که څه کم او زيات؟ چي دی سپک ګڼي. (۱۰۰۲/۴۲-۱۳۴۷ھ)

ځواب: کله چي کوم کافر مسلمان شو نو د مؤمنانو په ډله کي داخل شو او د "إنما المؤمنون إخوة" (سورة حجرات، آيت: ۱۰) په حکم کي شامل شو او د ټولو مسلمانانو په رنګه

---

(۱) د دغه حديث تخريج د سوال (۹۲۱) په جواب کي وشو. ۱۲

شو بلکه غوره شو(۱) و ده ته په سپک نظر کتل جائز نه دي.

د نوي مسلمان پس خورده خوړل جائز ده

سوال: (۹۳۲) یو سړي اسلام قبول کړی، لمونځ کوي، روژې نیسي او مسجد یې جوړ کړی دی، پکي پنځه وخته لمونځ کوي او د قرآن شریف تلاوت کوي، د داسي نوي مسلمان سره خوراک څښاک او د ده پس خورده خوړل څښل شرعًا جائز دي او کنه؟ که جائز دي نو کوم خلک چي د داسي نوي مسلمان سره پر خوراک کونکیو سختي کوي او پېغور ورکوي، د هغو په هکله څه حکم دی؟ (۱۳۳۵/۱۳۰۴هـ)

ځواب: د دغه نوي مسلمان سره خوراک څښاک او د ده پس خورده خوړل او څښل جائز دي، کوم خلک چي ورسره نه خوري او خوړونکیو ته پېغورورکوي، هغه ګنهکار او فاسقان دي، توبه دي وباسي. فقط

که بنګیان او نور ټیټ قومونه مسلمانان شي نو ورسره څه رویه کول پکار ده؟

سوال: (۹۳۳) ... (الف) که کوم کمزوری قوم لکه بنګیان او نور مسلمانان شي او خپله د پلار او نیکه پېشه پرېږدي نو د دوی سره خوراک، څښاک او په مسجد کي لمونځ کول او د دوی د مسجد سولاغه، رسی، کوزه او نور استعمالول څنګه دي؟

(۱۳۴۳/۷۸۳هـ)

(ب) څوک چي له دغه قومونو څخه هیڅ ډول پرهېز نه کوي، د دوی دا فعل څنګه دی؟ ثواب پکي شته او کنه؟

(ج) څوک چي د دغه قومونو سره له خوراک، څښاک او نورو پرهېز وکړي او په مسجد کي له اودس او نورو کولو څخه منع کړي، هغه د عذاب مستحقان دي او کنه؟

(د) د اسلامي مساوات او "إنما المؤمنون إخوة" (سورة حجرات، ایت: ۱۰) څه مطلب دی؟ څوک چي د دې په خلاف کوي او پخپل رسم او رواج اسلامي مساوات ماتول غواړي

---

(۱) ځکه چي د اسلام په وجه مخکنۍ ګناهوي معافیږي إن الإسلام یهدم ما كان قبله(الصحيح لمسلم: ۷۶/۱، کتاب الإیمان، باب کون الإسلام یهدم ما قبله)

د دوی په اړه څه حکم دی؟

(ه) د اسلامي احکامو و مخې ته رواجونه پرېښودل پکار دي او کنه؟ او کوم څوک چې پرېښودونکي منع کوي او په نه منلو ورسره ترک د موالات کوي. د رواجونو پابند کول يې غواړي نو هغه مستحقين د عذاب دي او کنه؟ (۱۳۴۳/۷۸۳هـ)

ځواب: (الف) تر اسلام راوړلو وروسته ټول قومونه د اتحاد او خپلوي په يو تار وپېيودل شي او د آيت "إنما المؤمنون إخوة" (سورة حجرات، آيـت: ۱۰) او حديث شريف: المسلم أخو المسلم(۱) په حکم ټول پخپل منځ کي ورونه ورونه شي، هيڅ ډول پرهېز له دوی څخه کول جائز نه پاتيږي، او د دوی سره خوراک څښاک او ناسته ولاړه ټول جائز او صحيح شي او د دوی په مسجدونو کي اودسونه کول او کوزې او نورو ته لاس وروړل او د دوی په سولاغه اوبه ډکول او په مسجدونو کي د جماعت په لمانځه کي برخه اخيستل ټول جائز دي.

(ب) د دوی دا فعل د اسلام د تعليم، د الله او د الله د رسول د حکم سره سم دی او دس لفو صالحينو د طريقې سره سم دی، دوی مستحقين د اجر او ثواب دي.

(ج) دا خلک ګنهکاران دي او د الله او د الله د رسول د حکم په خلاف کونکي دي.

(د) له پورته تفصيل څخه معلوم شو چي د "إنما المؤمنون اخوة" (سورة حجرات، آيت: ۱۰) په حکم کي ټول مسلمانان داخل دي، بلکه نوي مسلمانان زياتره تر زړو مسلمانانو زيات پاک شي، ځکه چي په اسلام راوړلو د دوی ټولي مخکني ګناهوي معاف شي او ټوله پليتي ځني ليري شي لکه چي په حديثو کي راغلي دي چي اسلام راوړل ټول ګناهونه محوه کوي(۲) لهذا کوم خلک چي مسلمانان شوي دي، د زيات تعظيم او اکرام وړ دي.

(ه) د شريعت د حکم و مخته رواج هيڅ شی نه دی، د رواج پابندي د شريعت د حکم په مقابل

---

(۱) د دغه حديث تخريج د سوال (۹۲۱) په جواب کي وشو. ۱۲

(۲) عن ابن شماسة المهري قال: حضرنا عمرو بن العاص و هو فى سياقة الموت يبكي طويلا ... قـال: أمـا علمت يا عمرو! أن الإسلام يهدم ما كان قبله و أن الهجرة تهدم ما كان قبلها و أن الحج يهدم ما كان قبلـه الحديث(الصحيح لمسلم: ۷۶/۱، كتاب الإيمان باب كون الإسلام يهدم ما قبله و كذا الحج و الهجرة)

جائز نه ده، قطعًا حرامه ده، د شرعي حکم په مقابل د رواج پرېښودل عین صواب او حق دی، له دوی ځخه په دې وجه مقاطعه کول چي دوی رواج پرېښودی او شرعي حکم یې عملي کړی، ناجائز او حرام دي.

د نوي مسلماني سره واده کونکی جرمانه کول

سوال: (۹۳۴) زید یوه نوي مسلمانه شوې ښځه په نکاح کړه، له دې ځخه لور پیدا شوه، اوس د هغه انجلۍ واده دی، د زید خپلوان وایي چي ترڅو زید د دې جرم په وجه چي ده د نوي مسلماني سره واده وکړی، و خپلوانو ته مېلمستیا ونکړي، تر هغو مور واده ته نه ورځو، شرعًا خپلوان دا حق لري او کنه؟(۱۳۴۰/۱۵۸۲هـ)

ځواب: شرعًا هیڅ حق د خپلوانو پر زید د بیان شوي کار په وجه د مېلمستیا نشته او پر زید باندي هیڅ جبر نشي کولای، نور نو که د خپلوانو د اتفاق ساتلو لپاره پخپله خوښي مېلمستیا وکړي نو دا هم څه پروا نلري او څه منع پکي نشته. فقط

د سپکو خلکو په اسلام قبلولو ورځخه کرکه کول

سوال: (۹۳۵) که کوم ځوک د کوم سپک او کمزوري قوم په اسلام قبلولو د کرکي ځرګندونه وکړي او منع کړي چي بنګیان جاروکښ او نور ذلیله خلک په اسلام کي مه پربږدئ، د داسي سړي په هلکه څه حکم دی؟ (۱۳۳۹/۱۷۹هـ)

ځواب: داسي سړی فاسق او ګنهکار دی.

بنګي له مسلمانولو وروسته ورسره نکاح کونکی له خپلوانو ایستل

سوال: (۹۳۶) ما یوه بنګۍ مسلمانه کړه، نکاح مي ورسره وکړه، کورنۍ زه جلا کړم او پخپلوانو مي نه ګډوي، شرعًا چي څه حکم وي، پرې خبر مي کړئ.

(۱۳۴۰/۲۳۲۱هـ)

ځواب: په دغه صورت کي سائل له کورنۍ ایستل جائز نه دي، سائل کوم ګناه نه

ده کړي، پر خپلوانو لازم دي چي سائل له کورنۍ جلا نکړي، کنې دوی ګنهکار دي فقط

سوال: (۹۳۷) هنده ښځه مسلمانه شوه، زید مسلمان په نکاح کړه نو آیا زید له اسلامه ووت؟ که کورنۍ دی جلا کړی نو څه حکم دی؟ (۱۳۴۳/۱۵۷۹هـ)

ځواب: ښځه چي کله مسلمانه شوه نو دا یو مخ پاکه کیوم ولدتها أمها شوه(۱) او لکه څنګه چي نور مسلمانان ښځي او نر سره ورونه او خوندي دي لقوله تعالی: "إنما المؤمنـــون إخوة" (سورة حجرات، آیت: ۱۰) داغه راز دغه ښځه اسلام قبلونکې په اهل اسلام کي داخله شوه، نو که زید د دغي نوي مسلماني ښځي سره نکاح وکړه نو شرعًا پر زید هیڅ ملامتیا نشته، نه دی له اسلامه وتلی دی او نه له خپلوانو وتلی دی، دی له کورنۍ ایستل او مقاطعه ورسره کول جائز نه دي، څوک چي داسي ورسره کوي، هغه فاسقان، عاصیان او ظالمان دي فقط

عیسائي ښځه له مسلمانولو وروسته ورسره نکاح کونکي سره اړیکي ساتل

سوال: (۹۳۸) زید نصرانیه مسلمانه کړه، په نکاح یې کړه، اوس د زید خپلوان وایي چي ته دغه ښځه طلاقه کړه، کنې موږ له تا څخه مقاطعه کړو، د زید د خپلوانو دغه فشار اچول جائز دی او کنه؟ (۱۳۳۸/۲۲۳هـ)

ځواب: که هغه نصرانیې واده کړی ؤ نو چي کله مسلمانه شي تر دریو حیضو تېرېدو وروسته کوم مسلمان ورسره نکاح کولای شي، له دې څخه مخکي نکاح صحیح نه ده او که د دې مخکي خاوند نه ؤ نو تر اسلام قبلولو سمدستي وروسته د دې سره د کوم مسلمان نکاح صحیح ده نو کومه نکاح چي زید مسلمان د دغه نوي مسلماني سره کړې ده، که د پورته بیان شوي شرعي قاعدې سره سمه ده نو د مسلمانانو د ده پر طلاق مجبورول او داسي فشار اچول جائز نه دي فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱)عن ابن شماسة المهري قال: حضرنا عمرو بن العاص و هو في سياقة الموت يبكي طويلا ... قال: أما علمت يا عمرو! أن الإسلام يهدم ما كان قبله و أن الهجرة تهدم ما كان قبلها و أن الحج يهـــدم مـــا كـــان قبلـــه الحديث(الصحيح لمسلم: ۷٦/۱، كتاب الإيمان باب كون الإسلام يهدم ما قبله و كذا الحج و الهجرة)

د ښځي او خاوند حقوق او احکام

د ښځو ناشکري او کفران د نعمت

سوال: (۹۳۹) دوه کاله کیږي چي زه او ښځه سره ناراض یو. لنډه دا چي دا پر بچیانو سرورکوي او د ایمان په مقابل کي اولاد ته ترجیح ورکوي، ما په مزدوري په زرګونو روپۍ ګټلي دي ته مي ورکړي دي، اوس مخامخ ما او زما بزرګانو ته ښکنځل کوي او بد وايي چي په دغه بې بخته کور کي ماته هیڅ نه دي رسېدلي. همېشه مي په مزدوري د بچیانو روزنه کړې ده، څکه دوو کلونو راهیسي د خپل پتواري زوی سره ده او څلور نابالغ زامن د دې سره دي، ما دې ته لمن نیوله، لنګوټه مي په پښو کي ورواچوله چي که زما قصور وي، معافي راته وکړه خو حمایت او اعتماد یې پر زامنو دی، خاوند پر هیڅ څه نه بولي او مقابله ورسره کوي؟ (۱۳۳۹/۱۸۰۸ھ)

ځواب: د ښځو دا ډول ناشکري او د نعمت کفران په حدیثو کي راغلی دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم د ښځو زیاتره و دوږخ ته د داخلېدو دا وجه بیان کړې ده چي ښځي ډېري احسان هېرونکي او د خاوندانو ناشکره وي، که همېشه د دوی سره احسان او ښېګړي وشي او یو وخت څه کمي راشي نو صفا دا خبره کوي چي موږ هیڅکله په دې کور کي آرام نه دی موندلی، دا مضمون د حدیث شریف دی(۱) نو ښکاره خبره ده چي په دې کي تخلف کله کېدلای شي؟ د زیاتره ښځو همېشه

---

(۱) عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: أریت النار فإذا أکثر أهلها النساء یکفرن، قیل: أیکفرن بالله؟ قال: یکفرن العشیر و یکفرن –

دا خوی وي او د ښځو لپاره دا سخته تنبیه او د خوف مقام دی، دوی باید د خپلو خاوندانو اطاعت وکړي، څه چې ورته ورسي، پر هغه دې شکر وکاږي او د شکوې او شکایت کوم چې د دوی جبلي خصلت دی، تر خپله وسه دې د اصلاح کولو کوشش کوي، د بچیانو سره دې د دوی درجې سره سم محبت او رویه کوي او د خاوند دې د ده د مرتبې سره سم اطاعت او فرمانبرداري کوي

الله تعالی فرمايي: "الرجال قوامون علی النساء" (سورة نساء، آیت: ۳٤) او فرمايي: "و للرجال علیهن درجة" (سورة بقره، آیت: ۲۲۸) او حدیثونه په دې اړه ډېر دي(۱) او په اولاد کې که څوک د خپلې مور نفقه ورکړي یا د وروڼو او خوندو سره ښه وکړي نو دا څه پروا نلري، دا ښه دي او د پلار غاړې په دې وجه نه دې بندي چې ښځه د ده سره نه اوسیږي او نافرمانه ده نو د دې خرڅ پر خاوند نشته، د نابالغ بچیانو خرڅ، روزنه، تعلیم، واده او نور بې شکه پر پلار دي لیکن چې کله پټواري زوی د دوی مصرف کوي نو له پلاره دا حق ساقط دی، که د کوم

= الإحسان لو أحسنت إلی إحداهن الدهر ثم رأت منک شيئا قالت: ما رأيت منک خيرا قط(اصحيح البخاري: ۹/۱، کتاب الإيمان، باب کفران العشير و کفر دون کفر)

(۱) عن انس رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: المرأة إذا صلت خمسها و صامت شهرها و احصنت فرجها و أطاعت بعلها، فلتدخل من أی ابواب الجنة شاءت. رواه ابونعيم في الحلية(مشکوة المصابيح، ص: ۲۸۱، کتاب النکاح، باب عشرة النساء، الفصل الثاني)

وعن ابي هريرة رضی الله عنه عن النبی صلی الله عليه وسلم قال: لو کنت آمر أحدًا أن يسجد لأحد، لأمرت المرأة أن تسجد لزوجها(جامع الترمذي: ۲۱۹/۱، ابواب الرضاع و الطلاق، باب ما جاء في حق الزوج علی المرأة)

و عن قيس بن سعد رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: ... لو کنت آمر أحدًا أن يسجد لأحد لأمرت النساء أن يسجدن لأزواجهن لما جعل الله لهم عليهن من الحق(سنن ابي داؤد، ص: ۲۹۱، کتاب النکاح، باب في حق الزوج علی المرأة)

د خیر د کار لپاره د وصیت کولو اراده وي نو د جائیداد تر دریمې پورې وصیت کولای شي، پاته دوه دریمې د وارثانو اولادو او زوجه لپاره پرېښودل ضروري دي، که ښځه کومې وجهې او شرعي عذره ښځه د خاوند نافرماني کوي او بد اخلاقي ورسره کوي او په کومو کارونو کې چې د خاوند خبره منل ضروري ده، په هغه کې خبره نه مني نو وبال د دې پر ښځه دی او په حدیث شریف کې راغلي دي چې له کومې ښځې څخه د دې خاوند ناراض وي، پر هغې د الله لعنت اوریږي(۱) الله دې مې حفاظت وکړي پر ښځه باندې د بچیانو په مقابل کې د خاوند حق زیات دی. فقط

تر ټولو خپلوانو له مخه د خاوند خبره منل ضروري ده

سوال: (۹۴۰) که د چا ښځه د دنیا په چارو کې د خپل خاوند نافرماني وکړي او د خاوند په مقابل د خپل ورور خوشحالول غواړي نو د دغه ښځې نکاح څنګه شوه؟

(۱۳۴۰/۸۳۱هـ)

ځواب: پر ښځه باندې د خپل خاوند اطاعت ضروري دی او د مور او پلار او ټولو خپلوانو تر اطاعت مقدم دی، تر دې چې په حدیث شریف کې راغلي دي: چې که له الله رب العزت پرته بل چاته سجده روا وای نو ښځې ته به حکم شوی وای چې خپل خاوند ته سجده وکړه(۲) لنډه دا چې دا د دې سخته غلطي ده چې د خاوند په مقابل کې ورور خوشحالوي، لیکن په نکاح کې څه فرق نه دی راغلی، دا ښځې ته په کار دي چې د خپل خاوند په اطاعت کې کمی و نکړي. فقط

د ښځې او خاوند حقوق او د ګناه په کار کې د خاوند خبره نه منل

سوال: (۹۴۱) د خاوند پر ښځه څه حق دی؟ او د ښځې پر خاوند څه حق دی؟ که خاوند و ښځه ته

---

(۱) عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إذا دعا الرجل امرأته إلى فراشه فلم تأته، فبات غضبان عليها لعنتها الملائكة حتى تصبح (الصحيح لمسلم: ۱/۴۶۴، كتاب النكاح، باب تحريم امتناعها من فراش زوجها)

(۲) عن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: لو كنت آمر أحدًا يسجد لأحد، لأمرت المرأة أن تسجد لزوجها(جامع الترمذي: ۱/۲۱۹، ابواب الرضاع و الطلاق، باب ما جاء في حق الزوج على المرأة)

ووايي چي ته بې پردې له کوره ووزه نو شرع د دې اجازه ورکوي او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۲۹۴هـ)

ځواب: کوم حقوق چي د خاوند پر ښځه دي او د ښځي پر خاوند دي الله تعالی اجمالاً په دغه آیت کي بیان کړي دي: "و لهن مثل الذی علیهن بالمعروف" (سورة بقـره، آیـت: ۲۲۸) یعني لکه څنګه چي پر ښځو د خاوندانو حقوق دي، داغه رنګه د ښځو حقونه پر خاوندانو دي، د شریعت سره سم دي هر یو د بل حق ادا کړي مثلاً پر خاوند دا حق دی چي ښځي ته به ډوډۍ، جامې او د هستوګني کور ورکوي، د دې حقونه به ادا کوي، بې ځایه به یې نه په تکلیف کوي او د شریعت په خلاف به کوم حکم نه ورته کوي او پر ښځه دا حق دی چي د خاوند اطاعت به کوي، نافرماني به نه کوي، لیکن د ګناه په کارونو کي به د ده خبره نه مني نو که خاوند ښځي ته له کوره د بې پرده وتلو وایي، په دې کي دې د خاوند خبره نه مني بلکه په دې کي د خاوند خبره منل ګناه او معصیت دی، په حدیث شریف کي راغلي دي: لا طاعة لمخلوق فی معصیة الخالق (الحدیث)(۱) او کما قال صلی الله علیه وسلم فقط

که ښځه د خاوند حق نه ادا کوي نو غاړي یې بندي دي

سوال: (۹۴۲) پر خاوند د ښځي او پر ښځه باندي د خاوند څه حقوق دي؟ که ښځه خاوند تر ځان مسکین وبولي، کور ته نه ورځي نو غاړي یې بندي دي او کنه؟
(۱۳۴۰/۴۴۰هـ)

ځواب: قال الله تعالی: "و لهن مثل الذی علیهن بالمعروف و للرجال علیهن درجة" (سـورة بقره، آیت: ۲۲۸) یعني پر نرو باندي د ښځو حقوق هم داسي دي لکه پر ښځو باندي چي د نرو دي او نرو لره پورته درجه شته پر ښځو باندي او درجه د دوی زیاته ده، لنډه دا چي پر نرو لازم دي چي د ښځو سره ښه رویه او د دوی حقوق ادا کړي او پر ښځو باندي د نرو حقوق ادا کول او اطاعت کول لازم دي او ښځه که د خاوند نافرماني وکړي نو غاړي یې بندي دي. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) عن النواس بن سمعان رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لا طاعة لمخلوق فی معصیة الخالق رواه فی شرح السنة(مشکوة المصابیح، ص: ۳۲۱، کتاب الإمارة و القضاء، الفصل الثانی)

له کومي ښځي چي خاوند ناراض وي د هغې يوه نيكي هم نه قبليږي

سوال: (۹۴۳) د هغه ښځي د لمانځه او روژې څه حکم دی؟ چي خاوند ته تکليف رسوي، د پلار کره او سيږي؟ (۱۳۴۰/۱۷۸۴هـ)

ځواب: د بخاري او مسلم روايت چي صحيح دی دا دی: إذا دعا الرجل امرأته إلى فراشه فأبت، فبات غضبان، لعنتها الملائكة حتى تصبح او يو روايت د بخاري او مسلم دا دی: و الذى نفسى بيده ما من رجل يدعو امرأته إلى فراشه فتأبى عليه إلا كان الذى فى السماء ساخطا عليها حتى يرضى عنها(۱) او د بيهقي په روايت کي دا هم راغلي دي چي کومي ښځي ته د دې خاوند غصه وي د هغې لمونځ نه قبليږي او هيڅ يوه نيکي د دې و اسمان ته نه خيږي يعني نه قبليږي(۲)

دیانةً پر ښه د کور کارونه کول لازم دي

سوال: (۹۴۴) يوه ښځه د کور له کارونو څخه انکار کوي، خاوند جبراً کار په کولای شي او کنه؟ کله چي دی مسکين سړی وي. (۱۳۴۳/۲۳۱هـ)

ځواب: خاوند په دې هکله ورباندي جبر نشي کولای ليکن ښځي ته پکار دي چي د کور کارونه وکړي، په تېره بيا چي د دې خاوند ناوسه وي، ځکه چي په در مختار کي ليکلي دي: چي که څه هم قاضي او حاکم ښځه نشي مجبورولای ليکن ديانةً پر ښځه د کور کار لازم دی، د درمختار

---

(۱) عن ابي هريرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إذا دعا الرجل الحديث (مشكوة المصابيح، ص: ۲۸۰-۲۸۱، كتاب النكاح، باب عشرة النساء و ما لكل واحد من الحقوق، الفصل الأول، صحيح البخارى: ۴۵۹/۱، كتاب بدء الخلق، باب ذكر الملائكة و الصحيح لمسلم: ۴۶۴/۱، كتاب النكاح، باب تحريم امتناعها من فراش زوجها)

(۲) عن جابر رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ثلاثة لا يقبل لهم صلاة و لا تصعد لهم حسنة: العبد الآبق حتى يرجع إلى مواليه فيضع يده فى أيديهم، و المرأة الساخط عليها زوجها و السكران حتى يصحو، رواه البيهقى فى شعب الإيمان(مشكوة المصابيح، ص: ۲۸۳، كتاب النكاح، باب عشرة النساء و ما لكل واحد من الحقوق، الفصل الثالث)

عبارت دا دی: و لا يجوز لها أخذ الأجرة على ذلک لوجوبه عليها ديانةً و لو شريفة لأنه عليه الصلاة و السلام قسم الأعمال بين علي و فاطمة رضى الله تعالى عنهما، فجعل أعمال الخارج على علي رضى الله تعالى عنه و الداخل على فاطمة رضى الله تعالى عنها مع أنها سيدة نساء العالمين، بحر(۱)

وفسق او فجور کونکي ښځي ته طلاق ورکول پر خاوند واجب نه دي

سوال: (۹۴۵) د ښځي او خاوند تر منځ اختلاف پیدا شو ښځي د بل چا سره ناروا اړیکي جوړي کړې، اوس خاوند نه دا ورغواړي او نه طلاق ورکوي، په داسي صورت کي باید څه وشي؟ (۱۳۴۲/۲۹۱۷هـ)

ځواب: مسئله دا ده چي ترڅو خاوند نه وي طلاقه کړې، تر هغو ښځه د بل چا سره نکاح نشي کولای او په در مختار کي دا هم لیکلي دي چي فاسقي او فاجري ښځي ته طلاق ورکول پر خاوند واجب نه دي(۲) بلکه ښځه که فسق او فجور کوي نو د دې غاړي بندي دي، دووث هغه څوک دی چي خپله ښځه او لور زنا ته امر کوي یا د دې په دا عمل راضي وي او نه يې منع کوي یا د روپیو په حرص داسي کوي(۳) نو کله چي خاوند داسي نه دي کړي نو شرعًا ده ته دووث نه ویل کیږي او د ښځي په ناوړه عمل پخپله د دې غاړي بندي دي. فقط

د خاوند خبره نه منونکي ښځي حکم

سوال: (۹۴۶) که کومه ښځه د خاوند بې اجازې د مور او پلار کره یا د کوم پردي

---

(۱) الدر المختار مع رد المحتار ۲/۷۰۴: كتاب الطلاق، باب النفقة، مطلب لا تجب على الأب نفقة زوجة ابنه الصغير. ط رشيديه

(۲) لا تجب على الزوج تطليق الفاجرة(الدر) و فى الشامي: و لا عليها تسريح الفاجر الا إذا خاف أن لا يقيما حدود الله، فلا بأس أن يتفرقا(الدر و الرد۲/۷۰۴ كتاب الحظر و الإباحة فصل فى البيع. ط رشيديه)

(۳) الديوث: هو الذى لا غيرة له ممن يدخل على امرأته، قال ابو حنيفة رحمه الله تعالى: امرأة خرجت من البيت و لا يمنعها زوجها فهو ديوث كذا فى دستور العلماء (قواعد الفقه، ص: ۲۹۷، الرسالة الرابعة: التعريفات الفقهية)

يا خپل كره ولاړه شي او سره د منع كولو د خاوند خبره نه مني د خاوند سره ژبه چلوي او نافرماني يي كوي د دې په هكله شرعًا څه حكم دى؟ (۱۳۴۲/۱۷۹هـ)

ځواب: پر ښځه لازم دي چي د خاوند خبره به مني، نافرماني كول او د شريعت سره سم د خپلوانو حكم نه منل سخته ګناه ده او كوم څوک چي په دې اړه د دې مرسته كونكي او همكاران دي، هغه ګنهكاران او ظالمان دي، قال الله تعالى: "فالصالحات قانتات حافظات للغيب بما حفظ الله" (سورة نساء، آيت: ۳٤) و قال الله تعالى: "و لهن مثل الذى عليهن بالمعروف و للرجال عليهن درجة" الآية (سورة بقره، آيت: ۲۲۸) ترجمه: او نيكي ښځي د خپلو خاوندانو اطاعت كونكي وي، د دوى په ناموجوديت كي د دوى د مال او نورو حفاظت د الله د حكم سره سم كوي الخ او لكه څنګه چي د ښځو حقوق پر خاوندانو شته داغه راز د خاوندانو حقوق پر ښځو شته او نارينه فضيلت لري پر ښځه باندي، پر ښځو باندي د دوى اطاعت فرض دى فقط

د فاحشه او بدچلنده ښځي حكم

سوال: (۹۴۷) يوه ښځه ډېره فاحشه او بدچلنده ده، كله چي يي زړه وغواړي، د خاوند د كوره وتښتي، شل پنځه ويشت ورځي وروسته بيا راشي، شرعًا د دې لپاره څه حكم دى؟ (۱۳۴۱/۱۲۵هـ)

ځواب: د فقهي په كتابونو كي دا ليكلي دي چي داسي فاسقي فاجري ښځي ته طلاق وركول واجب نه دي(۱) نو كه يي خاوند د ځانه سره ساتل وغواړي، ساتلاى يي شي، غاړي يي نه دي بندي او كه د حيا او شرم په وجه يي د ځان سره نه ساتي او طلاق وركوي نو داهم جائز دي فقط

بدچلنده ښځه وژل ډېر لوى جرم دى

سوال: (۹۴۸) د زيد او عمر ښځي بدكاري او بې شرمه دي، زيد خپله ښځه ووژله او عمر

---

(۱) لا يجب على الزوج تطليق الفاجرة (الدر) و فى الشامي: و لا عليها تسريح الفاجر إلا إذا خافا أن لا حدود الله، فلا بأس أن يتفرقا(الدر و الرد۵/۳۰۳ كتاب الحظر و الإباحة، فصل فى البيع. ط رشيديه)

خپله ښځه طلاقه کړه، په دغه صورت کې د زید فعل صحیح دی که د عمر؟ (۲۸۸۳/۱۳۴۳هـ)

ځواب: د زید لپاره شرعًا د وژلو هیڅ اختیار نه ؤ، د مسلمان ځان د الله په نزد ډېر قیمتي دی، شرعًا د زید د دغه جرم د معافۍ قابل نه دی او عمر چې څه وکړو خاص د شریعت سره سم او پر تجربه بنا دی، په داسې حال کې د نارینه همدا اختیار وي کوم چې عمر عملي کړی فقط

د شرابي خاوند پر جائیداد قبضه کول

سوال: (۹۴۹) یوه ښځه چې د لمانځه او د تهجدو پابندي کونکې ده، خاوند یې بې لمانځه او نشه کونکی دی، له ده څخه بېله شوه او د خاوند پر سرای او د کبنت پر ځمکه باندې یې د حکومت په وسیله قبضه وکړه، خاوند یې ځنې و ایستی، خاوند یې مجبور شو، بل ځای ته ولاړی، هلته مزدوري کوي، خپل ژوند تېروي، که کله د بچیانو او ښځې ملاقات ته راشي نو ښځه نه پخپله ملاقات ورسره کوي، نه بچیان د پلار ملاقات ته پرېږدي، په داسې صورت کې د خاوند اطاعت واجب دی او که نه؟ او د ښځې د خاوند پر مال قبضه او د هغه آمدني خوړل د غصب حکم لري او که نه؟ (۱۰۴۴/۱۳۳۷هـ)

ځواب: که خاوند په ګناهونو او شرابو او نورو کې مال ضائع کاوی، په دې وجه حکومت په اموالو کې له تصرف کلو څخه منع کړی چې د ده د ښځې او بچیانو حقوق ضائع نه شي نو د اسې حجر صاحبین جائز بولي او اهل ترجیح پر همدې باندې فتوی ورکړې ده نو په داسې صورت کې د ښځې قبضه چې د حکومت له خوا د اموالو او جائیداد د حفاظت او مال نه ضائع کېدو په وجه ورکوله شوه، د غصب قبضه نه ده، دا باید له ضروري نفقو پرته نور مصرفونه پکې ونکړي او که حکومت د مهر د پور په بدل دغه جائیداد و دې ته وراخیستی دی، په دې شرط چې هغه د غومره وي نو دا مالکه شوه، په دې صورت کې د دې تصرفات پکې صحیح دي او پر ښځه باندې د خاوند اطاعت لازم دی لیکن خاوند د ګناه حکم ورته وکړی او د شریعت په خلاف کار په کوي نو په دې کې اطاعت جائز نه دی، لأنه لا طاعة لمخلوق فی معصیة الخالق(۱) په شامي کتاب الحجر کې راغلي دي: قوله عندهما یحجر علی الحر بالسفه و الغفلة و به أی بقولهما یفتی

---

(۱) مشکوة المصابیح، ص: ۳۲۱، کتاب الإمارة و القضاء الفصل الثانی

صيانة لما له الخ أي العاقل البالغ، قال في الجوهرة: ثم اختلفا فيما بينهما. قال ابو يوسف: لا يحجر عليه إلا يحجر الحاكم و لا ينفک حتى يطلقه و قال محمد: فساده في ماله يحجره و إصلاحه فيه يطلقه إلخ(۱) فقط

د ښځې د هستوګنې ځای

سوال: (۹۵۰) زيد چې اصلاً د اودهـ او سيدونکی دی. د نوکرۍ په وجه د هند په وسط کې اوسيږي، زيد چې د نوکرۍ ځای ته ولاړی، په حيدرآباد کې يې هنده په نکاح کړه، د هندې پلار او ورونه هم د اودهـ او سيدونکي دي او په حيدرآباد کې د نوکرۍ په وجه موجود دي. په داسې صورت کې به زيد د احکم الحاکمين حکم "واسکنوهن من حيث سکنتم" (سورة طلاق، آيت: ۲) څنګه عملي کوي، د هندې دلته اوسول لازم دي؟ او شرعًا به محل د نکاح د زيد د هستوګنې ځای وي او کنه؟ د هدايې هغه دليل چې د باب حضانت په آخري فصل کې د کلي قاعدې په توګه بيان کړی دی، چيرې چې نکاح وي هم هلته د هغه د احکامو استيفاء ترون موندي الخ په دغه صورت کې پر خاوند لازم دي چې ښځه به د دې د مور او پلار د هستوګنې په ځای کې اوسوي، که څه مطلب دی؟ (۱۹۱۷/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: د آيت مطلب خو دا دی چې خاوندانو ته خطاب دی چې تاسو چيرې اوسيږئ هلته خپلې ښځې اوسوئ، د ښځې د پلار کره اوسولو په دې کې حکم نشته، نو که بالفرض حيدرآباد د ښځې د مور او پلار د هستوګنې لپاره د وطن په مثل وي نو خاوند ته د دې خبرې حکم نشته چې خپله ښځه د دې د مور او پلار د هستوګنې په ځای کې ووسوه، بلکه چيرې چې پخپله اوسيږي هم هلته يې ووسوه.

او د هدايې د باب الحضانة مسئله د مطلقې په اړه ده چې صغير اولاد مطلقه له خپل پلار څخه جلا د خپل هستوګنې په ځای کې د ځان سره کولای شي او کنه؟ په دې کې د نکاح د ځای مسئله رانقل کړې ده بيا يې وروسته ترجيح و لومړي قول ته ورکړې ده چې وطن ته يې بېولای شي غير وطن ته نه چيرې چې تزوج شوی دی او همدې ته يې اصح فرمايلي دي، حيث قال: وجه الأول أن التزوج في دار الغربة ليس التزاما

---

(۱) الدر المختار و رد المحتار ۱۰۳/۵ کتاب الحجر. ط رشيديه

للمكث فيه عرفا و هذا أصح إلخ(۱) فقط

آیا ښځه د خاوند بې اجازې د مور او پلار له کوره د بل قریب کره تللای شي؟

سوال: (۹۵۱) که منکوحه ښځې د پلار کره وي، دا د خاوند بې اجازې د بل کوم قریب کره تللای شي او کنه؟ (۱۸۲۲/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: که کوم شدید ضرورت وي نو تللای شي کنې د خاوند بې اجازې تلل ښه نه دي لیکن خاوند ته پخپله پکار دي چې زیاته سختي ونکړي، کله نا کله دې اجازه ورکوي. فقط

د خاوند بې اجازې د ورور واده ته تلل

سوال: (۹۵۲) زید په مزدورۍ پسې تللی ؤ، اخښی کور ته راغی خپلې خور ته یې وویل چې زما واده دی، راځه او اوس راځه، ځکه چې اخښی خو مانښام کور ته راځي، زه دومره انتظار نه شم کولای، د زید ښځه یې اجازې د خپل ورور واده ته ولاړه نو آیا په دغه صورت کې ګنهکاره ده او کنه؟ (۲۲۱/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: د زید ښځه په دغه صورت کې ګنهکاره نه ده، د صله رحمۍ په توګه ملاقات کول او د ورور کره تلل منع نه دي. فقط

---

(۱) و إذا أرادت المطلقة أن تخرج بولدها من المصر فليس لها ذلک، لما فيه من الإضرار بالأب إلا أن تخرج به إلى وطنها، و قد كان الزوج تزوجها فيه، لأنه التزم المقام فيه عرفًا و شرعًا، قال عليه الصلاة و السلام: من تأهل ببلدة فهو منهم، و هذا يصير الحربي به ذميا و إن أرادت الخروج إلى مصر غير وطنها و قد كان التزوج فيه، أشار في الكتاب إلى أنه ليس لها ذلک... وجه الأول أن التزوج الخ(الهداية: ۴۳۶/۲، کتاب الطلاق، باب حضانة الولد و من أحق به)

خاوند ښځه خپل وطن ته بېولای شي اوکنه؟

سوال: (۹۵۳) زید ښځه کوم شرط يوه انجلۍ په نکاح کړه، انجلۍ راواده شوه، کور ته راغله، څو ورځي وروسته انجلۍ د پلار کره ولاړه، اوس د دې مور او پلار دا غواړي چي زید خپله ښځه د دې د مور او پلار سره د دوی په وطن کي پرېږدي، خپل وطن ته يې نه بوزي، آيا زيد خپله ښځه د ځان سره وطن ته بېولای شي او کنه؟ (۱۳۳۵/۱۲۵۳هـ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: و يسافر بها بعد أداء كله مؤجلا و معجلا إذا كان مأمونا عليه و إلا يؤد كله او لم يكن مأمونا لا يسافر بها و به يفتى الخ(۱) د دې مطلب دا چي تر ټول مهر ادا کولو وروسته خپله ښځه په سفر بېولای شي، کله چي ښځي ته د خاوند له لوري د کوم تکليف رسولو انديښنه نه وي او که يې مهر نه دی ادا کړی يا اطمينان نشته نو نه يې شي بېولای. فقط

د خاوند د منع کولو باوجود که ښځه کومي ښادۍ ته ولاړه شي؟

سوال: (۹۵۴) کومه ښځه چي د خاوند منع کولو سره کومي ښادۍ ته لاړه شي، د هغې په هکله څه حکم دی؟ (۱۳۳۹/۲۰۹۹هـ)

ځواب: د ښځي لپاره د خاوند له رضا او اجازې پرته داسي جرأت نه دی کول پکار، او په تېره بيا د شرعي په خلاف مجلسونو کي ګډون نه دی پکار، ليکن که ښځي داسي وکړو نو په نکاح کي هيڅ فرق نه دی راغلی. فقط و الله تعالی اعلم

ښځه به په څو ورځو کي د پلار کره ځي او بيرته به راځي؟

سوال: (۹۵۵) پر ښځه باندي په څو ورځو کي د پلار کره تلل او بيرته راتلل واجب دي؟ (۱۳۳۸/۲۲۱۴هـ)

ځواب: داسي کارونه پخپله منځ کي په رضا سره فيصله کول او د اړتيا سره سم بايد د دواړي ډلي

---

(۱) الدر مع الرد۲/ ۳۹۰ كتاب النكاح، باب المهر، مطلب فى السفر بالزوجة. ط رشيديه

مساهلت او نرمي وکړي او روايتونه په دې هکله مختلف دي، په در مختار کي راغلي دي چي په هفته کي يو وار تللای شي، ليکن په شامي کي دي چي د عرف سره سم بايد عمل وشي او د فتنې او فساد پر مهال چي څنګه مصلحت وي، هغسي دي وکړي(۱)

د فتنې د انديښنې پر مهال ښځه د پلار کره نه پرېښودل جائز دي

سوال: (۹۵۶) که د ښځې مور او پلار او پلارګنۍ بد خصلته او فساديان وي، خپله انجلۍ نه را پرېږدي يا د بل ځای کولو د بدنيتي اراده وي نو که خاوند يې د پلار کره نه پرېږدي نو څنګه دي؟ (۱۳۳۸/۲۲۱۴هـ)

ځواب: په داسي حالت کي که خاوند خپله ښځه د فساد او فتنې د انديښنې په وجه د پلار کره نه پرېږدي نو صحيح دي. فقط

ښځه د پلار کره نه پرېښودل

سوال: (۹۵۷) يو سړی او د ده پلار خپله ښځه د پلار کره نه ليږي او مورنی رحم قطع کوي د پلارګنۍ سره اړيکي ساتلو څخه منع کوي، شرعًا په دغه صورت کي څه حکم دی؟ (۱۳۴۰/۲۰۷هـ)

---

(۱) و لها السفر و الخروج من بيت زوجها للحاجة و لها زيارة أهلها بلا إذنه ما لم تقبضه أى المعجل، فلا تخرج إلا لحق لها او عليها او لزيارة أبويها، كل جمعة مرة او المحارم كل سنة (الدر) و فى الشامى: قوله: (او لزيارة أبويها) سيأتى فى باب النفقات عن الاختيار تقييده بما إذا لم يقدر اعلى إتيانها و فى الفتح، أنه الحق قال: و إن لم يكونا كذالک ينبغى أن يأذن لها فى زيارتهما فى الحين بعد الحين على قدر متعارف أما فى كل جمعة فهو بعيد، فإن فى كثرة الخروج فتح باب الفتنة خصوصًا إن كانت شابة و الرجل من ذوى الهيئات (الدر و الرد۲/ ۳۹۰ كتاب النكاح، باب المهر مطلب فى منع الزوجة نفسها لقبض المهر. ط رشيديه)

و لا يمنعها من الخروج إلى الوالدين فى كل جمعة إن لم يقدر اعلى إتيانها على ما اختاره فى "الاختيار" (الدر مع الرد۲/ ۷۲۱ كتاب الطلاق باب النفقة. مطلب فى الكلام على المؤنسة. ط رشيديه)

ځواب: د خاوند لپاره دا جائز نه دي چې خپله ښځه د مور او پلار ملاقات ته نه پرېږدي او ور حم قطع کوي، که خاوند داسي وکړو نو ظالم او عاصي دی، لکه چې په در مختار او شامي کي راغلي دي: فلا تخرج إلا لحق لها او عليها او لزيارة أبويها كل جمعة مرة و هكذا في الشامي(١) فقط

سوال: (۹۵۸) عبد الحمید خپله ښځه د مور او پلار ملاقات لپاره نه پرېږدي، په دې هکله د شریعت څه حکم دی؟ (۱۳۴۳/۱۲۱۸هـ)

ځواب: شامي د در مختار پر دغه قول (فلا تخرج الا لحق لها او عليها او لزيارة ابويها كل جمعة مرة الخ) دا لیکلي دي: سيأتي في باب النفقات عن الاختيار تقييده بما إذا لم يقدرا على إتيانها و في الفتح: أنه الحق، قال: و إن لم يكونا كذالك ينبغي أن يأذن لها في زيارتهما في الحين بعد الحين على قدر متعارف: أما في كل جمعة فهو بعيد فإن في كثرة الخروج فتح باب الفتنة خصوصًا إن كانت شابة و الرجل من ذوي الهيئات(٢) (شامي)

له دغه عبارت څخه څرګند دي چې لومړی خبره خو دا ده که مور او پلار دې ته راتلای شي نو دوی دي پخپله راځي، ملاقات دي ورسره کوي او که داسي نه شي کېدلای نو کله نا کله دي خاوند ښځه د مور او پلار ملاقات لپاره لیږي، د هفتې او عشرې تخصیص نشته بلکه هر کله چې موقع وي او خاوند یې مناسب وبولي د ضرورت سره سمه دي لېږي نو په بیان شوي صورت کي پر عبد الحمید کومه مواخذه او د شرعي حکم په خلاف کولو الزام نشته فقط

سوال: (۹۵۹) ... (الف) خاوند خپله ښځه د مور او پلار کره صرف د ورځي پرېږدي، او دا ورته وایي چې هلته به شپه نه کوې، بیرته راشه

(ب) خاوند خپله ښځه د خپلو قریبانو او د دې د قریبانو کره یو مخ نه پرېږدي، آیا دا تاکید صحیح دی؟

(ج) خاوند خپله ښځه د خپلو قریبانو او د دې د قریبانو ملاقات ته پخپل کور کي پرېږدي د دوی کره یې نه پرېږدي. (۱۳۳۳-۳۲/۱۸۲۲هـ)

---

(١) الدر و الرد٢/٣٩٠ كتاب النكاح، مطلب في منع الزوجة نفسها لقبض المهر. ط رشيديه

(٢) الدر المختار و رد المحتار٢/٣٩٠ كتاب النكاح، مطلب في منع الزوجة نفسها لقبض المهر. ط رشيديه

ځواب: (الف) که خاوند داسي ورته ووايي نو ښځه بايد همداسي وکړي.

(ب) قطعي ممانعت صحيح نه دی، اما کله نا کله دي اجازه ورکوي زيات نه، او ښځه اجازې هم کله نا کله تګ صحيح دی ليکن که دوی پخپله راشي د خاوند په کور کي ورسره ملاقات وکړي نو دا ښه دي.

(ج) دا ښه دي ليکن که داسي نه وي نو کله نا کله د هلته تلو اجازه هم بايد ورکوله شي، افراط او تفريط ناخوښه کار دی.

ښځه که د خاوند سره د جګړې کولووروسته د پلار کره ولاړه شي او د پلار د خپلي لور طرفداري کول

سوال: (۹۲۰) ... (الف) که ښځه د خاوند سره جګړه وکړي. د پلار کره راشي او قصور هم د ښځي وي او پلار ورته پخپل کور کي د اوسېدو اجازه وکړي ګنهکار به وي او کنه؟

(ب) ښځه د خاوند څخه ناراضه شوه، د پلار کره او سيږي او د دې سبب د انجلۍ پلار دی نو دی هم د لعنت مستحق دی او کنه؟ (۱۳۴۰/۱۷۸۴هـ)

ځواب: (الف) بې شکه پلار ته داسي نه دي کول پکار او پلار که داسي وکړو نو ګنهکار دی.

(ب) دا منله شوې قاعده ده چي کوم څوک پر معصيت او ګناه همکار وي، هغه هم ګنهکار دی، په دغه قاعده که پلار د خپلي لور د خاوند په نافرماني کولو کي همکار وي نو دی هم ګنهکار دی. فقط

که ښځه د پلار کره پرده نه کوي نو خاوند يې له تګ څخه منع کولای شي او کنه؟

سوال: (۹۲۱) ... (الف) د يو مسلمان د ښځي مور او پلار په کلي کي اوسيږي، د هندوانو په رنګه د هغه ځای انجوني د پلار ګنۍ له کوم نارينه څخه پرده نه کوي، او س دغه سړی بايد خپله ښځه د پلار کره ولېږي او کنه؟

(ب) که ښځه بې د خاوند له خوښي د پلار کره ولاړه شي نو دا سړی د ښځي سره بايد څه وکړي؟ (۱۳۴۳/۲۰۰هـ)

ځواب: (الف-ب) په دغه صورت کي دا د مور او پلار و کور ته له تلو څخه مه منع کوي نور نو څومره چي شرعي حکم دی، هغه دي پوره کړي يعني کله چي يې لېږي پو هه دي کړي چي د شرعي په خلاف بې پردګي مه کوه، بيا هم که دا و نه مني نو د خاوند غاړي نه دي بندي، د ده کار صرف نصيحت کول دي. ليکن ښځه بايد د خپل خاوند اطاعت وکړي او د تلو پر مهال دي خاوند نه ناراضه کوي، که داسي وکړي نو غاړي د دې بندي دي. د خاوند غاړي نه دي بندي

د خاوند د وينا باوجوده پرده نه کونکي ښځي حکم

سوال: (۹۲۲) که ښځه د خاوند د خوښي پر خلاف له کوم نر څخه پرده نه کوي نو شرعًا د دې په اړه څه حکم دی؟ (۱۳۴۱/۲۵۳۴هـ)

ځواب: د خاوند کار وينا او نصيحت کول دي که دا نه مني نو ګنهکاره دا ده. فقط

و ښځي ته د خاله له خاوند څخه د پردې کولو ويل

سوال: (۹۲۳) که بکر خپلي ښځي ته ووايي چي ته د خپلي خاله له خاوند څخه پرده کوه نو بکر ته دا حق شته او کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۲۵۹۵هـ)

ځواب: بکر ته د داسي وينا حق شته (ځکه چي د خاله خاوند محرم نه دی) فقط

په بستره کي لوڅ ويدېدل او د کوروالي پر مهال خبري کول

سوال: (۹۲۴) په بستره کي لوڅ ويدېدل او د کوروالي پر مهال خبري کول څنګه دي؟ (۱۳۳۹/۱۲۲۸هـ)

ځواب: جائز دي مګر ښه نه دي فقط

د ښځي او خاوند د يو بل شرمګاه ته کتل

سوال: (۹۲۵) ښځه او خاوند قصدًا د يو بل شرمګاه ته کتلای شي او کنه؟

(۱۳۴۱/۲۲۰۷هـ)

ځواب: ښه نه دي. فقط

سوال: (۹۲۶) په یو سرای کي غسل خانه د پردې ده یعین له څلوور خاو د ہوال چت او یوه دروازه لري، په داسي پټه غسل خانه کي که ښځه او خاوند دواړه یو ځای لوڅ غسل وکړي نو شرعًا جائز دي او کنه؟ د خاوند د خپلي ښځي و فرج ته کتل لاس وروړل او مسه کول جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۲/۲۷۰۵ھ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: و ینظر الرجل الخ من عرسه و أمته إلخ إلی فرجها بشهوة و غیرها و الأولی ترکه لأنه یورث النسیان إلخ و فی الشامی قوله: (و الأولی ترکه) قال فی الهدایة: الأولی أن لا ینظر کل واحد منهما إلی عورة صاحبه لقوله علیه السلام إذا أتی أحدکم أهله فلیستتر ما استطاع و لا یتجردان تجرد العیر إلخ و عن ابي یوسف رحمه الله سألت ابا حنیفة عن الرجل یمس فرج إمرأته و هی تمس فرجه لیتحرک علیها، هل تر بذلک بأسا؟ قال: لا، و أرجوا أن یعظم الأجر. ذخیرة(۱) نو معلوم شو چي د دواړو لوڅ یو ځای غسل کول او و فرج ته کتل جایز دي مګر ښه نه دي او حدیث: و لا یتجردان الخ پر تنزیهي نهی محمول دي او د فرج او نورو مس جائز دی بلکه د اجر او ثواب باعث دی. کما قال الإمام الأعظم رحمه الله تعالی. فقط

د حاملې ښځي سره وطي کول

سوال: (۹۲۷) د بچي تر پیدا کېدو څو ورځي مخکي ښځي ته نه دي ورتلل پکار او څو ورځي وروسته؟ (۱۳۴۵/۱۳۲۱ھ)

ځواب: شرعًا د حاملې سره د بچي تر پیدا کېدو مخکي پوري وطي صحیح دي د منع کومه موده د دې لپاره نشته اما کوم وخت چي وطي د حمل لپاره مضر وبولي بیا ورته اختیار دی چي ترکي یې کړي او

---

(۱) الدر المختار و رد المحتار۵/۲۵۷-۲۵۹ کتاب الحظر و الإباحة فصل فی النظر و المس. ط رشیدیه

و عن عتبة بن عبد السلمی رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: إذا أتی أحدکم أهله فلیستتر و لا یتجرد تجرد العیرین(سنن ابن ماجة، ص: ۱۳۸، کتاب النکاح، باب التستر عند الجماع)

وروسته د نفاس د مودې (۱) تر پای ته رسېدو پوري کوروالی حرام دی. فقط

د بې لمانځه ښځي سره کوروالی کول

سوال: (۹۶۸) که ښځه لمونځ نه کوي او خاوند يې نېک او ديندار سړی وي، د دې سره په کوروالي خاوند ګنهکاريږي او کنه؟ (۱۳۴۵/۱۵۰۲ھ)

ځواب: نه فقط

و خاوند ته مولوي صاحب يا ملا صاحب ويل

سوال: (۹۶۹) ښځه که خاوند ته مولوي صاحب يا ملا صاحب ووايي نو څنګه دي؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۲۹۲ھ)

ځواب: صحيح دي. فقط

د ښځي د خاوند بې اجازې خيرات کول

سوال: (۹۷۰) ښځه د خاوند بې اجازې کوم شی صدقه يا هبه کولای شي او کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۹۶۲ھ)

ځواب: د وړی او نورو ناوسو ته ورکولای شي. فقط

د خاوند بې اجازې و چاته يو شی ورکول

سوال: (۹۷۱) ... (الف) ښځه که د خاوند بې اجازې و چاته يو شی ورکړي نو ښځه حرامي ګرځي او کنه؟

(ب) د خاوند د څومره شي اختيار ښځه لري؟

(ج) و خپل زوی ته د خاوند بې اجازې کوم شی ورکولای شي او کنه؟ کله چي خاوند منع

(۱) دلته د نفاس زياتره موده مراد نه ده. بلکه د نفاس بندېدو موده مراد ده چي د هري ښځي دا بېل وي. تر څلوېښت ورځي مخکي که نفاس بند شي نو له غسل وروسته خاوند وطي کولای شي. ۱۲ محمد امين پالن پوري

کړي (۱۳۳۹/۷۸۸هـ)

ځواب: (الف) په دې وجه ورته حرامي ویل غلط دي، مګر ښځي ته نه دي پکار چي د خاوند بې اجازې و چاته شی ورکوي، دا خیانت دی. فقط

(ب) بې له اجازې هیڅ اختیار نشته او عرفًا چي څومره اجازه وي، هغه هم اجازه ده.

(ج) نه دي پکار. فقط

د دوو ښځو تر منځ په زیور(ګڼه) کي د عدل کولو څرګندونه

سوال: (۹۷۲) یو سړی چي خپلي ښځي ته د کور د ټول زیور اجازه کړې ده چي استعمالولای شې، تاته اختیار دی اوس یې بل واده وکړی نو اوس د غه خاوند اختیار لري چي په د غه زېور کي نیم و دوهمي ښځي ته د استعمال لپاره ورکړي؟ که د دوهمي ښځي لپاره زیور اخلي نو داغه راز به د مخکنۍ ښځي لپاره هم اخلي او کنه؟ که څه هم د مخکنۍ ښځي سره هغه رنګه زیور له مخکي څخه وي؟ (۱۳۳۳-۳۲/۲۰۷۴هـ)

ځواب: صرف د استعمال په اجازه ښکاره خبره ده چي ښځه مالکه نه شوه بلکي مالک یې خاوند دی نو باید و دوهمې ښځي ته د دې مناسب ورکړي با نور زیور ور واخلي او د لومړۍ ښځي سره دي هم هغه مخکني زیوروي. [illegible] غې لپا[illegible] د نور راوړلو ضرورت نشته. فقط و الله تعالی اعلم

ښځه او خاوند یو بل په نامه بللای شي او کنه؟

سوال: (۹۷۳) که خاوند ښځه یا ښځه خاوند په نامه راوبولي نو خلګ دا عیب بولي، شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۳۳-۳۲/۲۱۲۸هـ)

ځواب: که خاوند ښځه یا ښځه خاوند په نامه راوبولي نو دا جائز دي، دا څه د عیب خبره نه ده اما په نامه رابللو کي یو ډول بې ادبي غوندي معلومیږي ځکه د ښځي لپاره د خاوند په نامه رابلل مکروه دي یا زوی

پر پلار په نامه رغ کوي.(۱) فقط

خاوند کوږ ته نه پرېښودل

سؤال: (۹۷۴) که ښځه و خاوند ته د خدای روی ونیسي چي ماته مه راځه، یا دې کور ته مه راځه حالانکه کور د دې د خاوند وي نو په داسي حالت کي شرعًا څه حکم دی؟ (۱۲۷۱/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: ښځه حق نلري چي خاوند له خپل کوره منع کړي او نه د خاوند لپاره د ښځي خبره منل ضروري ده، ښځه هیڅ اختیار نلري چي دا د خدای روی نیسي داسي وینا کوي، د دې لپاره داسي ویل صحیح نه دي. فقط

ښځه پر زنا مجبورول

سؤال: (۹۷۵) یو سړي خپلي ښځي ته د کوروالي لپاره بل سړی راولي خو ښځه آماده نه ده ځکه خاوند ورته وایي چي زه دي وژنم، ښځه څه وکړي؟ (۲۲۹۳/۱۳۳۷هـ)

ځواب: د ښځي لپاره په دې هکله د خاوند خبره منل جائز نه ده، یو مخ حرامه ده او څرنګه چي وي ښځه دي له دغه فعل څخه ځان بچ کړي، که خوف وي چي خاوند به مي مجبوره کړي یا به مي ووهي نو که له دغه ځایه وتلای شي، وتل صحیح دي. فقط

په جنت کي به ښځه د آخرني خاوند وي

سؤال: (۹۷۶) که د یو مسلمان په دنیا کي د خپلي ښځي سره داسي مینه وي چي د عشق تر درجې رسېدلي وي او د ده ښځه د الله په امر وفات شي نو آیا د دې خاوند دا یقین په زړه کي ساتلای شي چي دی به تر مرګ وروسته د آخرت په مقام کي د الله په حکم د خپلي ښځي سره ملاو شي او دوی به یو

(۱) و یکره أن یدعو الرجل أباه و أن تدعو المرأة زوجها باسمه (الدر مع الشامی۵/۲۹۷ کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی البیع. ط رشیدیه)

بل و پیژني؟ (۱۳۳۸/۴۴۵هـ)

ځواب: دا دواړي خبري په حديثو او فقهي روايتونو ثابتي دي يعني د مؤمنانو د ارواحو د يو بل سره ملاقات کول او پېژندل هم راغلي دي او دا چي ښځه د چا په نکاح کي وي وفات شي هغه به په جنت کي هغه خاوند ته ملاويږي. د لومړي خبري دليل د يو حديث شريف دا جمله ده: و يأتون به أرواح المؤمنين فلهم أشد فرحًا به من أحدكم بغائبه يقدم عليه فيسئلونه ماذا فعل فلان؟ الحديث(۱) د دې مطلب دا چي د مؤمن تر مرګ وروسته د ده روح د رحمت فرښتې د مؤمنانو ارواح ته وروړي، هغه چي ويني داسي خوشحاله شي لکه چي د چا خپل يا دوست چي غائب وي له سفره راشي بلکه تر دې هم زيات خوشحاله شي بيا له ده څخه دوی پوښتنه کوي چي فلانی څنګه دی؟ او فلانی څنګه دی؟ الخ او د دوهمي خبري دليل هغه روايت دی کوم چي شامي رانقل کړی دی: و لأنه صح الخبر بأن المرأة لآخر أزواجها: أی إذا مات و هی فی عصمته الخ(۲) د دې مطلب چي ښځه آخرني خاوند ته ورکوله کيږي يعني د مرګ تر وخته چي د چا په نکاح کي وه. فقط

د خاوند په اجازه ښځه د لنګي خدمت کولای شي

سوال: (۹۷۷) منکوحه ښځه د دايي کار کولای شي او کنه؟ يعني د ماشوم زيږيدو پر مهال صرف و لنګي ته کښېنستلای شي او که تر لسو ورځو پوري د لنګي خدمت هم کولای شي؟ (۱۳۳۸/۹۲۲هـ)

---

(۱)عن ابي هريرة رضی الله عنه أن النبی صلی الله عليه وسلم قال: إذا حضر المؤمن أتته ملائكة الرحمة بحريرة بيضاء فيقولون: اخرجی راضية مرضية عنک إلی روح الله و ريحان و رب غير غضبان، فتخرج كأطيب ريح المسک حتی أنه ليناوله بعضهم بعضا حتی يأتون به باب السماء فيقولون: ما أطيب هذه الريح التی جاءتكم من الأرض و يأتون به أرواح المؤمنون الحديث(سنن النسائی: ۲۰۳/۱، كتاب الجنائز، باب ما يلقی به المؤمن من الكرامة عند خروج نفسه)

(۲) الشامی۱/ ٦٤٤ كتاب الصلاة، باب صلوة الجنازة، مطلب: هل يسقط فرض الكفاية بفعل الصبی. ط رشيديه

ځواب: کومې ښځې چې دا کار کوي او په پوهیږي، د هغو لپاره شرعي منع نشته او منکوحه ښځه هم د خاوند په اجازه پخپله دا کار کولای شي او د لنګې خدمت په مزدوري کول لکه چې معروف دی، صحیح دی. فقط

د تهدیدولو لپاره څو ورځې کوروالی نه کول جائز دی

سوال: (۹۷۸) که ښځه د کور کار نه کوي نو کوروالی ورسره پرېښودل پکار دی او کنه؟ یا وهل پکار دي؟ که څه کول پکار دي؟ (۱۳۳۹/۱۴۸۳هـ)

ځواب: څو ورځې کوروالی او نور د تنبیه لپاره پرېښودل جائز دي. فقط

د ښځې د نافرمانۍ په وجه که خاوند زنا کوي نو غاړي د چا بندي دي؟

سوال: (۹۷۹) که د هندې د نافرمانۍ په وجه زید بل واده وکړي یا زنا او نوري کبیره ګناهوې وکړي نو شرعًا معذور دی او کنه؟ (۱۳۴۰/۴۴۰هـ)

ځواب: په دغه صورت کې عند الله زید معذور نه دی او په دغه ګناه د ده غاړي بندي دي او د هندې غاړې د خاوند په نافرمانۍ بندي دي. فقط

د بل سره تښتېدلې ښځه خاوند په کور کې پرېږدي او کنه؟

سوال: (۹۸۰) د زید ښځه هنده د بکر سره وتښتېده، له تلاش وروسته پیدا شوه اوس د زید سره او سېدل غواړي نو زید یې په کور کې پرېښودلای شي او کنه؟

(۱۳۴۰/۱۱۲۲هـ)

ځواب: د زید نکاح د هندې سره نه ده ماته شوې نو زید یې په کور کې پرېښودلای شي، هنده باید توبه وباسي او د زید سره هستوګنه اختیار کړي. فقط

په رڼا کې د ښځې سره کوروالی کول

سوال: (۹۸۱) د شپې په رڼا کې د ښځې سره کوروالی کول جائز دی او کنه؟

(۱۳۴۰/۱۲۲۴هـ)

ځواب: صحیح دی. فقط و الله تعالی اعلم

د خاوند خبره نه منونکي ته سزا ورکول

سوال: (۹۸۲) بکر خپله ښځه هنده د خپل سکه ورور سره ولېږله چې کله راوستلو لپاره ورغلی نو هندې د بکر سره له راتلو او ملاقات کولو انکار وکړی. د بکر کره نه راځي نو بکر و هنده ته څه سزا ورکولای شي؟ (۱۳۴۱/۹۷۲هـ)

ځواب: بکر که وس کولای شي نو جبرًا دې هنده کور ته راولي او د زید سره دې نه پرېږدي، بکر دا حق لري چې جبرًا هنده راولي او هنده د خپل خاوند بکر د نافرمانۍ په وجه سخته ګنهکاره ده او د سزا چې پوښتنه کړې ده نو بکر هیڅ سزا نشي ورکولای ځکه چې دی قاضي نه دی چې سزا جاري کړي. فقط

په دوهم واده د لومړۍ ښځې حقوق نه ساقطیږي

سوال: (۹۸۳) په دوهم واده کولو د خاوند پر لومړۍ ښځه کوم حق پاتېږي او کنه؟ د لومړۍ ښځې وارثان وایي چې ستا هیڅ حق پر لومړۍ ښځه نشته او د ده په وینا پرده مه کوه، شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۴۱/۹۹۲هـ)

ځواب: پر لومړۍ ښځه چې د خاوند کوم حقوق دي، په دوهم واده کولو هغه نه ساقطیږي او پر خاوند چې هم کوم حقوق د ښځې دي هغه هم نه ساقطیږي، خاوند باید د دواړو ښځو تر منځ عدل او مساوات کوي او هره ښځه دې د خاوند اطاعت کوي او پرده دې کوي. فقط

د خپلې ښځې زېور جبرًا اخیستل صحیح نه دي

سوال: (۹۸۴) د زید ښځه چې کله د ده له کوره د پلار کره تله نو زید په بل چا په زور زېور ځني وکښو، دا فعل څنګه دی؟ (۱۳۴۱/۱۴۷۳هـ)

ځواب: دا فعل دزید بد دی او د ښځې لوڅولو (بې پرده کولو) ګناه کې زید هم

شریک دی او کوم زېور چي د ښځي وا خیستل هغه هم غصب دی ځکه چي زېور د منکوحې ملک دی. که څه هم زید ولي نه وي ورکړي

په خسرګنۍ کي د اوسېدلو په شرط نکاح کول او شرط نه پوره کول

سوال: (۹۸۵) یو هلک واده وکړی خو په دې شرط چي د ښځي سره به د خسر کره اوسېږي او د هلک د برخي ځمکه و انجلۍ ته په مهر کي ورولیکله، اوس دا هلک د خسرګنۍ کره اوسېدل نه غواړي نو شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۴۱/۲۲۳۹ه)

ځواب: که هلک په خسرګنۍ کي نه اوسېږي نو شرعًا پر ده هیڅ جبر نشته، اما غوره دا دي چي که د ده کوم عذر نشته او مشکل نشته نو حتی الوسع دي کړې وعده پوره کړي لیکن که دا شرط پوره نه کړای شي نو هیڅ جبر ورباندي نشته او په نکاح کي هیڅ فرق نه راځي. فقط

سوال: (۹۸۶) بکر د خپلي خور خالدې نکاح د زید سره په دې شرط وکړه چي زید به زموږ کره اوسېږي، زید د بکر کره درې کاله تېر کړو، له دې وروسته ده خپله ښځه خالده راضي کړه، خپل کور ته یې راوستله، تر یو کال وروسته د ورور کره ولاړه چي کله زید د راوستلو لپاره ورغلی نو د بکر نه وه خوښه ځکه بې د بکر له خوښي خالده د زید سره نه راغله، آیا پر زید د شرط پوره کول لازم دي او کنه؟ زید د دغه شرط په نه پوره کولو ګنهکار دی او کنه؟ او د شرط نه پوره کېدو په وجه د خالدې نکاح ماته شوه او کنه؟ کله چي ښځه د خپل خاوند سره نه ولاړه نو ګنهکاره شوه او کنه؟ (۱۳۴۵/۸۲۳ه)

ځواب: د دغه شرط پوره کول پر زید لازم نه دي او زید ګنهکار نه دی او د دغه شرط نه پوره کېدو په وجه د خالدې نکاح نه ده ماته شوې او د زید ښځه د زید د خوښي په خلاف د ورور په کور کي اوسېدو او د زید سره نه تلو په وجه ګنهکاره شوه، پر دې د خپل خاوند زید اطاعت لازم دی

د خپل پلار له ترکې څخه خپله برخه راوړلو باندي ښځه مجبورول

سوال: (۹۸۷) یوې ښځي ته د خپل پلار په ترکه کي څه جائیداد او نور ورسېدل لیکن

دا وخت د کوم مصلحت په وجه دا د خپلو ورونو او نورو څخه تقسیم کول نه غواړي مګر د دې خاوند دا ډېره وهي، تکالیف د ګاللو نه دي چي ته خپله برخه ځني واخله ماته يې وسپاره نو د خاوند پر دې باندي ناروا فشار اچول او مال غوښتل څنګه دي؟ (۱۳۴۵-۴۴/۱۳۲ھ)

ځواب: د خاوند داسي زور کول حرام دي، د ده هيڅ حق نه جوړيږي چي پر خپله ښځه داسي فشار واچوي او وې وهي، که دی داسي کوي نو عاصي، فاسق او ظالم دی. فقط

د ښځي او خاوند يو بل ته ورور او خور ويل

سوال: (۹۸۸) هنده خپل خاوند په ورور ويلو رابولي او زيد خپله ښځه په خور ويلو رابولي، دا شرعًا څنګه دي؟ (۱۳۴۵/۱۴۳۵ھ)

ځواب: په دې سره نه طلاقيږي مګر داسي ويل مکروه دي. در مختار(۱) فقط

که ښځه د خاوند سره ځي نو موريې نشي منع کولای


سوال: (۹۸۹) يوه بالغه انجلۍ واده شوه، د خپل خاوند سره په اوسېدلو راضي ده ليکن د دې مور اجازه نه ورکوي چي همېشه به زما کره اوسيږي او وايي چي که مي زما لور له ما بېله کړه نو پر ما کونډه به ظلم وي، په داسي صورت کي خاوند د خپلي ښځي د خپل ځان سره اوسولو حکم او حق شته او کنه؟ (۱۳۴۷-۴۲/۱۴۵۰ھ)

ځواب: قال الله تعالی: "الرجال قوامون علی النساء بما فضل الله بعضهم علی بعض و بما انفقوا من أموالهم فالصالحات قانتات حافظات للغيب بما حفظ الله" (سورة نساء، آيت: ۳٤) له دغه آية څخه ښکاره دي چي نارينه پر ښځو حاکمان دي او دوی ته فضيلت حاصل دی او ښځي د دوی محکومي دي او د دوی محتاجي دي او د نارينه په ذمه خو د ښځو نفقه او مهر

---

(۱) و يکره قوله: أنت امي و يا ابنتي و يا أختي و نحوه(الدر المختار مع رد المحتار ۲/٦۲٦ کتاب الطلاق، باب الظهار، مطلب بلاغات محمد رحمه الله مسندة. ط رشيديه)

وي، ځکه پر ښځو د خپلو خاوندانو اطاعت او فرمانبرداري لازم ده او د دوی د مال او ابرو حفاظت واجب دی او د ښځي مور ته دا حق نشته چي دا له خاونده راوګرځوي او که خاوند د خپلي نوکری ځای ته بېول وغواړي او د ښځي خوښه وي نو مور ته د منع کولو هيڅ حق نشته او د مور دا وینا چي که مي دا زما څخه بېله کړه نو دا به پر ما ظلم وي، غلطه ده بلکه دا عدل دی چي خاوند خپله ښځه د ځان سره کړي او د دې حقوق ورادا کړي، په دې هکله د انجلۍ لپاره جائز نه دي چي د مور اطاعت وکړي چي د مور په وینا دا د خاوند کره او د خاوند سره نه ځي، ځکه چي اطاعت د خاوند په دې هکله واجب دی او موافقه او اتفاق تر خپل منځ ضروري دی او تفریق او مخالفت حرام دی. فقط و الله تعالی اعلم



د مور پلار او اولاد حقوق او احکام

د پلار ښځه سکه مور نه ده

سوال: (۹۹۰) یو سړی وایي چي مور هم هغه ده چي انسان ځني پیدا شوی وي او منکوحة الأب صرف تأدیبًا، تعظیما او حکما مور وي اصلي مور نه وي، دا خبره د ده صحیح ده او کنه؟ (۱۳۴۵/۲۸۵هـ)

ځواب: دا قول د ده صحیح دی او د قرآن د نص سره سم دی: "إن امهاتهم إلا التی ولدنهم" الآیة (سورة مجادله، آیت: ۲)

د دنیا په کارونو کي هم د مور او پلار اطاعت فرض دی

سوال: (۹۹۱) پر اولاد د مور او پلار اطاعت تر کومه ضروري دی؟ که مور او پلار خپل زوی د حکومت د اولسوال او نورو لپاره له ووټ استعمالولو څخه منع کړي نو پر هلک د مور او پلار حکم منل شرعًا ضروري دی او کنه؟ او څوک چي د عالم د دعوی کولو سره و مور او پلار ته په جواب کي دا ووایي چي د مور او پلار خدمت فرض دی اطاعت یې فرض نه دی، دا جواب صحیح دی او کنه؟ په دغه جواب کي هلک شرعًا ګنهکار دی او کنه؟ (۱۳۴۵/۹۴۵هـ)

ځواب: د کلي قاعدې په طریقه شرعي حکم دا دی چي پر اولاد د مور او پلار اطاعت په هر هغه کار کي چي ګناه نه وي، ضروري او فرض دی اما که مور او پلار د معصیت حکم وکړي نو بیې اطاعت مه کوي، لکه چي له آیت: "و إن جاهداک علی ان تشرک بی ما لیس لک به علم فلا

تطعهما و صاحبهما فی الدنیا معروفا" الآیة (سورة لقمان، آیت: ۱۵) څخه څرګند دي، ځکه چي په دې کي د "علی أن تشرک بی "الایة څخه معلومیږي چي له شرک او معصیت څخه پرته په ټولو مباحو امورو کي د مور او پلار اطاعت ضروري دی. تر دې چي علامه شامي رحمه الله را نقل کړي دي چي تر نفلي حج د مور او پلار اطاعت اولی دی أما حج النفل فطاعة الوالدین أولی مطلقًا کما صرح به فی الملتقط(۱) او په ډېرو صحیح حدیثونو کي د مور او پلار نافرماني ته کبیره ګناه او د مور او پلار اطاعت ته فرض فرمایلي دي لکه چي په صحیحینو کي حدیث دی: الکبائر: الإشراک بالله و عقوق الوالدین الحدیث(۲) او د ترمذي په حدیث کي راغلي دي: رضا الرب فی رضا الوالد و سخط الرب فی سخط الوالد(۳) یعني د الله تعالی رضا او خوشحالي د پلار په رضا او خوشحالي کي وي او د الله تعالی غصه او ناراضي د پلار په غصه او ناراضي کي وي، لنډه دا چي دغه ووټ ورکول کوم شرعي حکم نه دی او د مور او پلار د حکم په مقابل هیڅکله باید ووټ نه ورکول شي او نه پکي کوشش کول پکار دی، د مور او پلار چي لکه څرنګه خدمت فرض دی دا غه ډول یې اطاعت هم فرض دی، بلکه خدمت خو هغه وخت فرض ګرځي کله چي د دوی و خدمت ته ضرورت وي او بل کوم خدمت کونکی نه وي او اطاعت د مور او پلار په هر حال او هر وخت کي فرض او ضروري دی، پرته د معصیت له صورته چي په دې کي د هیچا اطاعت نشته کما ورد: لا طاعة لمخلوق فی معصیة الخالق(۴) نو دغه وینا د دغه دعوی کونکي د علم مطلقًا چي د مور او پلار خدمت فرض دی اطاعت یې فرض نه دی غلط ده، لکه چي تفصیل یې پورته معلوم شو، لنډه دا چي دغه نو موړی په دغه صورت کي د پلار حکم نه منلو په وجه عاصي او ګنهکار دی او څه عجبه خبره نه ده چي دغه معصیت او د پلار د حکم په خلاف کول د ده د نافرماني هغه حد ته ورسي کومه چي رسول الله صلی الله علیه وسلم په کبیره ګناهونو کي تر اشراک بالله وروسته

(۱) رد المحتار ۱۵۲/۲ کتاب الحج، مطلب فیمن حج بمال حرام. ط رشیدیه

(۲) عن عبد الرحمن بن ابي بکرة عن ابیه رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ألا أنبئکم باکبر الکبائر؟ قلنا: بلی یا رسول الله! قال الإشراک بالله و عقوق الوالدین الحدیث (صحیح البخاری: ۸۸۴/۲، کتاب الأدب، باب عقوق الوالدین من الکبائر)

(۳) عن عبد الله بن عمرو رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم: قال: رضا الرب الحدیث(جامع الترمذی: ۱۲/۲، ابواب البر و الصلة، باب ما جاء من الفضل فی رضاء الوالدین)

(٤) مشکوة المصابیح، ص: ۳۲۱، کتاب الإمارة و القضاء الفصل الثانی.

ذکر کړې ده، کما مر فی حدیث الصحیحین.

د مور او پلار او بچیانو حقوق څه دي؟

سوال: (۹۹۲) د مور او پلار په ذمه د بچیانو څه حقوق دي؟ او د بچیانو پر ذمه د مور او پلار څه حقوق دي؟ (۱۳۳۷/۲۳۸۲هـ)

ځواب: د بچیانو په ذمه د مور او پلار اطاعت خبر منښه او هر ډول خدمت او پوښتنه ده او د مور او پلار پر ذمه د بچیانو نفقه، تعلیم او تربیت او هر ډول خیرخواهي ده چي تفصیل یي معلوم او معروف دی. فقط

د مور او پلار حقوق پر زوی او لوریو رنګه واجب دي

سوال: (۹۹۳) د مور او پلار حقوق پر زوی او لور برابر واجب دي، که کم او زیات؟ (۱۳۳۲-۳۵/۲۹۳هـ)

ځواب: پر دواړو برابر دي، لعموم النصوص الواردة فی هذا الباب(۱)

د مور او پلار لږ سپکاوی او بې ادبي هم نه ده روا؟

سوال: (۹۹۴) یو مولوي صاحب په تقریر کي وویل چي د مور او پلار هیڅ حق پر اولاد نشته بلکه

---

(۱) "و قضی ربک الا تعبدوا إلا إیاه و بالوالدین احسانا اما یبلغن عندک الکبر احدهما او کلاهما فلا تقل لهما اف و لا تنهرهما و قل لهما قولا کریما" الآیة، (سورة بنی اسرائیل، آیت: ۲۳-۲٤) او "و وصینا الإنسان بوالدیه إحسانا" (سورة احقاف، آیت: ۱۵)

و عن ابي هريرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: رغم أنفه، ثم رغم انفه ثم رغم انفه، قیل: من یا رسول الله! قال: من أدرک والدیه عنده الکبر أحدهما او کلیهما، ثم لم یدخل الجنة(الصحیح لمسلم: ۲/۳۱٤، کتاب البر و الصلة و الأدب، باب فضل صلة أصدقاء الأب و الأم و نحوهما)

و عن ابي هريرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لا یجزی ولد والده إلا أن یجده مملوکا، فیشتریه فیعتقه (سنن ابي داؤد، ص: ٦۹۹، کتاب الأدب، باب فی بر الوالدین)

ده خپل مور او پلار په چوټو ووهل او ښکنځاوي ورته وکړي، ټول سامان او نور یې جبرًا ځني واخیستو، او له کوره یې و ایستو، په دغه مسئله کې شرعي حکم څه دی؟
(۱۳۳۷/۳۵هـ)

ځواب: د مور او پلار پر اولاد ډیر زیات حق دی او ډیر تعظیم او مینه ورسره کول لازم دي، لږ سپکاوی او بې ادبي هم د دیو ناروا ده، الله تعالی فرمایي: "و لا تقل لهما اف و لا تنهرهما و قل لهما قولا کریما" الآیة (سورة بني اسرائیل، آیت: ۲۳-۲٤) ترجمه: و مور او پلار ته اف هم مه وایاست او مه یې زهیره وي، او د دوی سره خبره په تعظیم او درناوي کوئ او د دې مخته دا فرمایلي دي چې د دوی مخته ذلیله شئ او ټیټ شئ او په حدیث شریف کې راغلي دي: چې مور او پلار ستاسو جنت دی یا دوزخ(۱) یعني که د دوی اطاعت کوئ او دوی خوشحاله ساتئ نو جنت ته به ځئ او که دوی ناراضه کوي او د دوی نافرماني کوي نو دوزخ ته به ځئ. فقط

د پلار وهونکیو او ښکنځل ورته کونکیو زامنو حکم

سوال: (۹۹۵) زید د کښت او کرنې ځمکې لري، دوه زامن هم په کور کې ورسره اوسیږي، ناڅاپه د زید او د ده د زامنو داسې اختلاف پیدا شو چې زید ته ناوړه الفاظ او ښکنځل وکړو او وې واهی، د زید بزګران یې خطا ایستو چې روپۍ نه ورکوي، په هر صورت زید مجبور او تنګوي او س دوی دا غواړي چې زید له خپل جائیداد څخه د محکمې په وسیله لیرې کړي، پخپله انتظام په لاس کې واخلي، دا کار د زامنو جائز دی او که نه؟ آیا دوی داسې کولای شي؟ او آیا پر زید د ده د نافرمانه زامنو نفقه واجب ده؟
(۱۳۴۷-۴۲/۳۴۱۰هـ)

ځواب: کله چې د جائیداد مالک زید دی نو د ده د زامنو لپاره شرعًا یو شی هم نشته (یعني زامن د پلار د جائیداد مالکان نه دي) او بې له اجازې د پلار زامن هیڅ تصرف او انتظام

---

(۱) عن ابي أمامة رضی الله عنه قال: أن رجلا قال: یا رسول الله! ما حق الوالدین علی ولدهما؟ قال: هما جنتک و نارک. رواه ابن ماجة (مشکوة المصابیح، ص: ٤۲۱، کتاب الآداب، باب البر و الصلة الفصل الثالث)

د پلار د جائیداد په اړه نشي کولای، که چیري دوی دواړه د زید په جائیداد کي تصرف وکړي، د کرایو او نورو اخیستلو نو هغه تصرف شرعًا نه نافذیږي، ځکه چي د بل په ملک کي و بل چاته د تصرف کولو اختیار شرعًا او قانونًا نشته، لهذا د زید زامن زید له خپل جائیداده نشي لیري کولای او پخپله یې په لاس کي نشي اخیستلای او کله چي د زید دواړه زامن تکړه روغ جوړ پر ګټه کولو قدرت لرونکي دي، لکه چي د پلار په وهلو او ښکنځل ورته کولو څخه چي څرګند دي نو نفقه د دوی پر زید واجب نه ده، که د چا ځوان زوی عاجز وي، پر ګټه کولو قدرت ونلري، معذور وي، د هغه نفقه پر پلار واجب ده، په در مختار کي راغلي دي: و كذا تجب لولده الكبير العاجز عن الكسب الخ(۱) او د زید دواړه زامن و زید ته د تکلیف رسولو په وجه سخت ګنهکار او فاسقان فاجران او ظالمان دي، که دوی له خپلي ګناه او ظلم څخه توبه نه وباسي او له پلاره معافي و نه غواړي او د پلار اطاعت ونکړي نو له خپلوانو یې وباسي، مسلمانان باید اړیکي ورسره قطع کړي، الله رب العزت په قرآن شریف کي د مور او پلار د اطاعت او د دوی د خوشحاله ساتلو ډېر تأکید فرمایلی دی، بلکه و دوی ته له اف ویلو څخه هم منع کړې ده كما قال الله تعالى: "فلا تقل لهما اف و لا تنهرهما و قل لهما قولا كريما و اخفض لهما جناح الذل من الرحمة و قل رب ارحمهما كما ربياني صغيرا" الآية (سورة بني اسرائيل، آيت: ۲۳) فقط

مور او پلار ته ښکنځل کول او وهل حرام دي

سوال: (۹۹۲) د زید دوه زامن دي خالد او ولید بېله شرعي عذر زید ته ښکنځل کوي او وهي یې، شرعًا د خالد او ولید په هکله څه حکم دی؟ (۱۳۳۷/۴۴۰هـ)

ځواب: قال الله تعالى: "و لا تقل لهما اف" (سورة بني اسرائيل، آيت: ۲۳) یعني و مور او پلار ته اف هم مه وایاست، نو دوی وهل او ښکنځل ورته کول قطعًا حرام دي او داسي اولاد د والدین د عقوق په سخت جرم کي ګرفتار دي، له دې څخه توبه ایستل او له دوی څخه معافي غوښتل پر دوی لازم دي. فقط

(۱) الدر مع الرد۲/ ۷۳۰ كتاب الطلاق، باب النفقة مطلب: الكلام على نفقة الأقارب. ط رشيديه

د محتاج مور او پلار نفقه پر اولاد واجب ده

سوال: (۹۹۷) له خپلي کتي څخه و مور او پلار ته څه ورکول کېدلای شي او کنه؟ که مور او پلار محتاج وي نو اولاد مقدم دی که مور او پلار؟ (۳۲/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: مور او پلار که محتاج وي نو د دوی خرڅ او نفقه پر زوی واجب ده نو خپلو بچیانو ته به یي هم ورکوي او مور او پلار ته هم، د ټولو نفقه پر ده لازمه ده. و تجب علی موسر الخ النفقة لأصوله ... الفقراء و لو قادرین علی الکسب الخ(۱) (در مختار) فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۹۹۸) د زوی په کته کي د مور او پلار څه حقوق باید وي؟ (۹۵۵/۴۴-۱۳۴۵ھ)

ځواب: په حدیث شریف کي راغلي دي: أنت و مالک لأبیک(۲) نو مور او پلار که محتاج وي پر زوی باندي نفقه لازمه ده او د دوی خدمت واجب دی. فقط

د پلار کومک کول تر نفلي عبادت افضل دی

سوال: (۹۹۹) زید ډېر زیات پوروړی دی، یو زوی یې ډېر متقي، عابد او زاهد دی لیکن هغه د خپل پلار د مور هیڅ خیال نه ساتي، که ده ته د نوکری او نورو وویل شي نو دی په خبسم شي وایي زه جلا کېږم او زیاتره وخت په نفلونو، روژو او نورو کي تېروي، د پلار حالت یې ډېر خراب دی، اوس د پوښتني وړ خبره دا ده چي آیا په داسي وخت کي دی باید د خپل پلار سره کومک وکړي، که په نفلونو او نورو کي وخت تېروي؟ او د ده دا ډول و پلار ته په خبسم کېدل څنګه دي؟ (۹۱۲/۴۴-۱۳۴۵ھ)

---

(۱) الدر المختار مع الشامي ۷۳۵/۲ کتاب الطلاق، باب النفقة، مطلب فی نفقة الأصول. ط رشیدیه

(۲) عن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده رضی الله عنه قال: جاء رجل إلی النبی صلی الله علیه وسلم، فقال: إن ابی اجتاح مالي، فقال: أنت و مالک لأبیک، و قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: إن اولادکم من أطیب کسبکم فکلوا من أموالکم (سنن ابن ماجة، ص: ۱۶۶، ابواب التجارات، باب ما للرجل من مال ولده)

ځواب: د مور او پلار حقوق لا تعد و لا تحصى (بېشمېره) دي. د دې خيال سائل پر هر اولاد لازم دي، پر زيد فرض دي چي په هر حال کي د خپل پلار اطاعت وکړي. په تېره بيا چي محتاج او کثير العيال دی نو ضروري ده چي په هر مشکل کي ورسره همکاري وکړي، د ده لپاره د پلار خدمت او اطاعت تر هر څه افضل عبادت دی، د اسلامي فرائضو تړون لکه څرنګه چي د لمانځه او روژې څخه دی، داغه راز د مور او پلار د اطاعت سره هم دی نو له ضروري عبادت پرته د پلار سره په هر کار کي همکاري او مرسته پکار ده، دغه لمونځونه او روژې هم هغه وخت سړي ته په ښه راځي چي په حقوق العباد کي غفلت نه وي، لنډه دا چي پر زيد د خپل پلار اطاعت او مرسته او په هر مشکل کي د ده همکاري کول ضروري ده، بر الوالدين افضل مما تلقى الله به بعد التوحيد و قد قال النبي صلى الله عليه وسلم: بر الوالدين افضل من الصلاة و الصوم و الحج و العمرة و الجهاد فى سبيل الله يعني النوافل ذكره الإمام رحمه الله(۱) (شرعة الاسلام) داغه راز د پلار سره سختي خبري يا په ترېو تندي ورسره رويه کول او خښم ورته کول ګناه ده، قال الله تعالى: "فلا تقل لهما أف و لا تنهر هما" الآية (سورة بني اسرائيل، آيت: ۲۳) فقط

پلار چي د کوم کار حکم کوي مور له هغه څخه منع کوي نو اولاد اطاعت د چا وکړي؟

سوال: (۱۰۰۰) د زيد پلار د زيد مور طلاقه کړې ده، له عدې وروسته مور بل خاوند وکړی، د زيد پلار چي و زيد ته د کوم کار کولو حکم کوي، د ده مور يې له هغه کار څخه منع کوي، يا د دې عکس معامله وي، که زيد د يو اطاعت کوي نو د بل نافرماني پکي راځي نو زيد د چا خبره ومني او د چا دا نه؟ (۱۳۳۵/۷۱۲هـ)

ځواب: د ګناه په کار کي د مور او پلار اطاعت نشته لکه چي راغلي دي: لا طاعة لمخلوق فى معصية الخالق(۲) نو کله چي پلار يا مور لومړی د کوم کار حکم وکړي چي د شرعي سره سم

---

(۱) شرح شرعة الإسلام، ص: ۴۷۹، فصل فى حقوق الوالدين و السنة فى إقامتها، المطبوعة: دار الطباعة العامرة.

(۲) مشكوة المصابيح، ص: ۳۲۱، كتاب الإمارة و القضاء، الفصل الثاني

دی او څه ګناه پکې نشته نو د هغه په خلاف چې بل د ضد په وجه حکم وکړي، هغه پر ضد او نفسانیت بنا کېدو په وجه معصیت دی، لهذا د دغه دوهم اطاعت مه کوئ، یا داسي فیصله وکړئ چي د چا حکم په دوی دواړو کي د شرعي سره سم وي، هغه وکړئ، او د چا حکم چي د شرعي په خلاف وي، هغه مه کوئ او حتی الوسع د یو په حکم بل مه خبروئ، کله چي د دوی تر منځ اختلاف او عداوت دی. فقط

د پلار سره په اړیکي ساتلو مور ناراضه کیږي نو زوی څه وکړي؟

سوال: (۱۰۰۱) بکر ښځه طلاقه کړه، د دې ښځه یو زوی عمر ؤ، هغه د مور سره او سیدی او س چي ځوان شو نو د پلار سره اړیکي ساتي خو مور یې ناراضه کیږي، آیا دی د خپلي مور خبره ومني، که د پلار سره اړیکي وساتي؟ (۱۳۳۷/۲۲۷۲هـ)

ځواب: دی دي د خپل پلار سره ضرور ملاقات کوي او اطاعت دي کوي، په دې اړه دي د مور د خبري پروا نه کوي، ځکه چي په حدیث کي راغلي دي: لا طاعة لمخلوق فی معصیة الخالق(۱) فقط

که د پلار د حکم پوره کولو څخه زوی عاجز وي؟

سوال: (۱۰۰۲) که پلار په خپل زوی د کوم داسي کار کولو ضد وکړي چي پر کولو یې زوی قدرت نه لري، په همدې وجه پلار ځني ناراض شي نو په داسي صورت کي زوی ګنهکار دی او کنه؟ (۱۷۷۰/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: د کوم کار له کولو چي هلک عاجز دی، د هغه په نه کولو نه ګنهکاریږي او د پلار نافرمان نه بلل کیږي او په دې وجه د ده هیڅ غاړي نه دي بندي، "لا یکلف الله نفسا إلا وسعها" الآیة (سورة بقره، آیت: ۲۸۶)

وزوی ته د تکلیف رسونکي پلار اطاعت بیا هم کول پکار دي

سوال: (۱۰۰۳) زید و خپل زوی عمر ته ډېر تکلیف رساوی، په دې وجه عمر د خپلي انا (د مور له مور) سره

---

(۱) مشکوة المصابیح، ص: ۳۲۱، کتاب الإمارة و القضاء، الفصل الثاني

او سیدی، هم هلته لوی شو، اوس د عمر سره روپۍ دي او زید ده ته اوس هم تکلیف رسوي نو په داسي صورت کي به عمر خپلي انا ته خرڅ ورکوي، که خپل پلار زید ته؟ زید د عمر له نکاح کولو څخه انکار کوي؟(۹۰۹/ ۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: عمر ته د پلار اطاعت کول پکار دي، که څه هم پلار تکلیف ور رسوي نور د خرڅ په اړه دا حکم دی چي که پلار و خرڅ ته اړ نه وي، دی خپله ګټه لري او عمر و خرڅ ته اړ وي او د ده انا هم اړه وي نو عمر دي خپل او د انا خرڅ کوي او د خپلي نکاح بندوبست دي وکړي، زید چي کله و خرڅ ته نه دی اړ نو وده ته په خرڅ نه ورکولو عمر نه ګنهکاریږي لیکن داغسي پر عمر لازم دي چي د زید اطاعت دي کوي، د ده سره دي اختلاف او مقابله نه کوي(۱) فقط

د مور او پلار حق زیات دی که د استاذ؟

سوال: (۱۰۰۴) په خدمت کي د مور او پلار حق زیات دی که د استاد؟(۱۲۹۲/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: د مور او پلار حق زیات دی.

سوال: (۱۰۰۵) په شریعت کي د مور او پلار حق زیات دی که د استاد؟(۱۰۹/۴۲-۱۳۴۷ھ)

ځواب: په شامي پنځم ټول کي راغلي دي: و قال الزندویسي: حق العالم على الجاهل و حق الأستاد على التلميذ و احد على السواء إلخ و حق الزوج على الزوجة أكثر من هذا إلخ(۲) د دې خلاصه دا ده چي د عالم حق پر جاهل باندي او د استاذ حق پر شاګرد باندي برابر دی او د خاوند حق پر ښځه باندي تر دې زیات دی او ښکاره خبره ده چي د مور او پلار حق تر دې زیات دی نو معلوم شو چي د مور او پلار حق په دې حیثیت زیات دی، که څه هم په ځینو حیثیتونو د استاذ حق زیات وي. فقط

---

(۱) عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من أصبح مطيعًا لله في والديه أصبح له بابان مفتوحان من الجنة، و إن كان واحدًا فواحدًا و من أصبح عاصيا لله في والديه أصبح له بابان مفتوحان من النار، إن كان واحدًا فواحدًا، قال رجل: و إن ظلماه؟ قال: و إن ظلماه، و إن ظلماه، و إن ظلماه (مشكوة المصابيح، ص: ۴۲۱، كتاب الآداب، باب البر و الصلة الفصل الثالث)

(۲) الشامي ۵/۵۳۳ كتاب الخنثى، مسائل شتى قبيل كتاب الفرائض. ط رشيديه

د موراو پلار خدمت مقدم دی که د استاذ او پیر؟

سوال: (۱۰۰۲) په خدمت کي د موراو پلار رتبه زياته ده که د استاذ او پير؟ (۱۳۳۳-۳۲/۲۱۷۵ھ)

ځواب: د موراو پلار خدمت ته د پير او استاذ پر خدمت ترجيح شته مګر احترام د دوی هم لازم دی و هو أن لا يفتح الكلام قبله، و لا يجلس مكانه و إن غاب و لا يرد عليه كلامه، و لا يتقدم عليه فی مشيه الخ(۱) فقط

آيا د پير حقوق تر موراو پلار زيات دي؟

سوال: (۱۰۰۷) آيا د پير حقوق تر مور او پلار زيات دي که مور او پلار بچيانو ته داسي حکم وکړي چي د شرعي خلاف نه وي نو آيا پر بچيانو واجب دي چي دوی د مور او پلار حکم د پير په وينا رد کړي؟ (۱۳۴۰/۱۳۰۴ھ)

ځواب: د موراو پلار حقوق زيات دي نو د موراو پلار چي کوم حکم د شرعي خلاف نه وي، هغه د پير په وينا مه ردوئ فقط

ترورور او خور د موراو پلار درجه زياته ده

سوال: (۱۰۰۸) د موراو پلار درجه زياته ده که د وروراو خور؟ (۱۳۴۳/۱۲۱۷ھ)

ځواب: ترټولو لوړه درجه د موراو پلار ده او د ټولو درجه علی فرق المراتب تر مور او پلار کمه ده. فقط

د مور نافرماني کونکی او مورته تکليف رسونکی زوی به جنت ته نه ځي

سوال: (۱۰۰۹) زما زوی نور عالم ما زهيروي او زما نافرماني کوي، د ده په هکله

---

(۱) رد المحتار۵/۵۳۳ كتاب الخنثى،مسائل شتى، قبيل كتاب الفرائض. ط رشيديه

څه حکم دی؟ (۳۱۱/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: د مور اطاعت په هغه کارونو کي چي معصیت نه وي لازم دی او پر زوی د مور او پلار تعظیم او ادب واجب دی، څوک چي د مور نافرماني کوي او هغې ته تکلیف رسوي، هغه فاسق او عاصي دی. قال الله تعالی: "فلا تقل لهما أف و لا تنهرهما و قل لهما قولا کریما" (سورة بني اسرائيل، آیت: ۲۳) دی باید توبه وباسي او له مور څخه معافي واخلي، په حدیث شرف کي راغلي دي چي د مور په خدمت او اطاعت جنت موندل کیږي او څوک چي د مور او پلار نافرمان او عاق دی، هغه به جنت ته نه ځي(۱) الله دي مي حفاظت وکړي او مېچیانو ته دي د مور او پلار د اطاعت توفیق ورکړي.

جنت که رضائے مادراں است

اندر تہ پائے مادراں است (۲)

د پلار سره جګړه کونکی معافي څنګه وغواړي؟

سوال: (۱۰۱۰) بکر د خپل پلار سره جنګ وکړی او پر پلار باندي زیاتوب وکړی او بې ادبي یې وکړه نو په داسي صورت کي پر بکر کوم تاوان راځي؟ (۷۲۱/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: په دغه صورت کي پر بکر نور هیڅ تاوان نشته، توبه دي وباسي، له پلاره دي معافي وغواړي، دا بس دي. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱)عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من أصبح مطیعًا لله في والدیه أصبح له بابان مفتوحان من الجنة، و إن کان واحدًا فواحدًا و من أصبح عاصیا لله في والدیه أصبح له بابان مفتوحان من النار، إن کان واحدًا فواحدًا، قال رجل: و إن ظلماه؟ قال: و إن ظلماه، و إن ظلماه، و إن ظلماه (مشکوة المصابیح، ص: ۴۲۱، کتاب الآداب، باب البر و الصلة الفصل الثالث)

(۲) ترجمه جنت چي زموږ رضا هم په ده کي ده، هغه د مندو تر پښو لاندي دی.
عن معاویة بن جاهمة السلمی رضی الله عنه أن جاهمة جاء إلی النبی صلی الله علیه وسلم، فقال: یا رسول الله! أردت أن أغزو و قد جئت أستشیرک فقال: هل لک من أم؟ قال: نعم، قال فالزمها فإن الجنة تحت رجلیها (سنن النسائي: ۴۴/۲، کتاب الجهاد، الرخصة في التخلف لمن له والدان)

که مور او پلار ناراض وفات شوي وي نو د معافۍ به څه طریقه وي؟

سوال: (۱۰۱۱) د یو سړي مور او پلار له ده ناراض وفات شوي دي، له مرګه وروسته شرعًا د معافۍ کوم صورت کېدلای شي او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۷۱۹هـ)

ځواب: د مغفرت دعا دي ورته کوي، د قرآن د تلاوت او صدقه و خیرات ثوابونه دي وربخښي اول خو دي توبه وباسي، امید شته چي دوی به خوشحاله شي او ګناه به یې معاف شي(۱) فقط و الله تعالی اعلم

په مور شیدې بخښل

سوال: (۱۰۱۲) د مور د وفات پر مهال چي کوم بچیان شیدې په بخښي، دا شرعي حکم دی که رواجي؟ (۱۳۴۳/۲۳۱هـ)

ځواب: د مور حقوق پر اولاد ډیر دي، ځکه ټول حقوق په بخښل په کار دي، په دې کي د شیدو ورکولو حق هم دی، غالبًا په همدې وجه دا ویل کیږي، لنډه دا چي دا څه پروا نلري، د آخرت لپاره دا ښه دي

که پلار زوی ته معافي وکړي نو معافیږي

سوال: (۱۰۱۳) زید و خپل زوی بکر ته د څو خلکو په مخکي وویل چي زه تا عاقوم، هلک وویل چي زه د پلار پر شیانو لاحول وایم، اوس که زید بکر ته معافي وکړي نو دا معافي صحیح کیږي او کنه؟ او زید به څه کفاره ادا کوي؟ او له معافۍ وروسته به د بکر غاړي بندي وي او کنه؟ (۱۳۴۳/۱۸۴۴هـ)

---

(۱) عن انس رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: إن العبد لیموت والداه او أحدهما و أنه لهما عاق، فلا یزال یدعو لهما و یستغفر لهما حتی یکتبه الله بارا(مشکوة المصابیح، ص: ۴۲۱، کتاب الآداب، ابواب البر و الصلة، الفصل الثالث)

ځواب: پر زید باندي په دغه صورت کي هیڅ کفاره نشته. زید دا ښه وکړو چي خپل زوی بکر ته یې بخښنه وکړه، دا بخښنه صحیح شوه، اوس بکر باید پر خپله خطا پښېمانه شي او د خپل پلار اطاعت وکړي او د ده خدمت د ځان لپاره د دنیا او اخرت کامیابي وبولي، په حدیث شریف کي راغلي دي: رضا الرب فی رضا الوالد(۱) یعني د الله رضا د پلار په رضا کي ده. فقط

تر واده وروسته هم د مور او پلار حقوق وي

سوال: (۱۰۱۴) د لور تر واده وروسته بیا هم د مور او پلار څه حق پر دې وي او کنه؟ (۱۳۳۹/۱۹۰۹هـ)

ځواب: پر اولاد چي د مور او پلار کوم حقوق تر واده مخکي ؤ، تر واده وروسته هم شته مثلاً اطاعت د مور او پلار پر اولاد ضروري دی او نافرماني او بد کول د مور او پلار سره حرام دي، د مور او پلار سره ښه رویه کول اسلامي فرض دی، داغه راز د مور او پلار پر نافرماني سخت وعیدونه راغلي دي(۲) فقط و الله تعالی اعلم

ښځه به د خاوند خبره مني که د مور او پلار

سوال: (۱۰۱۵) پر لور باندي تر واده وروسته د مور او پلار حکم منل فرض دي، که به د خاوند حکم مني؟ (۱۳۴۱/۲۵۳۴هـ)

---

(۱) عن عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما عن النبی صلی الله علیه وسلم: قال: رضا الرب الحـــدیث(جامع الترمذی: ۱۲/۲، ابواب البر و الصلة باب ما جاء من الفضل فی رضا الوالدین)

(۲) عن عبد الرحمن بن ابي بکرة عن ابیه رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیـــه وســـلم: ألا أنبئکم بأکبر الکبائر؟ قلنا: بلی یا رسول الله! قال: الإشراک بالله و عقوق الوالدین الحدیث(صحیح البخاری: ۸۸٤/۲، کتاب الأدب، باب عقوق الوالدین من الکبائر)

و عن عبد الله بن عمرو رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لا یدخل الجنة منان ولا عاق الحـــدیث، رواه النســـائی و الدارمی(مشـــکوة المصـــابیح، ص: ٤۲۰، کتـــاب الآداب، بـــاب الـــبر و الصلة، الفصل الثانی)

ځواب: د خاوند اطاعت هم واجب دی او د مور او پلار هم، دواړه راضي ساتئ(۱) فقط

د شرعي په خلاف کار کي د هیچا اطاعت جائز نه دی

سوال: (۱۰۱۶) کوم کارونه چي د شرعي خلاف دي، که د هغه پر کولو مي مور، پلار، پیر او نور مجبور کړي نو حکم نه منل جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۹/۳۵۵هـ)

ځواب: د شرعي په خلاف کارونو کي د هیچا اطاعت جائز نه دی، لکه چي راغلي دي: لا طاعة لمخلوق في معصية الخالق(۲) استاذ وي که پیر، مور او پلار وي که بل څوک د شرعي په خلاف کار کي د هیچا اطاعت مه کوئ فقط

دزاني پلار اطاعت بیا هم په جائزو کارونو کي ضروري دی

سوال: (۱۰۱۷) د زید پلار د قرآن حافظ دی، مګر زاني هم دی، د داسي پلار اطاعت کول پکار دی او کنه؟ (۱۳۳۷/۱۹۱۹هـ)

ځواب: په حدیث شریف کي راغلي دي: لا طاعة لمخلوق في معصية الخالق(۲) یعني په معصیت کي د چا اطاعت نشته، نو له معاصیو پرته په نور کارونو کي د مور او پلار اطاعت فرض دی فقط

د فاسق پلار سره باید اولاد څه معامله وکړي؟

سوال: (۱۰۱۸) د یو سړي ښځه وفات شوه، ده بل واده وکړی او د دغه ښځي په وینا یې له اثاث البیت او نور څخه و اولاد ته هیڅ نکړو ور، داغه راز دا سړی د فاحشي ښځي کره ځي، د هغي د حرامي ګټي ډوډۍ خوري او د میاشتي په تنخوا ورته د لهو او لعب کتابونه وایي، د ده بچیانو چي تعلیمونه کړي دي، دی منع کوي مګر دی نه منع کیږي او که د ده په اولاد کي څوک حج ته ځي

---

(۱) لیکن که دواړه خوشحاله ساتل ممکن نه وي نو د خاوند اطاعت دي کوي ځکه چي پر ښځه باندي د خاوند اطاعت د مور او پلار او تولو خپلوانو تر اطاعت مقدم دی.

(۲) مشكوة المصابيح، ص: ۳۲۱، كتاب الإمارة و القضاء الفصل الثاني.

نور وته وايي چي زما بې اجازې حج نه قبليږي، دا صحيح دي او کنه؟ او د داسي پلار سره اولاد بايد څنګه معامله وکړي؟ (۱۹۰۴/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: دا افعال د پلار بد دي، اولاد دي د ده په افعالو کي برخه نه اخلي ليکن حتی الوسع دي د ده خبره په نورو کارونو کي مني او ښه دي ورسره کوي، قال الله تعالیٰ: "و إن جاهداک علی أن تشرک بي ما ليس لک به علم فلا تطعهما و صاحبهما فی الدنيا معروفا" (سورة لقمان، آيت: ۱۵) مور او پلار سره د دې چي مشرکان وي بيا هم د دوی سره په دنيا کي د ښې معاملې کولو حکم دی نور نو حج که فرض دی نو تلل په کار دي. که څه هم د پلار خوښه نه وي، که نفلي دی نو د ده په اجازه ولاړ شي. کذا فی الشامي(۱) فقط و الله تعالیٰ اعلم

د زوی روزنه نه کونکي پلار اطاعت هم فرض دی

سوال: (۱۰۱۹) زيد خپل زوی عمر چي تي يې رودي، له خپلي ښځي څخه واخيستی د انا کره يې يوړی، عمر ته انا (د مور مور) تی ورکاوی، لوی يې کړی، تر بالغېدو له موره جلا ؤ او نه پلار په ده تعليم کړی دی، په داسي صورت او حالت کي پر عمر د زيد خدمت واجب دی او کنه؟ (۱۳۳۷/۸۹۰ھ)

ځواب: پر عمر د زيد خدمت لازم دی او اطاعت د پلار فرض دی. فقط

د بې لمانځه مور هم خدمت کول ضروري دی

سوال: (۱۰۲۰) مور لمونځ نه کوي، که زوی ځني جلا شي او هيڅ خدمت يې نه

---

(۱) و قد يتصف بالحرمة کالحج بمال حرام، و بالکراهة کالحج بلا إذن ممن يجب استئذانه و فی الشامی: قوله: (ممن يجب استئذانه) کأحد أبويه المحتاج إلی خدمته، و الأجداد و الجدات کالأبوين عند فقدهما ... فيکره خروجه بلا إذنهم کما فی الفتح، و ظاهره أن الکراهة تحريمية و لذا عبر الشارح بالوجوب ... قال فی البحر: و هذا کله فی حج الفرض، أما حج النفل فطاعة الوالدين أولی مطلقًا(الدر المختار و رد المحتار۲/۱۵۲ کتاب الحج مطلب فيمن حج بمال الحرام. ط رشيديه)

کوي نو غاړي يې بندي دي او کنه؟ یا که په هر حال کي خدمت کول يې ضروري دي؟

(۱۲۴۴/۱۳۴۵ھ)

ځواب: د مور او پلار خدمت په هر حال واجب دی، خدمت او اطاعت د پلار والي او زوی والي د تړون په وجه دی، مور که لمونځ نه کوي نو د دې غاړي بندي دي، د زوی ذمه واري ده چي د زوی والي حق ادا کړي. فقط و الله تعالی اعلم

د پلار خوشحالولو لپاره د رافضي سره اړیکي ساتل

سوال: (۱۰۲۱) د رافضي سره اړیکي ساتل څنګه دي؟ د عمر پلار ناراضه دی، معافي په دې شرط ورکوي چي لومړی له رافضي ښځه معافي واخله، ځکه چي دی رافضي پخپل کور کي نه پرېږدي نو پر عمر باندي د پلار اطاعت فرض دی او کنه؟

(۲۰۹۷/۴۲-۱۳۴۷ھ)

ځواب: د رافضي سره اړیکي ساتل مناسبي نه دي او نه له ده ښځه معافي غوښتلو ته ضرورت شته، اما خپل پلار حتی الوسع خوشحاله ساتئ او اطاعت يې کوي. فقط

مور او پلار که له نیکه، انا او د خاله د مېړه ښځه پر اړیکو قطع کولو سرې مجبور کړي؟

سوال: (۱۰۲۲) آیا شرعًا مور او پلار دا حق لري چي خپل بچیان د نیکه (د مور پلار) انا (د موز مور) او یا د خاله له مېړه ښځه په څه وجه پر اړیکو قطع کولو مجبور کړي؟ او په دا ډول امر کي بچیان تر څومره حده پوري په اطاعت کولو مأمور دي؟

(۴۸/۴۲-۱۳۴۷ھ)

ځواب: د مور او پلار لپاره داسي حکم کول بې له کومي شرعي وجي صحیح نه دی او پر بچیانو باندي داسي د شرعي په خلاف کارونو کي د مور او پلار اطاعت لازم نه دی، کما ورد: لا طاعة لمخلوق فی معصیة الخالق(۱) فقط

که مور او پلار او مشر ورور د زکوة له ادا کولو منع وکړي؟

سوال: (۱۰۲۳) د بالغ او عاقل هلک لپاره د فرائضو او واجباتو په ادا نه کي د مور او پلار

---

(۱) مشکوة المصابیح، ص: ۳۲۱، کتاب الإمارة و القضاء، الفصل الثانی.

د رضا او خوښي خیال ساتل پکار دي او کنه؟ مثلاً مال ورسره وي خو د مور او پلار د ناراضۍ او غصې له ویرې زکوٰة نه ادا کوي او مور او پلار او مشر ورور د بخل او د زړه د تنګوالي په وجه پخپله هم زکوٰة نه ورکوي او هلک هم ادا کولو ته نه پرېږدي نو غاړې د چا بندې دي؟ (۱۳۴۵/۲۱۳هـ)

ځواب: په حدیث شریف کې راغلي دي: لا طاعة لمخلوق في معصية الخالق(۱) یعنې د الله رب العزت د حکم په خلاف د کوم مخلوق اطاعت روا نه دی، که مور او پلار وي او که ورونه او نور وي نو فرض زکوٰة ادا کول پر ده واجب دي، که څه هم مور او پلار ناراضه کیږي او که د مور او پلار او نورو له ویرې زکوٰة نه ورکوي نو د فرض پرېښودلو ګناه پر ده ده او پر منع کونکیو د منع کولو ګناه ده. فقط و الله تعالی اعلم

که مور مشر زوی له کوره وباسي نو...

سوال: (۱۰۲۴) دوه زامن د خپلې سکه مور سره او سېدل او پلار مرحوم یې سرای په حکومت کې د مور په نوم کړی ؤ، مور د طبیعت د رډوالي په وجه مشر زوی له کوره و ایستی او د کور پر ټول سامان مور او کشر زوی قبضه وکړه، اوس مشر زوی یې په یو مسجد کې امامت کوي، خپله ګزاره کوي، یو مخالف ورباندې داسې اعتراض راپورته کړی دی چې د ده امامت په ناروا کیږي، دا خبرې جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۴۲۷هـ)

ځواب: په دغه صورت کې د مشر زوی هیڅ قصور نه دی، زیاتوب او حق وهنه د مور او کشر ورور له طرفه ده او د قطع رحمۍ کولو جرم د دوی دی، کوم سرای چې د پلار رانیولی ؤ او د کوم مصلحت په وجه یې د مور په نوم کړی ؤ، هغه د پلار ملک دی، په هغه کې مور او دواړه زامن شریکان او ونډه لرونکي او مالکان دي، د مور دا اختیار نه ؤ چې له دغه سرایه مشر زوی وباسي او د پلار په ترکه کې د کور سامان، جامو، کتابونو او نورو کې ده ته خق ورنکړي، دا د مشر زوی سره سخته ناجائزه ده، لنډه دا چې لمونځ په دغه مشر زوی پسې صحیح دی او امامت د ده بېله کراهیته جائز دی، د مور نافرمان نه دی، په حدیث شریف کې راغلي دي: لا طاعة لمخلوق في معصية الخالق(۱) او

---

(۱) مخکنۍ حواله

کوم چا چي د فتنې او فساد پيدا کولو په غرض داسي اعتراض وکړ چي ورځخه د دغه مظلوم مشرزوی د امامت ناجائزوالی معلوميږي او له افتراء او بهتان ځخه کار واخيستی، هغه سخت گنهکار او فاسق دی. فقط

زوی د پلار اطاعت او خدمت نه کوي، پلار زوی له ميراثه محروموي

سوال: (۱۰۲۵) زيد په هر کار کي د خپل پلار نافرماني کوي او سره د قدرت درلودو زيد هميشه د خپل معذور پلار اطاعت او خدمت نه کوي، په داسي صورت کي زيد د کومي گناه کونکی دی؟ که د زيد پلار د ناراضوالي په وجه خپل ټول جائيداد خپلو نورو ذوی الفروضو او عصبؤ ته د هبې يا وصيت په وسيله ورکړي او زيد ته هيڅ ورنکړي نو د زيد د پلار غاړي به بندي وي او کنه؟ زيد له دغه موهوبه او موصي ځخه خپله برخه اخيستلای شي او کنه؟ (۱۳۳۵/۷۷۰هـ)

ځواب: په داسي حال کي زيد کبيره گناه کونکی دی، د مور او پلار نافرماني کبيره گناه ده(۱) ليکن د زيد د پلار لپاره دا جائز نه دي چي زيد ته څه ورنکړي او نورو وارثانو ته يې ورکړي، دا ظلم دی(۲) په دغه فعل سره د زيد پلار ظالم او عاصي گرځي او وصيت د وارث لپاره نه صحيح کيږي او هبه که د مشاع ده نو باطله ده، په دغه دواړو حالتونو کي زيد وارث گرځي. فقط

اولاد عاقول صحيح نه دي

سوال: (۱۰۲۶) مور او پلار اولاد په کومو فعلو عاقولای شي؟ (۱۳۴۲/۱۲۲۹هـ)

---

(۱) عن عبد الرحمن بن ابي بكرة عن ابيه رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الا أنبئكم بأكبر الكبائر؟ قلنا: بلى يا رسول الله! قال: الإشراك بالله و عقوق الوالدين الحديث(صحيح البخاری: ۸۸۴/۲، كتاب الأدب، باب عقوق الوالدين من الكبائر)

(۲) عن النعمان بن بشير رضى الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: الك بنون سواه؟ قال: نعم، قال: فكلهم اعطيت مثل هذا؟ قال: لا، قال: فلا أشهد على جور (الصحيح لمسلم: ۳۷/۲، كتاب الهبات، باب كراهة التفضيل بعض الأولاد فى الهبة)

ځواب: د مور او پلار عاق په عربي کي دې ته ویل کیږي چي څوک د خپل مور او پلار سره بد کوي، د دوی نافرماني کوي او د نېکۍ او احسان پر ځای د دوی سره بده رویه ساتي او بې ادبي یې کوي نو څوک چي داسي کوي، هغه عاق دی او سخت ګنهکار او فاسق دی، لنډه دا چي عقوق د والدینو دا د اولاد فعل دی کوم اولاد چي داسي وي، هغه عاق دی، پاته شو د مور او پلار خپل اولاد عاقول په دې معنی چي دوی له میراثه محروم کړي، دا په شریعت کي صحیح نه دي، اولاد که هر رنګه وي، د د وی میراث به نه قطع کوي، ځکه چي په حدیث شریف کي راغلي دي: من قطع میراث وارثه قطع الله میراثه من الجنة یوم القیامة(۱) فقط و الله تعالی اعلم

د مور او پلار سره خبري نه کونکیو بچیانو حکم

سوال: (۱۰۲۷) که کوم بچیان د مور او پلار نافرمان وي او د مور او پلار سره خبري نه کوي نو د هغو په هکله څه حکم دی؟ (۱۳۴۵-۴۴/۳۳۸هـ)

ځواب: داسي نافرمان اولاد عند الله ډېر ګنهکار او عاصي دی، په حدیث شریف کي راغلي دي: رضا الرب فی رضا الوالد و سخط الرب فی سخط الوالد(۲) یعني د الله رضا د پلار په رضا کي ده او د الله تعالی غصه د پلار په غصه کي ده او په یو حدیث شریف کي دا هم راغلي دي چي د مور او پلار نافرمان به جنت ته نه داخلیږي(۳) یعني اولی دخول به ده ته نصیب نشي، لنډه دا چي د مور او پلار نافرماني کبیره ګناه ده، ځان ځني ساتل

---

(۱) عن أنس رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من قطع الحدیث(مشکوة المصابیح، ص: ۲۶۶، باب الوصایا، الفصل الثالث، قبیل کتاب النکاح)

(۲) عن عبد الله بن عمرو رضی الله تعالی عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم: قال: رضا الرب الحدیث(جامع الترمذی: ۱۲/۲، ابواب البر و الصلة، باب ما جاء من الفضل فی رضا الوالدین)

(۳) عن عبد الله بن عمرو رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: لا یدخل الجنة منان و لا عاق، و لا مد من خمر(سنن النسائی: ۲۸۲/۲، کتاب الأشربة، الروایة فی المدمنین فی الخمر)

پکار دی، الله تعالی دي اولاد ته د مور او پلار د اطاعت کولو او راضي ساتلو توفیق ورکړي. فقط و الله تعالی اعلم

د نافرمان اولاد لپاره وعیدونه

سوال: (۱۰۲۸) مور او پلار شرعًا اولاد په کومو صورتونو کي عاقولای شي؟ او د عاق شوي اولاد لپاره شرعًا څه وعیدونه راغلي دي؟ (۱۳۴۵/۹۴۲هـ)

ځواب: د عاق معنی قاطع ده یعني کوم څوک چي وصیله رحمي قطع کړي او د مور او پلار سره نیکي او احسان نه کوي، د مور او پلار نافرماني کوي، په هغو کارونو کي چي اطاعت د مور او پلار پکي فرض دی، هغه عاق دی، که مور او پلار عاق کړی وي او کنه؟ او که عاق ورته وواییي او کنه، دی پخپله عاق دی، د اولاد عاقېدل د مور او پلار پر عاقولو موقوف نه دي، ځکه د مور او پلار په عاقولو کوم شرعي حکم د میراث نه ورلو او نور نه راځي، اما کوم اولاد چي د مور او پلار عاق وي، هغه عاصي او فاسقان دي، او د داسي اولاد په هکله و جنت ته د نه داخلېدو وعید راغلی دی لکه چي په حدیث کي راغلي دي: لا يدخل الجنة عاق چي د مور او پلار عاق او نافرماني کونکی جنت ته نه داخلیږي(۱) او په بل حدیث کي د مور او پلار غصه د الله رب العزت غصه ښودلې ده، کما ورد: رضا الرب في رضا الوالد و سخط الرب في سخط الوالد(۲) او په یو حدیث کي راغلي دي: چي یو سړي له نبي علیه الصلاة و السلام څخه پوښتنه وکړه: ما حق الوالدين على ولدهما؟ څه حق دی د مور او پلار پر اولاد باندي؟ قال: هما جنتك و نارك، رواه ابن ماجة(۳) وې فرمایل: مور او پلار ستا جنت دی یا دوږخ یعني که د دوی اطاعت وکړې نو

---

(۱) مخکني حواله

(۲) عن عبد الله بن عمر رضى الله عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم: قال: رضا الرب الحديث(جامع الترمذى: ۱۲/۲، ابواب البر و الصلة باب ما جاء من الفضل فى رضا الوالدين)

(۳) عن ابي امامة رضى الله عنه أن رجلا قال: يا رسول الله! ما حق الوالدين على ولدهما؟ قال: هما جنتك و نارك رواه ابن ماجة(مشكوة المصابيح، ص: ۴۲۱، كتاب الآداب، باب البر و الصلة الفصل الثالث)

جنت ته به ځي او که د دوی نافرماني وکړي نو دوږخ ته به داخلیږي. فقط

د نافرمان اولاد څخه اړیکي قطع کول صحیح دي

سوال: (۱۰۲۹) یو هلک د مور او پلار نافرمان دی، مور او پلار ته ښکنځل کوي او وهي یې هم، او د پلار سره جوابونه وایي، مور او پلار سخت ځني ناراض دی، د داسي هلک سره څه معامله باید وشي؟ (۱۳۴۲/۱۱۱۱هـ)

ځواب: دا هلک فاسق او سخت ګنهکار دی، په حدیث شریف کي راغلي دي چي د مور او پلار نافرمان جنت ته نه داخلیږي، لا یدخل الجنة عاق(۱) او د مور او پلار عقوق یعني نافرماني رسول الله صلی الله علیه وسلم په کبیره ګناهونو کي شمېرلي دي(۲) که دی توبه و نه باسي او مور او پلار خوشحاله نکړي او معافي ځني وانه اخلي نو اړیکي ورسره قطع او ناسته ولاړه ورسره نه کول صحیح دي، قال الله تعالی: "فلا تقعد بعد الذکری مع القوم الظالمین" الآیة (سورة انعام، آیت: ٦٨) فقط و الله تعالی اعلم

زوی له کوره ایستل او ډوډۍ پر بندول

سوال: (۱۰۳۰) یو سړي خپل زوی له کوره و ایستی او ډوډۍ یې وربانده بنده کړه نو اوس دی د پلار په ژوند کي د پلار له ترکې څخه څه اخیستلای شي او کنه؟ (۸۸۹/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: چي پلار ژوندی وي نو زوی د پلار او نیکه په ترکه کي هیڅ حق د میراث په توګه نلري، نو رنو که هلک نابالغ وي یا بالغ محتاج وي نو پر پلار لازمه ده چي نفقه به ورکوي، که پلار نفقه ده ته نه ورکوي

---

(۱) عن عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لا یدخل الجنة منان و لا عاق الحدیث، رواه النسائی و الدارمی(مشکوة المصابیح، ص: ٤٢٠، کتاب الآداب، باب البر و الصلة، الفصل الثانی)

(۲)عن عبد الرحمن بن ابي بکرة عن ابیه رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: الا أنبئکم بأکبر الکبائر؟ قلنا: بلی یا رسول الله! قال: الإشراک بالله و عقوق الوالدین الحدیث(صحیح البخاری: ٨٨٤/٢، کتاب الأدب، باب عقوق الوالدین من الکبائر)

نو ګنهکار به شي او اولاد د واجب نفقې په اندازه د پلار له مال څخه اخیستلای شي(۱) فقط

مور او پلار له بالغ اولاد څخه جبرًا خدمت اخیستلای شي

سوال: (۱۰۳۱) د مور او پلار لپاره له بالغ اولاد څخه جبرًا خدمت اخیستل صحیح دی او کنه؟ (۴۶۵/۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: جائز دی. فقط و الله تعالی اعلم

د مور او پلار په وینا بې قصوره ښځه طلاقول

سوال: (۱۰۳۲) که مور او پلار و زوی ته ووايي چي خپله ښځه طلاقه کړه او د ښځي هیڅ قصور نه وي، په داسي صورت کي د مور او پلار حکم منل پکار دي او کنه؟ او په حکم منلو او طلاق ورکولو کي څه ګناه خو به نه وي؟ (۲۹۳/۳۶-۱۳۳۵ھ)

ځواب: که پکي کومه تنګي او حرج نه وي او د مور او پلار حکم په کومه شرعي وجه وي نو د دوی د اطاعت په وجه طلاق ورکړئ(۲) لیکن که د خپل ځاني مصلحت په وجه طلاق ورنکړي

---

(۱) نفقة الأولاد الصغار و الأناث المعسرات على الأب، لا يشاركه فى ذلك أحد و لا تسقط بفقره و لا يجب عليه نفقة الذكور الكبار إلا أن يكون الولد عاجزًا عن الكسب لزمانة او فرض فتكون نفقته على والده و من يقدر على العمل لكن لا يحسن العمل فهو بمنزلة عاجز لأن من لا يحسن العمل لا يستأجره الناس (الفتاوى الخانية على الفتاوى الهندية: ۴۴۵/۱، كتاب النكاح، فصل فى نفقة الأولاد)

(۲) عن أبي الدرداء رضى الله عنه قال: إن رجلا أتاه، فقال: إن لى امرأة و إن أمى تأمرنى بطلاقها، فقال ابو الدرداء: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: الوالد أوسط أبواب الجنة، فإن شئت فأضع ذلك الباب أو احفظه (جامع الترمذى: ۱۲/۲، ابواب البر و الصلة باب ما جاء من الفضل فى رضا الوالدين)

و عن ابن عمر رضى الله عنهما قال: كانت تحتى امرأة و كنت أحبها، و كان عمر يكرهها، فقال لى: طلقها، فأبيت فأتى عمر النبى صلى الله عليه وسلم، فذكر ذلك له، فقال النبى صلى الله عليه وسلم: طلقها (سنن ابي داؤد، ص: ۶۹۹، كتاب الأدب، =

نو نه دی ګنهکار(۱) فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۰۳۳) که پلار خپل زوی ته ووایي چي ته خپله ښځه طلاقه کړه او هغه عمل په ونکړي نو پلار ته څه کول پکار دي؟ (۹۷۲/۱۳۳۸هـ)

ځواب: که ښځه بې قصوره ده او زوی مجبور دی، خپله ښځي نشي جلا کولای نو پر زوی باندي د پلار دغه خبره منل واجب نه دي(۲) فقط و الله تعالی اعلم

= باب فی بر الوالدین، و جامع الترمذی: ۲٦٦/۱، أبواب الطلاق و اللعان باب ما جاء فی الرجل یسأله أبوه أن یطلق امرأته)

(۱) مسئله د مور او پلار فرمانبرداري په ځینو صورتونو کي واجب ده او په ځینو کي مستحب او په ځینو صورتونو کي ناجائز، د ګناه په کارونو کي صرف مور او پلار نه د هیچا هم اطاعت جایز نه دی، په حدیث کي راغلي دي: د خالق په نافرمانۍ کي د کوم مخلوق اطاعت جائز نه دی، صرف په جایز کارونو کي د مور او پلار اطاعت واجب یا مستحب دی، په حدیث کي راغلي دي: د خپل پروردګار او خپل مور او پلار اطاعت کوه که هغه هم هغه تا ته د هر څه پرېښودلو حکم وکړي او د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما حدیث مخکي تېر شو چي د ده د ښځي سره ډېر محبت او مینه وه، د ده د بابا حضرت عمر رضی الله عنه خوښه نه وه، ځکه ده ورته وویل چي ښځه طلاقه کړه ابن عمر رضی الله عنهما (عملاً) انکار وکړی او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د دې یادونه وکړه نو نبي علیه الصلاة و السلام ورته وفرمایل چي: د خپل بابا خبره ومنه او حضرت ابو الدرداء رضی الله عنه د طلاقولو حکم خو نکړی ور اما حدیث یې ورته بیان کړی چي پلار د جنت د منځ دروازه ده. او س ستا خوښه ده که لاس ځني مینځې یا یې حفاظت کوه، له دغه حدیثونو څخه معلوم شو چي د مور او پلار هر حکم واجب الاطاعت نه دی، ځیني واجب دي او ځیني مستحب لکه چي په روح المعاني کي راغلي دي چي که د چا د ښځي سره مینه وي او مور او پلار د طلاق ورکولو حکم وکړي (که څه هم دا حکم د ښځي د بدچلندوالي په وجه وي) او هلک دا حکم و نه مني نو ورباندي هیڅ ګناه نشته، اما افضل دا دی چي د پلار خبره ومني او ښځه طلاقه کړي (تحفة الالمعی شرح سنن الترمذی: ۲۳۹/۵، ابواب البر و الصلة او دا بیان په تفصیل سره په تفسیر هدایت القرآن: ۵۷/۵-۲۴، کي هم راغلي دي)

(۲) حضرت ګنګوهي رحمه الله په الکوکب الدري کي فرمایلي دي چي که د مور او پلار حکم د شریعت په خلاف نه وي نو اطاعت یې واجب دی، اما په ناروا او د ګناهو په کارونو کي مور او پلار خو څه کوي د هیچا هم اطاعت جائز نه دی، په حدیث شریف کي راغلي دي: د خالق په نافرماني کي د کوم مخلوق اطاعت جائز نه دی(مشکوة، حدیث: ۴۹۱۲) او د مور او پلار هم هر حکم واجب الإطاعة نه دی(تحفة الالمعی شرح سنن الترمذی: ۸۴/۴)

که د خواښې او مرور جوړه نه وي نو...

سوال: (۱۰۳۴) که د خواښي او مرور جوړه نه وي نو ښځه او خاوند سره جلا کول پکار دي که څه؟ (۱۳۳۸/۲۱۳۸هـ)

ځواب: همداسي کول پکار دي فقط

پر ناوسه زوی د مور او پلار نفقه واجب نه ده

سوال: (۱۰۳۵) یو سړي خپل شپږ زامن جلا کړو، له هر یوه څخه د میاشتي پنځه روپۍ غواړي، له لومړۍ ښځي څخه چي کوم زوی دی، هغه وايي چي زه پوره وړی یم، له نورو زامنو څخه یې واخله، په دې اړه څه حکم دی؟ (۱۳۴۱/۲۹۰۸هـ)

ځواب: کوم زوی چي ناوسه او قدرت نلرونکی دی، پر ده باندي د نورو غنیانو زامنو په رنګه د نفقې بار اچول په شریعت کي نشته، بلکه صرف پر غنیانو ده(۱) لهذا د ناوسه زوی عذر شرعًا صحیح او مقبول دی، قال الله تعالی: "لا یکلف الله نفسا إلا وسعها" (سورة بقره، آیت: ۲۸۶) فقط

د مور او پلار بې اجازته هم د ضرورت په اندازه دیني علم حاصلول ضروري دی

سوال: (۱۰۳۶) که مور او پلار اجازه ونکړي نو د علم حاصلول څنګه دي؟
(۱۳۳۴-۳۳/۱۷۲۵هـ)

ځواب: د ضرورت په اندازه علم حاصلول ضروري دی، د مور او پلار بې اجازته هم حاصلول پکار دي فقط

---

(۱) و یجبر الولد الموسر علی نفقة الأبوین المعسرین ... الیسار مقدر بالنصاب فیما روی عن أبي یوسف رحمه الله تعالی و علیه الفتوی (الفتاوی الهندیة: ۵٦٤/۱، کتاب الطلاق، الباب السابع عشر فی النفقات، الفصل الخامس فی نفقة ذوی الأرحام)

د مور او پلار بې اجازته او د ښځې او بچیانو د ضائع کېدو په صورت کې د علم د طلب لپاره سفر کول

سوال: (۱۰۳۷) مور او پلار که بوډاګان وي خو د ژوند تېرولو وسیله لري نو د دوی بې اجازته د علم د طلب لپاره سفر کول څنګه دي؟ او د ښځې څه حکم دی؟
(۱۳۴۱/۲۷۷۵هـ)

ځواب: په در مختار کې راغلي دي: و له الخروج لطلب العلم الشرعی بلا إذن والديه الخ أی إن لم يخف علی والديه الضيعة بأن كانا موسرين و لم تكن نفقتهما عليه الخ(۱) نو معلوم شو چې په بیان شوي حالت کې د علم د طلب لپاره وتل جائز دي او د ښځې او بچیانو ضائع کېدو په صورت کې د علم د طلب لپاره منع دي. و لو خرج المتعلم وضيع عياله يراعی حق العيال(۱) (شامي)

پر پلار دعوی کول او عارضه وربانديي کول روا نه دي

سوال: (۱۰۳۸) زه او زما پلار سنګاپور ته د مزدورۍ لپاره لاړو، ما چې به څه ګټلې پلار ته مې ورکولې، درې کاله وروسته مور له سفر راغلو، څو مره روپۍ چې مې ګټلې وې، پلار پخپل په هغو ځمکه رانیوله، څو ورځې وروسته زه بیا یو اځي په سفر ولاړم، پلار مي خط راولیږی، پکې راته لیکلي ؤ چې څومره ګټې هغه راولېږه. د یو پوخ سرای اراده لرم، ځکه نو ما پلار ته روپۍ رالېږلې، پلار مي یو پوخ سرای په جوړ کړی چې کله زه له سفره راغلم نو پلار مي له خلګو څخه قرض واخیستی، ماته نکاح راوکړه، د دغه قرض د ادا کولو لپاره زه بیا په سفر ولاړم او ما پخپله ګټه دغه قرض ادا کړی. زموږ مور وفات شوه، موږ څلور بچیان یې پاته شوو، وروسته مي پلار بل واده وکړی، د هغه څخه دوه بچیان وشو او دوهمه ښځه هم وفات شوه بیا مي پلار د یوې بلې کم عمره انجلۍ سره واده وکړی، د هغه په خطا کولو له موږ شپږو بچیانو څخه منکر شو وایي چې تاسو

---

(۱) الدر المختار و رد المحتار ۵/۲۸۹ كتاب الحظر و الإباحة، فصل في البيع. ط رشيديه

ماته یوه پیسه هم نه ده راکړې او د څمکې په رانیولو او د سرای په جوړولو کې ستاسو روپۍ نه دي مصرف شوي او څمکه یې په نیمه بیه خرڅه کړه او وایي چې سرای به هم ویو چاته ورکړم، لهذا زما پوښتنه دا ده چې ما څومره روپۍ و پلار ته ورکړي دي، هغه په دعوی ځني اخیستلای شم او کنه؟ زما واده کول پر پلار فرض دی که زه خپله پخپله ګټه واده وکړم؟ که زما د واده کولو حق پر پلار دی نو دا د واده قرض چې ما پخپله ادا کړی دی، د هغه دعوی په پلار کولای شم او کنه؟ او کومه څمکه چې پلار خرڅه کړه، هغه راګرځولای شم او کنه؟ او د سرای دعوی هم کولای شم او کنه؟ (۱۷۹۳/۳۳-۱۳۳۴ هـ)

ځواب: په حدیث شریف کې راغلي دي: أنت و مالک لأبیک(۱) او په رد المحتار دریم توک کې راغلي دي: ثم هذا فی غیر الابن مع أبیه لما فی القنیة: الأب و ابنه یکتسبان فی صنعة واحدة و لم یکن لهما شي فالکسب کله للأب، إن کان الابن فی عیاله لکونه معینا له الخ(۲) نو زوی چې کومه ګټه و پلار ته ورکړې ده او پلار مصرف کړه، زوی د دې د غوښتنې حق پر پلار نلري او پلار که د زوی د واده مصرف د زوی په ګټه او روپیو وکړي نو په دې کې کوم اعتراض نشته او د دزوی لپاره له پلار څخه د دغه روپیو غوښتنه کول روا نه ده او دعوی کول پر پلار او عارضه ورباندې کول روا نه ده او د ده بیع منع کول صحیح نه دي او د سرای په اړه هم زوی ته د کومې دعوی کولو حق نشته، دا خبره په پلار پورې اړه لري چې دی په اولاد کې فرق و نکړي او چا ته زیات چاته کم ورنکړي بلکه برابري دې وکړي او ظلم دې نه کوي، کنې غاړې د ده بندې دي(۳) لیکن زوی ته دا حق نشته چې دی د پلار

(۱) عن جابر بن عبد الله رضی الله عنهما أن رجلا قال: یا رسول الله! إن لی مالاً و ولدًا، و إن أبي یرید أن یجتاح مالی، فقال: انت و مالک لأبیک(سنن ابن ماجة، ص: ۱۶۵، ابواب التجارات، باب ما للرجل من مال ولده)

(۲) رد المحتار۳/۳۸۳ کتاب الشرکة، فصل فی الشرکة الفاسدة، مطلب اجتمعا فی دار واحدة و اکتسبا و لا یعلم التفاوت فهو بینهما بالسویة. ط رشیدیه

(۳) لا بأس بتفضیل بعض الأولاد فی المحبة لأنها عمل القلب و کذا فی العطایا إن لم یقصد به الإضرار و إن قصده یسوی بینهم یعطی البنت کالابن عند الثاني و علیه الفتوی الخ په شامي کې راغلي دي: قوله: (و علیه الفتاوی) ای علی قول أبي یوسف من أن التنصیف بین الذکر و الأنثی أفضل من التلیث الذي هو قول محمد رحمه الله، رملی(الدر و الرد۴/۵۷۳ کتاب الهبة. ط رشیدیه)

مقابله وکړي، عارضه او دعوی وربانديوکړي، په حديث کي راغلي دي: عن ابن عباس رضى الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من أصبح مطيعًا لله في والديه أصبح له بابان مفتوحان من الجنة و إن كان واحدًا فواحدًا و من أصبح عاصيا لله في والديه أصبح له بابان مفتوحان من النار، إن كان واحدًا فواحدًا، قال رجل: و إن ظلماه؟ قال: و إن ظلماه، و إن ظلماه، و إن ظلماه(۱) فقط

د بايللي سرای خلاصولو او خمار لپاره و پلار ته روپۍ ورکول

سوال: (۱۰۳۹) يو سړي په خمار کي سرای او نور هر څه وبايللو اوس دی وزامنو ته وايي چي روپۍ راکړئ چي زه سرای په راخلاص کړم او د خمار لپاره يې هم غواړي، اوس د پوښتني وړ خبره دا ده چي په دغه دواړو صورتونو کي روپۍ ورکول پکار دي او کنه؟ که روپۍ ورنکړي نو ګنهکاريږي خو به نه؟ او د نافرمانۍ ګناه خو به نه وي؟
(۱۳۳۴-۳۳/۲۱۵۲هـ)

ځواب: د سرای د خلاصولو لپاره روپۍ ورکول صحيح دي او د خمار لپاره ورکول صحيح نه دي، په دې کي د پلار نافرماني نه راځي او هيڅ ګناه پکي نشته فقط

که مور د زوی په واده راضي نه وي نو زوی څه وکړي؟

سوال: (۱۰۴۰) د يو سړي مور د طبيعت له خوا سخته ده، د ده د کور جوړولو په هکله توجه نه کوي او زوی پخپله د کور جوړولو په اړه توجه ځکه نه کوي چي دا سي نه چي زما دغه کار د مور د خوښي پر خلاف کېدو له امله د تريخ ژوند باعث وګرځي نو په داسي صورت کي په تېره بيا چي زوی ځوان او ضرورتمند هم وي، د ده لپاره واده کول جائز دی او کنه؟ او د جواز په صورت کي د مور تينګار د پرېښودلو وي نو زوی څه وکړي؟ که د روغي او صلح پر ځای ساتلو لپاره زوی خپله ښځه د پلار کره يا کوم بل ځای ووسوي او د مور په حال احوال او پوښتنه کي هم څه کمی نه کوي نو په داسي صورت کي هم که مور ناراضه وي نو زوی بايد شرعًا

---

(۱)مشكوة المصابيح، ص: ٤٢١، كتاب الآداب، باب البر و الصلة، الفصل الثالث.

څه رویه اختیار کړي؟آیا د غه ناراضي چي صرف د مور د طبیعت سره اړونده ده، د زوی د آخرت لپاره تاواني ده؟ (۱۳۳۵/۷۲۷هـ)

ځواب: د ده لپاره خپل واده او نکاح کول جائز دي او د شرعي په خلاف کار کي د چا اطاعت لازم نه دی نو دی دي خپله نکاح وکړي او د ښځي حق دي ادا کوي او حتی الوسع دي د مور اطاعت کوي، دا دي نه ناراضه کوي، بیا هم که د خپل طبیعت د سختوالي په وجه دا خوشحاله نه وي یا دی دې ته مجبور کوي چي ښځه پریږده نو دی نه دی ګنهکار او د ښځي پرېښودلو باندي مجبور نه دی، دا صورت غوره دی چي د مور د ناخوښی په صورت دي ښځه د پلار کره ووسوي او د مور خیر خبر اخلي او که د مور و خدمت ته ضرورت وي نو پخپله دي د دې خدمت کوي یا کومه خدمت کونکې مېرمن او نور دي د دې د خدمت لپاره مقرر کړئ، لنډه دا چي مور دي نه په تکلیفوي او د شریعت حکم دي پر ځای کوي فقط و الله تعالی اعلم

آیا پر موړور د خواښي اطاعت او خدمت فرض دی؟

سوال: (۱۰۴۱) ... (الف) که خواښې ضد کوي چي مړور به زما سره اوسیږي او مړور د خاوند سره اوسیږي نو څه کول پکار دي؟

(ب) آیا پر مړور باندي د خواښي خدمت فرض دی؟

(ج) پر زوی خو د مور او پلار اطاعت فرض دی او پر ښځه باندي د خاوند نو آیا پر مړور د خواښي اطاعت نه فرض کیږي؟

(د) که د خواښي او مړور تر منځ جګړه او اختلاف وي او مور او پلار نه خو طلاق ورکول خوښوي او نه یې دا خوښه وي چي ښځه د خاوند کره اوسیږي نو آیا خاوند د ښځي سره خبري پریږدي؟ (۱۳۳۸/۲۱۳۸هـ)

ځواب: (الف-ب) د خاوند خدمت مقدم دی، د خواښي سره دي همداسي معامله کوي لکه چي کشران د مشرانو سره کوي مګر دا نه چي خواښې څه وایې، د هغه منل دي ضروري وي، که څه هم په دې کي د ښځي حق وهل کیږي، داسي اطاعت لازم نه دی.

(ج) خدمت دي کوي لیکن د خپل حق غوښتنه کولای شي او د خاوند سره د اوسېدلو دا ویلای شي په دې کي دا پر حق ده او په دې کي پر دې د خواښي اطاعت لازم نه دی. فقط

(د) د ښځي سره دي ښه رویه کوي، د ځان سره دي ساتي او خبري دي نه ورسره پرېږدي، مور او پلار دي په نرمي سره پوه کړي چي د دې حق ادا کول ضروري دي.

خاوند ښځه د خواښي پر خدمت نشي مجبورولای

سوال: (۱۰۴۲) آیا خاوند ښځه د خواښي پر خدمت مجبوروالی شي؟ (۱۳۳۸/۲۱۳۸هـ)

ځواب: نه یې شي مجبورولای. فقط و الله تعالی اعلم

که خپلوانو ښځه کوم قصوره مور له کورنۍ ایستلې وي نو زوی څه وکړي؟

سوال: (۱۰۴۳) زما مور کونډه وه، د یو پیښاوري سره یې بله نکاح وکړه خپلوانو دا جلا کړه، څو ورځي وروسته دغه سړي زما مور طلاقه کړه، زموږ څخه پرته د دې خیر خبر اخیستونکی بل څوک نشته، د دنیا او آخرت په نېکمرغي بللو زه د خپلي مور خدمت کوم، خو خپلوانو په دې وجه زه له کورنۍ و ایستلم، په دې هکله شرعي حکم څه دی؟ (۱۳۴۱/۲۳۸۸هـ)

ځواب: د سائل مور کوم ناوړه او د ګناه کار نه دی کړی، ځکه چي نکاح کول ښه کار او سنت دی، دا عیب بلونکی ګنهکار او فاسق دی او د سائل لپاره په بیان شوي حالت کي د خپلي مور خدمت کول عین ثواب او شرعي حق دی، سائل له کورنۍ څخه د ایستلو وړ نه دی او ګنهکار هغه خلګ دي چي سائل او د ده مور له کورنۍ وباسي. فقط

د زامنو د خوښي پر خلاف نکاح کونکي مور سره څه کول پکار دي؟

سوال: (۱۰۴۴) موږ دوه ورونه یو، زموږ کونډې مور بې زموږ له اخوښي د زید سره نکاح وکړه، موږ د زید سره اړیکي قطع کړې، یو کال وروسته ما فکر

وکړی چي کوم بد کار يې کړی دی، نکاح کول شرعي کار دی، يوه ورځ زه د زيد کره ورغلم، خپله موږ محترمه مي خوشحاله کړه او معافي مي ځني واخيسته. آيا دا کار خطا دی که سم؟(۲۲۲۹/۱۳۴۳هـ)

ځواب: دا کار تا ډېر ښه وکړی او د شريعت او د نبي عليه الصلاة و السلام د سنت سره سم کار دي وکړی، دا کار انشاء الله د الله د رضا او د نبي عليه الصلاة و السلام د خوشحالۍ باعث دی. فقط

د کونډي سره د ميني نکاح کونکي سړي سره څه وکړو؟

سوال: (۱۰۴۵) يو سړی عالم باعمل، بې مثاله صوفي، متوکل او تارک الدنيا دی، زامن يې عالمان د لمانځه او روژې پابندي کونکي دي ليکن ناڅاپه اخوندزاده صاحب د يوې کونډې ښځي سره چي د دوی کره د بنګړي خرڅولو لپاره راتله، د دې سره د عشق او ميني په وجه نکاح وکړه، دی لومړی ښځه هم لري، لهذا په داسي حال کي په اخوندزاده صاحب پسي بد او ردويل ښکه دي؟ او پير صاحب بايد د ده سره څه وکړي؟ (۴۰۹/۱۳۳۷هـ)

ځواب: اخوندزاده صاحب په حقيقت کي کوم کار د شرعي په خلاف نه دی کړی، په ده پسي بد او ردويل ناروا دي او د ده پلار يعني پير صاحب بايد د ده سره سمي اړيکي وساتي. فقط

که پلار د علم او په تراويحو کي قرآن اورولو څخه منع کوي نو زوی څه وکړي؟

سوال: (۱۰۴۲) زما پلار غواړي چي زه ديني علوم نه وروښيم او د روژې په مياشت کي قرآن نه واوروم، بلکه د ده سره په لو(غنم پرې کولو) کي مصروف شم، په دغه صورت کي څه کول پکار دي؟ (۱۹۸۰/۱۳۴۲هـ)

ځواب: په عامه توګه خو دا حکم دی چي د پلار اطاعت هم کوه او د الله حکم هم پوره کوه، ځکه چي د الله په معصيت کي د هيچا حکم منل نشته، نو که سړی د پلار خدمت هم کوي

او فرائض هم ادا کوي نو د پلار خدمت کول او د ده د حکم سره سم عمل کول افضل دی او که په فرائضو کي نقصان وي نو هغه وخت د مور او پلار اطاعت نشته. فقط

په مشترک تجارت کي د شرعي خلاف کار کونکي پلار سره زوی څه وکړي؟

سوال: (۱۰۴۷) د پلار او زوی یو تجارت دی، د کاروبار ټول اختیار د پلار په لاس کي دی، زوی اختیار پکي نلري، که پلار د شرعي په خلاف کوم کار کوي نو زوی پکي څه نشي ویلای او نه د زوی کومه خبره پکي چلیږي او کله چي د سود کاروبار هم شته او زکاة هم نه ورکوي نو زوی ته څه کول پکار دي؟ (۱۳۴۳/۴۲۲هـ)

ځواب: کله چي هلک مجبوردی او د ده خبره نه پکي چلیږي نو امید دی چي د ده غاړي به نه وي بندي خو دا نیت دي وکړي چي کله ماوس ومونديږي نو د شرعي سره سم معاملات به کوم او د پلار دغه د شرعي خلاف عمل دي په زړه سره بد بولي. فقط

بېله اجازې پلار د زوی په مال کي تصرف نشي کولای

سوال: (۱۰۴۸) پلار د زوی په ژوند کي د زوی په ګټلي جائیداد قبضه او تصرف پکي کولای شي؟ (۱۳۴۳/۲۰۰۷هـ)

ځواب: دزوی په جائیداد کي پلار د زوی بې اجازته تصرف نشي کولای لیکن زوی ته پکار دي چي د پلار خدمت کوي او که د پلار ضرورت وي نو د کوم شي انکار دي نه ورته کوي او خپل مال دي د پلار دعا بولي لیکن پلار ته پکار دي چي کوم څه تصرف د زوی په مال کي کوي، د زوی په اجازه دي کوي. فقط

پلار د زامنو سرای جبراً نشي اخیستلای

سوال: (۱۰۴۹) د یو سړي څلور پنځه زامن دي، مخکي ټول یو ځای او سېدل، له پنځو کلونو

راهیسي زامنو خوراک، څښاک جلا کړی دی او کورونه یې هم جلا جوړ کړي دي نو پلار جبرًا سرای ځني اخیستلای شي او کنه؟ (۳۱۷/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: کله چي زامنو خپل خپل کورونه جلا پخپلو روپیو جوړ کړي دي او دوی تول جلا اوسیږي د پلار سره شریکان نه دي نو پلار له دوی څخه جبرًا سرای نشي اخیستلای فقط

مور او پلار د سودي قرض ادا کولو لپاره له اولاد څخه روپۍ غواړي

سوال: (۱۰۵۰) که پر مور او پلار د سود پور وي او دوی له اولاد څخه روپۍ وغواړي د سود د قرض ادا کولو لپاره نو باید روپۍ ورکړي که د سود په وجه نه ورکوي؟ (۲۰۴۰/۱۳۴۳هـ)

ځواب: د مور او پلار قرض دي ادا کړي فقط و الله تعالی اعلم

د مور او پلار بې اجازته حج کول

سوال: (۱۰۵۱) که کوم شخص د حج کولو یا علم زده کړي لپاره د مور او پلار بې اجازې ولاړ شي، مور او پلار د ده و خدمت ته اړ هم نه دي نو جائز دي او کنه؟ (۵۸۲/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: که مور او پلار د ده و خدمت ته اړ نه وي نو جائز دي(۱) (شامي)

د ورور اولاد فرع نه دی

سوال: (۱۰۵۲) د سکه یا ناسکه ورور زامن فرع دي او کنه؟ (۲۲۳/۳۲-۱۳۳۳هـ)


ځواب: فرع خپل اولاد یا د اولادو اولاد وي، د ورور اولاد فرع نه دي فقط و الله تعالی اعلم

(۱) و له الخروج لطلب العلم الشرعي بلا إذن والديه، و في الشامي: في الخانية: و لو اراد الخروج إلى الحج و كرها ذلک، قالوا: إن استغنى الأب عن خدمته فلا بأس و إلا فلا يسعه الخروج ... لأن مراعاة حقهما فرض عين (الدر و الشامي ۲۸۹/۵ كتاب الحظر و الإباحة فصل في البيع. ط رشيديه)

و مشرانو ته کعبه او قبله او نور لیکل

سوال: (۱۰۵۳) و پلار یا نیکه یا کوم بزرګ ته قبله، کعبه یا قبلهٔ کونین یا کعبه کونین لیکل جائز دي او کنه؟ (۲۲۷۲/۱۳۴۰هـ)

ځواب: مجازًا دا ډول الفاظ لیکل جائز دي لیکن غوره نه دي، لهذا له دا ډول الفاظ لیکلو څخه پرهیز کول مناسب او غوره دي(۱) فقط و الله تعالی اعلم



(۱) په فتاوی رشیدیه کي راغلي دي:
سوال: قبله، کعبه یا قبله د دارینو، قبله د کونینو، دیني قبله دنیوي قبله، د امیدونو قبله، د حاجاتو قبله، د مرادونو قبله، صوري قبله، معنوي کعبه یا دار نګه نور الفاظ په القابو او آدابو کي د پلار، اکا، ورور یا کوم بل چا لپاره لیکل جائز دي او کنه؟ حرام دي که غیر حرام؟ تحریمي مکروه دي که تنزیهي؟ د عبارتونو او دلائلو سره یې په تفصیل سره راته ولیکئ.
جواب: داسي د مدح کلمات د چا لپاره ویل او لیکل تحریمي مکروه دي، لقوله علیه الصلاة و السلام: لا تطروني الحدیث(یعني زما لپاره زیات د لویي الفاظ مه استعمالوئ) (صحیح البخاری: ۴۹۰/۱، کتاب الأنبیاء، باب قوله الله عز و جل: "واذکر فی الکتاب مریم" الآیة، عن ابن عباس سمع عمر رضی الله عنه یقول علی المنبر: سمعت النبی صلی الله علیه وسلم یقول: لا تطروني الحدیث) چي کله د نبي علیه الصلاة و السلام په شان کي تر حد زیات کلمات ویل منع شو نو د کوم بل چا په هکله څرنګه صحیح کېدلای شي؟ فقط و الله تعالی اعلم (فتاوی رشیدیه، ص: ۵۲۲)

د یتیمانو د حقوقو احکام

یتیم چاته ویل کیږي؟

سوال: (۱۰۵۴) د بالغ پلار که مړ شي هغه ته یتیم ویل کیږي او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۴۴۱ھ)

ځواب: له بلوغ وروسته ورته یتیم نه ویل کیږي(۱) فقط و الله تعالی اعلم

د یتیم نفقه پر نیکه ده که پر مور؟

سوال: (۱۰۵۵) یو ماشوم یتیم دی، نیکه او مور لري چي د معاش له خوا ډېر تنګ دي، آیا د ماشوم نفقه پر نیکه ده که پر مور؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۷۹۴ھ)

ځواب: په دغه صورت کي یو ثلث د نفقي پر مور دی او دوه ثلثه پر نیکه. إعلم أنه إذا مات الأب فالنفقة على الأم و الجد على قدر میراثهما أثلاثا فی ظاهر الروایة إلخ(۲) فقط

د نابالغانو د مال ولي څوک دی؟

سوال: (۱۰۵۶) د نابالغ په منقوله او نا منقوله مال کي ولایت سکه ورور ته دی که سکه اکا ته؟ (۱۳۳۳-۳۲/۲۳۰۷ھ)

---

(۱) الیتیم: هو المنفرد عن الأب، لأن نفقته علیه، لا على الأم ... و فی المفردات: الیتیم انقطاع الصبی عن أبیه قبل بلوغه و فی الحدیث: لا یتم بعد الحلم الخ(قواعد الفقه ص: ۵۵٤، الرسالة الرابعة: التعریفات الفقیة)

(۲) الشامي کتاب الطلاق ۲/۷۳۰، باب النفقة مطلب: الکلام على نفقة الأقارب. ط رشیدیه

ځواب: د حنفي فقهاء دا څرګندونه ده چې د نابالغ د مال ولایت صرف و پلار یا نیکه یا د دوی و وصي یا قاضي یا د ده و نایب ته دی، و ورور او اکا ته دا ولایت نشته په در مختار کي راغلي دي: الولی فی النکاح لا المال الخ(۱) په شامي کي راغلي دي: قوله: (لا المال) فإن الولی فیه الأب و وصیه و الجد و وصیه و القاضی و نائبه فقط الخ(۱) نو د مذکور سوال جواب دا دی چې دغه ولایت نه و ورور ته شته او نه اکا ته، که پلار او نیکه نه وي نو قاضي ته رجوع کول پکار دي. فقط

سوال: (۱۰۵۷) زید وفات شو یوه ځوانه کونډه نابالغ اولاد او ورور یې پاته شو جائیداد زر او نغدي روپۍ یې شته نو په دغه صورت کي د نابالغانو د مال ولایت د دوی د مور دی که د اکا او که د مور د ورونو؟ اکا یې مالدار دی او ماماګان یې ډېر ناوسه، که مور ولي شي نو غالب ګمان دا دی چې د دې ورونه یعني د نابالغو ماماګان به د متوفي له جائیداد، زر او نغدو څخه پخپله هم استفاده کوي، لهذا د نابالغانو جائیداد، زر او نغدي د دوی تر بلوغه باید د چا سره وي؟ (۱۱۵۰/۱۳۴۵هـ)

ځواب: د نابالغو د مال ولایت د پلار، نیکه یا د دوی له وصي پرته بل چاته نشته، ورور، اکا او مور د دوی په هکله مساوي دي، په دیو کي و هیچا ته د نابالغ په مال کي ولایت نشته، په در مختار کي راغلي دي: و ولیه: أبوه ثم وصیه إلخ ثم ... جده الخ ثم وصیه ... ثم الوالی ... ثم القاضی الخ دون الأم او وصیها هذا فی المال، بخلاف النکاح کما مر فی بابه(۲) (در مختار ملخصا) قال الزیلعی: و أما ماعدا الأصول من العصبة کالعم و الأخ او غیرهم کالأم إلخ لأنهم لیس لهم أن یتصرفوا فی ماله تجارة فکذا لا یملکون الاذن له فیها الخ(۲) (شامي) نو معلوم شو چي که پلار او نیکه نه وي نو د نابالغ د مال ولایت و قاضي او حاکم ته دی نو حاکم چي څوک امین وبولي د نا بالغو مال دي و هغه ته په حفاظت کي ورکړي او بیا چي کله دوی بالغان شول، د دوی مال دي دوی ته وسپاري. فقط

---

(۱) الدر المختار و الشامي ۳۳۷/۲ کتاب النکاح باب الولی مطلب فی فرق النکاح. ط رشیدیه

(۲) الدر المختار و الشامي ۱۲۲/۵ کتاب المأذون مبحث فی تصرف الصبی و من له الولایة علیه و ترتیبها. ط رشیدیه

اجنبي د يتيم جائيداد خرڅولای شي او کنه؟

سوال: (۱۰۵۸) په يوه ځمکه کي د يتيم ځلو ښځمه برخه ده يو معلم پکي کوټۍ جوړل غواړي نو کله چي د يتيم پلار او نيکه نشته نو د ده برخه په يو ډول رانيول کېدلای شي او کنه؟ (۱۳۴۵/۱۱۲۳هـ)

ځواب: د داسي ضرورت پر مهال په ځينو روايتونو کي د يتيم په مال کي د تصرف کولو اجازه معلوميږي، کله چي د يتيم نفع په همدې کي وي او د يتيم د ځمکي د بيع په جواز کي دا شرط هم ليکلی دی چي په دوه چنده قيمت يې خرڅه کړي و إن لغير الوصی التصرف لخوف متغلب الخ(۱) (در مختار) و جاز بيعه عقار صغير من أجنبي لا من نفسه بضعف قيمته الخ(۲) وصی القاضی كوصی الميت الخ(۳) فقط

سوال: (۱۰۵۹) ... (الف) په يو ځمکه کي ډېر شريکان دي چي پکي يو شريک يتيم دی، د هغه ځلو ښځمه برخه ده، په دغه ځمکه کي د طالبانو او معلم د هستوګني لپاره يوه کوټۍ جوړول غواړو، د يتيم پلار نيکه او بل کوم ولي نشته، که حاکم وصي مقرر کړي چي د يتيم برخه خرڅه کړي نو بيع به نافذه وي او کنه؟

(ب) د حاکم وصي مقررول جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۵/۱۱۲۲هـ)

ځواب: (الف) دغه بيع نافذيږي

(ب) د ضرورت پر مهال يې د غير وصي تصرف هم جائز ليکلی دی(۴) (درمختار) او کوم مسلمان حاکم

---

(۱) الدر المختار مع الشامی۵/۵۰۴ کتاب الوصايا، باب الوصی. ط رشيديه

(۲) رد المحتار۳/۲۸۱ کتاب الجهاد، باب العشر و الخراج و الجزية، مطلب فی بيع السلطان و شرائه أراضی بيت المال، و أيضًا فی الدر المختار مع الشامی۵/۵۰۲ کتاب الوصايا، باب الوصی. ط رشيديه

(۳) الشامي کتاب الوقف مطلب: الوصی يصير متوليا بلا نص. و أيضا فی الدر مع الرد۵/۵۰۹ کتاب الوصايا، باب الوصايا، فصل فی شهادة الأوصياء. ط رشيديه

(٤) و جاز بيعه عقار صغير من أجنبی لا من نفسه بضعف قيمته الخ(الدر المختار مع الشامی۵/۵۰۲ کتاب الوصايا، باب الوصی. ط رشيديه)

چي د ضرورت پر مهال وصي مقرر کړي نو جائز دی. فقط

په ثمن مثل د یتیم ځمکه و مسجد ته ورکول

سوال: (۱۰۲۰) د یتیم ناسکه نیکه چي د یتیم وصي نه دی په ثمن مثل د یتیم ځمکه د مسجد د توسیع لپاره په مسجد کي ورداخله کړه، داسي شرعًا جایز دي او کنه؟ (۱۳۴۵/۱۱۹۸هـ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: و جاز بيعه عقار صغير من أجنبي لا من نفسه بضعف قيمته(۱) له دې څخه معلوم شو چي د وصي لپاره په دوه چنده قیمت د یتیم ځمکه خرڅول صحیح دي او کله چي دی وصي نه دی نو د ده لپاره دغه فعل ناجائز دی. فقط

د یتیمانو په مال مدرسه چلول

سوال: (۱۰۲۱) یو سړی وفات شو، یتیمان یې پاته شو، ده مدرسه چلوله، اوس د دغه یتیمانو په مال مدرسه چلولای شو او کنه؟ دغه سړی کوم مال یا ځمکه د مدرسې لپاره لا مقرره کړې نه وه؟ (۱۳۴۵/۱۱۹۸هـ)

ځواب: دا جائز نه دي كما في الدر المختار: و إن ضارًا كالطلاق و العتاق و الصدقة و القرض لا (أي لا يصح) و إن اذن به وليهما الخ(۲) فقط

د یتیمانو ډوډی یا بل شی خوړل څنګه دي؟

سوال: (۱۰۲۲) یتیمان څه بالغ او څه نابالغ دي، د دوی ډوډی یا بل شی خوړل جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۲۳۸هـ)

ځواب: د بالغو له برخي څخه د دوی په اجازه خوړل صحیح دي او د نابالغو له

---

(۱) رد المحتار ۲۸۱/۳ كتاب الجهاد، باب العشر و الخراج و الجزية مطلب في بيع السلطان و شرائه أراضي بيت المال و أيضا في الدر المختار مع الشامي ۵۰۲/۵ كتاب الوصايا باب الوصي. ط رشيديه

(۲) الدر مع الشامي ۱۲۱/۵ كتاب المأذون، مبحث في تصرف الصبي الخ. ط رشيديه

برخي څخه خوړل صحيح نه دي.

د يتيم د مور تحفه او مېلمستيا قبلول

سوال: (۱۰۲۳) يو يتيم هلک سبق وايي، د ده مور کله يو تحفه ورکوي او کله مېلمستيا کوي، د دې تحفه او مېلمستيا خو به د يتيم مال خوړل نه وي؟ (۱۳۴۵-۴۴/۱۴۷۹هـ)

ځواب: که دغه ښځه له خپلو ځاني روپيو څخه هديه ورکوي يا مېلمستيا کوي نو قبلول يې څه پروا نلري، دا د يتيم د مال په خوراک کې نه راځي. فقط و الله اعلم

د يتيم له مال څخه و چاته ډوډۍ ورکول او يا خيرات کول

سوال: (۱۰۲۴) د يتيم مېلمستيا قبلول او د ده له کوره د الله په نوم د طالب يا مسافر لپاره ډوډۍ اخيستل جايز دي او کنه؟ که د دغه نابالغ يتيم سره بل غټ ورور په مال شريک وي، که غټ ورور له مشترک مال څخه و طالب ته ډوډۍ هره ورځ ورکوي نو جايز دي او کنه؟ (۱۳۳۸/۲۰۵هـ)

ځواب: د نابالغ يتيم له مال څخه و چاته ډوډۍ ورکول او صدقه او خيرات کول صحيح نه دي او که غټ بالغ ورور له خپل مال او خپلي برخي څخه صدقه يا خيرات وکړي يا و چاته ډوډۍ، جامې ورکړي نو دا صحيح دي مګر په حساب کې دي يې ليکي، ترڅو دا ډول مصرفونه پر ځان وشميري، پر يتيم يې شمېر نکړي. فقط

د يتيم د سبق مصرف د ده له مال څخه اخيستل

سوال: (۱۰۲۵) يو سړی وفات شو، د ده پلار د خپل لمسي برخه چې يو سرای او څه نغدي دي، د نابالغ لمسي و مشر اکا ته وسپاره، هغه تر دوولسو کلونو د نان نفقې د تعليم او نورو مصرفونو کفالت کاوی او همېشه به يې د سرای ترميم کاوی او سرای يې پخپله هم استعمال کړ، اوس له بالغ کېدو وروسته دغه هلک او دوه نور وارثان له دغه اکا څخه د سرای کرايه غواړي، آيا ولي به د سرای کرايه ورکوي او کنه؟ دا غه راز کومې نغدي چې دغه ولي ته سپارلي وې او د کټې شرط يې نه ؤ وربانديې ايښی نو دغه

ګټه به هم ورکوي او کنه؟ او د هلک په نان نفقه، تعليم او نورو کي چي کوم مصرف وشو، هغه له نغدو څخه ولي راګرځولای شي او کنه؟ (۱۳۴۵/۴۵۲هـ)

ځواب: په دغه صورت کي دغه هلک او د ده وارثان له اکا څخه د سرای د کرايي اخيستلو حق نلري او د هلک پر تعليم او تربيه چي کوم مصرف شوی دی، هغه ټول له دغو روپيو څخه راګرځولای شي يعني د نابالغ و اکا ته شرعًا حق شته چي دله دغه روپيو څخه مصرفونه راوګرځوي.

او دغه روپيو چي کومه ګټه کړې ده، هغه ټوله د هلک ده، په هغه کي د اکا هيڅ حق نشته، د دې دا معنی ده چي که دغه روپۍ په تجارت او نورو کي لګولي وي نو د دې ټوله ګټه د هلک ده. فقط و الله تعالی اعلم

ويتيم ته د ده مال کله وسپارل شي؟

سوال: (۱۰۶۲) صبي عاقل يتيم د خپل مال پخپله مالک دی که ولي د ده مال د ځان سره ايښودلو باندي د بلوغ تر زماني مجبورولای شي؟ (۱۳۴۵/۱۳۸۷هـ)

ځواب: صبي عاقل د خپل مال خو په هر حال مالک دی، ليکن تر بلوغ مخکي بلکه له رشد څخه مخکي دي ولي او وصي د ده مال ده ته نه سپاري، په در مختار کي راغلي دي: فإن بلغ الصبي غير رشيد لم يسلم إليه ماله حتى يبلغ خمسا و عشرين سنة الخ(۱) فقط

د يتيم مال په تجارت کي لګول يا بېله سرمايې پخپل تجارت کي يتيم شريکول

سوال: (۱۰۶۷) ... (الف) د يو يتيم مال په تجارت کي لګېدلی دی چي پکي د ګټي او تاوان دواړو احتمال شته، په داسي تجارت کي د يتيم روپۍ لګېدلي ساتل جائز دي او کنه؟

(ب) زيد د صله رحمۍ په توګه د خپل تجارت په دکان کي چي پکي خوراکي توکي دي چي د ګټي او تاوان احتمال

---

(۱) الدر مع الرد۵/ ۱۰٤ کتاب الحجر. ط رشيديه

پکي شته، يتيم ببله کومي سرمايي صرف په ګټه کي شريکول غواړي، دا جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۱/۱۳۰۷هـ)

ځواب: (الف) که د ګټي او نقصان داسي احتمال دی، کوم چي په هر تجارت کي وي نو جائز دي او که د نقصان احتمال پکي غالب دی نو جائز نه دي، كما فى الدر المختــار: و صح بيعه(أى الوصى) و شراءه من أجنبى بما يتغابن الناس لا بما لا يتغابن و هــو الفــاحش لأن ولايته نظرية الخ(۱) و جاز لواتجر(أى الوصى) من مال اليتيم لليتيم الخ(۲) (در مختار)

(ب) چونکه د يتيم مال خو نشته، لهذا که په ده کار و کړل شي نو د اجر مثل مستحق ګرځي او که په ګټه کي يو برخه ده ته ورکول شي نو صرف تبرع ده، شراکت نه دی، ځکه چي د يتيم کوم مال نشته. فقط

د يتيمانو مال که په تجارت کي لګول شوی وي نو...

سوال: (۱۰۲۸) زيد او عمر دواړو ورونو تجارت کاوی، زيد وفات شو، دوه نابالغه زامن يي پاته شول نو د زيد متوفي مال به شرعًا تقسيموي، د زامنو تر بلوغه به جلا ږدو، که په تجارت کي يي هغه دول لګولي پريږدو؟ له عمر څخه پرته بل کوم وارث نشته (۱۳۴۳/۸۷۴هـ)

ځواب: د نابالغانو مال په تجارت کي داغسي لګېدلی پرېښودل په دغه صورت کي جائز دی چي زيد و خپل ورور عمر ته وصيت کړی وي يا يي مطلقًا وصي جوړ کړی وُ، په در مختار کي راغلي دي: و لا يتجر الوصى فى ماله أى اليتيم لنفسه فإن فعل تصدق بالربح و جاز لو اتجر من مال اليتيم لليتيم الخ(۳)

د يتيم خاني لپاره کړي چنده بل ځای مصرفول

سوال: (۱۰۲۹) يوه يتيم خانه قائمه ده او صرف د يتيم خاني په نوم چنده کيږي، له دغه چندي

---

(۱) الدر المختار مع الرد۵/۵۰۰، كتاب الوصايا، باب الوصى. ط رشيديه

(۲) الدر المختار مع الشامى۵/۵۰۳، كتاب الوصايا، باب الوصى. ط رشيديه

(۳) الدر مع رد المحتار۵/۵۰۲، كتاب الوصايا، باب الوصى. ط رشيديه


څخه و بل چاته یعني کونډو، مسافرو، وعظ کونکیو او نورو ته ورکول جائز دي او کنه؟ (۳۲/۲۳۶۵-۱۳۳۳ھ)

ځواب: د یتیمانو له مصرف څخه سیوا یا چي د دوی لوازمات دي لکه د دوی د معلم تنخواه، په نورو مصرفونو کي لکه مسافرو، وعظ کونکیو. کونډو او نورو باندي د دغه چندې مصرفول صحیح نه دي. فقط

د یتیم کوم مال چي په نه استعمال خرابیږي

سوال: (۱۰۷۰) د یتیم مال چي بې له استعمالولو خرابیږي، خرڅول او په عاریت ورکول صحیح دي او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۱۵۴ھ)

ځواب: خرڅول یې صحیح دي (او په اجرت ورکول هم جائز دي) په عاریت یې مه ورکوئ (چي په دې کي د یتیم کومه فائده نشته) فقط و الله تعالی اعلم



د احبابو او خپلوانو حقوق او احکام

د اکا ناوړه افعال ظاهرول بې ادبي نه ده

سوال: (١٠٧١) د اکا او وراره جګړه وشوه، وراره د جنګ وجه دا بيان کړه چې زموږ اکا يوه بد چلنده ښځه په کور کي ساتلې ده، نه يې مسلمانوي، نه ورسره نکاح کوي، د وراره لپاره د اکا د شريعت خلاف ناوړه افعال ظاهرول څنګه دي؟ څه بې ادبي خو به نه وي؟ او څوک اجنبي ښځه بېله نکاح په کور کي ساتي نو مسلمانانو لپاره د هغه سره اړيکي ساتل څنګه دي؟ (١٣٣٥/١٠٨٠هـ)

ځواب: د اکا ناوړه افعال د وراره لپاره ظاهرول بې ادبي نه ده بلکه عين ادب دی او د شريعت حکم دی چې امر بالمعروف کوي او له منکر او معصيت څخه منع کوي او دا هم حکم د شريعت دی چې په شرعي مسائلو کي او ديني احکامو کي د چا خيال مه ساتئ او د الله او د هغه د رسول د دښمنانو سره مينه او دوستي مه کوئ "و لو كانوا آبائهم او ابنائهم او اخوانهم او عشيرتهم" (سورة مجادلة، آيت: ٢٢) بې له نکاح کومه ښځه ساتل او ورسره بد عمل کول حرام او کبيره ګناه ده، د داسي کار کونکی فاسق، بد کار په دين او دنيا کي مخ تورن دی، مسلمانان بايد دی پريږدي، ترڅو چې دی توبه نه وباسي. فقط و الله تعالى اعلم

د جګړې او اختلاف په وجه سلام او کلام بندول

سوال: (١٠٧٢) اوربدلي مي دي چې که دوه مسلمانان د جګړې په وجه سلام سره بند کړي نو دوی له اسلام وځي، زما او زما د يو انډيوال ترمنځ اختلاف راغلی، زما خو د

دي په وجه د سلام او کلام کول خواهش ؤ، لیکن دی نه راضي کېدی نو ما هم ورسره سلام او کلام پرېښود، ماته څه کول پکار دي؟ په دغه صورت کي خو به زما څه جرم نه وي؟ (۱۳۳۵/۸۲۴هـ)

ځواب: که د دنیوي جګړې په وجه سلام او کلام بند کړي نو دا ګناه ده مګر له اسلام څخه نه وځي او کله چي ابتداء د سلام او کلام د بندولو د بل له طرفه وشوه نو ته نه یې ګنهکار، لیکن غوره دا دي چي ته له خپل طرفه سلام او کلام مه پرېږده، که هغه په هیڅ ډول نه راضي کیږي او سلام او کلام نه کوي نو بیا یې ته هم پرېږده، ته معذور یې.

اختلافات ختم کړئ، صله رحمي کول غوره دي

سوال: (۱۰۷۳) د دوو سکه ورونو تر منځ اختلاف دی، د دواړو بچیان هم شته، د ښځو او بچیانو تر منځ هم اختلاف دی، په دغه صورت کي قطع رحمي کول پکار دي که صله رحمي؟ (۱۳۴۵-۴۴/۷۹هـ)

ځواب: و دواړو ورونو او بچیانو ته پکار دي چي روغه سره وکړي او صله رحمي دي سره کوي (۱) فقط

یو بل ته معافي کول او اختلافات ختمول ډېر ثواب لري

سوال: (۱۰۷۴) بکر او عمر په څه وجه سره ناراض دي، بکر له عمر څخه معافي وغوښته، عمر معاف نکړی او نه دی له بکر سره خبري کوي او چي په مخ ورشي مخ واړوي، د عمر لپاره څه حکم دی؟ (۱۳۴۳/۸۱۹هـ)

ځواب: کله چي بکر د خپل قصور معافي وغوښته او دی له عمر څخه معافي غواړي نو عمر یې باید معاف کړي، سلام او کلام باید ورسره بند نکړي، که کومه شرعي منع په دې سره نه لازمیږي،

---

(۱) عن عبد الله بن عمرو رضی الله عنه ... عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: لیس الواصل بالمکافئ و لکن الواصل الذی إذا قطعت رحمه وصلها(صحیح البخاری: ۸۸۶/۲، کتاب الأدب، باب لیس الواصل بالمکافئ)

په حدیث شریف کې د دې ډېر ثواب راغلی دی(۱) قال الله تعالی: "و الکاظمین الغیظ و العافین عن الناس" (سورة آل عمران: آیت: ١٣٤) فقط

داخښې د جرم په وجه د خور سره اړیکې ختمول صحیح نه دي

سوال: (۱۰۷۵) زما د خور واده زما د ماما د زوی سره شوی دی، له نکاح وروسته ده سود اخیستی اوزما خور په خبره وه مګر دې خپل خاوند نه منع کاوی، په دې وجه ما خپله خور منع کړه چې زموږ کره به نه راځي، دا جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۰/۸۱۹هـ)

ځواب: د خپلې خور سره د دې د خاوند د جرم په وجه اړیکې نه دي ختمول پکار او صله رحمي چې څه رنګه ممکن وي، کول پکار ده. فقط

مشرورور وهل او سپکاوی یې کول سخته ګناه او ظلم دی

سوال: (۱۰۷۶) که کشر ورور مشر ورور ووهي او مقابله یې وکړي سپکاوی یې وکړي نو څه حکم دی؟ (۱۳۳۸/۲۲۱۴هـ)

ځواب: په دغه صورت کې کشر ورور سخت ګنهکار او ظالم دی، عند الله مجرم دی، پر ده لازم دي چې له خپل مشر ورور څخه معافي واخلي او د پلار په رنګه د هغه ادب کوي(۲)

---

(۱) عن ابي الدرداء رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ألا أخبركم بأفضل من درجة الصيام و الصدقة و الصلاة؟ قال: قلنا: بلی! قال: إصلاح ذات البين و فساد ذات البين هی الحالقة (مشكاة المصابيح، ص: ٤٢٨، كتاب الأدب، باب ما ينهى عنه من التهاجر و التقاطع و اتباع العورات)

و عن ابي هريرة رضی الله عنه أن النبی صلی الله علیه وسلم قال: لا يحل لمؤمن أن يهجر مؤمنا فوق ثلاث فإن مرت به ثلاث فليلقه فليسلم عليه، فإن رد عليه السلام فقد اشتركا فی الأجر و إن لم يرد عليه فقد باء بالإثم، زاد احمد و خرج المسلم من الهجرة (سنن ابي داؤد ص: ٦٧٣، كتاب الأدب، باب فی هجرة الرجل أخاه)

(۲) عن سعيد بن العاص رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: حق كبير الإخوة علی صغيرهم حق الوالد علی ولده (مشكاة المصابيح، ص: ٤٢١، كتاب الآداب، باب البر و الصلة، الفصل الثالث)

د کومو خپلوانو په ودونو کي چي منکرات وي، د هغه څخه په اړیکي ختمولو کي تلوار نه دی کول پکار

سوال: (۱۰۷۷) که خپلوان لمونځونه او روژې هم ادا کوي او نبي پاکي عقیدې هم لري لیکن په ودونو کي منکرات او بدعات لکه سرنا، ډول او نور وي، آیا په دې وجه د دوی سره انقطاع شرعًا جائز ده او کنه (۱۳۳۹/۱۲۰۲هـ)

ځواب: په انقطاع او مقاطعه کي تلوار نه دی کول پکار، بلکه حتی الوسع د منکراتو د بندولو او پوهولو کوشش کول پکار دی، کما قال الله تعالی: "أدع إلی سبیل ربک بالحکمة و الموعظة الحسنة" الآیة (سورة نحل، آیت: ۱۲۵)

د علماء فعل پر کبر و غرور حمل کول مناسب نه دي

سوال: (۱۰۷۸) څو کسان چي د یوې کورنۍ دي او دوی څه علم هم حاصل کړی دی، دوی په دغه خپل علم دومره مغرور دي چي خپلوانو او کورنۍ والو ته ورتلل او هغوی ته څه تعلیم او تلقین کول یا د هغوی خواخوږي کول د ځان سپکاوی بولي او دوی ته سپکي خبري کوي ان چي اوس له څه مودې راهیسي د خپلوانو په غم ښادي کي هم د خپل کبر او نخوت په وجه برخه نه اخلي، د داسي خلګو په هکله څه حکم دی؟ (۱۳۴۲/۱۳۹۲هـ)

ځواب: قال الله تعالی: "یا ایها الذین آمنوا اجتنبوا کثیرًا من الظن إن بعض الظن إثم" (سورة حجرات، آیت: ۱۲) ترجمه: ای ایمان والو! له ډیر بدو ګمانو ځان ساتئ، ځکه چي ځیني بد ګمانیاني ګناه وي، نو د عام خلګو لپاره پر علماء داسي ګمان کول چي دوی د کبر او غرور په وجه له کورنۍ څخه او د دوی له مجلسونو او غونډو کي له شرکت څخه لیري وي، نه دي کول پکار، دا خو هم ممکن دي چي دوی په دې وجه لیري دي چي په کورنۍ کي غیر شرعي رواجونه شته او دوی پوهیږي چي زموږ خبره څوک نه اوري لکه چي په عامه توګه لیدل کیږي چي د غیر شرعي رواجونو پرېښودل ډېر مشکل دي نو سره د دې احتماله د دوی فعل پر کبر او غرور حمل کول مناسب نه دی، د ایمان د شان

په خلاف دی نور نو دا ښکاره ده چي کبر او غرور بد شی دی، په چا کي چي وي باید له ځان يې وباسي او په ضروري کارونو لکه تجهیز تکفین او د مسلمانانو په جنازه کي حتی الوسع شرکت کول پکار دی، د شرکت نه کولو چي کومه وجه وي، هغه بیانول پکار دي، ترڅو چي په چا کي کوم تاوان وي، هغه د لیري کولو فکر وکړي او ترڅو چي وس وي، تر خپل منځ اتفاق او اتحاد ساتل پکار دی، بې اتفاقي ډېر بد کار دی. فقط

د شریعت په خلاف معاهدې پابندي جائز نه ده

سوال: (۱۰۷۹) میمن قوم پخپلو کي دا فیصله کړې ده چي په میمن قوم کي کومه خوشحالي وي نو پیر او مرشد صاحب به ضرور رابلو، چا که نه راوبولی، هغه مجرم دی، د هغه د جنازې لمونځ کول منع دی او د هغه سره سلام کلام کول منع دِي او چا که د ده په مېلمستیا کي برخه واخیسته، هغه هم په دغه جرم کي شریک او د هغو سره به هم داسي معامله کیږي، آیا د داسي معاهدې پابندي شرعًا جائز ده او کنه؟(۱۳۴۳/۲۳۲۲ھ)

ځواب: د مسلمانانو د ډلي لپاره دا ډول د شریعت پر خلاف معاهدې پابندي کول جائز نه ده، ځکه چي په کومه مېلمستیا کي پیر صاحب نه رابلل کوم شرعي جرم نه دی، لهذا پر دې باندي ذکر شوي کارونه مرتبول ناجائز دي او کونکی د دې فاسق او د کبیره ګناه کونکی دی. فقط

تر ډیري مودې که خور د خپل حق غوښتنه ونکړي نو د دې حق نه ساقطیږي

سوال: (۱۰۸۰) شپېته اویا کاله کیږي چي زید یو خام سرای په دوولس روپۍ رانیوی بیا څه موده وروسته ده د دو دیرشو روپیو مهر په عوض د خپلي ښځي په نوم کړی، له دې وروسته د زید ښځه وفات شوه، درې لوڼي یو زوی یې پاته شو، چي ډېره زمانه وشوه په دغه موده کي درې سره لوڼو هیڅکله هم د خپلو برخو غوښتنه نه ده کړې، په دغه موده کي خالد پخپله ګټه د درې سره خوندو ودونه هم وکړو او دغه سرای یې هم له نوي سره جوړ کړی چي اوس یې قیمت زر دوولس سوه روپۍ دی نو اوس چي کله قیمت زر دوولس سوه روپۍ شو، د خالد یوه خور خپله برخه غواړي، آیا تر دومره مودې پوري د خپلي برخي نه غوښتلو په وجه اوس حق لري او کنه؟ که یې لري نو په اصل کي که په موجوده حالت

کي؟(۱۸۶۱/ ۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: تر ډیري مودې د خپل حق په نه غوښتلو د دې حق نه ساقطیږي، کـذا في الشامي(۱) مگر د اصل قیمت په اعتبار (یعني ببله نوي ودانۍ صرف د سرای د موجوده قیمت) برخه کي حق لري. فقط والله تعالی اعلم

د چا جائیداد جبرًا لاندي کول

سوال: (۱۰۸۱) زید د عمر پنځوس جریبه پدري جائیداد جبرًا قبضه کړی، په هیڅ رنگه ورکول نه غواړي، د عمر او زید په هکله څه حکم دی؟ عمر وایي که مي وس پیدا کړی، زید وژنم، دا جائز دي او کنه؟ (۳۹۲/ ۱۳۴۳ھ)

ځواب: زید که د عمر حق نه ورکوي نو عند الله پر ده باندي د حق العباد قبضه کولو گناه شته او ده ته به عذاب ورکول کیږي او که د ده سره نیکي نه وي نو د عمر گناهوي به پر ده اچول کیږي(۲) لنډه دا چي عمر باید صبر وکړي، په دې به غټي، غټي درجې ده ته ورکول شي او د زید وژل جائز نه دي، که عمر داسي وکړو نو ظالم او گنهکار دی. فقط

د فساد د دفع لپاره د چا حق خوړل

سوال: (۱۰۸۲) په یوه ځمکه کي خالد ونډه لري، د ده سره زید، بکر او عمر درې سره ونډه لري، خالد د ټولو حق ورکول غواړي، مگر د کورنۍ خلک یې د زید له حق ورکولو څخـــه منـــع کـــوي او وایـــي چـــي د زیـــد حـــق و ځـــان تـــه راوگرځـوه یـا د دریـو سـره حـق و دوو تـه ورکـړه، ځکـه چـي زیـد فسـادي دی،

---

(۱) إن الحق لا يسقط بالتقادم (الشامي ۵/ ۵۲٤ كتاب الخنثى، مسائل شتى. ط رشيديه)

(۲) عن ابي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من كانت له مظلمة لأخيه من عرضه او شئ فليتحلله منه اليوم قبل أن لا يكون دينار و لا درهم، إن كان له عمل صالح أخذ منه بقدر مظلمته و إن لم يكن له حسنات أخذ من سيئات صاحبه فحمل عليه. رواه البخاري (مشكاة المصابيح، ص: ٤٣٥، باب الظلم، الفصل الأول)

کله چي زيد ته ونډه ورکول شي نو دی فساد کوي، خلک تنګوي، لهذا د فساد د دفع په غرض دزيد حق دي يا خالد راوګرځوي يا دي عمر او بکر ته ورکړي، داسي جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۸/۲۵۳هـ)

ځواب: د زيد حق و زيد ته ورکول پکار دی، نه دي خالد راګرځوي او نه دي عمر او بکر ته ورکوي، د چا حق راګرځول غټ ظلم دی او د عبادو د حق مواخذه سخته ده(۱) فقط و الله تعالی اعلم

د خسرګنی، همسایه ګانو او کلیوالو حقوق څه دي؟

سوال: (۱۰۸۳) د خسرګنی، همسایه ګانو، محلې والو او کليوالو څه حقوق دي؟ (۱۳۴۲/۲۰۵۵هـ)

ځواب: کوم چي د ټولو مسلمانانو حقوق دي، د دیو هم دي(يعني د هر يو سره ښه رويه کول) او درجه په درجه و هر حقدار ته حق رسول پکار دی.

د همسايه (ګاونډي) په دېوال کي مېخ توبله ټکوهل

سوال: (۱۰۸۴) د همسايه په دېوال کي مېخ ټکوهل جائز دی او کنه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۲۳۹هـ)

ځواب: دا د همسايه په اجازه پوري اړه لري بېله اجازې صحيح نه دی، يعني کوم دېوال چي د همسايه دی، په هغه کي و اجازې ته ضرورت دی، نور تفصيل د دغه معاملې پر ليدلو پوري اړه لري، د حالاتو په ليدلو چي کوم عالم څنګه حکم وکړي هغه عملي کړئ فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) عن عائشة رضی الله عنها قالت: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: الدواوين ثلاثة: ديوان لا يغفر الله الإشراک بالله يقول الله عز و جل: "إن الله لا يغفر أن يشرک به" و د يوان لا يترکه الله ظلم العباد فيما بينهم حق يقتص بعضهم من بعض الحديث(مشکاة المصابيح، ص: ۴۳۵، کتاب الآداب، باب الظلم)

د نومونو او لقبونو احکام

په اوومه ورځ که عقیقه وي نو د عقیقې په ورځ نوم ایښودل مستحب دی

سوال: (۱۰۸۵) د ماشوم له پیدا کېدو وروسته نوم ایښودل پکار دی که د عقیقې په ورځ نوم پر کښېږدو؟ (۱۳۴۵-۴۴/۲۷۱هـ)

ځواب: په اوومه د عقیقې په ورځ نوم ایښودل مستحب دی(۱) فقط

که ماشوم له نوم ایښودلو څخه مخکې مړ شي

سوال: (۱۰۸۶) د زید زوی پیدا شو، یوه میاشته وروسته وفات شو، پلار یې د ناخبرتیا په وجه نوم نهٔ پر ایښی، نو اوس څه کول پکار دي؟ (۱۳۴۳/۲۲۹۰هـ)

ځواب: غوره دا دي چي اوس یو نوم د ده کښېږدي مثلاً عبد الله یا عبد الرحمن او نور. فقط

منظور الحسن نوم څنګه دی؟

سوال: (۱۰۸۷) تاریخي نوم منظور الحسن ایښودل جائز دي که ناجائز؟ دا خو به شرکیه او کفریه نوم نه وي؟ (۱۳۴۵/۴۹۱هـ)

---

(۱) یستحب لمن ولد له أن یسمیه یوم اسبوعه(رد المحتار ۲۳۶/۵ آخر کتاب الأضحیة. ط رشیدیه)
او له پیدا کېدو سمدستي وروسته هم نوم ایښودل پروا نلري. بلکه له پیدا کېدو څخه مخکې هم نوم ایښودلای شي، دا ډول چي که خدای زوی راکړی عبد الرحمن نوم پر ږدم ۱۲ سعید احمد پالن پوري

ځواب: منظور الحسن نوم ایښودل صحیح دی، شرک او کفر پکي نشته. فقط

مخزن الرشید نوم څنګه دی؟

سوال: (۱۰۸۸) محمد مخزن الرشید نوم ایښودل څنګه دي؟ یا مولوي مخزن الرشید؟ په دغه نومونو کي تاریخي ماده راوزي، څکه پوښتنه کؤ چي مناسب دی او کنه؟ (۸۴۷/۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: دا نوم له ښو نومونو څخه نه دی، که څه هم مطلب يې صحیح کېدلای شي یعني د رشد او هدایت خزانه فقط

محمد بخش، میر بخش، رسول بخش او عبد الرسول نوم ایښودل

سوال: (۱۰۸۹) محمد بخش، میر بخش، رسول بخش، عبد الرسول او نور دا ډول نومونه ایښودل صحیح دي او کنه؟ (۱۴۳۰/۴۴-۱۳۴۵ھ)

ځواب: صحیح نه دي(۱) فقط

ارشاد احمد، رشاد احمد، مشهود احمد او فضل الرحمن نوم ایښودل

سوال: (۱۰۹۰) ارشاد احمد، رشاد احمد، مشهود احمد او فضل الرحمن که په دغه نومونو کي کوم یو شرعًا ناجائز او ناخوښ وي نو خبر راکړئ او کوم چي تر ټولو ښه نوم وي، په هغه مي هم خبر کړئ.

---

(۱) یعني دغه نومونه ایښودل ناجائز او حرام دي، په ډېرو حدیثونو کي دا خبره ثابته ده چي د کومو صحابؤ نومونه عبد العزی، عبد الشمس او نورؤ نبي علیه الصلاة و السلام هغه نومونه وربدل کړو، د چا نوم يې عبد الرحمن ایښی ؤ او د چا دا عبد الله، لهذا د کومو مسلمانانو مور او پلار چي داسي مشرکانه نومونه ایښي وي، د هغوی بدلول ضروري دي، حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي رحمه الله په حجة الله البالغه کي لیکي: و قد ثبت في احاديث لا تحصى: أن النبي صلى الله عليه وسلم غير اسماء أصحابه: عبد العزى و عبد الشمس و نحوهما إلى عبد الله و عبد الرحمن و ما أشبههما فهذه أشباح و قوالب للشرك، فنهى الشارع عنها لكونها قوالب له و الله أعلم (رحمة الله الواسعة، اردو شرح حجة الله البالغة ۶۳۲/۱. ط مكتبه حجاز)

ځواب: دغه ځلور سره نومونه چي تاسو ليکلي دي، صحيح دي او د معنی په اعتبار ښه دي، کوم نوم چي مناسب وبولئ، کښېږي يې ږدئ، مشهود د رسول الله صلی الله عليه وسلم لـه مبارکو نومونـو څخـه دی، ځکـه مشـهود احـمد پـه دغـه نومونـو کـي غوره دی. فقط و الله تعالی اعلم

محمد نبي يا سبط نبي نوم څنګه دی؟

سوال: (۱۰۹۱) محمد نبي يا سبط نبي نوم ايښودل جائز دی او که ناجائز؟ (۱۳۴۷-۴۲/۱۴۴۲هـ)

ځواب: سبط نبي خو داسي نوم دی لکه آل نبي يا آل حسن يا اولاد حسن يا سبط حسن او نور لهذا په دې کي خو څه اشکال نشته، اما محمد نبي نوم نه دی ايښودل پکار، دا بدلول پکار دي، که بدلون په بل نوم مشکل وي نو د دې اصلاح دا ډول کېدلای شي چي د نبي پر ځای دي ورته نبيه وويل او وليکل شي ځکه چي نبيه د عظيم او نورو په معنی ده نو اوس به داسي شي لکه محمد شريف، محمد عظيم او نور. فقط

غلام مرتضی، غلام رسول او غلام علي نومونه څنګه دي؟

سوال: (۱۰۹۲) غلام مرتضی، غلام رسول، غلام علي او نور داسي نومونه ايښودل شرعًا جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۵/۷۰هـ)

ځواب: داسي نومونه ايښودل ښه نه دي(۱) فقط و الله تعالی اعلم

نبي بخش، سالاربخش اورسول بخش نومونه څنګه دي؟

سوال: (۱۰۹۳) نبـــي بخـــش، ســـالاربخش او رســـول بخـــش نومونـــه ايښـــودل څنګـــه دي؟ او کـــوم څـــوک چـــي داســـي نـــوم

---

(۱) د حجة الله البالغة شارح حضرت مولانا مفتي سعيد احمد صاحب پالن پوري دامت برکاتهم فرمايي: د کومو خلکو نومونه چي عبد النبي، عبد الرسول، غلام محمد، غلام نبي، غلام رسول، نبي بخش، ولي بخش او نور دي، دوی بايد خپل نوم بدل کړي او په دې تأويل دي اعتماد نه کوي چي غلام په معنی د خادم دی، که د الله رسول په دنيا کي موجود وای نو به څوک خادم وای مګر کله چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفات شوی دی نو اوس يې څوک خادم څنګه کېدلای شي؟ دا تأويل د عذر ګناه بدتر از ګناه مثال دی، الله رب العزت دي توفيق راکړي آمين (رحمة الله الواسعة ۲۳۱/۱)

خوښوي او ترغیب ورکوي، د هغه په هکله څه حکم دی؟ (۲۱۱۸/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: نبي بخش، سالار بخش، رسول بخش او نور نومونه داسي دي چي پکي د شرک وهم شته، لهذا داسي نومونه ایښودل ناجائز او مذموم دي او کوم سړی چي د داسي نومونو ایښودلو ترغیب ورکوي، هغه جاهل عن الشریعت دی. فقط

محمد نبي، احمد نبي، عبد النبي، عبد الرسول او عبد المصطفی نومونه څنګه دي؟

سوال: (۱۰۹۴) عبد الرسول، عبد النبي او عبد المصطفی نومونه څنګه دي؟ (۲۲۵۹/۱۳۳۸ھ)

ځواب: داسي نومونه ایښودل ښه نه دي بلکه عبد الله، عبد الرحمن او نور چي پکي و الهي اسماء ته د عبد اضافت وي نوم ایښودل غوره او مستحب دي یا دي د نبیانو په نوم باندي نوم کښېښودي (۱) فقط

سوال: (۱۰۹۵) محمد نبي، احمد نبي، عبد النبي داسي نومونه ایښودل جائز دي، که نا جائز؟ (۲۴۴۹/۱۳۳۷ھ)

ځواب: دغه نومونه ایښودل ښه نه دي، محمد، احمد بې د نبي د لفظ ورسره یو ځای کولو نوم ایښودل پکار دی یا عبد الله، عبد الرحمن، عبد الرحیم او نور نومونه ایښودل پکار دي (۲) فقط

مناف یا عبد المناف نوم څنګه دی؟

سوال: (۱۰۹۶) د یو سړي نوم مناف دی، زید وایي چي ده ته عبد المناف ویل صحیح دي، بکر وایي عبد المناف ورته ویل شرک دی؟ (۲۱۵۴/۱۳۴۲ھ)

ځواب: په قاموس کي راغلي دي: و مناف صنم (۳) یعني مناف د یو بت نوم ؤ، نو مناف یا عبد المناف نوم ایښودل منع او حرام دی او عبد المناف نوم ایښودل شرک فی التسمیة دی فقط

---

(۱) عن أبي وهب الجشمي رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: تسموا بأسماء الأنبیاء الحدیث(مشکاة المصابیح، ص: ۴۰۹، کتاب الآداب، باب الأسامي، الفصل الثالث)

(۲) عن ابن عمر رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: إن أحب أسمائکم إلی الله عبد الله و عبد الرحمن. رواه مسلم(مشکاة المصابیح، ص: ۴۰۷، کتاب الآداب، باب الأسامي، الفصل الأول)

(۳) القاموس المحیط: ۱۷۰/۲، باب الفاء، قبیل فصل الواو، المطبوعة: بولاق، مصر.

و عبد الرزاق او عبد الخالق ته رزاق او خالق ویل

سوال: (۱۰۹۷) دغه کوم نومونه چي عبد الرزاق، عبد الخالق، عبد القادر او عبد الکریم اینبودل کیږي بیا یې په نیم نوم رابولي یعني په رزاق، خالق، قادر او کریم ویلو عرفاً ګنهکاریږي او کنه؟ (۱۴۲۰/۱۳۳۵ھ)

ځواب: نه ګنهکاریږي(۱) ځکه چي نیت د دوی له عرف څخه ظاهر دی چي مراد د دې مسمی عبد الرزاق او نور وي. فقط و الله تعالی اعلم

چاته په بد لقب آواز کول

سوال: (۱۰۹۸) یو هندو مسلمان شو یا د ده پلار او نیکه مسلمانان شوي ؤ، ده و هلکانو ته هندي ژبه ورشروع کړه، خلګ و ده ته پاده جي وایي یعني هندو برهمن دی له دغه نوم څخه نفرت کوي چي زه کله مسلمان شوم نو تاسو ماته شیخ جي وایاست، په دې هکله شرعي حکم څه دی؟ (۱۲۵۱/۱۳۴۲ھ)

ځواب: داسي لقب چي د هندوانو وي او پخپله له دغه لقب څخه کرکه کوي نو په دغه لقب ورته آواز کول منع دی لکه چي الله تعالی فرمایي: "و لا تنابزوا بالألقاب بئس الا الفسوق بعد الإیمان" (سورة حجرات، آیت: ۱۱) نو کوم لقب چي دی د ځان لپاره خوښ کړي مثلاً منشي صاحب، محترم، یا شیخ صاحب په هم هغه لقب باندي یې رابولئ. فقط

د ترجمې پای ته رسېدو نېټه: ۱۲ ذو القعده ۱۴۳۵ھ بمطابق ۱۲ ستمبر ۲۰۱۴ء د جمعې ورځ

د دعا غوښتونکی: محمد ابراهیم خلیل عفی عنه

کمپوز: حبیب الرحمن "منیب" (۰۳۰۷۷۹۲۲۸۳۸) ۲۲ ستمبر ۲۰۱۴ء، ۰۹:۳۰ م

---

(۱) مګر دا رنګه رابلل ښه نه دي، پوره نوم یې اخلئ، په احسن الفتاوی کي راغلي دي:
سوال: له عبد الرحمن یا عبد الرحیم په رنګه نومونو څخه مضاف حذف کړي، صرف رحمن یا رحیم ویلو عام رواج دي، داسي جائز دي او کنه؟ بینوا توجروا
الجواب باسم ملهم الصواب: په داسي نومونو کي خو مضاف محذوف معنوي وي، ځکه جائز خو دی مګر له کراهیته خالي نه دی، په تېره بیا په هغه نومونو کي کوم چي صرف د الله د نوم سره خاص دي، لکه غفار، رحمن او نور، په دې کي د مضاف حذف زیات قبیح دی، و الله سبحانه و تعالی اعلم (احسن الفتاوی: ۱۷۲/۸، کتاب الحظر و الإباحة، منفرقات کتاب الحظر و الإباحة ط زکریا بک ډپو دیوبند)

فتاوى حضرت مولانا مفتى عزيز الرحمن صاحب عثماني رحمه الله

مرتب: حضرت مولانا مفتى محمد ظفير الدين صاحب عثماني رحمه الله

مکمل و مدلل فتاوى دار العلوم ديوبند	اول جلد	الطهارة
مکمل و مدلل فتاوى دار العلوم ديوبند	دوهم جلد	الصلاة
مکمل و مدلل فتاوى دار العلوم ديوبند	دريم جلد	بقية الصلاة
مکمل و مدلل فتاوى دار العلوم ديوبند	څلورم جلد	بقية الصلاة
مکمل و مدلل فتاوى دار العلوم ديوبند	پنځم جلد	بقية الصلاة
مکمل و مدلل فتاوى دار العلوم ديوبند	شپږم جلد	زكاة، صوم، حج
مکمل و مدلل فتاوى دار العلوم ديوبند	اووم جلد	النكاح
مکمل و مدلل فتاوى دار العلوم ديوبند	اتم جلد	بقية النكاح
مکمل و مدلل فتاوى دار العلوم ديوبند	نهم جلد	الطلاق
مکمل و مدلل فتاوى دار العلوم ديوبند	لسم جلد	بقية الطلاق
مکمل و مدلل فتاوى دار العلوم ديوبند	يوولسم جلد	ثبوت النسب، حضانة، نفقة
مکمل و مدلل فتاوى دار العلوم ديوبند	دوولسم جلد	الأيمان و النور تا اللقطة

مرتب: حضرت مولانا مفتى محمد امين صاحب پالن پوري دامت بركاتهم

مکمل و مدلل فتاوى دار العلوم ديوبند	ديالسم جلد	الشركة تا الوقف
مکمل و مدلل فتاوى دار العلوم ديوبند	څوارلسم جلد	بقية الوقف - القمار و التأمين
مکمل و مدلل فتاوى دار العلوم ديوبند	پنځلسم جلد	القرض - الأضحية و العقيقة
مکمل و مدلل فتاوى دار العلوم ديوبند	شپاړلسم جلد	الحظر و الإباحة